Maktaba Tul Ishaat. com

روضة الصالحين

پښتو شرح د

رياض الصالحين



شارح
مولانا محمد حسين صديقي
د احاديثو استاذ جامعه بنوريه سائټ کراچي

د کتاب خصوصيات
- مکمل احاديث
- د راويانو حالات
- احاديثو باندې اعراب
- د احاديثو لفظي ترجمه
- د احاديثو تشريح
- د احاديثو لغوي تحقيق
- د احاديثو فوائد
- د احاديثو نمبر
- د پښتو ژبې درسم الخط لحاظ

پښتو ترجمه
مفتي محمد يعقوب نائلؔ
د دارالعلوم حقانيې فاضل او متخصص

جديد مکتبه رشيديه
جاده ميوند سرچوک کابل 0782690850 | محله جنگی قصه خوانی پشاور 091-2580074



Maktaba Tul Ishaat .com


تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

روضة الصالحين

پښتو شرح د

رياض الصالحين

٣

شارح

مولانا محمد حسین صدیقي

د احادیثو استاذ جامعه بنوریه سائټ کراچي

پښتو ترجمه

مفتي محمد یعقوب بابل

د دارالعلوم حقانیه فاضل او متخصص

د کتاب خصوصیات

مکمل احادیث

د راویانو حالات

احادیثو باندې اعراب

د احادیثو لفظي ترجمه

د احادیثو لغوي تحقیق

د احادیثو تشریح

د احادیثو فوائد

د احادیثو نمبر

د پښتو ژبې د رسم الخط لحاظ

جدید مکتبه رشیدیه

محله جنګي قصه خواني پشاور
091-2580074

جاده میوند سرچوک کابل
0782690850

Maktaba Tul Ishaat. com

دمضامينو فهرست

مضمون — صفحه

Maktaba Tul Ishaat. com

Maktaba Tul Ishaat. com

Maktaba Tul Ishaat. com

كتاب السَّلَام: ۱۴۰

Maktaba Tul Ishaat. com

Maktaba Tul Ishaat. com

Maktaba Tul Ishaat. com

كتاب آداب السّفر:

Maktaba Tul Ishaat. com

Maktaba Tul Ishaat. com

Maktaba Tul Ishaat. com

Maktaba Tul Ishaat. com

Maktaba Tul Ishaat. com

Maktaba Tul Ishaat. com

Maktaba Tul Ishaat. com

کتاب الجهاد: ۴۰۱

Maktaba Tul Ishaat. com

Maktaba Tul Ishaat. com

كتَابُ العِلم: ۴۵۷

Maktaba Tul Ishaat. com

باب الندب إلى إتيان الصلاة والعلم ونحوهما من العبادات بالسكينة والوقار

لمونځ، علم يا بل عبادت په عزت سره راتلل پكار دي

"قَالَ اللهُ تعالىٰ" : الله ﷻ فرمايي: "وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ" او كوم كس چې د الله ﷻ د شعايرو تعظيم او احترام كوي، نو دا د زړه تقوا ده. [الحج:۳۲].

تشريح: شعائر د شعيرة جمع ده، ددې معنى ده: علامه او دليل. كوم شى چې د كوم خاص مذهب يا ګوند علامه ګڼل كيږي، دې ته شعائر ويل كيږي. شعائر هغو علامو او نخښو ته ويل كيږي چې په عام عرف كې د مسلمانېدو دليل ګڼلى شي. "من تقوى القلوب" د شعائر الله تعظيم په اصل كې په زړه كې د تقوي دليل دى، هغه خلك د شعائر الله تعظيم كوي چې په زړه كې يې تقوي او د الله ﷻ وېره وي، ددې نه معلومه شوه چې د تقوى اصلي تعلق د انسان د زړه سره دى. كله چې په زړه كې خوف وېره وي، نو د داسې كس نه به هر حركت د اسلام موافق صادرېږي

جمعې/ جماعت ته په منډه مه راځئ!

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يقول: إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ، فَلَا تَأْتُوهَا وَأَنْتُمْ تَسْعَوْنَ،" د ابو هريرة ﷺ نه روايت دى هغه فرمېي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: كله چې د جمعې/ جماعت لمونځ ودرېږي، نو تاسو هغې ته په منډه منډه مه راځئ! "وَأْتُوهَا وَأَنْتُمْ تَمْشُونَ وَعَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ" بلكې تاسو جمع ته راشئ، ليكن بنه په سكون او په قلاره راځئ او په تاسو باندې سكون او قلارې لازم ده، "فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا، وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا" بس څوك چې يو ركعت لاندې كړې هغه وكړئ او كوم چې درنه فوت شي، هغه بيا خاتته پوره كړئ! متفقٌ عَلَيْه

"زادَ مسلِمٌ في روايةٍ لَهُ: فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا كَانَ يَعْمِدُ إِلَى الصَّلَاةِ فَهُوَ فِي صَلَاةٍ" امام مسلم رحمه الله په خپل يو روايت كې زياتونه كړې ده چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: كله چې په تاسو كې يو كس د لمانځه په نيت را روان وي، نو دا كس په لمانځه كې دى

تشريح: فلا تأتوها وأنتم تسعون: كله چې تاسو جماعت ته راځئ، نو په منډه مه راځئ، بلكې په قلاره راځئ، د بخاري په يو روايت كې دي: "ولاتسعوا" منډې مه وهئ، معلومه خبره ده چې جومات ته په منډه راتلل د وقار او سكون خلاف عمل دى، په دې كې ترغيب وركولى شي چې كله انسان د كور نه جمعې ته راوځي، نو پكار ده چې جومات ته بيا په منډه نه راځي، بلكې په وقار او سكون سره جمعې ته راشي، كه چېرته د جمعې د ضايع كېدو وېره وي، نو بيا دې په تېزى سره راشي، خو منډې دې نه وهي، "فما أدركتم فصلوا" كوم لمونځ چې د امام سره لاندې كړئ، نو هغه وكړئ، معلومه شوه چې كوم

لمونځ د امام سره وشي هغه لمونځ د مقتدي په حق کې هم شماريږي، د سلام وروسته چې امام سلام واړوي، نو پکار ده چې باقي لمونځ ځان ته وکړي.

فإن أحدكم إذا كان يعمد إلى الصلاة فهو في صلاة: انسان چې کله د لمانځه اراده وکړي، نو هغه د لمانځه په حالت کې وي، معلومه شوه چې کله انسان په کور کې اودس وکړي، بيا د جماعت په نيت جومات ته روان شي، نو د کور څخه په وتلو سره د هغه ثواب شروع شي، په دې وجه علامه نووي رحمه الله ليکلي څوک چې د جماعت ادا کولو په نيت جومات ته روان وي، هغه ته پکار ده چې بې حياء خبرې ونه کړي، بد نظري ونه کړي، د هر قسم ګناه څخه ځان وساتي، ځکه چې که بالفعل په لمانځه کې نه دی خو په لمانځه کې حساب دی.

اسونو ته منډه ورکول نيکي نه ده

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما: أَنَّهُ دَفَعَ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ يَوْمَ عَرَفَةَ فَسَمِعَ النَّبِيُّ ﷺ وَرَاءَهُ زَجْرًا شَدِيدًا وَضَرْبًا وَصَوْتًا لِلإِبِلِ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې د عرفې په ورځ زه د رسول الله ﷺ سره وم، نبي کريم ﷺ په ځان پسې وروسته د چغو آوازونه واورېدل چې د څناورو وهلو او تېزولو په وجه اوچتېدل، "فَأَشَارَ بِسَوْطِهِ إِلَيْهِمْ، وَقَالَ" نبي کريم ﷺ دوی په خپله کمچينه باندې اشاره وکړه او ورته يې وفرمايل: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ، عَلَيْكُمْ بِالسَّكِينَةِ" اې خلکو په تاسو باندې په کلاره مزل کول لازم دي، تېزي مه کوئ "فَإِنَّ الْبِرَّ لَيْسَ بِالإِيضَاعِ" ځکه چې شور کولو سره د څاروي په تېزولو کې څه خير نشته او نه دا کومه نيکي ده. رواه البخاري، وروى مسلم بعضه.

"الْبِرُّ)): الطَّاعَةُ، وَ((الإِيضَاعُ)) بِضَادٍ معجمة قبلها ياءٌ وهمزةٌ مكسورةٌ، وَهُوَ: الإِسْرَاعُ" د (البر) معنی ده: تابعداري او اطاعت کول او د ايضاع معنی ده: تيزي کول.

تشريح: يوم عرفة: د عرفې په ورځ، د ذي الحجه نهم تاريخ ته عرفه ويل کيږي، دلته وقوف فرض دی، د عرفات نه په واپسی کې داسې وشو. عرفات د مکې مکرمې نه تقريباً پنځلس ميله يا پنځه ويشت کيلو متره لرې ځای دی، دا يو لوی فراخ ميدان دی، شاوخوا ترې غوره دي، د شمال په طرف يې د رحمت غر (جبل الرحمت) دی.

فإن البرّ ليس بالإيضاع: په منډه وهلو کې نيکي نه ده، مطلب دا چې خپلو اسونو او سوارليو ته منډه ورکول نيکي نه ده، بلکې د نيکی تعلق د حج په نېکو اعمالو کې دی، نيکی طرفته سبقت کول ښه کار دی، ليکن داسې سبقت چې په دې سره انسان ممنوعاتو ته ورسيږي، دا کار ښه نه دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

باب إكرام الضيف

د مېلمه عزت كول

"قَالَ اللهُ تعالىٰ" الله ﷻ فرمايي: "هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ" ايا تاته د ابراهيم عليه السلام د عزتمندو مېلمنو خبر راغلى دى، "إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ قَوْمٌ مُنْكَرُونَ" كله چې هغوى په ابراهيم عليه السلام باندې داخل شول، نو (السلام عليكم) يې ورته وويل، ابراهيم عليه السلام ورته (وعليكم السلام) وويل، "فَرَاغَ إِلَىٰ أَهْلِهِ فَجَاءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ" ابراهيم عليه السلام كور ته تشريف راوړو او هغو مېلمنو ته يې وريت شوى سخى مخې ته كېښودلو، "فَقَرَّبَهُ إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ" هغه سخى يې ورته مخې ته كېښودلو او ورته يې وويل تاسو ولې خوراك نه كوئ؟ [الذاريات:۲۴-۲۷]

تشريح: دلته د ابراهيم عليه السلام واقعه پېغمبر ﷺ ته د تسلى لپاره بيانوي، كله چې پېغمبر عليه السلام ته د هغه قوم تكليف رسوي، نو په دې وخت كې د الله ﷻ له لورې دغه پېغمبر عليه السلام ته مرسته راورسيږي، دغه شان تاسو ته به هم د الله ﷻ له لورې مرسته راورسيږي، "قالوا سلاماً" پرښتو سلام واچولو، ددې نه معلومه شوه چې كوم كس راځي هغه ته پكار ده چې سلام واچوي.

قوم منكرون: منكر نا آشنا انسان ته ويل كېږي، پرښتې په انساني شكل كې راغلې، ځكه يې ابراهيم عليه السلام ونه پېژندلو، په زړه كې يې دا جمله وويل چې دا خو زه نه پېژنم، يا ممكنه ده چې ددې مېلمنو په وړاندې يې دا خبره كړې وي، ددې لپاره چې تعارف وشي تاسو څوك يئ؟ "فراغ إلى اهله" د مېلمنو د خوراك لپاره كور ته داسې داخل شول چې مېلمانه خبر نه شي، دا ددې لپاره چې مېلمه منع ونه كړي، بل ددې نه دا هم معلوم شوه چې د خوراك په باره كې بايد د مېلمه نه پوښتنه ونه شي چې څه موجود وي، هغه دې راوباسي، كوم خوراك چې راوړل شي، نو د مېلمه په وړاندې يې كېښودل پكار دي، لكه دا چې ددې جملې نه معلومېږي، فقربه اليهم.

"وقال تعالىٰ" الله ﷻ فرمايي: "وَجَاءَهُ قَوْمُهُ يُهْرَعُونَ إِلَيْهِ" د سدوم قوم لوط عليه السلام ته په منډه منډه راغلل، "وَمِنْ قَبْلُ كَانُوا يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ" او ددې نه مخكې به هم دوى د ګناه كارونه كول، "قَالَ يَا قَوْمِ هَٰؤُلَاءِ بَنَاتِي هُنَّ أَطْهَرُ لَكُمْ" لوط عليه السلام ورته وويل: اې زما قومه! دغه زما د قوم لورګانې ستاسو لپاره پاكې دي، د دوى سره ودونه وكړئ؛ "فَاتَّقُوا اللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ فِي ضَيْفِي أَلَيْسَ مِنْكُمْ رَجُلٌ رَشِيدٌ" د الله ﷻ نه وېرېږئ او ما زما د مېلمنو په باره كې مه غمجن كوئ، ايا په تاسو كې كوم هوښيار كس نشته [هود:۷۸].

تشريح: جاءه قومه يهرعون اليه: دده قوم هغه ته په منډه راغلو، مطلب دا چې كله د الله ﷻ له طرفه د عذاب نازلېدو پرښتې نازلې شوې په كومو كې چې جبرئيل عليه السلام هم وو، دغه پرښتې د ښكلې هلكانو په شكل كې راغلې وې، د لوط عليه السلام په قوم كې يو خبيث عمل دا هم وو چې نر به د نر سره زنا كول، كله چې پرښتې راغلې او وې ليدلې چې ډېر ښكلي هلكان راغلي دي، نو په منډه ورته راغلل

قَالَ يٰقَوۡمِ هٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِيۡ: لوط عليه السلام وويل اې زما قومه! دا زما لونې دي ستاسو لپاره پاکې دي مطلب دا چې لوط عليه السلام د خپلو مېلمنو عزت ساتلو په خاطر دا خبره وکړه چې زما د لورگانو سره ودونه وکړئ، ليکن زما مېلمنو ته څه مه وايئ! خو دلته يو سوال پيدا کيږي چې د لوط عليه السلام د قوم ټول مشران خو کافران وو، نو د دوی سره د لوط عليه السلام د لورگانو نکاح څرنگه جائز شوه؟ علامه قرطبي رحمه الله داسې جواب کړی دی چې په هغې زمانه کې د مسلمانې ښځې نکاح د کافر سړي سره جائز وه، همدغه قانون د رسول الله ﷺ تر ابتدائي زمانې پورې جائز وو، رسول الله ﷺ د خپلو دوو لورگانو ودونه د عتبه بن ابي لهب او ابو العاص بن ربيع سره کړې وه، حال دا چې هغوی دواړه کافران وو، بيا وروسته دا حکم منسوخ شو.

د مېلمه عزت واجب دی

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ، قَالَ: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې په تاسو کې په الله جل جلاله او د قيامت په ورځ ايمان لري، بايد چې هغه د خپلو مېلمنو قدر او حترام وکړي، "وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ" او کوم کس چې په تاسو کې په الله جل جلاله او په ورځ د آخرت باندې ايمان لري، بايد چې هغه د خپلو خپلوانو سره صله رحمي وکړي، "وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ" او کوم کس چې په تاسو کې په الله جل جلاله او د آخرت په ورځ باندې ايمان لري، بايد د خير ښېگړې خبرې وکړي او يا دې چوپ پاتې شي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

تشريح: فليکرم ضيفه: پکار ده چې د مېلمه عزت او احترام وشي، د مېلمنو اکرام او عزت د انبياء عليهم السلام سنت طريقه ده، عامو فقهاوو د مېلمنو عزت په مکارم اخلاق کې شمار کړی دی، ليکن ملا علي قاري رحمه الله د قاضي عياض رحمه الله نه نقل کړي دي چې کوم مېلمه دومره وږی وي چې د مرگ خطره ورته وي، نو بيا د داسې مېلمه مېلمستيا واجبه ده، دغه شان که په کوم ذمي باندې مسلمان حاکم دا شرط ولگوي چې هغه به د مسلمانانو مسافرو مېلمستيا کوي، په هغه باندې مېلمستيا واجب ده، کنه نو په عامو حالاتو کې د مېلمنو مېلمستيا مستحب ده، "فليصل رحمه" د خپلو خپلوانو سره صله رحمي کوئ، د عامو خلکو سره هسې هم ښه سلوک پکار دی، ليکن د خپلوانو سره ښه سلوک کول ددې نه هم زيات ضروري دي، يو د خپلوۍ په وجه دويم د مسلمان ورور د حقوقو په وجه

فليقل خيراً أوليصمت: يا دې ښې خبرې کوي او يا دې چوپ کيني، ددې جملې مطلب دا دی چې د يو کامل مسلمان ايماني نخښه دا ده چې د هغه څخه بل مسلمان ورور ته فايده ورسيږي، تردې چې د ژبې نه يې هم نورو ته فايده ورسيږي، دلته يې ژبه په خانگړې توگه ذکر کړه، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې د ژبې چې څنگه فايدې دي، دغه شان نقصانونه يې هم زيات دي، د غوږ کار خو صرف اورېدل دي، د لاس کار نيول دي او د پښو کار مزل کول دي، د سترگو کار ليدل دی، خو ژبه ددې ټولو اندامونو ترجماني کوي، وړوکی شی دی، ليکن کار يې ډېر زور دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

يوه شپه او يوه ورځ د مېلمه حق دى

"وعن أبي شُريح خويلد بن عمرو الخزاعي رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يقول: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ جَائِزَتَهُ" د أبو شريح خويلد بن عمرو خزاعي رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: كوم كس چې په الله ﷻ او په ورځ د آخرت ايمان لري، بايد هغه د مېلمه ښكلى اكرام يوه جائزه وكړي، "قَالُوا: وَمَا جَائِزَتُهُ يَا رسول الله؟" صحابه كرامو ﷺ وفرمايل يا رسول الله ﷺ! د جائزې څه مطلب دى؟ "قَالَ: يَوْمُهُ وَلَيْلَتُهُ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: د جائزې مطلب شپه او ورځ ده، "وَالضِّيَافَةُ ثَلاثَةُ أَيَّامٍ" مېلمستيا درې ورځې وي، "فَمَا كَانَ وَرَاءَ ذَلِكَ فَهُوَ صَدَقَةٌ عَلَيْهِ" او ددې نه چې كومه زياته وي، هغه په صدقه كې حسابيږي متفق عَلَيْهِ

"وفي رواية لِمسلمٍ: لاَ يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أنْ يُقِيمَ عِنْدَ أخِيهِ حَتَّى يُؤْثِمَهُ" او د مسلم په روايت كې داسې دي: د مسلمان لپاره جائز نه دي چې د خپل مسلمان ورور سره دومره اقامت اختيار كړي چې هغه ګناهګار كړي، "قالوا: يَا رسول الله، وَكَيْفَ يُؤْثِمُهُ؟" صحابه كرامو ﷺ وفرمايل: يا رسول الله ﷺ! څنګه به يې ګناهګار كړي؟ "قَالَ: يُقِيمُ عِنْدَهُ وَلاَ شَيْءَ لَهُ يَقْرِيهِ بِهِ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: د هغه سره دومره وخت ايسار شي چې بيا د هغه سره څه نه وي چې هغه ته يې په مېلمستيا كې وركړي

تشريح: يوم وليلته والضيافة ثلاثة أيام: د مېلمه حق يوه شپه او يوه ورځ دى او مېلمستيا درې ورځې ده، مطلب دا چې يوه ورځ يوه شپه دي هغه ته د ښه خوراك انتظام وكړي، ددې نه وروسته باقي دوه ورځې چې څرنګه د معمول مطابق خوراك وي، هغه دې ورته راوړي، ليث رحمه الله فرمايي: د يوې شپې او يوې ورځې ضيافت واجب دى، باقي نورو ورځو كې يې مېلمستيا مستحب ده، ليكن د عامو فقهاوو په نزد درې واړه ورځې ضيافت مستحب دى

امام ابوحنيفه رحمه الله، امام شافعي رحمه الله او محمد بن حكم رحمه الله فرمايي: كه كور وي، كه كلى يا بازار وي او كه ښاره سحرا وي، هر چېرته چې وي، هلته ضيافت مستحب دى، د اسلام په شروع كې واجب وو، بيا يې وجوب منسوخ شو، ليكن د امام مالك رحمه الله په نزد په كلي كې واجب دى، په بازار كې مستحب دى، ځكه چې په كلي كې هوټلونه نه وي او په بازار كې د انسان ضرورت وغيره پوره كيږي، نو ځكه په بازار كې مستحب دى او په كلي كې واجب دى

باب استحباب التبشير والتهنئة بالخير

په نېكو كارونو كې مباركي وركول

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "فَبَشِّرْ عِبَادِ الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ" اې پيغمبره! بس هغو خلكو ته زېرى وركړه چې ښكلې وينا واوري، (يعني قرآن حديث يا د دين متعلق خبره) "فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ" نو هغوى بيا په دې اورېدو پسې ښكلي شيان روان كړي (مطلب دا چې هغه ښكلي خبره كومه چې يې

اوريدلي ده، هغه خبره ومني. [الزمر:۱۷-۱۸]

تشريح: ابن کثير رحمه الله فرمايي: په دې آيت کې د هغو خلکو تعريف شوی چې د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ کلام يې حق وليدلو، بيا يې اتباع وکړه، ځينې نور مفسرين فرمايي: په قرآن کريم کې ځينې احکام حسن دي، ځينې احسن دي، مثلاً انتقام اخيستل حسن دی او معاف کول يې احسن عمل دی، دغه شان په ډېرو احکاماتو کې دغه شان خبره ده چې ځينې احسن دي او ځينې حسن دي، خلاصه دا چې په دې آيت کې د هغو خلکو تعريف کيږي او هغو خلکو ته زيری ورکولی شي چې په احسن باندې عمل کوي.

په جهاد او هجرت باندې د الله ﷻ له لورې انعام:

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِنْهُ وَرِضْوَانٍ" الله ﷻ هغوی ته د خپل ځان له طرفه د رحمت زيری ورکوي او د خپلې رضا لپاره، "وَجَنَّاتٍ لَهُمْ فِيهَا نَعِيمٌ مُقِيمٌ" او د هغوی لپاره به په دې کې باغونه وي چې دی به همېش په هغو نعمتونو کې وي. [التوبة:۲۱]

تشريح: د دې آيت نه وړاندې د هجرت او جهاد بيان شروع وو، د جهاد په مسئله کې کلی، وطن، خپلوان، تجارت وغيره هرڅه پرېښودلی شي، دغه ټول شيان پرېښودل آسانه خبره نه ده، نو ځکه د الله ﷻ له لورې په دې شيانو پرېښودلو باندې د جنت زيری ورکړی شوی دی او ورسره يې خپله رضامندي هم بيان کړه، هغه ته به الله ﷻ داسې نعمتونه ورکړي چې نه به ختميږي او نه به کميږي، ورځ په ورځ به په دې نعمتونو کې اضافه کيږي او بيا به د دې جنت څخه نه شي ويستلی.

د مرګ پر مهال به پرښتې ورته د جنت زيری ورکوي:

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ" او د داسې جنتونو زيری ورکړئ چې ستاسو سره يې وعده کېدل [فصلت:۳۰]

تشريح: د دې نه وړاندې د استقامت بيان شروع وو، کوم خلک چې ايمان راوړي او بيا په دې باندې قائم او سيږي، نو داسې خلکو ته د مرګ پر مهال پرښتې د جنت زيری ورکوي، "وأبشروا بالجنة" دا زيری به پرښتې کله ورکوي؟ عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: دا زيری به د مرګ پر مهال ورکولی شي، قتاده رحمه الله فرمايي: کله چې خلک د قبرو څخه راپورته شي، نو په دې وخت کې به ورته پرښتې د جنت زيری ورکوي، د وکيع بن جرام رحمه الله او د نورو مفسرينو رحمهم الله په نزد دا زيری به درې ځايه وي، د مرګ پر مهال، په قبر کې د دفن کېدو پر مهال او د قبر څخه د راپورته کېدو پر مهال

ابراهيم عليه السلام ته د زوی زيری:

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ" بس موږ په نرم خويه بچي سره زيری ورکړو. [الصافات:۱۰۱]

Maktaba Tul Ishaat. com

تشريح: ابراهيم عليه السلام دعا وکړه چې اې الله! ماته اولاد راکړې، الله ﷻ ورته د اسماعيل عليه السلام زيرى ورکړو، اسماعيل عليه السلام ډېر زيات نرم مزاج وو، دومره نرم مزاج چې د دې مثال په دنيا کې نشي ورکولى، دا صفت يې هغه وخت ظاهر شو چې کله ابراهيم عليه السلام هغه ذبح کولو، نو اسماعيل عليه السلام دومره صبر او استقامت وکړو چې د انسان عقل ورته حيران شي، د اسماعيل عليه السلام د ولادت واقعه داسې وه چې کله ساره رضي الله عنها وکتل چې زما بچى نه کيږي، هغه پوه شوه چې زه شنډه يم، بل طرف د مصر فرعون ساره رضي الله عنها ته هاجره رضي الله عنها په هديه کې ورکړه، ساره رضي الله عنها ابراهيم عليه السلام ته هاجره رضي الله عنها په هديه کې ورکړه، وروسته ورسره ابراهيم عليه السلام نکاح وکړه، بيا د دې هاجرې رضي الله عنها نه اسماعيل عليه السلام پيدا شو

د اسحاق عَلَيْهِ السَّلَامُ زېږېدو زيرى:

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي : "وَلَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَىٰ" په تحقيق سره زموږ استازي ابراهيم عليه السلام ته په زيري ورکولو سره راغلل [هود:۶۹]

تشريح: پرښتو ابراهيم عليه السلام ته زيرى راوړو، "فبشرناه بإسحاق" موږ په پيدايش د اسحاق عليه السلام باندې زيرى ورکړو، "رسلنا" د (رسلنا) نه مراد پرښتې دي، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي : دا درې پرښتې وې، يو جبرئيل عليه السلام ؤ، بل ميکائيل عليه السلام ؤ او دريمه پرښته اسرافيل عليه السلام دى، مطلب دا چې ابراهيم عليه السلام ته د اولاد شوق و، او د ساره رضي الله عنها نه يې بچي نه کېدل، ځکه چې خپله هم (ضعيف العمر) بوډا وو چې په ظاهره کې د بچي پيدا کېدو هيڅ اميد نه وو، الله ﷻ پرښتې راولېږلې چې ستا به بچى کيږي او نارينه بچى به وي چې د هغه نوم به هم اسحاق عليه السلام وي، بيا يې دا هم ورته وښودل چې هغه به ژوندى پاتې کيږي او د هغه به بچى کيږي چې د هغه بچي نوم به يعقوب عليه السلام وي

د ساره رضي الله عنها خندا

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي : "وَامْرَأَتُهُ قَائِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ وَمِن وَرَاءِ إِسْحَاقَ يَعْقُوبَ" او د هغه مېرمن ولاړه وه، هغې وخندل، موږ هغې ته د اسحاق عليه السلام او د هغه نه وروسته د يعقوب عليه السلام په اړه زيرى ورکړو [هود:۷۱]

تشريح: د ابراهيم عليه السلام او پرښتو خبرې ساره رضي الله عنها د پردې ترشا اورېدلې، کله چې هغې واورېدل چې ماشوم به يې کيږي، په داسې حال کې هغه بوډۍ وه، په خندا شوه او وې ويل: زه خو بوډۍ ښځه يم او خاوند مې هم بوډا دى، نو زموږ بچى به څنګه وشي، پرښتو ورته وويل : په دې کې هيڅ د تعجب خبره نشته، الله ﷻ په هرڅه قادر دى، ته به هم دغسې بوډۍ يې او خاوند به دې هم دغه شان سپين ږيرى وي او بيا به ستا د بچي اولاد کيږي چې د هغه نوم به هم يعقوب عليه السلام وي.

زکريا عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د يحيى عَلَيْهِ السَّلَامُ زيرى

"وقال تعالى" : الله ﷻ فرمايي : "فَنَادَتْهُ الْمَلَائِكَةُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ أَنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَىٰ" [آل عمران:۳۹]

تشريح: فنادته الملائكة: پرښتو زکريا علیه‌السلام ته آواز وکړو، عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمايي: دلته د «الملائکة» نه مراد جبرئيل علیه‌السلام دی.

سوال: جبرئيل علیه‌السلام خو يوه پرښته ده او الملائکة د جمع صيغه ده؟

جواب: د مشرې په خاطر يې چې د دوی سره خامخا د پرښتو يو ټولی وي، نو ځکه يې د جمع صيغه ذکر کړه، دويم جواب دا دی چې: «الملائکة» نه مراد جنس ملائکه ده او د جنس اطلاق چې ځنګه په ډېرو کېږي دغه شان په يو باندې هم کېږي.

وهو قائم يصلي في المحراب: زکريا علیه‌السلام په دې مهال په جومات کې ولاړ و، لمونځ يې کولو، ناڅاپه يې يو کس په سپينو جامو کې وليدو، کله چې ظاهر شو نو هغه په اصل کې جبرئيل علیه‌السلام وو، زکريا علیه‌السلام وېرېدو، نو جبرئيل علیه‌السلام ورته وفرمايل: "إن الله يبشرك بيحى" بې شکه الله جل جلاله تاته د يحيى علیه‌السلام د بچي پيدا کېدو زېرې درکوي.

مريم عليها السلام ته د عيسى علیه‌السلام زېری

"وقال تعالى" الله جل جلاله فرمايي: "إِذْ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ يَا مَرْيَمُ" بس پرښتو هغې ته په داسې حال کې آواز وکړو چې هغې په محراب کې لمونځ کولو، "إِنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيحُ" بې شکه الله جل جلاله تاسو ته په يوې کلمې سره زېری درکوي چې د هغې نوم به المسيح علیه‌السلام وي. [آل عمران:۴۵] الآية

تشريح: قالت الملائكة: دلته هم د ملائکة نه مراد جبرئيل علیه‌السلام دی، "يبشرك بكلمة" الله جل جلاله تاته د يوې کلمې زېری درکوي، عيسى علیه‌السلام ته ځکه کلمه وويل شوه چې هغه خالص د الله جل جلاله په حکم پيدا شوی دی او خلاف عادت د پلار بې واسطې الله جل جلاله پيدا کړی دی.

عيسى علیه‌السلام ته د مسيح ويلو وجه:

إسمه المسيح: مسيح د عيسى علیه‌السلام لقب دی، مسيح معنى ده مبارك، ابن عباس رضی الله عنهما فرمايي مسيح ځکه ورته ويل کېږي چې هغه به په کوم ناروغ (پيس مرض/ برګي) والا يا له مور ځخه روند باندې لاس راښکلو، نو سمدستي به صحيح شو، ځکه چې مسيح د مسح ځخه دی، معنى يې ده: لاس راښکل يا د مسح ځخه ده، يعنې سير او سفر کول، عيسى علیه‌السلام به همېش په سفر روان وو.

"والآيات في الباب كثيرة معلومة" په دې باب کې ډېر زيات ايتونه دي او معلوم هم دي، "وأما الأحاديث فكثيرة جداً وهي مشهورة في الصحيح، منها" هر چې حديثونه دي نو هغه هم ډېر زيات دي او مشهور هم دي، ځينې پکې دا دي:

خديجې رضی الله عنها ته د جنت زېری

"عن أبي إبراهيم، ويقال: أبو محمد، ويقال: أبو معاوية عبد الله بن أبي أوفى رضي الله عنهما: أن رسول الله صلی الله علیه وسلم بشَّر خديجة رضي الله عنها ببيتٍ في الجنّة من قَصَبٍ" د أبو ابراهيم او هغه ته ابومحمد او ابو معاويه عبد الله بن أبي اوفي رضی الله عنهما

Maktaba Tul Ishaat. com

هم ويل کيږي، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ خديجة الکبرى ﷺ ته په جنت کې د يو عمل زيرى ورکړى وو چې هغې کې نه شوې وي، "لَا صَخَبَ فِيهِ" او نه به پکې شور وي، "وَلَا نَصَبَ" او نه به پکې ستوماني او ستړي کېدل وي. متفقٌ عَلَيْهِ

"الْقَصَبُ: هُنَا اللُّؤْلُؤُ الْمُجَوَّفُ" د (القصب) معنى ده: قيمتي ملغلره، "وَ((الصَّخَبُ)) : الصِّيَاحُ وَاللَّغَطُ" اوازونه، "وَ((النَّصَبُ)): التَّعَبُ" د النصب معنى ده: ستوماتيا.

تشريح: په دې حديث کې د خديجې ﷺ فضيلت ته اشاره ده، دا د رسول الله ﷺ اولنۍ ميرمن وه، د رسول الله ﷺ ټول اولاد سېوا د ابراهيم ﷺ نه د دوی څخه پيدا شوي وو، تر څو چې هغه ژوندۍ وه، رسول الله ﷺ بل واده نه وو کړى.

بشر خديجة ﷺ: په دنيا کې خديجې ﷺ ته د جنت زيرى اورول شوی دی، د دوی د جنت خصوصيت هم پکې بيان شوی دی چې هغه به د ملغلرې نه جوړ شوی وي، يعنې داسې ملغلره چې دننه به خالي وي په دې ملغلره کې به ټول محل جوړ وي او بل دا چې (ولا صخب) چې د هغې په جنت کې به شور ماشور نه وي، په خلاف د دنيا چې دلته ټول شور ماشور دی، په جنت کې به سکون او آرام وي.

د بئر اريس واقعه

"وعن أبي موسى الأشعري ﷺ: أَنَّهُ تَوَضَّأَ فِي بَيْتِهِ، ثُمَّ خَرَجَ، فَقَالَ: لَأَلْزَمَنَّ رسول الله ﷺ، وَلَأَكُونَنَّ مَعَهُ يَوْمِي هَذَا، فَجَاءَ الْمَسْجِدَ، فَسَأَلَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ فَقَالُوا وَجَّهَ هَاهُنَا" د أبو موسى اشعري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما په کور کې اودس وکړو بيا په دې خيال راووتلم چې نن به ټوله ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت کې تېروم، نبوي جومات ته راغلم، پوښتنه مې وکړه چې رسول الله ﷺ چېرته دی؟ هغوی راته وويل: په دې طرف تللی دی، "قَالَ: فَخَرَجْتُ عَلَى أَثَرِهِ أَسْأَلُ عَنْهُ، حَتَّى دَخَلَ بِئْرَ أَرِيسٍ" زه هغه طرفته د هغه د قدمونو پسې روان شوم په پوښتنه زه د اريس کوهي (بئر اريس) ته راورسېدلم، "فَجَلَسْتُ عِنْدَ الْبَابِ حَتَّى قَضَى رسول الله ﷺ حَاجَتَهُ وتوضأ، فقمت إليه، فإذا هو قد جلس على بئر أريس وتوسط قُفَّهَا، وكشف عن ساقيه ودلاهما في البئر" زه د هغه په دروازه باندې کيناستم رسول الله ﷺ خپل ضرورت پوره کړو او بيا يې اودس وکړو، زه هغه طرفته ور روان شوم، رسول الله ﷺ د اريس کوهي په غاړه ناست وو، پوندې مبارکې يې ښکاره کړي وې او پښې مبارکې يې په کوهي کې ځوړندې کړې وې، "فسلمتُ عليه ثم انصرفت، فجلست عند الباب، فَقُلْتُ: لَأَكُونَنَّ بَوَّابَ رسولِ الله ﷺ الْيَوْمَ" ما سلام واچولو بيا واپس راغلم او په دروازه باندې کينستم، له ځان سره مې وويل: نن ورځ به زه د رسول الله ﷺ چوکيدار يم، "فَجَاءَ أَبُو بَكْرٍ ﷺ، فَدَفَعَ الْبَابَ، فقلتُ: مَنْ هَذَا؟ فَقَالَ: أَبُو بَكْرٍ، فقلتُ: عَلَى رِسْلِكَ، ثُمَّ ذَهَبْتُ، فقلتُ: يَا رسول الله، هَذَا أَبُو بَكْرٍ يَسْتَأْذِنُ" ابوبکر ﷺ راغلو، ما وويل: څوک يې؟ هغوی وويل: ابوبکر ﷺ يم، ما ورته وويل: دلته ودريږه! بيا رسول الله ﷺ ته راغلم، ما وويل: يا رسول الله ﷺ! ابوبکر ﷺ د داخلېدو اجازه غواړي، "فَقَالَ: ((ائْذَنْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ)) فَأَقْبَلْتُ حَتَّى قُلْتُ لِأَبِي بَكْرٍ: ادْخُلْ وَرسول الله ﷺ يُبَشِّرُكَ بِالْجَنَّةِ، فَدَخَلَ أَبُو بَكْرٍ حَتَّى جَلَسَ عَنْ يَمِينِ النَّبِيِّ ﷺ مَعَهُ فِي الْقُفِّ، وَدَلَّى رِجْلَيْهِ فِي الْبِئْرِ كَمَا صَنَعَ رسول الله ﷺ، وَكَشَفَ عَنْ سَاقَيْهِ" نبي کريم ﷺ

وفرمایل چې هغه ته اجازه ورکړه او ورسره د جنت زیرى هم ورکړه، زه واپس راغلم، ما ابوبکرﷺ ته وویل چې راځه او رسول اللهﷺ تاسو ته د جنت زیرى هم درکوي، ابوبکرﷺ داخل شواو د رسول اللهﷺ سره د کوهي په غاړه ښي طرفته کېښستلو او خپلې پښې يې په کوهي کې لاندې ځوړندې کړې لکه څنګه چې رسول اللهﷺ کړې وو او خپلې پوندۍ يې لوڅې کړې، "ثُمَّ رَجَعْتُ وَجَلَسْتُ، وَقَدْ تَرَكْتُ أَخِي يَتَوَضَّأُ وَيَلْحَقُنِي، فَقُلْتُ: إِنْ يُرِدِ اللهُ بِفُلَانٍ - يُرِيدُ أَخَاهُ - خَيْرًا يَأْتِ بِهِ. فَإِذَا إِنْسَانٌ يُحَرِّكُ الْبَابَ، فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا؟" بیا واپس راغلم په دروازه باندې کېښستم او ما خپل ورور وروسته پرېښودلی وو، هغه اودس کولو په ما پسې را روان وو، ما د ځان سره وویل: که چېرته الله ﷻ د هغه په باره کې د خير اراده کړې وي (ددې نه يې خپل ورور مراد وو) نو الله ﷻ به يې راولي چې ومې کتل چې بل کس دروازه وټکول، ما وویل: څوك يې؟ "فَقَالَ: عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، فَقُلْتُ: عَلَى رِسْلِكَ، ثُمَّ جِئْتُ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ وَقُلْتُ: هَذَا عُمَرُ يَسْتَأْذِنُ؟ فَقَالَ: ائْذَنْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ" هغه وویل: عمر بن خطاب ﷺ یم، ما وویل: په خپل ځای ودرېږه! بیا رسول اللهﷺ ته راغلم، سلام مې پرې واچولو، ومې ویل چې عمر ﷺ راغلی دی، د داخلېدو اجازه غواړي؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: هغه ته اجازت ورکړه او ورسره د جنت زیرى هم ورکړه! "فَجِئْتُ عُمَرَ، فَقُلْتُ: أَذِنَ وَيُبَشِّرُكَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بِالْجَنَّةِ، فَدَخَلَ فَجَلَسَ مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي الْقُفِّ عَنْ يَسَارِهِ وَدَلَّى رِجْلَيْهِ فِي الْبِئْرِ، ثُمَّ رَجَعْتُ فَجَلَسْتُ" عمر ﷺ ته راغلم او ورته مې وویل: راځه! او رسول اللهﷺ تاسو ته د جنت زیرى هم درکوي، عمرﷺ داخل شو او د رسول اللهﷺ سره د کوهي په غاړه چپ طرفته کېښستلو او خپلې پښې يې په کوهي کې ځوړندې کړې، زه بیا واپس راغلم او په دروازه کېښستلم، "فَقُلْتُ: إِنْ يُرِدِ اللهُ بِفُلَانٍ خَيْرًا - يَعْنِي أَخَاهُ - يَأْتِ بِهِ، فَجَاءَ إِنْسَانٌ فَحَرَّكَ الْبَابَ. فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا؟" ما بیا د ځان سره وویل: که چېرته د فلانکي (يعنې زما ورور) په باره کې الله ﷻ د خير اراده کړې وي، نو هغه به الله ﷻ راولي چې ومې کتل نو بل کس راغلو، دروازه يې وټکول، ما وویل: څوك يې؟ "فَقَالَ: عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ. فَقُلْتُ: عَلَى رِسْلِكَ، وَجِئْتُ النَّبِيَّ ﷺ فَأَخْبَرْتُهُ، فَقَالَ: (ائْذَنْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ مَعَ بَلْوَى تُصِيبُهُ) فَجِئْتُ، فَقُلْتُ: ادْخُلْ وَيُبَشِّرُكَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بِالْجَنَّةِ مَعَ بَلْوَى تُصِيبُكَ" هغه وویل: عثمان ﷺ یم، ما وویل: دلته ودرېږه! نبي کریم ﷺ ته راغلم او خبر مې ورکړو، نبي کریم ﷺ راته وویل: هغه ته د جنت زیرى ورکړه خو دا هم ورته ووايه چې يو مصيبت به ورته رسيږي، ما ورته وویل: راځه! او رسول اللهﷺ تاسو ته د جنت زیرى درکوي، خو دا هم فرمايي چې تاسو به يو مصيبت هم رسيږي، "فَدَخَلَ فَوَجَدَ الْقُفَّ قَدْ مُلِئَ، فَجَلَسَ وِجَاهَهُمْ مِنَ الشِّقِّ الْآخَرِ. قَالَ سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ: فَأَوَّلْتُهَا قُبُورَهُمْ" عثمان ﷺ داخل شو، وې کتل چې د کوهي غاړه بنده ده، نو مخامخ ورته کېښستلو، سعيد بن مسيب رحمه الله فرمايي: ددې واقعې نه ما د دوی د قبرونو تاویل وکړو چې ددې درې واړو قبرونه به سره نژدې وي او د عثمان ﷺ قبر به لرې لرې وي. متفقٌ عَلَيْهِ

"وزاد في رواية: وأمرني رسولُ اللهِ ﷺ بحفظ الباب. وفيها: أَنَّ عُثْمَانَ حِينَ بَشَّرَهُ حَمِدَ اللهَ تعالى، ثُمَّ قَالَ: اللهُ الْمُسْتَعَانُ" او په يو بل روايت کې دا خبره هم ورسره زياتي شوې ده چې رسول اللهﷺ ماته حکم وکړو چې په دروازه باندې چوکيدار ودرېږم او په دې کې دا هم دي چې عثمان ﷺ ته کله زیرى ورکړی شو، نو د الله ﷻ

Maktaba Tul Ishaat. com

حمد او ثناء يې بيان كړه، بيا يې ووېل: د الله ﷻ مرسته به غواړو.

"وَقَوْلُه: ((وَجَّهَ)) بفتحِ الواوِ وتشديدِ الجيمِ. أَيْ: تَوَجَّهَ" دا قول چې (وجه) په شد سره دی، ددې معنى ده: يو طرف مخ كول او توجه كول، "وَقَوْلُه: ((بِئْرَ أَرِيْسٍ)) هُوَ بفتحِ الهمزةِ وكسرِ الراءِ وبعدها ياءٌ مثناةٌ من تحت ساكنةٌ ثُمَّ سِيْنٌ مهملةٌ وَهُوَ مصروفٌ ومنهم من منع صرفه، وَ((القُفُّ)) بضمِ القافِ وتشديدِ الفاءِ: وَهُوَ المبنيُّ حول البئرِ" د (القف) معنى ده: د كوهي په غاړه شاوخوا، "وَقَوْلُه: ((عَلَى رِسْلِكَ)) بكسرِ الراءِ عَلَى المشهورِ، وقيل: بفتحِهَا، أَيْ: ارفق" دا قول چې (على رسلك) معنى يې ده: نرمي وكړه!

تشريح: ددې حديث تعلق هم د عنوان سره واضح دی، په دې حديث كې هم د زېرې ذكر دی.

"وبشره بالجنة مع بلوى تصيبه" عثمان ؓ ته د جنت زېرې وركړه او ورسره د هغه مصيبت خبر هم وركړه چې په هغه باندې به راځي، محدثين فرمايي: ددې مصيبتونو نه مراد عبد الله بن سبا يهودي او د هغه د ملګرو شيطاني دسيسو كې د عثمان ؓ راګېرېدل دي او بالاخر د هغه د شهيد كولو لپاره هغه محاصره كول او بيا په دردونكې شهادت باندې رسول مراد دي.

د توحيد كلمې شاهدي ادا كوونكي جنتي دي

"وعن أبي هريرة ؓ، قَالَ: كُنَّا قُعُوداً حَوْلَ رسولِ الله ﷺ، وَمَعَنَا أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ رضي الله عنهما في نَفَرٍ فَقَامَ رسولُ الله ﷺ مِنْ بَيْنِ أَظْهُرِنَا فَأَبْطَأَ عَلَيْنَا، وَخَشِينَا أَنْ يُقْتَطَعَ دُونَنَا وَفَزِعْنَا فَقُمْنَا" د أبو هريره ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې موږ يوه ورځ د رسول الله ﷺ سره شاوخوا ناست وو، زموږ سره ابوبكر ؓ او عمر ؓ هم وو، يو څو كسان نور هم وو، رسول الله ﷺ ناڅاپه زموږ له مېنځه پاڅېدو، كله چې لاړو، نو ډېر وخت يې تېر كړو، موږ په دې خبره وېرېدو چې هسې نه رسول الله ﷺ باندې څوك د قتل حمله ونه كړي او موږ به ورسره نه يو، نو موږ ټول د وېرې په حالت كې پاڅېدو، "فَكُنْتُ أَوَّلَ مَنْ فَزِعَ، فَخَرَجْتُ أَبْتَغِي رسولَ الله ﷺ، حَتَّى أَتَيْتُ حَائِطاً للأَنْصَارِ لِبَنِي النَّجَّارِ" په ټولو كې اول زه هغه كس وم چې وېرېدم زه د رسول الله ﷺ په لټون پسې روان شوم، تردې چې د بني نجار يو دېوال ته ورسېدم، "فَدُرْتُ بِهِ هَلْ أَجِدُ لَهُ بَاباً؟" زه ترې شاوخوا تاوېدم او راتاوېدم چې چېرته دروازه ووينم چې پرې داخل شم! "فَلَمْ أَجِدْ! فَإِذَا رَبِيعٌ يَدْخُلُ فِي جَوْفِ حَائِطٍ مِنْ بِئْرٍ خَارِجَةٍ -وَالرَّبِيعُ: الجَدْوَلُ الصَّغِيرُ" نو ما دروازه پيدا نه كړه، ناڅاپه مې په دېوال كې په سوري باندې نظر شو چې د بهر يو كوهي نه دغه دېوال ته د اوبو داخلېدو لپاره جوړ شوی وو او دغه سوری ډېر زيات تنګ هم وو، "فَاحْتَفَزْتُ، فَدَخَلْتُ عَلَى رسولِ الله ﷺ فَقَالَ: ((أَبُو هُرَيْرَةَ؟)) فقلتُ: نَعَمْ، يَا رسولَ الله" ما ټول ځان راغونډ كړو او د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر شوم، نبي كريم ﷺ وفرمايل: ابوهريره ؓ يې؟ ما ووېل: هو! ابوهريره ؓ يم! "قَالَ: ((مَا شَأْنُكَ؟)) قُلْتُ: كُنْتَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا فَقُمْتَ فَأَبْطَأْتَ عَلَيْنَا، فَخَشِينَا أَنْ تُقْتَطَعَ دُونَنَا، فَفَزِعنا" نبي كريم ﷺ وفرمايل: ولې خير خو دی؟ ما ووېل: يارسول الله ﷺ! تاسو زموږ سره ناست وئ، ناڅاپه اوچت شوئ او بيا دومره وخت تېر كړو چې موږ ټول په تاسو باندې وېرېدلو چې چېرته څوك تاسو ته څه تكليف ونه رسوي او موږ به نه يو، "فَكُنْتُ أَوَّلَ مَنْ فَزِعَ، فَأَتَيْتُ هَذَا الحَائِطَ، فَاحْتَفَزْتُ كَمَا يَحْتَفِزُ الثَّعْلَبُ، وهؤلاءِ النَّاسُ وَرَائِي" په ټولو

کې اول زه وم چې ويريدم نو زه يو ديوال ته راورسېدم، تول ځان مي راغونډ کړو او د ګيدړي په څېر راغونډ شوم او دغه دي خلك زما پسې راروان دي، "فَقَالَ: ((يَا أَبَا هُرَيْرَةَ)) وَأَعْطَانِي نَعْلَيْهِ، فَقَالَ: اذْهَبْ بِنَعْلَيَّ هَاتَيْنِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې ابوهريره رضي الله عنه! او ماته رسول الله ﷺ خپلې پڼې مبارکې هم راکړې راته يې وويل: دا دا زما پڼې واخله! "فَمَنْ لَقِيتَ مِنْ وَرَاءِ هَذَا الْحَائِطِ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ، فَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ" بس څوك چې ددې ديوال نه اخوا وي، ددې خبرې شاهدي ورکوي چې د الله ﷻ نه سېوا بل معبود نشته او په دې خبره يې د زړه پوره يقين وي نو داسې کس ته د جنت زېرې ورکړه. "وَذَكَرَ الْحَدِيثَ بِطُولِهِ" بيا يې تول حديث پوره په تفصيل سره بيان کړو. رواه مسلم

"الرَّبِيعُ: النَّهْرُ الصَّغِيرُ، وَهُوَ الْجَدْوَلُ - بِفَتْحِ الْجِيمِ - كَمَا فَسَّرَهُ فِي الْحَدِيثِ" د (الربيع) معنی ده: وړوکی نهر (يعني لښتی). "وَقَوْلُهُ: ((احْتَفَزْتُ)) رُوِيَ بِالرَّاءِ وَبِالزَّايِ، وَمَعْنَاهُ بِالزَّايِ: تَضَامَمْتُ وَتَصَاغَرْتُ حَتَّى أَمْكَنَنِي الدُّخُولُ" دا قول چې احتفزت دی، ددې معنی ده: ځان راغونډول.

تشريح: فابطأ علينا: کله چې يې ناوخته کړو، ددې جملې نه معلومېږي چې صحابه کرامو ته څومره خيال وو، د رسول الله ﷺ حفاظت لپاره به دوی همېشه تيار ولاړ وو. "حائطا للأنصار" د انصارو د باغ نه شاوخوا ديوال وو، "الربيع الجدول الصغير" جدول وړوکي نهر (ولې) ته وايي، "يا أبا هريرة" تقديري عبارت داسې دی: "أأنت أبوهريرة: ايا تاسو ابوهريره يئ؟

"يشهد أن لا إله إلا الله مستيقناً بها قلبه فبشره بالجنة" څوك چې ددې خبرې شاهدي ادا کوي چې نشته لائق د عبادت سېوا د الله ﷻ نه او په دې يې پوره يقين هم وي نو داسې کس ته د جنت زېرې ورکړه.

ايا صرف کلمې ويلو سره انسان جنت ته ځي؟

سوال ايا صرف د توحيد په کلمې ويلو سره انسان جنت ته تلی شي؟ ددې څخه معلومېږي چې عباداتو ته هيڅ ضرورت نشته؟

جواب ابن رجب حنبلي رحمه الله فرمايي: لااله الاالله به هغه وخت اثر کوي چې دا کلمه د مخالف نه بچ کړی شي او کله چې په دې کې د مخالف شي ګډون راشي، نو بيا دا کلمه موثره نه ده، دويم جواب دا دی چې قانون دا دی چې: "إذا ثبت الشئ ثبت بلوازمه" کله چې يو شی ثابتېږي، نو د خپلو لوازمو سره ثابتېږي، د توحيد کلمې لوازمات، لمونځ، روژه، زکات، حج، جهاد دي، دا شيان د توحيد کلمې په اقرار سره خپله داخلېږي، نو څوك چې په دې اعمالو باندې عمل کوي، هغه به جنت ته ځي، دريم جواب دا دی چې دا زېرې هغه چا لپاره دی چې د توحيد کلمې ويلو وروسته سمدستي مړ شي، هغه ته د خير کارونو هيڅ مهلت ملاو نه شي

د عمروبن العاص رضي الله عنه اخري وصيت

"وعن ابن شِمَاسَةَ، قَالَ: حَضَرْنَا عَمْرَوبْنَ الْعَاصِ رضي الله عنه وَهُوَ فِي سِيَاقَةِ الْمَوْتِ، فَبَكَى طَوِيلاً، وَحَوَّلَ وَجْهَهُ إِلَى الْجِدَارِ" د ابن

Maktaba Tul Ishaat. com

شماسة رحمه الله نه روايت دی هغه فرمايي چې مونږ د عبد الله بن عمرو بن عاص رضي الله عنه پوښتنې ته ورغلو، د هغه د مرګ وخت نږدې وو. هغه ډېر زيات ژړل او خپل مخ مبارک يې ديوال ته واړولو. "فَجَعَلَ ابْنُهُ يَقُولُ: يَا أَبَتَاهُ، أَمَا بَشَّرَكَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بِكَذَا؟ أَمَا بَشَّرَكَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بِكَذَا؟ فَأَقْبَلَ بِوَجْهِهِ، فَقَالَ: إِنَّ أَفْضَلَ مَا نُعِدُّ شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ" د هغه زوی يې ورته تسلي ورکول او ورته يې وفرمايل: اې زما پلاره! ايا تاسو ته رسول الله ﷺ په دې خبره زيرې نه دی درکړې؟ ايا رسول الله ﷺ تاسو ته په دې خبره زيرې نه دی درکړې؟ نو هغوی ورته وفرمايل: غوره شی چې مونږ يې غوره ګڼو هغه دا دی چې خلک ددې خبرې شاهدي ادا کړي چې نشته لائق د عبادت سېوا د الله ﷻ او محمد ﷺ د هغه رسول او پيغمبر دی، "إِنِّي قَدْ كُنْتُ عَلَى أَطْبَاقٍ ثَلَاثٍ: لَقَدْ رَأَيْتُنِي وَمَا أَحَدٌ أَشَدُّ بُغْضًا لِرَسُولِ اللهِ ﷺ مِنِّي، وَلَا أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَكُونَ قَدِ اسْتَمْكَنْتُ مِنْهُ فَقَتَلْتُهُ، فَلَوْ مُتُّ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ لَكُنْتُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ" او اې بچيه! په ما باندې درې قسمه حالات تېر شوي دي: يو حالت مې هغه وو چې زما څخه زيات د رسول الله ﷺ سره بل چا دومره کينه او غوسه نه درلوده، لکه څومره چې زما غوسه او کينه د رسول الله ﷺ سره وه، دا مې ارمان ؤ چې رسول الله ﷺ شهيد کړم. که چېرته زه په دې حالت کې مړ شوی وای، نو زه به سيده جهنم ته تللی، "فَلَمَّا جَعَلَ اللهُ الْإِسْلَامَ فِي قَلْبِي أَتَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ فَقُلْتُ: ابْسُطْ يَمِينَكَ فَلْأُبَايِعْكَ" کله چې الله ﷻ ماته د اسلام دولت رانصيب کړو او زما په زړه کې يې راسخ کړو، د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، ما ورته ووېل: يا رسول الله ﷺ! تاسو خپل لاس مبارک وغوړوئ چې ستاسو سره بيعت وکړم، "فَبَسَطَ يَمِينَهُ فَقَبَضْتُ يَدِي، فَقَالَ: ((مَا لَكَ يَا عَمْرُو؟)) قُلْتُ: أَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِطَ" نبي کريم ﷺ خپل لاس مبارک وغوړولو، ما خپل لاس رابند کړو، نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې عمروا ولې خير خو دی؟ ما ورته ووېل: يارسول الله ﷺ! زه څه شرط لګول غواړم، "قَالَ: ((تَشْتَرِطُ مَاذَا؟)) قُلْتُ: أَنْ يُغْفَرَ لِي" نبي کريم ﷺ وفرمايل: د څه خبرې شرط لګوې؟ ما ووېل: زما ګناهونه دې معاف شي، "قَالَ: أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الْإِسْلَامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ، وَأَنَّ الْهِجْرَةَ تَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهَا، وَأَنَّ الْحَجَّ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ؟" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ايا تاسو ته پته نشته چې اسلام راوړلو سره ټولې پخوانۍ ګناهونه چې د اسلام راوړلو څخه مخکې شوي وي هغه ختموي او همدا رنګه د هجرت نه مخکې ګناهونه هجرت ختموي او د حج نه مخکې ګناهونه په حج سره ختميږي؟ "وَمَا كَانَ أَحَدٌ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ "وَلَا أَجَلَّ فِي عَيْنِي مِنْهُ" او د رسول الله ﷺ نه زيات بل څوک راته ګران نه وو او د رسول الله ﷺ نه زيات عزتمند او هيبتناک بل څوک زما په سترګو کې نه وو، "وَمَا كُنْتُ أُطِيقُ أَنْ أَمْلَأَ عَيْنِي مِنْهُ؛ إِجْلَالًا لَهُ" او زما د وس نه خارج خبره وه چې ما رسول الله ﷺ ته په سترګو کې سيده کتلي وای او مخامخ مې په هغوی کې د رعب او هيبت له امله سترګي نيولي وای، "ولو سئلت أن أصفه ما أطقت" او که چېرته تاسو زما څخه پوښتنه کړې وای چې د هغوی صفتونه راته بيان کړه، نو زما وس به نه وو چې ما تاسو ته د هغوی صفتونه بيان کړي وای، او دا څکه چې هغوی نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته کله هم مخامخ سيده کتلي نه دي، څکه چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رعب او هيبت ډېر زيات وو. چا هم ورته مخامخ

کتلی نه شو، "لأنی لم أکن أملأ عینی منهٗ" او دا ځکه چې ما ورته مخامخ نه دي کتلي. "ولومتُّ علی تلك الحال لرجوتُ أن أكونَ مِنْ أهلِ الجَنّةِ" که چېرته زه په دې حالت کې مړ شوم، نو سيده به جنت ته ځم. "ثمّ ولینا أشياء ما أدري ما حالي فيها؟ فإذا أنا مُتُّ فلا تصحبنّي نائحةٌ ولا نارٌ" ددې نه وروسته ماته ډېر کارونه وسپارل شول، زما پته نه لګيږي چې زما به څه حال وي، که هغه معاملات مې په صحيح طريقه ادا کړې وي نو جنت ته به ځم او که چېرته مې هغه معاملات غلط ادا کړي وي، نو جهنم ته به ځم. بس کله چې زه مړ شم، نو په ما باندې مه ژاړئ او مه اورونه بلوئ. "فإذا دفنتموني، فشُنّوا عليّ التّرابَ شنّاً" کله چې ما ښخ کړئ نو په ما باندې په لږ لږ خاورې واچوئ. "ثمّ أقيموا حولَ قبري قدرَ ما تُنحرُ جزورٌ، ويُقسمُ لحمُها" بيا زما د قبر نه شاوخوا دومره وخت ايسار شئ څومره وخت کې چې يو اوښ حلاليږي او بيا د هغه غوښه تقسيميږي، "حتّی أستأنِسَ بكُمْ" ددې لپاره چې ستاسو په موجودګۍ کې زما حوصله په ځای وي، "وأنظرَ ما أُراجِعُ بهِ رسُلَ ربّي" او زه وګورم چې زما د رب رالېږل شوي پرښتو ته به زه څه جواب ورکوم؟ رواه مسلم

"قوله: ((شُنّوا)) رُوِيَ بالشّين المعجمة والمهملة، أي: صُبّوه قليلاً قليلاً، والله سبحانه أعلم" دا قول چې (شنوا) ددې مطلب دا دی چې لږې لږې خاورې راباندې واچوئ!

تشريح: د حديث خلاصه دا ده چې عمرو بن العاص ﷺ د خپل ژوند درې پړاوونه ذکر کوي، اول د اسلام راوړلو نه وړاندې، دويم د اسلام راوړلو نه وروسته، دريم د خپل والي توب زمانه، مرګ پرمهال هغه ته ددغې دريمې زندګۍ نه زيات فکر وو، هسې نه چې په دې کې رانه کومې غلطياني شوي وي، تاريخ پوهان وايي چې عمرو بن عاص ﷺ لس کاله او درې مياشتې د مصر والي پاتې شوی دی، څلور کاله د عمر ﷺ په خلافت کې او څلور کاله د عثمان ﷺ په خلافت کې، او دوه کاله درې مياشتې د امير معاويه ﷺ په دور کې.

اما بشرك رسول الله ﷺ بكذا؟ ايا رسول الله ﷺ تاسو ته په دې باندې زيرې نه دی درکړی، ددې نه علماوو دا مسئله اخذ کړې ده چې که کوم کس مري، نو هغه ته بايد د مرګ په وخت زيرې واورول شي لکه څرنګه چې عمرو بن العاص ﷺ ته د هغه زوی د مرګ په مهال زيرې واورولو.

په اسلام سره ټول ګناهونه معاف کيږي:

إن الاسلام يهدم ما كان قبله: اسلام ټول وړاندېني ګناهونه معاف کوي، علماوو ليکلي دي چې ددې نه هغه ګناهونه مراد دي چې په حقوق الله کې راځي او کوم چې د حقوق العباد سره تعلق ساتي، مثلاً قرض، عاريت، امانت، اخيستل خرڅول وغيره شو...، نو کوم چې يې په ذمه باقي پاتې وي د اسلام راوړلو نه وروسته د هغې ادا کول فرض دي، شيخ تورپشتي رحمه الله فرمايي: د اسلام راوړلو نه وروسته ټول صغيره او کبيره ګناهونه معاف کيږي، ليکن حقوق العباد نه معاف کيږي

نائحة ولانار: زما سره دې نه کومه ژړېدونکې ښځه وي او نه اور، علماء فرمايي: کوم کس چې مري، خو تر اوسه يې د ژوند اميد پاتې وي، هغه ته پکار دي چې کوم کار د شريعت مخالف وي، که

Maktaba Tul Ishaat. com

بدعات وي او که رواجونه وي، باید وصیت وکړي چې په ما باندې به دغه شیان نه کیږي، کنه نو دی هم په دې ګناه کې ورسره پوره شریك دی، "أقيموا حول قبري" د لږ وخت لپاره زما د قبر څخه شاوخوا کېنئ، علماوو دې عمل ته سنت ویلي دي، په دې سره مړي ته په قبر کې د منکر نکیر سوال او جواب اسانه کیږي او دا عمل د مړي لپاره د تسکین سبب ګرځي.

باب وداع الصاحب ووصيته عند فراقه للسفر وغيره والدعاء له وطلب الدعاء منه

د سفر پرمهال وصیت کول

"قَالَ اللهُ تعالىٰ" الله ﷻ فرمایي: "وَوَصَّىٰ بِهَا إِبْرَاهِيمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ" او په دې توحید باندې ابراهیم علیه السلام خپلو بچیانو ته او یعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ خپلو بچیانو ته وصیت وکړو، "يَا بَنِيَّ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَىٰ لَكُمُ الدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ" هغه دا چې دوی خپلو بچیانو ته وویل: اې بچو! الله ﷻ ستاسو لپاره اسلام غوره کړی دی، تاسو مه مرئ مګر په داسې حالت کې مړه شئ چې تاسو مسلمان یئ، "أَمْ كُنتُمْ شُهَدَاءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِن بَعْدِي" ایا تاسو هغه وخت حاضر وئ کله چې یعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د مرګ اسباب حاضر شول، کله چې هغه خپلو بچیانو ته وویل: اې بچیانو! تاسو به زما د مرګ نه وروسته د چا عبادت کوئ؟ "قَالُوا نَعْبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ إِلَٰهًا وَاحِدًا وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ" هغوی وویل: موږ به ستا د معبود او ستا د مور پلار: ابراهیم علیه السلام او اسماعیل علیه السلام او اسحاق علیه السلام معبود عبادت به کوو چې یو الله ﷻ دی او هغه واحد لاشریك له ذات دی. [البقرة:۱۳۲-۱۳۳].

تشريح: ووصى بها ابراهيم بنيه ويعقوب يابني: ابراهیم علیه السلام خپلو بچیانو ته وصیت وکړو او یعقوب علیه السلام هم خپلو بچیانو ته ددې توحید وصیت وکړو، مطلب دا چې د الله ﷻ محبوب پیغمبران ابراهیم علیه السلام او یعقوب علیه السلام دواړو خپلو بچیانو ته د وصیت په توګه د الله ﷻ د وحدانیت تاکید او وصیت وفرمایلو، لکه څرنګه چې یو مالدار انسان د مرګ په وخت کې خپلو بچیانو ته وصیتونه کوي، بچیٔ! دومره مال ستا شو او دومره ددې بل شو، څکه چې همدغه مال دده په نزد د ژوند قیمتي سرمایه وي، دغه شان د انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ په نزد د ژوند تر ټولو قیمتي سرمایه هغه د الله ﷻ توحید دی، نو دوی خپلو بچیانو ته هم د مرګ پرمهال وصیت کوي او د دوی په نقش قدم باندې تلونکي خلك اولیاء، علماء او مجاهدین دي چې خپلو بچیانو ته د دین او توحید وصیت کوي، څکه چې د دنیا او اخرت ټول خیر په دین او توحید کې دی، علماوو ددې نه استدلال کړی دی چې انسان ته پکار ده چې تر مرګه پورې د خپلو اخلاقو او تربیت خیال وساتي، "فلا تموتن إلا وأنتم مسلمون" تاسو مه مرئ مګر په داسې حال کې چې مسلمان یئ.

سوال: د ایمان په حالت کې مړ کېدل د انسان په وس کې نه دي، دا خو یو غیر اختیاري شی دی؟

جواب: په ايمان باندې تول ژوند تېر کړه، نو مرګ به هم درته د ايمان په حالت کې راشي، په کوم حالت کې چې هغه ژوند تېر کړی دی. "أم كنتم شهداء إذ حضر يعقوب الموت" ددې آيت شان نزول دا دی يو څو يهوديان د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شول او عرض يې وکړو چې يعقوب عليه السلام وفات کېدو، نو هغوی خپل اولاد ته په يهوديت باندې د پاتې کېدو وصيت کړی وو، په دې باندې دغه آيت نازل شو، دلته دغه يهوديان مخاطب شول چې ايا تاسو د يعقوب عليه السلام د وفات کېدو په وخت حاضر وئ چې تاسو دا خبره کوئ چې هغوی خپلو بچيانو ته په يهوديت باندې د پاتې کېدو وصيت کړی وو، نه! بلکې يعقوب عليه السلام خپلو بچيانو ته د وفات کېدو پر مهال په توحيد باندې د پاتې کېدو وصيت کړی وو، علماء فرمايي: هر نبي تر وفات وړاندې د مرګ يا ژوند په باره کې اختيار ورکړی شوی دی، د معمول مطابق کله چې يعقوب عليه السلام ته اختيار ورکړی شو، نو هغوی ووېل اې الله! ماته لږ مهلت راکړئ چې وصيت وکړم، کله چې مهلت ورکړی شو، نو هغوی خپل ټول زامن راجمع کړل او بيا يې چې کوم وصيت په قرآن کريم کې ذکر دی، دغه شان وصيت يې وکړو

وأما الأحاديث فمنها: او هر چې حديثونه دي، نو هغه دا دي:

دوه شيان: کتاب الله او اهل بيت

"حديث زيد بن أرقم رضي الله عنه — الَّذِي سبق في بَابِ إكرام أَهْلِ بَيْتِ رسول الله صلى الله عليه وسلم — قَالَ: قَامَ رسول الله صلى الله عليه وسلم فِينَا خَطِيباً، فَحَمِدَ اللَّهَ، وَأَثْنَى عَلَيْهِ، وَوَعَظَ وَذَكَّرَ" د زيد بن ارقم رضي الله عنه حديث دی چې مخکې په باب اکرام اهل بيت رسول الله صلى الله عليه وسلم کې ذکر شوی دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه ورځ پاڅېدو، مونږ ته يې خطبه وفرمايل، اول يې د الله جل جلاله صفتونه بيان کړل او بيا يې پرې ثناء ووېل، بيا يې وعظ او نصيحت وکړو، "ثُمَّ قَالَ: أَمَّا بَعْدُ، أَلاَ أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ يُوشِكُ أَنْ يَأْتِيَ رَسُولُ رَبِّي فَأُجِيبَ" بيا يې د (أما بعد) نه وروسته وفرمايل: اې خلکو! زه هم ستاسو په شان يو انسان او بشر يم، کېدی شي چې ماته د خپل رب له طرفه د مرګ پرښته عزرائيل عليه السلام راولېږي او زه ورته لبيک ووايم، "وَأَنَا تَارِكٌ فِيكُمْ ثَقَلَيْنِ، أَوَّلُهُمَا: كِتَابُ اللَّهِ، فِيهِ الْهُدَى وَالنُّورُ، فَخُذُوا بِكِتَابِ اللَّهِ وَاسْتَمْسِكُوا بِهِ، فَحَثَّ عَلَى كِتَابِ اللَّهِ، وَرَغَّبَ فِيهِ" او زه په تاسو کې دوه درانه شيان پرېښودنکی يم، اول په هغې کې د الله جل جلاله کتاب يعنې قرآن کريم دی چې په دې کې هدايت او رڼا ده، بس تاسو د الله په کتاب باندې په مضبوطيا سره عمل وکړئ، بيا نبي کريم صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله په کتاب باندې د عمل کولو ډېر زيات ترغيب ورکړو او خلکو ته يې پرې د عمل کولو تېزی ورکړه، "ثُمَّ قَالَ: وَأَهْلُ بَيْتِي، أُذَكِّرُكُمُ اللَّهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي" بيا نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دويم شی زما اهل بيت (کورنۍ خلک دي) زه د اهل بيتو په باره کې تاسو د الله جل جلاله نه وېروم، "رواه مسلم، وَقَدْ سَبَقَ بِطُولِهِ" دا حديث امام مسلم رحمه الله روايت کړی دی او مخکې به په پوره وضاحت سره تېر شوی دی

تشريح: دا حديث اګر چې وړاندې په باب اکرام بيت رسول الله صلى الله عليه وسلم کې ذکر شوی دی، دلته يې بيا راوړو، ځکه چې په عنوان باندې د وصيت ذکر دی، په حديث کې هم رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوه شيانو وصيت کړی دی، يو کتاب الله، دويم د اهل بيت سره خير خواهي کول.

Maktaba Tul Ishaat. com

د راوي زيد بن ارقم ﷺ حالات:

اصل نوم يې زيد ﷺ دی، ابو عمر يې کنيت دی، د خزرج قبيلې سره يې تعلق درلود، هغه ماشوم وو چې پلار يې وفات شو، نو دده تره عبد الله بن رواحه ﷺ يې پرورش وکړو، همدغه عبد الله ﷺ د زيد ﷺ د اسلام ذريعه شو، د خندق په غزا کې هم شريك شوی دی، خپله فرمايي ما په اوه ۷ غزواتو کې شرکت کړی دی، د نبي کريم ﷺ په بارګاه نبوت کې ډېر نژدې صحابي وو، کله چې به بيمار شو، نو رسول الله ﷺ به يې پوښتنې ته تشريف وړلو، يو ځل يې سترګه خوږ شوه، رسول الله ﷺ يې پوښتنې ته ورغلو، کله چې روغ شو، نو رسول الله ﷺ ترې پوښتنه وکړه چې که دغه مرض مو باقي پاتې وای، نو بيا به دې څه کول؟ هغه ورته وفرمايل صبر به مې کولو او د اجر اميد به مې ساتلو، رسول الله ﷺ وفرمايل: بيا خو به ستاسو ملاقات د الله ﷻ سره په داسې حال کې وشي چې بې ګناه به وئ، (مطلب دا چې ګناهونه به دې معاف وي)

وفات: په کوفه کې د هجرت په ۶۸ کال وفات شو، د مختار بن أبي عبيد ثقفي دور وو.

مرويات: تر ۹۰ پورې حديثونه ترې نقل دي.

څومره دين چې درته ياد دي، دومره بل ته ورسوه

"وعن أبي سليمان مالك بن الحويرث ﷺ، قَالَ: أَتَيْنَا رسولَ الله ﷺ وَنَحْنُ شَبَبَةٌ مُتَقَارِبُونَ، فَأَقَمْنَا عِنْدَهُ عِشْرِينَ لَيْلَةً" د ابو سليمان مالك بن الحويرث ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې موږ يو څو همزولي د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو، موږ د نبي کريم ﷺ په خدمت کې شل ورځې تيرې کړې، "وَكَانَ رسولُ الله ﷺ رَحِيماً رَفِيقاً، فَظَنَّ أنَّا قَدِ اشْتَقْنَا أهْلَنَا، فَسَأَلَنَا عَمَّنْ تَرَكْنَا مِنْ أهْلِنَا، فَأَخْبَرْنَاهُ" نبي کريم ﷺ ډېر زيات نرم زړه او مهربان پيغمبر وو، هغوی ګومان وکړو چې دومره موده اوسېدو نه پس به موږ ته خپل کورنې په ياد شوي وي او زموږ به کور ته د تللو شوق شوی وي، بيا نبي کريم ﷺ زموږ نه پوښتنې وکړې چې په کورکې مو څوك څوك دي؟ موږ ورته په تفصيل سره بيان وکړو، "فَقَالَ: ارْجِعُوا إِلَى أَهْلِيكُمْ، فَأَقِيمُوا فِيهِمْ، وَعَلِّمُوهُمْ وَمُرُوهُمْ" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: خپلو کورونو ته واپس لاړ شئ، هلته اوسېږئ، هغوی ته هغه څه وښيئ چې تاسو دلته زده کړل او هغوی ته ووايئ چې په دې باندې عمل وکړي، "وَصَلُّوا صَلاَةَ كَذَا فِي حِينِ كَذَا، وَصَلُّوا كَذَا فِي حِينِ كَذَا" او راته يې وفرمايل: فلانکی لمونځ په فلانکي وخت کې کوئ او فلانکی لمونځ په فلانکي وخت کې کوئ، "فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلاَةُ فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ أَحَدُكُمْ وَلْيَؤُمَّكُمْ أَكْبَرُكُمْ" کله چې د لمانځه وخت راشي، نو يو کس دې په تاسو کې تاسو ته آذان وکړي او بيا دې تاسو ته کوم کس چې په تاسو کې مشر وي هغه دې جمع درکړي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

"زاد البخاري في رواية لَهُ: وَصَلُّوا كَمَا رَأيْتُمُونِي أُصَلِّي" او امام بخاري رحمه الله دا هم زياتي کړي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: تاسو داسې لمونځ وکړئ لکه څنګه چې يې زه کوم

"وَقَوْلُهُ: ((رَحِيماً رَفِيقاً)) رُوِيَ بِفَاءٍ وَقَافٍ، وَرُوِيَ بقافَيْنِ" دا قول چې (رحيماً رفيقاً) په قاف او (ف) سره هم نقل شوی دی او په دوه قافونو سره هم روايت شوی دی

تشريح: فأقمنا عنده عشرين ليلة: مونږ د رسول الله ﷺ سره شل شپې تيرې کړې، معلومه شوه چې که د دين په خاطر سفر کول هم مخې ته راشي نو سستي به پکې نه کوئ. "علموهم" هغوی ته هم دين وښيئ، انسان چې څومره دين زده کړي، بايد دومره يې نورو ته هم ورسوي، هم دغه وصيت رسول الله ﷺ دغو ځوانانو ته وکړو.

فإذا الصلوة فليؤذن لکم أحدکم: کله چې د اذان وخت راشي، نو په تاسو کې دې يو کس اذان وکړي، په هر حال کې لمونځ فرض دی، برابره خبره ده چې سفر وي که حضر وي، په سفر کې عموماً ستړيا وي، نو ځکه په حديث کې دې تولو خبرو ته ترغيب دی، بل دا چې په هر ځای کې او په هر وخت کې آذان کول او په جمع سره لمونځ کولو اهميت معلوميږي.

د راوي ابوسليمان مالک بن الحويرث ﷺ حالات:

اصل نوم يې مالک ﷺ دی، کنيت يې ابوسليمان دی، د پلار نوم يې حويرث دی، د ليث قبيلې سره تعلق ساتي، د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو، شل ورځې يې قيام وکړو، بيا په بصره کې مقيم شو.

وفات: په ۹۴ هجري کې په بصره کې وفات شو.

مرويات: پنځلس حديثونه ترې نقل دي، په دوه حديثونو د بخاري او مسلم اتفاق دی او په يو روايت کې امام بخاري رحمه الله منفرد دی.

بل ته دعاء کول

"وعن عمر بن الخطاب ﷺ، قال: استأذنت النبي ﷺ في العمرة، فأذن، وقال: لا تنسانا يا أخي من دعائك" د عمر بن خطاب ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه د عمرې کولو اجازه واخيسته، هغوی راته اجازه راکړه او راته يې وفرمايل: اې زما وروره! مونږ په خپلو دعاګانو کې مه هېروه! "فقال کلمة ما يسرني أن لي بها الدنيا" عمر ﷺ فرمايي: ما ته رسول الله ﷺ يوه داسې خبره وکړه چې ددې په بدله کې ما ته ټوله دنيا هم ملاويږي، نو زه به يې وانخلم.

"وفي رواية قال: أشرکنا يا أخي في دعائك" په يو بل روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: مونږ د ځان سره په خپلو دعاګانو کې شريک کړه اې زمونږ وروره! "رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح" دا حديث امام ابوداود رحمه الله او امام ترمذي رحمه الله روايت کړی دی او فرمايلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح دی.

تشريح: دا حديث په باب زيارة أهل الخير کې وړاندې ذکر شوی دی، دلته يې بيا ذکر کړو، په دې کې ترغيب دی دې خبرې ته چې بل انسان ته ويل کيږي چې ما ته دعاء وکړه اګرچې دعاء طلبونکی ستا څخه په شرافت، علم، مقام او مرتبه کې اوچت وي، بل په دې حديث کې د رسول الله ﷺ کمال

Maktaba Tul Ishaat. com

تواضع او عاجزۍ ته اشاره ده، هغه دا چې د خپلې لوړې مرتبې باوجود عمر ﷺ ته د دعاء درخواست کوي، بل ته ویل چې ماته دعاء وکړه؛ مسنون عمل دی. بله مسئله ترې دا معلومیږي چې يو انسان بايد د بل انسان سره نرمه لهجه وکاروي او د وړوړ په خطاب سره يې ونازوي.

د رخصتۍ پر مهال دعاء

"وعن سالم بن عبد الله بن عمر: أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رضي الله عنهما كَانَ يَقُولُ لِلرَّجُلِ إِذَا أَرَادَ سَفَرًا: ادْنُ مِنِّي حَتَّى أُوَدِّعَكَ كَمَا كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُوَدِّعُنَا" د سالم بن عبد الله بن عمر ﷺ نه روایت دی هغه فرمايي چې عبد الله بن عمر ﷺ به هغه کس ته ویل چې د سفر اراده به يې کړې وه چې ماته رانژدې شه، زه تا په هغو دعاګانو سره رخصتوم لکه څنګه چې به رسول الله ﷺ موږ په کومو دعاګانو سره رخصت کولو. "فَيَقُولُ: أَسْتَوْدِعُ اللهَ دِينَكَ" نبي کريم ﷺ به وفرمايل: زه ستا دين الله ﷻ ته سپارم، "وَأَمَانَتَكَ" او ستا امانت هم الله ﷻ ته سپارم، "وَخَوَاتِيمَ عَمَلِكَ" او ستا د عملونو اخري خاتمه هم الله ﷻ ته سپارم. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: استودع الله دينك: الله ﷻ دې ستاسو د دين حفاظت وفرمايي، علماء يې وجه داسې ليکي چې عمومي طور په سفر کې د انسان په عبادت کې کمی راځي چې له امله يې په ايمان کې هم کمی راځي، نو دعا ورته کولی شي چې الله ﷻ دې نه په ايمان کې کمی راولي او نه په اعمالو کې

وامانتك: الله ﷻ دې د کورنۍ حفاظت هم وفرمايي، د چا په ذمه وارۍ چې امانتونه وي هغه امانتونه دې پوره پوره ادا کړي، په دې کې دې هيڅ خيانت ونه کړي، **"خواتيم عملك"** او خپل اخرينی عمل الله ﷻ ته سپارم، علامه مناوي رحمه الله فرمايي: په مسافر باندې ضروري ده چې د سفر شروع کېدو نه وړاندې توبه وباسي او په چا يې چې ظلم کړی دی د هغه نه معافي وغواړي، که قطع رحمي يې کړې وي، صله رحمي دې وکړي او کوم حقونه چې دده په ذمه دي هغه دې ټول پوره ادا کړي

د راوي سالم بن عبد الله بن عمر ﷺ حالات:

اصل نوم يې سالم رحمه الله دی، کنيت يې ابو عمر دی، د پلار نوم يې عبد الله ﷺ دی، د عمر ﷺ په زمانه کې چې د ايران په جهاد کې کومې وينزې مجاهدينو ته په لاس ورغلې وې، په هغې کې يوه وينزه عمر رضي الله عنه خپل زوی عبد الله بن عمر رضي الله عنه ته ورکړه، ددې وينزې نه سالم رحمه الله پيدا شو، په تفسير، حديث، فقه کې يې مثال نه وو، امام مالك رحمه الله فرمايي: سالم رحمه الله د خپلې زمانې تقوی دار، ديانت دار او په سلفو کې دده په شان انسان ما نه دی ليدلی.

علامه ذهبي رحمه الله فرمايي: سالم په فقه کې حجت دی، په هغو علماوو کې شمار دی چې په علم او عمل دواړو کې جامع انسان وو، امام نووي رحمه الله فرمايي: سالم رحمه الله په تقوی، زهد او په علومو کې تر ټولو اوچت انسان دی، د دوی رحمه الله ژوند ډېر ساده وو، په دوی کې تکلف، تصنع وغيره هيڅ نه وو، حافظ ذهبي رحمه الله فرمايي: د دوی ژوند بې انتها ساده وو، د صوف (وړۍ) جامې

به يې اغوستې، د ټولې جامې قيمت يې دوه درهمه وو، خوراك يې د ډوډۍ او زيتونو تېل وو
وفات په ۱۹۲ هجري كې د ذي الحجې په مياشت كې په مدينه منوره كې وفات شو. هشام بن عبد الملك چې د حج نه فارغ شو او مديني منورې ته راغلو، نو د هغه جنازه يې وكړه. ګڼ شمېر خلك يې په جنازه كې شريك وو، په جنت البقيع كې يې پرې جنازه ادا كړه.

د لښكر روانولو پرمهال دعاء

"وعن عبد الله بن يزيد الخطمي الصحابي ﷺ، قَالَ: كَانَ رسولُ اللهِ ﷺ إِذَا أَرَادَ أَنْ يُوَدِّعَ الجَيْشَ، قَالَ: أَسْتَوْدِعُ اللهَ دِينَكُمْ وَأَمَانَتَكُمْ، وَخَوَاتِيمَ أَعْمَالِكُمْ" د عبد الله بن يزيد الخطمي الصحابي ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به كله كوم لښكر رخصتولو، نو داسې دعاء به يې ورته فرمايل: زه ستاسو دين، ستاسو امانتونه او ستاسو اخري عملونه الله ﷻ ته سپارم، "حديث صحيح، رواه أبوداود وغيره بإسناد صحيح"

تشريح: استودعُ الله دينكم: زه ستا دين الله ﷻ ته سپارم، د دې دعاء مطلب په وړاندې تشريح كې ذكر شو، صرف دومره فرق دى چې هلته په مفرد صيغې سره ذكر ؤ، ځكه چې هلته يو كس رخصتېدو او دلته پوره لښكر روانېږي، د رخصتى پرمهال دعاء كول سنت طريقه ده.

د راوي عبد الله بن يزيد الخطمي ﷺ حالات:

اصل نوم يې عبد الله ﷺ دى، كنيت يې ابو موسى دى، د اوس قبيلې سره يې تعلق درلود، پلار نوم يې يزيد دى، د خپل پلار يزيد سره مسلمان شو، په بيعت رضوان كې يې شركت كړى دى، په دې وخت كې يې عمر اوولس/ ۱۷ كاله وو، د عبد الله بن زبير ﷺ په زمانه كې د يو څو ورځو لپاره د مكې امير هم جوړ شوى وو، عبد الله بن زبير ﷺ هغه د كوفې امير وټاكلو، د دوى په باره كې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: "كان اكثرالناس صلاة وكان لا يصوم الا يوم عاشوراء" په خپلو ملګرو كې زيات لمونځ كوونكى وو، البته روژه به يې صرف د رمضان او عاشوره په ورځو كې نيول.

وفات: په كوفه كې د دوى ﷺ انتقال ووشو.

مرويات: لدوى ﷺ نه پوره ۲۷ حديثونه نقل دي، په كومو كې يې چې ځينې بلاواسطه د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي او ځينو د ايوب انصاري، عبد الله بن مسعود ﷺ، حذيفه بن يمان ﷺ، او د عمر ﷺ نه اورېدلي دي.

غوره توښه تقوى ده

"وعن أنس ﷺ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النبي ﷺ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ الله، إِنِّي أُرِيدُ سَفَراً فَزَوِّدْنِي" د انس ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې يو كس رسول الله ﷺ ته راغلو او ورته يې وويل: يا رسول الله ﷺ! زما د سفر اراده ده، نو كه تاسو ماته د سفر لپاره څه قسم سامان او توښه راكړئ! "فَقَالَ: زَوَّدَكَ اللهُ التَّقْوَى" نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: الله ﷻ دې تاسو د تقوادارو توښه دركړي. "قَالَ: زِدْنِي قَالَ: وَغَفَرَ ذَنْبَكَ" هغه كس وويل: يا رسول الله ﷺ ماته زياتې كړئ؛ نبي كريم ﷺ وفرمايل: الله تعالى دې ستاسو ګناهونه معاف كړي.

Maktaba Tul Ishaat. com

"قَالَ: زِدْنِي، قَالَ: وَيَسَّرَ لَكَ الْخَيْرَ حَيْثُمَا كُنْتَ" هغه صحابي ووېل: ما ته نور هم زيات کړه، نبي کريم ﷺ وفرمايل الله تعالى دې تاسو په خير او برکت راجمع کړي چېرته چې تاسو يئ. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن" دا حديث امام ترمذي روايت کړی دی او فرمايلي يې دي چې دا حديث حسن دی

تشريح: د حديث نه معلومه شوه چې د مسافر لپاره تر ټولو غوره توښه تقوی ده، تقوی دې ته وايي چې د الله ﷻ په ټولو اوامرو باندې عمل وکړي او د منهياتو ځخه ځان وساتي او د رسول الله ﷺ په سنتو عمل وکړي، د کومو ځخه يې چې منع فرمايلې ده: د هغې ځخه منع شي، په تقوي سره انسان ته د الله ﷻ رضا حاصليږي او انسان د جهنم ځخه خلاصيږي. په قرآن کريم کې هم ددې ذکر شته "وتزدوا فإن خير الزاد التقوى" او د ځانونو سره توښه راواخلئ، تر ټولو ښه توښه تقوی ده

بَابُ الْاِسْتِخَارَةِ وَالْمُشَاوَرَةِ

دا باب په بيان د استخارې او مشورې کې دی

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ" او د دوی سره په کارونو کې مشوره کوه [آل عمران:۱۵۹]

تشريح په دې آيت کې رسول الله ﷺ ته خطاب دی، چې تاسو ﷺ هر کار کولو نه وړاندې په کوم کې چې وحی نه وي نازله شوې د صحابه کرامو ﷺ سره مشوره کوئ، مشوره په هغې کارونو کې ضروري ده کومو کارونو کې چې واضحه قطعي حکم نه وي نازل شوې، کنې که چېرته واضحه او قطعي حکم نازل شوې وي، نو بيا په داسې کارونو کې د مشورې هيڅ ضرورت نشته، بلکې پداسې وخت کې مشوره کول جائز هم ندي، مثلاً که يو کس د چا سره په دې خبره مشوره کوي چې لمونځ کوم او که نه، زکوة ورکړم او که نه

مشوره به د چا ځخه اخلې؟

په يو روايت کې راځي چې علي ﷺ فرمايي: ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړو چې که ستاسو نه وروسته موږ ته کومه داسې مسئله مخې ته راشي چې د هغې حکم صراحةً په قرآن کې نه وي او ستاسو نه هم په دې باره کې کوم ارشاد نه وي اورېدل شوی، موږ به ځه کوو؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: په داسې معاملو کې خپل نيک عبادت کونکي خلک فقهاء جمع کوي او د دوی په مشورو فيصلې کوي، د چا په رايه باندې ځانته فيصله مه کوئ

"وَقَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ" او د دوی کار به په خپل مينځ کې مشوره کول وي، [الشورى:۳۸] "أَيْ: يَتَشَاوَرُونَ بَيْنَهُمْ فِيهِ" يعنې دوی به په خپل مينځ کې مشوره کونکي وي

تشريح: د آيت مطلب دا دی چې هر اهم کار چې د هغه اهميت زيات وي. په دې کې د رښتوني مسلمانانو عادت دا دی چې دوی به خپل مابين کې پرې مشورې کوي. امام جصاص ﷫ فرمايي: په دې آيت کې د مشورې اهميت واضح شوی دی، په مشوره کولو باندې موږ مامور يو، بايد مشورې

وکړو او په يو کار کې هم د تېزۍ څخه کار وانخلو.

ما تشاور قوم قط إلا هدوا الخ: کوم قوم چې په مشورې سره کار کوي، نو دوی ته الله ﷻ خامخا سمه لار ښيي، دغه ډول په يو بل روايت کې د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: څوک کس چې د يو کار اراده وکړي او په دې کې بيې په مشورې عمل وکړو، نو الله ﷻ به هغه ته سمه لار وښيي، يعنې ددې کار انجام به يې په خير کړي، د فقهاوو او عابدينو سره مشوره پکار ده، که د بې علمه او بې دينه خلکو سره مشوره وشي، نو په داسې مشوره کې به فساد غالب وي

رسول الله ﷺ به استخاره د قرآن کريم په څېر ښودل

"وعن جابر رضي الله عنه، قَالَ: كَانَ رسولُ الله ﷺ يُعَلِّمُنَا الاسْتِخَارَةَ فِي الأُمُورِ كُلِّهَا كَالسُّورَةِ مِنَ القُرْآنِ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به مونږ ته د استخارې تعليم داسې راکولو لکه څنګه چې به يې د قرآن کريم يو سورت راته ښودلو، "يَقُولُ: إِذَا هَمَّ أَحَدُكُمْ بِالأَمْرِ، فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الفَرِيضَةِ" راته به يې فرمايل کله چې تاسو ته کوم يو کار راپيښ شي، "ثُمَّ لِيَقُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ" بيا دې داسې ووايي يا الله ﷻ! زه ستا د علم په ذريعه ددې معاملې نه ځان خبرېدل غواړم، "وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ" او ستا د قدرت په ذريعه دا په عمل کې د راوستلو قدرت غواړم، "وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ العَظِيمِ" ستا نه لوی فضل غواړم، "فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلاَ أَقْدِرُ" بې شکه تاسو په هر څه باندې قادر ذات يئ او زه بې وسه يم، "وَتَعْلَمُ وَلاَ أَعْلَمُ" او ستا علم په هر شي باندې دی او زه ناپوه يم، "وَأَنْتَ عَلاَّمُ الغُيُوبِ" او ته په پټو شيانو خبردار يې، "اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي" يا الله! که ستا په علم کې دا کار زما لپاره په ديني او دنيوي اعتبار سره د انجام په لحاظ ښه وي، "أَوْ قَالَ: عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ، فَاقْدُرْهُ لِي وَيَسِّرْهُ لِي، ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ" او يا يې داسې وفرمايل که دا کار د دنيا او اخرت په اعتبار سره زما لپاره غوره وي، نو ماته پرې طاقت راکړې او زما لپاره يې آسان کړې او بيا پکې برکت واچوې، "وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي، أَوْ قَالَ: عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ" او يا الله! که دا کار ستا په علم کې زما لپاره دنيوي او معاشي لحاظ سره د انجام په لحاظ غوره وي، يا يې داسې وفرمايل: د دنيا او اخرت په لحاظ ښه وي، نو "فَاصْرِفْهُ عَنِّي، وَاصْرِفْنِي عَنْهُ، وَاقْدُرْ لِي الخَيْرَ حَيْثُ كَانَ، ثُمَّ أَرْضِنِي بِهِ" نو دا کار زما څخه واړوې او ما ددې کار څخه واړوې او زما لپاره چې کوم ځای خير وي، هغه ما ته راکړې او ما پرې بيا راضي کړې، "قَالَ: وَيُسَمِّي حَاجَتَهُ" ددې دعا نه وروسته بيا خپل حاجت او ضرورت بيان کړئ؛ رواه البخاري

تشريح: د استخارې لغوي معنی ده: خير غوښتل، په دې سره هم انسان د الله ﷻ نه خير غواړي، استخاره په هغو کارونو کې ضروري ده چې د کومو کارونو تعلق د مباحاتو سره وي، په کوم کار کې چې انسان د خير او شر پته نه لګيږي، باقې چې کوم کارونه فرض يا واجب يا سنت او مستحب دي، ددې ادا کول په هر صورت کې ضروري دي، دغه شان کوم کارونه چې حرام دي يا مکروه دي، د داسې کارونو څخه ځان ساتل ضروري دي.

Maktaba Tul Ishaat. com

په استخاره کې غلط فهمي:

علماء فرمايي: دا قاعده کليه نه ده چې هر څوك استخاره وکړي، هغه ته دې غيبي اشاره ملاو شي، نو ځکه د غيبي اشارې انتظار پکار نه دی، بلکې د استخارې وروسته چې يې د سوچ او فکر وروسته کومه خبره په زړه ولګيږي او مناسبه ورته ښکاره شي، هغه اختيارول پکار دي

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمايي: په استخاره کې دوه شيان ضروري دي: دوه رکعته لمونځ او بل د استخارې دعاء لوستل، باقي ويده کېدل او خوب ليدل دا شرط نه دي، دا هر څه عوامو له ځانه جوړ کړي دي، هو! ممکنه ده چې کله کله د استخارې اثر په خوب کې وليدل شي، ليکن خوب کول شرط نه دی

تهانوي رحمه الله اضافه کوي چې شپه هم ورته ضروري نه ده، دا ټول رواجونه دي چې خلکو له ځانه جوړ کړي دي، د لمانځه نه وروسته د استخارې لپاره نه ويده کېدل ضروري دي او نه هم شپه ورته ضروري ده، هر وخت چې وي، مثلاً: د ماسپښين نه وروسته دوه رکعته نفل وکړي او مسنونه دعاء وکړي او د لږ وخت لپاره خپل زړه ته متوجه شي.

باب إستحباب الذهاب إلى العيد وعيادة المريض والحج والغزو والجنازة ونحوها من طريق، والرجوع من طريق آخر لتكثير مواضع العبادة

د اختر لمونځ يا د مريض پوښتنې ته يا حج، جهاد او جنازې ته په يوه لاره تلل او واپس په بله لار يا ندې راتلل مستحب دي، ددې لپاره چې د عبادت ځايونه زيات شي

"عن جابر ﷺ، قَالَ: كَانَ النبي ﷺ إِذَا كَانَ يومُ عيدٍ خَالَفَ الطَّرِيقَ" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د اختر په ورځ لاره بدلول

"قَوله: ((خَالَفَ الطَّرِيقَ)) يعني: ذَهَبَ في طريقٍ، وَرَجَعَ في طريقٍ آخَرَ" (کله چې به د اختر لمانځه لپاره په يوه لاره لاړو، نو واپسي به يې په بله لاره کول. رواه البخاري

تشريح خالف الطريق: په يوه لاره تلل او په بله لار راتلل.

د لارې په بدلولو کې حکمت:

محدثينو ددې ډېر حکمتونه بيان کړي، مثلاً: عبادت يې زيات شي، د تلو او راتلو دواړه لارې به د قيامت په ورځ شاهدي ورکوي، ځکه چې د اختر لمانځه ته خلك ځي، نو تکبيرات وايي، د بوې لارې په ځای په دواړو لارو باندې د غريبانانو خلکو سره مرسته وکړی شي، د مسلمانانو د قوت او طاقت او اجتماعيت مظاهره پکې وشي

يادونه: د اختر لمونځ يا حج وغيره عبادتونو ته په تلو او راتلو کې لارې بدلول شرعاً ثابت

دي، په دې باندې علامه نووي رحمه الله د ناروغ پوښتنه کول، جهاد او جنازه هم قياس کړې ده، ځکه چې د عنوان نه ظاهريږي، ليکن د رسول الله ﷺ نه قولاً يا فعلاً په دې ځايونو کې لاره بدلول ثابت نه دي.

په حج کې هم رسول الله ﷺ لاره بدله کړې ده

"وعن ابن عُمَرَ رضي الله عنهما: أَنَّ رسول الله ﷺ كَانَ يَخْرُجُ مِنْ طَرِيقِ الشَّجَرَةِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د شجرې په لارې باندې تللو، "وَيَدْخُلُ مِنْ طَرِيقِ الْمُعَرَّسِ" او واپس به د معرس په لاره راتللو، "وَإِذَا دَخَلَ مَكَّةَ، دَخَلَ مِنَ الثَّنِيَّةِ الْعُلْيَا، وَيَخْرُجُ مِنَ الثَّنِيَّةِ السُّفْلَى" او کله چې به مکې ته داخلېدو، نو د ثنية عليا په لاره به داخلېدو او د ثنية سفلى په لاره به واپس راتللو. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: طريق الشجر: مدينې منورې نه چې مکې مکرمې ته ځي، نو په لاره کې يو ځاى راځي چې د هغې نوم شجر دى، معرس ذوالحليفه ته ويل کيږي کوم چې مدينې منورې نه په شپږ ميله فاصله کې پروت دى او ثنيه د دوه غرونو ترمينځ خوړ ته ويل کيږي، اوس مطلب دا شو چې رسول الله ﷺ به کله مکې ته تشريف وړلو، نو په اوچت ځاى به تللو او کله چې د مکې نه مدينې منورې ته راتلو، نو لاندې طرف به يې اختيارولو او کله چې به د مدينې منورې څخه مکې مکرمې ته راتلو، نو د شجرة ځاى سره به تېرېدو او په ذوالحليفه کې به يې شپه کول او کله چې به د مکې نه واپس راتلو، نو مقام معرس يعنې ذو الحليفه جومات سره به په لاره تېرېدلو او مدينې منورې ته به داخلېدو. مصنف رحمه الله دلته دا حديث ځکه ذکر کړو چې حج ته هم په تلو راتلو کې لاره بدلول مستحب دي.

باب إستحباب تقديم اليمين في كل ما هو من باب التكريم

په هر ښه کار کې ښى طرف مخکې کول مستحب کار دى

هر عزتمند کار په ښي لاس سره کول مستحب دي، "كَالْوضوءِ وَالْغُسْلِ وَالتَّيَمُّمِ، وَلُبْسِ الثَّوْبِ وَالنَّعْلِ وَالْخُفِّ وَالسَّرَاوِيلِ وَدُخولِ الْمَسْجِدِ" لکه اودس کول، غسل کول، تيمم کول او جامې اغوستل او څپلې په پښو کول او موزې په پښو کول او پرتوګ اغوستل، جومات ته داخلېدل، "وَالسواكِ، وَالاكْتِحَالِ، وَتقليمِ الأظْفَارِ، وَقَصِّ الشَّارِبِ، وَنَتْفِ الإِبْطِ" او مسواك وهل، په سترګو کې رانجه اچول او نوکان کاټول او بريتونه کمول او د تخرګ/ بغل وېښتان ويستل، "وَحلقِ الرَّأسِ، وَالسَّلامِ مِنَ الصَّلاَةِ، وَالأكْلِ، والشُّربِ، وَالمُصافَحَةِ، وَاسْتِلاَمِ الحَجَرِ الأسْوَدِ" او سر خرول او د لمانځه نه سلام اړول او خوراك شروع کول او اوبه څښل او ستړي مشي کول او حجر اسود ښکلول. "والخروجِ مِنَ الخلاءِ، والأخذِ والعطاءِ وغيرِ ذلِكَ مِمَّا هُوَ في معناه" او دغه شان د بيت الخلاء نه وتل شو او اخيستل او ورکول او داسې نور شيان دي چې ددې په معنى سره استعماليږي، "وَيُسْتَحَبُّ تَقديمُ اليسارِ في ضِدِّ ذَلِكَ" او مستحب دي چې چپ لاس وړاندې کړي کوم کارونه چې ددې ذکر شويو شيانو په ضد او په نکر کې دي، "كَالامْتِخَاطِ وَالبُصَاقِ عن اليسارِ" لکه پوزه سونړ کول شو او لاړې تو کول شو، نو دا به چپ

Maktaba Tul Ishaat. com

طرفته توکوي، "ودخول الخلاء، والخروج من المسجد، وخلع الخف والنعل والسراويل والثوب" او بيت الخلاء ته داخلېدل او دارنګه د جومات نه وتل شو، موزې او څپلۍ ويستل شو، "والاستنجاء وفعل المستقذرات وأشباه ذلك" او دا رنګه استنجاء کول شو او د اودس ماتي تول کارونه شو او داسې نور شيان چې ددې سره متعلق لري.

اعمال نامې:

"قال الله تعالى" الله ﷻ فرمايي: "فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ" چاته چې عملنامه په ښي لاس ورکړی شي، "فَيَقُولُ هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ" نو داسې کس به وايي: راشئ زما عملنامه وګورئ [الحاقة:۱۹] الآيات

تشريح: دلته د ښي لاس والا څخه جنتي مسلمانان مراد دي، هغه جنتي به هر سړي ته د ډېرې خوشحالی نه دا وايي چې راشه زما اعمال نامه وګوره، په کومه کې چې ټولې نيکی دي، کوم ګناهونه چې وو هغه راته الله ﷻ ټول معاف کړي دي، يا يې هغه ګناهونه هم راته په نېکيو بدل کړي دي

جنتي به د عرش ښي طرف ته وي:

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "فَأَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ" او د ښي لاسونو عملنامې والا خلک څه ښه خلک او غوره خلک دي، "وَأَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ" او د چپ لاس عملنامې والا خلک بد او خراب خلک دي [الواقعة:۸-۹].

تشريح: أصحاب الميمنة: د ښي لاس والا خلکو څخه د عرش تر سوري لاندې ښي طرف والا خلک مراد دي، دا به د جنتي کېدو دليل وي، دا هغه خلک دي چې د آدم علیه السلام د ښي طرف نه پيدا دي او د دوی اعمال نامې به هم په ښي لاس کې ورکړی شي، "وأصحاب المشئمة ما أصحاب المشئمة" د چپ لاس والا خلک، دوی څه خراب خلک دي، ددې نه مراد هغه خلک دي چې د عرش چپ طرفته وي او دا به د جهنمي کېدو دليل وي، دا د آدم علیه السلام د چپ طرف څخه پيدا دي او دوی ته به اعمال نامې هم په چپ لاس ورکړی شي

رسول الله ﷺ به ټول ښه کارونه په ښي لاس کول

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كان رسول الله ﷺ يُعْجِبُهُ التَّيَمُّنُ فِي شَأْنِهِ كُلِّهِ" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ته په ښي لاس سره کار شروع کول زيات خوښ و، "فِي طُهُورِهِ، وَتَرَجُّلِهِ، وَتَنَعُّلِهِ" او په اودس کې به يې هم ښي لاس استعمالول خوښول او دغه شان څپلۍ په پښو کول او په سر مبارک باندې ږمنځ وهل شو متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: يعجبه التيمن في شانه كله: په بخاري کې دا روايت په دې الفاظو سره نقل دی، "كان النبي ﷺ يحب التيمن ما استطاع في شانه كله" رسول الله ﷺ به تر خپل وسه په هر کار کې ښي طرف خوښولو، ددې مثال لکه اودس شو، په سر کې ږمنځ وهل شو، څپلۍ په پښو کول وغيره شو، په دې شيانو کې به رسول الله ﷺ ښي طرف خوښولو، هم دغه خبره علامه نووي رحمه الله په دې باب کې ثابتول غواړي چې په ښه

کارونو کې ښي طرف وړاندې کول پکار دي او په نا خوښه کارونو کې چپ طرف وړاندې کول مستحب دي

رسول الله ﷺ په استنجاء او د ناخوښه کارونو لپاره چپ لاس استعمالولو

"وعنها، قالت: كَانَتْ يَدُ رسول الله ﷺ الْيُمْنَى لِطُهُورِهِ وَطَعَامِهِ" د عائشه ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ ښي لاس به د اودس او ډوډۍ خوړلو لپاره وو، "وَكَانَتِ الْيُسْرَى لِخَلَائِهِ وَمَا كَانَ مِنْ أَذًى" او چپ لاس به يې د استنجاء يا ددې په شان نورو کارونو لپاره وو، "حديث صحيح، رواه أبوداود وغيره بإسنادٍ صحيح".

تشريح: وكانت اليسرى لخلائه: ددې ترجمه په استنجاء، لوټه راخيستل شو، يا پوزه پاکول سره کيږي، دا ټول شيان به يې په چپ لاس سره کول، "اذى" داسې کارونه چې ګندګي او کراهيت پکې وي، لکه پوزه پاکول شو، لاړې توکول شو، په دې حديث کې هم د رسول الله ﷺ عمل ښودل شوی چې شرافت والا کارونه به يې په ښي لاس کول او د کراهيت کارونه به يې په چپ لاس سره کول.

مړي ته په غسل ورکولو کې هم ښي لاس وړاندې کول پکار دي

"وعن أم عطية رضى الله عنها: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ لَهُنَّ فِي غُسْلِ ابْنَتِهِ زَيْنَبَ رضى الله عنها" د ام عطيه ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې کله مونږ زينب ؓ ته غسل ورکولو، نو نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: "ابْدَأْنَ بِمَيَامِنِهَا" تاسو په غسل ورکولو کې د هغه ځايونو څخه شروع وکړئ کوم چې ښي طرفته وي، "وَمَوَاضِعِ الْوُضُوءِ مِنْهَا" او اول د هغې د اودس ځايونه ووينځئ! متفقٌ عَلَيْهِ.

تشريح: راوي: ام عطيه ؓ به د رسول الله ﷺ په زمانه کې مړو ته غسل ورکولو، په اتمه هجري کې د رسول الله ﷺ لور زينب ؓ د يو دېرش کالو په عمر کې وفات شوه، دې ته هم غسل ام عطيه ؓ ورکړو، رسول الله ﷺ دې ته هم نصيحت وفرمايلو چې ښي طرف نه غسل ورکول شروع کړه، لکه څرنګه چې په ژوند کې د ښي طرف څخه غسل شروع کوي، دغه شان بايد چې په مرګ کې هم د ښي طرف نه ورته غسل ورکړی شي.

د راويه ام عطيه ؓ حالات:

اصل نوم يې نسيبه بنت حارث ؓ ده، د هجرت نه وړاندې مسلمانه شوې ده، کله چې رسول الله ﷺ مديني منورې ته تشريف راوړو، نو د انصاري صحابياتو نه يې بيعت واخيستو، په دې کې هم ام عطيه ؓ شامله وه، په څېرو جهادونو کې يې د رسول الله ﷺ سره شرکت کړی دی، په دې جهادونو کې به يې ډوډۍ پخول، د سامانونو حفاظت به يې کولو او په زخمونو به يې پټۍ لګولې.

په اتمه هجري کې د رسول الله ﷺ لور زينب ؓ انتقال شوه، ام عطيه ؓ د يو څو نورو مېرمنو سره زينب ؓ ته غسل ورکړو، دهغې يو بچی ؤ چې په جهاد کې شريك شو، بيا د بيماري له وجې بصرې ته راغلو، ام عطيه ؓ په مدينه منوره کې وه، هغه خبره شوه، نو سمدستي بصرې ته روانه شوه، خو د ملاقات څخه وړاندې د هغې بچی وفات شو، په دريمه ورځ يې خوشبو راوغوښتل او وې

Maktaba Tul Ishaat. com

لګول، بيا يې وفرمايل: چاته هم جائز نه دي چې د درې ورځو نه زياته غمرازي وکړي پرته د خاوند د مرګ څخه

وفات د وفات تاريخ يې پوره معلوم نه دی

مرويات ځلوېښت حديثونه ترې نقل دي، په دې کې نهه حديثونه په بخاري او مسلم کې دي، يعني متفق عليه احاديث دي، بيا وروسته دواړه په يو يو حديث سره منفرد دي

د څپلو په پښو کولو کې هم ښى طرف ورانديې کول پکار دي

"وعن أبي هريرة ﷺ: أنَّ رسول الله ﷺ قال: إذَا انْتَعَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِالْيُمْنَى" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو کې يو کس څپلۍ اچوي نو د ښي طرف څخه دې شروع کړي، "وَإِذَا نَزَعَ فَلْيَبْدَأْ بِالشِّمَالِ" او کله چې څپلۍ وباسي، نو د چپ طرف څخه دې شروع کړي، "لِتَكُنِ الْيُمْنَى أَوَّلَهُمَا تُنْعَلُ، وَآخِرَهُمَا تُنْزَعُ" ددې لپاره چې ښي طرفنه څپلۍ په پښو کول اول شي او ويستل يې آخر شي. متفقٌ عَلَيْه

تشريح علامه نووي رحمه الله په شروع کې فرمايلي وو چې ټول ښه کارونه يعنې کوم کار چې ښه وي، ابتداء يې د ښي طرف څخه کول پکار ده، ددې مثال په حديث کې داسې ورکړل شوی دی چې کله يو انسان څپلۍ په پښو کوي، نو بايد چې ابتداء د ښۍ پښې نه وکړي، ځکه چې څپلو په پښو کولو سره د انسان پښې له ډېر تکليف او ضرر څخه محفوظې وي

د څپلو په ويستلو کې به چپه پښه ورانديې کوي:

واذانزع فليبداء بالشمال: او کله چې څپلۍ وباسي، نو اول به يې له چپې پښې وباسي، دې باره کې ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: اول د چپې پښې نه څپلۍ ځکه ويستل پکار دي چې په ښۍ پښه کې تر ډېره حده څپلۍ پاتې شي، په دې کې هم د ښۍ پښې قدر او عزت دی، ددې برعکس مثال داسې دی چې: انسان کله بيت الخلاء ته داخليږي، نو بايد چپه پښه اول داخله کړي او کله چې راوځي نو اول دې ښۍ پښه راوباسي، ځکه چې ښۍ پښې ته په چپه پښه باندې فضيلت حاصل دی، په دې سره به د ښۍ پښې قدر وشي

خوراک او څښاک په ښى لاس باندې کوئ !

"وعن حفصة رضي الله عنها: أنَّ رسول الله ﷺ كَانَ يَجْعَلُ يَمِينَهُ لِطَعَامِهِ وَشَرَابِهِ وَثِيَابِهِ" د حفصه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به ښۍ لاس دخوراک، څښاک او جامې اچولو لپاره استعمالولو، "وَيَجْعَلُ يَسَارَهُ لِمَا سِوَى ذَلِكَ" او چپ لاس به يې ددې نه بغير کارولو، "رواه أبوداود والترمذي وغيره" دا حديث امام ابوداود رحمه الله او امام ترمذي رحمه الله روايت کړی دی

تشريح ددې حديث نه هم معلومه شوه چې د ښه کار لپاره په هر ځای کې بايد انسان ښۍ لاس استعمال کړي، په کومو کارونو کې چې شرافت نه وي، بايد په چپ لاس وشي، همدغسې د رسول الله ﷺ عادت شريفه وو.

د راوي حفصه رضي الله عنها حالات:

اصل نوم يې حفصه رضي الله عنها ده، د پلار نوم يې عمر رضي الله عنه دی، ولادت يې د بعثت نبوي ﷺ نه پنځه کاله وړاندې شوی دی، په دې وخت کې قريش د خانه کعبې په تعمير کې مصروف وو، اول ځل يې نکاح يې د انيس بن حذافه سره وشوه، د خپل مور پلار سره يو ځای مسلمانه شوه، د خاوند سره يې يو ځای هجرت کړی دی، د بدر په غزا کې يې خاوند انتقال شو، ددې نه وروسته رسول الله ﷺ ورسره نکاح وکړه، ابن سعد رحمه الله دهغې په باره کې فرمايي: "انها صوامة قوامة" هغې د ورځې روژه او د شپې به په لمونځونو ولاړه وه، په الاصابه کې دي: "ماتت حفصه حتى ماتفطر" د انتقال په وخت هم دې روژه نيولې وه.

وفات: حفصه رضي الله عنها د شعبان مياشتې په **۴۵** هجري کې په مدينه منوره کې وفات شوه، د امير معاويه رضي الله عنه حکومت وو، مروان د مدينې منورې والي وو، هغه پرې جنازه وکړه، ورور يې ابن عمر رضي الله عنه او دده بچي عاصم، سالم، عبد الله او حمزه په قبر کې داخله کړه، د وفات پرمهال يې خپل ورور عبد الله بن عمر رضي الله عنه ته وصيت وکړو چې د ځنګل کومه ځمکه ده هغه د الله ﷻ په نوم صدقه کړه.

مرويات: شپېته حديثونه ترې نقل دي

د جامې اغوستلو او اودس کولو په وخت د ښي طرف څخه شروع پکار ده:

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أنّ رسول الله ﷺ قال: إذا لبستم، وإذا توضأتم" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: کله چې په تاسو کې کوم کس کپړې اغوندي او يا اودس کوي، "فابدأوا بأيامنكم" نو د ښي طرف څخه شروع کوئ: "حديث صحيح، رواه أبوداود والترمذي بإسناد صحيح" دا حديث صحيح دی، امام ابوداود رحمه الله او امام ترمذي رحمه الله په صحيح سند سره روايت کړی دی.

تشريح: إذا لبستم وإذا توضأتم فابدءوا بأيامنكم: کله چې جامې اغوندئ يا اودس کوئ، نو د ښي طرفنه شروع کوئ، علماوو ددې حديث نه يو اهم اصول مرتب کړي دي، هغه دا چې هر هغه شی کوم چې د شرافت او بزرګۍ سره تعلق لري، هغه د ښي طرف څخه شروع کول پکار دي او کوم چې داسې نه وي، هغه د چپ طرفنه شروع کول پکار دي، همدغه د رسول الله ﷺ عادت مبارکه وو، "كان النبي ﷺ يحب التيمن ما استطاع في شأنه كله في طهوره وترجله وتنعله" نبي کريم ﷺ به د ښي طرفنه شروع کول زيات خوښول، تر څو يې چې وس وو، په طهارت کې، په ږمنځ وهلو کې او د څپلۍ په پښو کولو کې، معلومه شوه چې په هر ښي طرف کې فضيلت وي، هغه ګاونډی چې په ښي طرف پروت وي، هغه مقدم دی په چپ طرف ګاونډي باندې، دغه شان هغه پرښته چې په ښي طرف ده، په هغه بله پرښته باندې فوقيت لري چې په چپ طرف اوسيږي.

نبي کريم ﷺ به د سر وېښتان هم ښي طرفته ماتول

"وعن أنس رضي الله عنه: أنّ رسول الله ﷺ أتى منىً، فأتى الجمرة فرماها، ثمّ أتى منزله بمنى ونحر" د انس رضي الله عنه نه روايت

Maktaba Tul Ishaat. com

دی هغه فرمایل، چې رسول الله ﷺ کله منی ته تشریف راوړلو، نو جمره یعنې شیطان یې وویشتلو او قرباني یې وکړه، "ثُمَّ قَالَ لِلْحَلَّاقِ: ((خُذْ)) وَأَشَارَ إِلَى جَانِبِهِ الْأَيْمَنِ، ثُمَّ الْأَيْسَرِ" بیا یې نایي ته وفرمایل، شروع کوئ او اشاره یې د ښي طرفته د شروع کولو وکړه، "ثُمَّ جَعَلَ يُعْطِيهِ النَّاسَ" بیا یې هغه وېښتان مبارک په خلکو کې تقسیم کړل. متفق علیه

وفي رواية: لَمَّا رَمَى الْجَمْرَةَ، وَنَحَرَ نُسُكَهُ وَحَلَقَ، نَاوَلَ الْحَلَّاقَ شِقَّهُ الْأَيْمَنَ فَحَلَقَهُ: په یو بل روایت کې دي چې کله یې شیطانان وویشتل او قرباني یې وکړه، نو بیا یې د سر خریلو اراده وکړه، نو نایي ته یې د ښي طرفنه د سر خریلو اشاره وکړه، دغه طرفنه ورته نائي سر مبارک وخریلو، "ثُمَّ دَعَا أَبَا طَلْحَةَ الْأَنْصَارِيَّ ﷺ، فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ" بیا نبي کریم ﷺ ابوطلحه انصاري ﷺ راوغوښتلو او هغه وېښتان یې هغه ته ورکړل، "ثُمَّ نَاوَلَهُ الشِّقَّ الْأَيْسَرَ فَقَالَ: ((احْلِقْ)). فَحَلَقَهُ فَأَعْطَاهُ أَبَا طَلْحَةَ" بیا یې نایي راوغوښتلو او هغه ته یې وویل: چپ طرفنه یې هم وخریه، هغه د چپ طرف څخه وېښتان وخریل، دغه وېښتان یې هم ابوطلحه ﷺ ته ورکړل، "فَقَالَ: اقْسِمْهُ بَيْنَ النَّاسِ" بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل: دغه وېښتان په خلکو کې تقسیم کړه!

تشریح: فاتی الجمرة فرماها: جمرې (شیطان ویشتلو) ته یې تشریف راوړو، هغه یې په کاڼو وویشتلو، ددې څخه مراد د ذي الحجې په لسمه رمي ده، کوم چې د عرفات نه وروسته واپس راتلو کې صرف یوه جمرة یعنې جمرة عقبه اولی باندې ویشتل کیږي

د قرباني په ورځ څلور کارونه کیږي:

وَنَحَرَ ثُمَّ قَالَ لِلْحَلَّاقِ خُذْ: بیا یې خاروی قرباني کړو، بیا یې نائي ته وفرمایل: سر راته کل کړه، په یوم النحر (لسم ذي الحجه) کې حاجي صاحب څلور کارونه کوي (۱) د جمرة عقبه رمي، (۲) قرباني کول، (۳) حلق کول، (۴) طواف زیارت کول، د امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد په دې څلورو کارونو کې ترتیب سنت دی، که د ترتیب خلاف وشي، نو دم (پسه) نه لازمیږي، خو د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله په نزد په دې څلورو کارونو کې ترتیب واجب دی، که په ترتیب سره ادا نه شي، نو دم/ پسه په پرې لازم شي

إلى جانبه الايمن ثم الايسر: نبي کریم ﷺ وفرمایل: اول ښي طرف وېښتان کل کړه، ددینه امام نووي رحمه الله استدلال کړی دی چې د وېښتانو کټ کولو شروع هم د ښي طرف څخه کول بکار دي، ځکه چې دا د شرافت په کارونو کې داخل دی.

نبي کریم ﷺ خپل وېښتان په خلکو کې تقسیم کړل:

جعل یعطیه الناس: په خلکو کې یې تقسیم کړل، علماء فرمایي: په دنیا کې اوس هم ګڼ شمېر ځایونو کې د رسول الله ﷺ د سر وېښتان مبارک محفوظ دي، دا وېښتان هغه وېښته دي چې په حجة الوداع کې یې په خلکو باندې تقسیم کړي وو، دا آثار د تبرک باعث دي.

كتاب أدب الطعام

باب التسمية فى أوله والحمد فى آخره

د ډوډۍ په سر کې بسم الله ویل او په آخر کې الحمدلله ویل

"وعن عُمَرَبن أبي سَلمة رضي الله عنهما، قالَ: قَالَ لي رسول الله ﷺ: سَمِّ اللَّهَ" د عمر بن أبي سلمة رضي الله عنهما روايت دى هغه فرمايي چې ماته رسول الله ﷺ وفرمايل: بسم الله ووايه؛ "وَكُلْ بِيَمِينِكَ، وكُلْ مِمَّا يَلِيكَ" په ښي لاس خوراك كوه او هغه طرفنه خوراك كوه چې تاته نږدې وي متفقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

سم اللّه: د الله ﷻ نوم واخله!

تشريح د خوراك درې بنيادي آداب دي: لومړی دا چې په سر كې بسم الله ويل. ځكه چې په يو روايت كې راغلي دي چې كله انسان خوراك شروع كړي، نو شيطان هم ورسره په خوراك كې شريك كيږي. كله چې انسان بسم الله ووايي، نو شيطان منډه كړي. ځينې علماء فرمايلي دي چې بسم الله ويل واجب دي، دويم آدب بې دا دى چې په ښي لاس به خوراك كوي، "كل بيمينك" په ښي لاس خوراك كوه، په يو روايت كې راغلي دي چې: شيطان په چپ لاس خوراك كوي. علامه توربوشتي رحمه الله فرمايي: په چپ لاس خوراك كونكى د شيطان ملګرى وي. شيطان ورته دا خبره ښايسته كوي چې په چپ لاس خوراك كوه. دريم ادب دا دى چې: "كل مما يليك" خپل مخې ته نږدې طرفنه خوراك كوه. كه چېرته مختلف شيان پراته وي، مثلاً: ميوې وغيره وي. نو بيا اختيار دى چې د كوم طرف ښه ورته خوښه شي، د هغه طرف ځنې دې شروع وكړي

كه بسم الله هېره شي، نو داسې دې ووايي: بسم الله اوله او آخره

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: قَالَ رسول الله ﷺ: إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَذْكُرِ اسْمَ اللّٰهِ تعالى" د عائشه رضي الله عنها روايت دى فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې په تاسو كې څوك خوراك كوي نو اول دې د الله نوم واخلي (يعني بسم الله دې ووايي)، "فَإِنْ نَسِيَ أَنْ يَذْكُرَ اسْمَ اللّٰهِ تعالى فِي أَوَّلِهِ" كه چېرته په اول كې ترې بسم الله هېره شي، "فَلْيَقُلْ: بِسْمِ اللّٰهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ" نو بيا دې داسې ووايي: (بسم الله الخ) شروع كوم په نوم د الله ﷻ په اول او آخر دواړو كې، "رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: كه چېرته په شروع كې بسم الله هېره شي، نو ايا كه په مينځ كې وويل شي دې سره به سنت طريقه ادا شي او كه نه؟ "فان نسي أن يذكر اسم الله تعالى" كه د خوراك په شروع كې ترې بسم الله هېره شي، نو دې باره كې علامه طحطاوي رحمه الله فرمايي: دا خبره د خوراك متعلق ده چې په شروع كې ترنه بسم الله هېره شي، نو بيا دې وروسته ووايي، په دې سره به سنت طريقه ادا شي. ليكن د اودسه په

Maktaba Tul Ishaat. com

شروع کې هم بسم الله ويل سنت دي، خو که په شروع کې بسم الله هېره شي او وروسته يې ووايي، نو سنت طريقه پرې نه ادا کيږي،، په محيط کې دي : که د اوداسه په شروع کې د بسم الله په ځای (لا اله الا الله يا الحمدلله يا أشهد أن لا اله الاالله) ووايي، نو بيا هم سنت طريقه ادا شوه، دغه شان د خوراك په شروع کې د بسم الله په ځای که دغه الفاظ وويل شي، نو سنت به پرې ادا شي

د بسم الله په ويلو سره شيطان منده کوي

"وعن جابر ﷺ، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يقول: إِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ، فَذَكَرَ اللهَ تعالى عِنْدَ دُخُولِهِ، وَعِنْدَ طَعَامِهِ" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې : کله چې په تاسو کې کوم کس کور ته داخليږي او د الله ﷻ نوم واخلي، دغه راز کله چې ډوډی خوري، "قَالَ الشَّيْطَانُ لأَصْحَابِهِ: لاَ مَبِيتَ لَكُمْ وَلاَ عَشَاءَ" شيطان خپلو ملګرو ته ووايي : دلته په دې کور کې د شپې تېرېدو ګنجائش نشته او نه هم د ماسخوتن په ډوډی کې د شريك کېدو ګنجائش شته. "وَإِذَا دَخَلَ فَلَمْ يَذْكُرِ اللهَ تعالى عِنْدَ دُخُولِهِ، قَالَ الشَّيْطَانُ: أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ" او کله چې کور ته داخليږي او د الله ﷻ نوم د داخليدو په وخت کې وانخلي، شيطان خپلو ملګرو ته ووايي : اوس په دې کور کې د اوسېدو ګنجائش پيدا شو. "وَإِذَا لَمْ يَذْكُرِ اللهَ تعالى عِنْدَ طَعَامِهِ، قَالَ : أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ وَالْعَشَاءَ" او کله چې د خوراك په وخت کې هم د الله ﷻ نوم وانخلي، نو شيطان خپلو ملګرو ته ووايي چې د شپې تېرېدو او د ماسخوتن په ډوډی کې د شريك کېدو موقع په لاس راغله. رواه مسلم

لغوي تحقيق :مبيت:د شپې تېرولو ځای

تشريح ددې حديث په شان بل حديث کې هم ترغيب راغلی دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل که په تاسو کې کوم سړی دا خبره خوښوي چې د هغه سره دې شيطان په خوراك، څښاك، څملاستلو کې شريك نه شي، نو هغه ته پکار ده چې کله کور ته داخليږي بايد سلام واچوي او په خوراك باندې بسم الله ووايي، ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې د شيطان نه بچ کېدو واحده لاره صرف او صرف د الله ﷻ نوم اخيستل دي، د الله ﷻ د نوم نه مراد مسنوني دعاګانې دي، کومې چې په داسې موقعو باندې د رسول الله ﷺ نه نقل شوي دي او په ځينو کتابونو کې داسې دعاء هم نقل شوې ده: "اللهم انی اسألك خير المولج وخير المخرج بسم الله ولجنا وبسم الله خرجنا وعلى الله ربنا توكلنا".

که په خوراک باندې بسم الله و نه ويل شي، د شيطان لپاره حلاليږي

"وعن حُذَيْفَةَ ﷺ، قَالَ: كُنَّا إِذَا حَضَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ طَعَاماً، لَمْ نَضَعْ أَيْدِيَنَا حَتَّى يَبْدَأَ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَيَضَعَ يَدَهُ، وَإِنَّا حَضَرْنَا مَعَهُ مَرَّةً طَعَاماً، فَجَاءتْ جَارِيَةٌ كَأَنَّهَا تُدْفَعُ، فَذَهَبَتْ لِتَضَعَ يَدَهَا فِي الطَّعَامِ" د حذيفه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې موږ چې به کله د رسول الله ﷺ په خدمت کې د ډوډی لپاره حاضر شو، نو تر هغې به موږ د خوراك نه شروع نه کول تر څو چې به رسول الله ﷺ شروع نه وه کړې، يوه ورځ بې موږ په خدمت کې حاضر وو چې يوه جينۍ په حملې کولو سره راغله، لکه ديکه کړی شوې چې وي او خوراك ته يې لاس نږدې

کړو، "فَأَخَذَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ بِيَدِهَا، ثُمَّ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ كَأَنَّمَا يُدْفَعُ، فَأَخَذَ بِيَدِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: إِنَّ الشَّيْطَانَ يَسْتَحِلُّ الطَّعَامَ أَنْ لَا يُذْكَرَ اسْمُ اللّٰهِ تَعَالَى عَلَيْهِ" نو رسول الله ﷺ د هغې لاس ونيولو، بيا يو کوچی راغلو، هغه هم داسې راروان وو، لکه څوك چې ديکه ورکوي، رسول الله ﷺ د هغه لاس هم ونيولو، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه خوراك چې د الله ﷻ نوم پرې وانخيستل شي شيطان يې د ځان لپاره حلال ګڼي، "وَإِنَّهُ جَاءَ بِهٰذِهِ الْجَارِيَةِ لِيَسْتَحِلَّ بِهَا، فَأَخَذْتُ بِيَدِهَا، فَجَاءَ بِهٰذَا الْأَعْرَابِيِّ لِيَسْتَحِلَّ بِهِ، فَأَخَذْتُ بِيَدِهِ" نو دغه جينۍ هم شيطان راوستلې وه چې ددې په ذريعه ځانته دغه خوراك حلال کړي، ما ددې لاس ونيولو او دغه کوچی يې هم راواستلو چې دده په وجه ځانته دغه خوراك حلال کړي، نو دده لاس مې هم ونيولو، "وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، إِنَّ يَدَهُ فِي يَدِي مَعَ يَدَيْهِمَا ثُمَّ ذَكَرَ اسْمَ اللّٰهِ تَعَالَى وَأَكَلَ" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: په الله ﷻ قسم! ددې دواړو د لاس سره د شيطان لاس هم زما په لاس کې دی، بيا يې بسم الله وويل او خوراك يې شروع کړو. رواه مسلم

تشريح لم نضع ايدينا حتى يبدارسول الله ﷺ: موږ به تر هغه پورې خوراک نه کوله تر څو چې به رسول الله ﷺ شروع کړې نه وه، ددې نه معلومه شوه چې په دسترخوان باندې کوم کس مشر، نيك او تقوي دار وي، پکار ده چې د خوراك شروع د هغه څخه وشي، دغه شان عبد الله بن عباس ﷺ فرمايي: کله چې به رسول الله ﷺ چاته خوراك يا څښاك ورکولو، نو شروع به يې د مشر څخه کول. دغه ډول په يو بل روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: برکت د مشرانو سره وي. "إن يده في يدي مع أيديهما" بې شکه چې د شيطان لاس سره ددې دواړو لاسونو زما په لاس کې دی، په څينو رواياتو کې "مع يدها" الفاظ نقل شوي دي، ليکن زيات صحيح روايت (يديهما) دی، ځکه چې په دې کې د جينۍ او کوچني دواړو ذکر دی، که صرف (يدها) لفظ شي، نو بيا هم صحيح دی، په دې کې اګرچې صرف د جينۍ د لاس ذکر دی، ليکن دا ددې خبرې نفي نه کوي چې ددې اعرابي لاس دې د رسول الله ﷺ په لاس کې نه وي

بسم الله چې وويل شي، نو شيطان خپل خوړلی خوراک قی کوي

"وَعَنْ أُمَيَّةَ بْنِ مَخْشِيٍّ الصَّحَابِيِّ ﷺ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ جَالِسًا، وَرَجُلٌ يَأْكُلُ، فَلَمْ يُسَمِّ اللّٰهَ حَتَّى لَمْ يَبْقَ مِنْ طَعَامِهِ إِلَّا لُقْمَةٌ" د اميه بن مخشي الصحابي ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ناست وو او يو بل کس خوراك کولو، هغه د الله ﷻ نوم وانخستلو، تردې چې يوه مړۍ (لقمه) پاتې شوه، "فَلَمَّا رَفَعَهَا إِلَى فِيهِ، قَالَ: بِسْمِ اللّٰهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ، فَضَحِكَ النَّبِيُّ ﷺ" کله چې هغه کس دغه مړۍ خولې ته نزدې کړه چې وې خوري، نو (بسم الله اوله وآخره) الفاظ يې وويل، نبي کريم ﷺ وخندل، "ثُمَّ قَالَ: مَا زَالَ الشَّيْطَانُ يَأْكُلُ مَعَهُ، فَلَمَّا ذَكَرَ اسْمَ اللّٰهِ اسْتَقَاءَ مَا فِي بَطْنِهِ" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: شيطان همېش دده سره خوراك کولو، کله چې يې د الله ﷻ نوم واخيستلو، نو شيطان چې څه خوړلي وو، هغه ټول يې د خېټې څخه اولتې (قی) کړل. رواه أبوداود والنسائي

Maktaba Tul Ishaat. com

تشريح: استقاء ما في بطنه: شيطان چې څه خوړلي وو، هغه ټول يې قی کړل. ځينې علماوو په حقيقت باندې حمل کړی دی چې شيطان څه خوړلي وي هغه ټول قی کوي. ځينې نورو علماوو په مجاز باندې حمل کړی دی چې د خوراك پرمهال کوم برکت د بسم الله نه ويلو په وجه ختم شوی وو، هغه د بسم الله ويلو په وجه بېرته واپس راغلو، لکه برکت چې د شيطان په خېټه کې امانت وو، کله چې دغه سړي بسم الله وويل، نو هغه برکت بيرته واپس راغلو، په دې حديث کې د رسول الله ﷺ معجزې هم ذکر شوي دي چې رسول الله ﷺ شيطان وليد چې اولتی يې کولې

د راوي اميه بن مخشي رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې اميه بن مخشي خزاعي ازدي دی، د بصرې اوسېدونکی وو، مخشي دا د ميم په زبر سره او (خ) ساکنه سره او د (شين) په (زېر) سره او په آخر کې (ي) مشدد ده، درې حديثونه ترې نقل دي، په هغو درې کې يو حديث دا هم دی.

بسم الله نه ويلو سره په خوراك کې برکت ختميږي

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كَانَ رسولُ الله ﷺ يَأْكُلُ طَعَامًا فِي سِتَّةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ، فَجَاءَ أَعْرَابِيٌّ، فَأَكَلَهُ بِلُقْمَتَيْنِ" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ يوه ورځ د خپلو شپږو ملګرو سره يو ځای خوراك کولو، په دې دوران کې يو کوچی راغلو، هغه ټول خوراك يې په دوه مړو سره ختم کړو، "فَقَالَ رسولُ الله ﷺ: أَمَا إنَّهُ لَوْ سَمَّى لَكَفَاكُمْ" نبي کريم ﷺ وفرمايل که چېرته دغه کس د الله ﷻ نوم اخيستی وای، نو دغه خوراك به ستاسو ټولو لپاره کافي وو، "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: مطلب دا چې بسم الله ويلو سره په خوراك کې برکت راځي او نه ويلو سره برکت ختميږي، همدغه مضمون د انس رضي الله عنه د حديث نه هم معلومېږي چې کوم کس په خوراك باندې بسم الله ونه ويل، په هغې کې برکت نه وي، علماء فرمايي د خوراك په شروع کې بسم الله ويل سنت طريقه ده، تردې چې که يو کس د جنابت (ناولتيا) په حالت کې وي يا کومه ښځه د حيض ناروغۍ په حالت کې وي، هغه به هم (بسم الله) وايي، ليکن په دې کې به د تلاوت نيت نه وي، بلکې د ذکر نيت به کوي، که د تلاوت نيت يې وکړو، نو حرام کار يې وکړو.

د دسترخوان پورته کولو پرمهال دعاء

"وعن أبي أُمامة رضي الله عنه: أنَّ النبيَّ ﷺ كَانَ إِذَا رَفَعَ مَائِدَتَهُ، قَالَ: الْحَمْدُ للهِ حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيهِ" د ابو امامه رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې د خوراك نه پس به کله دسترخوان پورته کړی شو، نو رسول الله ﷺ به دغه دعاء لوستل چې ترجمه يې داسې ده: (ټول تعريفونه او صفتونه هغه الله ﷻ لره ثابت دي، "غَيْرَ مَكْفِيٍّ" چې (حق ادا کولو لپاره) نه کافي دی، "وَلاَ مُوَدَّعٍ، وَلاَ مُسْتَغْنًى عَنْهُ" او نه د هغه څخه بې نيازي او بې پروايي کېدلی شي، "رَبَّنَا" اې زموږ ربه! رواه البخاري

تشريح: غير مكفي ولا مودع ولا مستغنى عنه: په عنه کې ضمير طعام ته متوجه دی، ددې مطابق به ژباړه ترجمه شوې ده، مطلب دا شو چې اې الله موږ خو ډوډۍ وخوړل، خو دومره کافي نه ده چې ددې خوراك نه وروسته د نور خوراك ضرورت پيدا نشي، بلکې موږ ته ستا د نور رزق ضرورت هم شته او په هر وخت کې به وي، په دې کې په هر وخت کې په تسلسل او دوام سره د رزق په شان نعمت درخواست دی.

ولا مودع: يعنې زموږ دا اخرينی ډوډۍ او خوراك نه دی، نه موږ ددې څخه بې نيازه کېدی شو. ځيني علماء د (عنه) ضمير مرجع الله ﷻ بنيي، ځيني بې (حمد) بنيي، خلاصه دا شوه چې په دې الفاظو سره د ډوډۍ صفت بيانيږي چې ډوډۍ د الله ﷻ ډېر ستر نعمت دی، ددې خواهش او طلب نه شي پرېښودلی او نه هم سړی ددې څخه بې نيازه کېدی شي، يا په دې الفاظو سره د الله ﷻ د اوصافو جليله اظهار دی چې کوم ذات يا کومه کلمه داسې نشته چې د هغه د لويي لپاره کافي شي، بلکې هغه ذات د ټول جهان لپاره تنها کافي او شافي دی، د هغه قربت او طلب موږ نه شو پرېښودلی او نه د هغه د فضل او کرم نه څوك مستغني کېدی شي.

د ډوډۍ نه پس دعاء ولوله، ټول ګناهونه به دې معاف شي

"وعن معاذ بن أنس رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: مَنْ أَكَلَ طَعَامًا فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا، وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ" د معاذ بن انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې ډوډۍ وخوري بيا داسې دعاء ووايي چې ترجمه يې دا ده: ټول تعريفونه هغه ذات لره دي چې ما ته يې دغه ډوډۍ راکړې او زما د طاقت او کوشش څخه بغير يې رزق راکړو، "غُفِرَلَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ" الله ﷻ د داسې کس ټول مخکيني ګناهونه بخښي. رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن.

لغوي تحقيق:

حول: قدرت، هوښيارتيا، د يو حالت څخه بل حالت ته اوړېدل.

تشريح: د نبي کريم ﷺ نه د خوراك مختلفې دعاګانې نقل شوې دي، که په دې دعاګانو کې يوه دعا ولولي، سنت طريقه پرې ادا کيږي، په حديث کې يوې سترې دعاء ته اشاره ده او ددې تاثير په حديث کې بيانيږي چې هر څوك دغه دعاء ولولي، نو د هغه ټول مخکيني او وروستني ګناهونه به معاف شي، ليکن د محدثينو په نزد ددې نه صغيره ګناهونه مراد دي، د کبيره ګناهونو معاف کېدو لپاره توبه ويستل شرط ده، کبيره ګناه بې له توبې نه معاف کيږي.

د راوي معاذ بن انس رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې معاذ رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې انس دی، د جهينه قبيلې سره تعلق لري، په مصريانو کې شمار دی، همدلته په مصر کې وفات شوی دی، زوی يې سهل رحمه الله ترې روايات نقل کوي

Maktaba Tul Ishaat. com

باب لايعيب الطعام واستحباب مدحه

په ډوډۍ کې به عيب او نقصان نه راوباسې او د هغې تعريف به کوې

نبي کريم ﷺ به په ډوډۍ کې عيب نه راويستلو

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: مَا عَابَ رسولُ الله ﷺ طَعَامًا قَطُّ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ کله هم په ډوډۍ او خوراك کې عيب نه دی بيان کړی، "إِنِ اشْتَهَاهُ أَكَلَهُ، وَإِنْ كَرِهَهُ تَرَكَهُ" که خوښه به يې شوه، نو وبه يې خوړل او که خوښه به يې نه شوه، نو پرې به يې ښودل متفق عليه.

تشريح: په دې حديث کې د رسول الله ﷺ د ښکلي اخلاقو بيان دی چې دوی به په ډوډۍ کې عيب نه راويستلو، که کوم خوراك به يې خوښ شو، نو په شوق او رغبت سره به يې وخوړو. که خوښ به يې نه شو، نو نه به يې خوړلو، ليکن نه به يې پکې عيب راويستلو او نه به يې بد رد ويل. حافظ ابن حجر ﷫ فرمايي: که خوراك به حرام غونډې وو، نو بيا به يې مذمت بيانولو او که خوراك به جائز وو، نو بيا به يې صرف د خوړلو څخه منع شو، ليکن مذمت به يې نه بيانولو. علامه نووي ﷫ فرمايي: د عيب بيانولو مثال داسې دی لکه يو کس چې ووايي: په دې ډوډۍ کې مالګه نشته، يا مالګه پکې زياته ده، يا کچه پخه شوې ده او داسې نور ..... ، دې ته عيب ويل کيږي.

غوره سالن سرکه ده

"وعن جابر ﷺ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ سَأَلَ أَهْلَهُ الأُدُمَ" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ يو ورځ د خپل کور والا څخه ترکاري وغوښتل. "فَقالوا: مَا عِنْدَنَا إِلَّا خَلٌّ، فَدَعَا بِهِ، فَجَعَلَ يَأْكُلُ" هغوی ورته وويل: زموږ سره خو ترکاري نشته، البته سرکه شته. نبي کريم ﷺ هغه راوغوښتل او شروع يې ورباندې وکړه. "ويقول: نِعْمَ الأُدْمُ الخَلُّ، نِعْمَ الأُدْمُ الخَلُّ" او نبي کريم ﷺ فرمايل: سرکه خو ډېره ښه ترکاري ده، سرکه خو ډېره ښه ترکاري ده. رواه مسلم

تشريح: نعم الادام الخل: غوره سالن سرکه ده، په يو بل روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د انبياء عليهم السلام سالن سرکه وه، په يو بل روايت کې دي چې رسول الله ﷺ دې ته د برکت دعاء هم کړې ده، په يو بل روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په کوم کور کې چې سرکه وي په هغه کور کې به لوږه نه راځي، جابر ﷺ فرمايي: د کوم وخت څخه چې ما د رسول الله ﷺ نه د سرکې فضيلت واورېدو، نو ما د سرکې سره مينه شروع کړې ده.

طبيبان فرمايي: په سرکې سره د بلغم او صفراء مرض ختميږي، ډوډۍ ورسره زر هضميږي، په خيټه کې چې جراثيم وي يا چينجي وغيره وي، هغه ورسره ختميږي، لوږه ورسره لګيږي، بهرحال رسول الله ﷺ په دې حديث کې دوه خله وفرمايل چې غوره سالن سرکه ده، دې باره کې علماء فرمايي چې په دې کې د سرکې فضيلت او اهميت ته اشاره ده، بل په حديث کې اشاره ده دې خبرې

نه چې بايد انسان په خوراك كې د اعتدال څخه كار واخلي، هر وخت بايد انسان په خوندورا
مزيدارو شيانو پسې نه ګرځي، بل ددې نه دا مسئله هم معلومه شوه چې كه يو كس قسم وكړي چې
زه به سالن نه خورم بيا سركې سره ډوډۍ وخوري، نو حانث به شي، ځكه چې په حديث كې سركې ته
غوره سالن ويل شوی دی.

باب مَا يقوله من حضر الطعام وهو صائم إذا لَمْ يفطر

روژه دارته خوراك وړاندې كول

دعوت قبلول سنت دي

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ فَلْيُجِبْ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه
فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې په تاسو كې چاته دعوت دركړی شي، نو بايد چې هغه
دعوت قبول كړي، "فَإِنْ كَانَ صَائِماً فَلْيُصَلِّ" او كه روژه دار وي، نو د هغه لپاره دي دعاء وكړي، "وَإِنْ كَانَ
مُفْطِراً فَلْيَطْعَمْ" او كه روژه دار نه وي، نو بيا دي خوراك وكړي. رواه مسلم

قَالَ العلماءُ: معنى فَلْيُصَلِّ: فَلْيَدْعُ": علماوو فرمايلي دي چې د (فليصل) معنى دا ده چې د هغه لپاره
دي دعاء وكړي، "ومعنى فَلْيَطْعَمْ: فَلْيَأْكُلْ" او د (فَلْيَطْعِمْ) معنى دا ده چې هغه دي خوراك وكړي.

تشريح: إذا دعي أحدكم فليجب: كله چې دعوت دركړی شي، نو بايد قبول كړی شي، د رسول الله ﷺ
عادت مبارك دا ؤ چې چا به ورته دعوت وركړو، نو دعوت به يې ورته قبول كړو، بلكې په دعوت نه
قبلولو يې پوره وعيد بيان كړی دی، كوم كس چې دعوت قبول نه كړي هغه د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ
نافرماني وكړه. ليكن دا خبره شته چې كه دعوت د سنت طريقې مطابق وي او خالص لله في الله وي، نو
بيا يې قبلول واجب دي. كه رياكار وي يا سنت طريقې نه خلاف وي، نو بيا يې قبلول پكار نه دي.

كه ډوډۍ نه شي خوړلی دعاء دي ورته وكړي:

فَإن كان صائماً فليصل: كه روژه يې نيولې وي، بيا دي ورته دعاء وكړي، علامه نووي رحمه الله
فرمايي: د دعاء نه مراد مغفرت او د بركت دعاء ده، همدغه خبره د ابن حبان په روايت سره د ابن عمر
ﷺ نه روايت شوې ده، كه رسول الله ﷺ به چېرته روژه نيولې وه او ډوډۍ به يې نه خوړل، نو بيا به
يې ورته د بركت دعاء وكړه، كنه نو هلته به ناست و او خوراك به يې وكړو.

باب مَا يقوله من دُعي إلى طعام فتبعه غيره

كه طفيلي / نابللی كس ورسره لاړ شي

"عن أبي مسعود البدري ﷺ، قَالَ: دعا رَجُلٌ النبيَّ ﷺ لِطَعَامٍ صَنَعَهُ لَهُ خَامِسَ خَمْسَةٍ" د أبو مسعود بدري ﷺ
نه روايت دی هغه فرمايي چې يو كس رسول الله ﷺ ته د ډوډۍ دعوت وركړو او د پنځو كسانو ډوډۍ

Maktaba Tul Ishaat. com

بې ورته تياره کړه، "فَتَبِعَهُمْ رَجُلٌ، فَلَمَّا بَلَغَ الْبَابَ" نو يو بل کس هم ورسره روان شو (کوم ته چې په عامه محاوره کې طفيلي ويلى شي) کله چې دروازې ته ورسېدل. "قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: إِنَّ هٰذَا اتَّبَعَنَا، فَإِنْ شِئْتَ أَنْ تَأْذَنَ لَهُ" نبي کريم ﷺ هغه مېزبان) کوربه ته وويل: دا کس زمونږ پسې را روان دى (يعني مونږ ورته دعوت نه دى ورکړى) که ستاسو خوښه وي، نو اجازت ورکړئ "وَإِنْ شِئْتَ رَجَعَ قَالَ: بَلْ آذَنُ لَهُ يَا رَسُولَ اللهِ" او که ستاسو خوښه وي، نو واپس بې کړئ: هغه کس ورته وويل: يا رسول الله ﷺ زه دوى ته اجازه ورکوم را داخل دې شي. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: دعا رجل: په يو بل روايت کې د (رجل) وضاحت شوى دى، په کوم کې چې دي "كان رجل من الانصار يقال له ابوشعيب وكان له غلام لحام فرأى رسول الله ﷺ فعرف في وجهه الجوع الخ".

د حديث نه يو څو استنباط شوي مسئلې:

إن هذا تبعنا: د کور والا د اجازې پرته کور ته داخلېدل جائز نه دي، دغه شان مېلمه ته هم جائز نه دي چې د ځان سره طفيلي (نابللى مېلمه) روان کړي، هو! که کور والا صراحتاً اجازه ورکړې وي بيا جائز دي، "وان شئت أن تـأذن له" دويم دا هم معلومه شوه چې که طفيلي درسره روان شي، بيا اجازه غوښتل ضروري دي، "أذن له رسول الله ﷺ" دريم دا چې مېزبان (کور والا) ته پکار دي چې کله طفيلي راشي، نو هغه ته هم اجازت ورکول پکار دي، مګر دا چې که چېرته د طفيلي نه د نقصان وغيره وېره وي، بيا دې ورته د داخلېدو اجازه نه ورکوي

باب الأكل مِمَّا يليه ووعظه وتأديبه من يسيء أكله

د خپلې مخې نه خوراک کول او هغه چا ته نصيحت کول چې خوراک يې صحيح نه وي يعنې د آدابو لحاظ نه ساتي

"عن عمر بن أبي سَلَمَة رضي الله عنهما، قَالَ: كُنْتُ غُلَاماً فِي حِجْرِ رَسُولِ اللهِ ﷺ، وَكَانَتْ يَدِي تَطِيشُ فِي الصَّحْفَةِ" د عمر بن أبي سلمه رضی الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې زه ماشوم وم او د رسول الله ﷺ په لمن/ غېږ کې ناست وم، زما لاس د ترکارۍ په کاسه کې اخوا دېخوا تاوېدو، "فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ ﷺ: يَا غُلَامُ، سَمِّ اللهَ تعالى" نبي کريم ﷺ ماته وفرمايل: اې ماشومه! د الله ﷻ نوم واخله: "وَكُلْ بِيَمِينِكَ، وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ" او په ښي لاس خوراک کوه او خپل نزدې طرفنه خوراک کوه: متفقٌ عَلَيْهِ

"قَوْلُهُ: تَطِيشُ: بِكَسْرِ الطَّاءِ وَبَعْدَهَا يَاءٌ مُثَنَّاةٌ مِنْ تَحْتُ، معناه: تتحرك وتمتد إِلَى نَوَاحِي الصَّحْفَةِ" دا قول چې (تطيش) په کسرې د (ط) او وروسته ترې (ي مثناة) ده، ددې معنى ده: په کاسه کې اخوا دېخوا لاسونه ګرځول او راګرځول

تشريح: د غلام نه مراد غلام نه دى، بلکې کمکى/ وروکى ماشوم مراد دى، "**صحفة**": داسې کاسه چې په هغې کې د پنځه کسانو خوراک ځايېږي، "في حجر رسول الله ﷺ" زه د رسول الله ﷺ په کفالت/

تربيه کې وم، معلومه شوه چې تر تربيې لاندې ماشوم ته آداب ښودل پکار دي، لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ عمر بن أبي سلمه ته وښودلو. دا حديث وړاندې په پوره وضاحت سره ذکر شوی دی

په چپ لاس خوراک منع دی

"وعن سلمة بن الأكوع ﷺ: أَنَّ رَجُلاً أَكَلَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ بِشِمَالِهِ" د سلمه بن اکوع ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ سره يو کس په چپ لاس باندې خوراک وکړو، "فَقَالَ: كُلْ بِيَمِينِكَ قَالَ: لا أَسْتَطِيعُ" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: په ښي لاس باندې خوراک کوه! هغه ورته وويل: زما طاقت نه کيږي. "قَالَ: لاَاسْتَطَعْتَ! مَا مَنَعَهُ إِلاَّ الكِبْرُ" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: ستا طاقت دې ونه شي، دا سړي د کبر او غرور له امله دې کار څخه منع دی. "فَمَا رَفَعَهَا إِلَى فِيهِ" دغه کس بيا خپل ښي لاس چېرته هم خپلې خولې ته پورته نه کړ. رواه مسلم

تشريح: علماء فرمايي: ددې سړي لاس صحيح وو، هغه بهانه جوړه کړه او وې ويل چې زه په ښي لاس خوراک نشم کولی، يعنې معذور يم، رسول الله ﷺ وفرمايل: که داسې وي چې ته په ښي لاس خوراک نه کوې نو بيا يې پرې کله هم ونه کړې، دا بد دعاء وه چې ددې سړي په حق کې قبوله شوه او د هغه ښي لاس د هميش لپاره شل شو، دغه ډول د رسول الله ﷺ په زمانه کې يوه ښځه وه چې د هغې نوم سبيعة اسلمية وه، دغې ته هم رسول الله ﷺ په چپ لاس خوراک کولو په وجه بد دعا کړې وه، د هغې نتيجه دا شوه چې په طاعون مرض کې مبتلا شوه او بيا وروسته مړه شوه

په ښي لاس خوراک واجب نه دی، نو بيا بد دعاء ولې کوي؟

علماء ليکي: په ښي لاس خوراک کول واجب نه دي، بلکې سنت دي، په دې رواياتو کې د سنت طريقې څخه د مخالفت په بنياد دغو کسانو ته نغده سزا ورکړې شوه، دا روايتونه به د تنبيه، زجر او مصالحت په بنياد حمل کوو، بله دا مسئله هم ترې راووته چې دا ځينې خلك د خوراك په مينځ کې په چپ لاس اوبه څښي او ښي لاس ورسره معمولي لګوي، دا هم د سنت نه خلاف خبره ده، په ښي لاس اوبه څښل پکار دي، که لاس دې په سالن وغيره وي، نو پاك يې کړه بيا پرې اوبه وڅښه

باب النّهی عن القِرَانِ بين تمرتين ونحوهما إذا أكل جماعة إلاّ بإذن رفقته

دوه خورماوې يو ځای خوړل مکروه دي، مګر دا چې کله ورته ملګري اجازت وکړي

"عن جَبَلَةَ بنِ سُحَيْمٍ، قَالَ: أَصَابَنَا عَامُ سَنَةٍ مَعَ ابنِ الزُّبَيْرِ" د جبلة بن سحيم ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د عبد الله بن زبير ﷺ په دور کې موږ د قحط سالی سره مخ شو، "فَرُزِقْنَا تَمْراً، وَكَانَ عَبدُ اللهِ بن عمر رضي الله عنهما يَمُرُّ بِنَا وَنَحنُ نَأْكُلُ" نو موږ ته څه خورما په لاس راغلې او عبد الله بن عمر ﷺ به په موږ تېرېدلو او موږ به هغه خورما خوړلې، "فَيَقُولُ: لاَ تُقَارِنُوا، فَإِنَّ النَّبيَّ ﷺ نَهَى عَنِ القِرَانِ" عبد الله بن عمر ﷺ به موږ ته فرمايل: دوه دوه خورماوې يو ځای مه خورئ! ځکه چې نبي کريم ﷺ دوه دوه مړې يو ځای خوړل منع

Maktaba Tul Ishaat. com

"ثُمَّ يَقُولُ: إِلاَّ أَنْ يَسْتَأْذِنَ الرَّجُلُ أَخَاهُ" بيا به يې وروسته فرمايل مګر دا چې په تاسو کې يو کس ته ددې اجازت ورکړي. متفق عليه

تشريح: په يو ځل دوه خورماوې خوړل د زيات حرص علامه وي، بل دا چې په دې کې د ملګرو حق تلفي کيږي، البته که ملګري اجازه ورکړي، نو بيا يې خوړلی شي، علامه سيوطي رحمه الله فرمايي په حديث کې يو ځای دوه خورماوې خوړلو ممانعت مطلقاً نه دی، بلکې دا خبره د تنګ لاسی، فقيری او غريبی تر زمانې پورې متعلق ده، که د خوشحالی او فراخی زمانه وي، نو بيا باك نه لري. لکه څرنګه چې په يو بل روايت کې دي: ما به تاسو د خورما جمع کولو (يو ځای خوړلو څخه منع کولی) خو اوس چې الله ﷻ فراخي راوستل، نو اوس يې جمع کوئ، ځينې علماء فرمايي: ددې حديث محل هغه وخت دی کله چې زيات ملګري سره په خوراك کې شريك شي او د ټولو حق پکې برابر وي او د ټولو له طرفه مقرره اندازه وي، نو په داسې صورت کې چې کله ټول خلك يوه يوه خورما خوري او ته دوه خورماوې يو ځای خورې، يو خو د بل مسلمان حق وخوړل شي، بل دا چې دا خلاف ادب او خلاف مروت کار دی، البته که ټول ملګري اجازه وکړي يا داسې کوم شی وي چې په اجازه باندې دلالت کوي، نو بيا يې خوړل جائز دي، دا مسئله صرف په خورما کې نه ده

د راوي جبله بن سحيم رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې جبله رضي الله عنه دی، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: دا په اصل کې کوفي دی، د اسماء الرجال عالمانو په ثقه کې شمار کړی دی

وفات: په يو سل پنځه ويشتمه هجري کې وفات شوی دی او شپږ حديثونه ترې روايت دي

باب ما يقوله ويفعله من يأكل ولا يشبع

څوك چې په خوراك نه مړيږي او ډېر خوراك کوي

"عن وَحْشِيِّ بْنِ حَرْبٍ رضي الله عنه: أَنَّ أَصْحَابَ رَسُولِ اللهِ ﷺ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّا نَأْكُلُ وَلاَ نَشْبَعُ؟ قَالَ: فَلَعَلَّكُمْ تَفْتَرِقُونَ" د وحشي بن حرب رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي: د رسول الله ﷺ ځينو ملګرو رسول الله ﷺ ته شکايت وکړو چې موږ ډوډی خورو، ليکن مړيږو نه، ددې وجه څه ده؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: کېدی شي چې تاسو ځان ځان ته خوراك کوئ؟ "قَالُوا: نَعَمْ. قَالَ: فَاجْتَمِعُوا عَلَى طَعَامِكُمْ، وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ، يُبَارَكْ لَكُمْ فِيهِ" هغوی ورته وويل: هوا موږ خو ځان ځان ته خوراك کوو، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: ټول په يو ځای او په جمع خوراك کوئ او د الله ﷻ نوم پرې اخلئ، تاسو ته به پکې برکت واچول شي. رواه أبوداود.

تشريح: يو ځای خوراك کول ډېر زيات فضيلت لري، په يو روايت کې راځي چې يو ځای خوراك کوئ او ځان ځانله مه خورئ، ځکه چې په يو ځای خوراك کولو کې برکت وي، په بل روايت کې د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو ځای خوراك کوئ او ځان ځانته

خوراك مه كوئ، په بل روايت كې دي چې د الله ﷻ په نزد تر ټولو غوره خوراك هغه دی په كوم كې زيات خلك سره جمع شي، معلومه شوه چې يو ځاى خوراك كول او په سر كې بسم الله ويل د بركت ثواب باعث خيره ده، معمولي شان ډوډۍ هم بيا ډېرو كسانو ته كافي كيږي، د يو بل سره د مينې محبت ذريعه جوړيږي، علامه عيني رحمه الله فرمايي: په شريكه خوراك كول باعث د بركت ده، خو مرد چې زيات خلك وي، دومره به زيات بركت پكې وي، ډېر ځل ځانته خوراك كولو كې په سړي كې د حرص ماده زياتيږي چې ددې حرص اصلاح صرف او صرف په شريكه خوراك سره كيږي. ليكن دلته يو اعتراض واردېږي چې په قرآن كريم كې خو الله ﷻ فرمايي: "ليس عليكم جناح أن تاكلوا جميعاً أو أشتاتاً" په تاسو هيڅ ګناه نشته چې كه شريك خوراك كوئ او ځان ځانله، ددې آيت نه خو معلومه شوه چې ځان ځان ته خوراك كول جائز دي؟ جواب دا دی چې ددې نه هغه خلك مراد دي چې جدا جدا او سيږي، دوی ته رخصت وركولى شي چې په مشقت كې پرې نه وځي، يعني ځان ځانته خوراك كولى شي، په حديث كې هغه خلك مراد دي چې شريك او سيږي خو بيا هم ځان ځانته خوراك كوي.

د راوي وحشي بن حرب رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې وحشي رضي الله عنه دی، ابو دسمه يې كنيت دی، نسل يې حبشي وو، د جبير بن مطعم غلام وو، د بدر په جنګ كې د جبير بن مطعم تره طعيمه بن عدي حمزه رضي الله عنه قتل كړی وو، د احد په جنګ كې جبير بن مطعم وحشي رضي الله عنه ته وويل: كه حمزه رضي الله عنه دې شهيد كړو، نو ته به آزاد يې، وحشي رضي الله عنه حمزه رضي الله عنه په نامه باندې داسې په تيزۍ سره په نېزه ووهلو چې نېزه ترې هغه بل طرف ته ووتل او حمزه رضي الله عنه شهيد شو، د مكې د فتحې وروسته مدينې منورې ته راغلو او اسلام يې راوړو، نبي كريم ﷺ ورته يو ځل وفرمايل: وحشي رضي الله عنه! تاسو زما مخې ته مه راځئ! ځكه چې زه تاسو وينم، نو خپل تره مې راياديږي، د حمز رضي الله عنه د شهادت واقعه د وحشي په زړه باندې داسې داغ پرېښى وو چې ددې تلافي كول يې غوښتل، كله چې د مسيلمه كذاب سره جنګ شروع شو، نو وحشي رضي الله عنه همغه نېزه راواخيسته او مسيلمه كذاب يې په سينه داسې ووهلو چې د سينې نه هغه بل طرفته ووتله او ځاى پر ځاى يې مردار كړو.

وفات په حمص كې وفات شو.

مرويات ځينې علماء فرمايي: د دوی نه اته حديثونه نقل شوي دي او ځينې نور فرمايي: څلور حديثونه ترې نقل دي.

باب الأمر بالأكل من جانب القصعة والنهي عن الأكل من وسطها

د كاسې يو طرف نه خوراك كول او د مينځ نه خوراك كولو منعوالى

"فِيهِ: قَوْلُه: وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ" دې باره كې د نبي كريم ﷺ دا قول مبارك چې د خپل مخ څخه خوراك كوه! "متفق عَلَيْهِ كما سبق" دا حديث متفق عليه دی، لكه مخكې چې څنګه تېر شوی دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ، قال: الْبَرَكَةُ تَنْزِلُ وَسَطَ الطَّعَامِ" د عبد الله بن عباس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: برکت د ډوډۍ په مينځ کې نازليږي. "فَكُلُوا مِنْ حَافَتَيْهِ" بس تاسو د کاسې د اطرافو څخه خوراك کوئ! "وَلَا تَأْكُلُوا مِنْ وَسَطِهِ" او د مينځ نه خوراك مه کوئ! "رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: ددې حديث مضمون په ګڼ شمېر مروياتو کې راغلی دی، برکت د ډوډۍ په مينځ کې نازليږي، د لوښي د څنډې (طرفنه) خوراك پکار دی چې برکت تر آخره پورې برقرار پاتې شي، مينځنی حصه يې په شروع کې ختمول پکار نه دي

د نبي کريم ﷺ لويه پياله چې نوم يې غراء وو

"وعن عبد الله بن بُسْرٍ ﷺ، قال: كَانَ لِلنَّبِيِّ ﷺ قَصْعَةٌ يُقَالُ لَهَا: الْغَرَّاءُ يَحْمِلُهَا أَرْبَعَةُ رِجَالٍ" د عبد الله بن بسر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ يوه کاسه وه د هغې نوم غراء وو، ډېره زياته درنه وه، په څلورو کسانو به پورته کولی شوه. "فَلَمَّا أَضْحَوْا وَسَجَدُوا الضُّحَى أُتِيَ بِتِلْكَ الْقَصْعَةِ" کله چې به دوی د څاښت لمانځه نه فارغ شول، دغه کاسه به راوړل شوه، "يعني وَقَدْ ثُرِدَ فِيهَا، فَالْتَفُّوا عَلَيْهَا" دې کاسه کې به شوروا کې ډوډۍ ماته کړی شوه، نو دوی ټول به ترې شاوخوا کېښستل، "فَلَمَّا كَثُرُوا جَثَا رَسُولُ اللهِ ﷺ" کله چې دوی ډېر زيات شو، نو رسول الله ﷺ د پښو په سر کېښستلو، "فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ: مَا هٰذِهِ الْجِلْسَةُ؟" يو کوچي ووييل: دا څنګه ناسته ده؟ "فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: إِنَّ اللهَ جَعَلَنِي عَبْداً كَرِيماً" رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ زه عاجزي کونکی بنده پيدا کړی يم، "وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّاراً عَنِيداً" زه يې عنادي او سرکشه نه يم پيدا کړی، "ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: كُلُوا مِنْ حَوَالَيْهَا" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: د کاسې شاوخوا خوراك کوئ! "وَدَعُوا ذِرْوَتَهَا يُبَارَكْ فِيهَا" او د مينځ نه خوراك مه کوئ! ځکه چې په مينځ کې برکت نازليږي، "رواه أبو داود بإسنادٍ جيد" امام ابوداود رحمه الله په صحيح سند سره نقل کړي دي، "ذِرْوَتُهَا: أَعْلَاهَا بكسر الذال وضمها" د (ذروتها) معنی اوچت ځای دی، ليکن ددې نه مراد د کاسې مينځ دی.

لغوي تحقيق: .

فالتفوا عليها: يو ځای په جمع خوراك کول.

تشريح قصعة يقال لها الغراء: قصعة هغه لوښي ته وايي چې پوره لس کسان ورباندې خوراك کولی شي، دې ته غراء ويل کېدو، د غراء معنی ده: سپين پرقېدونکی لوی لوښی. او دا ځکه چې دغه لوښي هم ډېر زيات ستر و، "وقد ثرد فيه" او په دې کې به ثريد تيارېدو، ثريد هغه ډوډۍ ته وايي چې په شوروا کې به ماته کړی شوه.

فلما كثروا جثا: کله چې خلك زيات شول، نو بيا به رسول الله ﷺ د پښو په سر کېښستلو، په دې کې د رسول الله ﷺ تواضع او خاکسارۍ ته اشاره ده، رسول الله ﷺ به خپل کوم خاص هيئت د ناستې نه

درلودو، د عامو خلکو په شان به کښېنستلو، "کلوا من حواليها" د دې د کنارو او اطرفو څخه خوراک کوئ (حواليها) کې (ها) ضمير د مفرد لپاره دی، مطلب دا دی چې په دې کې هر چاته خطاب دی، هر سړی دې د خپلې کنارې او طرف څخه خوراک کوي، په مينځ کې برکت نازلېږي، د طرف څخه په دې وجه خوراک کوئ چې برکت تر آخره نازلېږي

باب کراهية الأكل متكئاً

په ډډه باندې د خوراک څخه منع راغلې ده

"عن أبي جُحَيْفَةَ وَهْبِ بن عبد الله ﷺ، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: لاَ آكُلُ مُتَكِئاً" د ابو جحيفة وهب بن عبد الله ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زه په ډډه باندې په ناسته خوراک نه کوم. رواه البخاري

"قَالَ الخَطَّابِيُّ: المُتَكِئُ هاهُنَا: هُوَ الجالِسُ مُعْتَمِداً عَلَى وِطَاءٍ تحته" امام خطابي رحمه الله فرمايي: د تکيې او ډډې لګولو نه مراد دا دی چې تکيه وغيره لاندې کېږدي او په ډډه خپور څملي، "قَالَ: وأرادَ أنَّهُ لا يَقْعُدُ عَلَى الوِطَاءِ وَالوَسَائِدِ كَفِعْلِ مَنْ يُرِيدُ الإكْثَارَ مِنَ الطَّعَامِ، بل يَقْعُدُ مُسْتَوفِزاً لاَ مُسْتَوطِئاً، وَيَأكُلُ بُلْغَةً" امام خطابي رحمه الله فرمايي: په بالښت يا تکيه وغيره دې ټيک نه لګوي، لکه هغه کس چې زيات خوراک کوي، بلکې راغونډ دې کيني، ددې لپاره چې لږ خوراک وکړي، "هَذَا كَلامُ الخَطَّابِيِّ، وأشارَ غَيْرُهُ إِلَى أنَّ المُتَكِئَ هُوَ المائِلُ عَلَى جَنْبِهِ، والله أعلم" دا خبره د امام خطابي رحمه الله وه او ځينو نورو علماوو دې خبرې ته اشاره کړې ده چې د (متکئاً) نه مراد هغه سړی دی چې يو طرفته ټيټ شوی ناست وي او خوراک کوي.

تشريح: علامه خطابي رحمه الله د (متکئاً) دوه معناګانې بيان کړې دي: يو دا چې په يو طرف (ښي کوناټي يا چپ کوناټي) باندې ډډه ولګوي، دويمه معنی يې دا ده چې په ځمکه لاسونه کېږدي او تکيه ووهي، بله معنی يې دا ده چې خپټه تکيې يا ديوال ته تکيه کړي، دا ټول صورتونه منع دي، ځکه چې د مسلمان لپاره د کم خوراک حکم شوی دی، کوم خوراک چې د رسول الله ﷺ په اتباع کې وشي، هغه په عبادت کې حسابېږي او اصل په عبادت کې تواضع او خاکساري ده.

علامه ابن القيم رحمه الله فرمايي: تکيه لګولو سره خوراک کې ډېر زيات نقصانونه دي، يو خو دا چې خوراک معدې ته په اسانۍ سره نه رسيږي، يو طرف ته پروت وي او ابراهيم نخعي رحمه الله فرمايي: د تکيې په حالت کې خوراک مکروه دی، ځکه چې يو خو د پيغمبر ﷺ طريقه نه ده، بل دا چې په دې سره خېټه هم غټيږي.

د راوي ابو جحيفه وهب بن عبد الله ﷺ حالات:

اصلي نوم يې وهب ﷺ دی، ابو جحيفه يې کنيت دی، د پلار نوم يې عبد الله عامري دی، د کوفې اوسېدونکی وو، کم عمره صحابي وو، د نبي کريم ﷺ په زمانه کې بالغ شوی نه وو، ليکن بيا يې هم د رسول الله ﷺ نه احاديث نقل کړي دي، په ۷۴ هجري کې په کوفه کې وفات شو.

Maktaba Tul Ishaat. com

په پښو با ندې د ناستې په حالت کې خوراک کول

"وعن انس ﷺ، قَالَ: رَأَيْتُ رسولَ الله ﷺ جَالِساً مُقْعِياً" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ په داسې حالت کې وليد چې په پښو د پاسه ناست وو، "يَأْكُلُ تَمْراً" خورما يې يې خوړلې. رواه مسلم

"المُقْعِي: هُوَ الَّذِي يُلْصِقُ أَلْيَتَيْهِ بِالأَرْضِ" المقعي معنی دا ده چې کوناتي په ځمکه پورې ولګوي. "وَيَنْصِبُ سَاقَيْهِ" او زنګنونه يې ولاړ وي

تشريح: جالساً مقعياً: رسول الله ﷺ د پښو په سر ناست وو، د رسول الله ﷺ نه د خوراک پرمهال د ناستې مختلف صورتونه نقل شوي دي يو دا چې د «التحيات» په شکل کې کيني، دويم دا چې ښي پښه سيده ودروي او په چپه پښه باندې کيني، صاحب سفر السعادت ليکي: د خوراک پرمهال داسې کېناستل مستحب دي چې دواړه زنګنونه سيده ودروي او د پښو په سر کښيني، بهر حال په حديث کې چې کوم کيفيت بيان شوی دی دا يو غير اطيميناني صورت دی، عموماً دا هغه مهال وي چې کله به رسول الله ﷺ ډېر په تېزۍ کې وو «چېرته به يې ضروري کار و»، د يو څو خورما په واسطه به يې لوږه ماته کړه او بيا به چېرته په کوم مهم کار پسې روان شو

باب استحباب الأكل بثلاث أصابع واستحباب لعق الأصابع، وكراهة مسحها قبل لعقها واستحباب لعق القصعة وأخذ اللقمة الّتي تسقط منه وأكلها ومسحها بعد اللعق بالساعد والقدم وغيرها

ګوتې څټل مستحب دي، د څټلو نه مخکې يې وينځل مکروه دي. په ګوتو سره کاسه څټل هم مستحب ده او هغه مړۍ چې پرېوځي راخيستل او خوړل يې مستحب دي

"عن ابن عباس رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ طَعَاماً" د عبد الله بن عباس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو کې کوم کس خوراک کوي، "فَلاَ يَمْسَحْ أَصَابِعَهُ حَتَّى يَلْعَقَهَا أَوْ يُلْعِقَهَا" بيا دې خپل لاسونه په دسمال نه صفا کوي تر څو چې يې خپلې ګوتې څټلې نه وي. متفقٌ عَلَيهِ

تشريح: رسول الله ﷺ به چې خوراک وکړو، نو خپلې ګوتې مبارکې به يې څټلې، ګوتې څټل سنت طريقه ده، علامه ابن حجر رحمه الله فرمايي: د څټلو څخه بغير ګوتې وينځل مکروه دي، يعنې چې ګوتې دې نه وي څټلې او ومينځل شي، دا منع دي، که ګوتې خپله څټي او يا يې په بل څټې دواړه جائز دي، ليکن په بل باندې څټل هغه وخت پکار دي چې هغه کراهيت نه محسوسوي

نبي کريم ﷺ به په درې ګوتو خوراک کولو

"وعن كعب بن مالك ﷺ، قَالَ: رَأَيْتُ رسولَ الله ﷺ يَأْكُلُ بِثَلاَثِ أَصَابعَ" د کعب بن مالک ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ وليد چې په درې ګوتو به يې خوراک کولو، "فَإِذَا فَرَغَ لَعِقَهَا" کله چې به د خوراک څخه فارغ شو، نو ګوتې به يې څټلې. رواه مسلم

تشريح: دغه شان د عامر بن ربيعه ﷺ په روايت کې دي چې رسول الله ﷺ به په درې ګوتو باندې خوراك کولو، کله چې به د ډوډۍ نه فارغ شو، نو خپلې ګوتې مبارکې به يې وڅټلې، علماء فرمايي: عام طور سره د رسول الله ﷺ عادت مبارکه همدغه ؤ چې په درې ګوتو به يې خوراك کولو، ليکن د ضرورت په بناء به يې کله کله څلورمه ګوته يا پنځمه ګوته هم استعمال کړې ده، ابن عربي رحمه الله فرمايي: کوم کس چې په پنځه واړو ګوتو خوراک کوي، هغه به يې استعمالولی شي، دغه شان ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: د ضرورت په بناء پنځه واړه ګوتې استعمالولی شي، علامه عيني رحمه الله فرمايي: د ضرورت څخه بغير پنځه واړه ګوتې استعمالونکي د سنتو پرېښودونکی دی، په درې ګوتو باندې د خوراك کولو مصلحت دا دی چې مړۍ به وړه وي، خوراك به کم کولی شي

رسول الله ﷺ د ګوتو څټلو حکم ورکړو

"وعن جابر ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ أمر بلعق الأصابع والصحفة" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ حکم وکړو چې ګوتې او کاسه دې وڅټل شي، "وقال: إِنَّكُمْ لاَ تَدْرُونَ فِي أَيِّ طَعَامِكُمُ الْبَرَكَةُ" او ورته فرمايل: تاسو ته پته نه لګيږي چې ستاسو په کوم خوراك کې به برکت وي. رواه مسلم

تشريح: امر بلعق الأصابع والصحفة: رسول الله ﷺ د ګوتو او کاسې څټلو حکم ورکړو، ګوتې څټل او ورسره لوښی په ګوتو پاکولو په اړه احاديثو کې زيات فضيلت راغلی دی، په عمدة القاري کې علامه عيني رحمه الله فرمايي: دا خبره کول چې ګوتې څټل يا لوښی په ګوتو باندې پاکول د حرص علامه ده، دا ښکاره جهالت دی، ګوتې څټل يا لوښی پاکول د الله ﷻ د نعمت قدر او عزت کول دي، ګوتې څټل ددې دليل دی چې ستا په زړه کې کبر او غرور نشته، علامه خطابي رحمه الله فرمايي: ځينې خلك ګوتې څټل نه خوښوي او حال دا چې په هغه کې دومره عقل نشته چې دده په ګوتو پورې کوم خوراك نښتی دی، هغه خو هم هغه خوراک دی کوم چې دده لږ ساعت وړاندې خوړلو، علامه ابن حجر رحمه الله فرمايي څوک خپل کار بد ګڼي، نو دده په خبره کې بيا هم څه نا څه ګنجائش پيدا کيږي، ليکن که يو کس (نعوذ بالله) د رسول الله ﷺ فعل ته د قباحت نسبت کوي، نو په دې کې د هغه د کفر انديښنه ده.

د ګوتې څټلو طريقه دا ده چې تر ټولو وړاندې مينځنۍ ګوته وڅټل شي، بيا د شهادت ګوته وڅټل شي، علامه عيني رحمه الله وايي: په دې طريقې سره څټلو کې حکمت دا دی چې په منځنۍ ګوته باندې زيات خوراك نښتلی وي.

پرېوتې مړۍ (ډوډۍ) پورته کول پکار دي:

"وعنه: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: إِذَا وَقَعَتْ لُقْمَةُ أَحَدِكُمْ، فَلْيَأْخُذْهَا" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: کله چې ستاسو نه کومه مړۍ/ لقمه پرېوځي، نو هغه دې راپورته کړي، "فَلْيُمِطْ مَا كَانَ بِهَا مِنْ أَذًى، وَلْيَأْكُلْهَا" کومه ګندګي چې ورپورې نښتې وي هغه دې ترې لرې کړي او هغه مړۍ دې وخوري، "وَلاَ يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ" او شيطان ته دې هغه مړۍ نه پرېږدي، "وَلاَ يَمْسَحْ يَدَهُ بِالْمِنْدِيلِ حَتَّى يَلْعَقَ

Maktaba Tul Ishaat. com

أَصَابِعَهُ" او خپل لاس دې نه دي په دسمال، د سپاک نه پاکوي تر څو چې بې خپلې ګوتې نه وي څټلې. "فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي فِي أَيِّ طَعَامِهِ الْبَرَكَةُ" ځکه چې دی نه پوهيږي چې په کوم خوراک کې به يې برکت وي رواه مسلم

تشريح: فليمط ماكان بها: که مړۍ پربوځي، بايد اوچته يې کړي او وې خوري، غورځېدلې مړۍ راخيستل او بيا يې خوړل په دې کې هيڅ قباحت نشته، بايد د رسول الله ﷺ په اتباع کې دا کار وشي، نو ثواب به هم ملاو شي او الله ﷻ به هم ترانه راضي شي او بل دا چې څه پته لګيږي شايد همدغه يوه مړۍ کې برکت وي، البته که چېرته په ګندګۍ او نجاست کې وغورځيږي او پاکول يې ګران شي، بيا دې سپي يا پيشو ته واچوي، په دې کې هم تواضع او خاکساري ده.

غورځېدلې مړۍ بايد شيطان ته پرېښنودل شي

"وعنه: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: إِنَّ الشَّيْطَانَ يَحْضُرُ أَحَدَكُمْ عِنْدَ كُلِّ شَيْءٍ مِنْ شَأْنِهِ، حَتَّى يَحْضُرَهُ عِنْدَ طَعَامِهِ" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې شيطان يو کس ته په هر شي کې حاضريږي، تردې چې د خوراک په وخت کې هم ورته راځي، "فَإِذَا سَقَطَتْ لُقْمَةُ أَحَدِكُمْ فَلْيَأْخُذْهَا فَلْيُمِطْ مَا كَانَ بِهَا مِنْ أَذًى، ثُمَّ لِيَأْكُلْهَا" بس کله چې په تاسو کې يو کس نه کومه مړۍ پربوځي، نو هغه دې راواخلي او کوم څه چې په دې مړۍ پورې نښتي وي، هغه دې ترې لرې کړي، بيا دې وخوري، "وَلَا يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ، فَإِذَا فَرَغَ فَلْيَلْعَقْ أَصَابِعَهُ" او شيطان ته دې هغه مړۍ نه پرېږدي، کله چې فارغ شي، نو خپلې ګوتې دې وڅټي. "فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي فِي أَيِّ طَعَامِهِ الْبَرَكَةُ" ځکه چې دی نه پوهيږي چې په کوم خوراک کې به ماته برکت وي رواه مسلم

تشريح: ان الشيطان يحضر أحدكم: شيطان تاسو ته راځي، شيطان د انسان سره سم تړل شوی دی، هغه کوشش کوي چې څرنګه انسان د الله ﷻ نه نافرمانه کړي، که د خوراک په شروع کې بسم الله وويل شي، نو د شيطان د شر نه به محفوظ شي، "فإذا سقطت لقمة أحدكم" کله چې په تاسو کې د چانه مړۍ پربوځي، ددې نه معلوميږي چې که غورځېدلې مړۍ راواخيستل شي او وخوړل شي، نو شيطان پرې سخت ناراضه کيږي او که چېرته پرېښنودلی شي، نو شيطان ملعون پرې خوشحاليږي.

د شيطان نه پرېښنودلو مطلب:

ولا يدعها للشيطان: او دغه مړۍ دې شيطان ته پرېښنودل شي، په دې کې د علماوو مختلفې رايې دي، د ځينو علماوو رايه دا ده چې دا په حقيقت باندې بناء ده چې غورځېدلې مړۍ شيطان خوري، يعنې دوی دغه جمله په حقيقت باندې بناء کوي او ځينې علماء يې په مجاز باندې حمل کوي، غورځېدلې مړۍ نه راخيستل او خوراک ترې نه کول د متکبرينو علامه ده او د تکبر دغه عمل د شيطاني اثراتو نخښه ده.

فإذا فرغ فليلعق أصابعه: کله چې د خوراک نه فارغ شي، نو بايد خپلې ګوتې وڅټي، اګر چې دا څانته حکم دی، ليکن په حقيقت کې د وراندې حکم څخه مستفاد دی، هغه دا چې تکبر پرېښنودل او د

خاکساري اختيارولو حکم يو ځل بيا شوی دی، ددې لپاره چې د الله ﷻ رزق ته کامل احتياج او ضرورتمندي ښکاره شي

د خوراک نه وروسته په ګوتو بايدې لوښي پاکول پکاردي

"وعن أنس ﷺ، قَالَ: كَانَ رسولُ الله ﷺ إذَا أكَلَ طَعَاماً، لَعِقَ أصَابِعَهُ الثَّلاثَ" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله ډوډی وخوړل، نو خپلې درې واړه ګوتې به يې وڅټلې، "وقَالَ: إذَا سَقَطَتْ لُقمَةُ أحَدِكُمْ فَلْيَأخُذْهَا، وَلْيُمِطْ عنها الأذى، وَلْيَأكُلْهَا، وَلاَ يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ" او بيا يې وفرمايل: کله چې په تاسو کې د يو کس نه کومه مړۍ/ لقمه پريوځي، نو هغه دې راپورته کړي او هغه ګندګي چې ورپورې نښتې وي، هغه دې ترې لرې کړي او شيطان ته دې هغه مړۍ نه پرېږدي، "وأَمَرَنَا أنْ نَسْلُتَ القَصْعَةَ" او موږ ته رسول الله ﷺ حکم راکړو چې موږ په ګوتو سره کاسه وڅټو، "وقَالَ: إنَّكُمْ لاَ تَدْرُونَ فِي أيِّ طَعَامِكُمُ البَرَكَةُ" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: تاسو نه پوهيږئ چې په کوم خوراک کې تاسو ته برکت دی. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

تسلت:سلت سلتاً: پياله، لوښی څټل

تشريح إذا أكل طعاماً لعق أصابعه الثلاث: کله چې به رسول الله ﷺ د خوراک نه فارغ شو، نو خپلې ګوتې مبارکې به يې وڅټلې. د احاديثو په کتابونو کې دا جمله څو څو ځله راغلې ده چې د خوراک نه وروسته به يې خپلې ګوتې څټلې، نن سبا ساينس هم ددې قائل دی چې کله انسان خپلې ګوتې وڅټي نو د ګوتو څخه د هاضمې رطوبت د ګوتو څخه وځي، نو دغه رطوبت د انسان په هاضمه کې کار ورکوي، زياتې لا دا چې هاضم رطوبت (Secretion Digestive) اثر په (کاربوهائډريټس) (Carbohydrates) (په خوړو موادو) باندې پرېوځي، بلکې دا چې ددې رطوبت اثر په مخصوص اندام (مخکينی شرمګاه) باندې پرېوځي کوم چې د شوګر مريض لپاره بې حده زيات فايده ورکوي او په بدن کې د انسولين (Insulin) کمی ورسره نه واقع کيږي.

بل دا چې ګوتې څټل ددې خبرې واضحه دليل دی چې هغه رطوبت يعنې هاضم (digestive secretion) په ګوتو پورې نښتی وي، نو څه د خوراک سره خېټې لاړ شي او څه په ګوتو پورې نښتې وي، نو د ګوتې په څټلو سره خېټې ته لاړ شي، بل دا چې ګوتې څټلو سره اثر په دماغو او په سترګو باندې هم پرېوځي، يو محقق ډاکټر وايي: زما تحقيق دا دی چې د خوراک نه وروسته ګوتې څټلو اثر واقعتاً په زړه، معدې او دماغو باندې پرېوځي او دا د علاج په توګه هم زيات ګټور دی.

په اور پخ شوي شي بايدې اودس ماتېدل

"وعن سعيد بن الحارث: أنَّه سأل جابراً ﷺ عن الوُضُوءِ مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ، فَقَالَ: لا" د سعيد بن حارث ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د جابر ﷺ نه پوښتنه وشوه چې کوم شی په اور پوخ شوی وي، ايا د هغې په خوراک سره اوس ماتيږي او بيا به اوس کوي او که نه؟ هغه وفرمايل: اودس به نه کوي، "قَدْ كُنَّا زَمَنَ النَّبيِّ

Maktaba Tul Ishaat. com

ﷺ لا نجد مثل ذٰلك الطعام إلا قليلاً" مونږ ته به د نبي كريم ﷺ په زمانه كې په اور پخ شوي شي نه ملاوېدو، مګر كله كله به څه لږ شان ملاو شو، "فإذا نحن وجدناه، لم يكن لنا مناديل إلا أكفنا، وسواعدنا، وأقدامنا" ليكن كله چې به مونږ ته داسې څه خوراك پيدا شو چې په اور به پخ شوي وو، نو زمونږ سره به دسمالونه/ دسپاكونه نه وو چې لاس او خوله پرې پاك كړو، مونږ به لاسونه د پښو په تلو او پنډيو باندې پاكول او دا به زمونږ رومالونه وو او لاسونه به مو په دې سره پاكول. "ثم نصلي ولا نتوضأ" او بيا به مونږ لمونځ كولو او دوباره بل اودس به نه كولو. رواه البخاري

تشريح: عن الوضوء مما مست النار: په څينو رواياتو كې "مامست النار" د خوراك نه وروسته د اودس ماتېدو ذكر دى او په څينو رواياتو كې داسې هم شته چې اودس پرې نه ماتيږي، دا اختلاف په شروع كې وو، ليكن بيا وروسته اتفاق په دې خبره وشو چې اودس پرې نه ماتيږي، په دې باندې د څلورو وارو امامانو اتفاق دى همدغه خبره د پورتني حديث نه معلوميږي، په كومو رواياتو كې چې د ماتېدو ذكر دى، ددې ګڼ شمېر تاويلات كېدلى شي، مثلاً: هغه روايات منسوخ دي، يا د وضوء نه مراد وضوء لغوي دى، يعنې مخ لاس وينځل او كه اصطلاحي اودس ترې مراد شي، نو بيا هم استحباب ترې مراد دى، يعنې كه په اور باندې پوخ شوى شى وخوړل شي، بايد چې اودس وكړى شي، ددې لپاره چې تزكيه نفس حاصله شي او تشبه بالملائكة حاصل شي.

بله مسئله دا ده چې ايا د خوراك نه وروسته لاسونه وينځل او په يوه ټوټه باندې مږل پكار دي او كه صرف وينځل كافي كيږي؟ "لم يكن لنا مناديل الا اكفنا وسواعدنا وأقدامنا" زمونږ سره دسمالونه نه وو، بس د لاسونو تلي، د لاسونو مړوندونه چې په دې سره به مونږ خپل لاسونه مږل او وچول به مو.

علامه عيني رحمه الله فرمايي: د خوراك نه وروسته به عموماً صحابه كرامو لاسونه ډېر كم وينځل، لاسونه به يې د خوراك نه وروسته يا يو لاس په بل لاس كې يا په زنګنونو يا پنډيو پورې مږلو او لاس به يې وچ كړو، علامه عيني رحمه الله د مسلم په شرحه كې فرمايي: لاس پاكولو لپاره رومال ښه شى دى، بلكې مستحب ده چې د ګوتو څټلو نه وروسته لاسونه پاك كړى شي، عمر رضي الله عنه به لاسونه په پښو پورې مږل، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: لاسونه مږل يا وينځل دواړه مستحب دي، قاضي عياض رحمه الله فرمايي: كه په لاس پورې غوړ زيات وي، نو وينځل يې پكار دي او كه غوړ نه وي، نو بيا دي لاسونه ومږي.

امام غزالي رحمه الله فرمايي: د وينځلو طريقه دا ده چې اول دي صابن راواخلي او د چپ لاس درې ګوتې دي پرې ووينځي بيا دي په شونډو پوې صابن ولګوي، په ګوتو دي ومږي، بيا دي تول مخ ووينځي، غاښونه دي لاندې او پورته دواړه طرف ته ووينځي بيا دي تالو په ګوته ومږي، بيا دي په آخر كې هغه ګوتې ووينځي چې په صابن لګېدلي وي.

• د راوي سعيد بن حارث رحمه الله حالات:

اصلي نوم يې سعيد دی، د پلار نوم يې حارث دی، د مديني منورې په قاضيانو کې شمارل کېږي مشهور تابعي وو، د أبو هريره رضي الله عنه، ابو سعيد خدري رضي الله عنه او د جابر رضي الله عنه وغيره څخه يې احاديث نقل کړي دي، اسماء الرجال والا په لفظ د مشهور سره د دوی توثيق کړی دی

باب تكثير الأيدي علی الطعام

اجتماعي خوراک کول

• "عن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: طَعَامُ الاثنينِ كافي الثلاثة" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د دوه کسانو ډوډی درې کسانو ته کافي کيږي، "وَطَعَامُ الثَّلاثَةِ كَافِي الأربعة" او د درې کسانو ډوډی څلورو ته کافي ده. متفق عَلَيْهِ

تشريح: طعام الاثنين كافي الثلاثة: د دوه کسانو خوراک درې کسانو ته کافي کيږي، محدثين د دې حديث مطلب داسې بيانوي چې د دوه کسانو په خوراک باندې درې کسان مړيږي، په دې باندې دوی ته په عبادت او اطاعت باندې طاقت ملاويږي، ځينې علماء فرمايي: په حديث کې دې خبرې ته ترغيب دی چې د يو کس سره خوراک وي، نو صرف د خپلې خېټې غم او فکر دې نه کوي، بلکې قناعت دې وکړي او د ضرورت په اندازه دې خوراک وکړي او د بل مسلمان ورور خيال دې وساتي، په دې کې د يو بل سره مينه او محبت زياتيږي.

د دوه کسانو خوراک څلورو ته کافي ده

"وعن جابر رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يقول: طَعَامُ الوَاحِدِ يَكْفِي الاثْنَيْنِ، وَطَعَامُ الاثْنَيْنِ يَكْفِي الأَرْبَعَةَ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه دا واورېدل چې فرمايل يې: د يو کس ډوډی دوه کسانو ته کافي ده او د دوه کسانو خوراک څلورو کسانو ته کافي دی، "وَطَعَامُ الأَرْبَعَةِ يَكْفِي الثَّمَانِيَةَ" او د څلورو کسانو ډوډی اته کسانو ته کافي ده. رواه مسلم

تشريح: طعام الواحد يكفي الاثنين: د يو کس خوراک دوه کسانو ته کافي دی، په دې حديث کې هم مکارم الاخلاق او د همدردی تعليم ورکول شوی دی، که خوراک کم وي او کسان زيات وي، نو په ذکر شوي حساب سره دې ټول اجتماعي خوراک وکړي، په دې کې د الله جل جلاله له لورې برکت نازليږي او ثواب به هم پکې ملاويږي، ليکن دلته يو سوال پيدا کيږي چې په دې حديث کې خو تضاعف شوی دی، د يو کس خوراک دوه کسانو لپاره او د دوه کسانو خوراک د څلورو لپاره او د څلورو کسانو خوراک اته کسانو ته کافي دی، حال دا چې ددې نه په وړاندې حديث کې ذکر شوي دي چې د دوه کسانو خوراک د درې کسانو لپاره کافي دی؟ نو جواب دا دی چې دا اختلاف اصلا د اشخاصو او احوالو په تفاوت سره دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

باب أدب الشرب واستحباب التنفس ثلاثاً خارج الإناء وكراهة التَّنَفُّس في الإناء واستحباب إدارة الإناء علَى الأيمن فالأيمن بعد المبتدء

داوبو څښلو ادب، په درې ساګکانو سره اوبه څښل او د لوښي نه بهر ساه ويستل او د ښي طرف څخه شروع کول مستحب دي

"عن أنس رضي الله عنه: أنَّ رسول الله ﷺ كَانَ يَتَنَفَّسُ في الشَّرابِ ثَلاثاً" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د څښلو په وخت خوله مبارکه د لوښي څخه پورته کول او په درې ساګانو به يې اوبه څښلې. متفق عَلَيْهِ

يتنفس خارج الإناء: يعني د لوښي نه به يې ساه بهر ويستل او بيا به يې اوبه وڅښلې. دغه شان يې درې ځله وکړل

تشريح كان يتنفس في الشراب ثلاثاً: نبي كريم ﷺ به په درې ساګانو اوبه څښلې. درې ځله د اوبو څښلو طريقه په يو بل روايت کې هم راغلې ده، په دې کې روايت کې ارشاد دی چې په درې ساګانو باندې اوبو څښلو سره انسان سيرابه شي، تنده يې ماته شي، بدن ته يې صحت حاصليږي او معدې ته يې اساني حاصليږي، علماء فرمايي: په لومړي ځل لږې اوبه، په دويم ځل لږې زياتې او په دريم ځل چې څومره تږی، هغومره دې وڅښي

داوښ په شان يوه ساه يا ندې اوبه مه څښئ!

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: لاَ تَشْرَبُوا وَاحِداً كَشُرْبِ البَعِيرِ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د اوښ په شان په يوه ساه تولې اوبه مه څښئ! "وَلكِنِ اشْرَبُوا مَثْنَى وَثُلاَثَ" ليکن په دوه ساګانو او يا په درې ساګانو سره اوبه څښئ! "وَسَمُّوا إِذَا أَنْتُمْ شَرِبْتُمْ" او بسم الله د اوبو په سر کې وايئ! "وَاحْمَدُوا إِذَا أَنْتُمْ رَفَعْتُمْ" او په آخر کې (الحمد لله) وايئ! "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن".

تشريح لا تشربوا واحداً كشرب البعير: د اوښ په شان په يوه ساه اوبه مه څښئ! لږ تر لږه په دوه ساګانو اوبه څښل پکار دي، ددې لپاره چې د اوښ سره تشبه رانشي، ليکن په درې ساګانو کې يې څښل غوره دي، "وسموا إذا أنتم شربتم" کله چې تاسو اوبه څښئ، نو بسم الله وايئ، دغه شان مضمون د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې په هغې کې دي، ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې رسول الله ﷺ به په درې ځله اوبو څښلو باندې وليد او په شروع کې به بسم الله او په آخر کې به (الحمد لله) وويل

داوبو څښلو پرمهال په لوښي کې ساه اخيستل منع دي

"وعن أبي قتادة ﷺ: أَنَّ النبيَّ ﷺ نَهَى أَنْ يُتَنَفَّسَ في الإناء" د أبو قتاده ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ داوبو څښلو په لوښي کې دننه د ساه اخيستلو څخه منع فرمايلې ده. متفق عليه بتفسر ال

نفس الاناء: په لوښي کې ساه اخيستل

تشريح: په يو بل روايت کې دي چې رسول الله ﷺ د اوبو څښلو په لوښو کې د ساه اخيستلو څخه منع فرمايلې ده، په لوښي کې د ساه اخيستلو ډېر زيات نقصانات دي، يو خو دا چې امکان لري چې په لوښي کې د انسان له پوزې وغيره څخه نزله، زکام ګرنګ وغيره پرېوځي، خپله به ترې کرکه نه کوي، ليکن بل انسان ته به ترې غم جوړ شي، بل دا چې د ځينو خلکو له خولې څخه بد بو ځي، امکان شته چې په اوبو کې بد بويي جوړه شي، بل دا چې په اوبو کې ساه اخيستل د ځناورو سره تشبه لري، طبيبان ليکي: په اوبو کې چې کوم کس ساه اخلي، امکان شته چې د ساه په نلی کې اوبه لاړې شي، بيا هم دغه اوبه د ساه بندی د مرض باعث جوړيږي، بل دا چې دې سره بدن ته جراثيم هم داخليږي، دا هم خيټې ته داخليږي بل دا چې امکان لري چې اوبه د پوزې يا د ساه په نلی کې تيرې شي، نو د پوزې او دماغو پردو د شلېدو يا په دې کې د درد پيدا کېدو باعث به جوړ شي.

د تقسيم پرمهال ښی طرف مخکې کول پکار دي

"وعن أنس ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ أُتِيَ بِلَبَنٍ قَدْ شِيبَ بِمَاءٍ، وَعَنْ يَمِينِهِ أَعْرَابِيٌّ، وَعَنْ يَسَارِهِ أَبُوبَكْرٍ ﷺ" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ته د شيدو يوه پياله وړاندې شوه، په هغې کې لږ شان اوبه هم واچول شوې، د نبي کريم ﷺ ښي لاس ته يو کوچی ناست وو او چپ طرفته يې ابوبکر ﷺ ناست وو، "فَشَرِبَ، ثُمَّ أَعْطَى الأَعْرَابِيَّ" نبي کريم ﷺ هغه شيدې وڅښلې او بيا يې هغه کوچي ته ورکړې، "وقال: الأَيْمَنَ فَالأَيْمَنَ" نبي کريم ﷺ بيا وفرمايل: ښي طرف بيا هم ښي طرف دی، يعنې ښي طرف به وړاندې وي په چپ طرف باندې. متفق عَلَيْهِ

"قَوْلُه: ((شِيب)) أَيْ: خُلِطَ" دا قول چې شيب ددې معنی ده: ګډوډ کېدل.

تشريح: أتي بلبن قد شيب بماء: په شيدو کې ملاو شوې اوبه راوړل شوې، علماء ليکي: په ګرمو علاقو کې چې اوبه په شيدو کې ملاو شي زياته ګټه لري، په دې سره مزاج معتدل شي، ددې حديث نه معلومه شوه چې: په شيدو کې يخې اوبه استعمالول سنت طريقه ده، علامه عيني رحمه الله فرمايي: په شيدو کې اوبه ملاول سنت طريقه ده، ليکن که شيدې خرڅول غواړي او اوبه پکې استعمالوي، نو بيا صحيح خبره نه ده، ځکه چې دا بيا دوکه شوه او د مسلمان لپاره حرامه ده چې د بل مسلمان ورور سره دوکه وکړي، امام بخاري رحمه الله هم په بخاري شريف کې "باب الشرب اللبن بالماء" باب قائم کړی دی چې د څښلو په خاطر په شيدو کې اوبه ملاول سنت طريقه ده.

الايمن فالايمن: ښي طرف والا بيا هم ښي طرف والا وي، هر شی چې تقسيمول غواړې بايد د ښي

Maktaba Tul Ishaat. com

طرف څخه یې شروع کړي، علماء فرمايي : د «ايمن» په نون باندې چې پېښ شي، نو ترجمه به یې داسې شي : ښي طرف والا به مقدم وي او بيا به هم ښي طرف والا مقدم وي، يعنې تر ټولو وړاندې به ښي طرف والا ته ورکولی شي بيا چې ددې سره نژدې ښي طرف والا وي، ترڅو چې کوم کس چپ طرفته ناست دی د هغه خپل نمبر راشي، ځینې علماء فرمايي : «ايمن» دلته که «نون» په زبر باندې ولوستل شي نو بيا به یې ترجمه داسې کولی شي چې زه به اول ښي طرف والا ته ورکوم او بيا ښي طرف والا ته.

• ددې حديث نه معلومه شوه چې که په تقسيم کې ښي طرف والا انسان مقدم کړی شي، دا مستحب عمل دی، اګر چې چپ طرف والا ناست انسان د ډېر زيات فضيلت څښتن وي، لکه څرنګه چې ددې پورتنې حديث څخه معلومه شوه، بل ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې رسول الله ﷺ څومره حق پېژندونکی، عدل او انصاف خوښونکی خوږ پيغمبر وو.

که د تقسيم پرمهال چپ طرف والا ته څه ورکول غواړې، نو د ښي طرف والا څخه پوښتنه پکار ده

"وعن سهل بن سعدٍ ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ أُتِيَ بِشرابٍ، فَشَرِبَ مِنْهُ وَعَنْ يَمِينِهِ غُلامٌ، وَعَنْ يَسَارِهِ أَشْيَاخٌ" د سهل بن سعد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ته اوبه راوړل شوې، د هغې نه یې څه اوبه وڅښلې، د نبي کريم ﷺ ښي لاس ته يو ماشوم ناست وو او چپ طرفته یې مشران صحابه کرام ﷺ ناست وو، "فَقَالَ لِلْغُلامِ: أَتَأْذَنُ لِي أَنْ أُعْطِيَ هَؤُلاءِ؟" نبي کريم ﷺ هغه ماشوم ته ووېل : ايا ته ما ته اجازه راکوې چې زه دغه پياله دې مشرانو کسانو ته ورکړم؟ "فَقَالَ الْغُلامُ: لا وَاللهِ، لا أُوثِرُ بِنَصِيبِي مِنْكَ أَحَداً" هغه ماشوم ووېل : نه، په الله تعالى قسم! چې ستاسو له لورې په ملاو شوې حصه کې به زه د ځان څخه چاته هم غوره والی ورنه کړم، "فَتَلَّهُ رسول الله ﷺ فِي يَدِهِ" په دغه وخت کې رسول الله ﷺ هغه د اوبو پياله دغه ماشوم ته په لاس کې کېښوده. متفقٌ عَلَيْهِ

"قَوْله: ((تَلَّهُ)) أيْ وَضَعَهُ. وهذا الغلامُ هُوَ ابنُ عباس رضي الله عنهما" دا قول چې (تله) ددې مطلب دی : هغه پياله یې د دغه ماشوم په لاس کې کېښودل او دغه ماشوم عبد الله بن عباس ﷺ وو.

تشريح: وعن يمينه غلام: د غلام نه مراد عبد الله بن عباس ﷺ دی، ددې حديث هم نه معلومه شوه چې که په مجلس کې څوک تقسيم غواړي، نو بايد د ښي طرفنه یې شروع کړي، که څه مصلحت وي، نو بيا دې د ښي طرف والا څخه پوښتنه وکړي، لکه څنګه چې ددې حديث نه معلومه شوه، ليکن دلته يو سوال پيدا کېږي هغه دا چې وړاندې حديث کې خو رسول الله ﷺ د هغه کوچي نه اجازه ونه غوښتل، دلته یې ولې اجازه واخيستل؟ جواب دا دی چې هلته کوچی صحابي وو، که د هغه نه یې پوښتنه کړې وه، نو هغه به د خپل ځان په حق کې حق تلفي ګڼلې وه، رسول الله ﷺ د هغه د زړه د نرم کېدو لپاره د هغه نه اجازه وانخيستل، په دې حديث کې د عبد الله بن عباس ﷺ کوم چې د رسول الله ﷺ خپلوان هم دی او ګس طرف د قريشو مشران ناست وو، نو ځکه رسول الله ﷺ د هغه نه اجازه

واخيستل، که ابن عباس رضي الله عنهما اجازه هم نه وی ورکړې، بيا هم هغه ته څه ناګواري نه کېدل او نه خفه کېدو او په دې کې به ددې مشرانو تاليف قلب هم وشي، په خلاف د لومړي حديث چې په هغه طرف کې هلته ابوبکر رضي الله عنه ناست وو، د هغه په حق کې خو د تاليف قلب سوال نه پيدا کېږي

باب كراهية الشرب من فم القربة ونحوها وبيان أنه كراهة تنزيه لا تحريم

په مشکيزه باندې خوله لګولو سره اوبه څښل

"عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه، قال: نهى رسول الله ﷺ عن اختناث الأسقية يعني: أن تكسر أفواهها، ويشرب منها" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د خلاصې خولې والا يا پرې شوي خولې والا مشك او مشکيزې باندې خولې لګولو سره د اوبو څښلو نه منع فرمايلې ده، (هسې نه چې څه چينجی وغيره پکې وي يا يې وچيچي او يا يې ګېډې (خېټې) ته لاړ شي. متفق عليه

لغوي تحقيق:

إختناث: خنثه خنثاً : د مشکيزې خوله چې وشلوې (خلاصه) يې کړې او بهر طرفته يې راوکاږل شي.

تشريح: مشکيزه وي يا کوم بل شی وي چې د هغه په خوله باندې خوله ولګول شي او اوبه ترې وڅښل شي، رسول الله ﷺ د داسې طريقې نه منع فرمايلې ده، دا ځکه چې شريعت نه غواړي چې يو مسلمان ته تکليف ورسېږي، ځکه چې کېدی شي په مشکيزه يا منګي وغيره کې مار، لړم، چينجی وغيره وي او دده خېټې ته داخل شي، نو ځکه په ځای ددې چې په منګي يا مشکيزه باندې خوله ولګول شي او اوبه ترې وڅښل شي، دا به ښه وي چې په لوښي کې ترې اوبه راواخيستل شي

په منګي يا مشکيزه باندې خوله لګول او اوبه څښل منع دي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: نهى رسول الله ﷺ أن يشرب من في السقاء أو القربة" متفق عليه د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ددې خبرې نه منع فرمايلې ده چې په مشك او مشکيزې باندې خوله ولګول شي او اوبه ترې وڅښل شي، اصل خبره دا ده چې په ليدلو سترګو څوك مچی مچ وغيره تېر نه کړي، په خوراك او څښاك کې د احتياط خيال ساتلو سره د خوراك اصول معلومېږي او مشك ته د خولې لګولو او اوبو څښلو نه پس دا خبره د کتلو ده چې خېټې ته څه شی روان دی، خو که چېرې د اطمينان او تسلی نه پس خوله لګولو سره اوبه څښي، نو څښلی يې شي، ځکه چې دا منع تنزيهي ده، تحريمي نه ده

تشريح: په دې حديث کې هم په مشکيزه باندې خولې لګولو سره د اوبو څښلو ممانعت

Maktaba Tul Ishaat. com

راغلی دی، دا نهي په کراهت تنزيهي باندې محمول ده، په نهي تحريمي باندې محمول نه ده. لکه څرنګه چې خپله د رسول الله ﷺ نه د مشکيزې د خولې نه اوبه څښل ثابت دي. ددې پوره وضاحت به وړاندې راشي

رسول الله ﷺ يو ځل د مشکيزې اوبه وڅښلې

"وعن أم ثابت كبشة بنت ثابت أخت حسان بن ثابت رضي الله عنهما، قالت: دخل على رسول الله ﷺ فشرب من في قربة معلقة قائما" د ام ثابت کبشة بنت ثابت اخت حسان بن ثابت رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ يو ورځ ما کره راغلو او کومه مشکيزه چې ځوړنده وه، هغې باندې يې خوله کېښودل او اوبه يې ترې وڅښلې. "فقمت إلى فيها فقطعته" ما د مشکيزې هغه حصه پرې کړه او د ځان سره مې کېښودل "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

"وإنما قطعتها: ليحفظ موضع فم رسول الله ﷺ، وتتبرك به" ځکه چې هغې پورې د رسول الله ﷺ شونډې مبارکې لګېدلې وې، د تبرک لپاره مې د ځان سره وساتل، "وتصونه عن الابتذال" او د ضائع کېدو نه يې بچ کړو، "وهذا الحديث محمول على بيان الجواز" دا حديث په دې خبره حمل دی چې د مشکيزې نه په خولې سره اوبه څښل هم جائز دي، "والحديثان السابقان لبيان الأفضل والأكمل، والله أعلم" او کومه منعه چې په مخکينې حديث کې راغلې ده، د هغې مطلب دا دی چې بايد د مشکېزې نه په خولې اوبه ونه څښل شي

تشريح: فشرب من في قربة معلقة قائما: رسول الله ﷺ په ولاړه د يوې مشکيزې نه اوبه وڅښلې

يو سوال او پنځه ځوابونه:

سوال: ددې نه وړاندې خو د مشکيزې د خولې نه د اوبو څښلو ممانعت راغلی دی او ددې حديث نه يې جواز معلومېږي؟

جواب: د ممانعت تعلق د غټې مشکيزې سره دی او دلته وړه مشکيزه وه، د وړې مشکيزې خوله وړه وي، د تلويث/ خيرنېدو خطره لږ وي، دويم جواب دا دی چې دا حديث په بعض وختونو باندې محمول دی، يعنې که کله کله ترې اوبه وڅښل شي پروا نه کوي، ليکن مستقل عادت يې جوړول ممانعت دی، دريم جواب دا دی چې په مشکيزه باندې خوله لګول او ددې نه اوبه څښل جائز دي، ليکن بهتره دا ده چې په لوښي کې ترې اوبه وڅښل شي، يعنې اولنی روايت به په اولويت باندې محمول کړی شي او دغه حديث به په جواز باندې محمول کړی شي يا دا چې دا حديث به په جواز باندې محمول کړی شي، يعنې کله چې د يو انسان سره داسې لوښی نه وي چې اوبه پکې وڅښي، نو بيا جائز دي چې په مشکيزه خوله ولګوي، څلورم جواب دا دی چې که لوښی موجود وي نو بيا جائز نه دي چې په خوله ترې اوبه وڅښل شي او که لوښی نه وي، نو بيا جائز دي، پنځم جواب دا دی چې په شروع کې مباح وو چې د مشکيزې نه په خوله اوبه وڅښل شي، ليکن يو ځل يو صحابي رضي الله عنه همدغه شان اوبه وڅښلې نو يو مار د مشکيزې نه راووتلو، ددې وروسته رسول الله ﷺ ددې نه منع وفرمايل

د راوي ام کبشه بنت ثابت رضي الله عنها حالات:

اصلي نوم يې کبشه رضي الله عنها دی، کنيت يې ام ثابت دی، انصاريه صحابيه وه، دا د مشهور شاعر حسان بن ثابت رضي الله عنه خور ده، د دوی نه صرف دغه يو حديث روايت شوی دی کوم چې په ترمذي او ابن ماجه کې دی.

باب كراهة النفخ في الشراب

د خوراک څښاک په شي کې پوکی وهل مکروه دي

"عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهَى عَنِ النَّفْخِ فِي الشَّرَابِ" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده چې سړی د څښلو په شي کې پوکی ووهي، "فَقَالَ رَجُلٌ القَذَاةُ أَرَاهَا فِي الإِنَاءِ؟" يو کس ووېل: که په لوښي کې څه خسنی يا خاوره وغيره په نظر راشي نو بيا؟ "فَقَالَ: ((أَهْرِقْهَا)). قَالَ: إِنِّي لَا أَرْوَى مِنْ نَفَسٍ وَاحِدٍ؟" نبي کريم ﷺ وفرمايل: هغه اوبه واروه! هغه کس بيا عرض وکړو چې که زه په يو غړپ باندې نه خړوب کېږم؟ "قَالَ: فَأَبِنِ القَدَحَ إِذاً عَنْ فِيكَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل لوښی د خولې نه لرې کړه! ساه واخله او بيا نورې اوبه وڅښه! "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

لغوي تحقيق:

أهرقها: هرق وأهرق الماء: اوبه تويول.

تشريح: نهى عن النفخ في الشراب: رسول الله ﷺ د اوبو څښلو لوښو کې د پوك وهلو نه منع فرمايلې ده، که چېرته په لوښي کې کوم لرګی، خسری، وغيره پرېوځي، نو بايد چې لرې شان اوبه ورسره تويې کړي او هغه ګند لرې کړي، نه دا چې پوك ورته ورکړي او که چېرته زيات ضرري شی پکې پرېوځي، نو که مشروب شی وي، نو په کاشغه وغيره سره دې ترې لرې کړي او باقي دې وڅښي.

لا أروى من نفس واحد: زه په يوه ساه نه خړوبېږم، که انسان په درې ساګانو اوبه څښي، نو ښه پرې مړيږي، په يو بل روايت کې دي چې اوبه بايد په غړپ غړپ ونه څښي، بلکې په درې ساګانو يې وڅښي، په دې سره انسان ښه خړوبيږي او ښه مړيږي.

چې په کوم لوښي کې يې خوري په هغې کې پوك مه کوه!

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهَى أَنْ يُتَنَفَّسَ فِي الإِنَاءِ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ددې خبرې څخه منع فرمايلې ده چې يو انسان دې په لوښي کې ساه واخلي، "أَوْ يُنْفَخَ فِيهِ" او يا پکې پوك ووهي، "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

Maktaba Tul Ishaat. com

د زمزم اوبه په ولاړه څښل:

د زمزم اوبه په ولاړه څښل غوره دي، ځکه چې د زمزم اوبه زياتې څښل پکار دي او په ولاړه زياتې اوبه څښل کيږي، نو ځکه شريعت په ولاړه د زمزم اوبو څښلو اجازه ورکړې ده. دويمه وجه چې د زمزم اوبه رسول الله ﷺ په ولاړه څښلي وې، د هغې وجه دا وه چې هلته : خلکو زيانه ګڼه وه. کېنستل مشکل وو، نو ځکه رسول الله ﷺ په ولاړه اوبه وڅښلې، يا دا چې هلته زياتي ختې وې، ددې وجې کېنستل مشکل وو، نو ځکه رسول الله ﷺ کېنستلی نه شو. بهر حال د عامو اوبو په مقابل کې د زمزم اوبه په ولاړه څښل جائز دي

باب بيان جواز الشرب قائماً وبيان أنّ الأكمل والأفضل الشرب قاعداً

په ولاړه اوبه څښل جائز دي، خو په ناسته يې څښل غوره دي

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قال: سَقَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ مِن زَمْزَمَ، فَشَرِبَ وَهُوَ قَائِمٌ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ ته د زمزم اوبه راوړې، هغوی په ولاړه وڅښلې. متفق عليه

علي رضي الله عنه يو ځل په ولاړه اوبه وڅښلې:

"وعن النَّزَّالِ بن سَبْرَةَ رضي الله عنه، قال: أَتَى عَلِيٌّ رضي الله عنه بَابَ الرَّحْبَةِ، فَشَرِبَ قَائِماً" د نزال بن سبرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې علی رضي الله عنه باب الرحمت ته راغلو (کوم چې په حرم شريف کې دروازه ده) او په ولاړه يې د زمزم اوبه وڅښلې، "وقال: إِنِّي رَأَيْتُ رسولَ الله ﷺ فَعَلَ كَمَا رَأَيْتُمُونِي فَعَلْتُ" او وې وفرمايل: ما رسول الله ﷺ په داسې طريقه ليدلی دی چې داسې عمل يې کولو، لکه څنګه چې اوس زه تاسو وليدلم چې ومې کړل. رواه البخاري

تشريح: فشرب قائماً: په ولاړه يې اوبه وڅښلې، علماء فرمايي: په ناسته اوبه څښل سنت طريقه ده، هو! که چېرته مجبوري وي، نو بيا يې په ولاړه هم څښلی شي، مثلاً چېرته خلک زيات وي، د ناستې ځای نه وي يا دا چې د امت د اسانی لپاره رسول الله ﷺ په ولاړه اوبه وڅښلې چې امت ته پکې اساني پيدا شي او جواز معلوم شي.

د راوي نزال بن سبرة رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې نزال بن هلالي کوفي رضي الله عنه دی، د دوی باره کې اختلاف دی چې ايا د نبي کريم ﷺ زيارت يې کړی دی او که نه؟ حافظ ابن حجر رحمه الله په تقريب کې ليکلي دي چې د ځينو په نزد يې د نبي کريم ﷺ زيارت کړی دی، ليکن ځينې نور علماء فرمايي چې زيارت يې نه دی کړی دی، ليکن په مشرانو تابعينو کې دی، د دوی نه صرف هم دغه يو حديث نقل دی.

صحابه کرامو رضي الله عنهم به په روانه او په ولاړه خوراک کولو

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: كُنَّا على عهد رسول الله ﷺ نَأكُلُ وَنَحْنُ نَمْشِي" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه روايت دی هغه فرمايي چې موږ د رسول الله ﷺ په زمانه کې وو چې موږ به خوراك کولو او موږ به روان وو، "وَنَشْرَبُ وَنَحْنُ قِيامٌ" موږ به اوبه څښلې او موږ به ولاړ وو، "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: نأكل ونحن نمشي ونشرب ونحن قيام: موږ به په روانه خوراك کولو، د نه راز موږ به ولاړ روان څښاک به مو کولو، مطلب دا چې په ژوند کې که يو ځل دوه ځله داسې شي، نو خير دی. ليکن مستقل عادت جوړول يې پکار نه دي.

د جديد سائنس په اعتبار سره هم په ولاړه اوبه څښل ښه نه دي:

نن سبا د جديد سائنس مطابق په ولاړه اوبه څښل هم سختې منع دي، ويل کيږي چې که چېرته په ولاړه يو انسان اوبه څښل عادت کړي، نو په دې سره په معده کې (stomach) او د ګردو بيماري جوړيږي، بل دا چې په ولاړه څوك اوبه څښي، نو د هغه په پښو کې پړسوب او چاودونه جوړيږي او بيا ددې پښو پړسوب د بدن په نورو حصو کې شامل شي او بل دا چې څوك په ولاړه اوبه څښي، نو د هغه استسقاء (ocdema) مرض جوړيږي.

نبي کريم ﷺ به کله کله په ولاړه اوبه څښلې

"وعن عمرو بن شعيب، عن أبيه، عن جَدِّهِ رضي الله عنه، قَالَ: رأيتُ رسول الله ﷺ يَشْرَبُ قَائِماً، وقَاعِداً" د عمرو بن شعيب رضي الله عنه نه، هغه د خپل پلار نه او د خپل نيکه نه روايت کوي چې فرمايي: ما رسول الله ﷺ په دواړو حالتونو يعنې په ولاړه او په ناسته ليدلی دی چې اوبه يې څښلې، "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: لکه څرنګه چې مو وړاندې دا خبره ذکر کړه چې په ولاړه اوبه څښل په ژوند کې يو ځل دوه ځله داسې شوي دي، کنه نو د صحابه کرامو عمومي عادت دا وو چې په ناسته به يې اوبه څښلې، يا د علامه نووي رحمه الله په قول چې په ولاړه اوبه څښل جائز دي، خو په ناسته اوبه څښل سنت طريقه ده.

په ولاړه اوبه څښل يو خبيث عمل دی

"وعن أنس رضي الله عنه، عن النبيِّ ﷺ: أنه نَهى أن يَشْرَبَ الرَّجُلُ قَائِماً" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده چې يو سړی په ولاړه اوبه وڅښي، "قَالَ قتادة: فَقُلْنَا لأنَسٍ: فَالأَكْلُ؟ قَالَ: ذَلِكَ أَشَرُّ - أَوْ أَخْبَثُ" قتاده رحمه الله فرمايي: انس رضي الله عنه موږ ته وويل چې په ولاړه خوراک، څنګه دی؟ هغوی وفرمايل: دا کار خو ډېر بد او خبيث عمل دی او يا يې داسې وويل: چې خبيث کار دی، "رواه مسلم، وفي رواية لَهُ: أنَّ النبيَّ ﷺ زَجَرَ عَنِ الشُّرْبِ قَائِماً" او د مسلم په يو بل روايت کې داسې دي چې رسول الله ﷺ ډېره سخته منع فرمايلې ده چې يو سړی په ولاړه اوبه وڅښي

Maktaba Tul Ishaat. com

لغوي تحقيق:

أشر: د اسم تفضيل صيغه ده، همزه د زيات استعمال له وجې حذف شوه، جمع يې شرور راځي، هر قسم بد کار او بد عملی ته ويل کيږي

تشريح نهى أن يشرب الرجل قائما: نبي کريم ﷺ په ولاړه اوبو څښلو نه منع وفرمايل. قاضي عياض رحمه الله فرمايي: په ناسته اوبه څښل واجب نه دي، سنت دي، ليکن په حديث کې اشاره ده دې خبرې ته چې په ولاړه اوبه څښل کراهت تنزيهي دی، کراهت تحريمي نه دی، کنه نو کله به هم رسول الله ﷺ او صحابه کرامو رضي الله عنهم چېرته په ولاړه يو ځل نيم ځل چېرته څښلي نه وای

څوک چې په ولاړه اوبه وڅښي، قی دې کړي:

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: لَا يَشْرَبَنَّ أَحَدٌ مِنكُمْ قَائِماً" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: په تاسو کې دې يو کس هم په ولاړه اوبه نه څښي، "فَمَنْ نَسِيَ فَلْيَسْتَقِئْ" د چا څخه چې په هېره وڅښل شي، بيا دې قی کړي رواه مسلم

تشريح: لا يشربن أحد منکم قائما: هيڅوك دې په ولاړه اوبه نه څښي، ددې حديث په معنی يو بل حديث هم شته چې ددې راوي أبو هريره رضي الله عنه دی، په دغه روايت کې دي چې يو کس په ولاړه اوبه وڅښلې، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: قی يې کړه! هغه پوښتنه وکړه چې په څه وجه؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: که ستا سره پيشو اوبه وڅښي، نو ته به يې خوښ کړې؟ هغه وويل: نه! نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: ددې نه زياته بده خبره دا ده چې ستا سره شيطان اوبه وڅښي، علماء فرمايي: دا حکم د استحباب په توګه دی، د وجوب په توګه نه وو، غوره دا ده چې کومې اوبه دې څښلي دي هغه قی کړي، د بيا لپاره داسې غلطي ونه کړي!

باب استحباب كون ساقي القوم آخرهم شرباً

کوم کس چې خلکو ته اوبه ورکوي هغه به په آخر کې اوبه څکي

"عن أبي قتادة رضي الله عنه، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: ساقي القوم آخِرُهُمْ شُرْباً" د أبو قتادة رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې خلکو ته اوبه ورکوي، هغه دې په آخر کې اوبه وڅښي. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

لغوي تحقيق:

ساقي: د اسم فاعل صيغه ده، په خلکو باندې څښل

تشريح ساقي القوم آخرهم: په خلکو باندې اوبه څښونکی دې په آخر کې اوبه وڅښي، په حديث کې د تقسيم ادب بيانيږي، هغه دا چې تقسيمونکی دې اول په ټولو باندې اوبه وڅښي يا وخوري بيا دې په آخر کې خپله وڅښي يا وخوري، په دې کې دده عزت او وقار هم دی او يوه ښه طريقه هم ده.

باب جواز الشرب

من جميع الأواني الطاهرة غير الذهب والفضة وجواز الكرع -وهو الشرب بالفم من النهر وغيره بغير إناء ولا يد- وتحريم استعمال إناء الذهب والفضة في الشرب والأكل والطهارة وسائر وجوه الاستعمال

په هر قسم لوښو کې اوبه څښل جائز دي، سېوا له سرو زرو او سپينو زرو لوښو نه او په اوبو باندې څملاستلو اوبه څښل جائز دي، د سرو زرو او سپينو زرو لوښي استعمالول د خوراک او څښاک لپاره، دغه راز هر ډول پاکۍ ته استعمالول ناجائز دي

لږې اوبه ډېرو کسانو ته کافي شوې

"وعن أنس ﷺ، قَالَ: الصَّلاَةُ فَقامَ مَن كَانَ قَرِيبَ الدَّارِ إِلَى أَهْلِهِ وَبَقِيَ قَوْمٌ" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ مقام زوراء ته راغلو، کله چې د لمانځه وخت شو، نو د کومو خلکو کورونه چې نژدې وو، هغوی لاړل چې هلته اودس وکړي او واپس راشي، باقي هم هلته پاتې شول. "فَأُتِيَ رسولُ الله ﷺ بِمِخْضَبٍ مِنْ حِجَارَةٍ، فَصَغُرَ المِخْضَبُ أَنْ يَبْسُطَ فِيهِ كَفَّهُ" په دې دوران کې نبي کريم ﷺ په خدمت کې د کاڼي لوښي راوړل شو چې په هغې کې اوبه وې، دغه لوښی دومره وړوکی وو چې د هغوی ورغوی هم پکې نه ځايېدو، "فَتَوَضَّأَ القَوْمُ كُلُّهُمْ. قالوا: كَمْ كُنْتُمْ؟ قَالَ: ثَمَانِينَ وزِيادَةً" ليکن د نبي کريم ﷺ د وجې نه په دغه وړوکي شان لوښي کې د اوبو په وجه ټولو خلکو اودس وکړو، چا ترې پوښتنه وکړه چې تاسو په دې وخت کې څومره کسان وو، انس ﷺ وفرمايل: د اتيا وو نه زيات کسان وو. "متفقٌ عَلَيْهِ، هذه رواية البخاري".

"وفي رواية لَهُ ولمسلم: أنَّ النَّبيَّ ﷺ دَعَا بإناءٍ مِنْ ماءٍ، فَأُتِيَ بِقَدَحٍ رَحْرَاحٍ فِيهِ شَيْءٌ مِنْ ماءٍ، فَوَضَعَ أَصَابِعَهُ فِيهِ" او د مسلم په يو روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ په يو لوښي کې اوبه راوغوښتلې، تنګې خولې والا يو لوښی راوړل شو چې لږې اوبه پکې وې، نبي کريم ﷺ خپلې ګوتې مبارکې پکې دننه کړې، "قَالَ أنَسٌ: فَجَعَلْتُ أنْظُرُ إِلَى الماءِ يَنْبُعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِهِ" انس ﷺ فرمايي: ما اوبو ته وکتل چې د رسول الله ﷺ د ګوتو مبارکو نه رواني وې، "فَحَزَرْتُ مَنْ تَوَضَّأَ مَا بَيْنَ السَّبْعِينَ إِلَى الثَّمَانِينَ" بيا مې هغه خلک وشمارل چا چې پرې اودسونه کړي وو، د هغوی ټولو تعداد پوره اتيا کسان وو.

المخضب: په کوم شي کې چې جامې رنګيږي.

فحزرت: اندازه لګول.

تشريح الصلاة: د لمانځه وخت راغلو، په يو بل روايت کې داسې الفاظ هم نقل دي، "رايت رسول الله ﷺ وحانت صلوة العصر فالتمس الوضوء فلم يجدوه" ما رسول الله ﷺ وليدلو چې د مازيګر لمانځه وخت

Maktaba Tul Ishaat. com

راغلو، نو د اودسه اوبه ورلته ولټول شوې، ليکن پيدا نه شوې

په يو بل روايت کې دي چې "خرج النبي ﷺ في بعض مخارجه ومعه ناس من أصحابه فانطلقوا يسيرون فی الصلاة فلم يجدوا ماءً يتوضئون، فأتی رسول الله ﷺ بمخضب" رسول الله ﷺ ته د اوبو يو تپ راوړل شو. د بخاري شريف په روايت کې داسې الفاظ دي "فانطلق رجل من القوم فجاء بقدح من ماء يسير" يو کس لاړو او د کانړي يو وړوکی شان کنډول يې راوړو چې په هغې کې لږې اوبه وې

فتوضأ القوم كلهم: ټولو خلکو د هغې نه اودس وکړو، په يو بل روايت کې دي "فأخذه النبي ﷺ فتوضأ ثم مد أصابعه الأربع علی القدح ثم قال قوموا توضئوا" نبي کريم ﷺ د هغې نه اودس وکړو، بيا نبي کريم ﷺ په هغې کې خپلې څلور ګوتې داخلې کړې، بيا ودريدلو او وې فرمايل راځئ ددې نه اودس کوئ، په دې ځای کې د رسول الله ﷺ معجزه هم ظاهره شوه چې په لږو اوبو باندې الله ﷻ ورته خومره برکت واچولو چې ټولو خلکو ترې اودس وکړو، بل ددې نه دا هم معلومه شوه چې د کانړي په لوښي کې اودس کول جائز دي

د پيتلو لوښی استعمالول جائز دي

"وعن عبد الله بن زيد ﷺ، قال: أتانا النبيُّ ﷺ فأخرجنا له ماءً في تَورٍ من صُفرٍ" د عبد الله بن زيد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ موږ کره راغلو، موږ ورته په لوښي کې اوبه راووېستلې کوم چې د پيتلو څخه جوړ وو، "فتوضأ" نو اودس يې پرې وکړو رواه البخاري

"الصُّفر: بضم الصاد، ويجوز كسرها، وهو النحاس" د (الصفر) معنی ده: پيتل، "والتَّور: كالقدح، وهو بالتاء المثناة من فوق" د (التور) معنی ده: د کاسې په شان لوښی.

لغوي تحقيق:

تور من صفر: د پيتلو جوړ شوی لوښی/ لوټه/ کوزه.

تشريح: ددې حديث نه د پيتلو استعمالولو جواز معلوميږي، د بخاري شريف په يو روايت کې دي چې "فغسل وجهه ثلاثاً ويديه مرتين ومسح برأسه فأقبل به وأدبر وغسل رجليه" چې رسول الله ﷺ درې ځله مخ مبارک ووينځلو، دوه دوه ځله يې لاسونه ووينځل او بيا يې د سر وړاندې او وروسته برخه مسح کړه او پښې مبارکې يې ووينځلې.

د راوي عبد الله بن زيد ﷺ حالات:

اصلي نوم يې عبد الله ﷺ دی، کنيت يې ابو محمد دی، د خزرج قبيلې سره يې تعلق درلود، د پلار نوم يې زيد دی، د مور نوم يې ام عماره ده، د هجرت نه وروسته مسلمان شو، د بدر نه علاوه ټولو غزواتو کې يې شرکت کړی دی، مسيلمه کذاب يې په توره مردار کړی وو، وحشي ﷺ پرې د نيزې ګوزار وکړو چې د سينې نه يې اخوا دېخوا پورې ووتلو

وفات: په درې شپېتمه هجري کې شهيد شو، دغه وخت يې پنځه اويا کاله عمر وو، د سيرت

په کتابونو کې يې دوه نومونه نور هم ذکر شوي دي

مرويات: د دوی نه يو څو روايات منقول دي، د دوی څخه نقل کونکي راويان: عباد بن تميم رحمه الله سعيد بن مسيب رحمه الله، يحيى بن عماره رحمه الله، واسع بن حيان رحمه الله، عباده بن حبيب رحمه الله دي

نبي کريم ﷺ په يخې اوبه خوښولې

"وعن جابر رضي الله عنه: أَنَّ رسول الله ﷺ دَخَلَ على رَجُلٍ مِن الأَنْصَارِ، وَمَعَهُ صَاحِبٌ لَهُ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د يو انصاري رضي الله عنه کره راغلو، د هغه سره يو دوست ابوبکر رضي الله عنه هم وو، "فَقَالَ رسول الله ﷺ: إِنْ كَانَ عِنْدَكَ مَاءٌ بَاتَ هذِهِ اللَّيْلَةَ فِي شَنَّةٍ وَإِلاَّ كَرَعْنَا" نبي کريم ﷺ وفرمايل: که ستاسو سره د شپې نه د که شوې مشکيزه وي، نو هغه موږ ته راوړه چې اوبه ترې وڅښم او که نه وي نو بيا بې له بغير د لوښي نه په نهر او ويالې باندې خولې لګولو سره څښم، "رواه البخاري، ((الشنّ)): القِربة" د الشن معنی ده: مشکيزه.

لغوي تحقيق:

شنه: وړه او پخوانې مشکيزه.

کرعة: په نهر باندې خوله لګول او اوبه ترې څښل.

تشريح: بات هذه الليلة في شنة: ستا سره د شپې تېرولو لپاره په مشکيزه کې اوبه شته، د ګرمۍ په موسم کې د شپې اوبه يخېږي، څکه يې بيا څښل خوند کوي، "إلاكرعنا" کنه نو زه به په نهر باندې خوله ولګوم او اوبه به ترې وڅښم، علامه سيوطي رحمه الله فرمايي: د (کرع) په طريقه اوبه څښل جائز دي. ليکن اوس دلته يو سوال پيدا کيږي هغه دا چې د ابن ماجه رحمه الله په يو روايت کې په دې شان اوبه څښلو سره منع راغلې ده؟ جواب دا دی چې دا ممانعت به په مکروه تنزيهي باندې محمول کړی شي او پورتنی حديث به په جواز باندې حمل کړی شي، مطلب دا چې په عامو حالاتو کې دغه ډول اوبه څښل منع او مکروه دي، ليکن د مجبورۍ په حالت کې هيڅ باك نه لري

د سرو او سپينو زرو په لوښو کې خوراك او څښاك کول منع دي

"وعن حذيفة رضي الله عنه، قَالَ: إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهَانَا عَنِ الحَرِيرِ، وَالدِّيبَاجِ" د حذيفه رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې موږ رسول الله ﷺ د نرمو او غټو ورېښمو څخه منع کړو، "وَالشُّرْبِ فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالفِضَّةِ" او د سرو زرو او سپينو زرو په لوښو کې يې د اوبو څښلو نه منع کړي يو. "وقَالَ: هِيَ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا، وَهِيَ لَكُمْ فِي الآخِرَةِ" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا شيان دغو کافرانو ته په دې دنيا کې دي او همدغه شيان ستاسو لپاره په آخرت کې دي. متفقٌ عَلَيهِ

لغوي تحقيق:

الديباج: نرم ورېښم.

Maktaba Tul Ishaat. com

تشريح نهانا عن الحرير والديباج: د وريښمو جامو اغوستلو نه يې منع كړو. دا حكم صرف د سړو په حق كې دى، ښځې د وريښمو جامې اغوستلې شي، سړو ته صرف د څلورو ګوتو په اندازه جائز دى، كوم چې په كنارو وغيره باندې لګېدلى وي، دغه شان كه په يو سړي باندې د خارښ مرض وي يا سپېږې وي يا د جنګ حالت وي، نو په داسې وختونو كې يې استعمال جائز دى.

والشرب في آنية الذهب والفضة: د سرو او سپينو زرو په لوښو كې د خوراك نه منع شوي ده. علماء فرمايي: په دې حكم كې سړي او ښځې دواړه شامل دي، د دواړو لپاره يې استعمال حرام دى. دغه ډول لوټه يا عطردان يا پان وغيره ټول حرام دي، د ښځو لپاره د سرو زرو استعمال جائز دى

د سپينو زرو په لوښو كې خوراك كول په خېټه كې د جهنم اور اچول دي

"وعن أمّ سلمة رضي الله عنها: أنّ رسول الله ﷺ قال: اَلَّذِي يَشْرَبُ فِي آنِيَةِ الْفِضَّةِ" د ام سلمة ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم كس چې د سپينو زرو په لوښو كې اوبه څښي، "إِنَّمَا يُجَرْجِرُ فِي بَطْنِهِ نَارَ جَهَنَّمَ" نو داسې كس په خپله خېټه كې د جهنم د اور سكروټې اچوي. متفقٌ عَلَيْه

"وفي رواية لمسلم: إِنَّ الَّذِي يَأْكُلُ أَوْ يَشْرَبُ فِي آنِيَةِ الْفِضَّةِ وَالذَّهَبِ" او د مسلم په يو روايت كې دي: هغه كس چې د سرو زرو يا د سپينو زرو په لوښو كې اوبه وڅښي يا خوراك پكې وكړي

"وفي رواية له: مَنْ شَرِبَ فِي إِنَاءٍ مِنْ ذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ" او په يو بل روايت كې دي چې څوك د سپينو يا د سرو زرو په لوښو كې اوبه وڅښي، "فَإِنَّمَا يُجَرْجِرُ فِي بَطْنِهِ نَارًا مِنْ جَهَنَّمَ" نو داسې كس په خپله خېټه كې د جهنم اور اچوي

كتاب اللّباس

د جامو بيان

باب استحباب الثوب الأبيض، وجواز الأحمر والأخضر والأصفر والأسود، وجوازه من قطن وكتان وشعر وصوف وغيرها إلاّ الحرير

سپينې جامې اغوستل مستحب دي، سرې، شنې، زيړې او تورې جامې اغوستل جائز دي او د مالوچو نه يا د كتان جوړه هم جائز ده، دغه شان د كټ د ورۍ او چيلې د وېښتانو وغيره څخه هم جائز دي، مګر دا چې وريښم اغوستل جائز نه دي

"قال الله تعالى" الله ﷻ فرمايي: "يَا بَنِي آدَمَ قَدْ أَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْآتِكُمْ" اې د آدم عليه السلام بچيانو! موږ تاسو ته جامې رانازل كړي دي چې ستاسو عورتونه پرې پټ شي، "وَرِيشًا وَلِبَاسُ التَّقْوَى ذَلِكَ خَيْرٌ" او وريښم مو هم نازل كړي دي، ليكن د تقوى جامه ډېره ښه ده. [الأعراف:٢٦]

• يا بني آدم قد أنزلنا عليكم لباساً: الله ﷻ لباس يو لوى نعمت ګرځولى دى، يو خو د انسان عورت ورباندې پټيږي، بل د انسان فطري ضرورت دى، په دې باندې د ټولو ملتونو او مذهبونو اتفاق دى.

"يواري سوآتكم وريشاً" د (يواري) معنى پټول، "سوآة" د بدن هغه حصه چې پټول يې فرض دي، لکه د
شرمگاهونه وغيره، "ريشاً" هغه جامه چې انسان يې د خپل زينت لپاره استعمالوي، اولنى هغه جامه
چې انسان ورسره خپل ضرورت پوره کولى شي، دا په اسلام کې تر ټولو اولنى فرض دى، باقي لمونځ
وغيره ددې نه وروسته دي، دويم هغه رنګونه دي چې په هغې سره انسان خپل ډول او سنګار
حاصلوي، الله ﷻ دواړو قسمونو ته خپل سامان پيدا کړى دى.

ولباس التقوى ذلك خير: هغه وړاندينى جامې خو هر سړى پيژني، ليکن يوه بله جامه هم شته چې
تقوى جامه ورته وايي، د ابن عباس ؓ او عروه بن زبير ؓ په قول د تقوى نه مراد نېک عمل او د الله
ﷻ نه وېره ده، مفسرين فرمايي: (لباس التقوى) لفظ سره دې طرفته هم اشاره ده چې د ظاهري لباس په
ذريعه عورت پټيږي او ښايست پرې کيږي، ددې ټولو اصلي مقصد تقوي او د الله ﷻ نه وېره ده، ددې
اظهار هم بايد په جامو سره وشي چې هغه پټ وي، ساده وي، اسراف پکې نه وي، د فخر او غرور لپاره
نه وي، سړي به د ښځو او ښځې به د سړو جامې نه اغوندي، دا ټول په لباس التقوي کې داخل دي

"**وقال تعالى**" الله ﷻ فرمايي: "**وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ**" الله ﷻ ستاسو لپاره داسې جامې پيدا
کړي دي چې د ګرمى نه مو ساتي، "**وَسَرَابِيلَ تَقِيكُمْ بَأْسَكُمْ**" او داسې جامې يې درته پيدا کړي دي چې
جنګ نه مو ساتي. [النحل:۸۱].

تشريح: په دې آيت کې الله ﷻ د خپلو نعمتونو اظهار کوي چې د مالوچو او وړى نه تاسو
کومې جامې جوړوئ په دې سره ځانونه د ګرمى نه بچ کوئ او د اوسپنې نه زغرې جوړوئ کوم چې په
جنګ کې استعمالوی، دا ټول د الله ﷻ له لوري نعمتونه دي، همدغو شيانو ته الله ﷻ دغه صلاحيتونه
ورکړي دي، ليکن سوال پيدا کيږي چې دلته د کېږې غرض دا بيان شوى دى چې په دې سره تاسو د
ګرمى نه ځانونه بچ کوئ، حالانکې انسان د ګرمى او يخنى دواړو څخه ځان بچوي؟ نو جواب دا دى
چې عرب يو ګرم وطن دى، هلته د واورې سوچ هم نه کيږي، په قرآن کريم کې د عربو د عادت او
ضرورت بيان وشو، نو ځکه يې د ګرمى ذکر وکړو، مولانا اشرف على تهانوي ؒ دويم جواب کړى
دى چې ددې سورت په شروع کې: "لكم فيها دفء" فرمايل شوي دي چې د يخنى نه پکې بچ کېدلى شي،
او اوس يې ووېل: (تقيكم الحر) تاسو د ګرمى نه هم پکې بچ کېدلى شئ، دغه ډول دواړه موسمونه يې
بيان کړل

د سپينې جامې اغوستلو ترغيب

"وعن ابن عباس رضى اللـه عنهما: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ الْبَسُوا مِنْ ثِيَابِكُمُ الْبَيَاضَ، فَإِنَّهَا مِنْ خَيْرِ ثِيَابِكُمْ" د عبد
الله بن عباس ؓ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو سپينې جامې
اغوندئ، ځکه چې دا ډېرې ښې جامې دي، "وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ" او هم په دې سپينو جامو کې خپلو مړو ته
کفن ورکوئ؛ "رواه أبو داود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

Maktaba Tul Ishaat. com

تشريح: البسوا من ثيابكم البياض: سپينې جامې اغوندئ! په يو بل روايت كې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى، هغه د نبي كريم ﷺ ارشاد نقل كړى دى چې الله ﷻ جنت سپين جوړ كړى دى او الله ﷻ ته سپين رنګ خوښ دى، د ملا علي قاري رحمه الله نه نقل دي چې سپينې جامې اغوستل د تواضع او عاجزۍ دليل دى، سپين رنګ فطري رنګ دى، دې طرفته په قرآن كريم كې هم اشاره ده "فطرة الله التي فطر الناس عليها" جومات ته د راتللو لپاره يا په ديني مجلس وغيره كې د شركت پرمهال سپينې جامې اغوستل مستحب دي، د جمعې په ورځ يا د اختر په ورځ هم سپينې جامې اغوستل مستحب دي، ليكن د څينو فقهاوو په نزد د اختر په ورځ يا د جمعې په ورځ دې هغه جامې واغوندي چې دده سره تر ټولو ښې جامې وي، لكه څرنګه چې د رسول الله ﷺ نه د جمعې او اختر په ورځ سرو پېڅو والا (حاشيو والا) څادر اغوستل ثابت دي

د ساينس په نزد هم سپينه جامه صحت ته زياته ګټه رسوي:

ساينس هم دا وايي چې سپينه جامه د موسمي تغيراتو مقابله كوي، په سخته ګرمۍ كې سپينه جامه نه ګرميږي، دغه شان په سخته يخنۍ كې نه يخيږي، دغه شان څوك چې سپينې جامې اغوندي هغه ته د سرطان كنسر مرض نه لګيږي، د هوميو پيتهي اصولو مطابق سپينه جامه اغوستل د زړه، دماغو او څرمنې ساتنه كوي

په سپينو جامو كې خپل مړي ښخوئ!

"وعن سَمُرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: اَلْبَسُوا الْبَيَاضَ، فَإِنَّهَا أَطْهَرُ وَأَطْيَبُ" د سمره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: سپينې جامې اغوندئ، څكه چې دا ډېرې پاكې او صفا وي، "وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ" او په سپينو جامو كې خپلو مړو ته كفن وركوئ "رواه النسائي والحاكم، وقال: حديث صحيح".

تشريح: فانها أطهر وأطيب: سپينه جامه ډېره صفاء او پاكيزه وي، سپينه جامه زر خيرنه كيږي، ددې د صفايي هم ډېر خيال ساتلى شي، ددې برعكس رنګينه كپړه انسان تر ډېره حده پورې اغوندي چې په هغې پورې ډېرې خيرې لګېدلې وي، علامه قطب الدين شارح مشكوة رحمه الله فرمايي: اكثر وخت سپينه جامه هغه خلك اغوندي چې سليم الطبع، د ښه اخلاقو او صفاتو څښتن وي.

كفنوا فيها موتاكم: خپل مړي په سپينو جامو كې ښخوئ! او دا څكه چې په دې وخت كې د مړي واسطه د پرښتو سره راځي، نو په مجلس كې د حاضرېدو پرمهال سپينه جامه اغوستل مستحب دي

نبي كريم ﷺ سره جامه اغوستې وه

"وعن البراء رضي الله عنه، قَالَ: كَانَ رسول الله ﷺ مَرْبُوعاً" د براء رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ قد درميانه وو، "وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مَا رَأَيْتُ شَيْئاً قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهُ" او ما هغه په سور لباس كې ليدلى دى، هغه وخت د هغه د ښايست تاته څه ووايم، ما د هغه نه هيڅوك هم زيات ښايسته نه دى ليدلى متفق عليه

لغوي تحقيق:

مربوعاً: درميانه قد والا.

تشريح مربوعاً: درميانه قد والا، په يو بل روايت کې دي: "أحسن الناس وجهاً وأحسنه خلقاً ليس بالطويل الذاهب ولا بالقصير" رسول الله ﷺ تر ټولو زيات ښکلی وو، په اخلاقو کې هم تر ټولو زيات ښه وو، نه زيات اوږد قد والا وو او نه زيات لنډ قدوالا وو، حلة حمراء: سره جوړه، لنګ او څادر دواړو ته وايي.

سوال: په شريعت کې سور رنګ د سړو لپاره منع دي. لکه څرنګه چې په يو روايت کې دي چې عمران بن حصين ﷺ فرمايي: نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: خبردار! سره جوړه مه اغوندئ! دا شيطان ته خوښ رنګ دی، د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ به سور رنګ نه خوښولو، يو ځل يو کس د سور رنګ جوړه اغوستې وه، هغه کس په رسول الله ﷺ باندې سلام واچولو، نو رسول الله ﷺ ورته د سلام جواب ورنه کړو، دغه شان په يو بل روايت کې دي چې يو کس سره جامه اغوستې وه، نو رسول الله ﷺ وليدلو، ورته يې وفرمايل: دا کپړه مه اغونده! ځکه چې دا د کفارو جامې دي؟

جواب علامه ابن قيم رحمه الله ددې جواب داسې ورکوي: په کومو رواياتونو کې چې د رسول الله ﷺ نه د سري جوړې اغوستلو ذکر دی، هلته مکمل ټوله جامه مراد نه ده، بلکې صرف خنډې پيڅې به يې د سور رنګ وې، هغه ترې مراد دي، دغه شان علامه ابن حجر رحمه الله هم په يو ځای کې ليکلي دي چې يمني څادرونه به مکمل سره نه وو، بلکې د هغه خنډې به سرې وې.

د نبي کريم ﷺ د اودس اوبه په صحابه کرامو ﷺ په بدن موښلې

"وعن أبي جُحيفةَ وَهْبِ بن عبد الله ﷺ قال: رأيتُ النبيَّ ﷺ بمكةَ وهو بالأبطحِ في قُبَّةٍ له حمراءَ من أدمٍ" د أبو جحيفة وهب بن عبد الله ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما په مکه کې رسول الله ﷺ وليد چې د څرمنې په يوه سره خيمه کې موجود وو، "فخرج بلالٌ بوَضوئه، فمِن ناضحٍ ونائلٍ" دغه وخت بلال ﷺ د نبي کريم ﷺ د اودس استعمال شوې اوبه بهر ته راوړې او دې کې چې چاته څه ملاو شوې، نو په خپل ځان به يې اپاشي کړې او چاته چې ملاو نه شوې، نو د بل په بدن او جامو يې لاسونه مږل او خپل لاسونه به يې درباندې لوند کړل، "فخرج النبيُّ ﷺ وعليه حُلَّةٌ حمراءُ، كأنّي أنظرُ إلى بياضِ ساقيه، فتوضأ وأذّن بلالٌ" نبي کريم ﷺ دخيمې نه راووتلو او د هغه په بدن مبارك باندې سره چوغه وه، د هغوی د پنډو سپينوالی ګويا زما د سترګو وړاندې اوړي او راوړي، نبي کريم ﷺ اودس وکړو او بلال ﷺ آذان وکړو. "فجعلتُ أتتبّع فاه هاهنا وهاهنا، يقول يميناً وشمالاً: حيّ على الصلاة، حيّ على الفلاح" ما د هغه مخ ته کتل چې ښي طرفته به يې حي على الصلاة ويل او ګس طرفته به يې حي على الفلاح ويل، "ثمّ رُكِزت له عَنَزةٌ، فتقدّم فصلّى يمرّ بين يديه الكلبُ والحمارُ لا يُمنعُ" بيا نبي کريم ﷺ ته د سترې په طور يوه نيزه ښخه شوه، نبي کريم ﷺ مخکې شو، خلکو ته يې په جماعت سره

Maktaba Tul Ishaat. com

لمونځ ادا کړو، د دوی وړاندې به سپې او خر تیرېدو، لیکن دوی به خپل لمونځ نه ماتولو. متفق علیه

"العنزة: بفتح النون، نحو العكازة" د «العنزة» معنی ده: نېزه.

تشریح: هو بالأبطح: دا د یو ځای نوم دی، ددې بل نوم وادي محصب هم ده، ابطح په اصل کې هغه ځای ته ویل کیږي چې زیاتې اوبه پکې روانې وي، یعنې خوړونه وي، د بارانونو اوبه به هلته تیرېدې

فمن ناضح ومن نائل: یعنې کومو خلکو ته چې اوبه نه وې ملاو شوې، ددې خلکو په لاسونو به هغو خلکو د خپلو لاسونو نه اېپاشي وکړه کومو ته چې اوبه ملاو شوې وې، ددې پوره وضاحت په یو بل روایت کې دی چې کومو خلکو ته اوبه ملاو نه شوې، هغو خلکو د خپلو ملګرو لانده لاسونه په خپلو بدنونو ومږل، **"ثم رکزت له عنزة"** رسول الله ﷺ ته بیا یوه نېزه ښخه کړی شوه، که دیوال وغیره نه وي نو باید چې امام خانته ستره ولګوي، بیا د هغه په وړاندې تیرېدلو کې څه حرج نشته، که دا ستره صرف د امام په وړاندې وي، نو بیا هم کافي ده، د ټولو وړاندې ضروري نه ده، لکه څرنګه چې لفظ د «رکزت» نه معلومیږي چې دا ستره د رسول الله ﷺ په وړاندې ښخه وه

رسول الله ﷺ شنې جامې هم اغوستې دي

"وعن أبي رمثة رفاعة التيمي ﷺ، قال: رأيت رسول الله ﷺ وعليه ثوبان أخضران" د أبو رمثة رفاعة تیمي ﷺ نه روایت دی هغه فرمایي چې ما رسول الله ﷺ په داسې حالت کې ولید چې په هغه باندې دوه شنې جامې وې. رواه أبوداود والترمذي بإسناد صحيح

تشریح: ددې حدیث په شان د یعلی بن امیه روایت هم دی چې په هغې کې دي: ما رسول الله ﷺ په طواف کولو ولیدلو چې شین پټو والا څادر یې په سر کړی وو، سول الله ﷺ دغه څادر د ښي طرفه لاندې طرف ته راویستلی وواو په اوږه یې اچولی وو، دا خبره وړاندې ذکر شوه چې دا څادر صرف د پیڅو په اعتبار رنګین وو، ټول څادر یې شین نه وو، په عربو کې رنګینه جامه اغوستل رواج وو.

د راوي ابورمثه رفاعه تیمي ﷺ حالات:

اصلي نوم یې رفاعة ﷺ دی، کنیت یې ابورمثة دی، د تیم قبیلې یې تعلق ساتلو، غالباً د فتح مکې نه وروسته مسلمان شوی وو، دوی د رسول الله ﷺ د دین متعلق پوښتنې وکړې، رسول الله ﷺ په کرسۍ/ چوکۍ کېنولو او د دین تعلیم یې وتله ورکړو، دوی د جهاد سره ډېر شوق درلود، هغه به دعاء کول چې اې الله! ماته داسې مرګ نصیب کړې چې د مسلمانانو لپاره یوه نمونه وي او د هغوی لپاره د پسخېدو قابل وي، همدغسې وشو کله چې صحابه کرامو په کابل باندې حمله وکړه، په سجستان کې یې ټوله شپه په عبادت تېره کړه، کله چې سهار شو، نو فوځیان ترې وړاندې تللي وو او دی هلته پاتې شو، تردې چې د دښمن فوځ راغلو اودی یې هلته ذبح کړو، د دوی نه یو څو روایات منقول دي چې د هغې په مقدار کې د علماوو اختلاف دی

د مکې د فتحې په ورځ رسول الله ﷺ توره پګړۍ په سر کړې وه

"وعن جابر رضي الله عنه: أَنَّ رسول اللّـــه ﷺ دَخَلَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د مکې د فتح په ورځ حرم شريف ته داخل شو، "وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ" او د هغوی په سر باندې توره پګړۍ وه. رواه مسلم

تورې پګړۍ د صحابه کرامو څخه ثابتې دي:

تشريح: د پګړۍ د رنګ په باره کې شريعت کوم خاص قيد نه دی لګولی چې هر رنګ وي خو چې پګړۍ وي او د سنت مطابق وي، منع به هغه وخت وي چې کله کوم مخصوص رنګ سنت شمار کړی شي او دغه ډول رنګ نه استعمالولو والا باندې طعن او بد رد وويل شي، دغه ډول د جابر رضي الله عنه نه هم روايت دی چې رسول الله ﷺ به د اخترونو په ورځ توره پګړۍ استعمالول، دغه ډول د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه توره پګړۍ استعمالول ثابت دي، علی رضي الله عنه چې کله د خيبر د جهاد لپاره روان شو، نو دوی هم توره پګړۍ په سر کړې وه او د هغه شمله يې شاته يا چپ طرفته اړولې وه.

انور زين رحمه الله فرمايي: موږ ته حسن بن علی رضي الله عنهما په داسې حال کې خطبه راکړه چې دوی توره پګړۍ په سر کړې وه، دغه شان راوي وايي چې ما خپله عبد الله بن زبير رضي الله عنه وليدلو چې توره پګړۍ يې په سر وه، دغه شان عمار بن ياسر رضي الله عنه، ابو درداء رضي الله عنه، عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه، سعيد بن مسيب رضي الله عنه، حسن بصري رحمه الله، عبيده بن جراح رضي الله عنه او اسود رحمه الله دوی ټولو به توره پګړۍ استعمالول.

د رسول الله ﷺ د پګړۍ شمله د دواړو اوږو ترمنځ وه

"وعن أبي سعيد عمرو بن حُرَيْثٍ رضي الله عنه، قَالَ: كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رسول الله ﷺ وعليه عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ" د ابو سعيد عمرو بن حريث رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ د ليدو منظر اوس هم زما د سترګو وړاندې دی چې په سر يې توره پګړۍ وه، "قَدْ أَرْخَى طَرَفَيْهَا بَيْنَ كَتِفَيْهِ" او دواړه طرفونه يې د اوږو ترمينځ ځوړند وو. رواه مسلم

"وفي رواية لَهُ: أَنَّ رسول الله ﷺ خَطَبَ النَّاسَ" او په يو بل روايت کې دي چې رسول الله ﷺ يو ورځ خلکو ته خطبه ورکړه، "وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ" او د هغوی په سر باندې توره پګړۍ وه.

لغوي تحقيق:

ارخی: أرخی إرخاء الشئ، يو شی ځوړندول

تشريح: د احاديثو په ذخيره کې د رسول الله ﷺ د پګړۍ باره کې درې رنګونه ملاويږي: (۱) تور، (۲) سپين (۳) زيړ، ليکن د رنګ هيڅ قيد نشته، هر رنګ پګړۍ په سر کول جائز دي، د يو رنګ تخصيص جائز نه دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

دپګړۍ په سر کولو فضيلت:

دپګړۍ په سر کولو ډېر زيات فضيلتونه راغلي دي، مثلاً: په يو روايت کې دي چې پګړۍ د مؤمن ډېرې وقار او عزت دی، په يو بل ځای کې يې وفرمايل چې پګړۍ په سر کوئ، په دې سره حلم او بردباري زياتيږي، په يو بل روايت کې دي چې پګړۍ په سر کوئ چې دا د اسلام نخښه ده، د کافرا و مسلمان ترمينځ توپير په دې باندې دی.

د راوي عمرو بن حريث رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې عمرو رضي الله عنه دی، کنيت يې ابوسعيد دی، د پلار نوم يې حريث دی، د قريشو بني مخزوم قبيلې سره يې تعلق دی، د رسول الله ﷺ زيارت يې کړی دی، د ځينو علماوو په نزد د رسول الله ﷺ د وفات پرمهال د دوی رضي الله عنه عمر ۱۲ کاله وو، د ژوند اخري وخت يې په کوفه کې تېر کړو، بيا وروسته د کوفې امير جوړ شو، په ۸۵ هجري کې وفات شو، ۱۸ احاديث ترې منقول دي

رسول الله ﷺ ته په درې کپړو کې کفن ورکړی شو

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كُفِّنَ رسول الله ﷺ في ثلاثة أثواب بيض سَحُولِيَّةٍ مِنْ كُرْسُفٍ" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ته په درې سوتي کپړو کې کفن ورکړی شو چې په سحوليه کې جوړې شوي وې، "لَيْسَ فِيهَا قَمِيصٌ وَلَا عِمَامَةٌ" په هغې کې کميس او پګړۍ نه وه. متفقٌ عَلَيهِ

"السَّحُولِيَّةُ: بفتح السين وضمها وضم الحاء المهملتين: ثِيَابٌ تُنْسَبُ إِلَى سَحُول: قَرْيَةٌ بِالْيَمَنِ" د (السحوليه) نه مراد سحول ځای دی چې په يمن کې دی، دغه کپړې به په دې ځای کې جوړېدې، "وَالكُرْسُف: القُطْنُ" او کرسف مالوچ ته وايي

تشريح: رسول الله ﷺ ته په يمني څادر کې کفن ورکړی شو، کوم چې د سحول جوړ شوی وو، دا په يمن کې د يوې علاقې نوم دی، علامه عيني رحمه الله فرمايي: د رسول الله ﷺ په زمانه کې د يمن څادر ډېر زيات مشهور وو، د ورې نه به جوړېدل او په پېښو کې به يې شنې يا سرې پټې وې، علماء فرمايي: په يوه کپړه کې مړي ته کفن ورکول واجب دي، په درې کپړو کې سنت دی، لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ ته په درې کپړو کې کفن ورکړی شو، په دې کې پګړۍ او کميس نه وو.

رسول الله ﷺ نقشه داره څادر هم استعمال کړی دی

"وعنها، قالت: خرج رسول الله ﷺ ذات غَدَاةٍ، وَعَلَيْهِ مِرْطٌ، مُرَحَّلٌ مِنْ شَعْرٍ أَسْوَد" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ د کور نه ووتلو او په ځان يې داسې کمبله اچولې وه چې د اوښ د تورې ورې نه جوړه شوې وه، د ګلونو د نقشو په ځای پکې د کجاوې نقشې وې. رواه مسلم

"المِرْطُ: بكسر الميم: وَهُوَ كِسَاءٌ" د (المرط) نه مراد کمبله ده، "المُرَحَّلُ: بالحاء المهملة: هُوَ الَّذِي فِيهِ صورةُ رحال الإبل وهِيَ الأَكْوَارُ" د (المرحل) نه مراد هغه کمبله ده چې د اوښ د کجاوې شکلونه پکې وي

تشريح: په ځينو رواياتو کې (مرجل) په جيم سره هم راغلي دی، ليکن د عامو محدثينو په نز
زيات صحيح په (ح) سره دی، يعنې هغه څادر چې د اوبن د تورو وښتانو څخه جوړ وي او خ
علماء فرمايي: ممکنه ده چې په جوړښت کې د چېلۍ يا ګډې تور وښتان هم استعمال شوي وي
په دې وجه ورته د تورو وښتانو څادر ويل کيږي، کنه نو عام طور به رسول الله ﷺ (صوف يا خز)
جوړ شوی مضبوط څادر استعمالولو.

رسول الله ﷺ د وړی نه جوړه شوې چپن استعمال کړې ده

"وعن المغيرة بن شُعْبَةَ ﷺ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ رسول الله ﷺ ذاتَ لَيْلَةٍ في مسير، فَقَالَ لي: أَمَعَكَ مَاءٌ؟" د مغيرة بن
شعبه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه شپه زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې د سفر په وخت کې
حاضر وم، نبي کريم ﷺ ماته وفرمايل: ايا ستاسو سره اوبه شته؟ "قلتُ: نَعَمْ، فَنَزَلَ عَنْ رَاحِلَتِهِ فَمَشَى حَتَّى
تَوَارَى في سوادِ اللَّيْلِ" ما ورته وويل: هو، شته! نبي کريم ﷺ د خپلې کجاوې نه راښکته شو، په مخ روان
شو، تردې چې د شپې په تياره کې پټ شو، "ثُمَّ جَاءَ فَأَفْرَغْتُ عَلَيْهِ مِنَ الإِدَاوَةِ" نبي کريم ﷺ بيا واپس راغی،
ما د لوښي څخه اوبه اچول شروع کړو، "فَغَسَلَ وَجْهَهُ وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ مِنْ صُوفٍ" د هغوی په بدن باندې د وړی يوه
چپن وه، "فَلَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يُخْرِجَ ذِرَاعَيْهِ مِنْهَا حَتَّى أَخْرَجَهُمَا مِنْ أَسْفَلِ الْجُبَّةِ" نبي کريم ﷺ د لستوڼي نه خپل لاسونه نه
شو راويستلی، بيا يې د چپنې لاندې خپل لاسونه مبارک راوويستل، "فَغَسَلَ ذِرَاعَيْهِ وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ، ثُمَّ أَهْوَيْتُ
لأَنْزِعَ خُفَّيْهِ" بيا يې خپل مخ مبارک او لاسونه ووينځل، ما اراده وکړه چې زه ترې موزې وباسم، "فَقَالَ:
دَعْهُمَا فَإِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ، وَمَسَحَ عَلَيْهِمَا" نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: دا پرېږده! ما دا موزې په پاکوالي کې
اغوستې دي او بيا يې په هغې باندې مسح وکړه. متفقٌ عَلَيْهِ

"وفي رواية: وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ شَامِيَّةٌ ضَيِّقَةُ الْكُمَّيْنِ" او په يو بل روايت کې داسې دي چې د رسول الله ﷺ په
بدن مبارک باندې يوه شامي چپنه وه چې لستوڼي يې ډېر زيات تنګ وو.

"وفي رواية: أَنَّ هذهِ القَضِيَّةَ كَانَتْ في غَزْوَةِ تَبُوكَ" او په يو بل روايت کې داسې هم شته چې دغه واقعه په
غزوه تبوک کې پېښه شوې وه.

تشريح: حتى توارى في سواد الليل: رسول الله ﷺ د شپې په تياره کې پټ شو، رسول الله ﷺ قضاء
حاجت ته تشريف وړی وو، بهتره دا ده چې د قضاء حاجت لپاره انسان څومره لرې تللی شي بايد لاړ
شي، تردې پورې چې د سترګو له نظره هم پټ شي.

د رسول الله ﷺ په زمانه کې د وړی چپن استعمالول د تواضع دليل و:

وعليه جبة من صوف: د رسول الله ﷺ په بدن باندې د وړی چپن وه، علماء فرمايي: د رسول الله
ﷺ په زمانه کې د وړی نه جوړه شوې کپړه معمولي کپړه حسابېده، مطلب دا چې رسول الله ﷺ
معمولي نه معمولي کپړه هم استعمال کړې ده. دا د تواضع او سادګۍ دليل دی، باعث فضيلت

Maktaba Tul Ishaat. com

خبره هم ده، اصل په کېږه کې تواضع ښه کار دی
فلم يستطع ان يخرج ذراعيه: رسول الله ﷺ ددې کميس لستوني نه خپل لاسونه مبارک را ويستل ليکن ويستلې يې نه شول، علماء فرمايي: د سفر پرمهال د تنګو لستونو کميس مستحب دی او په حضر کې مستحب دا ده چې لستوني بايد خلاص وي، دا د غزوه تبوک واقعه ده. يعنې د سفر واقعه وه
ثم اهويت لأنزع خفيه: بيا زه د رسول الله ﷺ موزې مبارکو ويستلو لپاره رابنکته شوم. رسول الله ﷺ په موزو باندې مسح وکړه، د ائمه اربعه وو په نزد په موزو باندې مسح کول متفق عليه مسئله ده. د احنافو په نزد د مقيم لپاره يوه شپه يوه ورځ او د مسافر لپاره درې شپې او درې ورځې مسح کول جائز ده

باب إستحباب القميص

كميس اغوستل مستحب دي

"عن أم سلمة رضي الله عنها، قالت: كَانَ أَحَبُّ الثِّيَابِ إِلَى رسول الله ﷺ القَمِيص" د ام سلمه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ته د ټولو نه ډېرې خوښې جامې کميس وو، "رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن".

باب صفة طول القميص والكم والإزار وطرف العمامة وتحريم إسبال شيء من ذلك على سبيل الخيلاء وكراهته من غير خيلاء

د کميس کيفيت، د لستونو او پرتوګ کيفيت او د پګړۍ کيفيت به څنګه وي او دا ذکر شوي شيان لاندې ساتل د تکبر له وجې حرام دي او د تکبر نه بغير مکروه دي

"عن أسماء بنتِ يزيد الأنصارية رَضِيَ الله عنها، قالت: كَانَ كُمُّ قَمِيص رسول الله ﷺ إِلَى الرُّسْغ" د اسماء بنت يزيد انصاريه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ د کميس لستوني به تر مړوند پورې وو.
"رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن".

تشريح: كان كم قميص رسول الله ﷺ الى الرسغ: د رسول الله ﷺ لستوني د لاس تر مړوند پورې وو، دلته يو سوال دی هغه دا چې په يو بل روايت کې خو دي چې د رسول الله ﷺ لستوني د لاس تر ګوتو پورې وو؟ جواب دا دی چې ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: تر مړوند پورې لستوني جوړول سنت طريقه ده، خو که څوک يې تر ګوتو پورې جوړ کړي، نو دا هم ثابت دي، ممکنه ده چې داسې کومه چينه به وه چې د هغې لستوني به تر ګوتو پورې وو، يا به رسول الله ﷺ د يخنۍ په وجه دغسې کميس استعمال کړی وي، علامه ابن قيم رحمه الله فرمايي: عامو حالاتو کې به د رسول الله ﷺ د کميس لستوني تر مړوند پورې وو، د سفر په دوران کې به د رسول الله ﷺ لستوني تنګ وو، لستوني به د لاس تر مړوند پورې وو، د يادونې وړ ده چې د رسول الله ﷺ لستوني به د ګوتو نه زيات نه وو، علي ﷺ فرمايي: د رسول الله ﷺ لستوني به د ګوتو نه زيات نه وو.

د تکبر په وجه جامه يا څادر ځوړندول حرام دي

"وعن ابن عمر رضي اللـــه عنهما: أَنَّ النبيَّ ﷺ، قَالَ: مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللهُ إِلَيْهِ يَوْمَ القِيَامَةِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې خپلې جامې په غرور او تکبر سره په ځان پسې راکاږي، الله ﷻ به د قيامت په ورځ هغه ته د رحمت په نظر ونه ګوري. "فَقَالَ أبو بكر: يَا رسولَ الله، إنَّ إزَارِي يَسْتَرْخِي إلاَّ أنْ أتَعَاهَدَهُ" ابوبکر صديق رضي الله عنه وفرمايل: يا رسول الله ﷺ زما پرتوګ د بجلکو نه لاندې خپله راځي، مګر دا چې زه يې راکاږم، "فَقَالَ لَهُ رسولُ الله ﷺ: إنَّكَ لَسْتَ مِمَّنْ يَفْعَلُهُ خُيَلاَءَ" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: ته د هغو کسانو څخه نه يې چې دا عمل د غرور او تکبر له امله کوي. رواه البخاري وروى مسلم بعضه.

لغوي تحقيق:

خيلاء: تکبر او غرور ته وايي.

تشريح د حديث مطلب دا دی چې که کرته وي يا لنګ وي يا جامه وي يا څادر وغيره وي نو بې له قصد او ارادې څخه بغير که چېرته د بجلکو نه لاندې ځوړند شي، نو په شرعي توګه ورته نقصان نه رسيږي، بيا په ځانګړې توګه هغه کس چې غرور پکې نه وي، ليکن بيا هم په دې صورت کې متکبرينو سره د مشابهت له وجې ځان لرې ساتل پکار دي. د همدې وجې لنګ، پايجامه، پرتوګ يا څادر وغيره د بجلکو / ګيټو نه لاندې ځوړندول حرام دي.

د بجلکو نه لاندې جامه ځوړندول حرام دي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رسولَ اللـــه ﷺ، قَالَ: لاَ يَنْظُرُ اللهُ يَوْمَ القِيَامَةِ إِلَى مَنْ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ به د قيامت په ورځ هغه کس ته د رحمت په نظر ونه ګوري، "جَرَّ إزَارَهُ بَطَراً" څوک چې خپلې پيڅې د ګيټو / بجلکو نه لاندې په ځان پسې د تکبر له امله راکاږي. متفقٌ عَلَيهِ

لغوي تحقيق:

بطراً: تکبر کول، حيرانېدل، د زيات نعمت په وجه تکبر کول.

تشريح بطراً: بطر معنی دا ده چې بنده د الله ﷻ ورکړی شوي نعمتونو باندې انکار وکړي، د هغې شکر ادا نه کړي، د هغې لازمي نتيجه تکبر ده، ددې تکبر ظاهري علامه په جامو کې دا ده چې انسان خپلې جامې په ځان پسې راکاږي. معلومه خبره ده چې د غرور او تکبر په وجه پايجامه يا پرتوګ وغيره د بجلکو نه لاندې ځوړندول حرام دي، که تکبر نه وي، بيا هم حرام دي

کومه حصه چې د بجلکو نه لاندې وي، هغه به په جهنم کې وي

"وعنه، عن النبيِّ ﷺ، قَالَ: مَا أسْفَلَ مِنَ الكَعْبَيْنِ مِنَ الإزَارِ" د أبو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې

Maktaba Tul Ishaat. com

رسول الله ﷺ وفرمايل: د بجلکو نه لاندې حصه چې د لنګ يا پرتوګ وي، "فَفِي النَّارِ" هغه به په اور کې سوځي. رواه البخاري

تشريح: د عربو په معاشره کې به چې څا څومره زياته اوږده او ځوړنده جامه اغوستل. هغه به د مشرۍ علامه ګڼل کېدل او دا د تکبر علامه هم ده، په دې باندې سخت وعيد راغلو چې کومه جامه لاندې ځوړنده وي، هغه به په جهنم کې سوځي

د جامې نه مراد جامه اغوستونکی سړی دی:

ددې حديث نه په ظاهره معلومېږي چې جامه به په جهنم کې وي. ليکن ددې نه مراد هغه انسان دی چې دا ډول جامه يې اغوستې وي چې هغه د بجلکو نه هم لاندې ځوړنده وي، دغه جامه به په جهنم کې وي، نو جامه اغوستونکی خو به په طريق اولی سره په جهنم کې وي، همدغه سوال د نافع رحمه الله نه وشو، هغه ورته په جواب کې وفرمايل: جامو څه ګناه کړې ده، ګناه خو د انسان ده، ځکه چې هغه په داسې شکل جامه اغوندي چې پيڅې يې د بجلکو نه لاندې ځوړندې وي

د قيامت په ورځ به الله ﷻ د درې کسانو سره خبرې و نه کړي

"وعن أبي ذر رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: ثلاثةٌ لا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ القِيَامَةِ، وَلاَ يَنْظُرُ إلَيْهِمْ، وَلاَ يُزَكِّيهِمْ، وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ" د ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي: درې کسان داسې دي چې الله ﷻ به د هغوی سره د قيامت په ورځ د رحمت خبرې و نه کړي او نه به ورته د رحمت په نظر وګوري او نه به دوی د ګناهونو نه پاک کړي او دوی ته به سخت دردناک عذاب وي، "قَالَ: فقرأها رسول الله ﷺ ثلاث مِرارٍ، قَالَ أبو ذرٍّ: خَابُوا وَخَسِرُوا! مَنْ هُمْ يَا رسول الله؟" راوي وايي: رسول الله ﷺ دا جمله درې ځله تکرار کړه، ابوذر رضي الله عنه وفرمايل: يا رسول الله ﷺ! تباه او برباد شو، دا خلک څوک دي؟ "قَالَ: المُسْبِلُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: په تکبر سره جامه لاندې ځوړندونکی، "وَالمَنَّانُ" او هغه څوک چې نيکي وکړي بيا په سړي باندې احسان واروي، "وَالمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالحَلِفِ الكَاذِبِ" او خپله سودا د دروغو په قسمونو سره خرڅونکی سړی، "رواه مسلم. وفي رواية لَهُ: المُسْبِلُ إزَارَهُ" او د مسلم په يو روايت کې داسې هم دي چې خپل لنګ لاندې ځوړند ساتونکی

تشريح: په دې حديث کې درې قسمه خلکو ته سخت زيان او تباهي ذکر شوې ده، دا درې واړه کارونه حرام دي چې په دې کې يو خپلې جامې د بجلکو نه لاندې ساتل دي، ددې روايت څخه بغير نور روايات هم شته چې په هغې کې د داسې کس لپاره سخت وعيدونه ذکر شوي دي، په يو روايت کې دي چې د شعبان په پنځلسمه نيټه باندې هر سړي ته بخښنه کيږي، پرته له يو څو کسانو چې په هغې کې يو کس هغه هم دی چې خپل پرتوګ د بجلکو نه لاندې ځوړند ساتي، په يو بل روايت کې دي چې يو کس روان وو په داسې حال کې چې هغه خپل لنګ د زيات تکبر نه لاندې ځوړند ساتلی وو چې په ځان پسې يې راښکلو، الله ﷻ په ځمکه کې دننه ډوب کړو، هغه به تر قيامته پورې په ځمکه کې دننه ځي

اسبال حرام دی

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ، قَالَ: الإِسْبَالُ فِي الإِزَارِ، وَالقَمِيصِ، وَالعِمَامَةِ، مَنْ جَرَّ شَيْئاً خُيَلاَءَ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: خوړند پدل په پرتوګ کې دي او په کميس کې دي او د پګړۍ د شملې په اوږدولو کې دي، څوک چې ددې شيانو څخه يو شی د تکبر له امله ځان پسې راکاږي، "لَمْ يَنْظُرِ اللهُ إِلَيْهِ يَوْمَ القِيَامَةِ" الله ﷻ به د قيامت په ورځ د رحمت په نظر ورته ونه ګوري "رواه أبو داود والنسائي بإسناد صحيح".

تشريح الاسبال: يعنې جامه د شرعي اندازې نه زيات لاندې خوړندول. لکه څرنګه چې په لنګ او پرتوګ کې حرام دی، دغه شان په کرته، پګړۍ وغيره کې هم حرام دی، کوم چې د سنت طريقې او اندازې نه زيات پرېښودلی شي، د کميس لستوڼي بايد د لاس تر مړوند پورې وي او د پګړۍ شمله بايد د ملا تر نيمايي زيات نه وي.

پرتوګ تر نيمايي پونډۍ پورې ترل مستحب دي

"وعن أبي جُرَيٍّ جابر بن سُلَيْمٍ رضي الله عنه، قَالَ: رَأَيْتُ رَجُلاً يَصْدُرُ النَّاسُ عَنْ رَأْيِهِ، لاَ يَقُولُ شَيْئاً إِلاَّ صَدَرُوا عَنْهُ" د أبو جري جابر بن سليم رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي: ما يو کس وليد چې خلک يې تابعداري کوي او هغه چې څه وايي بغير د انکار يې خلک مني، "قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: رَسُولُ الله ﷺ. قُلْتُ: عَلَيْكَ السَّلاَمُ يَا رَسُولَ الله – مَرَّتَيْنِ" ما وويل: دا څوک دی؟ هغوی راته وويل: رسول الله ﷺ دی، ما وويل: (عليك السلام يا رسول الله ﷺ) دوه ځله مې داسې وويل، "قَالَ: لاَ تَقُلْ: عَلَيْكَ السَّلاَمُ، عَلَيْكَ السَّلاَمُ تَحِيَّةُ الْمَوْتَى، قُلْ: السَّلاَمُ عَلَيْكَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: داسې مه وايه چې (عليك السلام) ځکه چې دا د مړو سلام دی، بلکې داسې وايه چې (السلام عليك)، "قَالَ: قُلْتُ: أنْتَ رَسُولُ الله؟ قَالَ: أنَا رَسُولُ الله الَّذِي إِذَا أَصَابَكَ ضُرٌّ فَدَعَوْتَهُ كَشَفَهُ عَنْكَ" ما وويل: تاسو د الله ﷻ پيغمبر يئ؟ هغوی راته وويل: هو! زه د هغه الله ﷻ پيغمبر يم د کوم نه چې تاسو د تکليف په حالت کې سوال وکړئ نو ستاسو نه به تکليف لرې کړي، "وَإِذَا أَصَابَكَ عَامُ سَنَةٍ فَدَعَوْتَهُ أَنْبَتَهَا لَكَ" او کله چې درباندې قحط سالي راشي او د هغه نه سوال وکړئ نو هغه به ستاسو پټې شنه کړي، "وَإِذَا كُنْتَ بِأَرْضٍ قَفْرٍ أَوْ فَلاَةٍ فَضَلَّتْ رَاحِلَتُكَ، فَدَعَوْتَهُ رَدَّهَا عَلَيْكَ" او که چېرته ته په کومه دشته او بيابان کې وې او ستا نه ستا د خوراک والا اوښه ورکه شي او د الله ﷻ نه سوال وکړې، نو هغه الله ﷻ به يې تاسو ته راواپس کړي، "قَالَ: قُلْتُ: اعْهَدْ إِلَيَّ، قَالَ: لاَ تَسُبَّنَّ أَحَداً، قَالَ: فَمَا سَبَبْتُ بَعْدَهُ حُرّاً، وَلاَ عَبْداً، وَلاَ بَعِيراً، وَلاَ شَاةً" ما وويل: يارسول الله ﷺ تاسو ماته څه وصيت وکړئ! راته يې وفرمايل: چاته خيرې او کنځل مه کوه! صحابي فرمايي: بيا ما ددې نه پس چا ته خيرې نه دي کړي، نه ازاد سړي ته او نه غلام ته، نه اوښ ته او نه ګډې ته، "وَلاَ تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئاً، وَأنْ تُكَلِّمَ أَخَاكَ وَأنْتَ مُنْبَسِطٌ إِلَيْهِ وَجْهُكَ، إنَّ ذَلِكَ مِنَ الْمَعْرُوفِ" او لږه (کمه) نيکي هم سپکه او کمزورې مه ګڼه! اګر چې هغه نيکي د خپل مسلمان ورور سره په پراخ او روڼ تندي باندې خبرې کول هم وي، ځکه چې دا هم يوه نيکي ده، "وَارْفَعْ إِزَارَكَ إِلَى نِصْفِ السَّاقِ" او خپل پرتوګ تر نيمايي پونډۍ پورې

Maktaba Tul Ishaat. com

اوچت کړه، "فَإِنْ أَبَيْتَ فَإِلَى الْكَعْبَيْنِ" که بيا دې زړه نه شي، نو تر بجلکو پورې يې ښکته کړه، "وَإِيَّاكَ وَإِسْبَالَ الْإِزَارِ فَإِنَّهَا مِنَ الْمَخِيلَةِ" او ځان د بجلکو نه لاندې د پرتوګ خوړندولو نه ځان وساتې، ځکه چې دا په تکبر کې راځي، "وَإِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الْمَخِيلَةَ" او الله ﷻ تکبر نه خوښوي، "وَإِنِ امْرُؤٌ شَتَمَكَ وَعَيَّرَكَ بِمَا يَعْلَمُ فِيكَ فَلَا تُعَيِّرْهُ بِمَا تَعْلَمُ فِيهِ، فَإِنَّمَا وَبَالُ ذَلِكَ عَلَيْهِ" او که چېرته يو کس تاته خيرې وکړي او يا د هغه څه باره کې پېغور درکړي کوم چې په تا کې وي، نو ته په هغه څه کې پېغور مه ورکوه کوم چې په هغه کې وي، ځکه چې ددې وبال به په تا باندې وي، "رواه أبو داود والترمذي بإسناد صحيح، وقال الترمذي: حديث حسن صحيح".

تشريح يصدر الناس عن رأيه: د يصدر معنی ده: واپس کېدل، ددې جملې مطلب دا دی چې خلك د هغه په رايه او فتوی باندې عمل کوي، "قلت عليك السلام" ما وويل: عليك السلام، رسول الله ﷺ وفرمايل: دا د مړو سلام دی، د جاهليت په زمانه کې به خلکو په دې الفاظو سره مړو ته سلام کولو، په اسلام کې د مړو او ژوندو دواړو لپاره د سلام طريقه هم دا ده چې: (السلام عليکم)، لکه څرنګه چې په يو روايت کې دي چې: "السلام عليكم يا أهل القبور الخ".

پايڅې تر بجلکو پورې ساتلی شي:

إرفع إزارك إلى نصف الساق: د خپل پرتوګ پيڅې تر نيمايي پونډۍ پورې ساته، په دې حديث کې تر نيمې پونډۍ پورې بيان وشو، ځکه چې په دې کې تواضع زياته ده، ليکن تر بجلکو پورې د ساتلو اجازت شته، علامه زرقاني رحمه الله فرمايي: د بجلکو نه پورته دريمه حصه پونډۍ پورې مشروع ده، تر نيمايي پونډۍ پورې سنت ده او تر بجلکو پورې جائز دی.

وإن امرأ شتمك وعيرك بما يعلم فيك: که کوم کس تاته خيرې وکړي يا تاته په کومه داسې خبره باندې عار او پېغور درکړي چې په تا کې وي، نو ته هغه ته په داسې خبره پېغور مه ورکوه چې په هغه کې وي او تاته معلومه وي، د خلکو په مخ کې هغه مه شرموه! البته په تنهايي کې ورته د اصلاح په غرض ووايه.

د راوي ابو جري جابر بن سليم رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې جابر رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې سليم دی، د ځينو په نزد يې نوم سليم او د پلار نوم يې جابر دی، ليکن ابن الاثير (په خپل کتاب اسد الغابة) کې ويلي دي چې زياته صحيح خبره دا ده چې نوم يې جابر دی او د پلار نوم يې سليم دی، کنيت يې ابو جري دی، د عربو بنو تميم قبيلې سره يې تعلق درلود، د اسلام راوړلو واقعه يې په حديث کې تفصيلي طور سره ذکر ده، څه احاديث ترې منقول دي، په بخاري او مسلم کې يې کوم روايت نشته، په ابو داود او ترمذي کې ترې روايت نقل دی.

د بجلکو پټ ساتلو په وجه د لمونځ اعاده کول

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: بينما رجل يصلي مسبل إزاره، قال له رسول الله ﷺ: ((اذْهَبْ فَتَوَضَّأْ)) فَذَهَبَ فَتَوَضَّأَ، ثُمَّ جَاءَ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کس لمونځ کولو او د هغه پيڅې د بجلکو نه لاندې وې، لنګ يې ځوړند وو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: لاړ شه اودس وکړه! هغه لاړو اودس

بې وكړو او بيا راغلو، "فَقَالَ: اذْهَبْ فَتَوَضَّأْ" بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل لاړ شه اودس وكړه، "فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ، مَا لَكَ أَمَرْتَهُ أَنْ يَتَوَضَّأَ ثُمَّ سَكَتَّ عَنْهُ؟" يو كس ورته وويل: يا رسول الله ﷺ! تاسو ولې هغه ته بيا دا امر كوئ چې لاړ شه اودس وكړه، بيا تاسو د هغې نه چوپ شئ؟ "قَالَ: إِنَّهُ كَانَ يُصَلِّي وَهُوَ مُسْبِلٌ إِزَارَهُ" نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: دا به په داسې حالت كې لمونځ كولو چې د هغه لنګ به لاندې ځوړند وو، "وَإِنَّ اللهَ لَا يَقْبَلُ صَلَاةَ رَجُلٍ مُسْبِلٍ" او الله ﷻ د داسې كس لمونځ نه قبلوي چې لنګ لاندې ځوړند وي. "رواه أبوداود بإسناد صحيح على شرط مسلم".

تشريح: **اذهب فتوضأ**: ورشه اودس وكړه، ددې نه ځينې علماء استدلال كوي چې د بجلكو نه لاندې پيڅې ځوړندولو سره بيخې اودس ماتيږي، ليكن جمهور علماء بې په مجاز حمل كوي، ځينو نورو ددې حديث په سند كې كلام كړى دى چې ددې حديث په سند كې ابو جعفر مدني راوي مجهول دى، خو بيا هم د بجلكو نه لاندې پيڅې ځوړندولو باندې سخت نه سخت وعيدات راغلي دي، په يو روايت كې دي چې د جنت خوشبو تر زر ميله پورې محسوسيږي، ليكن په خداى قسم چې د بجلكو نه لاندې پرتوګ ځوړندولو والا به يې محسوسه نه كړي.

د جنګ پر مهال د فخر اظهار جائز دى

"وعن قيس بن بشر التَّغْلِبِي، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبِي -وَكَانَ جَلِيساً لأَبِي الدرداء- قَالَ: كَانَ بِدِمَشْقَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ يقال له سهل بن الحَنْظَلِيَّة، وَكَانَ رَجُلاً مُتَوَحِّداً قَلَّمَا يُجَالِسُ النَّاسَ" د قيس بن بشر تغلبي رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې ماته زما پلار وفرمايل: زما پلار به د أبو درداء رضي الله عنه سره په مجلس كې كېښستلو، هغه فرمايي چې په دمشق كې يو كس وو چې د هغه نوم سهل بن حنظلية رضي الله عنه وو كوم چې د رسول الله ﷺ د اصحابو څخه وو او دى به هميش ځان ته ناست وو، ډېر لږ وخت به د خلكو سره كېښستلو، "إِنَّمَا هُوَ صَلَاةٌ، فَإِذَا فَرَغَ فَإِنَّمَا هُوَ تَسْبِيحٌ وَتَكْبِيرٌ حَتَّى يَأْتِيَ أَهْلَهُ" بس هميش به په لمانځه كې لګيا وو چې د لمانځه نه به فارغ شو، بيا به يې تسبيح او تكبير شروع كړو چې ددې نه به فارغ شو، نو بيا به كور ته راغلو، "فَمَرَّ بِنَا وَنَحْنُ عِنْدَ أَبِي الدَّرْدَاءِ، فَقَالَ لَهُ أَبُو الدرداء: كَلِمَةً تَنْفَعُنَا وَلَا تَضُرُّكَ" يوه ورځ هغه په موږ باندې تېرېدو او موږ د أبو الدرداء رضي الله عنه سره ناست وو، أبو الدرداء رضي الله عنه ورته وفرمايل: كه تاسو موږ ته داسې وصيت وكړئ چې موږ ته پكې خير وي او تاته پكې نقصان نه وي، "قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ الله ﷺ سَرِيَّةً فَقَدِمَتْ، فَجَاءَ رَجُلٌ مِنْهُمْ فَجَلَسَ فِي المَجْلِسِ الَّذِي يَجْلِسُ فِيهِ رَسُولُ اللهِ ﷺ، فَقَالَ لِرَجُلٍ إِلَى جَنْبِهِ" هغه وفرمايل: رسول الله ﷺ د جهاد لپاره يو لښكر روان كړو، كله چې دغه خلك واپس شول، نو په هغوى كې يو كس د نبي كريم ﷺ په مجلس كې حاضر شو په كوم ځاى كې چې رسول الله ﷺ ناست وو، نو په څنګ كې يې ناست ملګري ته وويل: "لَوْ رَأَيْتَنَا حِينَ الْتَقَيْنَا نَحْنُ وَالعَدُوُّ، فَحَمَلَ فُلَانٌ وَطَعَنَ، فَقَالَ: خُذْهَا مِنِّي، وَأَنَا الغُلَامُ الغِفَارِيُّ، كَيْفَ تَرَى فِي قَوْلِهِ؟" كه تا ليدلي واى چې كله موږ د دښمن سره مخامخ شو، نو يو ځوان نېزه پورته كړه او په مقابله كې يې يو كس ته وويل: دا توره واخله زه د غفار قبيلې يو ځوان يم، ددې جملې متعلق به ستا خيال څه وي؟ "قَالَ: مَا أُرَاهُ إِلَّا قَدْ بَطَلَ أَجْرُهُ. فَسَمِعَ بِذَلِكَ آخَرُ، فَقَالَ: مَا

أَيْ بِذٰلِكَ بَأْسًا" هغه كس ورته وويل: زه دا وايم چې دده نېک عملونه تباه او برباد شول، دا خبره بل كس واورېده، هغه وويل: زه خو په دې خبره كې څه باك نه وينم (يعني ددې سړي په دې خبره كې څه باك نشته چې په دې سره د هغه عملونه برباد شي) "فَتَنَازَعَا حَتّٰى سَمِعَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ، فَقَالَ: سُبْحَانَ اللّٰهِ؟ لَا بَأْسَ أَنْ يُؤْجَرَ وَيُحْمَدَ" د هغوى دواړو په دې خبره جګړه شوه، يو به ويل چې عملونه يې خراب دي، بل به ويل عملونه يې صحيح دي، نبي كريم ﷺ دا خبرې واورېدې نو وې فرمايل: الله تعالى پاك دى، په دې كې هيڅ باك نشته، الله ﷻ به اجر هم وركوي او خلك به يې تعريف هم وكړي، "فَرَأَيْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ سُرَّ بِذٰلِكَ، وَجَعَلَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ إِلَيْهِ، وَيَقُولُ: آأَنْتَ سَمِعْتَ ذٰلِكَ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ" نو ما ابو درداء ﷺ وليد چې په دې خبره خوشحاله شو، خپل سر به يې هغه طرفته اوچتولو او فرمايل به يې چې: ايا تاسو دا خبره خپله د رسول الله ﷺ نه اورېدلې ده؟ هغه به ورته فرمايل: هو ما خپله دا خبره د رسول الله ﷺ نه اورېدلې ده. "فَمَا زَالَ يُعِيدُ عَلَيْهِ حَتّٰى إِنِّي لَأَقُولُ لَيَبْرُكَنَّ عَلٰى رُكْبَتَيْهِ" ابو درداء ﷺ به هم: ، و چې دا خبره به يې ورته كول چې تاسو خپله ترې اورېدلې دي، هغه به هم هغسې جواب وركولو، ما ورته وويل: په پښو ورته خان غورځوي. "قَالَ: فَمَرَّ بِنَا يَوْمًا آخَرَ، فَقَالَ لَهُ أَبُو الدَّرْدَاءِ: كَلِمَةً تَنْفَعُنَا وَلَا تَضُرُّكَ، قَالَ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: اَلْمُنْفِقُ عَلَى الْخَيْلِ، كَالْبَاسِطِ يَدَهُ بِالصَّدَقَةِ لَا يَقْبِضُهَا" راوي وايي: يوه ورځ بيا په موږ تېرېدو، ابو درداء ﷺ ورته بيا وفرمايل: كه تاسو ماته يوه داسې خبره وكړئ چې موږ ته فايده ورسيږي او تاسو ته پكې تكليف نه وي، هغه وويل رسول الله ﷺ موږ ته وفرمايل: د هغه سړي مثال چې په خپل اس باندې خرچه كوي، د هغه مثال داسې دى لكه يو كس چې همېش صدقه وركوي او كله هم خپل لاس نه بندوي، "ثُمَّ مَرَّ بِنَا يَوْمًا آخَرَ، فَقَالَ لَهُ أَبُو الدَّرْدَاءِ: كَلِمَةً تَنْفَعُنَا وَلَا تَضُرُّكَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: نِعْمَ الرَّجُلُ خُرَيْمٌ الْأَسَدِيُّ! لَوْلَا طُولُ جُمَّتِهِ وَإِسْبَالُ إِزَارِهِ! فَبَلَغَ ذٰلِكَ خُرَيْمًا" يوه ورځ بيا په موږ باندې تېر شو، نو ابو درداء ﷺ ورته وفرمايل: كه تاسو موږ ته يوه داسې خبره وكړئ چې موږ ته پكې فايده وي او تاسو ته پكې نقصان نه وي، هغه وويل: رسول الله ﷺ فرمايي چې خريم الاسدي ﷺ ډېر ښه سړى دى، خو كه د هغه وېښتان ډېر زيات اوږده نه واى، لنګ يې تر بجلكو لاندې نه راتلى، دا خبره خريم الاسدي ﷺ ته ورسول، "فَعَجَّلَ، فَأَخَذَ شَفْرَةً فَقَطَعَ بِهَا جُمَّتَهُ إِلٰى أُذُنَيْهِ، وَرَفَعَ إِزَارَهُ إِلٰى أَنْصَافِ سَاقَيْهِ" نو خريم الاسدي ﷺ ډېر په تېزى سره چاړه راوخيسته او خپل وېښتان يې تر غوږونو پورې پرې كړل او خپل لنګ يې تر نيمايي پونډۍ پورې پورته كړو، "ثُمَّ مَرَّ بِنَا يَوْمًا آخَرَ فَقَالَ لَهُ أَبُو الدَّرْدَاءِ: كَلِمَةً تَنْفَعُنَا وَلَا تَضُرُّكَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ، يَقُولُ: إِنَّكُمْ قَادِمُونَ عَلٰى إِخْوَانِكُمْ، فَأَصْلِحُوا رِحَالَكُمْ، وَأَصْلِحُوا لِبَاسَكُمْ حَتّٰى تَكُونُوا كَأَنَّكُمْ شَامَةٌ فِي النَّاسِ" يوه ورځ بيا په موږ باندې تېر شو، نو ابو درداء ﷺ ورته وفرمايل: كه چېرته تاسو موږ ته داسې خبره وكړئ چې موږ ته پكې فايده وي او تاسو ته پكې نقصان نه وي، نو هغه وفرمايل: ما د رسول الله ﷺ نه د (يو جنګ نه په واپسى كې) داسې فرمان واورېدو چې تاسو خپلو وروڼو ته ځئ او خپلې خپلې كجاوې صحيح كړئ او په طريقه باندې جامې واغوندئ چې تاسو د خان په شان معلومېږئ، "فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْفُحْشَ وَلَا التَّفَحُّشَ" ځكه چې الله ﷻ بې هوده كارونه او بد تميزي نه خوښوي.

"رواه أبوداود بإسنادٍ حسنٍ، إلاّ قيس بن بشر فاختلفوا في توثيقه وتضعيفه، وقد روى له مسلم" دا حديث امام ابوداود رحمه الله په خپل سند سره روايت کړی دی، مګر د قيس بن بشر په ثقه والي او ضعف کې اختلاف دی او امام مسلم رحمه الله هم دا حديث روايت کړی دی.

تشريح: خذها مني وأنا الغلام الغفاري: د جنګ خوند وڅکه! زه غفاري هلک یم، علماء فرمايي: د جنګ پرمهال سړی د خپلې بهادری تعريف کولی شي چې په دې سره مقصود په دښمن باندې رعب اچول وي، "فأخذ شفرة فقطع بها جمته إلى أذنيه" هغه سمدستي چاړه رواخيسته په دې سره يې د خپل سر وېښتان کټ کړل، په احاديثو کې د وېښتانو درې قسم ذکر راغلی دی: (١) کوم وېښتان چې د اوږو پورې وي هغې ته جمه ويل کيږي، (٢) کوم وېښتان چې د غوږونو پستو او ولو په مينځ کې ځوړند وي دې ته لمه وايي، (٣) کوم وېښتان چې د غوږونو تر پستو پورې وي هغې ته وفره وايي، ددې صحابي رضي الله عنه وېښتان جمه وو، کوم چې رسول الله ﷺ ته خوښ نه وو، دا هم معلومه شوه چې تعلق والا سړي کوتاهي اظهار د هغه د غياب په حالت کې جائز دی، لکه څرنګه چې دلته رسول الله ﷺ د خريم رضي الله عنه په باره کې وفرمايل دا په غيبت کې نه راځي.

د راوي قيس بن بشر تغلبي رحمه الله حالات:

اصلي نوم يې قيس رحمه الله دی، د پلار نوم يې بشر دی، د تغلب قبيلې سره يې تعلق درلود، ابو حاتم رحمه الله فرمايي: د دوی روايات صحيح دي، د دوی څخه په روايات نقل کولو کې هيڅ حرج نشته.

د ګيټو/ بجلکو نه لاندې پيڅې ځوړندول حرام دي

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: إِزْرَةُ الْمُسْلِمِ إِلَى نِصْفِ السَّاقِ" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د مسلمان سړي پرتوګ (لنګ) به د نيمې پونډۍ پورې وي، "وَلَا حَرَجَ – أَوْلَا جُنَاحَ – فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَعْبَيْنِ" او بيا په دې کې هم څه حرج نشته يا يې داسې وفرمايل: په دې کې هم ګناه نشته که د ګيټو او پښو ترمينځ وي، "فَمَا كَانَ أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ فَهُوَ فِي النَّارِ" که تر ګيټو لاندې کومه حصه په لنګ کې پټه وي، هغه به د جهنم په اور کې وي، "وَمَنْ جَرَّ إِزَارَهُ بَطَرًا لَمْ يَنْظُرِ اللهُ إِلَيْهِ" او کوم کس چې خپل لنګ په ځان پسې د تکبر له امله راکاږي داسې کس ته به الله ﷻ د خير په نظر نه ګوري "رواه أبوداود بإسنادٍ صحيحٍ".

تشريح: په دې حديث کې هم د بجلکو نه لاندې پيڅې ځوړندولو باندې شديد وعيد راغلی دی، په يو روايت کې دي چې: يو ځل رسول الله ﷺ د سفيان بن أبي سهل رضي الله عنه ملا ونيوله او وې فرمايل د خپل لنګ (پيڅې) لاندې مه ځوړندوه، ځکه چې الله ﷻ هغه کس نه خوښوي څوک چې خپلې پيڅې لاندې ځوړندې ساتي، "ولا حرج أولا جناح" راوي ته شک دی چې رسول الله ﷺ (ولا حرج) وفرمايل او که (ولا جناح) يې وفرمايل، ليکن په څينو نورو رواياتو کې يې له شکه (ولا جناح) روايت نقل شوی دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

رسول الله ﷺ ابن عمر رضي الله عنه ته وفرمايل: خپل پرتوګ اوچت ساته!

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: مررتُ على رسولِ الله ﷺ وفي إزاري إسترخاءٌ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ زه د رسول الله ﷺ په وړاندې تېر شوم او زما په لنګ کې خوړندوالی وو، "فَقَالَ: يَا عَبدَ اللهِ، ارْفَعْ إزَارَكَ، فَرَفَعْتُهُ" نبي کريم ﷺ راته وفرمايل: خپل لنګ اوچت کړه، ما لږ شان پورته کړو، "ثُمَّ قَالَ: ((زِدْ)) فَزِدْتُ، فَمَا زِلْتُ أتَحَرَّاهَا بَعْدُ" بيا يې راته وفرمايل لنګ اوچت کړه، نو ما خپل لنګ اوچت کړو، ددې نه وروسته به بيا ما خپل لنګ اوچت ساتلو، "فَقَالَ بَعْضُ القَوْمِ: إلَى أيْنَ؟ فَقَالَ: إلَى أنْصَافِ السَّاقَيْنِ" بيا څينو ملګرو د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه چې تر کومه پورې به دې اوچت ساتلو، هغوی ورته وفرمايل: د پونډۍ تر نيمايي پورې. رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

استرخاء: لاندې خوړندول، سست ساتل.

تشريح په دې روايت کې رسول الله ﷺ ابن عمر رضي الله عنه ته ارشاد وفرمايلو چې خپل پرتوګ تر نيمايي پونډۍ پورې ساته، د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې ماته رسول الله ﷺ وفرمايل خپل پرتوګ داسې تره لکه څنګه چې يې پرښتې تړي، پوښتنه وشوه چې هغوی يې څنګه تړي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: تر نيمايي پونډۍ پورې.

دغه ډول د سلمه بن اکوع رضي الله عنه نه روايت دی چې عثمان غني رضي الله عنه به خپل لنګ او پرتوګ تر نيمه پونډۍ پورې ساتلو، فرمايل به يې چې همدغه هيئت زما د آقا محمد رسول الله ﷺ هم وو، همدغه ډول عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه هم فرمايي چې ما د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه چې ناسو د پرتوګ په تړلو کې د رسول الله ﷺ نه کوم ارشاد اورېدلی دی؟ هغه وفرمايل: ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې د مؤمن سړي لنګ او پرتوګ تر نيمايي پونډۍ پورې وي.

ښځې به خپلې بجلکې / ګټنې پټوي

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللهُ إلَيْهِ يَوْمَ القِيَامَةِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې خپلې جامې د کبر او غرور له امله په خپل خان پسې خوړندې راکاږي، نو الله ﷻ به هغه ته د قيامت په ورځ د رحمت په نظر نه ګوري، "فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: فَكَيْفَ تَصْنَعُ النِّسَاءُ بِذُيُولِهِنَّ؟" ام سلمه رضي الله عنها پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ ښځې به څه کوي؟ "قَالَ: ((يُرْخِينَ شِبْراً)) قالت: إذاً تَنْكَشِفُ أقْدَامُهُنَّ. قَالَ: فَيُرْخِينَهُ ذِرَاعاً لاَ يَزِدْنَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: يوه لوېشت دې زيات کړي، هغې وفرمايل: که ددې نه پس هم پښې ښکاري، نو بيا؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: د لاس هومره دې نور هم زيات کړي، "رواه أبُو داود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح" امام ابوداود رحمه الله او ترمذي رحمه الله روايت کړی دی او ويلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح دی.

لغوي تحقيق:

بذيولهن: ذيول جمع د ذيل ده، ددې معنى ده: لمن، د هر شي آخري حصې ته ذيل ويل کيږي.

تشريح: د کټنو! بجلکو نه پورته پيڅې ساتلو حکم صرف د سړو لپاره دی، ښځې په دې حکم کې شاملې نه دي. ښځو ته ددې برخلاف حکم دی، ښځې به پيڅې د کټنو! بجلکو څخه لاندې ساتي لکه څرنګه چې ددې حديث نه معلومه شوه چې کله ام سلمه ﷺ د پيڅو لاندې ساتلو باره کې وعيدات واورېدل، نو د رسول الله ﷺ نه يې پوښتنه وکړه چې د ښځول پاره څه حکم دی؟ ښځې به هم پيڅې پورته ساتي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: نه! ښځې به خپلې بجلکي پټې ساتي، د ښځو د بجلکو پټولو باره کې قاضي عياض رحمه الله پوره اجماع نقل کړې ده، علماء فرمايي چې که د ښځو بجلکي په څادر وغيره باندې نه پټيږي، نو بيا دې موزې استعمال کړي چې په هغې سره پټې شي

باب إستحباب ترك الترفع في اللباس تواضعاً

د عاجزی له خاطره فخريه جامې پرېښودل

"قَدْ سَبَقَ فِى بَابِ فَضْلِ الجُوعِ وَخشُونَةِ العَيْشِ جُمَلٌ تَتَعَلَّقُ بِهذا البَاب" د عيش او عشرت او د لوږې فضيلت په باب کې ددې متعلق څه جملې تيرې شوي دي.

"وعن معاذ بن أنس ﷺ: أنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: مَنْ تَرَكَ اللِّبَاس تَوَاضُعاً للهِ، وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَيهِ" د معاذ بن انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې فخر او تکبر والا لباس د تواضع او عاجزی له امله پرېږدي او ددې عمل په پوره کولو باندې هم قادر وي، "دَعَاهُ اللهُ يَومَ القِيَامَةِ عَلى رُؤوسِ الخَلائِقِ" الله ﷻ به يې د قيامت په ورځ د ټولو خلکو په وړاندې راوغواړي، "حَتَّى يُخَيِّرَهُ مِنْ أيِّ حُلَلِ الإيمَانِ شَاءَ يَلْبَسُهَا" الله ﷻ به اختيار ورکړي چې په ايماني جامو کې يې کومې جامې خوښې وي، هغه دې واغوندي. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن".

تشريح: په يو بل روايت کې دي چې کوم کس سره له دې چې طاقت يې وي ښکلي او ډولي جامې پرېږدي، نو الله ﷻ به هغه ته د اکرام او اعزاز جامه واغوندي، د حديث مطلب دا دی چې کوم کس د ښه ښکلي جامو او کپړو وس لري، ليکن ددې باوجود د الله ﷻ له وېرې يا په آخرت کې د اوچتي درجې تر لاسه کولو په خاطر يا د دنيا ډول او سنګار سپک ګڼلو په خاطر يې پرېښودلو، نو الله ﷻ به ورته په آخرت کې تر ټولو غوره ښکلې او ښايسته جنتي جامې ورپه غاړه کړي.

Maktaba Tul Ishaat. com

باب استحباب التوسط في اللباس ولا يقتصر على ما يزري به لغير حاجة ولا مقصود شرعي

په جامه کښې ميانه روي اختيارول

"عن عمرو بن شعيب، عن أبيه، عن جده ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: إن الله يحب أن يرى أثر نعمته على عبده" د عمرو بن شعيب هغه يې د خپل پلار نه، هغه يې د خپل نيکه نه روايت کوي، نيکه يې فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ په دې خبره ډېر زيات خوشحاليږي چې خپل نعمتونه په خپل بنده باندې ووينې. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: محدثين ددې حديث مطلب داسې بيانوي: کله چې الله ﷻ کوم بنده ته نعمتونه ورکړي، نو هغه ته پکار دي چې دا نعمتونه په استعمال کې راولي، ليکن په استعمال کې بايد مبالغه او اسراف ونه کړي، د غرور او رياکارۍ جذبه بايد پکې نه وي، بلکې په دې نيت يې استعمال کړي چې داد الله ﷻ يو نعمت دی او د الله ﷻ د ورکړي نعمتونو شکر ادا کول پکار دي، هسې نه چې د الله ﷻ د نعمت بې قدري وشي، روحاني علماوو او مشايخ عظامو په دې باندې قياس کړی دی چې کله الله ﷻ کوم بنده ته روحاني علم ورکړي، بايد چې د خلکو په مينځ کې ددې علم اظهار وکړي چې خلک ترې فايده واخلي

باب تحريم لباس الحرير على الرجال، وتحريم جلوسه عليه واستنادهم إليه وجواز لبسه للنساء

د سړو لپاره د وريښمو جامې حرام دي، دغه شان ناسته پاسته پرې کول يا ورته تکيه کېدل هم حرام دي او د ښځو لپاره جائز دي

"عن عمر بن الخطاب ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: لا تلبسوا الحرير" د عمر بن خطاب ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د وريښمو جامې مه اغوندئ! "فإن من لبسه في الدنيا لم يلبسه في الآخرة" ځکه چې کوم کس په دنيا کې وريښم واغوندي داسې کس به په آخرت کې وريښم نه اغوندي متفق عليه.

تشريح: په حديث کې ارشاد دی چې کوم کس په دنيا کې د وريښمو کپړې اغوندي داسې کس به په آخرت کې د جنت جامې نه اغوندي.

يو سوال او څلور جوابونه:

سوال: ايا که جنت ته هم داخل شي، بيا به يې هم وانغوندي؟

جواب: کوم کس چې د ورېښمو جامې اغوستل حلال ګڼي، نو داسې کس به کافر بللې شي او کافرو ته جنتي جامې کله هم نه نصيب کيږي.

دويم: جواب دا دی چې حديث په زجر او تهديد باندې بناء دی چې بايد په دنيا کې سړی ورېښمو جامې اغوستل پرېږدي.

دريم: جواب دا دی چې جنت ته د داخلېدو نه پس به تر يو څه مودې پورې ورباندې حرامې وي بيا به ورته ورکړی شي.

څلورم: جواب دا دی چې په شروع کې به ورنه محروم وي، بيا به ورته ورکړی شي.

د ورېښمو جامې اغوستل حرام دي:

"وعنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ يقول: إنَّمَا يَلْبَسُ الحَرِيرَ مَنْ لاَ خَلاَقَ لَهُ" د عمر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: د ورېښمو جامې هغه کس اغوندي د کوم کس چې په آخرت کې حصه نه وي. متفقٌ عَلَيْهِ

"وفي رواية للبخاري: مَنْ لاَ خَلاَقَ لَهُ في الآخِرَةِ" او د بخاري رحمه الله په يو روايت کې داسې هم دي: د کوم کس حصه چې په آخرت کې نه وي.

"قَوْله: ((مَنْ لاَ خَلاَقَ لَهُ)) أيْ: لاَ نَصِيبَ لَهُ" دا قول چې (من لا الخ) ددې معنی ده: د کوم کس په آخرت کې چې نصيب نه وي.

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې کوم کس په دنيا کې ورېښم اغوندي، داسې کس په حقيقت کې په آخرت عقيده نه لري يا دا مطلب دی چې په دنيا کې کوم کس ورېښم اغوندي داسې کس به په آخرت کې د ورېښمو جامې نه اغوندي، د ورېښمو جامې د سړو لپاره حرام دي او په ګناه کبيره کې راځي، کوم کس چې د مرګ نه وړاندې توبه ونه باسي، ښه خبره ده، کنه نو د جنت څخه به د محرومېدو پوره خطره ده.

څوک چې په دنيا کې د ورېښمو جامې اغوندي جنت کې به يې نه اغوندي:

"وعن أنس ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ لَبِسَ الحَرِيرَ في الدُّنْيَا" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې په دنيا کې ورېښم واغوستل، "لَمْ يَلْبَسْهُ في الآخِرَةِ" داسې کس ته به په آخرت کې ورېښم نه اغوستل کيږي. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: علماوو د سړو لپاره د ورېښمو جامې اغوستل حرام ګڼلي دي، ددې لپاره ګڼ شمېر وجوهات بيان شوي دي: اول دا چې په ورېښمو کې د ښځو او سنګار صفت پروت دی، کوم چې د ښځو کار دی، د سړو کار خو شجاعت او بهادري ده، که سړي هم د ورېښمو استعمال شروع کړي، نو په دوی کې به هم د ښځو صفتونه پيدا شي کوم چې د سړو د مزاج خلاف عمل دی

Maktaba Tul Ishaat. com

دریمه وجه یې دا ده چې د ورېښمو په اغوستلو سره سړي کې تکبر او ريا پيدا کيږي، تکبر او ريا حرام عمل دی

څلورمه وجه یې دا دی چې دورېښمو استعمال سره سړی مشرکانو سره مشابه کیږي ورېښم اکثر مشرکان سړي استعمالوي

پنځمه وجه يې دا ده چې شريعت په سادتوب او صفايي باندې زور راوړی دی، دغه ډول پرتکلفه جامې، قيمتي پوشاک او خوندونه انسان د سادګی څخه وباسي

سره زر او ورېښم په سړو حرام دي:

"وعن علي ﷺ، قَالَ: رأيتُ رسولَ اللهِ ﷺ أَخَذَ حَرِيراً، فَجَعَلَهُ فِي يَمِينِهِ، وَذَهَباً فَجَعَلَهُ فِي شِمَالِهِ" د علي ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ وليد چې په ښي لاس کې يې ورېښم ؤ او په بل لاس کې يې سره زر ؤ، "ثُمَّ قَالَ: إِنَّ هَذَيْنِ حَرَامٌ عَلَى ذُكُورِ أُمَّتِي" او وې فرمايل: دا دواړه شيان زما د امت په نارينه وو باندې حرام دي "رواه أبوداود بإسنادٍ صحيحٍ".

تشریح إن هذين حرام على ذكور أمتي: دا دواړه شيان (ورېښم او سره زر) زما د امت په سړو باندې حرام دي، علماء فرمايي: د سړو په حکم کې وړوکي ماشومان هم داخل دي، ماشومان اګرچې مکلف نه دي، ليکن د دوی په حق ددې شيانو د حرمت تعلق هغوی ته ددې شيانو اغوستلو والا سره دی چې کوم ماشوم سره زر يا ورېښم اغوندي يا واچوي، نو ددې وبال به د هغه په مشرانو وي، بلکه دا چې د سړو زرو نه مراد د سرو زرو کالي دي، که لوښي سامان وغيره ترې مراد شي، بيا د هغې استعمال د سړو او ښځو دواړو لپاره حرام دی

د راوي علي ﷺ حالات:

اصلي نوم يې علي ﷺ دی، د پلار نوم يې ابوطالب دی، حيدر يې لقب دی، کنيت يې ابو الحسن او ابوتراب دی، د مور نوم يې فاطمه وه، علي ﷺ نجيب الطرفين هاشمي وو، د رسول الله ﷺ رشتوني د تره زوی وو، د بعثت نه لس کاله وړاندې پيدا شو، تقريباً د لسو کالو په عمر کې په اسلام مشرف شو، ځينې وايي: د خديجې ﷺ نه وروسته ابوبکر ﷺ مسلمان شو، ځينې وايي چې علي ﷺ مسلمان شو، په مکه معظمه کې ديارلس کاله د رسول الله ﷺ سره وو، بيا يې مدينې منورې ته هجرت وکړو او په ټولو جهادونو کې د رسول الله ﷺ سره شريک شوی دی، د عثمان ﷺ د شهادت وروسته په ۲۱ ذي الحجه د دوشنبې په ورځ نبوي جومات کې څلورم خليفه جوړ شو

وفات: په څلوېښتمه هجري کې يې د سهار جمع وکړل چې ابن ملجم نومې سړي په ډېره تيزی سره په توره ووهلو، په سر کې يې زخم جوړ شو، خلکو ابن ملجم ونيولو، په همدې ورځ (شلمه روژه او څلوېښتمه هجري) کې يې ددې فاني نړۍ څخه رخصت وکړو.

مرويات: د ماشوموالي نه د رسول الله ﷺ تر وفات پورې تقريباً ديرش کاله يې د رسول الله ﷺ

په خدمت کې تېر کړي دي، خو د احاديثو په نقل کې يې زيات احتياط کولو، همدا وجه ده چې ډېر کم روايات ترې نقل دي، ټول ۵۸۲ روايات ترې نقل دي، په شلو حديثونو باندې د بخاري او مسلم اتفاق دی او په ۹ احاديثو کې بخاري او په لسو کې مسلم منفرد دی.

ښځو ته د ورېښمو استعمال جائز دی

"وعن أبي موسى الأشعري رضي الله عنه: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم، قال: حُرِّمَ لِبَاسُ الحَرِيرِ وَالذَّهَبِ عَلى ذُكُورِ أُمَّتِي" د ابو موسی اشعري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د ورېښمو جامې او سره زر دواړه زما د امت په نارينه وو باندې حرام دي، "وَأُحِلَّ لِإِنَاثِهِمْ" او د ښځو لپاره حلال دي، "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: ددې حديث څخه هم د وړاندې حديثونو تشريح او تائيد معلومېږي چې د ورېښمو استعمال د سړو لپاره حرام او ښځو ته جائز دی.

د سرو زرو لوښي د سړو او ښځو ټولو لپاره استعمالول حرام دي

"وعن حُذَيْفَةَ رضي الله عنه، قَالَ: نَهَانَا النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم أَنْ نَشْرَبَ فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالفِضَّةِ، وَأَنْ نَأْكُلَ فِيهَا" د حذيفه رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ ددې نه منع کړو چې د سرو زرو او سپينو زرو په لوښو کې اوبه وڅښو، "وَعَنْ لُبْسِ الحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ، وَأَنْ نَجْلِسَ عَلَيْهِ" د وړو ورېښمو او غټو ورېښمو د جامو اغوستلو څخه يې منع کړو او بل دا چې په دې باندې يې موږ د ناستې څخه منع کړي يو. رواه البخاري

تشريح: وعن لبس الحرير والديباج: د ورېښمو جامو اغوستلو څخه يې منع وفرمايل، حرير نرۍ ورېښمو ته وايي او ديباج غټو ورېښمو ته وايي، خلاصه دا چې د ورېښمو څومره قسمونه چې دي ټول په سړو باندې حرام دي او د ښځو لپاره ټول جائز دي.

ايا ورېښمي بستره او تکيه جوړول جائز دي؟

أن نجلس عليه: د ورېښمو نه بسترې او تکيه جوړول هم حرام دي، دې باره کې امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايي: بستره او تکيه ترې جوړول مکروه تنزيهي دي، د اغوستلو باره کې يې صفا ممانعت راغلی دی، ليکن د ناستې پاستې باره کې يې صريحي حکم نه دی راغلی، ځکه چې اغوستل او ناسته پرې کول دواړه جدا جدا شيان دي، ليکن بيا هم د تقوی او پرهېزګاری خلاف دی، ځکه چې د مؤمن سړي دا شان وي چې: "دع ما يريبك إلى ما لا يريبك" هغه کار پرېږده په کوم کې چې شك وي او هغه کار شروع کړه په کوم کې چې شك نه وي، ليکن د صاحبينو په نزد لکه څرنګه چې ددې اغوستل حرام دي، دغه شان ددې نه بسترې جوړول هم حرام دي.

Maktaba Tul Ishaat. com

باب جواز لبس الحرير لمن به حكة

په كوم سړي چې خارښت وي، د داسې كس لپاره وربښم اغوستل جائز دي

"عن أنس ﷺ، قال: رخص رسول الله ﷺ للزبير وعبد الرحمان بن عوف رضي الله عنهما في لبس الحرير لحكة كانت بهما" د انس ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ زبير او عبد الرحمن بن عوف ﷺ دواړو ته د خارښ مرض له امله د وربښمو اغوستلو اجازت ورکړو. متفق عليه

تشريح: ددې حديث نه معلومه شوه چې د ضرورت او مجبورى په حالت کې د وربښمو جامې اغوستل جائز دي، لکه په کوم کس چې د خارښ مرض وي يا بل کوم داسې مرض وي چې د هغې بيمارى علاج د وربښمو سره متعلق وي، نو د مجبورى په حالت کې د ضرورت په اندازه وربښم اغوستل جائز دي

باب النهي عن إفتراش جلود النمور والركوب عليها

د پړانګ يا زمرى په څرمن باندې د کښېنستلو څخه منع شوې ده

"عن معاوية ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: لا تركبوا الخز ولا النمار" د معاويه ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د وربښمو او د زمرى په څرمنو باندې ناسته پاسته مه کوئ؛ "حديث حسن، رواه أبوداود وغيره بإسناد حسن".

"وعن أبي المليح، عن أبيه ﷺ: أن رسول الله ﷺ نهى عن جلود السباع" د أبو المليح ﷺ نه روايت دى هغه يې د خپل پلار نه روايت کوي، فرمايي چې رسول الله ﷺ منع وفرمايل د ځناورو د څرمنو استعمال څخه، "رواه أبو داود والترمذي والنسائي بأسانيد صحاح".

"وفي رواية للترمذي: نهى عن جلود السباع أن تفترش" او د ترمذي په يو روايت کې داسې هم دي چې نبي کريم ﷺ د وحشي ځناورو د څرمنو استعمالولو څخه په داسې شان سره منع وفرمايل چې د هغې څرمنو نه فرش جوړ کړى شي

تشريح: لا تركبوا الخز: په خز باندې مه سپريږئ؛ خز هغو وربښمو ته ويل کيږي چې د وړى او وربښم سره يو ځاى کړى شي او د هغې نه کپړه جوړه کړى شي، ځينې وايي چې خالص وربښمو ته خز وايي، که د خز نه هغه وربښم مراد شي چې د وړى او وربښمو نه جوړ وي، بيا به ځکه حرام وي چې د غير مسلمو سره مشابهت راځي او که د خز نه مراد خالص وربښم شي، نو اوس يې استعمال بيخي حرام دى، بهر حال ددې حديث نه معلومه شوه چې هغه زين او کجاوه کومه چې د وربښمو نه جوړه وي په دې باندې سپرېدل حرام دي.

د نمار معنى ده: پړانګ، يعنې د پړانګ څرمن استعمالول جائز نه دي، ځکه چې په دې کې د تکبر اظهار دى او بل د غير مسلمو سره پکې مشابهت راځي

د راوي امیر معاویه ﷛ حالات:

اصلي نوم یې معاویه ﷛ دی، ابو عبد الرحمن یې کنیت دی، د پلار نوم یې ابوسفیان ﷛ دی، د مور نوم یې هنده ﷝ ده، د جاهلیت په زمانه کې هم د دوی ﷛ خاندان ممتاز وو، د مکې د فتحې په ورځ مسلمان شو، د ځینو روایاتو مطابق د حدیبیې د سولې په ورځو کې په دوی باندې د اسلام حقانیت ښکاره شو، لیکن د خانداني ویرې له امله یې اظهار نه شو کولی، خو اولنی قول زیات قوي دی، د حنین او طائف په غزا کې یې د رسول الله ﷺ سره شرکت کړی وو، د حنین په غزا کې رسول الله ﷺ دوی ته د مال غنیمت سل اوښان او څلوېښت اوقیه سره زر ورکړي وو، حسن بن علي ﷛ په ۴۰ هجري کې دوی ته خلافت حواله کړو، ددې نه وروسته یې ۱۹ کاله او درې میاشتې حکومت کړی وو، ډېرې علاقې یې فتحه کړې

وفات: د رجب په میاشت کې په ۲۰ هجري کې د لقوه په ناروغۍ وفات شو، د ژوند په آخري ساعتونو کې یې فرمایل: ارمان! زه د قریشو یو عادي سړی خو چې حکومت مې نه کول، د دوی سره د رسول الله ﷺ تبرکات هم پراته وو چې په هغې کې څادر، کمیس، څه وېښتان او نوکان وو، هغوی وصیت کړی وو چې ماته دې د رسول الله ﷺ په څادر او کمیس کې کفن راکړی شي، زما په پوزه او د سجدې په ځایونو باندې د رسول الله ﷺ وېښتان او نوکان مبارک کېږدئ، کېدی شي چې الله ﷻ ددې په برکت ما وبخښي، ضحاک ﷫ ورباندې د جنازې لمونځ وکړو او په دمشق کې یې دفن کړو.

مرویات: د احادیثو په کتابونو د دوی څخه ۱۲۳ احادیث روایت شوي دي، په څلورو احادیثو یې د بخاري او مسلم اتفاق دی، په څلورو احادیثو کې بخاري منفرد دی او په پنځه احادیثو کې مسلم منفرد دی

بَاب مَا یقول إِذَا لبس ثوباً جدیداً أَوْ نعلاً أَوْ نحوه

کوم کس چې نوې جامې واغوندي یا نوې څپلې په پښو کړي، نو څه به وایي

"عن أبي سعید الخدري ﷛، قَالَ: كَانَ رسول الله ﷺ إِذَا اسْتَجَدَّ ثَوباً سَمَّاهُ بِاسْمِهِ — عِمَامَةً، أَوْ قَمِيصاً، أَوْ رِدَاءً" د ابو سعید خدري ﷛ نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ به کله نوې او تازه جامه واغوستل، نو هغې ته به یې خپل نوم ورکولو، هغه که کمیس ؤ، یا پګړی وه او یا څادر ؤ، "یقولُ: اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ" او داسې به یې فرمایل: اې الله! ستا لپاره ثناء او صفتونه دي دا جامه را باندې واغوستل، "أَسْأَلُكَ خَيْرَهُ وَخَيْرَ مَا صُنِعَ لَهُ" یا الله! زه ستا نه ددې جامو د خیر او د هغه خیر سوال کوم چې دا جامې د هغې لپاره جوړې شوې دي، "وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ" او یا الله! زه پناه غواړم په تا سره ددې جامو د شر نه او د هغه شر نه چې دا د هغې لپاره جوړې شوې دي، "رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن".

تشریح: سماه باسمه: نوم به یې اخیستو، مطلب دا چې داسې به یې ویل: الله ﷻ چې دا څادر او

Maktaba Tul Ishaat. com

کړته ماته راکړه، نوې جامې به رابانديږ واغوستلې، بايد دغه دعاء ولوستل شي چې يو مسنون عمل دى، څکه چې نوې جامه د الله ﷻ له طرفه يو نعمت دى، په دې باندې د الله ﷻ شکر ادا کول پکار دي

د څناورو څرمنې استعمالول حرام دي:

تشريح: نهى عن جلود السباع: رسول الله ﷺ د څناورو د څرمنو استعمال څخه منع فرمايلې ده، د څناورو هغه څرمنې ترې مراد دي چې په رنګ کولو سره هم نه پاکيږي او کومې چې داسې نه وي هغه استعمالول جائز دي، ليکن د څناورو اکثره څرمنې نه پاکيږي، څکه چې د هغوى په څرمن کې يا په وېښتانو کې نجاست وي او څينې علماء فرمايي: دا يې څکه حرام کړل چې اکثره فضول خرچه او متکبرين انسانان د څناورو څرمنې استعمالوي چې ددې په استعمال کې د فضول خرچو او متکبره خلکو سره مشابهت راځي کوم چې حرام ده

د راوي ابو المليح رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې عمير رضي الله عنه دى، ابو المليح يې کنيت دى، د پلار نوم يې اسامه هزلي دى، څينې وايي د پلار نوم يې عبد الله دى، د کوفې او سيدنکى وو، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: د خپل پلار نه په روايت کې منفرد دى، په بخاري او مسلم کې د دوى نه روايات نشته، البته په سنن کې يې روايات موجود دي چې د هغې صحيح شماره هم اسماء الرجال عالمانو ته معلومه نه ده

بَاب إستحباب الإبتداء باليمين في اللباس

په جامو اغوستلو کې د ښي طرفنه شروع کول مستحب دي

هٰذَا الباب قَدْ تقدم مقصوده وذکرنا الأحاديث الصحيحة فِيهِ

ددې باب مقصود دې خبره مخکې تېره شوې ده او دې باره کې صحيح حديثونه هم ذکر شوي دي

كِتَاب آداب النَّوم والاضْطِجَاع وَالقعُود والمَجلِس وَالجليس وَالرُّؤيَا

د خوب آداب او د تکيه کېدو او ناستې پاستې او د مجلس او د ملګري او د خوب تعبيرونه

بَاب مَا يقوله عِنْدَ النوم

کله چې ويده کيږي، نو څه به وايي؟

"عن البَرَاءِ بن عَازِبٍ رضي الله عنهما، قَالَ: کَانَ رسول الله ﷺ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ نَامَ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَن" د براء بن عازب رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به چې کله د خوب لپاره خپلې بسترې ته ورلو، نو په

ښي طرف به څملاستلو، "ثُمَّ قَالَ: اَللّٰهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ" بيا به يې داسې دعاء وكړه چې اې الله ما خپل ټول ځان تاته سپارلی دی، "وَوَجَّهْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ" او خپل ټول ځان مې ستا تابعدار كړی دی، "وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ" او خپل ټول حال مې تاته سپارلی دی، "وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ" او خپل كار مې تاته حواله كړی دی، "رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ" او ستا نه د اميد ساتلو او ستا نه د ويرې لپاره مې ستا په ذات اعتماد وكړو، "لاَمَلْجَأَ" ځكه چې ستا نه بغير د پناه ځای نشته، "وَلاَ مَنْجَا مِنْكَ إِلاَّ إِلَيْكَ" او نه ستا نه بغير د بچ كېدو ځای شته، مګر هم دا ستا په ذات سره به بچ كېږو، "آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ، وَنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ" ما په هغه كتاب باندې ايمان راوړی دی چې تا نازل كړی دی او په هغه پېغمبر ﷺ مو ايمان راوړی دی چې تا رالېږلی دی، "رواه البخاري بهذا اللفظ في كتاب الأدب من صحيحه".

تشريح: "إذا أوى إلى فراشه نام على شقه الايمن: كله چې به رسول الله ﷺ بسترې ته تشريف راوړو، نو په ښي طرف به څملاستلو. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: په ښي طرف څملاستل په بيداربدو كې زيات مفيد دي، په دې صورت كې زړه بيدار وي او په زړه باندې بوج هم كم وي، په غفلت كې نه وي، طبيبان وايي: په خوب كې تر ټولو زيات فايده مند خوب هغه دی چې په ښي طرف وشي، په اول ځل دې په ښي طرف ويده شي بيا دې وروسته په چپ طرفته واوړي، په چپ طرف باندې څملاستلو سره ډوډۍ زر هضمېږي.

ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: په چپ طرف ويده كېدل زړه ته نقصان رسوي او په ښي طرف ويده كېدو سره انسان ته قبر په ياد راځي، په قبر كې انسان په دې شكل كېښودلی شي، بيا دغه دعاء لوستل مسنون دي كومه چې په حديث كې ذكر شوه، په دې دعاء كې د شپې ويده كېدو سره خپل ايمان او اسلام او د الله ﷻ سره د خپلو كړې وعدو تجديد دی، هر مسلمان ته پكار ده چې د خپل رب سره د خپلو كړې وعدو تجديد او تازګي وكړي او د ټولې ورځې مصروفياتو كې ترې خدای هېر وي

د خوب پرمهال اودس پكار دی

"وعنه، قَالَ: قَالَ لِي رسول الله ﷺ: إِذَا أَتَيْتَ مَضْجَعَكَ فَتَوَضَّأْ وُضُوءَكَ لِلصَّلاَةِ" د براء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ماته رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې ته خپلې بسترې ته د خوب لپاره اراده وكړې، نو داسې اودس وكړه لكه څنګه چې د لمانځه لپاره اودس كوې، "ثُمَّ اضْطَجِعْ عَلَى شِقِّكَ الأَيْمَنِ، وَقُلْ" نو بيا په ښي طرف څمله او دا دعاء ووايه! "وذَكَرَ نَحْوَهُ، وفيه" بيا يې ټوله دعا هغه شان ذكر كړه او ددې روايت په آخر كې دا هم شته چې نبي كريم ﷺ براء بن عازب رضي الله عنه ته وفرمايل: "وَاجْعَلْهُنَّ آخِرَ مَا تَقُولُ" دا دعاء اخريني وګرځوه؛ يعني ددې دعاء ويلو وروسته نورې خبرې مه كوه؛ متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: فتوضأ وضوئك للصلوة: كله چې خوب كوې، نو داسې اودس كوه لكه څنګه چې يې لمانځه ته كوې؛ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: د اودس په حال كې خوب كول سنت طريقه ده، په يو روايت كې دي چې كله يو انسان د خوب نه وړاندې اودس وكړي بيا په دې خوب كې وفات شي نو الله ﷻ به

Maktaba Tul Ishaat. com

ورته د شهادت درجه ورکړي، په بل روايت کې دي چې څوک په اوداسه کې ويده شي، نو د داسې سړي درجه د هغه سړي درجې برابر ده چې ټوله شپه په عبادت کې تېره کړي، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: څوک چې په اوداسه کې ويده کېږي داسې سړي ته رښتوني خوبونه راځي، "وذکرنحوه" لکه څرنګه چې په وړاندې حديث کې کومه دعاء ذکر شوه، هغه شان دعا يې دلته هم بيان کړه، يعني "اللهم اسلمت نفسی اليك الخ..." ليکن په دې دعاء کې صرف دومره اضافه شوې ده چې دا دعاء به د ويده کېدو څخه وړاندې وايي، ددې دعاء وروسته به بل څه خبرې نه کوي

نبي کريم ﷺ به د سهار سنتونه وروسته لږ ارام فرمايلو

"وعن عائشة رضی الله عنها، قالت: كَانَ النبيُّ ﷺ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكعته" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د شپې يوولس رکعته لمونځ کولو، "فَإِذَا طَلَعَ الفَجْرُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ" کله چې به سهار شو، نو دوه رکعته لنډ لمونځ به يې ادا کړو، "ثُمَّ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَنِ" بيا به يې په ښي طرف لږ شان ډډه ولګول، "حَتَّى يَجِيءَ المُؤَذِّنُ فَيُؤْذِنَهُ" تردې چې مؤذن به راغلو او د سهار د لمانځه لپاره به يې آذان وکړو متفقٌ عَلَيْهِ

نبي کريم ﷺ به اته رکعته تهجد کول:

تشريح: "يصلی من الليل احدی عشرة رکعته" نبي کريم ﷺ به د شپې يوولس رکعته تهجد کول، د مسلمانانو مور عايشه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ د تهجدو ذکر کوي چې ټول کال به يې تقريباً همدغه معمول وو چې اته رکعته تهجد به يې کول، بيا به يې په اخر کې درې رکعته وتر وکړل

فإذا طلع الفجر صلی رکعتين خفيفتين: کله چې به فجر صادق يعنې سهار شو، نو بيا به يې دوه رکعته سنت وکړل، دوه رکعته سنت او د فرضو نه لږ مختصر کول سنت طريقه ده، لکه څرنګه چې د وړاندې حديث نه معلوم شو، په دې دوه رکعته سنتو کې به د رسول الله ﷺ معمول دا وو چې په اول رکعت کې به يې د سورت فاتحې نه وروسته "قل يا أيها الكافرون" ويل، په دويم رکعت کې به يې د سورت فاتحه نه وروسته "قل هُوَاللّٰهُ أَحدٌ" ويل، "ثم اضطجع علی شقه الايمن" بيا به رسول الله ﷺ په خپل ښي طرف ډډه ووهل، د رسول الله ﷺ عمومي عادت مبارك دا وو چې کله به يې د سهار سنت وکړل، نو د لږ وخت لپاره به يې ارام فرمايلو، ځکه چې يو خو به يې د تهجدو لمونځ کړی وو، بل به ورسره وتر او سنت شو، نو لږ څه ستړی به شو، په داسې شکل به يې ارام فرمايلو چې يو طرفته به يې ډډه ووهل، علماء فرمايي: څوک چې شپه د الله ﷻ په عبادت کې تېره کړي، هغه ته پکار ده چې د سهار سنتو نه وروسته لږ آرام وکړي، دغه استراحت مستحب عمل دی او د اهل ظواهرو په نزد واجب دی

د ويده کېدو په وخت خپل ښي لاس د سر لاندې کېښودل

"وعن حُذَيْفَةَ رضي الله عنه، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ مِنَ اللَّيْلِ وَضَعَ يَدَهُ تَحْتَ خَدِّهِ" د حذيفه رضي الله عنه نه روايت

دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ عادت به دا وو چې کله به خپلې بسترې ته د خوب لپاره راتلو خپل لاس مبارک به يې د خپل رخسار لاندې کېښودلو، "ثُمَّ يَقُولُ: اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا" نو بيا به يې دعاء وکړه: اې الله! زما مرګ او ژوند خاص ستا په نوم سره دی، "وَإِذَا اسْتَيْقَظَ قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي" او کله چې به راويښ شو، نو دا دعاء به يې کول: ټول تعريفونه هغه ذات لره دي، "أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ" کوم چې موږ ددې مرګ (خوب) نه وروسته بيا راژوندي کړو او موږ ټول به بيا واپس دغه ذات ته واپس کېږو. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

خده: الخد من الوجه: د خد معنی ده: د مخ غومبوري.

تشريح: إذا أخذ مضجعه من الليل وضع يده تحت خده: کله چې به رسول الله ﷺ د شپې خپلې بسترې ته تشريف راوړو، نو خپل ښی لاس به يې د مخ څخه لاندې کېښودو، دغه شان د براء بن عازب ﷺ په روايت کې هم دي چې کله به رسول الله ﷺ آرام فرمايلو، نو خپل ښی لاس به يې د مخ څخه لاندې کېښودو، علماء فرمايي: ابتداء کې بايد دغه کيفيت جوړ کړی شي بيا که ضرورت وي، نو بدلولی بې هم شي.

اللهم باسمك اموت واحيا: اې الله! ستا په نوم زه مرم او ستا په نوم ژوندی کېږم، په دې حديث کې مرګ د خوب سره او ويښتيا د ژوند سره تعبير شوې ده، ځکه چې ويده سړی او مړ سړی يو شی دي. که يو کس دغه دعاء په نېکه جذبه هره شپه ووايي، نو هره ورځ به د الله ﷻ له لورې يو مهلت هغه ته په نظر راشي او هغه ته به نېک اعمال آسان شي.

په خېټه ويده کېدو نه رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده

"وعن يَعيشَ بن طِخْفَةَ الغِفَارِيِّ رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ أَبي: بينما أنَا مُضْطَجِعٌ في المَسْجِدِ عَلَى بَطْنِي إِذَا رَجُلٌ يُحَرِّكُنِي بِرِجْلِهِ" د يعيش بن طخفة الغفاري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ماته زما پلار ووېل: زه په په جومات کې پرمخې په خېټه پروت وم چې ناڅاپه يو کس راغلو، زه يې په پښو باندې وخوځولم، "فَقَالَ: إِنَّ هذِهِ ضِجْعَةٌ يُبْغِضُهَا اللهُ" هغه کس راته ووېل: دا داسې څملاستل دي چې الله ﷻ يې نه خوښوي، "قَالَ: فَنَظَرْتُ، فَإِذَا رسولُ الله ﷺ" زما پلار وايي: ومې کتل چې رسول الله ﷺ ولاړ وو، "رواه أبوداود بإسنادٍ صحيحٍ".

لغوي تحقيق: ضجعه: په څټ څملاستل.

تشريح انا مضطجع في المسجد على بطني: يوه ورځ زه په جومات کې په داسې حال کې ويده شوم چې خېټه مې لاندې راوستلې وه، يعنې د خېټې دپاسه ويده شوی وم، علماء د ويده کېدو څلور کيفيتونه بيان کړي دي

(۱) يوه طريقه هغه ده چې رسول الله ﷺ به کول، هغه دا چې خپل ښی لاس د مخ لاندې راولي او

Maktaba Tul Ishaat. com

خان راغونډ کړي، دا طريقه د انبياء عليهم السلام ده چې پد اسې شان سره سرې ته په ذکر او په مراقبه وغيره کې اسانې وي.

(۲) په ښي طرفه چې سرې څملي، دا سنت طريقه ده.

(۳) په چپ طرف چې څملي، نو دا طريقه د بادشاهانو او دنيادارو ده.

(۴) په ګېډه باندې پرمخې څملاستل، دا طريقه د شيطان ده، په يو روايت کې دي چې په ګېډه څملاستل د جهنميانو کيفيت دی، جهنميان به په جهنم کې په ګېډه څملي، بل دا چې ډکتران هم وايي چې په ګېډه څملاستل صحت ته تاوان کوي.

دغه صحابي رضي الله عنه د اصحاب صفه څخه وو، خکه به په جومات کې څملاستلو.

د يعيش بن طخفة الغفاري رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې يعيش رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې طخفة دی، د بني غفار قبيلې سره يې تعلق درلود، اصلاً د شام اوسېدونکی وو، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: د هغه څخه صرف هم دغه يو روايت نقل شوی دی، په بخاري او مسلم کې د دوی نه کوم روايت نه دی نقل شوی، صرف سنن اربعه کې ابوداود رحمه الله او ابن ماجه رحمه الله دغه روايت نقل کړی دی.

څوک چې د خوب نه وړاندې ذکر نه کوي، الله جل جلاله ترې خفه کيږي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، عن رسول الله صلى الله عليه وسلم، قَالَ: مَنْ قَعَدَ مَقْعَدًا لَمْ يَذْكُرِ اللهَ تعالى فِيهِ، كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللهِ تعالى تِرَةٌ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې په داسې خای کې کېنستلو چېرته چې د الله جل جلاله نوم وانخيستل شي، نو دغه ناسته به د الله جل جلاله له طرفه په هغه باندې د ملامتيا باعث وي، "وَمَنِ اضْطَجَعَ مَضْجَعًا لَا يَذْكُرُ اللهَ تعالى فِيهِ، كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللهِ تِرَةٌ" او دغسې د ملاستې په خای کې چې ويده شي او د الله جل جلاله نوم وانخيستل شي، نو دا به هم په هغه باندې د الله جل جلاله له طرفه د ملامتيا باعث وي "رواه أبوداود بإسناد حسن".

"التِّرَةُ: بكسر التاء المثناة من فوق، وَهِيَ: النقص، وقِيلَ: التَّبِعَةُ" لفظ د (الترة) معنی ده: کمی او نقصان او د ملامتيا لپاره هم استعماليږي.

تشريح: ومن قعد مقعداً لم يذكر الله: څوک چې يو خای کېني او هلته د الله جل جلاله د نوم ذکر ونه شي، نو دغه ناسته به ورته د وبال باعث شي، علماء فرمايي: څوک چې په کوم مجلس کې کېني، نو بايد چې ذکر وغيره پکې وکړي او که نور څه نه وي، نو بايد د مجلس په اخر کې دعاء وکړي، دعاء په وړاندې حديث کې راځي: "ومن اضطجع مضجعاً لا يذكر الله تعالى فيه كانت عليه من الله ترة" څوک چې په بستره باندې څملي او د الله جل جلاله ذکر ونه کړي، نو دغه ملاسته به په هغه باندې باعث د وبال وي، په قرآن شريف کې هم دغه عمل ته په دې آيت کې اشاره شوې ده: "الذين يذكرون الله قياماً وقعوداً وعلى جنوبهم" هغه خلک چې الله جل جلاله په ولاړه په ناسته او په ملاسته يادوي

په ګڼ شمېر رواياتو کې د ويده کېدو پر مهال د ذکر فضايل راغلي دي، مثلاً په يو روايت کې دي چې يو مسلمان داسې نشته چې هغه د شپې په طهارت کې ذکر وکړي او بيا ويده شي بيا د شپې راپاڅي بيا هغه د دنيا او اخرت سوال وکړي، مګر دا چې الله ﷻ به هغه ته هغه څه ورکړي کوم چې هغه يې غوښتلي وي.

په بل روايت کې د ابومره عجلي ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې کوم کس د شپې خپلې بسترې ته راشي او د پاکۍ په حالت کې د الله ﷻ د نوم ذکر شروع کړي او په دې کې ورته خوب راشي، نو دده دغه بستره اصلاً جومات دی او دې په لمانځه او ذکر کې دی، تر دې به په دغه عمل کې حسابيږي تر څو چې بيدار شوی نه وي، د نبي کريم ﷺ عادت طيبه هم نقل شوی دی چې تر خوبه ورته خوب نه راتلو، تر هغې به په ښي طرف ملاست وو او په ذکر کې به مشغول وو.

باب جواز الإستلقاء على القفا ووضع إحدى الرِّجلين على الأخرى إذا لم يخف إنكشاف العورة وجواز القعود متربعاً ومحتبياً

ستوني ستاغ څملاستل

"عن عبدالله بن زيد رضى الله عنهما: أنه رأى رسولَ الله ﷺ مُستلقياً فى المَسْجِدِ" د عبد الله بن زيد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ په نبوي جومات کې پداسې حالت کې وليد چې ستوني ستاغ ملاست وو، "وَاضِعاً إحدَى رِجْلَيهِ على الأُخرَى" يوه پښه مبارکه يې په بله پښه باندې اچولې وه. متفقٌ عليه

تشريح: واضعاً إحدى رجليه على الأخرى: يوه پښه يې په بله پښه باندې ايښې وه، په يو بل روايت کې دغه شان څملاستلو نه منع راغلې ده، "نهى رسول الله ان يرفع الرجل احدى رجليه على الاخرى" نبي کريم ﷺ منع فرمايلې ده دې نه چې يو کس دې يوه پښه اوچته کړي بله پښه دې ورباندې کېږدي او څملي، په ظاهر کې سره دواړه روايات مختلف دي، د يو نه جواز معلوميږي او د بل نه عدم جواز معلوميږي، علماوو ددې تعارض دفع په مختلفو توجيهاتو سره بيان کړې ده، مثلاً: که چېرته په دې شان سره څملاستلو کې د عورت خلاصېدو/ ښکاره کېدو خطره وي، نو بيا دغه شان څملاستل جائز نه دي او که چېرته د عورت ښکاره کېدو خطره نه وي، نو بيا جائز دي، يا ځينې علماء فرمايي . د کوم روايت نه چې جواز معلوميږي، د هغې کيفيت دا دی چې يوه پښه وغځول شي او بله پښه ورباندې کېښودل شي، بيا په دې شان سره د عورت ښکاره کېدو هيڅ خطره نشته

چارزانو (پرتلی وهلو سره) کېنستل

"وعن جابر بن سَمُرَة ﷺ، قَالَ: كَانَ النبيُّ ﷺ إذا صَلَّى الفَجْرَ" د جابر بن سمرة ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله د سهار لمونځ وکړو، "تَرَبَّعَ فى مَجْلِسِهِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ حَسْنَاءَ" نو چارزانو به کېناستلو، تر هغه پورې به ناست وو چې لمر به ښه روښانه نه وو. "حديث صحيح، رواه أبوداود وغيره بأسانيد صحيحة".

Maktaba Tul Ishaat. com

لغوي تحقيق:

تربع: چار زانو، پرتلي وهلو سره کېناستل

تشريح إذا صلى الفجر: کله چې به رسول الله ﷺ د سهار لمونځ وکړو، نو چارزانو به کېناستلو تردې چې لمر به ښه رڼا شو، علماوو ددې نه دا خبره ثابته کړې ده چې که کوم شرعي عذر نه وي نو بايد چې تر اشراق پورې په جومات کې په دې شکل کيني او دا کېناستل مستحب دي، لکه څرنګه چې به د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو رضي الله عنهم معمول وو، دا وخت ډېر مبارك وي، په دې وخت کې د سړي دماغ کار کوي او تلاوت ذکر اذکار کې د سړي زړه لګيږي.

قرفصاء شکل کېناستل

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: رأيتُ رسول الله ﷺ بفناءِ الكَعْبَةِ مُحْتبِياً بِيَدَيْهِ هكذا" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ د کعبې په صحن کې وليد چې ګوډې يې مات کړې ناست وو، "وَوَصَفَ بِيَدَيْهِ الاحْتبَاءَ، وَهُوَ القُرْفُصَاءُ" او د هغې طريقه بيا عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وښودل او دغسې ناستې ته قرفصاء ويل کيږي، "قرفصاء" دې ته ويل کيږي چې کوناټې په ځمکه ولګول شي او دواړه زنګونونه ودرول شي او دواړه لاسونه ترې حلقه کړى شي چې پښې ګيرې شي، ځينې خلك د لاسونو په ځاى څادر يا رومال د ملا نه راتاو کړي او د زنګونونو نزدې ورته غوټه ورکړي، داسې ناستې سره ستړيا وځي، د سړي په دمه کې پوره مدد ورکوي. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

محتبياً: د محتبي معنى ده ملا او پښې په کپړه سره بندول

تشريح القرفصاء: دا لفظ د قاف په پېښ او د (ر) په جزم سره دى يا د (ف) په زبر سره دى، ددې معنى ده: پښې سره غونډې ودروي او لاسونه د پښو څخه چاپېره کړي، مطلب دا چې خپلې دواړه پښې ودروي او په کوناټو کيني، لاسونه د پښو نه چاپېره کړي، ځينو خلکو د قرفصاء صورت داسې بيان کړى دى چې خپل دواړه زنګونونه په ځمکه ودروي او پټون د خيټې سره جوخت کړي او لاسونه په دواړو بغلونو کې دننه کړي، په داسې شان چې د ښى لاس تلې په چپ بغل کې او د چپ لاس تلې په ښي بغل کې دننه کړي.

د قرفصاء حالت ليدل

"وعن قَيْلَةَ بِنْتِ مَخْرَمَةَ رضي الله عنها، قالت: رأيتُ النَّبيَّ ﷺ وَهُوَ قَاعِدٌ القُرْفُصَاءَ" د قيلة بنت مخرمة رضي الله عنها نه روايت دى هغه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ په ناستې باندې وليد چې د قرفصاء په شکل باندې ناست وو، "فَلَمَّا رَأَيْتُ رسولَ اللهِ الْمُتَخَشِّعَ في الجِلْسَةِ أُرْعِدْتُ مِنَ الفَرَقِ" کله چې ما د رسول الله ﷺ دغه شان ناسته وليده نو په ما باندې د نبي کريم ﷺ رعب او دبدبې ډېر زيات اثر وکړو، "رواه أبوداود والترمذي".

لغوي تحقيق:

المتشخع: د عاجزۍ او خاکسارۍ اظهار کول

ارعدت: په سړي باندې وېره او خوف راتلل

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې کله قيله بنت مخرمه رضي الله عنها نبي کريم ﷺ د قرفصاء په حالت کې وليدو، نو په هغې باندې وېره راغله. علماوو ددې وجه ليکلې ده چې عمومي طور دا شې کېنستل غريبانان کوي، يا دا چې څوک په غم کې مبتلا وي، بل دا چې په داسې شکل باندې کېنستل سره د خپلې عاجزۍ او خاکسارۍ اظهار کوي، نبي کريم ﷺ د دواړو جهانونو سردار دی او بيا په داسې شکل کېني، نو يقيناً چې په سړي باندې رعب راځي، نو ځکه په قيله بنت مخرمه رضي الله عنها باندې رعب راغلو.

د حديث راويه قيله بنت مخرمه رضي الله عنها حالات

اصل نوم يې قيله رضي الله عنها دی، د پلار نوم يې مخرمه دی، د بنوتميم قبيلې سره تعلق لري، د دوی څخه د عليه لورګانې صفيه او وجيهه روايات نقل کوي، دغه دواړه د دوی د پلار وريرې ګانې هم دي، نور روايات هم ترې منقول دي، په سنن کې يې روايات شته، خو په بخاري او مسلم کې يې کوم روايت نشته.

په کومه طريقه ناسته چې الله ﷻ خفه کيږي

"وعن الشريد بن سويد رضي الله عنه، قَالَ: مَرَّ بِي رسولُ الله ﷺ وَأَنَا جَالِسٌ هكَذَا" د شريد بن سويد رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ په ما باندې تېر شو او زه داسې ناست وم، "وَقَدْ وَضَعْتُ يَدِيَ اليُسْرَى خَلْفَ ظَهْرِي، وَاتَّكَأْتُ عَلَى أَلْيَةِ يَدِي" چې خپل چپ لاس مې وروسته ايښی وو، د ګوتو دننه طرف باندې مې تکيه وهلې وه، "فَقَالَ: أَتَقْعُدُ قِعْدَةَ المَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ؟" نو رسول الله ﷺ ماته وفرمايل: دا څنګه د غضب شوېو او نافرمانو خلکو په شان ناست يې؟ (سيده کېنه) "رواه أبو داود بإسنادٍ صحيحٍ".

تشريح: واتکات علی الية يدی فقال: اتقعد قعدة المغضوب عليهم؟ د چپ لاس په تلي مې تکيه وهلې وه، نبي کريم ﷺ وفرمايل: تا خو د هغو خلکو په شان ناسته کړې په کومو باندې چې غضب شوی دی. مطلب دا چې داسې کېنستل عمومي طور سره هغه خلک کوي چې غضب ورباندې شوی وي، ددې نه مراد يهوديان دي، محدثين فرمايي: مغضوب عليهم لفظ دلته په خپله عامه او وسيع مفهوم کې استعمال شوی دی، يعنې ددې نه ټول هغه خلک مراد دي چې په تلو راتلو خبرو اترو وغيره کې يې د کفارو سره مشابهت وي.

د حديث راوي شريد بن سويد رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې شريد رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې سويد دی، د ثقيف قبيلې سره يې تعلق درلود،

Maktaba Tul Ishaat. com

خيني وايي: د حضرموت (يمن) سره يې تعلق درلود، ځينې يې د اهل طائف څخه شماري، په بيعت رضوان کې شريك وو، په مسلم کې يې روايات شته، دغه شان په ابوداود او نسائي کې هم د دوی روايات منقول دي، د رواياتو پوره شمار يې معلوم نه دی، د دوی په رواياتو کې حجازي راويان زيات دي.

باب في آداب المجلس والجليس

يوسل نهه ويشتم باب: (۱۲۹) د مجلس آداب او د ملګري سره سلوك كول

"عن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: قال رسول الله ﷺ: لَا يُقِيمَنَّ أَحَدُكُمْ رَجُلًا مِنْ مَجْلِسِهِ ثُمَّ يَجْلِسُ فِيهِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو په مجلس کې د خپل ځان لپاره څوك مه پاڅوئ ددې لپاره چې تاسو بيا په خپله په هغه ځای باندې كينئ! "وَلَكِنْ تَوَسَّعُوا وَتَفَسَّحُوا" بلكې ناستو خلكو ته پكار دي چې راتلونكو خلكو لپاره په مجلس کې د ناستې ځای پريږدي او په مجلس کې فراخي پيدا كړي، "وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا قَامَ لَهُ رَجُلٌ مِنْ مَجْلِسِهِ لَمْ يَجْلِسْ فِيهِ" او عبد الله بن عمر رضي الله عنه به دا عادت درلود چې كله به هغه ته كوم كس په مجلس کې ځای پرېښودلو، نو هغه به خپله په هغه ځای باندې نه كېښستلو. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: مجلس فراخه كولو او په دې کې وسعت راوستلو ته په حديث کې اشاره ده، ددې لپاره چې هر راتلونكي كس ته په مجلس کې ځای ملاو شي، هغه ته پته ولګي چې خپل ځای او خپلو ملګرو ته راغلی يم، نه دا چې بېګانه خلك دي، ځينې نور محدثين فرمايي: ددې حديث مفهوم دا دی چې: "ولكن ليقل تفسحوا وتوسعوا" يعنې څوك دې داسې نه كوي چې هغه دې بل كس د ځای نه اوچت كړي او هغه دې پرې خپله كيني، بلكې هغه ته داسې ويل پكار دي چې په مجلس کې دې په فراخی سره كيني او راتلونكي ته دې ځای وركړی شي، علامه نووي رحمه الله فرمايي: دا ممانعت په مكروه تحريمي باندې حمل دی، ددې دا مطلب دی چې كه كوم كس په داسې يو ځای کې كيني چې چا لپاره خاص نه وي او بل راشي، د هغه په ځای باندې كيني، مثلاً د جمعې په ورځ په صف کې يو ځای کې كيني، بيا بل كس راشي، دی د هغه ځای نه اوچت كړي، خپله ورباندې كيني، دا صحيح نه دي، داسې عمل كول مكروه تحريمي دي، ددې نه به دا معلومه شي چې اولنی سړی د دويم سړي څخه په مرتبه کې كم دی څكه خو يې د ځای نه پورته كړو.

"وكان ابن عمر رضي الله عنه اذا قام له رجل من مجلسه لم يجلس فيه" د ابن عمر رضي الله عنه دا عادت وو چې كله به ورته كوم كس په مجلس کې ځای پرېښودلو، نو هغه به په هغه ځای باندې نه كېښستلو، دا د دوی رضي الله عنه احتياط او په تقوی باندې مبني وو.

هر سړي په خپل ځای زيات حقدار دی

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ مِنْ مَجْلِسٍ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَيْهِ" د ابو هريرة ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو کې کوم کس په مجلس کې د کوم ځای نه پاڅيږي او بهرته واپس راشي، "فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ" نو داسې کس بيا په خپل ځای باندې د ناستې حق لري. رواه مسلم.

تشريح: ثم رجع إليه فهو أحق به: بيا واپس راشي، نو هغه ددې ځای زيات حقدار دی. محدثين فرمايي: دا حکم هغه وخت دی کله چې دغه سړي په دې نيت پورته شي چې بېرته واپس زر راځم. مثلاً اوداسه يا اوبو ته تللی وي، نو اوس که کوم بل کس دده په ځای کيني، نو اولنی سړی زيات حقدار دی چې په خپل ځای کيني، دويم کس پورته کولی هم شي، ليکن غوره خبره دا ده چې تلونکی سړي په خپل ځای باندې کوم دسمال يا څادر وغيره پرېږدي چې خلک پوه شي دلته څوک ناست وو او بېرته واپس بيا راځي، که چېرته زيات وخت تېر کړي يا کوم داسې کار وي چې هغه کې زيات وخت لګيږي، نو بيا يې حقدار نه دی.

په مجلس کې چې کوم ځای ملاو شي، هلته کېښتل پکاردي

"وعن جابر بن سَمُرَةَ رضي الله عنهما، قَالَ: كُنَّا إِذَا أَتَيْنَا النَّبِيَّ ﷺ" د جابر بن سمرة ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې موږ کله د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، "جَلَسَ أَحَدُنَا حَيْثُ يَنْتَهِي" نو موږ به د مجلس په يو طرف کې کېښتلو (يعني دا کوشش به مو نه کولو چې په توپونو وهلو سره مخې ته لاړ شو) "رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن".

تشريح: په دې حديث کې هم د مجلس آداب بيانيږي، که چېرته کوم کس مجلس ته راشي او هلته خلک د اول نه موجود وي، نو بايد چې په مجلس کې کوم ځای ورته پيدا شي هلته کيني، د خلکو په (اوږو) دې پښې نه اړوي، ځکه چې دا حرام عمل دی.

د دوه کسانو ترمينځ کېښتل حرام دي

"وعن أبي عبد الله سَلْمَانَ الفارسي ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: لَا يَغْتَسِلُ رَجُلٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَيَتَطَهَّرُ مَا اسْتَطَاعَ مِنْ طُهْرٍ" د أبو عبد الله سلمان فارسي ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د جمعې په ورځ غسل وکړي او ښه ځان صفا کړي څومره يې چې وس کيږي، "وَيَدَّهِنُ مِنْ دُهْنِهِ، أَوْ يَمَسُّ مِنْ طِيبِ بَيْتِهِ" او په ځان باندې تېل او خوشبو ولګوي، "ثُمَّ يَخْرُجُ فَلَا يُفَرِّقُ بَيْنَ اثْنَيْنِ، ثُمَّ يُصَلِّي مَا كُتِبَ لَهُ" او بيا لمانځه ته لاړ شي، په جومات کې د دوه کسانو په مينځ کې جدايي را نه ولي او بيا فرض لمونځ وکړي، "ثُمَّ يُنْصِتُ إِذَا تَكَلَّمَ الْإِمَامُ، إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى" بيا چوپ کيني کله چې امام خطبه لولي، نو الله ﷻ دده ګناهونه ددې جمعې نه تر بلې جمعې پورې ورته معاف کړي. رواه البخاري

Maktaba Tul Ishaat. com

تشريح: لايغتسل رجل يوم الجمعة ويتطهر مااستطاع من طهر: يو انسان چې د جمعې په ورځ غسل وکړي او ښه صفايي وکړي، د جمعې په ورځ غسل کول د اسلام په اولني وخت کې واجب وو، وجه يې دا وه چې خلک غريبانان وو، د اکثرو خلکو جامې به نه وې، د څارويو له څرمنو به يې ځانته جامې جوړولې، بل دا چې د عربو ګرمي زياته وي چې خلک به ګڼ شو، نو بيا به په ټول جومات کې د خولو بوی شروع شو، ددې بد بوی دفع کولو لپاره ابتداء اسلام غسل واجب کړو، ليکن کله چې فراخي او مالداري راغله، بيا دا حکم منسوخ شو، "ويتطهر" پاکي او صفايي حاصله کړي، ددې دا مطلب دی چې نوکان، وېښتان، د بغل او نامه لاندې وېښتان پاک کړي او صفا جامې واغوندي.

ويدهن من دهنه أويمس من طيب بيته: د جمعې په ورځ تېل او خوشبو استعمال کړي، که د سړي سره خوشبو نه وي، نو د خپلې کور والا ښځه دې خوشبو واخلي.

ثم يخرج فلا يفرق بين اثنين: بيا روان شي او د دوه کسانو ترمينځ جدايي رانه ولي، مطلب دا چې دوه کسان په خپل منځ کې نژدې ناست وي، يا مطلقاً د دوه کسانو ترمينځ د ناستې ځای نه وي او دی ورشي، خامخا د دوی په مينځ کې کيني، د دواړو ترمينځ جدايي راولي، نو دا حرام دی، يا د دوی د ولو دپاسه تيريږي، وړاندې صف ته ځان رسوي.

علماء فرمايي : دا ممانعت هغه وخت وي کله چې وړاندې ځای خالي نه وي، ليکن که په وړاندې صفونو کې ځای وي، بيا خير دی که د صفونو په مينځ کې تېر شي او وړاندې صف ته ځان ورسوي، دا ځکه چې دا ټول قصور وروسته د ناستو خلکو دی، ځکه چې هغوی په اولني صف کې نه کښېنستل، بل دا چې په دې حديث کې اشاره ده دې خبرې ته چې بايد انسان د جمعې په ورځ تيزي وکړي او ځان د مخکې ښځه تيار کړي چې ددې خبرو نوبت پيښ نه شي.

د راوي ابو عبد الله سلمان فارسي ﷺ حالات:

اصلي نوم يې مجوسي يا مايه وو، د اسلام قبلولو وروسته يې په ځان باندې سلمان نوم کېښودلو، کنيت يې أبو عبد الله دی، نسب يې داسې دی: مايه بن لوذخشان بن مورسلان بن بهنوذان بن فيروز ابن سهرک.

د جاهليت په زمانه کې يې په مجوسي مذهب کې سخت دريز درلود، د دوی شمار د هغو خلکو په فهرست کې کېدلو کومو چې به اور بلولو او مړ کېدو ته به يې نه پرېښودو، بيا يې وروسته عيسايي مذهب ته ميلان پيدا شو چې بالاخره يې عيسايي مذهب اختيار کړو، په دې سلسله کې يې د ډېرو پادريانو سره ناسته شوې ده، تر ټولو آخري پادري سره يې چې ملاقات وشو، نو هغوی ورته د رسول الله ﷺ د بعثت زيری ورکړو، سلمان ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او مسلمان شو، رسول الله ﷺ د دوی مواخات د ابو درداء ﷺ سره وکړو، اولنی جهاد يې د خندق وو، ددې نه وروسته يې په ټولو جهادونو کې شرکت کړی دی، عمر ﷺ دوی د مدائن والي جوړ کړو، ځو ځانګړې

صفتونه يې درلودل: زهد، تقوی، د رهبانيت نه نفرت، بهادري، مجاهدانه ژوند.

وفات: د عثمان ﷺ په دور خلافت کې وفات شو، دغه وخت د دوی عمر د ځينو رواياتو مطابق دوه نيم سوه کاله او د ځينو رواياتو مطابق درې نيم سوه کاله وو.

مرويات: تر شپيږو ۲۰ پورې حديثونه ترې نقل شوي دي، ابو سعيد خدري ﷺ، ابن عباس ﷺ او اوس بن مالك ﷺ يې شاګردان دي.

بې اجازې د دوه کسانو تر مينځ کښېنستل حرام دي

"وعن عمرو بن شُعَيب، عن أبيه، عن جَدِّهِ ﷺ: أنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: لاَ يَحِلُّ لِرَجُلٍ أنْ يُفَرِّقَ بَيْنَ اثْنَيْنِ إلاَّ بِإذْنِهِمَا" د عمرو بن شعيب ﷺ نه روايت دی هغه يې د خپل پلار نه روايت کوي، هغه يې د نيکه نه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د سړي لپاره دا خبره جائز نه ده چې د دوه کسانو په مينځ کې کيني، مګر دا چې د هغوی څخه اجازه واخلي. "رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن".

"وفي رواية لأبي داود: لاَ يُجْلَسُ بَيْنَ رَجُلَيْنِ إلاَّ بِإذْنِهِمَا" او د امام ابو داود رحمه الله په يو روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: د دوه کسانو په مينځ کې ناسته مه کوئ مګر د هغوی په اجازت سره.

تشريح: مطلب دا دی چې که دوه کسان ناست وي، په خپلو کې کومه ضروري خبره کوي يا هسې ناست وي، ليکن دريم کس د ځان سره نه پرېږدي، نو دريم کس لپاره جائز نه دي چې د دوی په منځ کې کيني، که چېرته معلومه شي چې دا دواړه کسان هسې اتفاقا نژدې ناست دي، د دوی ترمنځ څه محبت نشته، نو بيا د دوی په منځ کې کښېنستلو سره هيڅ باك نشته، که داسې وي چې هغه ته پته نه لګيږي چې د تعلق په وجه ناست دي او که هسې نژدې ناست دي، بيا احتياط په دې کې دی چې ځان د ناستې نه وساتي.

د ډلې په مينځ کې په ناستې لعنت

"وعن حذيفة بن اليمان ﷺ: أنَّ رسول الله ﷺ لَعَنَ مَنْ جَلَسَ وَسَطَ الحَلْقَةِ" د حذيفه بن اليمان ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ په هغه چا باندې لعنت کړی دی چې څوک د مجلس په مينځ کې کيني. رواه أبوداود بإسنادٍ حسن

"وروى الترمذي عن أبي مِجْلَزٍ: أنَّ رَجُلاً قَعَدَ وَسَطَ حَلْقَةٍ، فَقَالَ حُذَيْفَةُ: مَلْعُونٌ عَلَى لِسَانِ مُحَمَّدٍ ﷺ - أوْ لَعَنَ اللهُ عَلَى لِسَانِ مُحَمَّدٍ ﷺ" او امام ترمذي رحمه الله د أبي مجلز رحمه الله په حواله روايت نقل کړی دی چې يو کس د مجلس والا په مينځ کې کينستلو، حذيفه ﷺ ورته وفرمايل: ملعون دی د نبي کريم ﷺ په ژبه يا يې داسې وفرمايل چې د الله ﷻ لعنت دی په هغه سړي باندې، "مَنْ جَلَسَ وَسَطَ الحَلْقَةِ" کوم کس چې د مجلس په مينځ کې کيني. قَالَ الترمذي: حديث حسن صحيح.

تشريح: په داسې کس باندې لعنت شوی دی کوم چې د ډلې په مينځ کې کيني، د دې حديث په باره کې د علماوو مختلف اقوال ذکر دي:

Maktaba Tul Ishaat. com

(۱) مطلب دا چې د ډلې په مينځ کې کيني، (۲) يا دا مطلب چې د توقو مسخرو لپاره د ډلې په مينځ کې کيني چې خلك وخندوي، (۳) يا دا مطلب چې د ډلې په مينځ کې داسې کيني چې خلك بې پوره نه وينې، نو خلکو ته پکې تکليف او ضرر وي، د نبي کريم ﷺ ارشادات جامع وي، دا ټولې معناګانې مراد کېدی شي

تر ټولو ښکلې غونډه / مجلس:

"وعن أبي سعيد الخدري ﷺ، قال: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يقول: خَيْرُ المَجَالِسِ أَوْسَعُهَا" د أبو سعيد خدري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: غوره مجلسونه هغه دي چې فراخوالی پکې وي. رواه أبوداود بإسناد صحيح على شرط البخاري.

تشريح: خير المجالس اوسعها: تر ټولو غوره مجلس هغه دی چې فراخه وي، ددې حديث دوه مطلبه بيان شوي دي: يو دا دی چې که کوم جائز مجلس يا غونډه وي، نو بايد په يو فراخ ځای کې منعقد شي چې ډېر خلك پکې راشي، بل مطلب يې دا دی چې که کومه غونډه وي او وړاندې نه پکې خلك ناست وي، نو کوم خلك چې وروسته راځي، وړاندېنې خلك بايد دوی ته ځای ورکړي.

د غونډې په پای کې دعاء کول

"وعن أبي هريرة ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: مَنْ جَلَسَ فِي مَجْلِسٍ، فَكَثُرَ فِيهِ لَغَطُهُ فقال قَبْلَ أَنْ يَقُومَ مِنْ مَجْلِسِهِ ذَلِكَ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې په يو مجلس کې کيني او بيا زياتې خبرې وکړي او بيا دا دعائيه کلمات د مجلس ختمېدو څخه وړاندې ووايي: "سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ" اې الله! پاکي ده تالره او صفتونه تا لره دي، "أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ" ددې خبرې شاهدي ورکوم چې نشته لائق د عبادت سيوا د الله ﷻ نه، "أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ" او اې الله! ستا نه بخښنه غواړم او تا ته توبه وباسم، "إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا كَانَ فِي مَجْلِسِهِ ذَلِكَ" مګر دا چې د هغه ټول ګناهونه وبخښل شي کوم چې يې په دې مجلس کې کړي وي. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: فكثر فيه لغطه: او په دې غونډه کې دده نه فضول خبرې وشي. (لغطه، هغو خبرو ته ويل کيږي چې فضول او بې فايدې وي، په مطلب يې څوك نه پوهيږي، يعنې کوم کس چې په مجلس کې فضول خبرې کوي، نو د پاڅېدو څخه وړاندې دې دعاء ولولي، (کومه دعاء چې په حديث کې ذکر شوه) په دې سره به دده ټول هغه ګناهونه معاف شي بې چې په دې غونډه کې ترې شوي وي، علماء فرمايي: ددې نه صغيره ګناهونه مراد دي، کبيره ګناهونه او حقوق العباد بې به توبې او د حق په ادا کولو سره معاف کيږي

د نبي کريم ﷺ عادت مبارکه د غونډې په پای کې

"وعن أبي بَرْزَةَ ﷺ، قال: كَانَ رسول الله ﷺ يقول بِأَخَرَةٍ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَقُومَ مِنَ المَجْلِسِ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به چې کله د مجلس نه د پاڅېدو اراده وکړه، نو په آخر کې به بې

داسې فرمايل چې: "سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ" اې الله! تا لره پاکي ده او اې الله! تا لره صفتونه دي، "فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّكَ لَتَقُولُ قَوْلًا مَا كُنْتَ تَقُولُهُ فِيمَا مَضَىٰ؟" يو کس پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! تاسو داسې کلمات نن ووېل چې مخکې مو نه ويل؟ "قَالَ: ذٰلِكَ كَفَّارَةٌ لِمَا يَكُونُ فِي الْمَجْلِسِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا کلمات به د هغو ګناهونو لپاره کفاره وي کوم بې چې په دې مجلس کې کړي وي، "رواه أبوداود، ورواه الحاكم أبوعبد الله في "المستدرك" من رواية عائشة رضي الله عنها وقال: صحيح الإسناد" دا حديث امام ابوداود رحمه الله او امام حاکم رحمه الله په خپل صحيح (مستدرك) کې د عائشې رضي الله عنها په روايت سره روايت کړی دی.

تشريح: إنك لتقول قولاً ما كنت تقوله فيما مضى: يو کس رسول الله ﷺ ته وفرمايل تاسو نن داسې يوه دعاء شروع کړې ده چې ددې څخه وړاندې تاسو نه ويل، ددې نه معلومه شوه چې دغه ذکر شوې دعاء به رسول الله ﷺ د ژوند په آخري وختونو کې ويل، دغه دعاء به د مجلس او غونډې لپاره کفاره جوړېږي.

يو سوال او دوه جوابونه:

سوال: د رسول الله ﷺ د ژبې مبارکې نه به فضول خبرې نه کېدلې، نو بيا ولې رسول الله ﷺ دغه دعاء لوستل؟

جواب: يو جواب دا دی چې د رسول الله ﷺ اصلي مقصود د الله ﷻ حمد او ثناء ويل وو، دويم جواب دا دی چې رسول الله ﷺ به ډېر داسې کارونه کول چې په هغې کې به اصلي مقصود ته تعليم وو، هر کله چې رسول الله ﷺ معصوم وو او هغوی داسې دعاګانې کولې، نو امت خو به يې په طريق اولی سره کوي.

د مجلس دعاء

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: قَلَّمَا كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَقُومُ مِنْ مَجْلِسٍ حَتَّى يَدْعُوَ بِهٰؤُلَاءِ الدَّعَوَاتِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله هم د مجلس نه پاڅېدو اراده وکړه نو تر هغه به نه پاڅېدو تر څو چې به يې دا دعاګانې نه وای ويلې، "اللَّهُمَّ اقْسِمْ لَنَا مِنْ خَشْيَتِكَ مَا تَحُولُ بِهِ بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعَاصِيكَ" اې الله! موږ ته د خپل ځان له طرفه داسې وېره رانصيب کړې چې زموږ او د ګناهونو په مينځ کې حائل واقع شي، "وَمِنْ طَاعَتِكَ مَا تُبَلِّغُنَا بِهِ جَنَّتَكَ" او موږ ته د خپل ځان داسې تابعداري نصيب کړه چې موږ د هغې په وجه جنت ته داخل شو، "وَمِنَ الْيَقِينِ مَا تُهَوِّنُ عَلَيْنَا مَصَائِبَ الدُّنْيَا" او داسې کامل يقين رانصيب کړې چې د هغې په وجه موږ ته د دنيا مصيبتونه آسان شي، "اللَّهُمَّ مَتِّعْنَا بِأَسْمَاعِنَا، وَأَبْصَارِنَا، وَقُوَّتِنَا مَا أَحْيَيْتَنَا" او تر کومه پورې چې موږ ژوندي يو، نو موږ ته د اورېدلو، د ليدلو او د نورو طاقتونو نه د فايدې اخيستلو اسباب راکړه؛ "وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنَّا" او په دې شيانو کې زموږ نه څوك وارث جوړ کړه؛ "وَاجْعَلْ ثَأْرَنَا

Maktaba Tul Ishaat. com

عَلیٰ مَنْ ظَلَمَنَا" او په مونږ باندې چې څوك ظلم كوي د هغوى بدله تر همغه پورې محدوده كړه، "وَانْصُرْنَا عَلیٰ مَنْ عَادَانَا" او زمونږ مدد وكړه كوم كس چې زمونږ سره دښمني كوي، "وَلَا تَجْعَلْ مُصِيبَتَنَا فِي دِينِنَا" او په ديني مصيبتونو كې مونږ مه راګېروه، "وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ هَمِّنَا، وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا، وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَا يَرْحَمُنَا" او دنيا زمونږ ستر مقصد مه ګرځوه، او نه منتهي د علم، او په مونږ باندې داسې خلك مشران مه جوړوه كوم چې په مونږ باندې رحم نه كوي. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن".

تشريح: په دې حديث كې هم د رسول الله ﷺ يو ښكلى عمل بيان شوى دى، هغه دا چې د غونډې په پاى كې به يې مذكوره دعاء لوستل، دغه دعاء ډېره جامع او ښكلې دعاء ده.

د ذكر نه خالي مجلس د پښېمانتيا باعث وي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَا مِنْ قَوْمٍ يَقُومُونَ مِنْ مَجْلِسٍ لَا يَذْكُرُونَ اللهَ تعالى فِيهِ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: داسې قوم نشته چې په يو مجلس كې كيني او د الله ﷻ ذكر پكې ونه كړي، "إِلَّا قَامُوا عَنْ مِثْلِ جِيفَةِ حِمَارٍ، وَكَانَ لَهُمْ حَسْرَةً" لكه د مردار خر نه چې پاڅېدلي وي او دا مجلس به د دوى لپاره د قيامت په ورځ د وبال او تاوان سبب وي. "رواه أبو داود بإسناد صحيح".

تشريح: إلا قاموا عن مثل جيفة حمار: د الله ﷻ د ذكر نه خالي مجلس داسې مثال لري لكه خلك چې په يو مردار خره باندې راغونډ شوي وي او بيا ترې پاڅي، مقصد دا دى چې بايد انسان هر ځاى او په هره موقع كې د الله ﷻ نوم واخلي، د غفلت پردې يې بايد په زړه او دماغ پرتې نه وي، ځكه چې هم دغه غفلت دى چې انسان د تباهى سره مخامخ كوي، نو په دې حديث كې دې طرفته اشاره ده چې بايد د مجلس په پاى كې دغه ذكر شوې دعاء ولوستل شي، ددې لپاره چې د مجلس لپاره كفاره جوړه شي.

په كومه غونډه كې چې درود شريف يا د الله تعالى ذكر نه وي

"وعنه، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: مَا جَلَسَ قَوْمٌ مَجْلِساً لَمْ يَذْكُرُوا اللهَ تعالى فِيهِ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: داسې يو قوم نشته چې هغوى يو مجلس وكړي او په هغې كې د الله ﷻ نوم وانخلي، "وَلَمْ يُصَلُّوا عَلیٰ نَبِيِّهِمْ فِيهِ" او نه هم په خپل پېغمبر باندې درود شريف ولېږي، "إِلَّا كَانَ عَلَيْهِمْ تِرَةً، فَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُمْ، وَإِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُمْ" مګر دا چې دا مجلس به په دوى باندې د وبال او عذاب سبب ګرځي، كه الله ﷻ وغواړي عذاب به وركړي او كه وغواړي نو معاف به يې كړي "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن".

لغوي تحقيق: ترة: د ترة معنى ده: وبال، تاوان.

تشريح: د ترة معنى ده حسرت، وبال، ندامت او د اور په معنى سره هم راځي، مطلب دا چې په كوم مجلس كې د الله ﷻ د نوم ذكر ونه شي يا په رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې درود شريف ونه ويل شي، نو دغه مجلس به ددې خلكو لپاره باعث د وبال او جهنم ته د داخلېدو ذريعه وي، ځينې علماء په

مجلس کې درودشريف لوستل يا د الله ﷻ د نوم ذکر واجب بولي، ځکه چې ددې په ترک باندې د جهنم وعده شوې ده.

په غونډه کې ذکر نه کول

"وعنه، عن رسول الله ﷺ، قَالَ: مَنْ قَعَدَ مَقْعَدًا لَمْ يَذْكُرِ اللهَ تعالى فِيهِ كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللهِ تِرَةٌ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: کوم کس چې په داسې مجلس کې کيني چې په هغې کې د الله ﷻ نوم وانخستل شي مگر دا چې دا مجلس به په هغه باندې د وبال سبب وي، "وَمَنِ اضْطَجَعَ مَضْجَعًا لَا يَذْكُرُ اللهَ تعالى فِيهِ كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللهِ تِرَةٌ" او کوم کس چې د ملاستې په ځای کې د ويده کېدو په وخت د الله ﷻ نوم ياد نه کړي، نو دا هم په ده باندې د الله ﷻ له طرفه د ملامتيا باعث دی. رواه أبوداود.

"وَقَدْسبق قريباً، وشَرَحْنَا((التِّرَة))فِيهِ" او لفظ د (الترة) تشريح مونږ مخکې کړې وه.

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې بايد انسان هر وخت د الله ﷻ سره ربط او تعلق وساتي، که هر وخت زمونږ مجلسونه د الله په ذکر سره منور شي..... نو بيا به په مجلس کې رانه غيبتونه، بهتانونه چغل خوري نه کيږي، په خپل مينځ کې به اتفاق او اتحاد برقرار پاتې شي، که د درود شريف يا د الله تعالى د ذکر څخه زمونږ مجلسونه خالي شي او ددې په ځای پکې غيبتونه چغل خوري، د دښمنۍ خبرې شروع شي، نو زمونږ په خپل مينځ کې به عداوت او دښمني زياته شي، نفرتونه به جوړ شي، عناد به شروع شي او په آخر کې به يې نتيجه دا شي چې جهنم به (خدای مه کړه) زمونږ ځای شي.

باب الرؤيا وما يتعلق بها

خوب او کوم څه چې په خوب پورې متعلق دي

"قَالَ اللهُ تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَمِنْ آيَاتِهِ مَنَامُكُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ" او د الله ﷻ د توحيد له څينو دلائلو څخه ستاسو خوب دی د شپې او د ورځې. [الروم:۲۳].

تشريح: انسان چې کله ويده شي نو د هغه ټول حواس او عقل کار پرېږدي، د هغه مثال د مړي په شان شي. لکه څرنگه چې د مړي عقل او حواس کار نه کوي، دغه شان د ويده انسان عقل او حواس هم کار نه کوي، کله چې راويښ شي، نو عقل او حواس يې بيا کار شروع کړي، نو لکه چې الله ﷻ هغه ته يو ځل بيا د مرگ نه وروسته ژوند ورکړو، په دې وجه انسان باندې شکر ويستل پکار دي، په دې کې د الله ﷻ د قدرت او توحيد ستر دليل دی.

ښه خوبونه د نبوت د علومو سره تعلق ساتي

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يقول: لَمْ يَبْقَ مِنَ النُّبُوَّةِ إِلَّا الْمُبَشِّرَاتِ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه مې واوريدل چې فرمايل يې: د نبوت هيڅ حصه پاتې نه شوه، مگر زيري، "قَالُوا: وَمَا الْمُبَشِّرَاتُ؟" صحابه کرامو وفرمايل: اې د الله تعالى رسوله! مبشرات څه دي؟

Maktaba Tul Ishaat. com

"قال: الرؤيا الصالحة" نبي كريم ﷺ وفرمايل: ښكلي خوبونه رواه البخاري

تشريح: إلا المبشرات: صرف مبشرات به پاتې شي، د مبشرات معنی ده ښكلي خبره، خوشخبري، زيري، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: خوب د مسلمان سړي او ښځو دواړو په حق كې زيری دی، د وحي ختمېدو او خوب پاتې كېدو باره كې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د وفات وروسته به د وحي سلسله ختمه شي چې ددې په وجه به د راتلونكي حالات علم حاصلېدو، نو دا خو ختمه شوه، ليكن الله ﷻ د رښتوني خوب په واسطه د راتلونكي حالاتو علم وركوي.

يو سوال او جواب:

سوال: كله كله انسان په خوب كې ويرېږي، سخت خوب ويني، نو بيا دا څرنګه مبشرات ګرځېدلی شي، هغه خو منذرات يعنې ويرونكي خوبونه دي؟

جواب: حديث په تغليب او اكثريت باندې بناء دی، يعنې اكثره او غالب داسې كيږي چې ښه خوبونه سړي ويني، لكه څرنګه چې مور پلار سره جمع كړي او والدين يا ابوين ورته وويل شي، پلار ته غلبه وركړې شي په مور باندې، يا لكه لمر او سپوږمۍ دواړو ته قمرين وويل شي چې سپوږمۍ ته په لمر باندې غلبه وركړې شي.

قيامت ته نږدې به رښتوني خوبونه زيات وي

"وعنه: أنّ النبيّ ﷺ، قَالَ: إذَا اقْتَرَبَ الزَّمَانُ لَمْ تَكَدْ رُؤيَا المُؤْمِنِ تَكْذِبُ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې د قيامت وخت رانږدې شي او زمانه راغونډه شي نو د مؤمن سړي يو خوب به نه دروغجن كيږي، "فَرُؤْيَا المُؤْمِنِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءاً مِنَ النُّبُوَّةِ" او د مؤمن سړي خوب د نبوت شپږ څلويښتمه حصه د نبوت ده. متفقٌ عَلَيْهِ

"وفي رواية: أصْدَقُكُمْ رُؤْيَا، أصْدَقُكُمْ حَدِيثاً" او په يو بل روايت كې دي چې ډېر رښتوني خوبونه به د هغه سړي وي څوك چې رښتيا هم ډېر وايي.

تشريح: په حديث كې اشاره ده دې خبرې ته چې كله قيامت رانږدې شي، نو د مسلمان سړي به يو خوب هم غلط نه ثابتيږي، په بل روايت كې ذكر شو چې تر ټولو زيات رښتوني خوبونه به هغه كس ويني څوك چې زيات رښتيا وايي، "روءيا المومن جزمن ستة واربعين جزءمن النبوة" د مسلمان سړي خوب د نبوت څلويښتمه حصه ده، په دې حديث كې هم د ښكلي خوب فضيلت بيان شوی دی چې رښتونی خوب په حقيقت كې د نبوت څلويښتمه حصه ده.

خوب د نبوت څويمه حصه ده؟

ددې سوال صحيح جواب دا دی چې ددې پوره علم صاحب شريعت ته دی، حافظ ابن حجر رحمه الله يو بل جواب کړی دی چې د نبوت نه وړاندې پوره شپږ مياشتې د خوب سلسله چليده، ددې نه وروسته بيا تر ۲۳ کالو پورې د وحی سلسله چليده، نو نېک خوب ليدل د شپږو مياشتو او ۲۳ کالو نه څلوېښتمه حصه شوه، ليکن دا مفهوم واضح نه دی، صحيح جواب هم هغه دی کوم چې وړاندې ذکر شو.

په خوب کې نبي کريم ﷺ ليدل

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَسَيَرَانِي فِي الْيَقَظَةِ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې ما په خوب کې ووينې نو زر ده چې ما به په ويښه باندې ووينې، "أَوْ كَأَنَّمَا رَآنِي فِي الْيَقَظَةِ" او يا يې داسې وفرمايل: لکه زه چې هغه په ويښه ليدلی يم، "لَا يَتَمَثَّلُ الشَّيْطَانُ بِي" او دا ځکه چې شيطان زما صورت نه شي جوړولی، متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: نبي کريم ﷺ په خوب کې ليدل ډېره د فضيلت خبره ده، "أوكأنما رآني في اليقظة" يا يې داسې وفرمايل: لکه زه چې يې په ويښه ليدلی وم، په دې کې راوي ته شک دی چې نبي کريم ﷺ کومه جمله وفرمايل، که اولنی جمله يې فرمايلې وي نو د هغې مطلب دا دی: کوم کس چې رسول الله ﷺ په خوب کې ووينې، نو داسې کس به د قيامت په ورځ هم رسول الله ﷺ ووينې، يا دا چې زيارت کېدل دا ددې خبرې واضح دليل دی چې دغه خوب ليدونکی مسلمان دی، که دويمه خبره وي نو بيا مفهوم واضح دی، علامه ابن حجر رحمه الله فرمايي: انبياء عليهم السلام په خوب کې ليدل ددې خبرې دليل دی چې سړی ښه نېک عمله، مخلص او پرهېزګار دی، نبي کريم ﷺ په خوب کې ليدل ددې خبرې واضح دليل دی چې مرګ به ورته په ايمان سره راځي، د نبي کريم ﷺ په خوب کې زيارت کول د قيامت په ورځ د سفارش او شفاعت دليل دی، ليکن دا خبره د يادونې وړ ده چې څوک رسول الله ﷺ په خوب کې ونه وينې، نو دا ددې دليل نه شي جوړېدی چې ګوندې زما دين او ايمان کمزوری دی

ايا د نبي عليه السلام په صورت کې شيطان راتلی شي؟

لايتمثل الشيطان بي: شيطان زما شکل او صورت نه شي جوړولی، څوک چې د رسول الله ﷺ زيارت وکړي هغه په حقيقت کې د رسول الله ﷺ زيارت وکړو، ځکه چې شيطان د نبي کريم ﷺ په شکل کې نه شي راتلی، ځکه چې نبي کريم ﷺ د خير او هدايت امام دی او شيطان لعين د شر او ضلالت امام دی، د يو بل ضد دي، شيطان د الله ﷻ په صورت کې راتلی شي، وجه يې دا ده چې د الله ﷻ ذات اقدس صفات هدايت او صفات اضلال دواړو جامع دی.

ښه خوب خپل ملګري ته بيان کړه!

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه: أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ ﷺ يقول: إِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ رُؤْيَا يُحِبُّهَا، فَإِنَّمَا هِيَ مِنَ اللهِ تَعَالَى" د أبو سعيد

Maktaba Tul Ishaat. com

خدري ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې ما د رسول اللهﷺ نه واوريدل. کله چې په تاسو کې څوک خوب ووينې او هغه يې خوښ وي، نو داسې خوب د الله ﷻ له طرفه دى، "فَلْيَحْمَدِ اللهَ عَلَيْهَا، وَلْيُحَدِّثْ بِهَا" نو د الله ﷻ صفتونه او حمدونه دې ووايي او داسې خوب دې بيان هم کړي، وفي رواية: فَلا يُحَدِّثْ بِهَا إِلَّا مَنْ يُحِبُّ" او په يو بل روايت کې دي چې داسې خوب دې هر چاته نه بيانوي، بلکې هغه چاته دې بيان کړي چې د کوم کس سره يې مينه وي او خوښوي يې، "وَإِذَا رَأَى غَيْرَ ذَلِكَ مِمَّا يَكْرَهُ، فَإِنَّمَا هِيَ مِنَ الشَّيْطَانِ" او کله چې خراب خوب ووينې، هغه خوب دى بد ګڼې، نو داسې خوب د شيطان له طرفه دى، "فَلْيَسْتَعِذْ مِنْ شَرِّهَا، وَلَا يَذْكُرْهَا لِأَحَدٍ، فَإِنَّهَا لَا تَضُرُّهُ" نو په الله ﷻ سره دې د هغې له شره پناه وغواړي او هيچاته دې نه بيانوي، ځکه چې هغه نه دا خوب هيڅ ضرر او تکليف نه شي رسولى. متفقٌ عَلَيْهِ

إذا رأى أحدكم رؤيا يحبها: کله چې په تاسو کې کوم کس داسې خوب ووينې چې دى يې خوښوي، نو نېه خوب د الله ﷻ له طرفه وي او دا په حقيقت کې بشارت دى، ددې لپاره چې انسان خوشحاله شي او په نېکو اعمالو کې تيزي وکړي، دغه خوب دې خپل خوږ ملګري ته بيان کړي، ددې وجه دا ده چې که کله يو انسان خوب ووينې او بيا يې داسې کس ته بيان کړي چې دده سره عداوت او دښمني ساتي، هغه به ورته غلط تعبير وباسي، کېدى شي چې هغه خوب هغسې واقع شي. بل دا چې حافظ ابن حجر ﷫ د خوب درې آداب ذکر کړي دي کوم چې د احاديثو نه هم معلومېږي، يو دا چې الحمدلله دې ووايي، بل دا چې د الله ﷻ تعريف دې بيان کړي او بل دا چې کوم خيرخواه عالم ته دې بيان کړي

وإذا رأى غير ذالك مما يكره فإنما هي من الشيطان: او که ددې برعکس خراب خوب ووينې نو داسې خوب د شيطان له لورې وي، د شيطان له لورې دا مطلب چې بد خوب کې شيطاني اثرات وي، په دې خوب سره هغه پريشانه کوي، په دې باندې شيطان ډېر خوشحالېږي، په بد خوب سره انسان کې بدګماني او نا اميدي پيدا کېږي، د الهي تقرب او د حق په لټون کې سست شي

ولا يذكرها لأحدٍ فإنها لا تضره: علامه قطب الدين ﷫ فرمايي لکه څرنګه چې الله ﷻ صدقې او خيراتونه د مال د حفاظت ذريعه جوړه کړې ده، دغه شان مذکوره شيان يعنې په الله ﷻ سره پناه اخيستل او چاته يې نه بيانول هم ان شاءالله د بد خوب د مضرو اثراتو څخه به يې الله ﷻ بچ کړي

ښه خوب د الله ﷻ له لورې وي

"وعن أبي قتادة ﷺ، قال: قال النبيُّ ﷺ: الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ -وفي رواية: الرُّؤْيَا الْحَسَنَةُ- مِنَ اللهِ" د ابو قتادة ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول اللهﷺ وفرمايل: نېک خوبونه او په يو بل روايت کې دي ښکلي خوبونه د الله ﷻ له طرفه دي، "وَالْحُلْمُ مِنَ الشَّيْطَانِ" او بد خوبونه (تېر باسل) د شيطان له طرفه وي، "فَمَنْ رَأَى شَيْئاً يَكْرَهُهُ فَلْيَنْفُثْ عَنْ شِمَالِهِ ثَلَاثاً" بس کوم کس چې په تاسو کې داسې خوب ووينې چې هغه يې نه خوښوي، نو چپ طرفته دې درې ځله لاښې توف کړي، "وَلْيَتَعَوَّذْ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَإِنَّهَا لَا تَضُرُّهُ" او په الله ﷻ سره دې د لعين شيطان نه پناه وغواړي، ځکه چې دا هغه ته هيڅ ضرر نه شي رسولى. متفقٌ عَلَيْهِ

"اَلنَّفْثُ: نَفْخٌ لَطِيفٌ لَارِيقَ مَعَهُ" د (النفث) معنی ده: هغه تف په کوم کې چې ځدلانې نه وي.

تشريح: الرؤيا الحسنة من الله: ښه خوب د الله ﷻ له لورې وي، داسې خوبونو ته په حديث کې مبشرات ويل شوي دي، او (لهم البشرى) په لفظ سره په قرآن کريم کې هم دې ته اشاره شوې ده، د نبوت څلوېښتمه حصه ده.

په رؤيا او حلم کې فرق:

الحلم من الشيطان: بد خوب د شيطان طرفه وي، مخکې د خوب لپاره لفظ د (رؤيا) ذکر شو او دلته لفظ د (الحلم) ذکر شو، دا ځکه چې د شريعت په اصطلاح کې رؤيا نېک خوب ته وايي، (الحلم) بد خوب ته وايي، د بد خوب ليدو نه وروسته ددې د حل لپاره شريعت يوه طريقه ښودلې ده، هغه دا چې په چپ طرف دې درې ځله لانې توف کړه او په الله ﷻ سره دې د لعين شيطان نه پناه واخلي.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: څوک چې بدخوب ويني، نو د هغې يو څو آداب دي: هغه دا چې (۱) په الله ﷻ سره دې پناه واخلي، مثلاً اعوذ بالله من الشيطان الرجيم دې ووايي، (۲) چاته دې نه بيانوي، چپ طرف ته دې لانې توف کړي، (۳) اړخ دې بدل کړي، (۴) اوچت دې شي لمونځ دې شروع کړي، (۵) يو ځل دې آيت الکرسي ووايي، علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: که لمونځ يې شروع کړو، نو ټول آداب دې پکې جمع کړي.

بد خوب چې ويني، نو درې ځله دې چپ طرف ته لانې توف کړي!

"وعن جابر ﷺ، عن رسول الله ﷺ، قَالَ: إِذَا رَأَى أَحَدُكُمُ الرُّؤْيَا يَكْرَهُهَا، فَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ ثَلَاثاً" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې په تاسو کې داسې خوب ويني چې دی يې بد ګڼي، نو هغه دې چپ طرفته درې ځله لانې توف کړي، "وَلْيَسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ ثَلَاثاً" او درې ځله دي (اعوذبالله من الشيطان الرجيم) ووايي، "وَلْيَتَحَوَّلْ عَنْ جَنْبِهِ الَّذِي كَانَ عَلَيْهِ" او د هغه طرفنه دې واوړي په کوم طرف چې پروت وي. رواه مسلم

تشريح: فليبصق عن يساره ثلاثاً: درې ځله دې چپ طرفته لانې توف کړي، په دې حديث کې د لانو توف کولو لپاره (فليبصق) لفظ استعمال شوی دی، ددې نه وړاندې روايت کې (فلينفث) لفظ استعمال شوی دی، په دواړو کې څه فرق دی؟ علماء فرمايي چې (فليبصق) هغه لانو توف کولو ته وايي چې د خولې نه په دې شان سره راووځي چې څه په خوله کې وي او څه بهر وي، (فلينفث) هغو لانو توف کولو ته وايي لانې پکې نه وي، تش تف تف وشي، د حالاتو په اعتبار سره په دواړو عمل کولی شي، "ويتحول عن جنبه" خپل طرف دې بدل کړي، علماء فرمايي: د خوب اثرات دفع کولو لپاره اړخ بدلول ډېر زيات مفيد دي.

Maktaba Tul Ishaat. com

چې خوب يې نه وي ليدلى، وايي خوب مې وليدلو

"وعن أبي الأسقع واثلة بن الأسقع ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: ((إنّ من أعظم الفرى أن يدّعي الرّجل إلى غير أبيه" د ابو الاسقع واثلة بن اسقع ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د ټولو نه لوى دروغ دا دي چې يو سړى خپل ځان د بل چا پلار ته منسوب کړي، يعني ووايي: زه د هغه زوى يم، حالانکه دى د هغه زوى نه وي "أو يُري عينه ما لم تر" او داسې ووايي چې ما خوب ليدلى دى، حالانکې هغه خوب نه وي ليدلى، "أو يقول على رسول الله ﷺ ما لم يقل" او يا په رسول الله ﷺ پورې داسې خبرې وتړي چې رسول الله ﷺ نه وي ويلي. رواه البخاري

تشريح: إن من أعظم الفرى أن يدعي الرجل إلى غير أبيه: تر ټولو زيات دروغ دا دي چې څوک د خپل پلار نه سيوا بل چاته د پلار توب نسبت وکړي چې دغه مې پلار دى. حال دا چې هغه دده پلار نه وي، مطلب دا چې يو کس خپل پلار پريږدي او پردى کس وښيي چې دغه مې پلار دى او حال دا چې هغه دده پلار نه وي، دغه عمل په ګناه کبيره کې شامل دى، په دې سره نسب ضائع کيږي او ددې خبرې ډېر زيات نقصانونه پيښيږي

أو يري عينه مالم تر: او يا خپلو سترګو ته هغه وښيي کوم څه چې هغه نه وي ليدلي، مطلب دا چې دى دعوه کوي چې پرون شپه مې په خوب کې داسې وليدل او حال دا چې هيڅ يې نه وي ليدلي، دا عمل هم په ګناه کبيره کې شامل دى، دا هم ډېر لوى بهتان دى، ځکه چې نېک خوبونه د نبوت څلوېښتمه حصه ده او دا د الله ﷻ سره تعلق ساتي، لکه نعوذ بالله دغه کس چې په الله ﷻ پورې دروغ تړي، وايي: الله ﷻ ماته داسې داسې په خوب وښودل او حال دا چې هغه هيڅ نه وي ليدلي

أو يقول على رسول الله ﷺ مالم يقل: يا د رسول الله ﷺ نه کومه داسې خبره نقل کړي چې نبي کريم ﷺ نه وي فرمايلې، مطلب دا چې له ځانه احاديث او روايات نقل کوي، د رسول الله ﷺ ارشاد نه وي او دى وايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي، دا هم په بهتان کې راځي او ستره ګناه ده، په دې سره ګمراهي خپريږي، بل د رسول الله ﷺ په صفا شخصيت او کردار باندې داغ لګيږي چې هغوى کومه خبره نه وي کړې او ته وايې چې رسول الله ﷺ داسې فرمايلي دي، په بل حديث کې راځي چې څوک په ما باندې دروغ وتړي (يعني ما يوه خبره نه وي کړې او دى وايي چې رسول الله ﷺ داسې وفرمايل) نو داسې کس په جهنم کې ځانته ځاى جوړوي

كتاب السَّلَامِ

د سلام بيان

باب فضل السلام والأمر بإفشائه

د سلام فضيلت او په خپرولو يې حكم شوى

"قَالَ اللهُ تعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتاً غَيْرَ بُيُوتِكُمْ" اې هغو كسانو چې تاسو ايمان راوړى دى پردو كورونو ته مه داخلېږئ، "حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا" تر څو چې مو پوښتنه نه وي كړې او په كورني مو سلام اچولى نه وي. [النور: ۲۷].

تشريح: يا أيها الذين آمنوا: اې مؤمنانو! په دې آيت كې اگر چې خطاب سړو ته دى، ليكن ښځې هم په دې كې داخلې دي، ام اياس ﷺ فرمايي: موږ څلور ښځې به اكثره د عائشه ﷺ كره تلو، كور ته د داخليدو وړاندې به موږ پوښتنه كول چې داخلې شو او كه نه؟ كه اجازت به ملاو شو، نو داخلې به شولو. د آيت د عموم نه معلومېږي چې كله څوك خپلې مور، خور يا لور كور ته داخلېږي، نو بايد چې اول پوښتنه وكړي، "حتى تستأنسوا وتسلموا على أهلها" كور ته چې داخلېږي نو تر څو چې يې دوه كارونه نه وي كړي تر هغې دې نه داخلېږي، (۱) اجازت دې واخلي، (۲) سلام دې واچوي، په ځينو رواياتو كې د دې طريقه هم ښودل شوې ده چې اول دې د بهر نه سلام واچوي، ددې وروسته دې خپل نوم واخلي چې فلانكى كس يم بيا چې يې د چا سره كار وي، هغه به ووايي چې د فلانكي سړي سره مې كار دى.

سلام اچول د الله ﷻ له طرفه تحفه ده:

"وقَالَ تعالى": الله ﷻ فرمايي: "فَإِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوتاً فَسَلِّمُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ" كله چې تاسو خپلو كورونو ته داخلېږئ، نو په خپل خاندان باندې سلام واچوئ، "تَحِيَّةً مِنْ عِنْدِ اللهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً" دا د الله ﷻ له طرفه يوه تحفه ده او يو پاكيزه عمل دى. [النور: ۶۱]

تشريح: د آيت مطلب دا دى چې كله كور ته داخلېږئ نو په كور والا باندې سلام اچوئ چې په دې سره په كور كې بركت نازلېږي، كه په كور كې څوك اوسېږي نو كور ته د داخليدو پرمهال دې داسې سلام واچوي (السلام عليكم ورحمة الله وبركاته) او كه په كور كې څوك نه وي، نو بيا دې داسې سلام واچوي: (السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين) او كه غير مسلم خلك په كور كې وي، نو بيا دې داسې سلام واچوي: (السلام على من اتبع الهدى) په آيت كې چې د سلام نسبت الله ﷻ ته شوى دى، ددې مطلب دا دى چې دا سلام د الله ﷻ له طرفه مشروع او ثابت دى. د (طيبة) مطلب دا دى چې دغه دعاء اورېدو سره يعنې سلام اورېدو سره زړه خوشحالېږي

Maktaba Tul Ishaat. com

د سلام جواب غوره يا برابر ورکول پکار دي:

"وقال تعالى: ﴿وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا﴾" او کله چې تاسو د (السلام عليکم) جواب ورکوئ، نو په ښې طريقې سره جواب ورکوئ! "﴿أَوْ رُدُّوهَا﴾" او يا د هغې مناسب جواب ورکوئ! [النساء:۸۶]

تشريح: امام جصاص رازي رحمه الله فرمايي: عربو چې به کله په خپل مينځ کې ملاقات کولو، نو داسې به يې ويل: (حياك الله) الله جل جلاله دې تا ژوندی وساتي، کله چې اسلام راغلو نو (السلام عليکم) ته يې ترويج ورکړو، ابوذر رضي الله عنه فرمايي: تر ټولو وړاندې ما په رسول الله ﷺ باندې سلام واچولو او داسې مې وويل: (السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته) سلام اچول سنت طريقه ده او جواب ورکول يې واجب دي، په آيت کې د (تحية) نه مراد سلام اچول دي، په آيت کې عامو مسلمانانو ته حکم دی چې کله کوم مسلمان درته دعاء يا سلام وکړي، نو ته هم ورته جواب ورکوه يا هم هغسې جواب ورکړه يا د هغه نه غوره جواب ورکړه، مثلاً: که چېرته چا درته وويل چې (السلام عليکم) نو ته د هغه په جواب کې ووايه چې (وعليکم السلام) او که زيات ثواب غواړې نو داسې هم ورسره ووايه چې (ورحمة الله) او که ددې نه هم زيات ثواب غواړې، نو بيا ورسره دا هم اضافه کړه چې (وبرکاته).

پرښتو ابراهيم عليه السلام ته سلام وويل:

"وقال تعالى" الله جل جلاله فرمايي: "﴿هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ﴾" ايا تاته د ابراهيم عليه السلام د عزتمندو مېلمنو خبر راغلی دی، "﴿إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ﴾" کله چې هغه مېلمه په ابراهيم عليه السلام باندې داخل شو، نو هغوی ورته (السلام عليکم) وويل، ابراهيم عليه السلام ورته (وعليکم السلام) وويل [الذاريات:۲۴-۲۵].

تشريح: ضيف إبراهيم المکرمين: د ابراهيم عليه السلام د معززو او عزتمندو مېلمنو باره کې خبر، دې مېلمنو ته ځکه عزتمند وويل شو چې هغه پرښتې وې او د پرښتو صفت په قرآن کريم کې ذکر دی، "بل عبادٌ مکرمون" دغه پرښتې ډېرې زياتې عزتمندې دي، ځينې علماء فرمايي: دغو پرښتو ته ځکه معزز وويل شو چې ابراهيم عليه السلام د هغو ډېر زيات قدر او عزت کړی دی، ځکه چې هغوی په انساني شکل او صورت کې راغلي وې.

ابراهيم عليه السلام د پرښتو سلام ته ډېر ښه جواب ورکړو:

فقالوا سلاما قال سلامٌ: پرښتو (سلاما) وويل، ددې په جواب کې ابراهيم عليه السلام (سلامٌ) وويلو، په دوه پېښنونو سره يې وويل، دا جمله اسميه ده، او جمله اسميه په دوام او استمرار باندې دلالت کوي، ځکه چې په قرآن کريم کې ارشاد دی: "واذا حييتم بتحية فحيوا بأحسن منها الخ" په تاسو کې څوک چاته سلام واچوي نو بايد د هغې غوره جواب ورکړي، ابراهيم عليه السلام په دې باندې عمل وکړو او پرښتو ته يې د هغوی د سلام جواب ډېر په ښکلي طريقه ورکړو.

په اسلام کې تر ټولو غوره عمل

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما: أَنَّ رجلاً سأل رسول الله ﷺ: أيُّ الإسلامِ خَيْرٌ؟" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کس د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! په اسلام کې تر ټولو زيات غوره عمل کوم دی؟ "قَالَ: تُطْعِمُ الطَّعَامَ، وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا عمل بهتر دی چې خلکو ته ډوډی ورکړې او په هر هغه چا باندې سلام واچوې کوم چې ته پېژنې او که ته يې نه پيژنې. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: أي الإسلام خير: په اسلام کې کوم عمل غوره او بهتر دی؟ دلته يوه پوښتنه کيږي چې کې شمير صحابه کرامو دا پوښتنه کړې ده: کوم عمل غوره دی؟ رسول الله ﷺ هر يو ته مختلف جوابونه ورکړي دي، حالانکې يو سوال ته يو قسم جواب پکار دی؟ ددې سوال دوه جوابونه کېدلی شي: (۱) رسول الله ﷺ په مختلفو وختونو کې مختلف اعمال غوره ښودلي، وجه دا ده چې د وخت په اعتبار سره کله يو عمل غوره وي او کله بل عمل، (۲) بل جواب دا دی چې د سائل يعنې پوښتنه کونکي سړي د احوالو د تفاوت په بنياد مختلف جوابونه ورکړی شوي دي، يعنې رسول الله ﷺ چې به د کوم شي کمی په سائل کې وموندلو، هغه ته يې هغه عمل غوره ښودلی دی. "تقرأ السلام" سلام اچول، مسکينانو ته ډوډی ورکول، هر يو کس ته سلام اچول، که ته يې پيژنې او که نه. دا دواړه داسې صفات دي چې په دې سره نفرتونه لرې کيږي او مينه محبت ورسره زياتيږي.

ادم عليه السلام پرښتو ته سلام وکړو

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ، قَالَ: لَمَّا خَلَقَ اللهُ آدَمَ ﷺ قَالَ: اذْهَبْ فَسَلِّمْ عَلَى أُولٰئِكَ نَفَرٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ جُلُوسٌ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې کله الله ﷻ آدم عليه السلام پيدا کړو، نو ورته يې وفرمايل: لاړ شه! د ملائکو په هغه ټولي باندې سلام واچوه! "فَاسْتَمِعْ مَا يُحَيُّونَكَ، فَإِنَّهَا تَحِيَّتُكَ وَتَحِيَّةُ ذُرِّيَّتِكَ" او غوږ ورته کېږده چې هغوی تا ته څه ځواب درکوي، هغه به ستا لپاره او ستا د اولاد لپاره تحفه او ډالی وي. "فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، فَقَالُوا: السَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللهِ" آدم عليه السلام ورته ووېل: (السلام عليکم) پرښتو ورته په ځواب کې ووېل: (السلام عليك ورحمة الله)، "فَزَادُوهُ: وَرَحْمَةُ اللهِ" پرښتو لفظ د (ورحمة الله) زيات کړو. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: فإنها تحيتك وتحية ذريتك: دا به ستا او ستا د اولادې سلام وي، ددې نه معلومه شوه چې د مسلمانانو دغه سلام د آدم عليه السلام نه شروع دی او په هر آسماني دين کې هم دغه طريقه وه، "فزاده ورحمة الله" بس هغوی دغه جمله ورپسې زياته کړه چې (ورحمة الله) کله چې پرښتو جمله د (ورحمة الله) په سلام کې زياته کړه، نو په دې کې نور خوند هم پيدا شو، غوره طريقه هم دغه ده چې کله يو کس درته دومره ووايي چې: (السلام عليکم) نو بايد په جواب کې ورته (وعليکم السلام ورحمة الله) ووېل شي، په يو بل روايت کې لفظ د (وبرکاته) هم اضافه شوی دی او په ځينو کې خو د (مغفرته) اضافه هم شوې

Maktaba Tul Ishaat. com

ده اګر چې حديث ضعيف دی، ليکن امام ابوداود رحمه الله فرمايي: په فضائلو کې ضعيف حديث مقبول وي، ابن حجر رحمه الله فرمايي: (مغفرته) ويل صحيح دي، خو ددې نه نوره زياتي اضافه نه شي کولی او نه صحيح ده، په فتاوی عالمګيري کې دي چې: (لاينبغي أن يزاد على بركاته) مناسب نه دي چې د سلام جواب د (بركاته) نه زيات وركړی شي.

رسول الله ﷺ داوه/۷ خبرو امر کړی دی

"وعن أبي عمارة البراء بن عازب رضي الله عنهما، قال: أمرنا رسول الله ﷺ بسبع" د أبو عماره براء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ موږ ته د اوه کارونو امر کړی دی: "بعيادة المريض، واتباع الجنائز، وتشميت العاطس" د مريض پوښتنې ته تلل، جنازې ته تلل او د پرنجي جواب ورکول، "ونصر الضعيف، وعون المظلوم، وإفشاء السلام" او د کمزوري سړي مدد کول او د مظلوم مرسته کول او سلام خپرول، "وإبرار المقسم" او قسم پوره کول "متفق عليه، هذا لفظ إحدى روايات البخاري".

تشريح: دا حديث په (حرمات المسلمين الخ) باب نمبر ۲۷) کې تېر شوی دی

دايمان نه بغير انسان جنت ته نه شي تللی

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: لا تدخلوا الجنة حتى تؤمنوا" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تر هغه پورې به تاسو جنت ته داخل نه شئ تر څو چې مو ايمان نه دي راوړی، "ولا تؤمنوا حتى تحابوا" او تر هغه پورې مؤمنان کېدی نه شئ تر څو چې په خپل مينځ کې مينه او محبت شروع نه کړئ؛ "أولا أدلكم على شيء إذا فعلتموه تحاببتم؟ أفشوا السلام بينكم" ايا تاسو ته يو داسې کار ونه ښيم چې کله هغه کار تاسو وکړو نو ستاسو په خپل مينځ کې به مينه او محبت شروع شي، هغه دا چې په خپل مينځ کې سلام خپور کړئ؛ رواه مسلم

تشريح: دا حديث هم په (باب فضل الحب في الله والحث الخ) کې تېر شوی دی، دلته يې يو ځل بيا ذکر کړو، وجه يې دا ده چې د مسلمانانو خپل مينځ کې اتفاق شريعت ته مطلوب امر دی او دغه اتفاق په اسلامي شعائرو خپلولو سره جوړېږي، کله چې په مسلمانانو کې اسلامي شعائر عام شي او عمل پرې شروع شي، نو په هغه ورځ به مينه محبت او اتفاق جوړ شي

د سلام او صله رحمي حکم

"وعن أبي يوسف عبد الله بن سلام رضي الله عنه، قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: يا أيها الناس، أفشوا السلام، وأطعموا الطعام، وصلوا الأرحام" د ابو يوسف عبد الله بن سلام رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چې فرمايل يې: اې خلکو! په خپل مينځ کې سلام خپور کړئ او خلکو ته ډوډی ورکړئ او صله رحمي وکړئ؛ "وصلوا والناس نيام، تدخلوا الجنة بسلام" او خلک چې ويده شي نو تاسو لمونځ کوئ؛ جنت ته به په سلامتيا سره داخل شئ؛ "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: افشوالسلام: سلام خپور کړئ په يو بل روايت کې دي چې په هر چا باندې سلام اچوئ که هغه پېژنئ او که نه، په سلام اچولو کې سلامتي ده، څومره چې زيات سلام اچولی شي هغومره د الله ﷻ له طرفه سلامتيا راځي.

اطعموالطعام: خلکو ته ډوډۍ ورکوئ، په عامو وختونو کې خلکو ته ډوډۍ ورکول سنت طريقه ده، ليکن کله چې اضطراري حالت پيدا شي، نو بيا ډوډۍ ورکول فرض دي.

وصلواالارحام: دريم حکم صله رحمي ده، انسان بايد د هر چا سره نېکي وکړي، ليکن په خاګړې توګه د خپلوانو سره بايد ډېر زيات ښه سلوك وکړي، اګر که هغوی دده سره ښه معامله او ښه رويه نه کوي، په آخر کې ووېل شو چې د شپې عبادت کوئ په داسې حال کې چې خلك ويده وي، په يو بل روايت کې دي: څوک چې د تهجد لمونځ کوي، داسې کس به بې حسابه او بې کتابه جنت ته داخليږي، په احاديثو کې د تهجدو ډېر زيات فضيلت بيانُ شوی دی، ددې اعمالو په برکت سره به جنت ته داخليږي.

د راوي عبد الله بن سلام رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې عبد الله رضي الله عنه دی، کنيت يې ابويوسف دی، لقب يې حبر دی، د يهودو مشهور خاندان قينقاع سره يې تعلق درلود، د دوی سلسله نسب د يوسف عليه السلام پورې رسيږي، د جاهليت په زمانه کې د دوی نوم حصين وو، نبي کريم ﷺ د دوی دغه نوم بدل کړو او عبد الله نوم يې ورته کېښودلو.

اسلام: کله چې رسول الله ﷺ مدينې منورې ته هجرت وکړو، نو دوی د رسول الله ﷺ نه يو څو پوښتنې وکړې، دوی دا هم ووېل: د داسې سوالونو جوابونه د نبي نه بغير څوک نه شي ورکولی، ددې نه وروسته مسلمان شو، د بدر او احد په جنګ کې يې شرکت شکي دی او د خندق په غزا کې يې شرکت کړی دی، علامه ذهبي رحمه الله د دوی باره کې فرمايي: "كان عبد الله بن سلام عالم أهل الكتاب وفاضلهم في زمانه بالمدينة" رسول الله ﷺ د دوی باره کې فرمايلي: "إنه عاشر عشرة في الجنة" دوی به يو ولسم جنتي کس وي، ددې ټولو صفاتو سره په دوی کې حد درجه عاجزي وه، يو ځل يې د لرګو پنډ په سر راخيستی وو، چا ورته ووېل: دا څه کوې؟ دوی ورته وفرمايل: خپل تکبر او غرور ختموم.

وفات: د امير معاويه رضي الله عنه په دور خلافت کې په ۴۳ هجري کې په مدينه منوره کې وفات شو.

مرويات: د دوی نه ۲۵ حديثونه روايت شوي دي.

ابن عمر رضي الله عنهما به د سلام اچولو په غرض بازار ته تلو:

"وعن الطُّفَيْلِ بن أُبَيِّ بن كعب: أنه كانَ يأتي عبد الله بن عمر، فيغدو معه إلى السُّوق" د طفيل بن أبي بن كعب رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې زه به د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما په خدمت کې حاضر شوم، سهار وختي به زه ورسره بازار ته تلم، "قَالَ: فإذا غَدَوْنَا إلى السُّوقِ، لَمْ يَمُرَّ عبدُ الله عَلَى سَقَّاطٍ، وَلاَ صَاحِبِ بَيْعَةٍ، وَلاَ مِسْكِينٍ، وَلاَ أحَدٍ إلاَّ سَلَّمَ عَلَيْهِ"

Maktaba Tul Ishaat. com

ابي بن كعب رضي الله عنه فرمايي: كله چې به مونږ سهار بازار ته لاړو، نو ابن عمر رضي الله عنهما به كله په كوم كباړي يا په تاجر يا په كوم غريب مسكين تيرېدلو، نو سلام به يې پرې اچولو. "قَالَ الطُّفَيْلُ: فَجِئْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ يَوْمًا، فَاسْتَتْبَعَنِي إِلَى السُّوقِ، فَقُلْتُ لَهُ: مَا تَصْنَعُ بِالسُّوقِ، وَأَنْتَ لَا تَقِفُ عَلَى الْبَيْعِ، وَلَا تَسْأَلُ عَنِ السِّلَعِ" طفيل رضي الله عنه فرمايي: يوه ورځ بيا زه د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما په خدمت كې حاضر شوم، نو ماته يې وويل: راځه چې بازار ته لاړ شو، ما ورته وويل: تاسو په بازار كې څه كوئ؟ نه څه شی بيع كوئ او نه د كومې سودا پوښتنه كوئ چې دا نې په څو دي او په څو به يې خرڅوي؟ "وَلَا تَسُومُ بِهَا، وَلَا تَجْلِسُ فِي مَجَالِسِ السُّوقِ؟" او نه د كوم قيمت پوښتنه كوئ او نه په كوم مجلس كې كېنئ؟ "وَأَقُولُ: اجْلِسْ بِنَا هَاهُنَا نَتَحَدَّثُ" او زه درته وايم چې دلته لږ ساعت كېنه چې خبرې وكړو او تاسو روان يئ، دا ولې؟ "فَقَالَ: يَا أَبَا بَطْنٍ –وَكَانَ الطُّفَيْلُ ذَا بَطْنٍ– إِنَّمَا نَغْدُو مِنْ أَجْلِ السَّلَامِ، فَنُسَلِّمُ عَلَى مَنْ لَقِينَاهُ" نو عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وفرمايل: اې د غټې خېټې والا (د طفيل رضي الله عنه ډېره غټه خېټه وه) مونږ سهار وختي بازار ته صرف او صرف د سلام اچولو لپاره ځو او مونږ په هغه چا باندې سلام اچوو كوم كس چې زمونږ سره ملاو شي. "رواه مالك في الموطأ بإسناد صحيح".

تشريح غدونا الى السوق: (غدا يغدو) معنى ده: سهار وختي، بازار ته تلل، ليكن د مطلقاً تللو لپاره هم دغه لفظ استعمالېږي، دلته د مطلقاً تللو لپاره دغه لفظ استعمال شوى دى، په دې حديث كې ابن عمر رضي الله عنه د سلام افشاء كولو جذبه بيان شوې ده.

يا ابا بطن: اې د خېټې والا! د طفيل رحمه الله خېټه غټه وه، ځكه ابن عمر رضي الله عنه ورته ابا بطن وويل، ددې نه معلومه شوه چې يو كس ته د هغه د صفت مطابق آواز كول جائز دي، يعنې په كوم كس كې چې څرنګه صفت وي خېټه يې غټه وي، نو د غټې خېټې آواز ورته كول جائز دي، خو په دې شرط چې په دغه اواز سره هغه نه خپه كېږي، په دې سره د هغه تحقير او سپكوالى مقصود نه وي.

د راوي طفيل بن ابى كعب رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې طفيل رضي الله عنه دى، د پلار نوم يې أبى بن كعب رضي الله عنه دى، په اصل كې تابعي دى، ځينو په صحابه كرامو كې شمار كړى دى، ليكن دا خبره نه ده، غزير الحديث دى، د هغه اكثره احاديث د حجازيانو څخه نقل دي، د خپل پلار أبي بن كعب رضي الله عنه او داسې نورو صحابه كرامو څخه روايات نقل كوي.

باب كيفية السلام

د سلام اچولو كيفيت

"يُسْتَحَبُّ أَنْ يَقُولَ الْمُبْتَدِئُ بِالسَّلَامِ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ. فَيَأْتِي بِضَمِيرِ الْجَمْعِ، وَإِنْ كَانَ الْمُسَلَّمُ عَلَيْهِ وَاحِدًا" دا مستحب دي چې څوك اول سلام اچوي نو په دې طريقه دي سلام واچوي: (السلام عليكم ورحمة الله وبركاته) د جمع ضمير به ذكر كوي، اګرچې په چا سلام اچوي، هغه مفرد وي، ځانته كس وي. "وَيَقُولُ

الْمُجِيبُ: وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، فَيَأْتِي بِوَاوِ الْعَطْفِ فِي قَوْلِهِ: وَعَلَيْكُمْ" او ځواب ورکوونکی به داسې وايي (وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته) نو ځواب ورکوونکی به واو عاطفه راوړي

دسلام ثواب کم اوزيات

"عن عمران بن حصين رضي الله عنهما، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، فَرَدَّ عَلَيْهِ ثُمَّ جَلَسَ، فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: عَشْرٌ" د عمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کس د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو او داسې سلام يې واچولو (السلام عليکم) نبي کريم ﷺ ورته ځواب ورکړو، بيا هغه کس کېښستلو، نبي کريم ﷺ وفرمايل (لس نېکی واجب شوې) "ثُمَّ جَاءَ آخَرُ، فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ فَرَدَّ عَلَيْهِ فَجَلَسَ، فَقَالَ: عِشْرُونَ" بيا بل کس راغلو او هغه هم په داسې شان سره سلام واچولو (السلام عليکم ورحمة الله) نبي کريم ﷺ ځواب ورکړو، هغه کس کېښستلو، نبي کريم ﷺ وفرمايل (شل نېکی واجب شوې) "ثُمَّ جَاءَ آخَرُ، فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، فَرَدَّ عَلَيْهِ فَجَلَسَ، فَقَالَ: ثَلَاثُونَ" بيا بل کس راغلو او سلام يې واچولو په داسې طريقه چې (السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته) نبي کريم ﷺ ځواب ورکړو او هغه کس کېناستلو، بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: (دېرش نېکی واجب شوې) "رواه أبو داود والترمذي، وقال: حديث حسن".

تشريح: د حديث نه معلومېږي چې صرف (السلام عليکم) باندې لس نېکی ملاوېږي او په (رحمة الله) اضافه کولو باندې لس نېکی زياتې ملاوېږي او په (برکاته) اضافه کولو سره لس نېکی نورې اضافه کېږي، په ځينو ضعيفو رواياتو کې د (مغفرته) اضافه هم شوې ده، خو بيا هم د مغفرته الفاظو اضافه په صحيح حديث سره ثابته نه ده، شيخ الحديث مولانا زکريا رحمه الله د موطاء د شرح (اوجز المسالك) کې ليکلي دي چې تر (مغفرته) پورې اجازه د حديث نه ثابته ده، اګر چې سنت طريقه دا ده چې صرف په لفظ د (برکاته) باندې اکتفاء وکړی شي، خلاصه دا چې په عامو حالاتو کې د رسول الله ﷺ عادت مبارك تر (برکاته) جملې پورې ؤ، ليکن ځينې وخت د (مغفرته) اضافه هم کېدی شي، ليکن د احنافو په کتابونو کې تر (برکاته) پورې اجازت دی.

عايشې رضي الله عنها ته د جبرئيل عليه السلام سلام

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ ﷺ: هَذَا جِبْرِيلُ يَقْرَأُ عَلَيْكِ السَّلَامَ" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ ماته ووېل: جبرئيل عليه السلام په تاسو باندې سلام وايي، "قالت: قُلْتُ: وَعَلَيْهِ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ" هغه فرمايي چې ما ووېل: (وعليه السلام ورحمة الله وبرکاته) متفق عليه

"وهكذا وقع في بعض روايات الصحيحين: وَبَرَكَاتُهُ" دغه شان الفاظ په ځينو صحيح روايتونو کې هم راغلي دي، يعنې لفظ د (برکاته) "وفي بعضها بحذفها، وزيادة الثقة مقبولة" او په ځينو نسخو کې ددې حذف راغلی دی، ليکن د محدثينو په نزد د ثقه راوي زيادت مقبول دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

تشريح: يقرأ عليك السلام: جبرئيل علیه السلام تاسو ته سلام کوي، ددې نه د عائشه رضي الله عنها فضيلت او مقام معلوميږي، په امهات المؤمنين کې د جبرئيل علیه السلام سلام اچول صرف په دوه مېرمنو باندې ثابت دي: (۱) عائشې رضي الله عنها باندې او (۲) په خديجې رضي الله عنها باندې.

وعليه السلام: په دې جملې سره د غائبانه سلام جواب ذکر کيږي، بايد په جواب کې د (وعليکم) په ځاى (وعليه السلام) يعنې د غائب ضمير استعمال کړي، بل دا چې د غائبانه سلام په جواب کې دعائيه کلمات زياتول افضل دي، لکه څرنګه چې عائشه رضي الله عنها د جبرئيل علیه السلام سلام په جواب کې وفرمايل

که غونډه زياته وي، سلام درې ځله ويل پکار دي

"وعن أنس رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ إِذَا تكلم بِكَلِمَةٍ أَعَادَهَا ثَلَاثًا حَتَّى تُفْهَمَ عَنْهُ" د انس رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به کله کومه خبره کول نو هغه به يې درې ځله تکرار کړل، ددې لپاره چې خلك د هغه په مطلب پوه شي، "وَإِذَا أَتَى عَلَى قَوْمٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ سلم عَلَيْهِمْ ثَلَاثًا" او کله چې به يې کوم قوم ته تشريف راوړو، نو په هغوى به يې درې ځله سلام اچولو. رواه البخاري

"وهذا محمول عَلَى مَا إِذَا كَانَ الْجَمْعُ كَثِيرًا" درې ځله سلام اچول په غټه جمع پورې خاص دي

تشريح: کله چې به رسول الله صلى الله عليه وسلم سلام اچولو او مجلس به زيات وو، نو بيا به يې درې ځله سلام واچولو، يو ځل ښي طرف ته، بل ځل چپ طرف ته، يو ځل به يې مخامخ اچولو، دا ځکه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم غږ مبارك ټولو ته ورسيږي، علماء فرمايي: په دې کې هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اوچتو اخلاقو نمونه پرته ده، هغه دا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به د خلکو د جذباتو قدر کولو، اګر چې په ډله کې يو کس سلام واوري او د هغې جواب ورکړي، نو د ټولو له طرفه کافي کيږي، ليکن بيا به هم رسول الله صلى الله عليه وسلم د ټولو خيال ساتلو، ددې لپاره چې ټول سلام واوري او ټول يې په شريکه جواب راکړي او څوك د جواب نه پاتې نه شي

د سلام اچولو طريقه

"وعن الْمِقْدَادِ رضي الله عنه فِي حديثِهِ الطويل، قَالَ: كُنَّا نَرْفَعُ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم نَصِيبَهُ مِنَ اللَّبَنِ" د مقداد رضي الله عنه نه روايت دى کوم چې په اوږد حديث کې راغلى دي چې موږ به د رسول الله صلى الله عليه وسلم د حصې شيدې هغه ته کېښودلې، "فَيَجِيءُ مِنَ اللَّيْلِ، فَيُسَلِّمُ تَسْلِيماً لَا يُوقِظُ نَائِماً، وَيُسْمِعُ الْيَقْظَانَ" نو د شپې به يې تشريف راوړو او پداسې شان سره به يې سلام واچولو چې ويده کسان به پرې راويښ نه شول او ويښ کسانو به واورېدو، "فَجَاءَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فَسَلَّمَ كَمَا كَانَ يُسَلِّمُ" نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم تشريف راوړو او د عادت مطابق يې سلام واچولو. رواه مسلم

تشريح: په دې حديث کې د سلام اچولو يو لوى ادب بيانيږي، هغه دا چې کله په يوه ډله باندې سرې تيريږي او په دې ډله کې څه خلك ويښ وي او څه خلك ويده وي، نو پکار ده چې په داسې طريقه

سلام واچول شي چې ويښ خلك سلام واوري او ويده خلك راويښ نه شي، زمونږ دين څومره د امن او سکون دين دی چې د ويده خلکو خيال هم پکې ساتلی شي

نبي کريم ﷺ په اشارې سره سلام واچولو

"وعن أسماء بنتِ يزيد رضي الله عنها: أنَّ رسول الله ﷺ مَرَّ في المَسْجِدِ يَوْماً" د اسماء بنت يزيد رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي: يوه ورځ رسول الله ﷺ په جومات کې تېرېدو، "وَعُصْبَةٌ مِنَ النِّسَاءِ قُعُودٌ" او د ښځو يوه ډله ناسته وه، "فَأَلْوَى بِيَدِهِ بِالتَّسْلِيمِ" نبي کريم ﷺ په هغوی باندې په اشارې سره سلام واچولو، "رواه الترمذي وقال: حديث حسن".

"وهذا محمول على أنه ﷺ، جَمَعَ بَيْنَ اللَّفْظِ وَالإِشَارَةِ" امام نووي رحمه الله فرمايي: اشاره هم داسې وه چې په ژبې سره پکې سلام ويل وو، په دې وجه نبي کريم ﷺ په ژبه سلام ويلی دی او اشاره يې هم کړې ده، "وَيُؤَيِّدُهُ أَنَّ فِي رِوَايَةِ أَبِي داود: فَسَلَّمَ عَلَيْنَا" ددې تاکيد د ابو داود رحمه الله د يو بل روايت نه کيږي، فرمايي چې اسماء رضي الله عنها وفرمايل: بيا موږ ته رسول الله ﷺ سلام وکړو.

تشريح: فألوى بيده بالتسليم: رسول الله ﷺ په لاس سره د سلام جواب ورکړو، صرف په لاس سره د سلام جواب ورکولو ممانعت په حديث کې راغلی دی او دا کار د يهودو او عيسويانو طريقه ښودل شوې ده، علامه نووي رحمه الله ددې حديث تاويل داسې کوي چې رسول الله ﷺ په ژبه مبارکه هم جواب ورکړو او په لاس يې هم اشاره وکړه، په دې حديث کې ددې خبرې ذکر هم دی چې رسول الله ﷺ ښځو ته سلام وکړو، علماء فرمايي: دا د رسول الله ﷺ خصوصيت دی، امت ته جائز نه دي چې پردو ښځو ته سلام وکړي يا د ښځو د سلام جواب ورکړي، ځکه چې په فتنه کې د واقع کېدو انديښنه پيدا کيږي، هو! که سړی محرم وي يا يوه ښځه ډېره بوډۍ وي چې بالکل په فتنه کې د واقع کېدو موقع نه وي، نو بيا که سلام واچوي يا د سلام جواب ورکړي خير دی

"وعن أبي أُمامة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِاللهِ" د ابو امامة رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله جل جلاله ته نژدې سړی هغه دی "مَنْ بَدَأَهُم بِالسَّلاَمِ" چې په سلام اچولو کې وړاندې والی کوي، "رواه أبو داود بإسنادٍ جيدٍ، ورواه الترمذي بنحوه وقال: ((حديث حسن)). وَقَدْ ذُكِرَ بعده" دا حديث امام ابوداود رحمه الله په صحيح سند سره روايت کړی دی او امام ترمذي رحمه الله هم په صحيح سند سره روايت کړی دی او فرمايلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح دی او وروسته يې بيا ذکر کړی دی.

تشريح: په سلام باندې ابتداء کول ددې خبرې واضح دليل دی چې دا سړی الله جل جلاله ته نژدې دی، په يو بل روايت کې دي چې څوک اول سلام اچوي داسې کس د تکبر نه خلاص دی

Maktaba Tul Ishaat. com

عليك السلام د مړو سلام دی

"وعن أبي جُرَيٍّ الهُجَيمي رضي الله عنه، قال: أتيت رسول الله ﷺ، فقلت: عَلَيْكَ السَّلَامُ يَا رسول الله" د ابو جري هجيمي رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم او داسې سلام مې واچولو (عليك السلام يا رسول الله ﷺ) "قَالَ: لَا تَقُلْ عَلَيْكَ السَّلَامُ، فَإِنَّ عَلَيْكَ السَّلَامُ تَحِيَّةُ الْمَوْتَى" نبي کريم ﷺ وفرمايل: داسې مه وايه چې (عليك السلام) ځکه چې (عليك السلام) خو په مړو باندې اچولی شي. "رواه أبوداود والترمذي، وقال: ((حديث حسن صحيح))، وقد سبق بطوله" دا حديث امام ابوداود رحمه الله او امام ترمذي رحمه الله روايت کړی دی او فرمايلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح دی

تشريح: دا حديث په (كتاب اللباس باب صفة طول القميص والكم والازا روطرف العمامة وتحريم إسبال شئ من ذالك على سبيل الخيلاء وكراهته من غير خيلاء) کې تېر شوی دی، مصنف رحمه الله دلته د باب د مناسبت له وجې ذکر کړو، وې فرمايل چې په اسلام کې (السَّلَامُ عَلَيْكُمْ) سره سلام کول پکار دي، کنه نو د جاهليت په دوره کې د (عَلَيْكُمُ السَّلَامُ) رواج ؤ

باب آداب السلام

د سلام اچولو آداب

"عن أبي هريرة رضي الله عنه: أنّ رسول الله ﷺ، قال: يُسَلِّمُ الرَّاكِبُ عَلَى الْمَاشِي" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: سپور سړی به په پيدل روان سړي باندې سلام اچوي، "وَالْمَاشِي عَلَى الْقَاعِدِ" او روان سړی به په ناست سړي باندې سلام اچوي، "وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ" او لږ خلک به په ډېرو خلکو باندې سلام اچوي. متفقٌ عَلَيْهِ.

"وفي رواية للبخاري: والصغيرُ عَلَى الكَبيرِ" او په صحيح بخاري کې يو روايت دی چې ماشوم به په مشر سړي باندې سلام اچوي

تشريح: يسلم الراكب على الماشي: په سوارلۍ باندې سپور سړی به په پيدل تلونکي سړي باندې سلام اچوي، علماء فرمايي: شريعت انسان ته دا حکم ددې لپاره ورکړی دی چې په انسان کې عاجزي پيدا شي، انسان چې په سوارلۍ باندې سپور وي، په فخر او تکبر کې رانښتي، ځکه چې شريعت ورته ووېل چې سلام اول ته اچوه! ددې لپاره چې تکبر درېکې رانښتي، دغه شان پيدل مزل کونکي سړی به ناست سړي باندې څه نا څه فوقيت لري، نو ځکه هغه ته په سلام باندې د ابتداء کولو حکم وشو، "القليل على الكثير" کوم خلک چې په شمار کې لږ وي هغوی ته پکار ده چې په ډېرو باندې سلام واچوي

په سلام باندې مخکې کېدل:

"وعن أبي أمامة صُدَيّ بن عجلان الباهلي ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِاللهِ" د ابو امامه صدي بن عجلان باهلي ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ ته زيات نزدې هغه کس دى، "بَدَأَهُم بِالسَّلَامِ" څوک چې په سلام اچولو کې ابتداء کوي "رواه أبوداود بإسناد جيد"

"ورواه الترمذي عن أبي أمامة ﷺ، قيل: يا رسول الله، الرَّجُلَانِ يَلْتَقِيَانِ أَيُّهُمَا يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ؟" او امام ترمذي ﷫ په خپل صحيح کې د ابو امامه ﷺ نه روايت کړى دى هغه فرمايي چې يو کس وويل: يا رسول الله ﷺ! که چېرته د دوه کسانو په خپل مينځ کې ملاقات وشي، نو په دوى کې به کوم يو په سلام سره ابتداء کوي؟ "قَالَ: أَوْلَاهُمَا بِاللهِ تَعَالَى" نبي کريم ﷺ وفرمايل: په دواړو کې چې کوم يو کس الله ﷻ ته ځان نزدې کول غواړي هغه دې اول سلام وکړي. "قال الترمذي: هذا حديث حسن".

تشريح: په سلام باندې د ابتداء کولو فضيلت حاصلولو مخاطب هغه خلک دي چې په لاره کې سره ملاو شي، ځکه چې په دې وخت کې په سلام کولو کې دواړه برابر دي، لهذا په دوى کې چې څوک ابتداء په سلام سره وکړي، هغه به د دې حديث مطابق اجر ترلاسه کوي، عمر ﷺ فرمايي: درې شيان داسې دي چې که مسلمانان يې خپل کړي، نو په خپلو کې به يې مينه او محبت زيات شي او په دوى کې به استحکام هم پيدا شي: (۱) د ملاقات پرمهال سلام اچولو کې وړاندې کول، (۲) بل ته هغه نوم اخيستل چې هغه پرې خوشحالېږي، (۳) کله چې کوم مسلمان غونډې ته درشي نو په عزت او احترام سره يې کېنوئ.

باب إستحباب إعادة السلام على من تكرر لقاؤه على قرب بأن دخل ثم خرج ثم دخل في الحال، أو حال بينهما شجرة ونحوهما

بار بار سلام اچول او تکرار کول مستحب دي، په داسې شان سره چې يو ځل داخل شي بيا خارج شي بيا في الحال راداخل شي او يا د دوى په مينځ کې ونه يا دېوال وغيره حائل شي

"عن أبي هريرة ﷺ في حديث المسيء صلاته: أَنَّهُ جَاءَ فَصَلَّى، ثُمَّ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ، فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَرَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ" د ابو هريره ﷺ څخه روايت دى په هغه روايت کې چې په لمونځ کې د خطاء کېدو ذکر ؤ، فرمايي چې هغه سړى راغلو، لمونځ يې وکړو او د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو، په نبي کريم ﷺ يې سلام واچولو، نبي کريم ﷺ د سلام ځواب ورکړو، "فَقَالَ: ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل واپس شه لمونځ وکړه، تا لمونځ نه دى کړى. "فَرَجَعَ فَصَلَّى، ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ" هغه کس بيا راغلو او په نبي کريم ﷺ يې سلام واچولو، "حَتَّى فَعَلَ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ" تردې چې داسې کار درې ځله وشو. متفق عليه

تشريح: ثم جاء إلى النبي ﷺ فرد عليه السلام: هغه لمونځ وکړو، بيا رسول الله ﷺ ته راغلو او په هغوى يې

Maktaba Tul Ishaat. com

سلام واچولو، په بل روايت کې دي چې: "ثم جاء إلى النبي ﷺ فسلم عليه فقال رسول الله ﷺ وعليك السلام".

ارجع فصل: لاړ شه بيا لمونځ وکړه! علامه نووي رحمه الله دا خبره ثابتول غواړي چې ددې نه لږه وقفه وروسته سلام اچول ثابتيږي، دغه صحابي رضي الله عنه د معمولي وقفې وروسته درې ځله سلام واچولو.

"فانك لم تصل" تا لمونځ نه دی کړی، ممکنه ده چې ددې صحابي رضي الله عنه نه کوم فرض رکن پاتې شوی وي، ځکه خو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې تا لمونځ نه دی کړی.

کله چې هم ملاقات وشي، اګر چې دېوال يا ونه په مينځ کې حائله شي، سلام اچول پکار دي

"وعنه، عن رسول الله ﷺ، قَالَ: إِذَا لَقِيَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو کې څوک د خپل مسلمان ورور سره ملاقات وکړي، نو بايد چې په هغه سلام واچوي، "فَإِنْ حَالَتْ بَيْنَهُمَا شَجَرَةٌ أَوْ جِدَارٌ أَوْ حَجَرٌ" که چيرته د دوی دواړو په مينځ کې ونه، دېوال او يا کاڼی وغيره حائل شي، "ثُمَّ لَقِيَهُ، فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ" او بيا يې ورسره ملاقات وشي، نو سلام دې پرې واچوي. رواه أبوداود

تشريح: دغه حديث د انس رضي الله عنه نه روايت دی، هغه دا چې د رسول الله ﷺ صحابه کرام به کله په تلو راتلو کې د يوې ونې په وجه جدا شول چې يو به ښي طرف بل چپ طرف شو، بيا به بې بيرته ملاقات وشو، نو بيا به يې هم سلام اچولو، مطلب دا چې دومره معمولي وقفې نه بعد به هم دوی سلام اچولو، دا ځکه چې سلام يوه دعاء ده او دعاء چې څومره زياته وشي، هغومره ښه ده

باب إستحباب السلام إذا دخل بيته

کورته د داخلېدو په وخت سلام اچول مستحب دي

"قَالَ اللهُ تعالى" الله جل جلاله فرمايي: "فَإِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ" کله چې تاسو خپل کورته داخل شئ نو په خپلې کورنۍ باندې سلام واچوئ، "تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً" دا د الله جل جلاله له طرفه يوه تحفه ده او يو مبارک عمل دی. [النور:۶۱]

تشريح: ددې آيت تشريح په باب (فضل السلام والأمر بافشائه) کې ۲۲۹ ايت کې تېره شوې ده.

کورکې په سلام اچولو سره برکت راځي

"وعن أنس رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ لي رسول الله ﷺ: يَا بُنَيَّ، إِذَا دَخَلْتَ عَلَى أَهْلِكَ، فَسَلِّمْ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ماته رسول الله ﷺ وفرمايل: اې بچيه! کله چې ته خپل کورته داخل شې، نو په خپله کورنۍ باندې سلام اچوه! "يَكُنْ بَرَكَةً عَلَيْكَ، وعلى أَهْلِ بَيْتِكَ" دا به ستا لپاره او ستا د کورنۍ لپاره برکت وي. "رواه الترمذي وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: په يو بل روايت کې د جابر رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: کله چې

تاسو خپل کور ته داخلېږئ نو سلام اچوئ کله چې سلام اچوئ نو شيطان به ستا د کور څخه نښتي
همدغه مضمون د ډېرو صحابه کرامو څخه منقول دی، په کوم شي باندې يا په کوم کار باندې چې
الله ﷻ نوم واخيستل شي، په هغه کار باندې د شيطان وس نه رسيږي، کله چې کور ته داخلېږې او د
الله ﷻ نوم واخلې، نو شيطان درسره کور ته نه شي داخلېدی، بله دا چې لکه څرنګه وړاندې ذکر شو،
چې سلام يوه دعاء ده او د دعاء زيات مستحق ستا خپله کورنی ده.

باب السلام عَلَى الصبيان

په ماشومانو باندې سلام اچول

"عن أنس ﷺ: أَنَّهُ مَرَّ عَلَى صِبْيَانٍ، فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ" يوه ورځ انس ﷺ په ماشومانو باندې تېرېدلو، نو په هغوی يې سلام واچولو، "وقال: كَانَ رسول الله ﷺ يَفْعَلُهُ" او وې فرمايل: رسول الله ﷺ به داسې کول متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: په ماشومانو باندې سلام اچول ددې خبرې واضح دليل دی چې پداسې انسان کې هيڅ تکبر نه وي، بل دا چې د رسول الله ﷺ مينه د ماشومانو سره ظاهروي، بل د رسول الله ﷺ اعلی اخلاقو ته يکې اشاره ده، بل ماشومانو ته پکې دا تعليم ورکول شوی دی چې دوی به څنګه سلام اچوي، ماشومان هم بايد د سلام اچولو سره عادت شي، په دې وجه امام بخاري رحمه الله په خپل کتاب صحيح بخاري کې (باب التسليم على الصبيان) مستقل باب قائم کړی دی، په دې کې هم دې طرفته اشاره ده چې بايد ماشوم ته د سلام اچولو طريقه په دې شان سره وښودل شي، حاشيه ابن سني کې د حافظ ابن حجر رحمه الله په حواله ليکل شوي دي چې که ماشوم نابالغ وي خو ښکلی وي چې په فتنه کې يې د واقع کېدو اندېښنه وي، بيا په داسې ماشوم باندې هم سلام اچول پکار نه دي

باب سلام الرجل على زوجته والمرأة من محارمه وعلى أجنبية وأجنبيات لا يخاف الفتنة بهن وسلامهن بهذا الشرط

د سړي په خپله ښځه او په محارمو سلام اچول او په اجنبي / پردی ښځه باندې سلام اچول کله چې د فتنې وېره نه وي

"عن سهل بن سعدٍ ﷺ، قال: كَانَتْ فِينَا امْرَأَةٌ - وفي رواية: كَانَتْ لَنَا عَجُوزٌ - تَأْخُذُ مِنْ أُصُولِ السِّلْقِ فَتَطْرَحُهُ فِي الْقِدْرِ" د سهل بن سعد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې زموږ سره يوه ښځه وه او په يو روايت کې دي چې زموږ سره يوه بوډۍ وه، دغې ښځې به د چقندر/ لبلبو جرړې پرې کولې او په کټوۍ کې به يې اچولې، "وَتُكَرْكِرُ حَبَّاتٍ مِنْ شَعِيرٍ" او د وربشو دانې به يې اوړه کولې، "فَإِذَا صَلَّيْنَا الْجُمُعَةَ، وَانْصَرَفْنَا، نُسَلِّمُ عَلَيْهَا، فَتُقَدِّمُهُ إِلَيْنَا" کله چې به موږ د جمعې لمونځ وکړو او خپلو کورونو ته به روان شو، نو موږ به په هغې باندې سلام اچولو

Maktaba Tul Ishaat. com

او هغې به د وريشو اوړه او چقندر به يې موږ ته راوړاندې کړل رواه البخاري

"قوله: ((تُكَرْكِرُ)) أي: تَطْحَنُ" د تکرکر معنی ده: اوړه کول.

تشريح: كانت لنا عجوز: يوه بوډۍ ښځه وه، بالاتفاق ځوانو ښځو ته سلام کول جائز نه دي، که بوډۍ ښځه وي چې د هغې نه په فتنه کې د اخته کېدو وېره نه وي، نو هغې ته سلام کولی شي او د هغې د سلام جواب هم ورکولی شي، ليکن افضله خبره دا ده چې په دې زمانه کې بوډۍ ښځې ته هم د سلام جواب ورنه کړی شي، "تأخذ من أصول السلق" د چقندر جرړې به يې راخيستلې، د چقندر (لبلبو ځخه بوره) چينې) جوړيږي، د جمعې په ورځ د صحابه کرامو عادت دا وو چې د جمعې د لمانځه وروسته به يې خوراک کولو، د لمونځ نه وړاندې به يې لمانځه ته تياری کولو.

ام هانئ رضي الله عنها نبي کريم ﷺ ته سلام کړی دی

"وعن أم هانئ فاختة بنت أبي طالب رضي الله عنها، قالت: أتيت النبي ﷺ يوم الفتح وهو يغتسل" د ام هانئ فاخته بنت أبي طالب رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې د مکې د فتحې په ورځ د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضره شوم، نبي کريم ﷺ غسل کولو، "وفاطمة تستره بثوب، فسلمت... وذكرت الحديث" او فاطمې رضي الله عنها د کپړې ځخه رسول الله ﷺ ته پرده جوړه کړې وه، ما پرې سلام واچولو بيا يې ټول حديث ذکر کړو رواه مسلم

تشريح: ام هانئ رضي الله عنها د علي رضي الله عنه خور وه، خپلې خور، ورور، ترور، خاله وغيره چې محارم وي هغوی ته د سلام کولو اجازت شته، که نږدې خپلوان وي خو محارم نه وي، لکه: د تره زوی، د تره لور، د ماما زوی، د ماما لور وغيره.... نو دوی ته سلام کول جائز نه دي، خو دلته ام هانئ رضي الله عنها رسول الله ﷺ ته سلام وکړو، دا د رسول الله ﷺ خصوصيت وو، ام هانئ رضي الله عنها د رسول الله ﷺ د تره لور وه.

وهو يغتسل: رسول الله ﷺ غسل کولو، ددې نه معلومه شوه چې د ضرورت په اندازه د غسل پرمهال خبرې کول جائز دي.

د راويه ام هانئ رضي الله عنها حالات:

اصل نوم يې فاخته رضي الله عنها ده، د پلار نوم يې ابوطالب دی، کنيت ام هانئ ده، د مور يې نوم فاطمه بنت اسد ده، د علي رضي الله عنه حقيقي خور ده، د هبيره بن عمرو مخزومي سره يې نکاح شوې وه، د مکې د فتحې په ورځ مسلمانه شوه، ليکن ددې خاوند هبيره مخزومي نجران ته وتښتېدو، رسول الله ﷺ ورسره ډېره مينه درلوده، رسول الله ﷺ د مکې د فتحې په ورځ د هغې کور ته لاړو، شربت يې وڅښلو، رسول الله ﷺ پاتې شربت هغې ته ورکړل، هغې ورته وفرمايل: زما خو روژه ده، خو پاتې شربت به څاته ورنه کړم، يو ځل رسول الله ﷺ هغې ته وفرمايل: ام هانئ رضي الله عنها څانته چيلۍ واخله! څکه چې په دې کې ډېر خير او برکت دی، د امير معاويه رضي الله عنه په دور کې وفات شوه، د دوی نه شپږ ځلويښت حديثونه نقل دي

رسول الله ﷺ د ښځو ډلې ته سلام وکړو

"وعن أسماءَ بنتِ يزيدَ رضي الله عنها، قالت: مَرَّ عَلَيْنَا النَّبِيُّ ﷺ فِي نِسوَةٍ فَسَلَّمَ عَلَيْنَا" د اسماء بنت يزيد رضي الله عنها روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ په موږ باندې تېرېدلو، موږ ډېرې ښځې ناستې وو، نو په موږ يې سلام واچولو، "رواه أبو داود والترمذي، وقال: حديث حسن، وهذا لفظ أبي داود" دا حديث امام ابوداود رحمه الله او امام ترمذي رحمه الله روايت کړي او فرمايلي يې دي چې دا حديث حسن دی، دا الفاظ د امام ابوداود رحمه الله دي

"ولفظ الترمذي: أَنَّ رسول الله ﷺ مَرَّ فِي المَسْجِدِ يَوماً، وَعُصْبَةٌ مِنَ النِّسَاءِ قُعُودٌ" او د امام ترمذي رحمه الله الفاظ داسې دي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ په جومات کې تېرېدلو، نو د ښځو يوه ډله ناسته وه، "فَأَلْوَى بِيَدِهِ بِالتَّسْلِيمِ" نبي کريم ﷺ په لاس مبارک سره اشاره وکړه او سلام يې پرې واچولو.

تشريح: مرعلينا النبي ﷺ: رسول الله ﷺ په موږ باندې تېرېدلو او په موږ يې سلام واچولو، علماء فرمايي: پردی ځوانې ښځې ته سلام اچول جائز نه دي، دلته چې رسول الله ﷺ سلام واچولو دا د رسول الله ﷺ سره خاص وو، ځکه چې پرديو ښځو ته د سلام اچولو کومه فتنه ده، د هغې نه رسول الله ﷺ محفوظ وو، نورو خلکو ته جائز نه دي چې په پردو ځوانو ښځو باندې سلام واچوي، بلکې علماء فرمايي: که د فتنې او د شر پيدا کېدو وېره نه وي بيا هم جائز نه دي، البته که ښځه بوډۍ وي چې هغې ته توجه بالکل نه کېږي، نو بيا که سلام وکړي، جواز لري.

باب تحريم ابتدائنا الكافر بالسلام وكيفية الرد عليهم واستحباب السلام على أهل مجلسٍ فيهم مسلمون وكفار

کافر سړي ته ابتداء سلام اچول حرام دي او کله چې هغه درباندې سلام واچوي هغه ته د ځواب ورکولو طريقه او په داسې مجلس باندې سلام اچول چې په هغې کې کافران او مسلمانان دواړه ناست وي

کفارو ته د سلام مسئله

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: لَا تَبْدَؤُوا اليَهُودَ وَلَا النَّصَارَى بِالسَّلَامِ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يهودو او عيسويانو ته ابتداءً سلام مه کوئ "فَإِذَا لَقِيتُمْ أَحَدَهُمْ فِي طَرِيقٍ فَاضْطَرُّوهُ إِلَى أَضْيَقِهِ" کله چې تاسو د هغوی سره په لار کې مخامخ شئ، نو تنگې لارې ته يې مجبور کړئ. رواه مسلم

Maktaba Tul Ishaat. com

غیر مسلم / کافر ته ولې ابتداءً سلام منع دی؟

تشريح: تبدوا اليهود ولا النصارى بالسلام: يهوديانو او عيسايانو ته په سلام کولو کې وړاندېز مه کوئ! دا ځکه چې په سلام کې وړاندېز کول په حقيقت کې د اسلامي تهذيب اعزاز او تحفه ده، کافران دې تحفې متسحق کله هم نه شي کېدی، ددې مستحق صرف او صرف مسلمانان دي، یا دا چې سلام د احترام دليل دی او غير مسلم کله هم د احترام وړ نه دي او ځينې علماء فرمايي: په سلام کې وړاندېز کول د مينې او محبت ذريعه ده او د غير مسلم کفارو سره په شريعت کې مينه کول منع دي، په قرآن کې الله ﷻ فرمايي: "لاتجد قوما يؤمنون بالله واليوم الآخر يوادون من حاد الله ورسوله" ژباړه: ته به داسې کس پيدا نه کړې چې په الله ﷻ او په رسول الله ﷺ باندې ايمان لري چې هغه دې د هغو خلکو سره مينه وکړي کوم چې د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ دښمنان دي، دلته يو سوال پيدا کېږي هغه دا چې که کفار درته په سلام کولو کې وړاندېز وکړي بيا به څه کوئ؟ جواب دا دی چې په دې صورت کې به صرف دومره ووايي چې: «وعليك» يا داسې چې «يهديكم الله» او بس.

فاضطروه إلى أضيقه: يهوديان او عيسويان تنګې لارې ته مجبور کړئ! مطلب دا چې يهوديان دې او که عيسايان دې دواړه ډلې د مسلمانانو او د دين دښمنان دي، کله چې هم په لاره کې درته مخې ته راشي، نو د لارې تنګ طرفته يې مجبور کړئ! فراخه لار ورته مه پرېږدئ! پرېږدئ چې په تنګه لار لاړ شي، ښه به دا وي چې د اسلام شان ورته معلوم شي او د مسلمانانو رعب وربانديې غالب شي.

صرف د (وعليكم) ويلو وجه

"وعن أنس ﷺ، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: إِذَا سَلَّمَ عَلَيْكُمْ أَهْلُ الكِتَابِ" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو باندې اهل کتاب سلام واچوي، "فَقُولُوا: وَعَلَيْكُمْ" نو تاسو ورته په جواب کې داسې وايئ: «وعليكم» متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: علامه نووي رحمه الله فرمايي: د اهل کتابو د سلام جواب ورکولو طريقه صرف په «وعليكم» سره ده، په ځينو رواياتو کې صرف «عليكم» بغير واو راغلې ده، دا ددې لپاره چې په هغه شي کې مشارکت رانشي کوم شی چې د اهل کتابو د خولې نه راوتلی وي، ځکه چې غير مسلم اکثره «سام عليكم» په تاسو دې مرګ وي وايي، ځينې علماء فرمايي چې په «واو» سره ويلو کې څه حرج نشته، ځکه چې کفار «سام عليكم» وايي، يعني په تاسو دې مرګ وي او دا ځکه چې په کوم شي کې مشارکت پيدا شو هغه مرګ دی او مرګ هر چاته راځي، ځينې علماء فرمايي: دلته واو د مشارکت لپاره نه دی، بلکې د استيناف لپاره دی، نو په دې صورت کې به مطلب دا شي چې: «وعليكم ما تستحقونه من الذم» په تاسو دې د خدای هغه قهر وي چې تاسو يې مستحق يئ.

د مسلمانانو او غير مسلمو په ډله باندې د سلام اچولو طريقه

"وعن أُسامة ﷺ: أَنّ النَّبِيَّ ﷺ مَرَّ عَلَى مَجْلِسٍ فِيهِ أَخْلاَطٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُشْرِكِينَ، عَبَدَةِ الأَوْثَانِ وَالْيَهُودِ" د اسامه ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ په يو مجلس تېرېدلو، په هغه مجلس کې مسلمانان مشرکين، د بوتانو عبادت کونکي او يهوديان ناست وو. "فَسَلَّمَ عَلَيْهِمُ النَّبِيُّ ﷺ" نبي کريم ﷺ په هغوى باندې سلام واچولو متفقٌ عليه

تشريح: علامه نووي رحمه الله فرمايي: که چېرته داسې يو مجلس وي چې مسلمانان او کفار پکې ناست وي، يو مسلمان ورباندې تيرېږي، که د مسلمانانو شمار زيات وي او که کم وي، نو په داسې صورت کې بايد په مسلمان باندې د سلام کولو نيت وکړي او ټولو ته سلام وکړي، په ويلو کې دې صرف (السلام عليکم) ووايي او په دې سره دې صرف په مسلمان باندې د سلام اچولو نيت وکړي، ځيني علماء فرمايي: په داسې صورت کې دې دغه جمله ووايي "السلام على من اتبع الهدى" بل دا چې که چېرته کوم غير مسلم ته خط ليکل غواړي، نو د خط په سر کې بايد د (السلام عليکم) په ځاى سلام على من اتبع الهدى) وليکه، لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ هرقل ته خط وليکلو، نو په عنوان کې يې ورته هم (سلام على من اتبع الهدى) وليکلو

باب إستحباب السلام إذا قام من المجلس وفارق جلساءه أو جليسه

کله چې د مجلس نه وځي، خپل ملګري يا مجلس پرېږدي، نو سلام اچول مستحب دي

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: إِذَا انْتَهَى أَحَدُكُمْ إِلَى الْمَجْلِسِ فَلْيُسَلِّمْ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو کې څوک مجلس ته راځي نو بايد چې سلام واچوي، "فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَقُومَ فَلْيُسَلِّمْ" او کله چې د پاڅېدو اراده وکړي، نو بيا هم بايد سلام واچوي. "فَلَيْسَتِ الأُولَى بِأَحَقَّ مِنَ الآخِرَةِ" ځکه چې اولنى سلام د آخريني سلام نه ډېر حق نه لري چې اولنى سلام کافي شي د آخريني لپاره "رواه أبوداود والترمذي وقال: حديث حسن"

تشريح: فإذا أراد أن يقوم فليسلم: او کله چې د مجلس نه وځي، نو بيا دې هم سلام واچوي، مطلب دا دى چې کله يو کس د مجلس نه وځي او بېرته ورته واپس راځي، نو بايد چې سلام واچوي، د ځينو علماوو په نزد مطلقاً که په مجلس کې يو کس ناست وي او که نه؟ بايد مجلس والا ته سلام وکړي او دا سلام هم سنت دى، لکه څرنګه چې ابتداءً سلام کول سنت دي، دغه شان د رخصتى په وخت هم سلام کول سنت دي، د دواړو جواب ورکول هم واجب دي، ليکن ځيني علماء فرمايي چې د رخصتى پرمهال د سلام جواب ورکول مستحب دي

Maktaba Tul Ishaat. com

باب الاستئذان وآدابه

اجازت غوښتل او اداب يې

"قَالَ اللهُ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتاً غَيْرَ بُيُوتِكُمْ" اې مسلمانانو! پرديو کورونو ته مه داخلېږئ! "حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَىٰ أَهْلِهَا" تر څو چې پوښتنه ونه کړئ او په کور والا باندې مو سلام نه وي اچولی. [النور:۲۷]

تشريح: د آيت مفهوم او تشريح په (باب نمبر ۱۳۱ فضل السلام والامر بافشائه) کې تېر شوی دی.

بالغ ماشوم به هم کور ته د داخلېدو پرمهال اجازت غواړي

"وقَالَ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي: "وَإِذَا بَلَغَ الْأَطْفَالُ مِنكُمُ الْحُلُمَ" کله چې په تاسو کې ماشومان بلوغ ته ورسيږي، (يعنې بالغان شي) "فَلْيَسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ" نو دوی به ستاسو نه د داخلېدو اجازت غواړي، لکه څنګه چې به يې مخکې اجازت غوښتلو. [النور:۵۹].

تشريح: په دې آيت کې ماشومانو ته تعليم ورکول کيږي چې کله دوی کور ته داخليږي نو بايد چې اجازت وغواړي، که بالغ وي يا بلوغ ته نږدې وي، لکه څرنګه چې مشر سړي اجازت غواړي، علماء فرمايي: د آيت تعلق د محارمو او اقاربو سره دی کوم چې عمومي طور په يو کور کې سره اوسيږي، د دوی د کور ښځو د دوی نه هيڅ پرده نه وي، نو د داسې خلکو لپاره حکم دا دی چې دوی به اجازت غواړي او دغه اجازه غوښتل په دوی باندې واجب نه ده، بلکې مستحب ده، يا دومره چې د قدمونو شور/ کشار دې دومره تېز کړي چې کور والا پرې پوه شي چې سړی راغلو، يا دومره په زوره دې وټوخيږي چې خلک پوه شي او که په دې شيانو کې يې يو هم ونه کړو، نو بيا خوشې په خوشې داخلېدل مکروه تنزيهي دي

اجازت به درې واره / ځله اخلي:

"عن أبي موسى الأشعري ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: الاسْتِئْذَانُ ثَلَاثٌ" د ابو موسى اشعري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: اجازت غوښتل درې ځله دي، "فَإِنْ أُذِنَ لَكَ وَإِلَّا فَارْجِعْ" که اجازت يې درکړو، صحيح ده او که اجازت يې درنه کړو واپس شه! مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

تشريح: د حديث مفهوم دا دی چې بايد درې ځله اجازت وغوښتل شي، که په دريم ځل اجازت ملاو شي، صحيح ده او که اجازت ملاو نه شي، نو بايد واپس لاړ شي، يوه واقعه د عمر ﷺ او د ابوموسى اشعري ﷺ په مينځ کې، هم دغه شان پېښه شوه بيا ابو موسى اشعري ﷺ دغه روايت عمر ﷺ ته واورولو چې ددې نه مخکې عمر ﷺ ته ددې علم نه وو، راوي ابو سعيد خدري ﷺ فرمايي: يوه ورځ ابو موسى اشعري ﷺ زموږ کره راغلو او وې ويل: عمر ﷺ ماته يو ځل يو کس راولېږلو

چې دلته راشه، کله چې زه د هغه دروازې ته ورسېدم، نو ما درې ځله سلام وکړو، ماته د سلام ځواب ملاو نه شو، زه واپس راغلم بيا وروسته ملاقات وشو، عمر ﷺ ماته ووېل: تاسو ولې واپس شوئ زما سره دې ولې ملاقات ونه کړو؟ ما ورته ووېل: زه خو درغلی وم، درې ځله مې سلام هم واچولو ليکن جواب ملاو نه شو، بېرته واپس شوم او دا ځکه چې ماته رسول الله ﷺ فرمايلي دي کله چې چا په دروازه ودرېږي نو درې ځله اجازت غواړه، که اجازت ملاو شو، نو داخل شه کنه نو واپس لاړ شه، عمر ﷺ په دې حديث باندې شاهدان وغوښتل، ابو سعيد خدري ﷺ ورته شاهدي ادا کړه.

په درې ځله اجازت غوښتلو کې حکمت:

په درې ځله سلام اچولو او اجازت غوښتلو کې حکمت دا دی چې په اول ځل سلام اچولو سره سړی وپېژندل شي چې څوك دی، په دويم ځل سلام سره به کور والا فکر وکړي چې اجازت ورته ورکړم او که نه او په دريم ځل سلام اچولو سره به ورته اجازت ورکړي

اجازت غوښتل ددې لپاره وي چې په نامحرم باندې نظر پرې نه وځي

"وعن سهل بن سعد ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: إنما جعل الاستئذان من أجل البصر" د سهل بن سعد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د اجازت غوښتلو طريقه د نظر ايسارولو د وجې نه مقرر شوې ده. متفق عليه

تشريح: انسان په خپل کور کې په مختلفو کارونو باندې مصروف وي، ډېر ځل داسې هم کېږي چې انسان نه غواړي چې زما دې په دې کار باندې خلك خبر شي، ددې نه علاوه په کور کې ښځې ماشومان وغيره وي، هر يو په خپلو کارونو کې مصروف وي، که يو کس بې اجازې کور ته راداخل شي، نو د پردې خيال ونه ساتل شو، بل په غير محرمو ښځو باندې بې نظر پرېوتلو او د شيطان نظر د غشو نه يو غشی دی، ددې قباحتونو څخه د بچ کېدو لپاره شريعت اجازت غوښتل لازم ګرځولي دي.

د اجازت غوښتلو ښکلې طريقه

"وعن ربعي بن حراش، قال: حدثنا رجل من بني عامر أنه استأذن على النبي ﷺ وهو في بيت" د ربعي بن حراش ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د بني عامر قبيلې يو کس ماته ووېل: يوه ورځ د رسول الله ﷺ حجرې ته مې د داخلېدو لپاره اجازت وغوښتلو. "فقال: أألج؟" نو ما ووېل: (أألج؟) زه دننه راتلی شم؟ "فقال رسول الله ﷺ لخادمه: أخرج إلى هذا فعلمه الاستئذان، فقل له: قل: السلام عليكم، أأدخل؟" نبي کريم ﷺ خپل خادم ته وفرمايل: لاړ شه، دې کس ته د اجازې غوښتلو طريقه وښيه، ورته ووايه چې داسې وايه: (السلام عليكم، ايا زه دننه راتلی شم؟) "فسمعه الرجل، فقال: السلام عليكم، أأدخل؟ فأذن له النبي ﷺ فدخل" هغه کس دا خبره واورېده، نو وې ويل: (السلام عليكم) ايا زه دننه راتلی شم؟ نبي کريم ﷺ ورته اجازت ورکړو. هغه داخل شو. رواه أبوداود بإسناد صحيح

تشريح: په دې حديث کې هم د رسول الله ﷺ د مينې او محبت اظهار شوی دی. هغه دا چې رسول الله ﷺ به هغه کس نه رټلو او نه به يې ورته بد رد ويل، د کوم کس څخه چې به غلطي وشوه، په

Maktaba Tul Ishaat. com

مينه او محبت سره به يې پوهولو چې هغه هم په شريعت باندې په اسانۍ سره عمل وکړي، بل دا چې حديث نه دا هم معلومه شوه چې اول سلام اچول پکار دي، بيا اجازت غوښتل پکار دي، دا سنت طريقه ده.

د راوي ربعي بن حراش رحمه الله حالات:

اصل نوم يې ربعي رحمه الله دی، د پلار نوم يې حراش دی، په مشرانو تابعينو کې شمار دی، علامه ذهبي رحمه الله فرمايي: دوی به کله هم دروغ نه ويل، په ۱۰۰ هجري کې وفات شو

کورته د داخلېدو پرمهال اول سلام او بيا اجازت غوښتل پکار دي

"عن كِلْدَةَ بنِ الحَنْبَلِ رضي الله عنه، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ، فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ وَلَمْ أُسَلِّمْ" د کلده بن حنبل رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، ما سلام ونه کړو، "فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: ارْجِعْ فَقُلْ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، أَأَدْخُلُ؟" نبي کريم ﷺ وفرمايل: واپس شه او داسې ووايه (السلام عليکم أأدخل په تاسو دې سلام وي، ايا زه داخل ته راتلی شم؟" رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن".

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې کله يو انسان کور ته داخلېږي، نو بايد چې اول سلام واچوي بيا اجازت وغواړي، د حديث نه هم معلومېږي چې کله کوم کس بې اجازې کور ته داخل شي نو بايد چې د کوره وباسل شي او بېرته سلام واچوي اجازت وغواړي او کور ته داخل شي، بايد هغه پوه کړل شي چې دا سنت طريقه ده، خفه کېږه مه.

د راوي کلده بن حنبل رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې کلده رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې حنبل دی، د بني اسلم خاندان سره يې تعلق درلود، د مشهور صحابي صفوان بن اميه رضي الله عنه اخيافي (مور شريک) ورور وو، د معمر بن حبيب غلام وو، د عکاظ په بازار کې يې د يمنيانو څخه اخيستی وو، هغه يې حليف جوړ کړو او واده يې ورته وکړو، د همېش لپاره په مکه کې اوسېدلو، محدثين وايي چې په مکه کې وفات شو

باب بيان أنَّ السنة إذا قيل للمستأذن: من أنت؟ أن يقول: فلان، فيسمي نفسه بما يعرف به من اسم أو كنية وكراهة قوله: ((أنا)) ونحوها

سنت طريقه دا ده چې کوم سړی اجازت غواړي او ده ته وويل شي چې ته څوک يې نو بايد چې خپل نوم ورته واخلي په کوم نوم سره چې مشهور وي يا خپل کنيت وغيره او مکروه دی چې داسې ووايي: زه يم

"وعن أنس رضي الله عنه في حديثه المشهور في الإسراء، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: ثُمَّ صَعِدَ بِي جِبْرِيلُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَاسْتَفْتَحَ، فَقِيلَ: مَنْ هذَا؟" د انس رضي الله عنه نه په مشهور حديث کې روايت دی کوم چې د معراج په باره کې راغلی دی: رسول الله ﷺ وفرمايل چې جبرئيل عليه السلام د ځان سره پورته د دنيوي اسمان ته وخېژولم، مونږ دروازه ټک ټک

کړه، راته وويل شو چې څوك يې؟ "قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ" جبرئيل عليه السلام ورته وويل جبرئيل يم، بيا ورته وويل شو دا بل درسره څوك دى؟ جبرئيل عليه السلام ورته وويل: محمد ﷺ دى. "ثُمَّ صَعِدَ إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ فَاسْتَفْتَحَ، قِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: جِبْرِيلُ، قِيلَ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: مُحَمَّدٌ" بيا دغه شان دويم اسمان ته وختلو، دروازه مو ټك ټك کړه، راته وويل شو چې څوك يې؟ جبرئيل عليه السلام ورته وويل: جبرئيل يم، بيا ورته وويل شو چې بل درسره څوك دى؟ جبرئيل عليه السلام ورته وفرمايل: محمد دى. "وَالثَّالِثَةَ وَالرَّابِعَةَ وَسَائِرِهِنَّ وَيُقَالُ فِي بَابِ كُلِّ سَمَاءٍ: مَنْ هَذَا؟ فَيَقُولُ: جِبْرِيلُ" دغه شان په دريم او څلورم او د ټولو اسمانو په دروازو کې به ورته هم دغه خبره کېده چې څوك يې؟ جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ به ورته وفرمايل: جبرئيل يم. متفق عليه

لغوي تحقيق:

الإسراء: اسرى إسراء: د شپې پرمهال مزل او سفر کول.

تشريح: ثم صعد بي جبريل إلى السماء الدنيا فاستفتح: زه جبرئيل عليه السلام اسمان ته وخېژولم، دروازه يې ټك ټك کړه، قاضي عياض مالكي رحمه الله فرمايي: په آسمان کې حقيقي دروازې دي چې د هغې په حفاظت باندې پرښتې ولاړې دي، بله دا چې ددې نه اجازت غوښتل معلومېږي چې بې اجازې د چا کور ته ننوتلل جائز نه دي، قال محمد ﷺ" جبرئيل عليه السلام وفرمايل: محمد ﷺ دى، ددې نه هم معلومه شوه چې کله پوښتنه وکړى شوه چې څوك يې؟ نو که نوم وي يا کنيت وي چې په هر شي باندې سړى مشهور وي، بايد هغه نوم ورته واخيستل شي چې تعارف وشي، جبرئيل عليه السلام خپل نوم او د خپل ملګري نوم واخيستلو، په يو بل روايت کې دي چې کله پرښتو د رسول الله ﷺ نوم واورېدو، نو دوى وويل "مرحبا به فنعم المجيء جاء ففتح" يعني مبارك دي وي ډېر غوره راتلونکى کس دى، بيا يې ورته دروازه خلاصه کړه.

رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې څوك يې؟ ابوذر رضي الله عنه وويل چې ابوذر يم

"وعن أبي ذر رضي الله عنه، قَالَ: خَرَجْتُ لَيْلَةً مِنَ اللَّيَالِي، فَإِذَا رسول الله ﷺ يَمْشِي وَحْدَهُ" د ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي: يوه شپه زه د کور نه روان شوم، ومې کتل چې رسول الله ﷺ يوازې روان وو، "فَجَعَلْتُ أَمْشِي فِي ظِلِّ الْقَمَرِ، فَالْتَفَتَ فَرَآنِي، فَقَالَ: ((مَنْ هَذَا؟)) فقلتُ: أَبُوذَرٍّ" نو زه هم ورپسې د سپوږمۍ په رڼا کې روان شوم، نبي کريم ﷺ شان پسې وکتل زه يې وليدم، راته يې وفرمايل: څوك يې؟ ما ورته وويل: ابوذر يم. متفق عليه

تشريح: فجعلت أمشي في ظل القمر: زه هم د سپوږمۍ په رڼا کې ورپسې روان شوم، ددې نه د صحابه کرامو رضي الله عنهم د مينې او محبت اندازه لګېدلى شي، کله چې ابو ذر رضي الله عنه ته پته ولګېده چې رسول الله ﷺ په توره شپه کې ځانته روان دى، هسې نه چې تکليف ورته ورسيږي، نو په دې نيت ورپسې روان شو چې د ضرورت پرمهال به يې پکار راشم.

فقلت أبوذر: امام نووي رحمه الله ددې نه دا خبره واضحه کول غواړي چې څوك درنه پوښتنه وکړي چې څوك يې؟ نو په جواب کې ورته خپل نوم اخلئ لکه څرنګه چې ابوذر رضي الله عنه خپل نوم واخيستلو،

Maktaba Tul Ishaat. com

"فهدى اللّـه فداك" په يو بل روايت کې دي چې کله رسول الله ﷺ ابوذر ﷺ ته وويل: څوک يې؟ نو هغه وويل: لبيك وسعديك.

نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه څوک يې؟ هغې ورته وويل: ام هانئ يم

"وعن أُمِّ هانئ رضي الله عنها، قالت: أتيتُ النبيَّ ﷺ وَهُوَ يَغتَسِلُ وَفَاطِمَةُ تَسْتُرُهُ" د ام هانئ ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره شوم، هغوی غسل کولو او فاطمې ﷺ ورته پرده جوړه کړې وه، "فَقَالَ: ((مَنْ هذِهِ؟)) فقلتُ: أنَا أُمُّ هَانِىءٍ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: څوک يې؟ ما ورته وويل: ام هانئ يم. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: دا روايت هم وړاندې په پوره تشريح سره ذکر شو، دلته امام نووي ﷺ د باب د مناسبت په وجه دوباره ذکر کړو.

د پوښتنې په جواب کې به (زه يم) نه وايي

"وعن جابر ﷺ، قَالَ: أتَيْتُ النبيَّ ﷺ فَدَقَقْتُ البَابَ، فَقَالَ: ((مَنْ ذَا؟)) فَقُلْتُ: أنَا" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي: زه يوه ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، نو دروازه مې پرې ټک ټک کړه، نبي کريم ﷺ وفرمايل: څوک يې؟ ما وويل: زه يم! "فَقَالَ: ((أنَا، أنَا!)) كَأنَّهُ كَرِهَهَا" نبي کريم ﷺ وفرمايل: (زه! زه!) ددې څه مطلب دی، يعني نبي کريم ﷺ باندې دا خبره ښه ونه لګېده. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: فقلت أنا: ما وويل: زه يم، رسول الله ﷺ باندې دا جواب ښه ونه لګېدو، ځکه چې په دې سره ابهام نه لرې کيږي، کور والا ته پته نه لګيږي چې څوک دی، بلکې په جواب کې خپل نوم ظاهرول پکار دي، که چېرته په کنيت سره مشهور وي بايد چې کنيت ذکر کړي، "كأنه كرهها" لکه په رسول الله ﷺ باندې چې دا خبره ښه ونه لګېده، جابر ﷺ ته رسول الله ﷺ د تعليم په توګه داسې وويل: (أنا أنا) يعنې خپل نوم اخيستل پکار دي، صرف په (أنا) زه يم باندې اکتفاء نه کيږي، ځکه چې په دې سره ابهام نه ختميږي، ځينې علماء فرمايي چې رسول الله ﷺ ځکه دا کار خوښ نه کړو چې جابر ﷺ اول سلام نه وو اچولی کوم چې مسنون عمل دی.

باب إستحباب تشميت العاطس إذا حمد الله تعالى كراهة تشميته إذا لم يحمد الله تعالى وبيان آداب التشميت والعطاس والتثاؤب

مستحب دي کله چې پرنجې واچوي چې الحمدلله ووايي او مکروه دي چې الحمدلله ونه وايي او ددې خبرې بيان چې پرنجې اود ارګمې آداب څه دي؟

"عن أبي هريرة ﷺ: أنَّ النبيَّ ﷺ، قَالَ: إنَّ اللهَ يُحِبُّ العُطَاسَ، وَيَكْرَهُ التَّثَاؤُبَ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ ته پرنجې خوښ دی او ارګمې ورته بد لګيږي، "فَإذَا

عَطَسَ أَحَدُكُمْ وَحَمِدَ اللهَ تعالى كَانَ حَقّاً عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ سَمِعَهُ أَنْ يَقُولَ لَهُ: يَرْحَمُكَ اللهُ" بس كوم كس چې په تاسو كې پرنجی وکړي او هغه الحمدلله ووايي، نو په مسلمان باندې چې هغه الحمد لله ووايي، هغه دي ورته (يرحمك الله) ووايي. "وَأَمَّا التَّثَاؤُبُ فَإِنَّمَا هُوَ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَإِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرُدَّهُ مَا اسْتَطَاعَ" هر چې ارګمی دی، نو هغه د شيطان له طرفه دی، کله چې په تاسو کې چا ته ارګمی راشي، نو تر خپل وسه دي بند کړي؛ "فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا تَثَاءَبَ ضَحِكَ مِنْهُ الشَّيْطَانُ" دا ځکه چې کوم کس په تاسو کې ارګمی وکړي، نو په هغه پورې شيطان خاندي. رواه البخاري

تشريح: إن اللـــه يحب العطاس ويكره التثاوب: الله ﷻ ته پرنجی خوښ دی او ارګمی یې بدې راځي. ملا علي قاري رحمه الله ددې وجه بيان کړې ده چې: په پرنجي سره د انسان دماغ فراخه شي او بدن ته راحت رسيږي، بيا دغه راحت د اطاعت او حضور قلبي باعث جوړيږي او په عبادت کې شوق پيدا کيږي، په دې باندې د الله ﷻ حمد ويل پکار دي، ددې برعکس ارګمی کول د ډېر خوراك، سستۍ او په حواسو کې د سست والي له امله پيدا کيږي، ددې نتيجه دا شي چې انسان په عبادت کې شوق نه وي، بلکې د عبادت نه لرې شي، نو ځکه شيطان وربانديې خوشحاليږي، په دې بنياد به رسول الله ﷺ ته ارګمي نه راتلل.

وحمد الله تعالى: کوم کس ته چې پرنجی راشي، بايد الحمد لله ووايي، په ځينو رواياتو کې راځي چې الحمدلله سره بايد: "رب العالمين على كل حال" هم شريك شي. بيا به د (ملا، غوږ او د جامو) په درد باندې نه مبتلا کيږي، حافظ ابن حجر رحمه الله د طبراني نه نقل کړي چې د داسې سړي ملا او ژامو درد به د (الحمد لله) په ويلو سره نه وي.

چې چا ته پرنجي راشي الحمدلله دې ووايي

"وعنه، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ: الحَمْدُ للهِ، وَلْيَقُلْ لَهُ أَخُوهُ أَوْ صَاحِبُهُ: يَرْحَمُكَ اللهُ" د أبو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو کې کوم کس پرنجی وکړي نو بايد چې (الحمدلله) ووايي، هغه ته دې د هغه ورور يا ملګری داسې دعاء وکړي چې يرحمك الله (الله ﷻ دې په تا باندې رحم وکړي) "فَإِذَا قَالَ لَهُ: يَرْحَمُكَ اللهُ، فَلْيَقُلْ: يَهْدِيكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ" کله چې يې هغه ته (يرحمك الله) وويل، نو دی دې هم په ځواب کې ورته (يهديكم الله ويصلح بالكم) ووايي، الله ﷻ دې تاسو ته هدايت نصيب کړي او ستاسو حالت دې ښه کړي. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

بالكم: بال په اصل کې زړه ته وايي، ليکن دلته يې معنی ده: حالت يعني الله تعالى دې حالت ښه کړه.

تشريح: وليقل له أخوه أوصاحبه: يرحمك الله: هغه ته پکار دي چې په جواب کې يرحمك الله ووايي. د حديث مطلب دا دی چې کله پرنجي والا (الحمد لله) ووايي، نو اورېدونکی بايد (يرحمك الله) ووايي.

Maktaba Tul Ishaat. com

د فقهاوو په دې مسئله کې مختلف مذاهب دي. د احنافو په نزد (يرحمك الله) ويل واجب على الكفاية دي، مطلب دا چې که کوم کس په پرنجي باندې (الحمد لله) ووايي او اورېدونکي ډېر وي، که په دې خلکو کې صرف يو کس (يرحمك الله) ووايي، نو د ټولو غاړه به خلاصه شي، د اکابرو علماوو او صاحب د سفر السعادة په نزد واجب على الانفراد دي، مطلب دا چې هر کس به ورته خان خان ته (يرحمك الله) وايي، د شوافعو په نزد د پرنجي جواب ورکول سنت على الكفايه دي، بل دا چې هر يو کس به ورته خان خانله جواب ورکوي او د امام مالك رحمه الله په مذهب کې ډېر اقوال موجود دي، د يو قول په اعتبار سره واجب دی او د بل قول په اعتبار سره سنت دی

فليقل يهديكم الله ويصلح بالكم: کله چې پرنجي کوونکي ته په جواب کې (يرحمك الله) وويل شي نو بايد پرنجي کوونکی ورته په جواب کې: "يهديكم الله ويصلح بالكم" ووايي.

چاچې الحمدلله ونه ويل، هغه ته په جواب کې (يرحمك الله) ويل نه دي پکار

"وعن أبي موسى رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله صلى الله عليه وسلم، يقولُ: إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَحَمِدَ اللهَ فَشَمِّتُوهُ" د ابو موسى اشعري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه واورېدل چې فرمايل يې: کله چې په تاسو کې يو کس پرنجی وکړي او هغه (الحمد لله) ووايي، نو په ځواب کې دې ورته (يهديكم الله) ووايې، "فَإِنْ لَمْ يَحْمَدِ اللهَ فَلَا تُشَمِّتُوهُ" که چېرته يې (الحمد لله) ونه ويل نو بيا تاسو هم ځواب مه ورکوئ.

رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

فشمتوه: شمت العاطس وشمت عليه: يرحمك الله دعاء به ورته ويل شي، د دې مطلب دا دی چې الله تعالى دې په داسې حالت کې مبتلاء مه کړه چې خلك درباندې خوشحاله شي، (شمت فلان على هذا) فلانکی سړی دده په بد حالت باندې خوشحاله شو.

تشريح د حديث مطلب واضحه دی که چا (الحمد لله) وويل، نو په جواب کې ورته (يرحمك الله) ويل واجب دي او که الحمد لله يې ونه ويل، نو بيا (يرحمك الله) ويل واجب نه دي، دغه شان که چا (الحمد لله) وويل، خو اورېدونکي وانه اورېدل، نو بيا هم جواب ورکول واجب نه دي، که داسې وشو چې په مجلس کې يې په پرنجي باندې (الحمد لله) وويل، خو ځينو واورېدو او ځينو نه، نو کومو کسانو چې واورېدو، په هغوی باندې (يرحمك الله) ويل واجب دي او کومو کسانو چې وانه ورېدلو، په هغوی باندې جواب ورکول واجب نه دي، قاضي ابوبكر بن العربي رحمه الله فرمايي که په مجلس کې ځينو کسانو واوريدو او په (يرحمك الله) سره يې جواب ورکړو او نه اورېدونکي کسان ورباندې پوه شول، نو بيا جواب ورکول ضروري دي.

کوم صحابي ﷺ چې الحمد لله ونه ویل

"وعن أنس ﷺ، قَالَ: عَطَسَ رَجُلَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ، فَشَمَّتَ أَحَدَهُمَا وَلَمْ يُشَمِّتِ الآخَرَ" د انس ﷺ نه روایت دی هغه فرمایي چې دوه کسانو د رسول الله ﷺ په وړاندې پرنجی وکړو، په دوی کې یو کس (الحمد لله) وویل او بل کس ونه ویل، رسول الله ﷺ یو کس ته پکې (یرحمك الله) وویل او بل کس ونه ویل، "فَقَالَ الَّذِي لَمْ يُشَمِّتْهُ: عَطَسَ فُلَانٌ فَشَمَّتَّهُ، وَعَطَسْتُ فَلَمْ تُشَمِّتْنِي؟" هغه کس وویل کوم ته چې رسول الله ﷺ جواب ورنه کړو چې فلانکي سړي پرنجی وکړو، نو تاسو ځواب ورکړو او ما هم پرنجی وکړو نو تاسو ځواب رانکړو؟ "فَقَالَ: هَذَا حَمِدَ اللَّهَ، وَإِنَّكَ لَمْ تَحْمَدِ اللَّهَ" نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: دې کس (الحمد لله) وویل او تا (الحمد لله) ونه ویل. متفقٌ عَلَيْهِ

تشریح: د حدیث مطلب دا دی کوم کس چې د سنت مطابق په پرنجي باندې الحمد لله ووایي نو د جواب مستحق هم دغه کس دی چې یرحمك الله ورته وویل شي، کنه نو د جواب ورکولو ضرورت نشته، ملا علي قاري رحمه الله فرمایي: مکحول رحمه الله وفرمایل: یوه ورځ زه د عبد الله بن عمر ﷺ سره ناست وم، کوم کس د جومات په کونج کې پرنجی وکړو، هغه کس (الحمدُ لله) وویل، خو ابن عمر ﷺ وانه اوریدل، ابن عمر ﷺ صرف دومره وویل: "یرحمك الله ان کنت حمدت الله" که چیرته تا (الحمدُ لله) ویلي وي، نو په تا دې الله ﷻ رحم وکړي.

چې پرنجی درشي، نو په خوله باندې لاس یا کپړه کېږده!

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: كَانَ رسول الله ﷺ إِذَا عَطَسَ وَضَعَ يَدَهُ أَوْ ثَوْبَهُ عَلَى فِيهِ" د أبو هریره ﷺ نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ ته به چې کله پرنجی ورغلو، نو په خپله خوله مبارکه به یې لاس یا کپړه کېښودل، "وَخَفَضَ -أَوْ غَضَّ- بِهَا صَوْتَهُ، شك الراوي" په دې سره به یې خپل آواز پرې ټیټ کړو او یا به یې پرې بند کړو. په دې خبره کې د راوي شك دی چې (غض) لفظ یې ویلی دی او که (خفض) لفظ یې ویلی دی. "رواه أبو داود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

تشریح: اذا عطس وضع یده او ثوبه علی فیه: کله چې به رسول الله ﷺ ته پرنجی راغلو، نو په خوله مبارکه به یې لاس یا کپړه کېښوده، په دې کې یو لوی ادب بیانیږي بیا بالخصوص په مجلس کې که چیرته پرنجی درشي، نو لاس یا کپړه باید په خوله باندې کېږدي، ددې لپاره چې آواز یې ټیټ شي، بلکه دا چې د پرنجي پرمهال اکثره د دماغو یا زکام بلغم وغیره په خوله او پوزه راوځي چې په دې سره بل انسان ته تکلیف رسیږي، نو په دې وجه په خوله باندې کپړه یا لاس کېښودل پکار دي، بل دا چې د پرنجي په وخت کې د انسان مخ ډېر زیات متغیر شي، کله چې پرنجی ختم شي، نو شکل یې بیرته خپل حالت ته واپس شي، په دې باندې هم (الحمد لله) ویل پکار دي، علماء لیکي: کله چې پرنجی درځي، نو پکار ده چې آواز څومره ټیټ وي، هغومره زیات کوشش پکار دی. او الحمد لله چې څومره تیزه ویلی شي باید په تېزه یې ووایي، ددې لپاره چې خلك در ته دعاګانې وکړي.

Maktaba Tul Ishaat. com

يهوديانو به د رسول الله ﷺ په مجلس کې په زوره پرنجې کول

"وعن أبي موسى رضي الله عنه، قَالَ: كَانَ الْيَهُوْدُ يَتَعَاطَسُوْنَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ يَرْجُوْنَ أَنْ يَقُوْلَ لَهُمْ: يَرْحَمُكُمُ اللهُ" د ابو موسى اشعري رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې يهوديانو به د رسول الله ﷺ په وړاندې په دې نيت پرنجې کول چې مونږ ته به رسول الله (يرحمك الله) سره دعاء وکړي، "فَيَقُوْلُ: يَهْدِيْكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ" ليکن رسول الله ﷺ به ورته په ځواب کې داسې فرمايل: (يهديكم الله ويصلح بالكم) الله دې تاسو ته هدايت نصيب کړي او الله ﷻ مو حالت ښه کړه! "رواه أبوداود والترمذي وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: يهوديانو به د رسول الله ﷺ په مجلس کې په زوره پرنجې کول، په دې بنياد چې رسول الله ﷺ به دعاء راته وکړي او راته به ووايي چې الله دې په تاسو رحم وکړي، د رحم په ځای به رسول الله ﷺ ورته په جواب کې د هدايت دعاء کول، معلومه شوه چې د غير مسلم کفارو په پرنجې باندې به يرحمك الله نه وايې، بلکې (يهديكم الله ويصلح بالكم) به وايې، يهوديان په دې پوه وو چې رسول الله ﷺ برحق پيغمبر دی، صرف د ضد له وجې به نه مسلمانېدل، دوی ته معلومه وه چې دا نبي ﷺ برحق دی، که مونږ ته يې دعاء وکړه، نو کيسه به جوړه شي، په دې وجه علماء فرمايي: يهوديان دومره خبيث قوم دی چې هغوی پرته له ايمانه د خدای رحمت غوښتلو، ځکه که چېرته رسول الله ﷺ دوی ته د رحمت دعاء کړې وای، نو اميد کېدو چې دوی ته هم رحمت حاصل شوی وای

د ارګمي پرمهال خوله بندول پکار دي

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: إِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيُمْسِكْ بِيَدِهِ عَلَى فِيْهِ" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل. کله چې په تاسو کې يو کس ته ارګمي راشي، نو په خپله خوله دې لاس کېږدي، "فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ" ځکه چې دده خولې ته شيطان دننه کېږي رواه مسلم.

تشريح: فإن الشيطان يدخل: ځکه چې شيطان يې په خوله کې داخلېږي، د ارګمي په وخت خوله بندول پکار دي، دغه شان په دې وخت کې د خولې ځخه آوازونه ويستل هم منع دي، په دې باندې شيطان خوشحالېږي او خندا کوي، په حديث کې دغه عمل د شيطان ذليله کولو لپاره ښودل شوی دی

شيطان په خوله کې داخلېږي:

په خوله کې يې شيطان داخلېږي، علماوو ددې دوه مطلبه بيان کړي دي: (۱) يو دا دی چې حقيقتاً يې شيطان په خوله کې داخلېږي، کله چې انسان ته ارګمي راشي او خوله بنده نه کړي نو شيطان په خوله کې ورته داخل شي، (۲) دويم مطلب يې دا دی چې شيطاني اثرات او وسوسې ترې مراد دي، شيطان يې په وسوسو او وهم کې مبتلاء کولو باندې قادر شي

باب إستحباب المصافحة عند اللقاء وبشاشة الوجه وتقبيل يد الرجل الصالح وتقبيل ولده شفقة ومعانقة القادم من سفر وكراهية الإنحناء

د ملاقات پر مهال سترې مشي كول، په خندا ملاوېدل او د نېك سړي لاس ښكلول وغيره جائز دي ليكن سر ټيټول حرام دي

"عن أبي الخطاب قتادة، قَالَ: قُلتُ لأنَسٍ: أكَانَتِ المُصَافَحَةُ فِي أصْحَابِ رسولِ الله ﷺ؟" د أبو الخطاب قتادة رحمه الله نه روايت دی هغه فرمايي چې ما انس رضي الله عنه ته وويل: ايا د رسول الله ﷺ په صحابه وو كې به مصافحه (لاس ملاول) وو؟ "قَالَ: نَعَمْ" هغوی ورته وويل: هو! رواه البخاري

تشريح: صحابه كرامو به په خپلو كې مصافحه (لاس ملاولو) كول. د مصافحې تعريف دا دی چې: (دست يكديگر راگرفتن) دوه كسان په خپلو كې سره لاسونه ملاول. په دواړو لاسونو مصافحه سنت ده، صرف په يو لاس سره مصافحه كول خلاف سنت ده. د مصافحې نه وړاندې سلام اچول سنت دي، د سلام نه پرته مصافحه كول صحيح نه دي

په يمن كې د مصافحې رواج مخكې وو

"وعن أنس رضي الله عنه، قَالَ: لَمَّا جَاءَ أهْلُ اليَمَنِ، قَالَ رسولُ الله ﷺ: قَدْ جَاءكُمْ أهْلُ اليَمَنِ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې كله يمنيان راغلل، رسول الله ﷺ وفرمايل: د يمن خلك تاسو ته راغلل، "وَهُمْ أوَّلُ مَنْ جَاءَ بِالمُصَافَحَةِ" دا لومړي هغه خلك دي چې مصاحفه كوي، "رواه أبُو داود بإسناد صحيح".

تشريح: وهم أول من جاء بالمصافحة: دا تر ټولو اولني هغه خلك وو چې مصافحه يې كول، د حديث نه معلومېږي چې په يمن كې مصافحه كول د وړاندې نه رواج وو، په دې بنياد چې كله دوی د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر شول، نو هغوی د رسول الله ﷺ سره مصافحه (لاس ملاو) وكړه، دا كار رسول الله ﷺ ډېر خوښ كړو، كله چې رسول الله ﷺ مصافحه خوښه كړه، نو دا عمل سنت تقريري وګرځېدو. د رسول الله ﷺ مخكې چې كومې ښې طريقې وې هغه يې په خپل ځای پرېښودلې او كومې چې غلطې طريقې وې، هغه يې ختمې كړې.

په مصافحه كې د لاس جدا كېدو نه وړاندې ګناهونه معاف كيږي

"وعن البراء رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يَلْتَقِيَانِ فَيَتَصَافَحَانِ" د براء رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې دوه مسلمانان په خپل مينځ كې مصاحفه وكړي، "إلاَّ غُفِرَ لَهُمَا قَبْلَ أنْ يَفْتَرِقَا" نو الله جل جلاله به د دوی مخكښې ګناهونه د جدا كېدو نه وړاندې ورته معاف كړي رواه أبُو داود

تشريح: په يو بل روايت كې د حذيفه بن يمان رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ

وفرمايل: کله چې يو مسلمان بل مسلمان ته سلام کوي او بيا مصافحه (ستړي مشي) وکړي، نو د دوی نه گناهونه داسې رژيږي لکه څرنگه چې د خزان په موسم کې د ونو څخه پاڼې رژيږي، دغه شان د براء بن عازب رضي الله عنه په روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې دوه مسلمانان په خپلو کې ملاقات کوي او مصافحه وکړي، بيا د الله جل جلاله تعريف وکړي او د الله جل جلاله نه د خپلو گناهونو معافي وغواړي، نو الله جل جلاله يې ټول گناهونه معاف کوي.

عطاء خراساني رحمه الله فرمايي: د نبي کريم ﷺ ارشاد دی چې په خپلو کې مصافحه کوئ! په دې سره د زړونو نه کينه ختمېږي، په خپلو کې سره هديې ورکوئ په دې سره مينه زياتيږي او دښمني ختميږي، علماء فرمايي: په مصافحې سره وړوکي گناهونه معاف کيږي، لوی گناهونه په توب سره معاف کيږي.

مصافحه به د سر ښکته کولو څخه بغير کوي

"وعن أنس رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: يَارسولَ اللهِ، الرَّجُلُ مِنَّا يَلْقَى أَخَاهُ أَوْصَدِيقَهُ، أَيَنْحَنِي لَهُ قَالَ: ((لاَ))؟" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کس د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او وې فرمايل: که په مونږ کې يو کس د خپل مسلمان ورور سره ملاقات وکړي، ايا هغه ته به ښکته کيږي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: نه! "قَالَ: أَفَيَلْتَزِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ؟ قَالَ: لاَ" هغه کس وويل: غاړه ورسره ملاولی شي او ښکل کولی يې شي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: نه! "قَالَ: فَيَأْخُذُ بِيَدِهِ وَيُصَافِحُهُ؟ قَالَ: نَعَمْ" هغه کس بيا وويل: که د هغه کس لاس ونيسي او مصافحه (ستړي مشي) ورسره کولی شي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: هو! "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن".

لغوي تحقيق:

يَنحني: انحنا په اصل کې د رکوع شکل او سر ښکته ته وايي.

تشريح: اينحني له؟ قال لا: ايا هغه ته سر ټيټولای شي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايلو نه! د حديث نه معلومه شوه چې دا ځينې خلك د سلام په وخت سر ټيټوي يا د رکوع شکل اختياروي دا بالکل حرام دي او گناه ده، همدغه خبره د شيخ محي السنة رحمه الله نه هم نقل شوې ده چې د سلام کولو په مهال ټيټېدل حرام دي، شيخ ابو منصور ماتريدي رحمه الله فرمايي: که چېرته کوم کس بل کس ته دومره ټيټ شي چې سر ورته په ځمکه کېږدي يا د هغه نه په شا روان شي هغه ته نه شا کوي، نو په دې وجه به هغه ته مونږ کافر نه وايو، خو سخت گناهکار به وي او که چېرته يې د عبادت په نيت داسې وکړه، نو بيا به کافر او مشرك گڼل کيږي.

افيلتزمه ويقبله؟ قال لا: ايا تر غاړې وځي به او هغه به ښکلوي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل نه! دلته يو سوال پيدا کيږي هغه دا چې ايا معانقه او ښکلول حرام دي؟ دې باره کې د ائمه مجتهدينو رحمهم الله رايي مختلفې دي اصلاً ښکلول او معانقه کول جائز دي، البته د امام ابوحنيفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله

څخه په دې باره کې منقول دي چې دا عمل مکروه دی، لکه څرنګه چې د حديث نه معلوميږي، ليکن نور علماء فرمايي چې جائز دي، هغوی د هغو احاديثو څخه استدلال کوي په کومو کې چې رسول الله ﷺ خپله معانقه وکړه او ښکول يې وکړه، ددې اختلاف د ختمولو لپاره شيخ ابو منصور ماتريدي رحمه الله فرمايي: که معانقه او ښکلول په بد نيت او جنسي جذباتو سره وي، بيا مکروه دي او که معانقه يا ښکلول د اکرام په جذبې سره وي، نو بيا بې شکه جائز دي، ځينې نور علماء فرمايي: د فقهاوو ترمنځ چې کوم اختلاف دی دا په هغه صورت کې دی کله چې د يو انسان په بدن باندې جامې کميس وغيره نه وي او که چېرته په بدن باندې کپړه جامې وغيره وي، نو بيا هيڅ باك نشته، د ټولو په نزد جائز دی.

يهوديانو په د رسول الله ﷺ پښې او لاسونه مچوکول

-"وعن صَفْوَانَ بن عَسَّالٍ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ يَهُودِيٌّ لِصَاحِبِهِ: اذْهَبْ بِنَا إِلَى هَذَا النَّبِيِّ" د صفوان بن عسال رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يو يهودي خپل ملګري ته ووېل: راځه چې دې پېغمبر ﷺ ته لاړ شو. "فَأَتَيَا رسولَ الله ﷺ، فَسَأَلاهُ عَنْ تِسْعِ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ... فَذَكَرَ الْحَدِيثَ إِلَى قَوْلِهِ" نو هغوی دواړه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شول، دوی د رسول الله ﷺ د نهو واضحو علامو باره کې پوښتنې وکړې، بيا يې ټول حديث ذکر کړو، تردې چې دې ځای ته ورسېدو چې: "فَقَبَّلاَ يَدَهُ وَرِجْلَهُ، وقالا: نَشْهَدُ أنَّكَ نَبِيٌّ" بيا هغو يهوديانو د نبي کريم ﷺ لاس او پښې مبارکې مچو کړې او وې وېل: موږ شاهدي ادا کوو چې تاسو رښتوني پېغمبر يې! "رواه الترمذي وغيره بأسانيد صحيحة".

تشريح: فسألاه عن تسع آيات بينات: د موسی عليه السلام د نهو معجزو باره کې يې پوښتنې وکړې، رسول الله ﷺ د هغې جوابونه ورکړل، په يو بل حديث کې دي چې: "لاتشركوا بالله شيئاً ولا تسرقوا ولا تزنوا ولا تقتلوا النفس التي حرم الله الا بالحق ولا تمشوا ببرئ الى ذي سلطان ليقتله ولا تسحروا ولا تأكلوا الربوا ولا تقذفوا المحصنة ولا تولوا الفرار يوم الزحف وعليكم خاصة اليهود الا تعتدوا في السبت" ژباړه: الله ﷻ سره شريك مه جوړوئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ، کوم ذي روح شی چې الله ﷻ حرام کړی وي هغه به نه وژنئ! مګر دا چې په حق سره وي، کوم بې ګناه په اړه بادشاه ته دا شکايت مه رسوئ چې هغه بادشاه دغه بې ګناه سړی قتل کړي، جادو به نه کوئ، سود به نه کوئ، په کومې پاک لمنې بې ګناه ښځې به د زنا تهمت نه لګوئ، د جنګ پر مهال به نه تښتئ، اې يهوديانو! ستاسو لپاره يوه خبره ډېره خاصه ده، هغه دا چې د هفتې په ورځ به زياتی او تجاوز نه کوئ.

ايا پښې مچوکول جائز دي؟

فقبلا يده ورجله: دغو يهوديانو د رسول الله ﷺ پښې او لاسونه مبارك مچو کړل، د حديث نه معلوميږي چې پښې ښکلول جائز دي، علماء فرمايي: دا صرف د رسول الله ﷺ خصوصيت وو، يا دا چې په ابتداء کې جائز وو، وروسته منع شو، يا دا چې يهوديان ددې مسئلې څخه خبر نه وو، بهر حال اوس د چا پښې مچو کول قطعاً جائز نه دي، بلکې حرام عمل دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

د راوي صفوان بن عسال رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم یې صفوان رضي الله عنه دی، د پلار نوم یې عسال دی، د کوفې اوسېدونکی وو، د ډېرو زيات روايتونه د کوفيانو سره دي، يو څو روايات ترې نقل دي

ابن عمر رضي الله عنهما د رسول الله ﷺ لاس مبارک مچو کړل

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما قصة، قال فيها: فَدَنَوْنَا مِنَ النَّبِيِّ ﷺ فَقَبَّلْنَا يَدَهُ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه په يوه قصه کې روايت شوی دی چې په دې قصه کې دا هم دي: مونږ رسول الله ﷺ ته ورنږدې شو او د هغه لاس مو مچو کړل رواه أبوداود

تشريح: فقبلنا يده: مونږ د رسول الله ﷺ لاس مبارک مچو کړل، د رسول الله ﷺ لاس مبارک مچو کول بالاتفاق جائز دي، ليکن د عامو خلکو لاسونه په څېنې وخت کې جائز او په څېنې وخت کې ناجائز دي، په دې اړه شيخ علي محفوظ رحمه الله د دې تولو حکم تحرير کړی دی: که پلار خپل بچي يا بل وړوکی ماشوم د شفقت له وجې په مخ مچو کوي، نو جائز دي، مور پلار د اکرام په وجه په سر باندې مچو کول جائز دي، خپله ښځه په مخ باندې يا په خوله باندې ښکلول جائز دي، د شفقت يا محبت په وجه وړور يا ملګري په تندې ښکلول جائز دي، عالم يا شيخ يا عادل بادشاه په لاس باندې ښکلول جائز دي، د دې نه علاوه نور څومره قسمونه چې دي، هغه ټول ناجائز دي، علماء ليکي: د کوم کس دا ارمان چې وي زما دې خلک لاسونه مچو کړي، نو دا هم ناجائز دي

شاعر وايي: أنا لا أرضى بتقبيل يد .... قطعها أجمل من تلك القبل

ترجمه: زه د لاس په مچو کولې خوښ نه يم، د لاس قطع/ پرې کول ډېر ښه دي د داسې مچو کولو څخه

رسول الله ﷺ زيد بن حارثه رضي الله عنه ترغاړې باسلو:

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: قَدِمَ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ الْمَدِينَةَ وَرَسُولُ اللهِ ﷺ فِي بَيْتِي" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې زيد بن حارثه رضي الله عنه مديني منورې ته راغلو او رسول الله ﷺ زما په کور کې وو، "فَأَتَاهُ فَقَرَعَ الْبَابَ، فَقَامَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ ﷺ يَجُرُّ ثَوْبَهُ، فَاعْتَنَقَهُ وَقَبَّلَهُ" نو هغوی راغلو دروازه یې ټک ټک کړه، نبي کريم ﷺ ورپاڅېدو، په خپل ځان پسې یې کپړې راښکلې، زيد رضي الله عنه یې ترغاړې اسلو او ښکل یې کړو. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن".

لغوي تحقيق:

فاعتنقه: معانقه معنى ده: يو بل ته غاړه ورکول

تشريح فاعتنقه وقبله: نبي کريم ﷺ زيد بن حارثه رضي الله عنه ترغاړې باسلو او مچو یې کړو. د حديث خلاصه دا ده چې زيد بن حارثه رضي الله عنه کله د رسول الله ﷺ کور ته راغلو، نو رسول الله ﷺ ډېر په تيزی

سره پاځېدو تردې چې د رسول الله ﷺ څادر مبارك په ځمكه پربوتلو او ده بر په تېزی سره يې د زيد ﷺ معانقه وكړه او مچو يې كړو. داسې واقعه د جعفر ﷺ بن أبي طالب سره هم شوې وه، كله چې جعفر ﷺ د حبشې نه واپس شو، نو رسول الله ﷺ ورسره معانقه وكړه. علماء فرمايي: كله چې يو انسان د سفر نه كافي زمانه وروسته واپس راشي، نو په داسې صورت كې معانقه كول جائز دي.

د نېك عمله خلكو لاسو نه مچو كول جائز دي:

وقبله: رسول الله ﷺ هغه مچو كړو، علامه نووي ﷫ چې په شرح مسلم كې څه فرمايلي دي د هغې خلاصه دا ده چې كه د كوم سړي لاس د تقوى او علم په بنياد مچو كړی شي، نو نه صرف دا چې جائز دي، بلكې مستحب عمل دی او كه د دنيوي غرض او پيسو د طمع له وجې وي، نو بيا حرام دي.

د ورور سره په روڼ تندي ملاقات كول نيكي ده:

"وعن أبي ذر ﷺ، قَالَ: قَالَ لي رسول الله ﷺ: لا تَحقِرَنَّ مِنَ المَعرُوفِ شَيئاً" د ابو ذر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: نېک عمل اگر چې هر څومره لږ وي سپك يې مه گڼه "وَلَوْ أنْ تَلقَ أخَاكَ بِوَجهٍ طَلقٍ" اگر چې هغه نېک عمل د خپل مسلمان ورور سره په روڼ تندي باندې ملاقات كول وي رواه مسلم

لغوي تحقيق:

طليق: د طليق معنی ده: ازاد، روڼ تندی.

تشريح دا حديث وړاندې باب بيان كثرة طرق الخ كې ذكر شوی دی، يو بل روايت هم د انس ﷺ نه روايت شوی دی په هغې كې دي چې كله دوه مسلمانان په خپلو كې سره ملاقات او سترې مشي كوي، نو (۷۰) حصه مغفرت د دوی په مېنځ كې تقسيمېږي (۶۹) يو كم اويا حصې د هغه چا لپاره وي كوم كس چې پكې زيات په روڼ تندي او په خوشحالۍ سره ملاقات وكړي.

دغه شان په يو بل روايت كې دي چې راوي يې عمر ﷺ دی وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې دوه مسلمانان په خپلو كې ملاقات وكړي او خپل ملگري ته سلام كوي، نو په دوی دواړو كې الله ﷻ ته زيات محبوب هغه كس دی چې په روڼ تندي ملاقات وكړي بيا چې كله د دوی سره مصافحه او سترې مشي وكړي، نو په دوی باندې سل رحمتونه نازلېږي، كوم كس چې پكې وړاندې كوي په هغه يو كم سل او په بل باندې لس رحمتونه نازلېږي.

نبي كريم ﷺ حسين بن علي ﷺ مچو كړو

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَبَّلَ النبيُّ ﷺ الحَسَنَ بنَ عَليٍّ رضي الله عنهما" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ حسين بن علی ﷺ مچو كړو، "فَقَالَ الأقرَعُ بنُ حَابِسٍ: إنَّ لِي عَشرَةً مِنَ الوَلَدِ مَا قَبَّلتُ مِنهُم أحَداً" اقرع بن حابس ﷺ وويل: زما لس بچي دي تر اوسه مې يو هم نه دی مچو كړی. "فَقَالَ رسول

Maktaba Tul Ishaat. com

الله ﷻ: "مَن لَا يَرحَم لَا يُرحَم" نبي کريم ﷺ وفرمايل: کوم کس چې په بل چا باندې رحم نه کوي، الله ﷻ به په هغه باندې رحم نه کوي. متفقٌ عَلَيه

تشريح: ماشومان مچو کول او د هغوی سره مينه کول په هغوی باندې رحم او شفقت دی. څوک چې په دوی باندې رحم نه کوي، په حقيقت کې داسې خلك د الله ﷻ د رحمت نه محروم دي، څکه چې په حديث کې راځي: "ارحم من فى الارض يرحمك من فى السماء" په بل روايت کې دي چې: "ارحموا ترحموا واغفروا يغفرلکم" تاسو په يو بل باندې رحم کوئ، الله ﷻ به په تاسو رحم وکړي، تاسو بل ته معافي کوئ، الله ﷻ به تاسو ته معافي وکړي.

كتاب عيادة المريض وتشييع الميّت والصّلاة عليه وحضور دفنه والمكث عند قبره بعد دفنه

يو سل څلور څلوېښتم باب: (۱۴۴) - باب عيادة المريض

د ناروغ پوښتنه کول

"عن البراء بن عازب رضي الله عنهما، قَالَ: أمَرَنَا رسولُ الله ﷺ بعِيادَةِ المَريضِ، وَاتِّبَاعِ الجَنَازَةِ، وَتَشْمِيتِ العَاطِسِ، وَإبرَارِ المُقْسِمِ" د براء بن عازب ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې موږ ته رسول الله ﷺ د اوه کارونو امر وکړو: د مريض پوښتنه کول، جنازې ته تلل، د پرنجي خواب ورکول، قسم پوره کول. "وَنَصْرِ المَظْلُومِ، وَإجَابَةِ الدَّاعِي، وَإفْشَاءِ السَّلَامِ" او د مظلوم مرسته کول، دعوت قبلول او سلام خپرول. متفقٌ عَلَيه

تشريح: دا حديث هم په کتاب السلام کې باب نمبر ۱۳۱ کې ذکر شوی دی، دلته يې د باب عيادة المريض تر عنوان لاندې دويم ځل ذکر کړو.

د يو مسلمان په بل مسلمان پنځه حقونه دي

"وعن أبي هريرة ﷺ: أنّ رسول الله ﷺ، قَالَ: حَقُّ المُسْلِمِ عَلَى المُسْلِمِ خَمْسٌ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د يو مسلمان په بل مسلمان باندې پنځه حقونه دي: "رَدُّ السَّلَامِ، وَعِيَادَةُ المَرِيضِ، وَاتِّبَاعُ الجَنَائِزِ" د سلام ځواب ورکول، د ناروغ پوښتنه کول، د جنازې پسې تلل، "وَإجَابَةُ الدَّعْوَةِ، وَتَشْمِيتُ العَاطِسِ" دعوت قبلول او د پرنجي ځواب ورکول. متفقٌ عَلَيه

تشريح: علماء فرمايي: په دې حديث کې ذکر شوي شيان فرض کفايه دي، سلام کول اګرچې سنت دي ليکن جواب ورکول يې واجب دي، سلام اچول د خاکسارۍ دليل دی، "اجابة الدعوة" په دعوت قبلولو کې دا هم داخل دي چې څوک مېلمستيا کول غواړي او ته هغه ته ورشې، په دې شرط چې په دې مېلمستيا کې به کوم غير شرعي کار نه کېږي، که کوم بل کس دې جائزې مرستې ته طلب کړي، نو د هغه ماتحت الاسباب جائزه مرسته وکړې.

د الله ﷻ د انسانانو نه شکايت

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: إنَّ اللهَ ﷻ يَقُولُ يومَ القِيَامَةِ: يَاابنَ آدَمَ، مَرِضْتُ فَلَمْ تَعُدنِي! قَالَ: يَارَبِّ، كَيفَ أعُودُكَ وَأنتَ رَبُّ العَالَمِينَ؟" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ به قيامت په ورځ وفرمايي: اې د آدم عليه السلام بچيه! زه مريض شوم تا زما پوښتنه ونه کړه؟ انسان به ورته ووايي: اې الله! اې زموږ ربه! زه څنګه ستا پوښتنه وکړم، حال دا چې تاسو خو رب العالمين ذات يې، يعنې په تاسو باندې خو بيماري نه راځي؟! "قَالَ: أمَا عَلِمْتَ أنَّ عَبْدِي فُلاناً مَرِضَ فَلَمْ تَعُدْهُ! أمَا عَلِمْتَ أنَّكَ لَوْ عُدْتَهُ لَوَجَدْتَنِي عِنْدَهُ! الله تعالی به ورته ووايي: ايا تا ته پته نشته چې زما فلانکی بنده بيمار شواو تا يې پوښتنه ونه کړه، که چېرته تا د هغه پوښتنه کړې وای، نو زما رضا به تا ته حاصله شوې وای، "يَاابنَ آدَمَ اسْتَطْعَمْتُكَ فَلَمْ تُطْعِمْنِي! قَالَ: يَارَبِّ، كَيْفَ أُطْعِمُكَ وَأنْتَ رَبُّ العَالَمِينَ؟!" اې د آدم عليه السلام زويه! ما درنه خوراک وغوښتلو او تا راته خوراک رانکړو! انسان به ووايي: اې الله! زه تا ته څرنګه خوراک درکړم او حال دا چې تاسو خو رب العالمين ذات يې؟ "قَالَ: أمَا عَلِمْتَ أنَّهُ اسْتَطْعَمَكَ عَبْدِي فُلانٌ فَلَمْ تُطْعِمْهُ! أمَا عَلِمْتَ أنَّكَ لَوْ أطْعَمْتَهُ لَوَجَدْتَ ذلِكَ عِندِي!" الله ﷻ به ورته ووايي: تا ته پته نشته چې فلانکي سړي درنه ډوډی وغوښتل او تا هغه ته ورنه کړه، ايا تا ته پته نشته چې که تا هغه ته ډوډی ورکړې وې، نو ما به تا ته ډېر ثواب درکړی وای، "يَاابنَ آدَمَ، اسْتَسْقَيْتُكَ فَلَمْ تَسْقِنِي! قَالَ: يَارَبِّ، كَيْفَ أسْقِيكَ وَأنْتَ رَبُّ العَالَمِينَ؟!" اې د آدم عليه السلام زويه! ما درنه اوبه وغوښتلې او تا رانکړې! انسان به ورته ووايي: اې الله! زه تا ته څرنګه اوبه درکړم او حال دا چې تاسو خو رب العالمين ذات يې؟ "قَالَ: اسْتَسْقَاكَ عَبْدِي فُلاَنٌ فَلَمْ تَسْقِهِ! أمَا عَلِمْتَ أنَّكَ لَوْ سَقَيْتَهُ لَوَجَدْتَ ذلِكَ عِنْدِي!" الله ﷻ به ورته ووايي چې فلانکي کس درنه اوبه وغوښتلې، تا هغه ته ورنه کړې، تا ته پته شته! چې که تا هغه ته اوبه ورکړې وای، نو ما به تا ته دومره زيات ثواب درکړی وو. رواه مسلم

تشريح: په يو بل روايت کې راځي چې: "الخلق كلهم عيال الله" ټول مخلوق د الله ﷻ عيال او بندګان دي، دغه شان په يو بل روايت کې راځي چې: "فاحبهم الى الله أنفعهم بعياله" هغه کس الله ﷻ ته زيات محبوب دی څوک چې د الله ﷻ عيال ته زياته ګټه رسوي، د حديث مطلب دا دی چې د الله ﷻ د بندګانو سره مينه وکړئ، هغوی ته فايده ورسوئ، دا ټول کارونه الله ﷻ ته خوښ دي، په حديث کې درې صورتونه بيان شوي دي: د ناروغ پوښتنه کول، خوراک ورکول او اوبه ورباندې څښل، په دې درې واړو کې فرق دی، د ناروغ د پوښتنې په اړه الله ﷻ وفرمايل: که چېرته تا د ناروغ پوښتنه کړې وای، نو تا به زه هلته موندلی وای چې ددې برعکس خوراک او اوبو باره کې يې وفرمايل: زما سره به ددې په بدل کې ستا لپاره ثواب وای، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې د مريض پوښتنې ته په ټولو کې زيات ثواب دی.

رسول الله ﷺ د درې کارونو کولو ارشاد وفرمايلو

"وعن أبي موسى ﷺ، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: عُودُوا المَرِيضَ، وَأطْعِمُوا الجَائِعَ" د ابو موسی اشعري ﷺ نه

Maktaba Tul Ishaat. com

روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د مريض پوښتنه کوئ، وږي ته ډوډۍ ورکوئ "وَفُكُّوا العَانِيَ" بنديان، غلامان آزاد کړئ "رواه البخاري، (العَانِي: الأَسِيرُ) اسير بندي او زنداني ته ويل کيږي

لغوي تحقيق:

العاني: عني تعنية. ددې معنى ده. غلام، بندي، زنداني

تشريح: په دې حديث کې د درې کارونو حکم شوی دی. دا درې واړه شيان وجوب على الکفايه دي، مطلب دا چې که يو کس دا کارونه پوره کړي، نو بيا نورو خلکو ته ددې کارونو پوره کول ضروري نه دي، ليکن بيا هم سنت دی چې هر کس يې وکړي، که يو کس هم چېرته دا کار ونه کړي، نو ټول خلك به ګناهګار وي

وږي ته خوراک ورکول کله سنت او کله فرض دي؟

محدث دهلوي شيخ مولانا عبد الحق رحمه الله فرمايي: وږي ته خوراك ورکول هغه وخت سنت دي کله چې انسان په اضطراري حالت کې نه وي، که انسان اضطراري حالت ته ورسيدلو، نو بيا فرض دي، دغه شان که مريض داسې وي چې د هغه پوښتنې والا څوك وي، نو بيا د ناروغ پوښتنه سنت ده او که د پوښتنې والا څوك نه وي، بيا د ناروغ پوښتنه فرض ده

ترڅو چې د ناروغ پوښتنه کوي، ترهغې به د جنت په نعمتونو کې وي

"وعن ثوبان رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: إِنَّ الْمُسْلِمَ إِذَا عَادَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ، لَمْ يَزَلْ فِي خُرْفَةِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَرْجِعَ" د ثوبان رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې يو مسلمان د بل مسلمان پوښتنې ته ورشي، نو دی به تر هغه پورې د جنت په خرفه کې وي ترڅو چې بېرته کور ته واپس نه وي راغلی، "قِيلَ: يَا رَسُولَ الله، وَمَا خُرْفَةُ الْجَنَّةِ؟ قَالَ: ((جَنَاهَا))" يو کس پوښتنه وکړه چې اې د الله تعالى رسوله! خرفه څه شی دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د جنت ميوو ته خرفه ويل کيږي. رواه مسلم

تشريح: په دې حديث کې د بيمار د پوښتنې فضيلت بيان شوی دی، مريض بې چاره په مرض اخته وي، د تکليفونو او مصيبتونو سره يې مخ وي، که په خپلوانو يا پردو خلکو کې څوك پوښتنې ته ورشي، نو په دې سره مريض ډېر زيات خوشحاليږي، بلکې ددې خوشحالي له وجې کله کله د هغه مرض هم هېر شي، د ذهن نه يې دا خبره وځي چې مريض يم، ددې سره سره پوښتنې والا ته هم ثواب ملاويږي، بلکې پوښتنې والا چې ترڅو پورې د بيمار سره وي، ترهغې به د جنت په نعمتونو کې وي او د الله جل جلاله د رحمتونو او برکتونو څخه به برخمن وي

د ناروغ پوښتنې کوونکي ته اويا زره / ۷۰۰۰۰ پرښتې د مغفرت دعاګانې کوي

"وعن علي رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ، يقول: مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَعُودُ مُسْلِماً غُدْوَةً إِلاَّ صَلَّى عَلَيهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُمْسِيَ" د علي رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو مسلمان چې د بل مسلمان پوښتنې ته په سهار وخت کې ورشي، نو اويا زره / ۷۰۰۰۰ پرښتې ورته تر مابنامه پورې دعاګانې

کوي. "وَإِنْ عَادَهُ عَشِيَّةً إِلَّا صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُصْبِحَ، وَكَانَ لَهُ خَرِيفٌ فِي الْجَنَّةِ" رواه الترمذي، وقال: ((حديث حسن)). ((الْخَرِيفُ)): الثَّمَرُ الْمَخْرُوفُ، أَيْ: الْمُجْتَنَى.

تشريح په دې حديث کې هم د عيادت او د بيمار پوښتنې فضيلت بيان شوی دی، په اسلام کې د بيمار پوښتنه کول د يو مسلمان په بل مسلمان باندې حق ښودل شوی دی، بلکه دا چې کله پوښتنې والا سهار پوښتنې ته ورشي، نو تر ماښامه ورته اويا زره/ ۷۰۰۰۰ پرښتې د مغفرت دعاګانې کوي او دغه شان که ماښام ورغلو، نو تر سهاره پورې ورته د مغفرت دعاګانې کوي.

رسول الله ﷺ د يهودي هلك پوښتنه وکړه

"وعن أنس ﷺ قَالَ: كَانَ غُلَامٌ يَهُودِيٌّ يَخْدُمُ النَّبِيَّ ﷺ، فَمَرِضَ، فَأَتَاهُ النَّبِيُّ ﷺ يَعُودُهُ، فَقَعَدَ عِنْدَ رَأْسِهِ، فَقَالَ لَهُ: أَسْلِمْ" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يو يهودي هلك به د رسول الله ﷺ خدمت کولو، يوه ورځ مريض شو، نبي کريم ﷺ يې پوښتنې ته ورغلو، د هغه هلك سر ته کېښناستلو او ورته يې وفرمايل: اسلام راوړه. "فَنَظَرَ إِلَى أَبِيهِ وَهُوَ عِنْدَهُ؟ فَقَالَ: أَطِعْ أَبَا الْقَاسِمِ، فَأَسْلَمَ" هغه هلك خپل پلار ته وکتل، د هلك پلار ورسره نزدې ناست وو، پلار ورته وويل: د ابو القاسم ﷺ يعني د نبي کريم ﷺ خبره ومنه هغه هلك اسلام راوړو. "فَخَرَجَ النَّبِيُّ ﷺ وَهُوَ يَقُولُ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنْقَذَهُ مِنَ النَّارِ" نبي کريم ﷺ د هغوی د کوره راووتلو او دا دعاء يې کوله: ټول تعريفونه هغه ذات لره دي چې دغه هلك يې د جهنم له اوره بچ کړو. رواه البخاري

تشريح: ددې حديث نه فقهاوو دا مسئله استنباط کړې ده چې د يهودي د ناروغۍ پوښتنې ته ورتلل جائز دي، ليکن د مجوسيانو د ناروغ په پوښتنه کې اختلاف دی. دغه شان د فاسق او فاجر انسان په پوښتنه کې هم اختلاف دی، خو راجح قول دا دی چې په عيادت کې يې هيڅ باك نشته، بل ددې حديث نه امام ابو حنيفه رحمه الله استدلال کړی دی چې د نابالغ هلك اسلام راوړل معتبر دي، لکه څرنګه چې ددې حديث نه معلومه شوه، ددې يهودي هلك نوم عبد القدوس وو، بل دا چې د کافر ذمي نه خدمت اخيستل جائز دي.

فقعد عند رأسه: رسول الله ﷺ ددې هلك سر ته کېښناستلو، ددې نه معلومه شوه چې د ناروغ د پوښتنې پر مهال يې سر ته کېښناستل پکار دي، هغه هلك مسلمان شو، په بل روايت کې دي چې "فقال اشهد ان لا اله الا الله وان محمدا رسول الله" هغه د شهادت کلمه وويل، "الحمد لله الذي انقذه من النار" ټول تعريفونه هغه ذات لره دي چې دا دغه ماشوم د جهنم له اور څخه بچ کړو، په يو بل روايت کې دي چې "الحمد لله الذي انقذه من نار جهنم" او په يو بل روايت کې دي چې: "الحمد لله الذي أنقذه بي من النار" الفاظ هم راغلي دي، د ټولو مطلب يو دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

باب مَا يُدعى به للمريض

ناروغ ته د دعاء کولو بيان

"عن عائشة رضي الله عنها: أنَّ النبيَّ ﷺ كَانَ إِذَا اشْتَكَى الإِنْسَانُ الشَّيْءَ مِنْهُ، أَوْ كَانَتْ بِهِ قَرْحَةٌ أَوْ جُرْحٌ" د عائشه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ته به کوم کس د بيمارۍ شکايت وکړو يا د کوم زخم او دانې وغيره شکايې بې وکړو، "قَالَ النَّبِيُّ ﷺ بِأُصْبُعِهِ هكَذَا" نبي کريم ﷺ به په خپله ګوته داسې کول، "وَوَضَعَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ الرَّاوِي سَبَّابَتَهُ بِالأَرْضِ ثُمَّ رَفَعَهَا" بيا راوي سفيان رحمه الله خپله د شهادت ګوته په ځمکه کېښوده او بيا يې پورته کړه، "وقال: بِسْمِ اللهِ، تُرْبَةُ أَرْضِنَا، بِرِيقَةِ بَعْضِنَا، يُشْفَى بِهِ سَقِيمُنَا، بِإِذْنِ رَبِّنَا" بيا به يې دا دعا وويل، شروع کوم په نوم د الله ﷻ، خاوره زمونږ، د ځينو کسانو لاړې د شفاء ذريعه جوړه شي زمونږ د رب په اجازه. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: بأصبعه: په ګوته مبارکه سره، د ځينو روايتونو نه معلوميږي چې رسول الله ﷺ خپلې لاړې مبارکې په ګوته باندې ولګولې بيا به يې هغه ګوته په خاورو باندې کېښوده، بيا به يې د تکليف په ځای باندې کېښودل، ذکر شوې دعاء به يې ويل، "فكانت به قرحة أو جرح" دانه يا زخم، د زخم يا دانو خارښ او ناروغۍ وغيره لپاره به يې دغه عمل کولو، د قاضي بيضاوي رحمه الله په نزد د مزاج په بدلون کې د لاړو ډېر زيات تاثير دی، دغه شان خپل مزاج په خپل حالت باندې برقرار ساتلو لپاره د وطن خاوره هم ډېره مؤثره وي، ځکه رسول الله ﷺ دغه عمل وکړو، ځينې وايي: د مدينې منورې په خاوره کې صرف الله ﷻ دغه برکت اېښودلی دی، بهر حال هر شان چې وي: که د وطن خاوره وي يا د مدينې منورې خاوره وي، خو شفاء الله ﷻ ورکوي، خاوره هيچا ته شفاء نه ورکوي، بل د دې حديث نه دا هم معلومه شوه چې عالمانو او پرهيزګارانو ته د جسماني تکليف ختمېدو لپاره د خير دعاګانو په خاطر رجوع کول صحيح دي، خو په دې شرط چې په منترونو او تعويذونو کې مشرکانه الفاظ نه وي

د ناروغ پوښتنه به څرنګه کوئ؟

"وعنها: أنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَعُودُ بَعْضَ أَهْلِهِ يَمْسَحُ بِيَدِهِ اليُمْنَى، ويقولُ: اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ، أَذْهِبِ البَأْسَ" د عايشې ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله د ځينو خپلو کور والاوو عيادت کولو، نو خپل ښی لاس به يې ورته د تکليف په ځای کېښودو او داسې دعاء به يې کول، اې د خلکو ربه! تکليف لرې کړه! "اشْفِ أَنْتَ الشَّافِي لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ" ته دغه مريض ته شفاء ورکړې، ته شفاء ورکوونکی ذات يې، بل څوک شفاء ورکوونکی نشته، "شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَماً" داسې شفاء ورته ورکړې چې بيا ورسره بيماري باقي پاتې نه شي. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: كان يعود: د بيمار پوښتنه به يې کول، د بخاري په روايت کې د (يعوذ) الفاظ راغلي دي، حافظ ابن حجر رحمه الله د دې معنی په برقي دم کولو سره کړې ده

يمسح بيده اليمنى: خپل ښى لاس به يې د تکليف په ځاى موښلو، علامه طبري رحمه الله فرمايي په دې طريقه به رسول الله ﷺ تفاول (نيک فالي) کول او د مرض ختمولو لپاره داسې تفاول جائز دى.

د رسول الله ﷺ د دم طريقه

"وعن أنس ﷺ أنه قال لثابت رحمه الله: ألا أرقيك برقية رسول الله ﷺ؟ قال: بلى" د انس ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې يو ورځ ما ثابت رحمه الله ته وويل: ايا زه په تاسو باندې د رسول الله ﷺ نبوي دم شوى دم ونه وايم؟ هغه ورته وويل: ولې نه! "قال: اللهم رب الناس، مذهب البأس، اشف أنت الشافي، لا شافي إلا أنت، شفاء لا يغادر سقماً" اې الله! اې د خلکو ربه! تکليف لرې کونکيه! ده ته شفاء ورکړه، هم دا ته شفاء ورکوونکى ذات يې، بل څوک شفاء نه شي ورکولى او داسې شفاء ورکړه چې بيا درد او بيماري نه وي. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

ارقيك: رقية: ددې معنى ده: دم او تعويذ.

تشريح ددې حديث نه معلوميږي چې دم اچول يا دمول د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو ﷺ څخه ثابت عمل دى، ليکن په دم اچولو کې دا خبره ضروري ده چې په دم کې بايد شرکيه الفاظ نه وي، بلکې دم به صرف او صرف په قرآن کريم يا اسماء، صفات يا په مسنون دعاګانو سره وي.

رسول الله ﷺ سعد ﷺ ته داسې دعاء وکړه

"وعن سعد بن أبي وقاص ﷺ، قال: عادني رسول الله ﷺ، فقال: اللهم اشف سعداً" د سعد بن أبي وقاص ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ زما پوښتنې ته راغلو، وې فرمايل: اې الله! سعد ﷺ ته شفاء ورکړه! "اللهم اشف سعداً، اللهم اشف سعداً" اې الله! سعد ﷺ ته شفاء ورکړه! اې الله! سعد ﷺ ته شفاء ورکړه! رواه مسلم

تشريح: د حديث نه معلومه شوه چې د بيمار پوښتنه د سعادت خبره ده، رسول الله ﷺ به خپله د بيمار پوښتنې ته تللو، ددې نه دا هم معلومه شوه چې د مريض په ځانګړې توګه نوم اخيستل او هغه ته د شفاء او صحت سوال کول د الله ﷻ څخه جائز دي، بل دا چې په دعاء کې باربار تکرار کول او خپل رب ته عاجزي کولو سره دعاء قبوليت ته نژدې کيږي.

خپل ځان هم دمولى شي

"وعن أبي عبد الله عثمان بن أبي العاص ﷺ: أنه شكا إلى رسول الله ﷺ وجعاً، يجده في جسده" د أبو عبد الله عثمان بن أبي العاص ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي: يو ورځ مې رسول الله ﷺ ته د خپل درد شکايت وکړو کوم چې زما په بدن کې وو، "فقال له رسول الله ﷺ: ضع يدك على الذي يألم من جسدك وقل: بسم الله ثلاثاً" رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: په هغه ځاى لاس کېږده کوم ځاى چې درد وي، درې ځله بسم الله ووايه، "وقل سبع مرات: أعوذ بعزة الله وقدرته من شر ما أجد وأحاذر" او اوه ځله داسې ووايه! اعوذ بعزة الله الخ...) زه پناه

Maktaba Tul Ishaat. com

غواړم په الله ﷻ سره د هر هغه تکلیف نه چې په ما کې دی او د کوم نه چې زه ویریږم. رواه مسلم

تشريح: ضع یدك: خپل لاس هلته کېږده، علماء فرمايي: مستحب همدغه ده چې په کوم ځای باندې تکلیف وي په هغه ځای باید لاس کېښودل شي، که صرف په دم کولو باندې اکتفاء وشي، په هغه ځای باندې لاس نه راکش کوي، دا هم صحیح ده. بله دا مسئله هم معلومه شوه چې انسان خپله هم ځان دمولی شي، ضروري نه ده چې په بل کس باندې ځان دم کړي

د راوي ابوعبدالله عثمان بن أبي العاص ﷺ حالات:

اصلي نوم یې عثمان ﷺ دی، د پلار نوم یې أبو العاص دی، کنیت یې ابو عبد الله دی، نسب نامه یې داسې ده: عثمان بن أبي العاص بن بشر بن دهبان بن عبد الله بن آبان الخ. د طائف د جنګ نه وروسته د اهل طائف سره راغلو، عثمان ﷺ اګرچې تراوسه نوی مسلمان شوی وو، لیکن رسول الله ﷺ په هغه کې لیاقت او استعداد ولیدو، نو د بني ثقیف قبیلې مشر یې جوړ کړو، ورته یې وفرمایل: د خلکو حالاتو ته ګوره، په خلکو کې کمزوري، بوډاګان او بیماران وي، مطلب دا چې هغوی ته لنډه او معمولي جمع ورکوه

کله چې بصره آباده شوه، خلکو عثمان بن العاص ﷺ امیر جوړول غوښتل، لیکن عمر ﷺ ورته وفرمایل: زه یې د بصرې امیر نه شم جوړولی، ځکه چې رسول الله ﷺ خپله د طائف امیر وټاکلو، خلکو ورته وویل: داسې کېدی شي چې په طائف دې بل څوك نائب جوړ کړي او دی به په بصره کې امیر شي، بیا وروسته عثمان ﷺ خپل ورور حکم په طائف کې قائم مقام امیر کړو او خپله بصرې ته لاړو او هلته آباد شو، ابوبکر ﷺ به دده باره کې فرمایل: "تفقه في الاسلام وعلم بالقرآن" حسن بصري ﷺ فرمایي: ما د عثمان بن أبي العاص ﷺ نه افضل سړی بل څوك نه دی لیدلی

د امیر معاویه ﷺ په زمانه کې په **۵۵** هجري کې وفات شو، تر **۲۹** پورې حدیثونه ترې نقل شوي دي.

د بیمار د صحت لپاره دغه دعاء ویل پکار دي

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ، قال: مَنْ عَادَ مَرِيضاً لَمْ يَحْضُرْهُ أَجَلُهُ، فَقَالَ عِنْدَهُ سَبْعَ مَرَّاتٍ" د عبد الله بن عباس ﷺ نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم کس چې د مریض پوښتنې ته ورشي په داسې حال کې چې مریض ته د مرګ وخت نږدې شوی نه وي، د مریض سره دغه دعاء اووه / ۷ ځله ووایي، "أَسْأَلُ اللهَ الْعَظِيمَ، رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، أَنْ يَشْفِيَكَ، إِلَّا عَافَاهُ اللهُ مِنْ ذَلِكَ الْمَرَضِ" زه د الله ﷻ نه سوال کوم چې لوی ذات دی، د عرش عظیم رب دی، چې الله ﷻ دې تاسو ته شفاء درکړي، الله ﷻ به ورته ددې مرض نه شفاء ورکړي. "رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن، وقال الحاكم: حديث صحيح على شرط البخاري".

تشريح: الا عافاه الله من ذالك المرض: مګر دا چې الله ﷻ به هغه ته ددې مرض نه شفاء ورکړي، د

مريض لپاره چې په اخلاص سره دعاء وشي، بيا په ځانګړې توګه هغه دعاء چې د رسول الله ﷺ نه منقول وي، نو داسې دعا بيا ضروري قبليږي، دعاء پوره په يقين سره غوښتل پکار دي، لکه څرنګه چې په حديث قدسي کې دي چې: "أنا عند ظن عبدي بي" زه د بنده د ګمان مطابق فيصلې کوم، که هغه د قبوليت په اړه دعا وکړي، نو الله ﷻ به ضرور دعاء قبلوي، (الله ﷻ دې زموږ ټولې دعاګانې قبولې کړي او زموږ شرعي حاجتونه دې پوره کړي آمين)

رسول الله ﷺ د کليوالي سيمې او سېدونکي پوښتنه وکړه

"وعنه: أنّ النبي ﷺ دخل على أعرابي يعوده، وكان إذا دخل على من يعوده قال" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ د يو کليوال / کوچي پوښتنې ته ورغلو، د رسول الله ﷺ عادت مبارك دا وو چې کله به يې د کوم مريض پوښتنه کول، نو داسې به يې فرمايل: "لابأس طهور إن شاء الله" هيڅ پروا ونه ساتئ! که الله ﷻ وغواړي نو دغه بيماري به د ګناهونو څخه د صفا کولو ذريعه جوړه شي. رواه البخاري

تشريح: ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: په دې حديث کې د رسول الله ﷺ کمال تواضع ته اشاره ده، رسول الله ﷺ به د کوچي سړي پوښتنې ته هم ورتلو، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې صرف د مالدارو خلکو يا مشرانو پوښتنې ته ورتلل پکار نه دي، بلکې د غريب سړي يا د خان څخه کمزوري سړي پوښتنه هم پکار ده، "لابأس طهور" هيڅ خبره نشته که الله ﷻ وغواړي، نو دغه مرض به د ګناهونو کفاره شي

د جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ له طرفه د مرض ختمولو لپاره دعاء

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه: أن جبريل أتى النبيّ ﷺ، فقال: يا محمد، اشتكيت؟ قال: نعم" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې جبرئيل عليه السلام يوه ورځ رسول الله ﷺ ته راغلو او ورته يې وفرمايل: اې محمد ﷺ! بيمار يې؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: هو! "قال: بسم الله أرقيك، من كل شيء يؤذيك" جبرئيل عليه السلام وويل: شروع کوم په نوم د الله ﷻ، د الله ﷻ په نوم دې دموم، د هر هغه شي نه چې د کوم شي نه تاسو ته تکليف رسيږي، "من شر كل نفس أو عين حاسد" د هر حسد کوونکي د نفس او د حسد کوونکي د سترګو له شره، "الله يشفيك، بسم الله أرقيك" الله ﷻ به تاسو ته شفاء درکړي، د الله ﷻ په نوم سره دې دموم. رواه مسلم..... **تشريح:** ان جبرئيل اتى النبي ﷺ: جبرئيل عليه السلام د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، ددې نه معلومه شوه چې د مريض سره کېنستل، د هغه زړه خوشحالول او د هغه لپاره دعاګانې کول د جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ، د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو رضي الله عنهم معمول وو، د بيمار نه نفرت کول ګناه ده، د حديث نه دا هم معلومه شوه چې جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ به د رسول الله ﷺ سره خوږمره مينه کول، بل دا چې رسول الله ﷺ ته به هم ناروغي راتله

Maktaba Tul Ishaat. com

که ناروغ دغه دعاء ووايي، نو د جهنم څخه به خلاص شي

"وعن أبي سعيد الخدري وأبي هريرة رضي الله عنهما: أنهما شهدا على رسول الله ﷺ، أنه قال: مَن قال: لا إله إلا الله والله أكبر، صدّقه ربه، فقال: لا إله إلا أنا وأنا أكبر" د ابو سعيد خدري او ابو هريره رضي الله عنهما نه روايت دی هغوی دواړه شاهدي ورکوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې ددې خبرې شاهدي ورکوي چې نشته لائق د عبادت سيوا د الله ﷻ نه او الله ﷻ لوی ذات دی، نو د هغه رب هم د هغه تصديق کوي او الله ﷻ ورته وايي چې نشته لائق د عبادت سيوا زما څخه او زه لوی يم، "وإذا قال: لا إله إلا الله وحده لا شريك له، قال: يقول: لا إله إلا أنا وحدي لا شريك لي" او کله چې بنده ددې خبرې شاهدي ورکړي چې نشته لائق د عبادت سيوا د الله ﷻ نه چې واحد لاشريك له ذات دی، نو الله ﷻ هم ورته په خواب کې وايي چې نشته لائق د عبادت سيوا زما څخه او زه تنها ذات يم، زما سره شريک نشته، "وإذا قال: لا إله إلا الله له الملك وله الحمد، قال: لا إله إلا أنا لي الملك ولي الحمد" او کله چې بنده ووايي چې نشته د عبادت لائق سيوا د الله ﷻ نه، هم ده لره بادشاهي ده او ده لره تعريفونه دي، نو الله ﷻ هم ورته په خواب کې ووايي چې نشته لائق د عبادت سيوا زما څخه او ما لره بادشاهي ده او ما لره ټول د خدايي تعريفونه دي، "وإذا قال: لا إله إلا الله ولا حول ولا قوة إلا بالله، قال: لا إله إلا أنا ولا حول ولا قوة إلا بي" او کله چې بنده داسې ووايي چې نشته لائق د عبادت سيوا د الله ﷻ نه او نشته طاقت په نېکی باندې مګر په الله ﷻ سره دی او نشته د ګناه نه اوړېدل مګر د الله ﷻ په توفيق سره دي، نو الله ﷻ هم ورته په خواب کې ووايي چې نشته لائق د عبادت سيوا زما څخه او نشته په نيکی باندې طاقت سيوا زما څخه اونشته د ګناه نه اوړېدل مګر زما په طاقت او توفيق سره دي، "وكان يقول: مَن قالها في مرضه ثم مات لم تطعمه النار" او رسول الله ﷺ بيا وروسته وفرمايل: کوم کس چې دا کلمات د مرض الموت په حالت کې ووايي او بيا ددې مرض نه مړ شي، نو داسې کس به د جهنم اور ته داخل نه شي. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن"

تشريح: په دې حديث کې چې کوم الفاظ ذکر دي په دې ټولو کې د الله ﷻ لويي او عظمت ته اشاره ده، په دې سره الله ﷻ خوشحاليږي، دغه کلمات په عامو حالاتو کې هم لوستل پکار دي، بيا په خانګړې توګه که د بيماری په حالت کې ولوستل شي، نو که په دې بيماری کې ورته مرګ راشي، نو د ښکلي خاتمې ذريعه به يې وګرځي

باب إستحباب سؤال أهل المريض عن حاله

"عن ابن عباس رضي الله عنهما: أن علي بن أبي طالب ﷺ، خرج من عند رسول الله ﷺ، في وجعه الذي توفي فيه، فقال الناس: يا أبا الحسن، كيف أصبح رسول الله ﷺ؟" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې علي ﷺ د رسول الله ﷺ نه په داسې حال کې بهر راووتلو چې کومه بيماري په رسول الله ﷺ باندې راغلې وه د هغې بيماری نه بيا وفات هم شو، خلکو پوښتنه وکړه چې رسول الله ﷺ په کوم حالت کې

وو؟ "قَالَ: أَصْبَحَ بِحَمْدِ اللّٰهِ بَارِئاً" علي رضي الله عنه ورته وفرمايل: د خداى شكر دى حالت يې ښه دى. رواه البخاري

تشريح: قال أصبح بحمد الله بارئاً: په رسول الله ﷺ باندې پداسې حالت كې سهار شو چې حالت يې ډېر ښه وو، د حديث نه معلومه شوه چې د مريض حالت ډېر زيات ښه نه وي او د خلكو ملاقاتونه هغه ته د تكليف باعث جوړيږي، نو پكار ده چې د كور والا نه د هغه باره كې پوښتنه وكړى شي، بل دا چې كور والا ته هم پكار دي چې د مريض ښه حالت بيان كړي.

باب مَا يقوله مَن أيس من حياته

څوک چې د ژوند څخه نااميده شي، نو څه به وايي؟

"عن عائشة رضي الله عنها، قالت: سَمِعْتُ النبيَّ ﷺ وَهُوَ مُسْتَنِدٌ إِلَيَّ، يَقُولُ" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ماته ډډه وهلې وه او ما ترې واورېدل چې فرمايل يې: "اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي، وَأَلْحِقْنِي بِالرَّفِيقِ الأَعْلَى" اې الله! ما وبخښې، په ما رحم وكړې او په اوچت ملګري پورې مې پيوسته كړې! متفقٌ عَلَيهِ

تشريح: وهو مستند إليَّ: رسول الله ﷺ زما طرفته تكيه وهلې وه، په يو بل روايت كې دي چې: "هو مستند إلى صدرها" رسول الله ﷺ د عايشه رضي الله عنها سينې مباركې ته تكيه وهلې وه.

د رفيق اعلى نه مراد څه دى؟

والحقني بالرفيق الأعلى: د رفيق اعلى نه مراد د اكثره علماوو په نزد الله ﷻ دى، د الله ﷻ په اسماء حسنى كې يو نوم رفيق هم دى، د څينو محدثينو په نزد د رفيق اعلى نه مراد پربښتې، انبياء عليهم السلام او صلحاء خلك مراد دي، لكه څرنګه چې يوسف عليه السلام دعاء كړې وه، "والحقني بالصالحين" ما د نېكو خلكو سره يو ځاى كړې.

معلومه شوه چې د مرګ پرمهال بايد انسان د نړۍ څخه ځان كښې كړي او خپل ټول تعلق د آخرت سره جوړ كړي، "اللهم اغفرلي وارحمني" اې الله ما وبخښې! په ما رحم وكړې، اصلاً رسول الله ﷺ مغفور او مرحوم دى، په دې كې د امت لپاره تعليم دى، بيا په دغه قسم دعاګانو سره مراد رفع درجات او په نېكيو كې اضافه ده.

د زنكدن پرمهال په مخ مباركاوبه رابنكل

"وعنها، قالت: رَأَيْتُ رسولَ اللّٰهِ ﷺ وَهُوَ بِالْمَوْتِ، عِنْدَهُ قَدَحٌ فِيهِ مَاءٌ، وَهُوَ يُدْخِلُ يَدَهُ فِي الْقَدَحِ، ثُمَّ يَمْسَحُ وَجْهَهُ بِالْمَاءِ" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دى هغه فرمايي رسول الله ﷺ مې په مرض الوفات كې وليدو، د هغه سره يو پياله وه په هغې كې اوبه وې رسول الله ﷺ به خپل لاس مبارك په هغې كې داخلولو او بيا به يې هغه لاس په خپل مخ مبارك باندې وهلو، "ثُمَّ يَقُولُ: اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى غَمَرَاتِ الْمَوْتِ" اې الله! د مرګ په سختيو كې مې مدد وكړې، "أَوْ سَكَرَاتِ الْمَوْتِ" او يا يې داسې وفرمايل: سكرات الموت يعنې د مرګ سختى راته اسان كړې! رواه الترمذي.

Maktaba Tul Ishaat. com

تشريح: په آخري وخت کې رسول الله ﷺ ته ډېره سخته تبه لګېدلې وه، ددغې تبې د حرارت کمولو لپاره به رسول الله ﷺ په وار وار اوبه په مخ مبارك اچولې، ورسره به يې دا دعاء هم کول چې اې الله د مرګ په سختئ کې راسره اسانې وکړه، معلومه شوه چې د مرګ پرمهال انسان ته پکار دي چې د خپل رب نه مرسته وغواړي

سوال او جواب:

سوال: ولې په رسول الله ﷺ باندې د وفات پرمهال دومره تکليف وو؟

جواب: د الله ﷻ له طرفه په رسول الله ﷺ باندې د وفات پرمهال دومره تکليف ځکه وُ چې امتيان يې په خپلو مرګونو کې زيات پرېشانه نه شي، مطلب دا چې کله خلکو ته معلومه شي چې په رسول الله ﷺ باندې هم د وفات پرمهال تکليف راغلى وو، نو باقي خلك به هم په دې سټره پرېشانى باندې صبر وکړي، د نبي کريم ﷺ پرېشاني به رايادوه کړي، نو خپل ځان ته به تسلي وکړي او خپل تکليف به ورته اسان ښکاره شي.

باب إستحباب وصية أهل المريض ومن يخدمه بالإحسان إليه واحتماله والصبر علىٰ ما يشق من أمره وكذا الوصية بمن قرب سبب موته بحد أو قصاص ونحوهما

د مريض سره ښه سلوك کول

"عن عِمْرَان بن الحُصَيْنِ رضي الله عنهما: أَنَّ امْرَأَةً مِنْ جُهَيْنَةَ أَتَتِ النَّبِيَّ ﷺ وَهِيَ حُبْلَى مِنَ الزِّنَا" د عمران بن حصين ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې د جهينه قبيلې يوه ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره شوه او د هغې په خېټه کې د زنا ماشوم، "فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْهُ عَلَيَّ" هغې وويل: اې د الله تعالى رسوله! زه حد ته رسيدلې يم، په ما باندې حد قائم کړه! "فَدَعَا رَسُولُ اللهِ ﷺ وَلِيَّهَا، فَقَالَ: أَحْسِنْ إِلَيْهَا، فَإِذَا وَضَعَتْ فَأْتِنِي بِهَا" نبي کريم ﷺ د هغې ښځې خپلوان راوغوښتل او ورته يې وفرمايل: ددې ښځې سره ښه سلوك کوئ، کله چې بچی وزېږوي بيا يې ماته راولئ! "فَفَعَلَ، فَأَمَرَ بِهَا النَّبِيُّ ﷺ، فَشُدَّتْ عَلَيْهَا ثِيَابُهَا، ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَرُجِمَتْ، ثُمَّ صَلَّى عَلَيْهَا" هغوی هم هغسې وکړل بيا نبي کريم ﷺ امر وکړو چې ددې کپړې ورباندې وتړئ، کپړې يې ورباندې بندې کړئ، بيا امر وشو چې رجم يې کړي، نو رجم يې هم کړه، بيا د جنازې لمونځ ورباندې وشو. رواه مسلم

تشريح: رسول الله ﷺ په دې ښځه باندې حد قائم نه کړو، علماء فرمايي چې په زانيه ښځه باندې تر هغه پورې حد نه قائميږي تر څو چې ماشوم پيدا شوی نه وي، ځکه چې په دې کې د ماشوم

ضايع کېدو احتمال دی، "فاذا وضعت فأتني بها" کله چې بې ماشوم پيدا شي، نو بېرته يې ماته راولې، په يو بل روايت کې دي چې صرف ماشوم پيدا کېدل نه دي، بلکې دې ماشوم ته به همدغه ښځه شيدې ورکوي.

فشدت عليها ثيابها: په هغه ښځه باندې بې جامې کلکې کړې، دا ځکه چې د هغې ښځې عورت ښکاره نه شي، "صلی عليها" په هغې ښځه باندې بې جنازه هم وکړه، ددې جملې نه معلومه شوه چې رسول الله ﷺ په هغې ښځې باندې جنازه وکړه، ليکن په ځينو رواياتو کې دا لفظ په مجهولې صيغې سره منقول دی، ددې نه معلومه شوه چې نورو خلکو پرې جنازه وکړه ليکن رسول الله ﷺ پرې جنازه نه ده کړې، په دې وجه فقهاوو په دې مسئله کې اختلاف کړی دی، د امام مالك رحمه الله په نزد د زنا کار سړي جنازه مکروه ده، د امام احمد رحمه الله په نزد به يې حاکم او د فضيلت څښتنان علماء نه کوي، نور خلك به يې کوي، د امام شافعي رحمه الله او امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد د زنا کار سړي جنازه به کولی شي او هر څوك به يې کوي، ځکه چې کلمه ويونکی دی، اګر چې فاسق او فاجر دی.

بَابُ جواز قول المريض: أَنَا وَجِعٌ أَوْ شديد الوجع أَوْ مَوْعُوكٌ أَوْ وَارَأْسَاهُ ونحو ذلك. وبيان أَنَّهُ لاكراهة في ذلك إِذَا لَمْ يكن عَلَى سبيل التسخط وإظهار الجزع

د رسول الله ﷺ بيماري د دوه کسانو برابر وه

"**عن ابن مسعود** رضي الله عنه، **قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ وَهُوَ يُوعَكُ، فَمَسِسْتُهُ، فَقُلْتُ: إِنَّكَ لَتُوعَكُ وَعْكاً شَدِيداً**" د ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، هغوی تبې نيولی وو، ما وربانديې لاس کېښودلو، ورته مې وويل: يا رسول الله ﷺ! ستاسو خو ډېره سخته تبه ده! "**فَقَالَ: أَجَلْ، إِنِّي أُوعَكُ كَمَا يُوعَكُ رَجُلانِ مِنْكُمْ**" نبي کريم ﷺ وفرمايل: هو! تبې نيولی يم او زما تبه ستاسو د دوه کسانو برابر وي. متفقٌ عَلَيهِ

لغوي تحقيق:

يوعك: د تبې سختي، ګرمه او سخته تبه.

تشريح: علامه سبکي رحمه الله فرمايي: مريض ته جائز دي چې هغه خلکو ته د خپل مرض بيان وکړي، ليکن د الله جل جلاله نه د شکاياتو اظهار به نه کوي، داسې طريقه بايد اختيار کړي چې اول الحمد لله ووايي بيا دې خپل مرض بيان کړي، همدغه خبره عبد الله بن مسعود رضي الله عنه هم کړې ده چې بايد شکر په شکايت باندې مخکې ادا کړي، که شکر په شکايت مخکې کړي، نو بيا هغه بيان شکايت نه پاتې کيږي، بل مريض ته دا هم جائز دي چې عبادت کونکي خلك د خپل تکليف نه خبر کړي، ددې لپاره چې هغوی ته ترې تکليف ونه رسيږي.

Maktaba Tul Ishaat. com

انك لتوعك وعكاً شديداً: رسول الله ﷺ ته ډېره سخته تبه لګېدلې وه، په يو بل روايت کې دي چې "وذلك ان لك أجرين" په دې باندې رسول الله ﷺ ته دوه برابره ثواب ملاوېدو.

رسول الله ﷺ د سعد رضي الله عنه پوښتنې ته لاړو

"وعن سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه، قَالَ: جَاءنِي رسولُ اللّٰه ﷺ يَعُودُنِي مِنْ وَجَعٍ اشْتَدَّ بِي، فقلتُ: بَلَغَ بِي مَا تَرَىٰ" د سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ زمونږ کره تشريف راوړو، زما پوښتنه يې کول، زه ډېر سخت ناروغ وم، ما ورته ووېل: يا رسول الله ﷺ زما حالت ستاسو وړاندې دی، "وَأنَا ذُو مَالٍ، ولَا يَرِثُنِي إلَّا ابْنَتِي" او زما سره ډېر زيات مال دی، زما په ميراث کې صرف زما لور ميراث وړي، بل څوك نه لرم. وذكر الحديث. متفقٌ عَلَيْهِ.

تشريح: يعودني من وجع اشتد بي: رسول الله ﷺ زما د بيمارۍ پوښتنې ته راغلو، په بل روايت کې دي چې دغه واقعه په حجة الوداع کې شوې وه، "ولايرثني إلا ابنتي" زما مال په ميراث کې صرف زما ماشومې لور ته پاتې کېږي، مطلب دا چې په ذوي الفروض کې زما وارث څوک نشته يا دا چې زما په وارثانو کې داسې کسان نشته چې زه ترې مطمئن يم چې زما مال به نه ضايع کوي سېوا زما د لور نه، د سعد رضي الله عنه د دې جملې تاويل څکه وکړی شو چې د سعد رضي الله عنه ډېر زيات عصبات وو

عايشې رضي الله عنها ووېل: زما سر!

"وعن القاسم بن محمد، قَالَ: قالت عائشةُ رضي الله عنها: وَارَأْسَاهُ! فَقَالَ النَّبيُّ ﷺ: بَلْ أنَا وَارَأْسَاهُ!" د قاسم بن محمد رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي: يو ورځ عائشې رضي الله عنها ووېل: اې زما سره! (په سر يې سخت درد وو) نبي کريم ﷺ وفرمايل: نه! بلکې زه وايم: اې زما سره! (د نبي کريم ﷺ هم په سر باندې سخت درد وو. وذكر الحديث. رواه البخاري.

تشريح: بل أنا وراساه: بلکې زه وايم اې زما سره! يعنې کله چې د عايشه رضي الله عنها په سر کې درد پيدا شو او دې اظهار يې رسول الله ﷺ ته وکړو، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: زما سر هم درد کوي علماء فرمايي: که چېرته چيغې او ژړا د شکايت په توګه نه وي بيا جائز دي، که چېرته په تقدير او د الله ﷻ د ناراضګۍ په اظهار باندې مبني وي، لکه يو کس ووايي: اې الله دا مونږ دې ليدلي يو (معاذ الله) په دې صورت کې بيا ژړا او فرياد حرام دی او که داسې نه وي، بلکې صرف ژړا او فرياد کوي، په دې سره ورته سکون ملاوېږي، د ناراضګۍ اظهار پکې نه وي، نو په دې صورت کې ژړا او فرياد مباح دی او که په ژړا سره مقصد الله ﷻ ته خپله عاجزي وړاندې کول وي، چې داسې ووېل شي: اې الله! مرض هم ستا له طرفه يو انعام دی، صحت هم ستا له لورې دی، نو اې الله کوم مرض چې يو انعام دی د صحت په حالت باندې بدل کړې، نو داسې ويل جائز او مستحب دي

د راوي قاسم بن محمد رحمه الله حالات:

اصلي نوم يې قاسم دی، کنيت يې ابومحمد دی، د ابوبکر رضي الله عنه لمسی وو، د پلار نوم يې محمد بن أبي بکر وو، د دوی مور ام ولده وه، نوم يې سوره وه، د دوی شمار د مدينې منورې په اوو هغو کسانو کې کېدو چې په فقاهت کې يې شهرت درلود، کله چې يې پلار وفات شو، نو د قاسم تعليم او تربيه عايشې رضي الله عنها وکړه، علامه ابن سعد رحمه الله د دوی باره کې فرمايي: قاسم رحمه الله يو اوچت فقيه، امام، متقي او حافظ الحديث وو.

قاسم بن محمد رحمه الله د عايشه رضي الله عنها نه علاوه د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما او د ابوهريره رضي الله عنه نه حديثونه نقل کوي، د دوی د درس حلقه به په نبوي جومات کې د نبوي منبر او روضې ترمنځ د عمر رضي الله عنه د کور کړکۍ سره څنګ ته لګېده.

باب تلقين المحتضر: لا إله إلاّ اللهُ

مرګي حاله ته د (لا اله الا الله) تلقين کول

"عن معاذ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ" د معاذ رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د کوم کس آخرينې خبره چې (لا إله إلا الله) شي، هغه به جنت ته داخلېږي. "رواه أبوداود والحاكم، وقال: صحيح الإسناد".

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې د کوم کس د مرګ په آخري ساعت کې (لا إله إلا الله) کلمه جاري شي، نو دا ددې واضح دليل دی چې دا سړی مسلمان دی، ليکن دا احتمال شته چې سيده به جنت ته داخل شي او د ګناهونو سزا وروسته به جنت ته داخل شي، ليکن د الله تعالی نه اول ځل جنت ته د داخلېدو طمع ساتل پکار دي.

قريب المرګ ته د کلمې تلقين کوئ!

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ". د أبو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: خپلو مړو ته د (لا إله إلا الله) تلقين کوئ "رواه مسلم".

لغوي تحقيق:

لقنوا موتاکم: مړو ته د کلمې تلقين ورکوئ، د مړو نه مراد دلته هغه کس دی چې مرګ ته نژدې وي، د مرګ علامې دا دي چې د مريض پښې سستې شي، که پښې يې ودرول شي نو بېرته راولوېږي، د پوزې هډوکی يې يو طرف ته کوږ شي، ساه يې تېزه تېزه شي او داسې نور...

د تلقين مطلب:

د تلقين مطلب دا دی چې کوم کس مړ کيږي د هغه په وړاندې د کلمې ذکر وشي، ښه په تېزه وايي چې هغه يې هم واوري او وې وايي، علماء فرمايي: مرګي حال سړي ته داسې ويل پکار نه دي

Maktaba Tul Ishaat. com

چې کلمه وو وايه! هسې نه چې د زيات تکليف يا درد له امله د هغه د خولې څخه انکار ونه وځي، حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمايي په دې سلسله کې ځينې خلك مرګي حال سرې سره دومره سختي شروع کړي چې د هغه پسې ولګيږي، هغه غريب مر کيږي، د مرګ په سختی کې راګېر وي، کلمه څنګه ووايي، په دې دردونو کفايت نه کوي بلکې دوی غواړي چې کلمه دې ووايي، داسې کول پکار نه دي

باب ما يقوله بعد تغميض الميت

کله چې مړي ته سترګې وتړل شي، نو څه به وايي؟

"عن أم سلمة رضي الله عنها، قالت: دَخَلَ رسولُ الله ﷺ عَلَى أَبِي سَلَمَةَ وَقَدْ شَقَّ بَصَرُهُ، فَأَغْمَضَهُ" د ابو سلمه رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ أبو سلمه رضي الله عنه ته راغلو، د هغه سترګې خلاصې وې، رسول الله ﷺ د هغه سترګې پټې کړې، "ثُمَّ قَالَ: إِنَّ الرُّوحَ إِذَا قُبِضَ، تَبِعَهُ الْبَصَرُ" نبي کريم ﷺ بيا وفرمايل کله چې روح قبض کړی شي، نو سترګې ورپسې ګوري، "فَضَجَّ نَاسٌ مِنْ أَهْلِهِ، فَقَالَ: لَا تَدْعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ إِلَّا بِخَيْرٍ" په دې دوران کې د کور خلکو چيغې شروع کړې، نبي کريم ﷺ وفرمايل تاسو خانته د خير دعاګانې کوئ! "فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ يُؤَمِّنُونَ عَلَى مَا تَقُولُونَ" ځکه چې پرښتې ستاسو په هغو دعاګانو باندې آمين وايي کومې چې تاسو کوئ: "ثُمَّ قَالَ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِأَبِي سَلَمَةَ، وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِي الْمَهْدِيِّينَ" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل اې الله! د ابو سلمه رضي الله عنه بخښنه وکړې او د هغه درجې اوچتې کړې او په هدايت يافته خلکو کې د هغوی شمار وکړې! "وَاخْلُفْهُ فِي عَقِبِهِ فِي الْغَابِرِينَ" او په باقي پاتې کې د هغه نېک خلك وارثان جوړ کړې! "وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ، وَافْسَحْ لَهُ فِي قَبْرِهِ، وَنَوِّرْ لَهُ فِيهِ" اې رب العالمين ذاته! دی هم وبخښې او موږ ته هم بخښنه وکړې او د هغه قبر فراخه کړې او د نور څخه يې ورته ډك کړې! رواه مسلم

تشريح: فاغمضه: نبي کريم ﷺ د هغه کس سترګې پټې کړې، مطلب دا چې کله انسان نه روح وځي، نو سترګې يې خلاصې پاتې شي، بايد چې د مړي سترګې پټې کړی شي

لاتدعوا على انفسكم الابخير: خپلو ځانونو ته د خير دعاګانې کوئ، د دې نه معلومه شوه چې په داسې وخت کې د خير دعاګانې پکار دي، "اللهم اغفر لأبي سلمة" د دې نه علماوو دا مسئله راويستلې ده چې اهل علم ته پکار ده چې هغوی د مړي کور والا ته لاړ شي او مړي ته د مغفرت دعاګانې وکړې او خپلوانو ته د صبر تلقين ورکړي

باب مايقال عند الميت ومايقوله من مات له ميت

د مړي په وړاندې به څه وايي؟

"عن أم سلمة رضي الله عنها، قالت: قال رسول الله ﷺ: إذا حضرتم المريض أو الميت، فقولوا خيراً فإن الملائكة يؤمنون على ما تقولون" ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو کې کوم کس مړي ته راشي او يا مريض ته راشي، نو د خير خبرې او دعاګانې دې وکړي، ځکه چې ستاسو په دعاګانو باندې پرښتې آمين وايي، "قالت: فلما مات أبو سلمة، أتيت النبي ﷺ، فقلت: يا رسول الله، إن أبا سلمة قد مات" ام سلمه رضي الله عنها فرمايي: کله چې ابو سلمه رضي الله عنه وفات شو، نو زه رسول الله ﷺ ته راغلم، ما ورته وويل: يا رسول الله ﷺ! ابو سلمه رضي الله عنه خو وفات شو، "قال: قولي: اللهم اغفر لي وله، وأعقبني منه عقبى حسنة" نبي کريم ﷺ ما ته وفرمايل: په دعاء کې داسې وايه! اې الله! ده ته بخښنه وکړې او ما ته هم بخښنه وکړې، ما ته غوره او بهتره بدله راکړې! فقلت، فأعقبني الله من هو خير لي منه: محمداً ﷺ" نو زه وايم چې الله ﷻ ما ته د ابو سلمه رضي الله عنه هم زيات ښه بدله راکړه او هغه د محمد ﷺ په صورت کې ده (يعنې زه يې د هغوی په نکاح کې راوستم، "رواه مسلم هكذا: إذا حضرتم المريض، أو الميت، على الشك" دا روايت امام مسلم رحمه الله رانقل کړی دی او (اذا حضرتم المريض او ميت) يې په شك سره ذکر کړی دی، يعنې نبي کريم ﷺ مړی وښودلو او که مريض يې وښودلو، "ورواه أبو داود وغيره: ((الميت)) بلا شك" ليکن امام ابو داود رحمه الله او نورو محدثينو د شك څخه بغير روايت کړی او هغه (ميت) دی.

تشريح: فلما مات ابوسلمة: کله چې ابو سلمه رضي الله عنه وفات شو، نو نبي کريم ﷺ ام سلمه رضي الله عنها ته دې دعاء ويلو تلقين وکړو، "اللهم اغفرلي وله واعقبني منه عقبى حسنة" اې الله! ما وبخښه او ده ته هم بخښنه وکړه او ما ته ددې نه غوره بدله راکړه! معلومه شوه چې د ميت وارثانو ته پکار دي چې د خير دعاګانې کوي او د الله ﷻ نه وغواړي چې ددې نه غوره بدله ورته ورکړي، الله ﷻ په هر شي باندې قادر دی، ام سلمه رضي الله عنها فرمايي: ما به خيال کولو چې ما ته به د ابو سلمه رضي الله عنه نه زيات بل کوم ښه خاوند پيدا شي، ليکن کله چې د رسول الله ﷺ سره زما نکاح وشوه نو ما ته پته ولګېده چې اوس د دعا اثر وشو او د رسول الله ﷺ په شان عظيم پېغمبر او خاوند الله ﷻ ما ته نصيب کړو.

د مصيبت پرمهال د دعاء کولو تلقين

"وعنها، قالت: سمعت رسول الله ﷺ يقول: ما من عبد تصيبه مصيبة، فيقول: إنا لله وإنا إليه راجعون، اللهم أجرني في مصيبتي واخلف لي خيراً منها" د ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: کوم بنده ته چې تکليف ورسېږي او بيا دا دعاء ووايي: (ترجمه) موږ د الله ﷻ مخلوق يو او همدغه الله ﷻ ته به واپس کېږو، اې الله! ما ته زما په مصيبت باندې اجر راکړې، ما ته ددې نه غوره بدله راکړې! "إلا أجره الله تعالى في مصيبته وأخلف له خيراً منها" الله ﷻ به ورته اجر هم ورکړي او ددې بدله به هم

Maktaba Tul Ishaat. com

ورکړي، "قالت: فلما توفي أبوسلمة قلت كما أمرني رسول الله ﷺ، فأخلف الله لي خيرا منه رسول الله ﷺ" ام سلمه رضي الله عنها فرمايي: کله چې ابوسلمه رضي الله عنه وفات شو، نو ما په هغه طريقه دعاء وويل په کومه طريقه چې ماته رسول الله ﷺ ښودلې وه، نو الله ﷻ د ابوسلمه رضي الله عنه نه زيات غوره خاوند ماته نصيب کړو او هغه رسول الله ﷺ دی. رواه مسلم

تشريح: مامن عبد تصيبه مصيبة: هر کس چې په کوم مصيبت کې مبتلا شي او په دې وخت کې دغه دعاء ووايي: "إنا لله وإنا إليه راجعون اللهم اجرني" مطلب دا چې موږ او زموږ سره چې کوم څه دي هغه هر څه د الله ﷻ دي، هغه پيدا کړي يو، موږ ټول هغه ته واپس کېږو، اگر چې د هغو شيانو نسبت موږ ته مجازاً کيږي، ليکن په حقيقت کې هرڅه د الله ﷻ دي، د کوم سړي په زړه کې چې دغه خبره محکمه شي نو بيا چې داسې کس په کوم مصيبت کې مبتلا شي، نو هغه به د صبر لمن نه پرېږدي، په دې سره به ټول تکليفونه ورته آسان شي، "آجرني" دا لفظ د جيم په پېش سره منقول دی او د همزې په زبر او د جيم په زير سره هم منقول دي، ليکن معنی يې بهرحال يو ده.

د ماشوم په مرګ به صبر کونکي ته الله ﷻ بيت الحمد ورکوي

"وعن أبي موسى رضي الله عنه: أن رسول الله ﷺ، قال: إذا مات ولد العبد" د ابو موسی اشعري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې د يو بنده بچی مړ شي، "قال الله تعالى لملائكته: قبضتم ولد عبدي؟" الله ﷻ خپلو پرښتو ته ووايي: تاسو زما د بنده بچی قبض کړو؟ "فيقولون: نعم. فيقول: قبضتم ثمرة فؤاده؟ فيقولون: نعم" پرښتې ورته په ځواب کې ووايي: هوا بيا الله ﷻ ترې پوښتنه وکړي چې د هغه د زړه مېوه مو قبض کړه؟ پرښتې ورته ووايي: هو! "فيقول: ماذا قال عبدي؟ فيقولون: حمدك واسترجع" بيا الله ﷻ ورته ووايي: زما بنده څه وويل؟ هغوی ورته ووايي: ستا بنده ستا تعريفونه بيان کړل او (انا لله وانا إليه راجعون) يې وويل، "فيقول الله تعالى: ابنوا لعبدي بيتا في الجنة، وسموه بيت الحمد" الله ﷻ پرښتو ته امر وکړي چې زما بنده ته په جنت کې کور جوړ کړئ او د هغې نوم بيت الحمد کېږدئ" "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن".

تشريح: قبضتم ثمرة فواده: د هغه د زړه مېوه مو واخيسته، هلک وي او که جينۍ وي د هغوی سره د سړي مينه فطري وي، ليکن د هغوی د مرګ پرمهال د ژړا او فرياد په ځای د الله ﷻ تعريف بيان کړئ، روی د الله ﷻ امانت دي، په اخيستلو يې الله ﷻ زيات خوشحاليږي، الله تعالی داسې کس ته په جنت کې يو کور جوړوي چې د هغې نوم بيت الحمد دی

سموه بيت الحمد: د هغه نوم بيت الحمد کېږدئ، دا ځکه چې هغه کس د مصيبت په وخت هم د الله ﷻ تعريف بيان کړی وو، په دې مناسبت د جنت کور هم د بيت الحمد په نوم ياد شو.

د صبر بدله

"وعن أبي هريرة ﷺ، أن رسول الله ﷺ، قال: يقول الله تعالى: ما لعبدي المؤمن عندي جزاء إذا قبضت صفيه من أهل الدنيا" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايي چې الله ﷻ وفرمايل زما سره د هغه بنده بدله چې بچی يې په دنيا کې مړ شي، "ثم احتسبه" هغه بيا په دې کې د ځان لپاره اجر وغواړي، "إلا الجنة" دا ده چې هغه ته به جنت ورکول کيږي. رواه البخاري

تشريح: د حديث مطلب واضح دی، هغه دا چې کوم کس ته کوم شی محبوب وي، مثلاً مور پلار، ښځه او بچي وغيره يا ددې نه علاوه بل شی وي، دغه شيان ترې ختم شي او دی پرې صبر وکړي، نو ددې الله ﷻ به ورته ددې صبر په بدله کې جنت ورکړي، "من أهل الدنيا" کوم شی چې ورته محبوب وو، ددې نه معلومه شوه چې اهل آخرت والا ته کوم شی محبوب وي او هغه ترې فوت شي او دی ورباندې صبر وکړي، نو په دې باندې سړي ته ډېر ستر سعادت ملاويږي او بل د الله ﷻ رضا ورته حاصليږي او د الله ﷻ رضا د هر شي نه غوره ده.

د رسول الله ﷺ د لمسي وفات

"وعن أسامة بن زيد رضي الله عنهما، قال: أرسلت إحدى بنات النبي ﷺ إليه تدعوه وتخبره أن صبيا لها - أو ابنا - في الموت" د اسامه بن زيد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ په لورګانو کې يوې لور رسول الله ﷺ ته پيغام ولېږلو چې د هغې ماشوم يا زوی مرګي حالة ؤ، "فقال للرسول: ارجع إليها، فأخبرها أن لله تعالى ما أخذ وله ما أعطى" رسول الله ﷺ قاصد ته وفرمايل: ورشه او هغې ته ووايه چې الله ﷻ دی هر هغه څه کوم چې ستاسو نه واخيستل، د هغه دي هر هغه څه چې يې درکوي، "وكل شيء عنده بأجل مسمى فمرها، فلتصبر ولتحتسب" او هر شی د هغه په نزد په نېټه دی، هغې ته ووايه چې صبر دي وکړي او اجر دې د الله ﷻ نه وغواړي. وذكر تمام الحديث. متفق عليه.

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب الصبر نمبر ۳) کې تېر شوی دی، علامه نووي ﷫ دلته يو ځل بيا د باب د مناسبت په وجه راوړو، د چا په کور کې چې کومه حادثه پېښه شي، هغه ته څه کول پکار دي

باب جواز البكاء على الميت بغير ندب ولا نياحة

په مړي باندې د ګرېوان شلولو څخه بغير ژړا کول

"أما النياحة فحرام وسيأتي فيها باب في كتاب النهي، إن شاء الله تعالى" هر چې په مړي باندې چيغې وهل دي او ګرېوانونه شکول دي، نو دا حرام عمل دی او که الله ﷻ وغواړي دې باره کې به خاتمه جدا يو باب ذکر کړو "وأما البكاء فجاءت أحاديث بالنهي عنه، وأن الميت يعذب ببكاء أهله" او هر چې نفس ژړا ده، نو دې باره کې د نهي حديث هم شته کوم چې رسول الله ﷺ وفرمايل: مړي ته د کور والا په ژړا باندې سزا ملاويږي،

Maktaba Tul Ishaat. com

"وَهِيَ مُتَأَوَّلَةٌ وَمَحْمُولَةٌ عَلَى مَنْ أَوْصَى بِهِ" نو په دې حديث کې تاويل شوی دی چې ددې حديث نه مراد هغه ژړا ده چې مړی يې وصيت وکړي چې په ما باندې دې ژړا وکړی شي، "وَالنَّهْيُ إِنَّمَا هُوَ عَنِ الْبُكَاءِ الَّذِي فِيهِ نَدْبٌ أَوْ نِيَاحَةٌ" او په مړي باندې هغه ژړا حرامه ده چې ګريوانونه پکې شکل وي او چيغې وهل وي، "وَالدَّلِيلُ عَلَى جَوَازِ الْبُكَاءِ بِغَيْرِ نَدْبٍ وَلَا نِيَاحَةٍ أَحَادِيثُ كَثِيرَةٌ، مِنْهَا" او د نفس ژړا د جواز باره کې چې ګريوانونه شکول پکې نه وي او نه هم چيغې پکې وي، ډېر حديثونه شته د هغې نه يې څيني دا دي:

د سعد ؓ په وفات باندې د رسول الله ﷺ د سترګو نه اوښکې لاړې

"عن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ رسول الله ﷺ عاد سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ، وَمَعَهُ عَبْدُ الرَّحْمَانِ بْنُ عَوْفٍ، وَسَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ ؓ، فَبَكَى رسولُ الله ﷺ، فَلَمَّا رَأَى الْقَوْمُ بُكَاءَ رسولِ الله ﷺ بَكَوْا" د عبد الله بن عمر ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د سعد بن عبادة ؓ پوښتنې ته ورغلو او د رسول الله ﷺ سره عبد الرحمان بن عوف ؓ سعد بن أبي وقاص ؓ او عبد الله بن مسعود ؓ هم وو، رسول الله ﷺ په ژړا شو، کله چې دغو صحابه کرامو رسول الله ﷺ وليدلو چې ژاړي نو هغوی هم ورسره په ژړا شول، "قَالَ: أَلَا تَسْمَعُونَ؟ إِنَّ اللهَ لَا يُعَذِّبُ بِدَمْعِ الْعَيْنِ، وَلَا بِحُزْنِ الْقَلْبِ" ايا تاسو نه آورئ چې الله ﷻ د سترګو په اوښکو باندې او د زړه په غم باندې سړي ته سزا نه ورکوي، "وَلَكِنْ يُعَذِّبُ بِهَذَا أَوْ يَرْحَمُ وَأَشَارَ إِلَى لِسَانِهِ" ليکن که سړي ته سزا ورکول کيږي او يا پرې رحم کولی شي، نو په دې سره کيږي او رسول الله ﷺ خپلې ژبې ته اشاره وکړه. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

تشريح: فلما رأى القوم بكاء رسول الله بكوا: کله چې خلکو رسول الله ﷺ وليدلو چې ژاړي، نو هغوی هم په ژړا شول، مطلب دا چې که د ډېر غم له وجې د سترګو څخه اوښکې روانې شي او زړه پريشان وي نو دا يو فطري کار دی، په دې کې د انسان هيڅ اختيار نشته او په شريعت کې دا ناجائز عمل هم نه دی، په دې باندې مواخذه هم نه کيږي، هغه ژړا چې شريعت منع کړې ده په هغې کې بې صبري وي، ناشکري وي او د خولې نه غلطې او د شريعت خلاف خبرې وويستل شي، خپله سينه پکې ووهل شي، ګريوان پکې وشلول شي. ليکن صرف تش په مصيبت باندې ژړا کول دا د رسول الله ﷺ نه هم منقول دي او د صحابه کرامو نه هم منقول دي، دا د الله ﷻ رحمت او د زړه د نرمۍ يوه حصه ده.

په مړي باندې ژړا کول هم د زړه د نرمۍ دليل دی

"وعن أُسَامَةَ بن زَيدٍ رضي اللهُ عنهما: أَنَّ رسول الله ﷺ رُفِعَ إِلَيْهِ ابنُ ابْنَتِهِ وَهُوَ فِي الْمَوْتِ" د اسامه بن زيد ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ته د هغوی بچی راوړل شو، په داسې حال کې چې هغه بچی مرګي حالت وو، "فَفَاضَتْ عَيْنَا رسولِ اللهِ ﷺ، فَقَالَ لَهُ سَعْدٌ: مَا هَذَا يَا رسولَ اللهِ؟" د رسول الله ﷺ د سترګو څخه اوښکې روانې شوې، سعد ؓ وفرمايل: يا رسول الله ﷺ! دا څه دي؟ "قَالَ: هَذِهِ رَحْمَةٌ جَعَلَهَا اللهُ تَعَالَى فِي قُلُوبِ عِبَادِهِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا خو يو رحمت دی چې الله ﷻ يې د خپلو بندګانو په زړونو کې

اچوي، "وَإِنَّمَا يَرْحَمُ اللّٰهُ مِنْ عِبَادِهِ الرُّحَمَاءَ" او الله ﷻ په هغو خلکو باندې رحم کوي کوم خلک چې رحم کونکي وي متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: ابن ابنته: علماء فرمايي: دا هلك د رسول الله ﷺ لمسی د زينب ﷺ زوی وو، "فقال سعد: ما هذا يا رسول الله ﷺ؟!" سعد رضي الله عنه چې وکتل چې رسول الله ﷺ ژاړي، پوښتنه يې وکړه چې دا څه دي يا رسول الله ﷺ؟ علماوو د پوښتنې وجه داسې بيان کړې ده چې د سعد ﷺ گومان دا وو چې هر ډول ژړا حرامه ده، او رسول الله ﷺ چې کومه ژړا کوي، دا به سهواً وي، کنه نو رسول الله ﷺ به څرنگه گناه يو کار وکړي، نو ځکه يې سوال وکړو، رسول الله ﷺ جواب ورکړو چې ژړا صرف دا ده چې د انسان د سترگو نه اوښکې روانې شي، داسې ژړا نه حرامه ده او نه مکروه ده، بلکې داسې ژړا د ترحم او په زړه کې د نرمی پيدا کېدو دليل دی، دا د الله ﷻ له لورې يو رحمت دی چې د خلکو په زړونو کې ايښی دی، هغه ژړا کول په کومه کې چې گرېوان وشلول شي يا مخ پکې ووهل شي، نو دا حرامه ده.

رسول الله ﷺ د خپل زوی په وفات وژړل

"وعن أنس ﷺ: أنّ رسول الله ﷺ دخل على ابنه إبراهيم ﷺ، وهُوَ يجُودُ بنفسِه" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ خپل بچي ابراهيم ﷺ ته راغلو او دغه وخت د هغه د مرگ غرغرې شروع وې، "فجعلت عينا رسول الله ﷺ تذرفان. فقال له عبدُ الرحمان بن عوف: وأنت يا رسول الله؟" نو د رسول الله ﷺ د سترگو مبارکو څخه اوښکي رواني شوې، عبد الرحمان بن عوف ﷺ ورته وفرمايل: يا رسول الله ﷺ تاسو هم ژاړئ؟ "فقال: يا ابن عوفٍ إنّها رحمةٌ، ثُمّ أتبعها بأخرى" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا خو يو رحمت دی چې په زړه کې پروت وي، بيا نبي کريم ﷺ پدې پسې نور څه هم وويل چې "فقال: إنّ العين تدمعُ والقلب يحزنُ، ولا نقولُ إلاّ ما يُرضي ربّنا" نبي کريم ﷺ وفرمايل: د سترگو نه مو اوښکي روانې دي او زړه مې غمجن دی او موږ به نور څه نه وايو، مگر هغه څه چې په کوم څه باندې زموږ الله ﷻ راضي کيږي، "وإنّا لفراقك يا إبراهيم لمحزُونُون" او اې ابراهيم ﷺ موږ ستا په جدايي باندې غمجن يو، "رواه البخاري، وروى مسلم بعضه. والأحاديث في الباب كثيرة في الصحيح مشهورة، والله أعلم" دا حديث امام بخاري رحمه الله او ځينې حصه يې امام مسلم رحمه الله روايت کړې ده، په دې باب کې حديثونه ډېر زيات مشهور دي، نور الله ﷻ ډېر ښه پوهيږي.

لغوي تحقيق:

يجود: جاد يجود وجوداً: ددې معنی ده: روح وتل، ساه ورکول

تشريح: وهو يجود بنفسه: د هغه زنکدن شروع وو، مطلب دا دی چې رسول الله ﷺ د هغې مېرمن کور ته تشريف يوړو کومې ميرمنې چې د رسول الله ﷺ زوی ته شيدې ورکولې، په دې وخت کې ابراهيم ﷺ د شپاړسو مياشتو وو، رسول الله ﷺ خپل بچی په غېږ کې راواخيستو او مچو يې کړو، بيا د رسول الله ﷺ د سترگو نه اوښکې روانې شوې، دې وخت کې عبدالرحمن بن عوف ﷺ عرض وکړو

Maktaba Tul Ishaat. com

چې يا رسول الله ﷺ تاسو هم ژاړئ؟ رسول الله ﷺ جواب ورکړو چې ژړا يو رحمت دى، يعنې ماشوم چې په داسې حالت کې وليدل شي نو بې اختياره سړي ته ژړا ورځي او د ژړا صورت دا پيدا شي چې د سترګو نه اوښکې رواني شي، "والقلب يحزن" زړه غمجن دى، علماء فرمايي: په داسې وخت کې چې کله يو ماشوم مړې او تاته ژړا نه درځي، نو دا صبر او ضبط نه دى، بلکې دا د دې خبرې دليل دى چې ستا په زړه کې ترحم او نرمي نشته، بې احساسه او بې مروته انسان يې.

باب الكف عن ما يرى من الميت من مكروه

د غسل په وخت کې که د مړي نه څه خارج شي، نو هغه به پټوي، د دې اظهار به نه کوي

"عن أبي رافع أسلم مولى رسول الله ﷺ: أن رسول الله ﷺ قال: من غسل ميتا فكتم عليه، غفر الله له أربعين مرة" د ابو رافع اسلم ﷺ نه روايت دى کوم چې د رسول الله ﷺ غلام وو، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کوم کس چې مړي ته غسل ورکړي او بيا په هغه باندې پرده واچوي، نو الله ﷻ به هغه ته اويا ځلې بخښنه وکړي، "رواه الحاكم، وقال: صحيح عَلَى شرط مسلم" دا حديث امام حاکم روايت کړى دى او فرمايي چې دا حديث د امام مسلم رحمه الله په شرط صحيح دى.

تشريح: په يو بل روايت کې دي چې مړي ته څوک غسل ورکوي، هغه د ګناهونو نه داسې پاکيږي لکه اوس چې د مور نه پيدا شي، کوم کس چې مړي ته کفن وراغوندي، هغه ته به د جنت جامې وروااغوندل شي

فكتم عليه: غسل ورکونکي ته هدايت بيانيږي چې که د مړي نه کوم عيب وليدل شي، نو بايد چې د هغه عيب پټ شي، خلکو ته يې بيان نه کړي، ددې وجې چې د هغه بې عزتي ونه شي، د مرګ په حالت کې چې د چا عيب بيانول حرام دي، نو بيا به په ژوند کې څرنګه جائز شي؟ البته که په مړي کې کومه ښه خبره وليدل شي بايد چې بيان يې کړي، "غفر الله له أربعين مرة" الله ﷻ به يې څلويښت واري بخښنه وکړي، دا ځکه چې غسل ورکونکي سړي د مړي يو عيب پټ کړو، نو الله ﷻ به دده څلويښت عيبونه (ګناهونه) پټ (معاف) کړي.

د راوي ابورافع اسلم مولى رسول الله ﷺ حالات:

اصلي نوم يې اسلم ﷺ دى، ابورافع يې کنيت دى، دا عزت د دوى لپاره کافي دى چې د رسول الله ﷺ په غلامانو کې شمار دى، په شروع کې ابورافع ﷺ د عباس ﷺ غلام وو، هغوى نبي کريم ﷺ ته په تحفه کې ورکړو، کله چې عباس ﷺ مسلمان شو، نو رسول الله ﷺ د عباس ﷺ مسلمانېدو په خوشحالى کې هغه آزاد کړو، د بدر نه وروسته يې هجرت وکړو او مدينې منورې ته راغلو، د رسول الله ﷺ سره مقيم وو، د بدر نه علاوه يې په ټولو جهادونو کې شرکت کړى دى، د علي ﷺ په سريه کې هم تللى دى او علي ﷺ د خيبر نشتون په حالت کې دوى ته مشري ورکول

نبي کريم ﷺ اګرچې هغه آزاد کړو، ليکن بيا هم د نبي کريم ﷺ په خدمت کې مشغول او د نبي کريم ﷺ په غلامۍ کې يې ځان حسابولو، هغه ازاد ؤ، خو د رسول الله ﷺ خدمت يې پرېښنبودلو، رسول الله ﷺ هم ورسره ډېره مينه درلوده، د علي ﷺ په ابتدائي دور خلافت کې وفات شو، تر ۶۸ پورې حديثونه ترې نقل دي، په دې کې بخاري په يو حديث سره او مسلم په درې حديثونو سره منفرد دی.

باب الصلاة على الميت وتشييعه وحضور دفنه وكراهة اتباع النساء الجنائز وَقَدْ سَبَقَ فَضْلُ التَّشْيِيعِ

په مړي باندې جنازه او د هغې اعلان کول او دفن کېدو ته يې حاضرېدل او جنازو د ښځو راتلل مکروه دي

"عن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: مَنْ شَهِدَ الجَنَازَةَ حَتَّى يُصَلَّى عَلَيْهَا، فَلَهُ قِيرَاطٌ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې جنازې ته لاړ شي، هلته پاتې شي تر دې چې د جنازې لمونځ پرې وکړي، نو د داسې کس لپاره يو قيراط اجر دی، "وَمَنْ شَهِدَهَا حَتَّى تُدْفَنَ فَلَهُ قِيرَاطَانِ" او څوک چې جنازې ته حاضر شي او بيا تر دفن کېدو پورې ايسار شي، نو داسې کس ته به دوه قيراطه اجر وي، "قِيلَ: وَمَا القِيرَاطَانِ؟ قَالَ: مِثْلُ الجَبَلَيْنِ العَظِيمَيْنِ" يو کس پوښتنه وکړه چې قيراطان څه وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د دوه لويو غرونو په اندازه. مُتفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: په دې حديث کې د يو مسلمان په جنازه کې د شرکت فضيلت بيانېږي، که چېرته صرف په جنازه کې شريک شي نو يو قيراط او که تر دفن پورې پکې شريک شي، نو بيا دوه قيراطه ثواب ملاوېږي، ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: قيراط په اصل کې د دينار دولسمې حصې ته وايي چې تقريباً د څلور وريشو دانو په حساب راځي، ليکن دلته د قيراط نه مراد ډېره لويه حصه ده چې د هغې تعبير د احد په غره سره وشو.

تشريح: من اتبع جنازة مسلم إيماناً واحتساباً: څوک چې د يو مسلمان په جنازه کې په ايمان او اخلاص سره شريک شي، مطلب دا چې کوم ثواب وړاندې ذکر شو هغه به په هغه صورت کې حاصلېږي کله چې په جنازه کې شريکېدل خالص د الله ﷻ د رضا په خاطر وي، که د يو کس خيال دا وي چې دا خو زما ګاونډی وو، زموږ مشر وو، رشته دار مې وو، نو بيا اجر نشته، ځکه چې نيت خالص نه دی، "كل قيراط مثل أحد" هر قيراط د احد د غره په اندازه دی، وړاندې حديث کې ذکر شو چې د قيراط نه مراد پوره يو غر دی، او س دلته وايي چې د احد د غر برابر دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

داحد د غره برابر ثواب

"وعنه: أن رسول الله ﷺ، قَالَ: مَنِ اتَّبَعَ جَنَازَةَ مُسْلِمٍ إِيمَاناً وَاحْتِسَاباً، وَكَانَ مَعَهُ حَتَّى يُصَلَّى عَلَيْهَا وَيُفْرَغَ مِنْ دَفْنِهَا" د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل كوم كس چي د يو مسلمان جنازي ته په ايمان سره او د اجر په نيت لاړ شي، دى به تر هغه پورې هلته وي تر څو چي پرې جنازه وكړې او د دفن كېدو نه فارغ شي. "فَإِنَّهُ يَرْجِعُ مِنَ الأَجْرِ بِقِيرَاطَيْنِ كُلُّ قِيرَاطٍ مِثْلُ أُحُدٍ" نو داسې كس ته به دوه قيراطه اجر وركول كيږي او هر قيراط به د ومره لوى وي، لكه د احد غر. "وَمَنْ صَلَّى عَلَيْهَا، ثُمَّ رَجَعَ قَبْلَ أَنْ تُدْفَنَ، فَإِنَّهُ يَرْجِعُ بِقِيرَاطٍ" او كوم كس چي پرې جنازه وكړي بيا د دفن كېدو څخه مخكې بېرته واپس راشي، نو داسې كس ته يو قيراط اجر دى رواه البخاري

ښځې به جنازې ته نه ځي

"وعن أم عطية رضي الله عنها، قالت: نُهِينَا عَنِ اتِّبَاعِ الجَنَائِزِ" د ام عطيه ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چي رسول الله ﷺ موږ د جنازې نه منع كړو، "وَلَمْ يُعْزَمْ عَلَيْنَا" ليكن په زور سره يې منع نه كړو. متفق عليه

"ومعناه: وَلَمْ يُشَدَّدْ فِي النَّهْيِ كَمَا يُشَدَّدُ فِي الْمُحَرَّمَاتِ" ددې مطلب دا دى چي په موږ باندې يې په نهي كې دومره سختي ونه كړه، لكه څومره سختي چي يې په حرامو شيانو كې كول

تشريح: نهينا عن اتباع الجنائز: موږ ښځې يې په جنازو كې د شركت څخه منع كړو، دې باره كې د علماوو اختلاف دى چي ايا ښځې جنازې ته تلى شي او كه نه؟ جمهور علماء فرمايي چي د ښځو جنازې ته تلل بيخي ناجائز دي، په دې كې ډېرې خرابى دي، مثلاً د سړو سره اختلاط كول، بل دا چي ښځې ډېرې ژړاګانې كوي، ددې ټولو خرابيو بندولو لپاره شريعت ښځې منع كړې چي په جنازې كې شركت وكړي، په دې وجه امام سبكي رحمه الله فرمايي د احنافو، امام احمد بن حنبل رحمه الله او جمهور علماوو په نزد د ښځو شركت په جنازه كې مكروه تحريمي دى، د امام شافعي رحمه الله په نزد مكروه تنزيهي دى، د امام شافعي رحمه الله دليل پورتنى حديث دى، علامه ابن امير الحاج رحمه الله فرمايي: د علماء كرامو اختلاف د هغه زمانې په ښځو كې وو چي ديندار وې، د ناجائزو خبرو او كارونو څخه بې خانونه ساتل، پاتې شوې ددې زمانې ښځې، نو د دوى باره كې خو هيڅ اختلاف نشته چي د دوى جنازې ته حاضرېدل بالكل ناجائز دي، علامه ابن امير الحاج رحمه الله د اومې هجرې په آخر كې او د اتمې هجرې په شروع كې پيدا شوى دى چي هغه د هغې زمانې په باره كې فرمايي، نو په دې پنځلسمه صدى كې خو بيخي خبره مه كوه

باب إستحباب تكثير المصلين عَلَى الجنازة وجعل صفوفهم ثلاثة فأكثر

په جنازه باندې زيات خلق نه درول مستحب دي او درې يا زيات صفونه درول پكار دي

"عن عائشة رضي الله عنها، قالت: قَالَ رسول الله ﷺ: مَا مِنْ مَيِّتٍ يُصَلِّي عَلَيْهِ أُمَّةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ يَبْلُغُونَ مِئَةً كُلُّهُمْ

يَشْفَعُونَ لَهُ" د عائشه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: نشته داسې مړی چې مسلمانان يې جنازه وکړي او شمار يې سلو کسانو ته رسيږي، ټول دغه مړي ته سفارش کوي، "إلا شفعوا فِيهِ" مګر دا چې د دوی سفارش قبلولی شي. رواه مسلم

تشريح: د حديث مطلب واضح دی. په کوم مسلمان باندې چې سل کسه مسلمانان د جنازې لمونځ وکړي. نو د هغوی سفارش قبليږي، د هغه مړي مغفرت به نصيب کيږي، دې باره کې درې حديثونه دي (١) سل کسان چې په جنازه کې شريك شي، مغفرت يې نصيب کيږي، (٢) څلوېښت کسان چې په جنازه کې شرکت وکړي، نو د مړي مغفرت نصيب کيږي، (٣) درې صفونه چې په مړي جنازه وکړي، نو د مړي بخښنه نصيب کيږي، علماوو ددې حديثونو تطبيق داسې کړی دی چې ممکنه ده چې په اول ځل د سلو کسانو په شرکت سره دا فضيلت نازل شوی وي، بيا الله ﷻ په خپلو بندګانو رحم کړی وي، نو څلوېښت کسان يې بيان کړي وي. بيا نور هم زيات رحم يې وکړو، نو درې صفونه يې بيان کړل، يا د ځينو علماوو په نزد درې واړه احاديثو کې شمار مراد نه دی، بلکې کثرت مراد دی

په جنازه کې د څلوېښتو کسانو شرکت

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ، يقول: مَا مِنْ رَجُلٍ مُسْلِمٍ يَمُوتُ، فَيَقُومُ عَلَى جَنَازَتِهِ أَرْبَعُونَ رَجُلاً لاَ يُشْرِكُونَ بِاللهِ شَيْئاً" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل نشته داسې مسلمان مړی چې څلوېښت کسان پرې جنازه وکړي، داسې کسان چې د الله ﷻ سره يې شرك نه وي کړی. "إلاَّ شَفَّعَهُمُ اللهُ فِيهِ" مګر دا چې د دوی سفارش به الله ﷻ قبلوي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

شفع: سفارش کول.

تشريح: په جنازه کې د زياتو کسانو شرکت کول مطلوب دی، ځکه خو فضيلت بيانيږي، که سل کسان په جنازه کې شريکان شي، نو په دې باندې الله ﷻ ددې مړي بخښنه کوي، الله ﷻ په هغه باندې نور زيات رحم کوي، هغه دا چې که څلوېښت داسې کسان چې د الله ﷻ شرك يې نه وي کړی، په دې باندې هم الله ﷻ د مړي بخښنه کوي

که په جنازه کې خلك کم شي، نو درې صفونه جوړول پکار دي

"وعن مرثد بن عبد الله اليزني، قَالَ: كَانَ مَالِكُ بن هُبَيْرَة رضي الله عنه إِذَا صَلَّى عَلَى الجَنَازَةِ، فَتَقَالَّ النَّاسَ عَلَيْهَا، جَزَّأَهُمْ عَلَيْهَا ثَلاَثَةَ أَجْزَاءٍ" د مرثد بن عبد الله اليزني رحمه الله نه روايت دی هغه فرمايي د مالك بن هبيرة رضي الله عنه عادت به دا وو چې کله به هغه په يوه جنازه کې حاضر وو او خلك به لږ شول، نو دوی به ددې نه درې صفونه جوړ کړل، "ثُمَّ قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ صَلَّى عَلَيْهِ ثَلاَثَةُ صُفُوفٍ فَقَدْ أَوْجَبَ" بيا به دوی وفرمايل چې رسول الله ﷺ فرمايلي

Maktaba Tul Ishaat. com

په کوم مړي چې د درې صفونو څخه زيات خلك جنازه وکړي نو داسې مړي ته جنت واجب شو "رواه أبو داود والترمذي وقال: حديث حسن".

تشريح: د يو مسلمان په بل مسلمان باندې دا حق شته چې کله مړ شي، نو جنازه به يې کوي، که په جنازه کې خلك زيات وي، نو څومره صفونه چې راتلې شي صحيح ده. که خلك کم وي، نو بايد چې درې صفونه جوړ کړي

فقد أوجب: هغه ته جنت واجب شو. دلته يو سوال پيدا کيږي. هغه دا چې په الله ﷻ باندې د چا هيڅ حق نشته. دلته فرمايي چې الله ﷻ هغه ته جنت واجب کړي؟ **جواب** دا دی چې الله ﷻ په خپل فضل سره خپله په ځان باندې لازم کړي دي چې هغه جنت ته داخل کړي يا دا مطلب دی چې دا شان کس ته يې جنت ته د داخلېدو عده په خپل فضل او کرم سره فرمايلې ده. ظاهره ده چې الله ﷻ د کوم شي وعده وفرمايي هغه پوره کوي، دې ته وجوب لغيره وايي کوم چې جائز دی. البته وجوب لذاته د الله ﷻ لپاره جائز نه دی. علامه کرماني رحمه الله فرمايي په جومات کې د جمعې په صف کې اولنی صف تر ټولو غوره دی چې ددې برعکس په جنازه کې تر ټولو آخري صف غوره دی

د حديث راوي مرثد بن عبدالله رحمه الله حالات:

اصل نوم يې مرثد رحمه الله دی، د پلار نوم يې عبد الله دی، کنيت يې ابوالخير دی، د يزني او مصري په نوم مشهور دی، په مشرانو تابعينو کې شمار دی، عموماً دوی د عقبه بن عامر، ابو ايوب، عبد الله بن عمر او عمرو بن عاص رضي الله عنهم نه روايات نقل کوي، په نويمه / ۹۰ هجري کې وفات شو، په صحاح سته کې د دوی څخه صرف يو روايت نقل دی.

باب مايقرأفي صلاة الجنازة

په جنازه کې به څه وايي؟

"يُكَبِّرُ أَرْبَعَ تَكْبِيرَاتٍ، يَتَعَوَّذُ بَعْدَ الأُولَى" څلور تکبيرونه به وايي، د اولني تکبير نه وروسته به اعوذ بالله وايي، "ثُمَّ يَقْرَأُ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ" بيا به سورت فاتحه وايي، "ثُمَّ يُكَبِّرُ الثَّانِيَةَ، ثُمَّ يُصَلِّي عَلَى النَّبِيِّ ﷺ، فيقول: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ. وَالأَفْضَلُ أَنْ يُتَمِّمَهُ بِقَوْلِهِ: كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ - إِلَى قَوْلِهِ - إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ" بيا به دويم تکبير ووايي بيا به په نبي کريم ﷺ باندې درود شريف ووايي، داسې به وايي: «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ» او بهتره دا ده چې په دې قول سره يې تمام کړي چې «كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ» تر دې قوله پورې چې «إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ»، "وَلَا يَفْعَلُ مَا يَفْعَلُهُ كَثِيرٌ مِنَ الْعَوَامِّ مِنْ قِرَاءَتِهِمْ: إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ [الأحزاب: ٥٦] الآية، فَإِنَّهُ لَا تَصِحُّ صَلَاتُهُ إِذَا اقْتَصَرَ عَلَيْهِ" او هغه کار به نه کوي کوم کار چې د ډېر خلك کوي، هغه دا چې دوی دغه آيت وايي «إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ» او بس نور درود نه وايي، ځکه چې که په دې آيت سره يې اکتفاء وکړه او درود يې ونه ويلو، نو جنازه يې صحيح نه شوه. "ثُمَّ يُكَبِّرُ الثَّالِثَةَ، وَيَدْعُو لِلْمَيِّتِ وَلِلْمُسْلِمِينَ بِمَا سَنَذْكُرُهُ مِنَ الأَحَادِيثِ إِنْ شَاءَ

الله تعالى" بيا به د دريم تكبير ووايي او په دې كې به د مړي لپاره او ټولو مسلمانانو ته د هغه كړي لكه چې رسول الله ﷺ به يې وغواړي نو دغه دعاء به موږ دلته ذكر كړو: "ثُمَّ يُكَبِّرُ الرَّابِعَةَ وَيَدْعُو. وَمِنْ أَحْسَنِهِ: اَللّٰهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا أَجْرَهُ" بيا به څلورم تكبير ووايي او په دې كې به هم دعاء كوي او ښكلې دعاء دا ده چې: اللهم الخ: ترجمه: اې الله! موږ د دې د اجر نه بې برخې مه كړې! "وَلَا تَفْتِنَّا بَعْدَهُ" او دده نه وروسته موږ په امتحان كې مه اچوې! "وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ" موږ ته هم بخښنه وكړې او ده ته هم بخښنه وكړې! "وَالْمُخْتَارُ أَنَّهُ يُطَوِّلُ الدُّعَاءَ فِي الرَّابِعَةِ خِلَافَ مَا يَعْتَادُهُ أَكْثَرُ النَّاسِ" او بهتره دا ده چې په څلورم تكبير كې دعاء ښه اوږده كړي په خلاف د هغه عادت كوم يې چې خلك كوي، "لِحَدِيثِ ابْنِ أَبِي أَوْفَى الَّذِي سَنَذْكُرُهُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَى" د ابن أبي اوفى ﷺ د حديث له وجې چې موږ به يې نږدې ذكر كړو، كه الله ﷻ يې وغواړي

"وَأَمَّا الْأَدْعِيَةُ الْمَأْثُورَةُ بَعْدَ التَّكْبِيرَةِ الثَّالِثَةِ، فَمِنْهَا:" او هر چې كومې دعاګانې په حديثونو كې د دريم تكبير وروسته راغلي دي، نو په هغې كې څه دا دي:

د جنازې جامع دعاء

"عن أبي عبد الرحمان عوف بن مالك ﷺ، قَالَ: صَلَّى رسول الله ﷺ عَلَى جَنَازَةٍ، فَحَفِظْتُ مِنْ دُعَائِهِ وَهُوَ يَقُولُ" د ابو عبد الرحمان عوف بن مالك ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ په يو مړي باندې جنازه وكړه، په هغه جنازه كې مې چې كومه دعاء كړې وه هغه دا وه: "اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ" اې الله! ده ته بخښنه وكړې او په ده رحم وكړې! "وَعَافِهِ وَاعْفُ عَنْهُ" ده ته معافي وكړې او معاف يې كړې! "وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ، وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ" او دده د مېلمستيا ځاى ښكلى او عزتمند كړې او قبر يې ورته فراخه كړې! "وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ" او د هغه ګناهونه په اوبو، په واورې او په ږلۍ سره ووينځې، "وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ" او د ګناهونو څخه يې داسې پاك كړې لكه څنګه چې سپينه كپړه د داغ او خيرې څخه پاكه ده، "وَأَبْدِلْهُ دَاراً خَيْراً مِنْ دَارِهِ" او په بدله كې ورته د دنيا د كور په مقابله كې په جنت كې بهتر كور وركړې! "وَأَهْلاً خَيْراً مِنْ أَهْلِهِ" د دنيا د كور څخه ورته غوره كور وركړې! "وَزَوْجاً خَيْراً مِنْ زَوْجِهِ" او د دنيا د كور والا څخه ورته په جنت كې ښكلې كور والا (ښځه) مېرمن وركړې، "وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ، وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ" او جنت ته يې داخل كړې او د قبر د عذاب نه يې بچ كړې او د جهنم د اور نه يې هم بچ كړې! "حَتَّى تَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُونَ أَنَا ذَلِكَ الْمَيِّتَ" عبد الرحمن بن عوف ﷺ فرمايي: ما ارمان وكړو چې كاش زه دې مړي په ځاى واى. رواه مسلم

تشريح: په جنازه كې د اولنى تكبير وروسته ثناء ويل كيږي، كومه ثناء چې په لمانځه كې ويلى شي. ليكن دومره ده چې د (وتعالى جدك) وروسته كه (وجل ثناءك) وويل شي، نو ډېره به ښه وي. بيا د دويم تكبير وروسته دې درود شريف ووايي كوم چې په درود ابراهيمي باندې مشهور دى او خلك يې په آخري قعده كې وايي. بيا دې د دريم تكبير وروسته مړي او ټولو مسلمانانو ته دعاء وكړي. د دې لپاره

Maktaba Tul Ishaat. com

کومه خاصه دعاء مقرر نه ده، ليکن غوره دا ده چې کومې دعاګانې په احاديثو کې منقول دي هغه دې روايي، په هغو دعاګانو کې يوه دعاء پورتنۍ دعاء هم ده چې په وړاندې حديث کې ذکر شوه.

د جنازې يوه بله اهمه دعاء

"وعن أبي هريرة وأبي قتادة وأبي ابراهيم الأشهلي عن أبيه –وأبوه صحابي– ، عن النبي ﷺ: أنه صلى على جنازة، فقال" د ابو هريره، ابو قتادة او ابو ابراهيم اشهلي نه روايت دی هغه يې د خپل پلار نه (دده پلار هم صحابي وو) روايت کوي چې رسول الله ﷺ په يو مړي باندې جنازه وکړه، نو په دعاء کې يې داسې ووېل: "اللهم اغفر لحينا وميتنا" اې الله! زموږ ژوندي هم وبخښې او مړي هم وبخښې! "وصغيرنا وكبيرنا" کشران مو هم وبخښې او مشران هم وبخښې، "وذكرنا وأنثانا" زموږ نارينه هم وبخښې او ښځې مو هم وبخښې، "وشاهدنا وغائبنا" زموږ حاضر هم وبخښې کوم چې زموږ سره دي او زموږ غائب هم وبخښې کوم چې زموږ سره اوس نشته، "اللهم من أحييته منا فأحيه على الإسلام" اې الله! کوم کسان چې په موږ کې ژوندي وي، نو هغوی په دين اسلام باندې ژوندي پاتې کړې، "ومن توفيته منا فتوفه على الإيمان" او کوم کسان چې ته مړه کوې، نو هغوی په ايمان سره مړه کړې، "اللهم لا تحرمنا أجره" اې الله! موږ د دې اجر نه مه محرومه کوې! "ولا تفتنا بعده" او موږ د دې وروسته په فتنو او امتحانونو کې مه اچوې! "رواه الترمذي من رواية أبي هريرة والأشهلي، ورواه أبو داود من رواية أبي هريرة وأبي قتادة" دا حديث امام ترمذي رحمه الله د ابو هريره او اشهلي په روايت سره نقل کړی دی، امام ابوداود رحمه الله د أبو هريره او ابو قتاده په روايت سره نقل کړی دی، "قال الحاكم: حديث أبي هريرة صحيح على شرط البخاري ومسلم" امام حاکم رحمه الله فرمايي: د ابو هريره حديث د امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله په شرط سره صحيح دی، "قال الترمذي: قال البخاري: أصح روايات هذا الحديث رواية الأشهلي، قال البخاري: وأصح شيء في هذا الباب حديث عوف ابن مالك" امام ترمذي وايي چې امام بخاري رحمه الله فرمايي: ددې حديث په صحيح روايتونو کې د اشهلي روايت دی، امام بخاري رحمه الله فرمايي: په دې باب حديث کې د عوف بن مالك حديث صحيح حديث دی.

تشريح: په دې حديث کې چې کومه دعاء منقول ده، په ټولو دعاګانو کې مشهوره دعاء ده، عام امت په دې باندې عمل کوي، دغه دعاء ويل غوره ده.

د راوي ابو ابراهيم اشهلي رحمه الله حالات:

ابو ابراهيم په تابعينو کې شمار دی، د بني اشهل قبيلې سره تعلق ساتي، بنو اشهل د انصارو مشهور خاندان دی. په (عن ابيه) کې يې د پلار نوم معلوم نه دی، ليکن دومره ده چې صحابي دی، د دې وجې په حديث کې هيڅ فرق نه راځي، ځکه چې (الصحابة كلهم عدول).

د جنازې لمونځ بايد بنه په اخلاص وشي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: إذا صليتم على الميت" د أبو هريره نه روايت دی

هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: کله چې تاسو په مړي باندې د جنازې لمونځ کوئ. "فَأَخْلِصُوا لَهُ الدُّعَاءَ" نو هغه ته د زړه له اخلاصه دعا کوئ. رواه أبوداود

تشريح: إذا صليتم على الميت فاخلصوا له الدعاء: کله چې تاسو په مړي جنازه کوئ نو په دعا کې ښه اخلاص کوئ، په دې حديث کې ترغيب ورکول شوی چې څوك په مړي باندې جنازه کوي هغوی ته پکار ده چې ښه د زړه نه ورته دعاء وکړي، په احاديثو کې مختلفو رواياتو سره د رسول الله ﷺ دعاګانې نقل دي، ليکن دلته يوه خبره د لحاظ ساتلو ده. هغه دا چې دغه دعاګې به په جنازه کې لوستلې شي، په اجتماعي توګه د جنازې وروسته د دغو دعاګانو ويلو ثبوت په شريعت کې نشته، د جنازې وروسته انفراداً دعاء ويل جائز دي

د جنازې د لمانځه يوه بله دعاء

"وعنه، عن النبي ﷺ في الصَّلَاةِ عَلَى الْجَنَازَةِ: اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبُّهَا، وَأَنْتَ خَلَقْتَهَا" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د جنازې په لمانځه کې دا دعاء وويل: اې الله! ته د دې مړي رب يې او تا پيدا کړی دی، "وَأَنْتَ هَدَيْتَهَا لِلْإِسْلَامِ، وَأَنْتَ قَبَضْتَ رُوحَهَا" تا د اسلام طرفته ورته هدايت نصيب کړی دی او تا يې روح قبض کړې ده، "وَأَنْتَ أَعْلَمُ بِسِرِّهَا وَعَلَانِيَتِهَا" تا ته يې پټ او ښکاره رازونه معلوم دي. "وَقَدْ جِئْنَاكَ شُفَعَاءَ لَهُ، فَاغْفِرْ لَهُ" اې الله! موږ تا ته دده په باره کې سفارشي راغلي يو، ده ته بخښنه وکړې. رواه أبوداود

تشريح: دا دعاء هم د دريم تکبير وروسته په جنازه کې لوستل کيږي، کې شمېر نورې دعاګې هم ويل کيږي کومې چې د دريم تکبير نه وروسته لوستلې شي، که وخت وي نو بايد چې څو مرد زياتې دعاګانې ولوستل شي. مستحسن امر دی

رسول الله ﷺ نومونه واخيستل او جنازه يې پرې وکړه

"وعن وَاثِلَةَ بنِ الأَسْقَعِ ﷺ، قَالَ: صَلَّى بِنَا رسول الله ﷺ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ" د واثله بن اسقع ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د يو مسلمان مړي جنازه کول او موږ هم ورسره وو، "فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنَّ فُلَانَ ابْنَ فُلَانٍ فِي ذِمَّتِكَ وَحَبْلِ جِوَارِكَ" نو ما ترې واورېدل چې فرمايل يې: اې الله! فلانکی د فلانکي زوی ستا په ذمه دی او ستا په کتاب يې عمل کولو، "فَقِهِ فِتْنَةَ الْقَبْرِ، وَعَذَابَ النَّارِ" دی د عذاب قبر او د جهنم له اوره وساتې! "وَأَنْتَ أَهْلُ الْوَفَاءِ وَالْحَمْدِ" ته د خپلې وعدې پوره کوونکی ذات يې او د صفتونو والا ذات يې! "اللَّهُمَّ فَاغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ، إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ" اې الله! دی وبخښه، په ده رحم وکړه، بې شکه ته بخښونکی او مهربان ذات يې! رواه أبوداود

تشريح: په جنازه کې د دريم تکبير نه وروسته په دعاګانو کې يوه دعاء دا هم ده چې ډېره جامع دعاء ده، ياد ساتل پکار دي، "وحبل جوارك" ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: لفظ د (حبل) په ګڼ شمېر معناګانو کې استعمال شوی دی، ليکن دلته يې په ټولو کې غوره معنی هغه ده چې په قرآن کې ذکر

Maktaba Tul Ishaat. com

ده. يعني په مضبوطى سره يو عمل كول. "واعتصموا بحبل الله جميعاً ولاتفرقوا" يا د حبل نه مراد قرآن شريف دى، "جوارك" ددې معنى ده. حفاظت. د ټول عبارت مطلب داسې شو چې: څوك په قرآن شريف باندې عمل كوي، قرآن ئې د خپل ژوند دستور وګرځولو، نو دغه قرآن شريف به دده لپاره د امن، سلامتى او د ايمان ذريعه جوړه شي.

د جنازې په لمانځه كې د څلورم تكبير وروسته هم دعاء لوستل كيږي:

"وعن عبد الله بن أبي أوفى رضي الله عنهما: أَنَّهُ كَبَّرَ عَلَى جَنَازَةِ ابْنَةٍ لَهُ أَرْبَعَ تَكْبِيرَاتٍ" د عبد الله بن أبي اوفى ﷺ نه روايت دى چې ده د خپلې ماشومې په جنازه كې څلور تكبيرات وويل. "فَقَامَ بَعْدَ الرَّابِعَةِ كَقَدْرِ مَا بَيْنَ التَّكْبِيرَتَيْنِ يَسْتَغْفِرُ لَهَا وَيَدْعُو" نو د څلورم تكبير وروسته به بيا هم دومره اندازه ولاړ وي. لكه څومره چې به د دوه تكبيرونو په مينځ كې ولاړ وو، د هغو لپاره به يې بخښنه غوښتل او دعاګانې به يې ورته كولې. "ثُمَّ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَصْنَعُ هٰكَذَا" بيا يې وفرمايل: رسول الله ﷺ به دغه شان كول.

"وفي رواية: كَبَّرَ أَرْبَعاً فَمَكَثَ سَاعَةً حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُكَبِّرُ خَمْساً" او په يو بل روايت كې داسې هم دي چې د څلورو تكبيرونو وروسته دومره اندازه ودريدلو چې مونږ ګومان وكړو چې پينځم تكبير به كوي، "ثُمَّ سَلَّمَ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ. فَلَمَّا انْصَرَفَ قُلْنَا لَهُ: مَا هٰذَا؟" بيا يې ښي طرفته او چپ طرفته سلام واړولو. كله چې مونږ ته متوجه شو، نو مونږ ورته وويل: دا څنګه عمل وو؟ "فَقَالَ: إِنِّي لَا أَزِيدُكُمْ عَلَى مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَصْنَعُ" هغه ورته وويل: ما د رسول الله ﷺ په عمل باندې زياتوالى نه دى كړى په كوم عمل چې ما رسول الله ﷺ ليدلى دى، "أَوْ: هٰكَذَا صَنَعَ رَسُولُ اللهِ ﷺ" او يا يې داسې وويل: دغه شان به رسول الله ﷺ كول رواه الحاكم،

وقال: حديث صحيح.

تشريح: فقام بعد الرابعة كقدر ما بين التكبيرتين يستغفر لها ويدعو: د څلورم تكبير نه وروسته دومره اندازې سره ودريدو لكه څومره اندازه چې د دوه تكبيرونو وي، په دې مينځ كې هم د مړي لپاره د الله ﷻ نه بخښنې دعاء غوښتلې شي،ددې حديث نه معلوميږي چې د څلورم تكبير نه وروسته هم دعاء ويل جائز دي، ليكن دغه به د سلام نه مخكې وي وروسته به نه وي. د سلام نه وروسته دعاء نشته. څكه چې جنازه بذات خود يوه دعاء ده.

جنازه كې په څلورو تكبيرونو باندې د فقهاوو اتفاق دى:

كبر أربعاً: څلور تكبيرونه يې وويل، دې باره كې د ټولو امامانو اتفاق دى چې په جنازې كې څلور تكبيرونه دي. د رسول الله ﷺ او صحابه كرامو ﷺ څخه اګرچې پنځه تكبيرونه منقول دي، ليكن د رسول الله ﷺ آخري عمل په څلورو تكبيرونو وو، لهذا په كومو رواياتو كې چې د څلورو تكبيرونو نه زيات تكبيرونه منقول دي، هغه منسوخ دي

باب الإسراع بالجنازة

د مړي په ښخولو کې تيزي کول

"عن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قال: أسرعوا بالجنازة، فإن تك صالحة، فخير تقدمونها إليه" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو په جنازه او د مړي په ښخولو کې تيزي کوئ ځکه چې که دا ښه انسان وي، نو بيا يې د ښېګڼې لپاره خپل ځای ته زر ورسوئ "وإن تك سوى ذلك فشر تضعونه عن رقابكم" او که بد انسان وي، نو بيا خو زر زر دا بوج د خپلو اوږو نه ښکته کړئ "متفق عليه. وفي رواية لمسلم: فخير تقدمونها عليه" او د مسلم په يو روايت کې د "فخير تقدمونها" په ځای "فخير تقدمونها عليه" راغلی دی.

تشريح: أسرعوا بالجنازة: په جنازه کې تيزي کوئ، مطلب دا چې کله جنازه هديرې ته روانه کړئ نو په تيزی سره يې وړئ. ليکن د تيزی دا مطلب هم نه دی چې منډې دې وهي، بلکې په متوسط ډول تلل پکار دي، "فإن تك صالحة" که هغه مړی نېک وي، نو په تيزی سره يې دفن کړئ چې د خپل رب د رحمت سره يو ځای شي، "وإن تك سوى ذالك" او که هغه مړی بد عمله وي، د خپل رب نافرماني يې کړې وي، نو بيا يې هم په تيزی سره وړئ، ځکه چې دا يو بوج دی، د خپلو اوږو څخه دغه بوج لېرې کړئ!

د مړي آواز دانسانانو او پيريانو نه علاوه هر څه اوري

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه، قال: كان النبي ﷺ، يقول: إذا وضعت الجنازة، فاحتملها الرجال على أعناقهم، فإن كانت صالحة، قالت: قدموني" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به فرمايل کله چې خلك په خپلو اوږو باندې جنازه روانه کړي، نو که دغه انسان ښه وي هغه مړی وايي: زر زر مي خپل ځای ته بوځئ "وإن كانت غير صالحة، قالت لأهلها: يا ويلها أين تذهبون بها؟" او که بد انسان وي، نو خپلو خپلوانو ته وايي: اې افسوس! تاسو مي چېرته بوځئ؟ "يسمع صوتها كل شيء إلا الإنسان" ددې مړي آواز د انسان نه سوا هر شی اوري، "ولو سمع الإنسان لصعق" او که انسان يې واوري، نو هغه به بې هوشه شي. رواه البخاري

تشريح: فإن كانت صالحة: که هغه مړی نېک عمله وي، نو هغه د الله ﷻ نعمتونه او د الله ﷻ رحمتونه ويني، هغه ځکه وايي چې ما زر زر بوځئ، "قدموني" ما تېز بوځئ، مړي څنګه خبرې کوي؟ ددې خبرو حقيقت يو الله ﷻ ته معلوم دی، ليکن بيا هم د هغوی خبرې ناممکن نه دي، ځکه چې الله ﷻ په هر شي باندې قادر ذات دی، د مړو خبرې کول د صحيح حديث نه ثابت دي، په ځينو روايانو کې راځي چې د مړي خبرې د انسان او پيري نه علاوه هر مخلوق اوري، "فان كانت غير صالحة" که مړی بد عمله وي، نو هغه د الله ﷻ عذابونه ويني. هغه چيغې وهي چې ولې تاسو ما د الله ﷻ عذاب طرفته بوځئ؟

Maktaba Tul Ishaat. com

باب تعجيل قضاء الدَّين عن الميت والمبادرة إلى تجهيزه إلا أن يموت فجأة فيترك حتَّى يُتَيَقَّنَ مَوْتُه

په تېزۍ سره د مړي قرض ادا كول

"عن أبي هريرة ﷺ، عن النبي ﷺ، قَالَ: نَفْسُ المُؤْمِنِ مُعَلَّقَةٌ بِدَيْنِهِ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د مؤمن سړي روح جنت ته د داخليدو څخه د قرض په وجه بنده وي، "حَتَّى يُقْضَى عَنْهُ" تر څو پورې چې قرض پوره کړی نه وي "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن".

تشريح: نفس المومن معلقة بدينه: د مؤمن سړي روح د هغه د قرض په وجه معلقه وي. ددې مطلب دا دی چې جنت ته تلل يا عذاب ورکول تر قرض ادا كولو پورې موقوف وي، په دې وجه علماء فرمايي: د مړي د ميراث نه اول قرض ادا كول پكار دي، بيا فرمايي چې ددې نه هغه قرض مراد دی كوم چې بې ضرورته اخيستل شوی وي، كه د ضرورت پر مهال اخيستل شوی وي، نو بيا به ان شاء الله چې جنت ته د داخلېدو څخه مانع نه وي.

د مرګ نه پس سمدستي ښخول پكار دي

"وعن حُصَيْنِ بن وَحْوَحٍ ﷺ: أَنَّ طَلْحَةَ بْنَ البَرَاءِ بن عَازِبٍ رضي الله عنهما مَرِضَ، فَأَتَاهُ النَّبِيُّ ﷺ يَعُودُهُ" د حصين بن وحوح ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې طلحه بن براء بن عازب ﷺ بيمار شو، نبي كريم ﷺ د هغه كور ته راغلو، پوښتنه يې كول، "فَقَالَ: إِنِّي لَا أَرَى طَلْحَةَ إِلَّا قَدْ حَدَثَ فِيهِ المَوْتُ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: زه وينم چې طلحه ﷺ ته د مرګ مرحله او وخت زر راتلونكی دی، "فَآذِنُونِي بِهِ وَعَجِّلُوا بِهِ" ماته بيا د ده د مرګ خبر راكړئ، په غسل او كفن كې ورته تيزي وكړئ، "فَإِنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِجِيفَةِ مُسْلِمٍ أَنْ تُحْبَسَ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ أَهْلِهِ" څكه چې مسلمان مړی په كور كې ايسارول مناسب نه دي رواه أبوداود

تشريح: همدغه شان د عبد الله بن عمر ﷺ څخه روايت دی، په هغې كې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل كله چې په تاسو كې كوم كس مړ شي، نو پكار ده چې هغه په كور كې تر ډېر ساعته ايسار نه كړئ، قبر ته يې رسوئ او په دفن كولو كې يې تيزي كوئ، حكيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمايي: په ځينو علاقو كې مړی يې وجې د مال دولت په تقسيم كې يا د تركې په تقسيم كې يا د ملګرو او خپلوانو په انتظار كې يا د خلكو لپاره انتظار كوي چې جنازه پرې غټه شي، يا داسې د نورو اغراضو په بناء د مړي تدفين وروسته كوي تردې چې په ځينو علاقو كې خو مړی ورځ، دوه ورځې او درې ورځې پروت وي، دا ټول ناجائز عملونه دي.

د راوي حصين بن وحوح ﷺ حالات:

اصلي نوم يې حصين ﷺ دی، د پلار نوم يې وحوح دی، انصاري صحابي دی، د دوی

روايات د مديني منورې په او سېدونکو کې زيات مشهور دي، د قادسيه په جنګ کې شهيد شو، زيل کېږي چې ده ته ډېر تکليفونه رسول شوي وو چې بيا وروسته شهيد شو

باب الموعظة عند القبر

د قبر سره نصيحت کول

ايا موږ په تقدير باندې اعتماد وکړو او عمل نه کوو؟

"عن عليّ ﷺ، قَالَ: كُنَّا فِي جَنَازَةٍ فِي بَقِيعِ الغَرْقَدِ، فَأَتَانَا رَسُولُ اللهِ ﷺ فَقَعَدَ، وَقَعَدْنَا حَوْلَهُ وَمَعَهُ مِخْصَرَةٌ فَنَكَّسَ وَجَعَلَ يَنْكُتُ بِمِخْصَرَتِهِ" د علي ﷺ نه روايت دی چې موږ د يوې جنازې پرمهال جنت البقيع کې وو چې رسول الله ﷺ راغلو او کېناستلو. موږ هم ترې شاوخوا کېناستلو. دغه وخت د نبي کريم ﷺ په لاس کې تېره لکړې والا لښته وه او سر يې ښکته کړی وو او په دغه لښته يې ځمکه ګرول. "ثُمَّ قَالَ: مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ وَقَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ وَمَقْعَدُهُ مِنَ الجَنَّةِ" بيا رسول الله ﷺ وفرمايل په تاسو کې يو هم داسې کس نشته چې د هغه ځای په دوزخ يا جنت کې مقرر او معلوم نه وي. "فقالوا: يَا رَسُولَ الله، أفَلاَ نَتَّكِلُ عَلَى كِتَابِنَا؟" صحابه کرامو وفرمايل يا رسول الله ﷺ! ايا موږ داسې ليکلو سره بې غمه کېنو؟ "فَقَالَ: اعْمَلُوا، فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل نه عمل کوئ د چا لپاره چې څه مقرر او پيدا شوي دي، په هغې کې هغه ته اساني هم ورکړې شوې ده.... "وذَكَرَ تَمَامَ الحديث" او بيا يې باقي پوره حديث بيان کړو. متفقٌ عَلَيهِ

تشريح: د حديث نه ثابتېږي چې د قبر سره نصيحت کول پکار دي. لکه څرنګه چې امام نووي رحمه الله باب ترلی دی، د هديرې سره وعظ په انسان باندې زيات اثر لري، په زړونو کې نرمي راولي

أفلا نتكل على كتابنا؟: ايا موږ په تقدير اعتماد ونه کړو؟ يعنې د الله ﷻ په علم کې دي چې دا کس به ښه وي او دا کس به بد وي، دا هر څه الله ﷻ ليکلي دي. ليکن د الله ﷻ علم يا د ليکلو مطلب دا نه دی چې انسان په هغه عمل باندې مجبور دی کوم چې الله ﷻ ليکلی دی. بلکې دا خو الله ﷻ ته د اول نه علم وو چې فلانکی کس به په خپل اختيار سره فلانکی نېک عمل او فلانکی بد عمل کوي، نو تر څو چې د الله ﷻ په علم باندې او د هغه په ليکل شوي تقدير باندې انسان ته علم حاصل نه شي او داسې کېدلی هم نه شي، نو بيا به دا خبره څرنګه صحيح شي چې انسان د الله ﷻ په علم باندې اعتماد وکړي او نيک عمل پرېږدي؟ بله دا چې هر انسان ته د هغه عمل کولو توفيق ملاوېږي د کوم عمل لپاره چې پيدا شوی دی، نو بيا انسان ته پکار ده چې د نيکۍ لار اختيار کړي او د الله ﷻ د نېک عمل کولو توفيق طلب کړي، انسان ته چې کومه وظيفه ورکړې شوې ده يعنې ښکه لاره اختيارول، بس هم هغه پرې فرض دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

باب الدعاء للميت بعد دفنه والقعود عند قبره ساعة للدعاء له والاستغفار والقراءة

د ښخولو نه وروسته مړي ته دعاء کول

"وعن أبي عمرو وقيل: أبو عبد الله وقيل: أبو ليلى عثمان بن عفان رضي الله عنه، قال: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا فَرَغَ مِنْ دَفْنِ الْمَيِّتِ وَقَفَ عَلَيْهِ" د أبو عمرو او چا ويلي دي چې د ابو عبد الله او چا ويلي دي چې د ابو ليلى عثمان بن عفان رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ عادت به دا وو چې د مړي ښخېدو نه به چې فارغ شو، نو هلته به ايسارېدو. نو فرمايل به يې: "وقَالَ: اسْتَغْفِرُوا لأَخِيكُمْ وَسَلُوا لَهُ التَّثْبِيتَ، فَإِنَّهُ الآنَ يُسْأَلُ" د خپل ورور لپاره د بخښنې دعاء وغواړئ او دده لپاره د استقامت او د قدمونو د مضبوطوالي دعاء وغواړئ" ځکه چې اوس به دده نه سوال او پوښتنې شروع کولی شي رواه أبو داود

تشريح استغفروا لأخيكم: د خپل ورور لپاره د الله ﷻ نه بخښنه وغواړئ، که مړي منکر نکير پرښتو ته صحيح جوابونه ورکړل، نو همدغه قبر به دده لپاره د جنت باغيچه شي، که جوابونه يې ورنه کړی شول، نو بيا به هم دغه قبر ورته د جهنم يوه کنده جوړه شي، په دې وجه د مړي ښخېدو نه وروسته تر څه وخته پورې د مړي لپاره د الله ﷻ نه د ثابت قدمۍ دعاګانې کول پکار دي، دا به هم انفرادي طور سره وي، په فتاوي عالمګيري کې دي چې دومره وخت ايسارېدل پکار دي چې يو اوښ حلال کړی شي او د هغه غوښه تقسيم کړی شي، په دې وخت کې د مړي لپاره د الله ﷻ نه د بخښنې دعاګانې غوښتل او تلاوت کول مستحب دي

يو غلط رواج:

په فتاوی امداد الاحکام کې ليکلي دي چې څېنې خلك مړی دفن کړي، نو بيا په قبر باندې لاس کېږدي او مړی مخاطب کړي، ورته وايي کله چې درنه پوښتنه وشي چې رب دي څوك دی؟ نو نه ورته وايه رب مي الله ﷻ دی او پېغمبر مي محمد رسول الله ﷺ دی او دين مي اسلام دی. دا د روافضو شعار دی، په دې کې ګڼ شمېر ګمراهی پټې دي، ددې نه ځان ساتل پکار دي

د عمرو بن العاص رضي الله عنه وصيت

"وعن عمرو بن العاص رضي الله عنه، قَالَ: إِذَا دَفَنْتُمُونِي، فَأَقِيمُوا حَوْلَ قَبْرِي قَدْرَ مَا تُنْحَرُ جَزُورٌ، وَيُقْسَمُ لَحْمُهَا" د عمرو بن عاص رضي الله عنه نه روايت دی چې ده وصيت وکړو کله چې ما ښخ کړئ نو زما په قبر دومره ايسار شئ څومره چې په اوښ حلالولو او د هغې په تقسيمولو باندې وخت لګيږي. "حَتَّى أَسْتَأْنِسَ بِكُمْ" ځکه چې ستاسو په موجودګۍ کې زما حوصله زياته شي او زه د قبر د ماحول سره اشنا شم. "وَأَعْلَمَ مَاذَا أُرَاجِعُ بِهِ رُسُلَ رَبِّي" او زه په دې خبره ښه پوه شم چې د خپل رب استازي به په کوم څه باندې لېږم يعنې د سوال او جواب مرحله چې ختمه شي. رواه مسلم وقد سبق بطوله

"قَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يُقْرَأَ عِنْدَهُ شَيْءٌ مِنَ الْقُرآنِ" امام شافعي رحمه الله فرمايي: د قبر سره دغه وخت څه حصه د قرآن مجيد تلاوت کول مستحب عمل دی. "وَإِنْ خَتَمُوا الْقُرآنَ عِنْدَهُ كَانَ حَسَنًا" او که ټول

قرآن کريم يو ځاى ختم کړي، نو ډېر غوره دى

تشريح: فاقيموا حول قبري قدر ما تنحر جزور: زما د قبر په خوا کې دومره ايسار شئ څومره وخت کې چې يو اوښ حلال کړى شي او د هغه غوښه تقسيم کړى شي، عربو به دا کار ډېر په تېزۍ سره کولو، د مازيګر لمانځه نه وروسته به يې حلاله وکړه او تر ماښامه پورې به يې غوښه هم تقسيم کړه، لکه څرنګه چې په ځينو رواياتو کې ددې خبرې ذکر شته

د مړي دفن کولو وروسته يوه دعاء:

مولانا منظور احمد نعماني رحمه الله د مړي دفن کولو وروسته يوه دعاء ليکلې ده، هغه دا ده:

اللهم اغفرله وارحمه وعافه واعف عنه واكرم نزله ووسع مدخله واغسله بالماء والثلج والبرد ونقه من الخطايا كما نقيت الثوب الابيض من الدنس وابدله دارا خيرا من داره واهلا خيرا من اهله وزوجا خيرا من زوجه وادخله الجنة واعذه من عذاب القبر وعذاب النار. اللهم انت ربها وانت خلقتها وانت هديتها للاسلام وانت قبضت روحها وانت اعلم بسرها وعلانيتها جئنا شفعاء فاغفرلها.

باب الصدقة عن الميت والدعاء له

د مړي له طرفه صدقه او د خير دعاء کول

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ" هغه خلك چې وروسته راتلونکي دي دوى به وايي: "رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ" اې الله ﷻ! موږ ته بخښنه وکړې او زموږ هغو وروڼو ته هم بخښنه وکړې چې زموږ نه مخکې په ايمان باندې تېر شوي دي [الحشر:۱۰].

تشريح: په دې آيت کې د رسول الله ﷺ امت په درې ډلو باندې تقسيم شوى دى: (۱) مهاجرين، (۲) انصار، (۳) او باقي ټول امت، د مهاجرينو او انصارو خاص صفتونه يې بيان کړل، ددې نه معلوميږي چې د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه وروسته څومره خلك دي ددې ټولو اسلام او ايمان قبلېدو لپاره شرط دا دى چې د دوى په زړونو کې به د صحابه کرامو مينه وي. که د صحابه کرامو مينه يې په زړونو کې نه وي، نو دوى ته مسلمان ويل فضول کار دى.

ايصال ثواب

"وعن عائشة رضي الله عنها: أن رجلا قال للنبي ﷺ: إن أمي افتلتت نفسها وأراها لو تكلمت تصدقت" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دى چې يو سړي د نبي کريم ﷺ نه پوښتنه وکړه: زما مور ناڅاپه مړه شوه او زما خيال دى چې هغې ته د څه وينا يا د څه کړنې مهلت ورکړى شوى واى، نو ضرور به يې څه خيرات کړى وو، که زه د هغې له طرفه څه خيرات وکړم، "فَهَلْ لَهَا أَجْرٌ إِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا؟" نو ايا هغې ته به يې څه اجر ملاو شي؟ "قَالَ: نَعَمْ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: هو! متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: فهل لها اجر إن تصدقت عنها؟ قال نعم: که زه د هغوى له طرفه صدقه ورکړم، نو ثواب به يې هغې ته ورسيږي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، علماء فرمايي: که يو کس نېک عمل وکړي، مثلاً په

Maktaba Tul Ishaat. com

چا باندې خوراک وکړي، يا جامې ورکړي، يا نفلي لمونځونه وکړي، يا نفلي روژې ونيسي يا نفلي حج وکړي يا عمره وکړي، د قرآن کريم تلاوت وکړي، تسبيحات ووايي، يا جومات جوړ کړي، ديني مدرسه جوړه کړي، يا ديني او مذهبي کتابونه خلکو ته واخلي، ددې نه وروسته داسې دعاء وکړي چې اې الله کوم ثواب چې په دې شيانو ملاويږي، هغه فلانکي کس ته ورسوې

د مرګ نه وروسته هم د درې شيانو ثواب رسيږي

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: إِذَا مَاتَ الإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَمَلُهُ إِلاَّ مِنْ ثَلاثٍ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کله چې انسان مړ شي نو د هغه عملونه بند شي، مګر د درې شيانو اجر به بيا هم ورپسې رسيږي. "صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ" داسې صدقه چې جاري وي، "أَوْعِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ" يا يې داسې علم خپور کړى وي چې خلکو ته ترې فايده وي، "أَوْوَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُولَهُ" يا يې نيک عمله اولاد پرېښودلي وي چې هغه ته دعاګانې کوي، ددې درې اعمالو ثوابونه وروسته له مرګه هم انسان ته رسيږي. رواه مسلم

تشريح: انسان ته چې د کومو شيانو ثواب رسيږي، هغه صدقه جاريه ده، دا حکم هم په خپل عموم باندې دى، که چاته يې قرآن شريف ورکړو او هغه پکې سبق وايي، يا يې جومات جوړ کړو، کوهي وباسي، نهرونه جاري کړي، ځکه چې: "من دل على خير كفاعله" کوم کس چې خير طرفته خلک راوباسي هغه داسې دي لکه په خپله چې يې کړي وي، دويم شى چې انسان ته يې پس له مرګه هم ثواب رسيږي هغه علم دى، کوم چې هغه خلکو ته ښودلى وي، په يو روايت کې علم نافع ترې مراد دى، دريم هغه شى چې انسان ته يې پس له مرګه هم فايده رسيږي، هغه نېک عمله اولاد دي، ابن حجر رحمه الله فرمايي: د صالح بچي نه مراد مؤمن دى، علماء فرمايي: د ولد سره د صالح قيد ځکه ولګول شو چې بچيان په دې خبره تېزوي چې هغوى د خپلو ځانونو اصلاح وکړي، علماء فرمايي: که بچي غير صالح هم وي، نو دعاء دې وکړي، د دعاء فايده به يې مړي ته ورسيږي، ځينو عالمانو يوه ښکلې نکته بيان کړې ده، هغه دا چې انسان ته پکار ده چې د خپل اولاد ښه تربيه وکړي، هله به يې هغه ته فايده رسيږي

باب ثناء الناس على الميت

په مړي پسې ښه ويل

"عن أنس ﷺ، قَالَ: مَرُّوا بِجَنَازَةٍ، فَأَثْنَوا عَلَيْهَا خَيْراً، فَقَالَ النَّبيُّ ﷺ: وَجَبَتْ" د انس ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې زموږ ورانديې يوه جنازه تېره شوه، خلکو د مړي متعلق وويل ښه سړى وو، نبي کريم ﷺ وفرمايل واجب شو، "ثُمَّ مَرُّوا بأُخْرَى، فَأَثْنَوا عَلَيْهَا شَرّاً، فَقَالَ النبيُّ ﷺ: وَجَبَتْ" بيا بله جنازه هم زموږ ورانديې تېره شوه، خلکو وويل بد سړى وو، نبي کريم ﷺ وفرمايل واجب شو، "فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ ﷺ: مَا وَجَبَتْ؟ فَقَالَ

هٰذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ خَيْراً، فَوَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ" عمر بن خطاب رضي الله عنه وفرمايل: څه شی واجب شو؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: د اول مړي متعلق تاسو وويل چې ښه سړی وو، نو د هغه لپاره جنت واجب شو، "وَهٰذَا أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ شَرّاً، فَوَجَبَتْ لَهُ النَّارُ" او ددې بل مړي متعلق تاسو وويل بد سړی وو، نو د هغه لپاره جهنم واجب شو "أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللهِ فِي الْأَرْضِ" تاسو د الله جل جلاله په ځمکه باندې شاهدان يئ. **متفق عليه**

تشريح: وجبت: په تعريف سره جنت واجبيږي، په ځينو رواياتو کې دې ځله «وجبت» جمله راغلې ده. مطلب دا دی چې تاسو ددې مړي تعريف کوئ نو ستاسو تعريف صحيح دی، او س به په هغه باندې جنت واجب شي، يا يې مطلب دا دی چې د هغه مرګ به په هغه خير او نيکی باندې وشي کوم خير او نيکي چې تاسو بيانوئ. دغه شان د دوزخ واجبېدو مطلب هم دا دی چې لکه څرنګه تاسو د کوم کس بد وايئ، که حقيقةً په هغه کې هم دغه بد عمل وي کوم چې تاسو بيانوئ، نو هغه ته دوزخ واجب شو

علامه مظهر رحمه الله فرمايي: د ښه او بد ويلو سره د هر سړي وينا معتبره نه ده، بلکې هغه کس چې تقوادار او امانت دار وي، که دغه کس د يو مړي متعلق ووايي چې هغه ښه سړی دی، يا بد وربيسې ووايي، نو د داسې کسانو شاهدي معتبره ده، ځکه چې د داسې پرهېزګارانو په زړونو کې نفساني خواهشات يا کوم اغراض نه وي، بلکې دوی خالص د الله جل جلاله د رضا په خاطر داسې شاهدي ورکوي

أنتم شهداء الله في الارض: تاسو د الله جل جلاله په ځمکه کې د الله جل جلاله شاهدان يئ، مطلب دا دی چې په تاسو کې اکثره خلك د يو مړي متعلق ښه وايي، نو هغه به ښه وي او دا شاهدي ورکول په حقيقت کې الله جل جلاله د دوی په خولو جاري کړې ده، دغه شان که اکثره خلك د يو کس متعلق ووايي چې بد دی، هغه په حقيقت کې بد وي، نو دا شاهدي هم الله جل جلاله د دوی په خولو شاهدي جاري کړه

درې کسان که په مړي ښه وايي، نو جنت پرې واجب شو

"وعن أبي الأسود، قال: قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ، فَجَلَسْتُ إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضي الله عنه فَمَرَّتْ بِهِمْ جَنَازَةٌ" د أبو الاسود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې مدينې منورې ته راغلم، د عمر رضي الله عنه په خدمت کې حاضر شوم، په موږ باندې يوه جنازه تېرېده، "فَأُثْنِيَ عَلَى صَاحِبِهَا خَيْراً، فَقَالَ عُمَرُ: وَجَبَتْ" نو خلکو ددې مړي متعلق وويل: دا ښه سړی وو، عمر رضي الله عنه وفرمايل: ده ته واجب شو، "ثُمَّ مُرَّ بِأُخْرَى فَأُثْنِيَ عَلَى صَاحِبِهَا خَيْراً، فَقَالَ عُمَرُ: وَجَبَتْ" بيا بله جنازه هم راوړل شوه، خلکو د هغه متعلق هم وويل چې ښه سړی وو، عمر رضي الله عنه وفرمايل: ده ته هم واجب شو، "ثُمَّ مُرَّ بِالثَّالِثَةِ، فَأُثْنِيَ عَلَى صَاحِبِهَا شَرّاً، فَقَالَ عُمَرُ: وَجَبَتْ" بيا بله جنازه هم راوړل شوه، خلکو د هغه متعلق وويل: دا بد سړی وو، عمر رضي الله عنه وفرمايل: ده ته هم واجب شو، "قَالَ أَبُو الأَسْوَدِ: فَقُلْتُ: وَمَا وَجَبَتْ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ؟ قَالَ: قُلْتُ كَمَا قَالَ النَّبِيُّ ﷺ" ابو الاسود رضي الله عنه فرمايي: ما وويل: اې امير المومنين! څه شی واجب شو؟ عمر رضي الله عنه وفرمايل: زه به هغه څه وايم کوم څه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي، "أَيُّمَا مُسْلِمٍ شَهِدَ لَهُ أَرْبَعَةٌ

Maktaba Tul Ishaat. com

بِهِ، أدْخَلَهُ اللهُ الجَنَّةَ" د کوم مسلمان مړي په اړه چې څلور کسان د خير شاهدي ورکړي، الله ﷻ به دغه مړی جنت ته داخل کړي، "فَقُلْنَا: وَثَلَاثَةٌ؟ قَالَ: وَثَلَاثَةٌ" موږ ووېل: که دري کسان ورته د خير شاهدي ورکړي، هغوی وفرمايل: که دري کسان هم ورته د خير شاهدي ورکړي، "فقلنا: وَاثْنَانِ؟ قَالَ: وَاثْنَانِ" موږ بيا ووېل که دوه کسان ورته د خير شاهدي ورکړي، عمر رضي الله عنه وفرمايل: که دري کسان هم ورته د خير شاهدي ورکړي، "ثُمَّ لَمْ نَسْأَلْهُ عَنِ الوَاحِدِ" بيا موږ د يو کس متعلق پوښتنه ونه کړه. رواه البخاري

تشريح: په دې حديث کې هم د مؤمنانو او پرهيزګارانو د رايې اهميت بيانولی شي، په دې کې د کوم فاسق فاجر قول معتبر نه دی. هغه به د کوم ذاتي غرض او مقصد په خاطر د کوم فاسق او فاجر تعريف بيانوي، يا به د کوم نېک عمله انسان بد بيانوي. د داسې کسانو شاهدی ته هيڅ اعتبار نشته.

د راوي ابوالاسود رحمه الله حالات:

اصلي نوم يې ظالم بن عمرو بن سفيان دی، هغه ته عمير بن ظليم هم ويل کيږي، ځينو عمرو بن عثمان بن عمر بنودلی دی، په تابعينو کې شمار دی، په نهه شپېتمه هجري کې وفات شوی دی، د دوی نه په صحاح سته کې روايات موجود دي

باب فضل من مات له أولاد صغار

د کوم سړي ماشومان چې مړه شي د هغې اجر

"وعن أنس رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ لَهُ ثَلَاثَةٌ لَمْ يَبْلُغُوا الحِنْثَ، د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې داسې کوم مسلمان نشته چې د هغه دري بچيان وړاندې له بلوغت نه وفات شي، إلَّا أدْخَلَهُ اللهُ الجَنَّةَ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ إيَّاهُمْ مګر دا چې الله ﷻ به يې په خپل فضل او کرم سره جنت ته داخل کړي))متفقٌ عَلَيهِ.

تشريح: چې د کوم کس دري بچيان بلوغت نه وړاندې مړه شي او هغه کس د خپل ايمان تقاضې مطابق صبر وکړي نو داسې کس الله ﷻ به يې په خپل فضل او کرم سره جنت ته داخل کړي، د الحنث نه مراد ګناه ده، مطلب دا دی چې هغوی د بلوغت نه وړاندې مړه شي، که بالغان شونو بيا د وی په ګناه به سزاوي او نېک عمل باندې ثواب. که د بلوغت نه وړاندې مړه شي نو معصوم دي

چې د کوم کس دري بچيان مړه شي جهنم ته به نه ځي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: لَا يَمُوتُ لأَحَدٍ مِنَ المُسْلِمِينَ ثَلَاثَةٌ مِنَ الوَلَدِ لَا تَمَسُّهُ النَّارُ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د کوم مسلمان سړي چې دري نابالغه ماشومان مړه شي، الله ﷻ به يې جهنم ته داخل نه کړي إلَّا تَحِلَّةَ القَسَمِ. متفقٌ عَلَيهِ

"وَتَحِلَّةُ القَسَمِ قول الله تعالى: وَإنْ مِنْكُمْ إلَّا وَارِدُهَا وَالوُرُودُ: هُوَ العُبُورُ عَلَى الصِّرَاطِ" د تحلة القسم مطلب دا دی چې الله ﷻ په قرآن کريم کې فرمايلي دي په تاسو کې داسې يو کس نشته چې هغه به په پل صراط

باندې تېر نه شي، مطلب دا چې خامخا به ټول تيرېږي، د (ورود) نه مراد په پل صراط باندې تيريدل دي، "وَهُوَ جِسْرٌ مَنْصُوبٌ عَلَى ظَهْرِ جَهَنَّمَ، عَافَانَا اللهُ مِنْهَا" دا يو پل دی چې د جهنم دپاسه تېر شوی دی، الله ﷻ دې موږ په عافيت باندې ترې تېر کړي

تشريح: د کوم کس چې درې بچيان مړه شي، هغه به جنت ته ځي، البته الله ﷻ به بې د خپل قسم پوره کولو لپاره يو ځل د جهنم دپاسه تېروي، لکه څرنګه چې د الله ﷻ ارشاد دی، "وان منكم الا واردها" هر کس به يو ځل خامخا د جهنم دپاسه په پل صراط باندې تيرېږي، بيا به ځيني کسان د بجلۍ د برق په شان تېر شي، ځيني به د اس د منډې په څېر او ځيني به پياده، ځيني به په خيږرو تېر شي او کوم کسان چې کافران دي هغوی به په جهنم کې پرېوځي، د حديث مطلب دا شو چې د کوم کس درې بچيان مړه شي، نو هغه خو به جهنم ته نه داخلېږي، البته صرف د يوې لمحې لپاره به د جهنم دپاسه په پل صراط باندې تيرېږي چې د الله ﷻ قسم پوره شي

ښځو ته نصيحت کول

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه، قَالَ: جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسولِ الله ﷺ، فَقَالَتْ: يَا رَسولَ الله، ذَهَبَ الرِّجَالُ بِحَدِيثِكَ" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره شوه او وې فرمايل: يا رسول الله ﷺ! سړي خو ستاسو حديثونه اوري، "فَاجْعَلْ لَنَا مِنْ نَفْسِكَ يَوْماً نَأْتِيكَ فِيهِ تُعَلِّمُنَا مِمَّا عَلَّمَكَ اللهُ" موږ ته هم يوه ورځ راکړه چې موږ ستاسو نه هغه خبرې زده کړو کومې چې الله ﷻ تاسو ته ښودلي دي، "قَالَ: ((اجْتَمِعْنَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا)) فَاجْتَمَعْنَ، فَأَتَاهُنَّ النَّبِيُّ ﷺ فَعَلَّمَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَهُ اللهُ" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: فلانی فلانی ورځ تاسو جمع کېږئ نو هغوی را جمع شوې، نبي کريم ﷺ ورته هغه څه وښودل کوم څه چې الله دوی ته ښودلي وو، "ثُمَّ قَالَ: مَا مِنْكُنَّ مِنِ امْرَأَةٍ تُقَدِّمُ ثَلاَثَةً مِنَ الوَلَدِ إِلاَّ كَانُوا لَهَا حِجَاباً مِنَ النَّارِ" بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: په تاسو کې يوه ښځه داسې نشته چې د هغې درې بچي مړه شوي وي مګر دا چې دا بچي به د دغې ښځې لپاره د جهنم څخه د بچ کېدو پرده وي، "فَقَالَتِ امْرَأَةٌ: وَاثْنَيْنِ؟ فَقَالَ رَسولُ الله ﷺ: وَاثْنَيْنِ" يوې ښځې ووېل: يا رسول الله ﷺ! که د چا دوه بچي مړه شوي وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل که دوه بچي يې هم مړه شوي وي، نو دغه بچي به دده لپاره د جهنم نه پرده وي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

تشريح: ددې حديث نه معلومېږي چې ښځو ته هم پکار ده چې د ديني زده کړې جذبه يې په زړونو کې وي، ښځو ته د دين د زده کړې لپاره يو مناسب ځای جوړول پکار دي. ددې لپاره چې يو طرف که د ښځو اصلاح وشي، نو بل طرف ته به د دوی په غېږو کې د ماشومانو سالمه تربيه وشي، دا ځکه چې د مور غېږ د بچي لپاره اولنی مدرسه ده، "فقالت امراة واثنين؟ قال رسول الله ﷺ واثنين" يوې ښځې ووېل: د دوه بچيانو څه حکم دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د دوه بچيانو هم دغه حکم دی، علماء فرمايي: رسول الله ﷺ د درې ماشومانو د مرګ په حقله دا ارشاد وفرمايلو چې کله هغې صحابيه رضي الله عنها د دوه ماشومانو په باره کې پوښتنه وکړه، نو سمدستي وحی نازله شوه او د دوه ماشومانو د مرګ په

Maktaba Tul Ishaat. com

حقله يې ارشاد وفرمايلو، يا ځينې علماء فرمايي: تر اوسه لا وحي نازله شوې نه وه، رسول الله ﷺ د الله ﷻ نه دعاء وغوښتل چې سمدستي قبوله شوه، رسول الله ﷺ د دوه بچيانو د مرګ په حقله هم ارشاد وفرمايلو

باب البكاء والخوف عِندَ المرور بقبور الظالمين ومصارعهم وإظهار الإفتقار إِلَى الله تعالى والتحذير من الغفلة عن ذلك

رسول الله ﷺ په د ثموديانو په قوم تېزي سره تېرېدلو

"عن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ لأَصْحَابِهِ - يعني لَمَّا وَصَلُوا الحِجْرَ - دِيَارَ ثَمُودَ" عبد الله بن عمر رضي الله عنه وفرمايل: كله چې رسول الله ﷺ او د هغه ملګري اصحاب الحجر (ثموديانو) كورونو ته ورسېدل نو رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته وفرمايل: "لَا تَدْخُلُوا عَلَى هَؤُلَاءِ المُعَذَّبِينَ إِلَّا أَنْ تَكُونُوا بَاكِينَ" ددې عذاب وركړې شوې خلكو كورونو ته مه داخلېږئ، مګر په داسې حال كې چې تاسو ژړئ! "فَإِنْ لَمْ تَكُونُوا بَاكِينَ، فَلَا تَدْخُلُوا عَلَيْهِمْ" كه تاسو نه ژړئ نو بيا مه داخلېږئ! "لَا يُصِيبُكُمْ مَا أَصَابَهُمْ" هسې نه چې تاسو ته هغه عذاب ورسيږي كوم عذاب چې هغوى ته رسېدلى وو. متفقٌ عليه

"وفي رواية قَالَ: لَمَّا مَرَّ رسولُ الله ﷺ بالحِجْرِ، قَالَ: لَا تَدْخُلُوا مَسَاكِنَ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ" او په يو بل روايت كې دي چې كله رسول الله ﷺ د ثموديانو په كورونو باندې تېرېدلو، نو خپلو ملګرو ته يې وفرمايل: د هغو خلكو په كورونو مه تېرېږئ چې په خپلو ځانونو يې ظلم كړى دى. "أَنْ يُصِيبَكُمْ مَا أَصَابَهُمْ" هسې نه چې تاسو ته هم هغه عذاب ورسيږي كوم عذاب چې هغوى ته رسېدلى وو. "إِلَّا أَنْ تَكُونُوا بَاكِينَ" مګر دا چې تاسو ژړئ (په داسې حال كې تاسو تېرېږئ! "ثُمَّ قَنَّعَ رسولُ الله ﷺ رَأْسَهُ وَأَسْرَعَ السَّيْرَ حَتَّى أَجَازَ الوَادِيَ" بيا رسول الله ﷺ خپل سر مبارك د الله ﷻ له وېرې او د عاجزۍ له امله پټ كړو او خپله سورلۍ يې تېزه كړه او دغه د ثموديانو وادۍ يې په تېزۍ سره ترسره كړه.

تشريح: ديار ثمود: د ثموديانو د قوم ځايونه. الله ﷻ ثموديانو ته صالح عليه السلام رالېږلى وو، د دوى ځايونه د شام او مدينې په لاره كې دي. دا واقعه د هغه وخت ده چې رسول الله ﷺ د تبوك د غزا نه په واپسۍ كې وو، د شام سرحداتو ته راورسېدو

په كوم ځاى چې د الله ﷻ عذاب نازل شي، د سيل ځاى ترې مه جوړوئ

أن تكونوا باكين: داسې حال كې تېرېږئ چې تاسو ژړئ. ددې نه معلومه شوه چې كله يو كس په داسې ځاى باندې تېرېږي چېرته هلته عذاب نازل شوى وي، نو بايد چې انسان عبرت حاصل كړي، په زړه كې ورسره وېره هم وي چې په دې خلكو باندې الله ﷻ عذاب نازل كړى وو، نو په موږ به هم نازولى شي. د داسې ځايونو نه د تفريح او سيل ځاى جوړول ګناه ده

كتاب آداب السَّفَر

د سفر آداب

باب إستحباب الخروج يوم الخميس وإستحبابه أول النهار

د پنجشنبې په ورځ اول وخت کې سفر کول مستحب دي

"عن كعب بن مالك رضي الله عنه: أَنَّ النبيَّ ﷺ خَرَجَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ يَوْمَ الْخَمِيس" د کعب بن مالك رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ غزوه تبوك ته د پنجشنبې په ورځ تللی وو، "وَكَانَ يُحِبُّ أَنْ يَخْرُجَ يَوْمَ الْخَمِيس" او رسول الله ﷺ ته د پنجشنبې په ورځ سفر شروع کول زيات خوښ وو. متفقٌ عليه

"وفي رواية في الصحيحين: لَقَلَّمَا كَانَ رسولُ اللهِ ﷺ يَخْرُجُ إِلَّا فِي يَوْمِ الْخَمِيس" او د صحيحينو په روايت کې داسې هم دي چې رسول الله ﷺ به سفر نه کولو، مګر د زيات په ورځ به يې سفر شروع کولو.

تشريح: خرج في غزوة تبوك: تبوك د يو ځای نوم دی، کوم چې د مديني منورې او د دمشق ترمينځ، خيبر او العلاء په خط باندې واقع دی، په اول کې د شام سره وو، اوس د حجاز (سعودي عربستان) سره دی، د مدينې منورې نه ۴۲۵ ميله لرې دی، په نهمه هجري کې د تبوك غزا وشوه او دا د رسول الله ﷺ د ژوند تر ټولو اخري غزا وه، "كان يحب أن يخرج يوم الخميس" رسول الله ﷺ ته د پنجشنبې په ورځ سفر خوښ وو، ولې رسول الله ﷺ ته د پنجشنبې په ورځ سفر خوښ وو؟ علماوو ددې ګڼ جوابونه کړي دي (۱) د پنجشنبې او دوشنبې په ورځ د بندګانو عملونه الله ﷻ ته پيش کيږي، رسول الله ﷺ هم غوښتل چې زما عمل يعني جهاد د پنجشنبې په ورځ وړاندې شي، (۲) دويم جواب دا دی چې لښکر ته هم خميس ويل کيږي او پنجشنبې ورځې ته هم يوم الخميس ويل کيږي، لهذا رسول الله ﷺ به د جهاد لپاره د سفر ابتداء د پنجشنبې په ورځ کول، په دې سره به يې نيک فال نيولو، هغه دا چې موږ د کوم لښکر په مقابله کې روانېږو، په دې باندې به الله ﷻ موږ ته فتح او کاميابي راکوي، رسول الله ﷺ به خپله هم د پنجشنبې په ورځ په سفر روانېدلو او د ظاهري روايت نه معلومېږي چې کله به هم رسول الله ﷺ کوم لښکر چېرته لېږلو، نو د پنجشنبې په ورځ به يې لېږلو.

ايا د زيارت نه علاوه نورو ورځو کې سفر کول جائز ندي؟

د پنجشنبې د ورځې نه علاوه نورو ورځو کې سفر کول جائز دي، علامه عيني رحمه الله ليکلي دي چې: رسول الله ﷺ يو ځل د شنبې په ورځ سفر شروع کړو، ابن حجر رحمه الله هم ليکلي دي چې يو ځل يې د شنبې په ورځ سفر شروع کړو.

امت ته د ورځې په شروع کې برکت اچول شوی دی

"وعن صخر بن وَدَاعَةَ الغامِدِيِّ الصحابيِّ رضي الله عنه: أَنَّ رسولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: اللَّهُمَّ بَارِكْ لِأُمَّتِي فِي بُكُورِهَا" د صخر بن

Maktaba Tul Ishaat. com

ودداعة الغامدي الصحابي رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: اې الله! زما امت ته د سهار په وخت کې برکت واچوې. "وَكَانَ إِذَا بَعَثَ سَرِيَّةً أَوْ جَيْشًا بَعَثَهُمْ مِنْ أَوَّلِ النَّهَارِ" او د رسول الله ﷺ عادت مبارك به دا وو چې کله به يې کومه وړوکې ډلگۍ يا لوی لښکر د جهاد لپاره چېرته لېږلو، نو د سهار په وخت کې به يې لېږلو. "وَكَانَ صَخْرٌ تَاجِرًا، وَكَانَ يَبْعَثُ تِجَارَتَهُ أَوَّلَ النَّهَارِ" صخر رضي الله عنه به تجارت کولو او هغه به د تجارت قافله د سهار په وخت کې روانول. "فَأَثْرَى وَكَثُرَ مَالُهُ" رواه أبوداود والترمذي، وقال: ((حديث حسن)).

تشريح: محدثين د (الابتكار في السفر) باب قائموي چې د ورځې په شروع کې سفر کول غوره دي، په دې کې برکت دی. دا ځکه چې د ورځې په شروع کې انسان تازه وي، طاقت يې وي

د حديث راوي صخر بن وداعه الغامدي رضي الله عنه حالات

اصل نوم يې عمرو رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې کعب دی. پوره نسب نامه يې دا ده عمرو بن کعب بن حارث بن کعب بن عبد الله بن مالك بن نضر بن بن ازد. د ازد قبيلې سره يې تعلق درلود. غامدي خاندان يې وو. ابن حجر رحمه الله فرمايي: د حجاز صحابي دی. اگر چې د طائف اوسېدونکی وو.

وفات: د اسماء الرجال عالمان يې د وفات په تاريخ کې خاموش دي

مرويات: علامه برقي رحمه الله فرمايي: صرف يو حديث ترې روايت شوی دی. ليکن ابن جوزي رحمه الله په تلقيح کې فرمايلي: دوه حديثونه ترې منقول دي

باب إستحباب طلب الرفقة وتأميرهم على أنفسهم واحداً يطيعونه

د سفر لپاره ځانته ملگري پيدا کول او يو پکې امير ټاکل چې ټول به د هغه اطاعت کوي

"عن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: لَوْ أَنَّ النَّاسَ يَعْلَمُونَ مِنَ الوحدَةِ مَا أَعْلَمُ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: که چېرته خلك په دې خبره پوه شي په کومه خبره چې زه پوهېږم. هغه دا چې يوازې سفر کولو کې څومره نقصان دی. "مَا سَارَ رَاكِبٌ بِلَيْلٍ وَحْدَهُ!" نو يوازې به يو سړی چېرته هم د شپې سفر نه کولو. رواه البخاري

تشريح: لوأن الناس يعلمون: که خلکو ته معلومات وشي چې د يوازې سفر کولو نقصان څومره زيات دی. علماء فرمايي يوازې سفر کولو کې ديني او دنيوي نقصانونه دي. ديني نقصان يې دا دی چې الله مه چې ځانته سفر کولو کې به د جمعې د لمانځه نه محروم وي. دنيوي نقصان يې دا دی چې مرسته به يې کړه غله به وربانديې پېښ شي. يا به بل مشکل ورته پېښ شي. داسې څوك به نه وي چې مرسته يې وکړي. امام بخاري رحمه الله (باب سير الرجل وحده) باب تړلی دی چې يوازې د سفر کولو اجازت شته. که چېرته ناڅاپه د کوم ضرورت له امله د يوازې سفر کولو نوبت پېښ شي، نو بيا ځانته سفر کول بلاکراهته جائز عمل دی

يوازې سفر کوونکی شيطان دی

"وعن عمرو بن شُعَيْب، عن أبيه عن جَدّهِ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: اَلرَّاكِبُ شَيْطَانٌ وَالرَّاكِبَانِ شَيْطَانَانِ" د عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار نه، هغه د خپل نيکه نه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ځانته يو کس سفر کوونکي شيطان وي او دوه کسه سفر کوونکي دوه شيطانان دي، "وَالثَّلَاثَةُ رَكْبٌ" او درې کسانو سفر پوره ډله ده. "رواه أبوداود والترمذي والنسائي بأسانيد صحيحة، وقال الترمذي: حديث حسن".

تشريح: يوازې سفر کول يا دوه کسان ځانته سفر کولو نه منع راغلې ده، کم نه کم درې کسان پکار دي چې په سفرکې ملګري شي، ځانته سفر کولو کې يا دوه کسان چې سفر کوي، نو ديني او دنيوي نقصانونه پکې پراته دي، ديني نقصان بې دا دی چې که يو کس د کوم ضرورت لپاره چېرته لاړ شي، نو بل کس به يوازې پاتې شي، د جماعت د فضيلت نه به محرومه شي، دنيوي نقصان بې دا دی چې که يو کس ترې د ضرورت لپاره لاړ شي، جماعت خو هسې هم لاړو، الله ﷻ دې نه کړي که غله ورباندې پيښ شول، نو دی اوس تنها دی، څه به وکړي، بل دا چې که کومه حادثه ورته پېښه شي، نو هغه بل کس به هم ورته حيران وي چې دده سره اوس څه وکړم، داسې نورې پېښې راتلی شي، ځينې علماء ليکي: يو کس يا دوه کسان شيطان وي، ددې مطلب دا دی چې يو کس يا دوه کسان شيطان بې په اسانی سره دوکه کولی شي او که درې کسان شي يا ددې نه زيات شي، نو جماعت به جوړ شي او د الله ﷻ مرسته د جماعت سره وي، او شيطان بې په آسانه نه شي دوکه کولی.

په درې کسانوکې يوکس امير جوړول ضروري دي

"وعن أبي سعيد وأبي هُريرة رضي اللهُ تعالى عنهما، قالا: قَالَ رسولُ الله ﷺ: إِذَا خَرَجَ ثَلَاثَةٌ فِي سَفَرٍ" د أبو سعيد رضي الله عنه او أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغوی دواړه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو کې درې کسان سفر کوي، "فَلْيُؤَمِّرُوا أَحَدَهُمْ" نو يو کس دې ځانته امير وټاکي، "حديث حسن، رواه أبوداود بإسناد حسن".

تشريح: فليؤمروا أحدهم: يو کس دې پکې امير جوړ کړي، علامه زبيدي رحمه الله فرمايي: بايد داسې کس امير وټاکل شي چې اخلاق بې ښه وي، نرم خوی بې وي، د قرباني صفت پکې وي، شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله فرمايي: داسې کس امير جوړول پکار دي چې که يو طرف خوش اخلاق او نرم خوی بې وي، نو بل طرف عاقل بالغ او تجربه کار هم وي، ايثار او همدردي پکې وي، د ايثار مطلب دا دی چې خپل ضرورتونه پرېږدي د نورو خيال وساتي، علامه طيبي رحمه الله فرمايي: د امير جوړلو حکم ځکه وشو چې که په سفر کې کومه لانجه جوړه شي، نو بيا به دوی هغه امير ته رجوع کوي، هغه به ورته خبره خلاصه کړي.

غوره ملګري څلور کسان دي

"وعن ابن عبّاس رضي الله عنهما، عن النبيِّ ﷺ، قَالَ: خَيْرُ الصَّحَابَةِ أَرْبَعَةٌ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: غوره ملګري څلور کسان دي "وَخَيْرُ السَّرَايَا أَرْبَعُ مِئَةٍ" او

Maktaba Tul Ishaat. com

بهترینه وړه ډلګۍ څلور سوه کسان دي، "وَخَيْرُ الْجُيُوشِ أَرْبَعَةُ آلَافٍ" او غوره لوی لښکر څلور زره کسان دي، "وَلَنْ يُغْلَبَ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا مِنْ قِلَّةٍ" رواه أبوداود والترمذي، وقال: (حديث حسن).

تشريح: خير الصحابة أربعة: غوره ملګري څلور کسان دي، علماء فرمايي په سفر کې دوه کسان هم کارونه کوي، يو د سفر سامان سمبالوي، دويم دا چې د خوراک څښاک انتظام کوي، که دري کسان وي، نو دوه کسان به د سفر سامان ساتي او که يو کس د سامان اخيستلو لپاره چېرته لاړ شي، نو دريم کس به ځانته پاتې شي، که څلور وي، نو دوه به لاړ شي او دوه به پاتې شي، د غوره والي ادنی درجه څلور ده، که پنځه کسان وي يا شپږ کسان وي يا ددې نه هم زيات وي، نو ډېره ښه خبره ده

لن يغلب إثنا عشر ألفا عن قلة: دولس زره کسان به خالص د کموالي له امله نه مغلوبه کيږي، مطلب دا چې که لښکر دولس زره وي، نو بيا به نه مغلوبه کيږي او که مغلوب هم شي، نو د شمار کمېدو په وجه به نه وي، ځکه چې د دولس زره تعداد د کمي ځخه وځي، که دولس زره کسانو ماتې وخوړل، نو هغه به د صفاتو په لحاظ سره وي، يعنې په دوی کې به تکبر راغلی وي

باب آداب السير والنزول والمبيت والنوم في السفر واستحباب السُّرى والرفق بالدواب ومراعاة مصلحتها وأمر من قصّر في حقها بالقيام بحقها وجواز الإرداف عَلَى الدابة إذا كانت تطيق ذلك

په سفر باندې تلونکی، ښکته کېدونکی، شپه تېرولوکې او د شپې په مزل کولوکې، د څناورو سره نرمي کولوکې او د هغه کس په باره کې چې د سورليو په باره کې کوتاهي کوي

"عن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: إِذَا سَافَرْتُمْ فِي الخِصْبِ، فَأَعْطُوا الإبلَ حَظَّهَا مِنَ الأَرْضِ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې تاسو په داسې ځمکه کې سفر کوئ چې شنه او تازه وي، نو اوښانو ته هم پکې د ځمکې ځه حصه ورکوئ! "وَإِذَا سَافَرْتُمْ فِي الجَدْبِ، فَأَسْرِعُوا عَلَيْهَا السَّيْرَ" او کله چې تاسو په وچه ځمکه سفر کوئ، نو بيا ددې ځمکې نه په تېزۍ سره ووځئ؛ "وَبَادِرُوا بِهَا نِقْيَهَا وَإِذَا عَرَّسْتُمْ، فَاجْتَنِبُوا الطَّرِيقَ، فَإِنَّهَا طُرُقُ الدَّوَابِّ، وَمَأْوَى الهَوَامِّ بِاللَّيْلِ" رواه مسلم.

وقوله: ((أعْطُوا الإبلَ حَظَّهَا مِنَ الأَرْضِ)) أيْ: ارْفُقُوا بِهَا فِي السَّيْرِ لِتَرْعَى فِي حَالِ سَيرِهَا، وقوله: ((نِقْيَهَا)) هُوَ ددې معنی چې: "((أعطوا الإبل حظها من الأرض))" تاسو په سفر کې په دوی باندې نرمي کوئ، په دوی بکسر النون وإسكان القاف وبالياء المثناة من تحت وَهُوَ: المُخُّ" او د قاف په سکون سره او ددې نه باندې د سفر په دوران کې خوراک کوئ، د (نقيها) د نون په زېر سره وروسته (ي) ده، ددې معنی ده: مغز، "معناه: أسْرِعُوا بِهَا حَتَّى تَصِلُوا المَقْصِدَ قَبْلَ أنْ يَذْهَبَ مُخُّهَا مِنْ ضَنْكِ السَّيْرِ. وَ((التَّعْرِيسُ)): النُّزولُ فِي اللَّيلِ" مطلب دا دی چې په هغوی باندې تېزۍ سره سفر وکړئ چې تاسو خپل منزل ته په وخت ورسېږئ، د (تعريس) معنی ده: د شپې پړاو کول

تشريح: په مخکې زمانه کې به د سفر لپاره اوښان، اسونه او خره وغيره حيوانان استعمالېدل، په دې حديث کې داسې خلکو ته هدايت بيانيږي چې په حيواناتو باندې سفر کوي، په لاره کې ددې څارويو د خوراك خيال ساتئ، که چېرته لاره شګلنه وي، خوراك وابښه وغيره نه وي، نو بيا په تېزي سره سفر کوئ ددې لپاره چې خپل منزل ته په تېزي سره ورسيږئ، بل دا چې که د سفر پرمهال د پړاو دمې کولو ضرورت شي، نو بايد چې په داسې ځای کې پړاو ونه شي چې خلك تيريږي، مطلب په لاره کې پړاو کول مناسب نه دي، ددې لپاره چې خلکو ته تکليف جوړ نه شي، بله وجه يې دا ده چې عموما د شپې ماران او لړمان لارو ته راوځي، داسې نه چې تکليف درته ورسيږي

رسول الله ﷺ به د سفر پرمهال په ښي طرف آرام فرمايلو

"وعن أبي قتادة ﷺ، قال: كان رسول الله ﷺ إذا كان في سفر، فعرس بليل اضطجع على يمينه" د ابو قتادة ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله سفر کولو او شپه به يې تېرول، نو په ښي طرف به ويده شو، "وإذا عرس قبيل الصبح نصب ذراعه، ووضع رأسه على كفه" او کله چې به د سهار نه لږ وړاندې چېرته ويده کېدو، نو خپله څنګل به يې ودرول او سر مبارك به يې په تلي کېښودو رواه مسلم

"قال العلماء: إنما نصب ذراعه لئلا يستغرق في النوم" علماء ددې وجه بيانوي چې رسول الله ﷺ به لاس مبارك ځکه درولو چې په خوب کې ډوب نه شي. "فتفوت صلاة الصبح عن وقتها أو عن أول وقتها" که په خوب کې ډوب شي، نو يا خو به لمونځ ترې فوت شي او يا به په اول وخت کې ترې لمونځ فوت شي

تشريح: اضطجع على يمينه: رسول الله ﷺ به په ښي طرف آرام فرمايلو، د سهار نه وړاندې چې به کله رسول الله ﷺ د شپې آرام کولو، نو د عام عادت په توګه به يې اطميناني خوب نه کولو، دا ځکه چې هسې نه خوب راباندې غلبه وکړي، د سهار په لمانځه کې به تاخير وشي، ددې نه معلومه شوه چې که وخت کم وي او د لمانځه وخت وي، نو په اطمينان سره ويده کېدل پکار نه دي، ددې لپاره چې لمانځه ته په اوچتېدو کې مشکل پېښ نه شي

د شپې ځمکه راغونډولی شي

"وعن أنس ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: عليكم بالدلجة" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کله چې تاسو سفر کوئ، نو د شپې يې کوئ "فإن الأرض تطوى بالليل" ځکه چې د شپې له خوا ځمکه راغونډولی شي، "رواه أبو داود بإسناد حسن، ((الدلجة)): السير في الليل" د الدلجة معنی ده د شپې سفر کول

تشريح: فإن الأرض تطوى بالليل: د شپې له خوا ځمکه راغونډولی شي، علماء ددې حديث مطلب داسې بيانوي چې د سفر پرمهال انسان ته پکار ده چې صرف د ورځې سفر نه کوي، بلکې د شپې هم مزل کوي، ځکه چې د شپې له خوا مزل زر پوره کيږي، دا ځکه چې د شپې له خوا د سفر نه علاوه د سړي بل کار نه وي، بل دا چې د شپې له خوا د فاصلو علامې او نخښې په نظر نه راځي، نو

Maktaba Tul Ishaat. com

ځکه په تلو کې ورته هيڅ تکليف نه وي، ددې برعکس د ورځې د فاصلې علامې او نخښې په نظر راځي، نو انسان چې هغه ګوري نو خوشحاليږي چې دومره سفر مې پوره کړو. د شپې د راغونډېدو دا مطلب دی.

يا دا چې ممکنه ده چې د شپې ځمکه حقيقةً راغونډه ولې شي، لکه څرنګه چې په حديث کې راغلي دي، د ورځې داسې نه کيږي. د حديث مطلب دا نه دی چې د ورځې سفر مه کوئ، ځکه چې په يو بل روايت کې دي چې سفر د ورځې په شروع کې کوئ!

صحابه کرامو ﷺ په يو ځای سفر کولو

"وعن أبي ثعلبة الخشني ﷺ، قال: كَانَ النَّاسُ إِذَا نَزَلُوا مَنْزِلًا تَفَرَّقُوا فِي الشِّعَابِ وَالْأَوْدِيَةِ" د أبو ثعلبة خشني ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې خلکو به کله د سفر په دوران کې کوم ځای پړاو کولو، نو په خوړونو او درو کې به جدا جدا خاته شول، "فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: إِنَّ تَفَرُّقَكُمْ فِي هَذِهِ الشِّعَابِ وَالْأَوْدِيَةِ إِنَّمَا ذَلِكُمْ مِنَ الشَّيْطَانِ!" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ستاسو ځان خاته کېدل په دې خوړونو او درو کې يو شيطاني عمل دی، "فَلَمْ يَنْزِلُوا بَعْدَ ذَلِكَ مَنْزِلًا إِلَّا انْضَمَّ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ" ددې نه وروسته به چې کله هم صحابه وو چېرته پړاو کولو، نو دوی به په خپلو کې يو بل ته نژدې پړاو کولو. رواه أبوداود بإسناد حسن.

تشريح: د حديث پاك مطلب دا دی چې په سفر کې بايد يو ځای روان وي، که چېرته يو کس ته تکليف ورسيږي، نو بل ملګری به يې مرسته وکړي، که ځان خاته سفر کوي، نو که کوم کس ته تکليف ورسيږي، نورو کسانو ته به پته نه لګيږي چې په هغه باندې څه شوي دي، ځکه رسول الله ﷺ يو ځای آرام کول خوښ کړو

د راوي ابوثعلبه خشني ﷺ حالت:

د دوی په نوم کې اختلاف دی، خو اکثره علماوو يې نوم جرثوم ښودلی دی. د اسلام په شروع کې مسلمان شوی وو، په صلح حديبيه کې هم د رسول الله ﷺ سره وو، په بيعت رضوان کې هم حاضر وو، رسول الله ﷺ دوی خپل قوم ته د داعي په شکل ولېږلو، د دوی په محنت سره ټوله قبيله مسلمانه شوه، کله چې شام فتح شو، نو هلته يې اقامت اختيار کړو، خپله به يې ويل: الله ﷻ به ما ستاسو په شان پښې مړلو او ټکولو سره نه مړ کوي، هم‌غسې وشو، د شپې يې لمونځ کولو، د دوی يوه لور وه، هغې خوب وليدلو چې پلار يې مړ پروت دی. کله چې راويښه شوه، نو خپل پلار ته يې آواز ورکړو، هيڅ جواب ورته ملاو نه شو، ماشومه چې هغه ځای ته ورغله چېرته چې يې پلار لمونځ کولو، ګوري چې په سجده باندې الله ﷻ ته پروت دی او روح ترې وتلې ده. إنا لله وإنا إليه راجعون

د څارويو باره کې د الله ﷻ نه ووېرېږئ!

"وعن سهل بن عمرو–وقيل: سهل بن الربيع بن عمرو الأنصاري المعروف بابن الحنظلية، وهو من أهل بيعة الرضوان ﷺ قال: مرّ رسول الله ﷺ ببعير قد لحق ظهره ببطنه" د سهل بن عمرو ﷺ او چا ويلي دي چې سهل بن ربيع بن عمرو انصاري ﷺ دی کوم چې په ابن حنظلية ﷺ نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ يو اوښ وليد چې د لوږې له وجې يې ملا تر خېټې پورې پيوسته شوې وه. "فقال: اتقوا الله في هذه البهائم المعجمة" نبي کريم ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ نه ددې ګونګيانو څارورو باره کې ووېرېږئ "فاركبوها صالحة، وكلوها صالحة" په دې باندې سورلي هم په ښه شان سره کوئ او د دوی حلاله او خوراك هم په ښه شان سره کوئ. رواه أبو داود بإسناد صحيح.

تشريح: اتقوا الله في هذه البهائم المعجمة: ددې بې ژبانه څارويو باره کې د الله ﷻ نه ووېرېږئ، د څارورو سره هم د رحمت او شفقت معامله کوئ. ځکه خو امام بخاري رحمه الله باب قائم کړی دی رحمة الناس والبهائم) په دې کې دې طرفته اشاره ده چې لکه څرنګه په انسانانو باندې د رحم کولو حکم شوی دی، دغه شان په څارورو باندې هم د رحم کولو حکم شوی دی. دا ښه خبره نه ده چې په فضول ظلم وشي او (زياته سورلي وربادې يوسي) خوراك نه ورکوي. الله ﷻ به د قيامت په ورځ دې باره کې پوښتنه کوي.

وكلوها صالحة: کمزوری او بيمار څاروی خوړل ښه نه دي، د طاقتور څاروي غوښه خوړل پکار دي، هم دغه د انسان د صحت لپاره مفيده ده، د بيمار او کمزوري څاروي غوښه د انسان صحت نه نقصان رسوي، په يو بل روايت کې دي "ثم اركبوها صحاحاً" د ټولو مطلب يو دی.

د راوي سهل بن عمرو يا سهل بن ربيع بن عمرو انصاري ﷺ حالات:

اصل نوم يې سهل ﷺ دی، د پلار په نوم کې يې اختلاف دی: عمرو يا ربيع يا عبيد ښودل شوی دی، د انصارو قبيلې سره يې تعلق درلود، د دوی باره کې ذکر شوی دی چې ډېر لمونځونه او ذکرونه به يې کول، په ټولو جهادونو کې يې شرکت کړی دی، صرف د بدر په جنګ کې يې د عذر له وجې شرکت نه دی کړی، په دمشق کې اوسېدلو، د امير معاويه ﷺ په دور کې وفات شو، ۹ احاديث ترې نقل دي، په بخاري او مسلم کې يې هيڅ حديث نشته.

يو اوښ د خپل مالك شكايت رسول الله ﷺ ته وكړو

"وعن أبي جعفر عبد الله بن جعفر رضي الله عنهما، قال: أردفني رسول الله ﷺ ذات يوم خلفه، وأسرّ إليّ حديثاً لا أحدث به أحداً من الناس" د أبو جعفر عبد الله بن جعفر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ زه رسول الله ﷺ په خپل ځان پسې په سورلی پسې کېنولم، ماته يې د راز څو خبرې وکړې، زه به هغه خبرې هيچاته بيان نه کړم، "وكان أحب ما استتر به رسول الله ﷺ لحاجته هدف أو حائش نخل. يعني: حائط نخل" او رسول الله ﷺ به د قضاء حاجت په وخت د پردې لپاره دېوال يا د خورما ده زيات خوښ و. "رواه مسلم هكذا مختصراً".

"وزاد فيه البرقاني بإسناد مسلم - بعد قوله: حائش نخل - فدخل حائطا لرجل من الأنصار، فإذا فيه جمل، فلما رأى رسول الله ﷺ جرجر وذرفت عيناه" او برقاني رحمه الله د مسلم په سند سره اضافه كړې ده، ددې قول وروسته چې (حائش نخل) بيا وروسته رسول الله ﷺ د يو انصاري باغ ته داخل شو، په دې باغ كې يو اوښ وو، كله چې هغه اوښ رسول الله ﷺ وليدو، نو هغه چيغې كړې او سترګې يې له اوښكو ډكې شوې، "فأتاه النبي ﷺ فمسح سراته - أي: سنامه - وذفراه فسكن، فقال: من رب هذا الجمل؟ لمن هذا الجمل؟" رسول الله ﷺ هغه اوښ ته ورغلو، د هغه اوښ په اوچت خاى (كوهان) او د غوږونو په شا يې لاس ووهلو، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل ددې اوښ مالك څوك دى، دا اوښ د چا دى؟ "فجاء فتى من الأنصار، فقال: هذا لي يا رسول الله. قال: أفلا تتقي الله في هذه البهيمة التي ملكك الله إياها؟" يو انصاري ځوان راغلو، هغه ووېل: يا رسول الله ﷺ دا زما دى. نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: ايا ته د الله ﷻ نه ددې څارويو باره كې نه وېرېږې چې ته يې مالك كړى يې؟! "فإنه يشكو إلي أنك تجيعه وتدئبه" دغه اوښ ماته شكايت وكړو چې ما وږى ساتي او كار رانه ډېر غواړي. رواه أبو داود كرواية البرقاني

"قوله ((ذفراه)): هو بكسر الذال المعجمة وإسكان الفاء، وهو لفظ مفرد مؤنث. قال أهل اللغة: الذفرى: الموضع الذي يعرق من البعير خلف الأذن، وقوله: ((تدئبه)) أي: تتعبه" دا قول چې (ذفراه) د (ذ) په زېر او په سكون د (ف) سره دى، دا مفرد او مونث لفظ دى، اهل لغت وايي چې د اوښ د غوږ هغه وروستى برخه چې خوله ورباندې راځي او دا قول چې (تدئبه) ددې مطلب دا دى چې وږې يې ساتي.

تشريح: **واسر إلى حديثا لا أحدث به أحدا من الناس؟** ماته يې يوه خبره وكړه زه به هغه خبره چاته بيان نه كړم، نبي كريم ﷺ چې كومه خبره عبد الله بن جعفر رضي الله عنه ته ويلې وه، هغه به يقيناً كومه ذاتي خبره وي، كه نو د شريعت خبره پټول حرام دي

فانه يشكوا إلى انك تجيعه وتدئبه: دغه اوښ ماته شكايت وكړو چې تا وږى ساتلى دى او ستړى كړى دې دى، دا د رسول الله ﷺ معجزه وه چې دوى ته معلومه شوه چې دا اوښ څه وايي، د هغه مالك ورته لږ خوراك وركوي او كار ترې زيات اخلي، په څارويو باندې ظلم كول په شريعت كې حرام دى، كه يو انسان په بل باندې ظلم كوي دا به څرنګه جائز شي؟

د راوي ابو جعفر عبد الله بن جعفر رضي الله عنهما حالات:

اصل نوم يې عبد الله رضي الله عنه دى، د پلار نوم يې جعفر دى، د رسول الله ﷺ د تره زوى او د جعفر طيار رضي الله عنه بچى وو، كله چې جعفر رضي الله عنه حبشې ته هجرت وكړو، نو عبد الله رضي الله عنه په حبشه كې پيدا شو، كله چې جعفر رضي الله عنه په اومه هجري كې مدينې منورې ته راغلو، نو په دې وخت كې عبد الله رضي الله عنه د اوه كالو وو، په دې وخت كې يې د رسول الله ﷺ سره بيعت وكړو. بيا لږه موده پس د موته په غزا كې جعفر رضي الله عنه شهيد شو، ځكه به رسول الله ﷺ د عبد الله رضي الله عنه سره ډېره مينه كول، په يوه موقع باندې رسول الله ﷺ وفرمايل چې عبد الله رضي الله عنه صورتا او سيرتا زما په

شان دی، علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمايي: عبد الله رضي الله عنه كريم النفس، خوش اخلاقه او ډېر زړور سخي، پاك او رښتونی انسان وو، كله چې ابن ملجم علي رضي الله عنه شهيد كړو، نو د هغوی څخه عبد الله رضي الله عنه قصاص واخيستلو او پښې لاسونه يې ترې پرې كړل.

په ٨٠ هجري كې په مدينه منوره كې وفات شو، د مدينې منورې والي ابان بن عثمان هغوی ته په خپل لاس كفن وركړو، جنازه يې په خپلو اوږو راواخيسته او په جنت البقيع كې يې دفن كړو، د دوی په جنازه كې ډېر زيات خلك وو، كله چې رسول الله ﷺ وفات شو، په دې وخت كې د عبد الله عمر لس كاله وو، په دې زمانه كې يې يو څو احاديث ياد كړي وو، په دې كې دوه حديثونه په بخاري او مسلم كې دي.

تر څو چې صحابه وو كډې نه وې سپړلې تر هغې به يې لمونځ نه كولو

"وعن أنس رضي الله عنه قَالَ: كُنَّا إِذَا نَزَلْنَا مَنْزِلاً، لاَ نُسَبِّحُ حَتَّى نَحُلَّ الرِّحَالَ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې موږ به تر هغه لمونځ نه كولو تر څو چې به موږ د اوښانو نه كډې نه وې سپړلي، "رواه أبو داود بإسناد على شرط مسلم".

"وَقَوْلُه: ((لاَ نُسَبِّحُ)): أيْ لاَ نُصَلِّي النَّافِلَةَ" دا قول چې (لانسبح) يعنې موږ به تر هغې نفلي لمونځونه نه كول، "ومعناه: أنَّا - مَعَ حِرْصِنَا عَلَى الصَّلاَةِ - لاَ نُقَدِّمُهَا عَلَى حَطِّ الرِّحَالِ وَإرَاحَةِ الدَّوَابِّ" ددې معنی دا ده: سره له دې چې موږ به په نفلي لمونځ باندې ډېر حرص كولو، خو تر څو چې به موږ د اوښانو نه كډې خلاصې كړې نه وې او اوښان به مو ارام كړي نه وو، تر هغه پورې به مو لمونځ نه كولو.

تشريح: رحال جمع د رحل ده، ددې معنی ده: پالان يا كجاوه، يعنې د سورلۍ والا څاروي باندې چې كومه كډې وغيره كېښودلی شي، هغې ته رحال ويل كيږي، "لانسبح" عمومي طور ددې اطلاق په نفلي لمونځ كيږي، خينو خلكو ويلي دي: ددې نه مراد د څاښت لمونځ دی، ځكه چې په هغه زمانه كې عام طور په يو ځای كې د پړاو اچولو وخت به عموما د څاښت وخت وو، بهرحال كله چې به صحابه كرامو كوم ځای پړاو كولو، نو تر ټولو اول به يې د اوښانو څخه بوجونه ښكته كړل، ددې لپاره چې دوی ته هم څه راحت نصيب شي.

باب إعانة الرفيق

د ملګري مرسته كول

"في الباب أحاديث كثيرة تقدمت كحديث" په دې باب كې ډېر زيات حديثونه دي كوم چې مخكې تېر شوي دي، لكه دا حديث چې "وَاللهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أخِيهِ" الله ﷻ تر هغه پورې د يو بنده مدد كوي تر څو چې بنده د خپل مسلمان ورور مدد كوي، "وحديث: كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ" او يا لكه دا حديث چې: هره نيكي صدقه ده، "وَأشْبَاهِهِمَا" او داسې نور حديثونه...

Maktaba Tul Ishaat. com

د چا سره چې زيات شيان وي، هغه دې ضرورتمندو ته ورکړي

"وعن أبي سعيد الخدري ﷺ، قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ فِي سَفَرٍ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ عَلَى رَاحِلَةٍ لَهُ، فَجَعَلَ يَصْرِفُ بَصَرَهُ يَمِيناً وَشِمَالاً، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ:" د ابو سعيد خدري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي مونږ په يو سفر باندې روان وو، ناڅاپه يو کس په سورلۍ باندې سپور راغلو، اخوا دېخوا يې کتل، رسول الله ﷺ وفرمايل "مَنْ كَانَ مَعَهُ فَضْلُ ظَهْرٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لاَ ظَهْرَ لَهُ، وَمَنْ كَانَ لَهُ فَضْلُ زَادٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لاَ زَادَ لَهُ" د کوم کس سره چې زياتي سورلۍ وي، هغه دې داسې کس ته ورکړي چې سورلۍ ورسره نه وي، د کوم کس سره چې د سفر توښه زياته وي، هغه دې داسې کس ته ورکړي چې د سفر توښه يې نه وي، "فَذَكَرَ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ مَا ذَكَرَهُ، حَتَّى رَأَيْنَا أَنَّهُ لاَ حَقَّ لأَحَدٍ مِنَّا فِي فَضْلٍ" بس همدغه شان رسول الله ﷺ د مالونو نورو ډېر قسمونه بيان کړل، تردې چې مونږ ګومان وکړو چې د چا سره د ضرورت نه زيات کوم شيان وي هغه په دې کې هيڅ حق نه لري. بلکې دا د بل چا دي رواه مسلم

تشريح: يصرف بصره يميناوشمالاً: هغه کس اخوا دېخوا کتل، مطلب دا چې د هغه اوښه د خوراک نه ملاوېدو په وجه دومره کمزورې شوې وه چې هغه سپور سړي خپله اوښه په يو ځای باندې درولې نه شوه، هغه اوښه به کله اخوا تاوېده او کله دېخوا، ځينې محدثين ددې بل مطلب بيانوي هغه دا چې دې کس څلور طرفه داسې کتل: که ماته چېرته بله سورلي ملاو شي او د ضرورت اوبه خوراک وغيره راته ملاو شي، په دې وجه رسول الله ﷺ چې هغه بې سر او سامان وليدو، نو صحابه کرام يې دې ته متوجه کړل چې هغوی دې د ضرورت نه زيات سامان او خوراک دې کس ته ورکړي، په خپل مينځ کې دې د يو بل سره مرسته وکړيو اسلام لوی مخلصانه نظام دی، که د اسلام دغه نظام عام کړی شي، نو بيا څه مجال شته چې مسلمانان په خپلو کې سره وجنګيږي يا نفرتونه او کرکې سره پيدا کړي

په يوه سورلۍ با ندې دوه يا درې کسان په نمبر نمبر باندې سپرېدل

"وعن جابر ﷺ، عن رسول الله ﷺ: أَنَّهُ أَرَادَ أَنْ يَغْزُوَ، فَقَالَ: يَا مَعْشَرَ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنْصَارِ، إِنَّ مِنْ إِخْوَانِكُمْ قَوْماً لَيْسَ لَهُمْ مَالٌ، وَلاَ عَشِيرَةٌ" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يو ځل رسول الله ﷺ جهاد ته د تلو اراده وکړه، رسول الله ﷺ وفرمايل: اې د انصارو او مهاجرو ﷺ ډلې! په تاسو کې ځينې داسې کسان شته چې هغوی نه مال لري او نه خپلوان، "فَلْيَضُمَّ أَحَدُكُمْ إِلَيْهِ الرَّجُلَيْنِ أَوِ الثَّلاَثَةَ، فَمَا لأَحَدِنَا مِنْ ظَهْرٍ يَحْمِلُهُ إِلاَّ عُقْبَةٌ كَعُقْبَةِ" لهذا په تاسو کې هر يو کس ته پکار دي چې هغه د ځان سره دوه يا درې کسان يو ځای کړي، د کوم کس سره چې سورلي وه په دې سورلۍ باندې دوی په نمبر نمبر باندې سپرېدل، جابر ﷺ فرمايي ما هم د ځان سره دوه يا درې کسان يو ځای کړل، زما په اوښ باندې زما نمبر هغسې وو، لکه څرنګه چې په دوی کې د يو کس وو، "يعني أحدهم قَالَ: فَضَمَمْتُ إِلَيَّ اثْنَيْنِ أَوْ ثَلاَثَةً مَالِي إِلاَّ عُقْبَةٌ كَعُقْبَةِ أَحَدِهِمْ مِنْ جَمَلِي" يعني د دوی په شان زه هم يو کس وم؛ جابر ﷺ فرمايي: ما هم د ځان سره دوه درې کسان يو ځای کړل، زما نمبر هم د دوی دوارو په شان وو، رواه أبوداود

تشريح: ليس لهم مال ولا عشيرة: د هغوی سره نه مال شته او نه يې خپلوان شته، دا د مسلمانانو د ابتدائي ورځو خبرې دي چې د دوی سره کوم مال او دولت وو، هغه ټول يې په مکه کې پرېښودلو او د دوی د کورنۍ خلك هم ځينې په مکه کې پاتې وو، "فليضم أحدكم إليه الرجلين أو الثلاثة" هغوی دې د ځانو سره دوه درې کسان راواخلي، ددې نه د صحابه کرامو په زړونو کې د جهاد جذبه معلومه شوه چې د دوی سره هيڅ نه وو، خو بيا هم جهاد ته تيار وو، "كعقبة أحدهم من جمل" زما په اوښ باندې زما نصيب هغسې وو، لکه څرنګه چې د دوی دواړو وو، ددې نه مساوات معلومېږي چې مالداره او غريب د دوی په نزد ټول يو شان برابر وو.

رسول الله ﷺ به په سفر کې وروسته روان وو

"وعنه، قَالَ: كَانَ رسول اللّـه ﷺ يَتَخَلَّفُ في المَسِير" د جابر رضی الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د سفر په دوران کې تر ټولو وروسته روان وو، "فَيُزْجِي الضَّعِيفَ، وَيُرْدِفُ وَيَدْعُو لَهُ" کمزورې سورلۍ به يې د وروسته طرف څخه تېزول، يا به يې په هغې باندې سپور سړی د ځان سره يو ځای کولو او هغه ته به يې دعاء کول. رواه أبوداود بإسناد حسن.

لغوي تحقيق:

فيزجي: أزجى ازجاء. ددې معنی ده: څاروي تېزول، په هغې پسې غږ کول.

تشريح: يتخلف في المسير: رسول الله ﷺ به د سفر پرمهال وروسته روان وو، مطلب دا دی چې د لښکر امير به وروسته ځي، ددې لپاره چې د کمزورو مرسته وکړي، خپلو خلکو ته دعاء وکړي، الله ﷻ به د هغه د دعاء په برکت سره د کمزورو مرسته وکړي، که چېرته حالات خراب شي، نو بيا به امير وړاندې ځي، څکه چې کله کله د امير وړاندې تلل مناسب وي، که حالات صحيح وي، بيا وروسته تلل مناسب دي، لکه څرنګه چې به رسول الله ﷺ داسې کول.

باب ما يقول إذا ركب دابة للسفر

چې په سورلۍ باندې سپور شي نو څه به وايي

الله ﷻ څاروي دانسان تابع کړي دي

"قَالَ اللّٰهُ تعالیٰ" الله ﷻ فرمايي: "وَجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْفُلْكِ وَالْأَنْعَامِ مَا تَرْكَبُونَ لِتَسْتَوُوا عَلَىٰ ظُهُورِهِ" او ګرځولي دي الله ﷻ ستاسو لپاره د کشتيو نه او د چارپايانو نه هغه چې تاسو پرې څرېږئ او د هغې په شاګانو باندې تاسو برابر کېنئ! "ثُمَّ تَذْكُرُوا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ إِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ" بيا تاسو ياد کړئ د خپل رب نعمت کله چې تاسو د هغې په شاګانو باندې برابر شئ، "وَتَقُولُوا سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا" او تاسو په دعاء کې داسې ووايئ: پاك دی هغه ذات چې موږ ته يې دا سورلۍ تابعداره کړې دي، "وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا

Maktaba Tul Ishaat. com

لَمُنقَلِبُونَ" حال دا چې موږ دغه سوارلۍ په قابو کې نه شو راوستلی او موږ خپل رب ته واپس کېدونکي یو. [الزخرف:۲-۳].

تشريح: وجعل لكم من الفلك: د انسان لپاره سوارلۍ دوه قسمه دي: (۱) یو هغه چې دی یې خپله جوړه کړي، (۲) بل هغه چې الله ﷻ جوړې کړې وي، دلته د دواړو ذکر دی، کشتۍ د انسان د کسب نتیجه ده، څاروي وغیره الله ﷻ پیدا کړي دي، "لتستووا على ظهوره" دا په معنی ده: "تستقروا أو تستعلوا" سره دی، په څاروي باندې سپور شئ یا پرې کېنستئ، دومره مضبوط څاروي چې د انسان د وس او طاقت نه بهر وي، الله ﷻ ورته تابع کړي دي، که الله ﷻ داسې نه کولی، نو کله به هم انسان په اس یا خر باندې سورلي نه وه کړې، په دې باندې هم د الله ﷻ شکر ادا کول پکار دي، د شکر ادا کولو طریقه دا ده چې انسان کله هم په سوارلۍ باندې سپور شي، باید دغه دعاء ووايي: "سبحان الذي الخ".

وإنا إلى ربنا لمنقلبون: بې شکه چې موږ خپل رب ته واپس تلونکي یو، په دې جمله کې دې خبرې ته اشاره ده چې په دنیوي سفر باندې کله روانیږي نو باید چې آخروي سفر دې یاد وي، هغه درنه هېر نه وي، هلته کېږه اسانی سره د سفر کولو لپاره صرف نېک عملونه د سورلۍ کار ورکوي او بس!

د سفر دعاء

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ رسول الله ﷺ كَانَ إِذَا اسْتَوَى عَلَى بَعِيرِهِ خَارِجاً إِلَى سَفَرٍ، كَبَّرَ ثَلَاثاً" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله په خپله اوښه باندې کېنستلو او د سفر په اراده به روان شو، نو درې ځله به یې الله اکبر وویل، "ثُمَّ قَالَ: سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا" بیا به یې دا دعاء وويل: پاك دى هغه ذات چې موږ ته يې دغه سورلي تابعداره کړې ده، "وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ، وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ" موږ دا سورلۍ نه شوه قابو کولی، موږ خپل رب ته واپس کېدونکي یو، "اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِي سَفَرِنَا هَذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوَى" اې الله! موږ ستا نه ددې سفر د نېکۍ او د تقوی سوال کوو، "وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى" او داسې عمل درنه غواړو چې ته پرې راضي شې، "اللَّهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هَذَا" اې الله! دا سفر په موږ باندې آسان کړې؛ "وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَهُ" او ددې لرې والی زموږ نه لرې کړه! "اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ" اې الله! ته په دې سفر کې زموږ ملګری یې! "وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ" او دا ته زموږ په خاندان باندې نګهبان یې! "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ" اې الله! په تا سره د سفر د سختیو نه پناه غواړم، "وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ" او د سختو نظارو او تکلیفونو نه، "وَسُوءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ وَالْوَلَدِ" او اې الله! په تا سره د بد واپس کېدو نه د خپل مال، اهل او بچیانو لپاره پناه غواړم، "وَإِذَا رَجَعَ قَالَهُنَّ وَزَادَ فِيهِنَّ" او کله چې به واپس راتلو، نو رسول الله ﷺ به بیا هم دغه دعاګانې ویل او ورسره به یې دا هم زیات کړل، "آيِبُونَ، تَائِبُونَ" موږ رب ته رجوع کونکي او توبه ویستونکي یو، "عَابِدُونَ، لِرَبِّنَا حَامِدُونَ" د خپل رب عبادت کونکي یو او د خپل رب ثناء او صفت ویونکي یو. رواه مسلم.

"معنى ((مُقْرِنِيْنَ)): مُطِيْقِيْنَ" د (مقرنين) معنى ده: طاقت لرونكي، "وَ((الْوَعْثَاءُ)) بِفَتْحِ الْوَاوِ وَإِسْكَانِ الْعَيْنِ الْمُهْمَلَةِ وَبِالثَّاءِ الْمُثَلَّثَةِ وَبِالْمَدِّ وَهِيَ: الشِّدَّةُ" د (وعثآء) معنى ده: سختي او تكليفونه، "وَ((الْكَآبَةُ)) بِالْمَدِّ وَهِيَ تَغَيُّرُ النَّفْسِ مِنْ حُزْنٍ وَنَحْوِهِ" د كآبة معنى ده: غمجن كېدل، "وَ((الْمُنْقَلَبُ)): الْمَرْجِعُ" د منقلب معنى ده: د واپس كېدو ځاى

تشريح: محدثين فرمايي: دا يوه ښكلې او جامع دعاء ده، د سفر پرمهال هر وخت خطره خطرې وي، په دې دعاء كې د خپل ځان د حفاظت لپاره، د خپل مال او بال بچ لپاره هم دعاء، يعنې كوم شي چې الله ﷻ دي زما حفاظت هم وفرمايي، زما د بال بچ وغيره، فكر كول پكار دي چې د كوم كور يا مال او بال بچ حفاظت كونكى الله ﷻ جوړ شي، ايا داسې شيانو ته بيا څوك نقصان رسولى شي؟

په سفر باندې د روانېدو څخه وړاندې دعاء

"وعن عبد اللّٰه بن سَرْجِسَ ﷺ، قَالَ: كَانَ رسول اللّٰه ﷺ إِذَا سَافَرَ يَتَعَوَّذُ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ، وَكَآبَةِ الْمُنْقَلَبِ" د عبد الله بن سرجس ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به كله په سفر روانېدو، داسې دعاء به يې ويل: اې الله! زه پناه غواړم په تا سره د سفر د سختى نه، د ناخوښه واپسى څخه، "وَالْحَوْرِ بَعْدَ الْكَوْنِ" او د كمال ترقي نه وروسته تنزل او بد حالې طرفته، "وَدَعْوَةِ الْمَظْلُومِ" د مظلوم د ښيرا نه، "وَسُوءِ الْمَنْظَرِ فِي الْأَهْلِ وَالْمَالِ" او په خپل اهل عيال او خپلوانو كې د بد منظر نه په تاسو سره پناه غواړم. رواه مسلم

"هٰكَذَا هُوَ فِي صحيح مسلم: ((الْحَوْرِ بَعْدَ الْكَوْنِ)) بِالنُّونِ، وَكَذَا رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ" دغه شان په صحيح مسلم كې دي چې (الحور بعد الكون) په نون سره دى او دغه شان په ترمذي او نسائي كې هم دي: "قَالَ التِّرْمِذِيُّ: وَيُرْوَى ((الْكَوْرِ)) بِالرَّاءِ، وَكِلَاهُمَا لَهُ وَجْهٌ" ليكن امام ترمذي رحمه الله فرمايي: په (ر) يا په (نون) دواړو سره صحيح دى او معنى يې يوه ده

"قَالَ الْعُلَمَاءُ: وَمَعْنَاهُ بِالنُّونِ وَالرَّاءِ جَمِيعاً: الرُّجُوعُ مِنَ الْاِسْتِقَامَةِ أَوِ الزِّيَادَةِ إِلَى النَّقْصِ" علماء فرمايي: په (نون) سره شي او كه په (را) سره شي، د دواړو معنى استقامت يا د زيادت څخه كمې طرفته واپس كېدو ته وايي، "قَالُوا: وَرِوَايَةُ الرَّاءِ مَأْخُوذَةٌ مِنْ تَكْوِيرِ الْعِمَامَةِ وَهُوَ لَفُّهَا وَجَمْعُهَا" بيا علماء فرمايي: د (ر) په صورت كې به د (تكوير العمامة) نه ماخوذ شي چې د هغې معنى دا ده: پګړۍ راغونډول او جمع كول يې، "وَرِوَايَةُ النُّونِ مِنَ الْكَوْنِ، مَصْدَرُ كَانَ يَكُوْنُ كَوْناً: إِذَا وُجِدَ وَاسْتَقَرَّ" او په روايت د (نون) سره به بيا مصدر شي د (كان يكون) څخه، معنى به يې وجود او ثبوت شي

لغوي تحقيق:

الحور: ډوب والى، لګه وېل كېږي: (بعيد الحور) يعني هوښيار، حار (ن) حوراً وحوراً ومحاراً ومحارةً: ددې معنى ده: واپس كېدل، متحير كېدل، حارالشئ: ختمېدل، (كون كان يكون كوناً وكياناً وكينونةً، نوى شى پيدا كېدل، واقع كېدل، (الكون) عالم وجود، الكور د پګړۍ ولونه پېچل وغيره.

Maktaba Tul Ishaat. com

ستر جماعت، طبيعت، كار يكور كوراً: العمامة ونحوها على راسه: په سر باندې پګړۍ تړل

تشريح الحور بعد الكور: د حور معنى ده: د پګړۍ ولونه (پېچل) وغيره خلاصول، يعنې يو ځل چې پګړۍ وتړل شي بيا خلاصه كړى شي، دا كنايه ده: د فساد وروسته د اصلاح كولو څخه، د ايمان راوړلو وروسته په كفر كې مبتلا كېدل، د اطاعت نه وروسته په معصيت كې مبتلا كېدل، د (كون) معنى ده: استقرار او ثابت قدمه اوسېدل، معنى به يې دا شي: د ښه حالت نه وروسته بيرته واپس كېدل، يا په دې كې كمى راتلل، په اطاعت باندې سړى روان وي ناڅاپه بېرته واپس شي او ګمراهي شروع كړي يا په اطاعت كې كمى راولي دې ته (كون) ويل كيږي، دا دواړه الفاظ په حديث كې موجود دي.

دعوة المظلوم: د مظلوم سړي د ښيرو نه، د مظلوم سړي بدې ښيرې ډېر زر قبليږي، اګر چې مظلوم سړى كافر ولې نه وي، په يو روايت كې دي چې: د مظلوم د ښيرو او د الله ﷻ ترمينځ هيڅ پرده نشته، علماء فرمايي: كه يو څوك په سفر باندې روانيږي، بايد د سفر څخه وړاندې يې چې د چا سره ظلم كړى دى د هغه نه معافي وغواړي، هسې نه چې د هغه ښيرې د الله ﷻ په دربار كې قبولې شي او د سفر پرمهال په تكليف كې مبتلا نه شي، بل دا چې په يو روايت كې دي: كله چې كوم كس په سفر ځي نو بايد چې د خپل كور د دروازې چوكاټ ونيسي او دولس ځله (قل هو الله أحد) (سورت الاخلاص) ووايي، ان شاء الله چې تر واپسى پورې به يې الله ﷻ حفاظت كوي

د راوي عبد الله بن سرجس رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې عبد الله رضي الله عنه دى، د پلار نوم يې سرجس دى، د مزني قبيلې سره تعلق لري، دوى ته مخزومي هم ويل كيږي، د بصرې اوسېدونكى وو، احاديث يې په بصره كې زيات لوستل كيږي، اولس / ۱۷ روايات ترې منقول دي، درې په مسلم كې دي

په سوارلۍ باندې د سپرېدو دعاء

"وعن علي بن ربيعة، قال: شهدت علي بن أبي طالب رضي الله عنه، أتي بدابة ليركبها، فلما وضع رجله في الركاب، قال: بسم الله فلما استوى على ظهرها" د علي بن ربيعه رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې ما علي رضي الله عنه بن أبي طالب وليدو چې ده ته يوه سوارلۍ راوستل شوه چې پرې سپور شي. كله چې يې په ركاب باندې پښه كېښودل، نو وې ويل: بسم الله، كله چې يې په ملا باندې برابر شو، "قال: الحمد لله الذي سخر لنا هذا وما كنا له مقرنين، وإنا إلى ربنا لمنقلبون" نو بيا يې دا دعاء ووېل: "الحمد لله الذي الخ" صفتونه دي هغه ذات لره چې موږ ته يې دغه سوارلۍ تابعداره كړه او حال دا چې موږ دا سوارلۍ نه شوه لاندې كولى او موږ خپل رب ته واپس تلونكي يو، "ثم قال: الحمد لله، ثلاث مرات، ثم قال: الله أكبر، ثلاث مرات" بيا يې درې ځله الحمد لله ووېل او درې ځله يې الله اكبر ووېلو، "ثم قال: سبحانك إني ظلمت نفسي فاغفر لي إنه لا يغفر الذنوب إلا أنت" بيا يې دا دعاء ووېل: اې الله! پاكي ده تا لره، ما په خپل ځان باندې ظلم كړى دى، ماته بخښنه وكړه، ګناهونه راته معاف كړه! "ثم ضحك، فقيل: يا أمير المؤمنين، من أي شيء ضحكت؟" بيا علي رضي الله عنه وخندل، چا ورته ووېل: صيب

ولې دي وخندل؟ "قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ فَعَلَ كَمَا فَعَلْتُ ثُمَّ ضَحِكَ" هغه وويل: ما نبي كريم ﷺ په دې طريقه وليدو كومه طريقه چې ما اوس وكړه، نبي كريم ﷺ بيا همداسې وخندل. "فَقُلْتُ: يَارَسُولَ اللهِ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ" ما ورته وويل: يا رسول الله! ولې دي وخندل؟ "قَالَ: إِنَّ رَبَّكَ تَعَالَى يَعْجَبُ مِنْ عَبْدِهِ إِذَا قَالَ: اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي" نبي كريم ﷺ وفرمايل: ستارب تعجب كوي په هغه چا باندې چې داسې ووايي: اې زمارِبه، ګناهونه مې معاف كړه؛ "يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ غَيْرِي" او دى په دې ښه پوهيږي چې زما څخه سيوا بل څوك د ګناهونو معاف كونكى نشته. "رواه أبوداود والترمذي، وقال: ((حديث حسن))، وفي بعض النسخ: ((حسن صحيح)). وهذا لفظ أبي داود".

تشريح: رجله في الركاب: كله چې علي رحمه الله خپله پښه په زين باندې كېښوده، ركاب د اوښ هغه كړى ته ويل كيږي چې د اس دواړه طرفته ځوړند وي چې خلك پرې پښه كېږدي او اس ته پرې وخيږي. په يو بل روايت كې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د څارويو په شا باندې شيطان كيني، كله چې تاسو په څارويو باندې سوارلي كوئ، نو بسم الله وايئ. ددې حديث نه صحابه كرامو كامله اتباع او د رسول الله ﷺ په راوړل شوي شريعت باندې مزل كول معلوميږي. الله ﷻ دې موږ تاسو ټولو ته دغه شان كامله اتباع د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ نصيب كړي. آمين!

د راوي علي بن ربيعه رحمه الله حالات:

اصل نوم يې علي رحمه الله دى، د پلار نوم يې ربيعه دى، د كوفې اوسېدونكى وو، په مشرانو تابعينو كې شمار دى، په رواياتو كې ثقه دى.

باب تكبير المسافر إذا صعد الثنايا وشبهها وتسبيحه إذا هبط الأودية ونحوها والنهي عن المبالغة برفع الصوتِ بالتكبير ونحوه

كله چې په اوچت ځاى باندې تيريږي نو الله اكبر ويل او كله چې لاندې طرفته راځي نو سبحان الله ويل پكار دي

"عن جابر رضي الله عنه، قَالَ: كُنَّا إِذَا صَعِدْنَا كَبَّرْنَا" د جابر رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې موږ به كله په اوچت ځاى باندې ختلو، نو الله اكبر به مو ويل، "وَإِذَا نَزَلْنَا سَبَّحْنَا" او كله چې به ښكته كېدو، نو سبحان الله به مو ويل. رواه البخاري

تشريح: إذا صعدنا كبرنا: كله چې به موږ په اوچت ځاى باندې ختلو، نو الله اكبر به مو ويلو، د الله اكبر ويلو وجه دا ده چې: دنيا دار الاسباب ده، په دې كې لوړ لوړ غرونه شته، كه چېرته كوم كس په اوچت غر باندې خيژي نو د هغه په زړه كې به دا خيال راځي چې دا څومره لوړ غر دى. ددې لوړوالي نفي كولو لپاره حديث كې راغلل چې الله اكبر ويل پكار دي، په حقيقت كې الله ﷻ د هر څه نه لوى دى او اوچته مرتبه لري، دغه شان كه يو كس په زينو/ پوړۍ باندې خيژي، نو هم بايد الله اكبر ووايي

Maktaba Tul Ishaat. com

او که يو کس لاندې طرفته راځي، نو بايد سبحان الله ووايي، وجه يې دا ده چې په دنيا کې د مرتبې نه وروسته تنزل راځي، يو سړي ته چې کومه مرتبه حاصله شي، نو بهرته الله ﷻ د هم هغه نه دغه مرتبه اخيستلى شي، تنزل يا کموالى د ترقي په مقابله کې عيب دی، ليکن الله ﷻ د هر عيب نه پاک دی، نو په دې وخت کې سبحان الله ويل پکار دي

الله اکبر ويل د صحابه کرامو او رسول الله ﷺ عادت وو

"وعن ابن عمر رضى الله عنهما، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ وجيوشُهُ إِذَا عَلَوا الثَّنَايَا كَبَّرُوا" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ او د هغه لښکر به چې کله په اوچت ځای باندې ختلو، نو الله اکبر به يې ويلو، "وَإِذَا هَبَطُوا سَبَّحُوا" او کله چې به ښکته کېدو، نو سبحان الله به يې ويل رواه أبوداود بإسناد صحيح.

لغوي تحقيق:

هبطوا: د هبوط معنى ده: د پورته ځخه لاندې راتلل

تشريح: په دې حديث کې د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو عمل بيان شوی، کله چې به دوی په اوچت ځای باندې ختل، نو الله اکبر به يې ويلو چې ددې شيانو لوړوالی هيڅ نه دی، الله ﷻ د هر څه نه اوچت دی، که لاندې طرفته به راښکته کېدل، نو سبحان الله به يې ويل، يعني اې الله مونږ ستا پاکي بيانوو، باقي نور ټول شيان ختمېدونکي او فناء کېدونکي دي، يوازې ستا نوم به باقي وي

د حج يا عمرې نه په واپسی کې دعاء کول

"وعنه، قَالَ: كَانَ النَّبيُّ ﷺ إِذَا قَفَلَ مِنَ الحَجِّ أَوِ العُمْرَةِ، كُلَّمَا أَوْفَى عَلَى ثَنِيَّةٍ أَوْ فَدْفَدٍ كَبَّرَ ثَلاثاً" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله د حج يا عمرې نه واپس راتلو، نو کله چې به د شګو په ډېرۍ يا د ځمکې په اوچت ځای باندې ختلو، نو درې ځله به يې الله اکبر ويل، "ثُمَّ قَالَ: لاَ إلهَ إلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيءٍ قَدِيرٌ" بيا به يې دا دعاء ويل: **ترجمه:** نشته لائق د عبادت سوا د الله ﷻ نه چې واحد لا شريک له ذات دی، هغه ته بادشاهي ثابته ده او هم هغه ته ټول د خدايي تعريفونه دي، هغه په هر شي باندې قادر ذات دی، "آيِبُونَ، تَائِبُونَ، عَابِدُونَ، سَاجِدُونَ، لِرَبِّنَا حَامِدُونَ" رجوع کونکي يو، توبه ويستونکي يو، عبادت کونکي يو، سجده کونکي يو او د خپل رب ثناء ويونکي يو، "صَدَقَ اللهُ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ" زمونږ رب خپله وعده زمونږ سره رښتونې کړه او د خپل بنده مرسته يې وکړه او د کفارو لښکرو ته يې شکست خپله ورکړو، "متفقٌ عَلَيْهِ، وفي رواية لمسلم: إِذَا قَفَلَ مِنَ الجُيُوشِ أَوِ السَّرَايَا أَوِ الحَجِّ أَوِ العُمْرَةِ" او د مسلم په يو روايت کې دي چې کله به د غټ لښکر يا د وړوکي لښکر نه يا د حج او عمرې نه واپس شو، بيا به يې دغه دعاء ويل

"قَوْلُهُ: ((أَوْفَى)) أيْ: ارْتَفَعَ" دا قول چې (اوفى) ددې مطلب اوچت ختل دي، "وَقَوْلُهُ: ((فَدْفَدٍ)) هُوَ بفتح

الفائین بینهما دال مهملة ساکنة، وآخره دال أخری وَهُوَ: الغَلِيظُ المُرْتَفِعُ مِنَ الأَرْضِ" د (فدفد) نه مراد د ځمکې ...
اوچت ځای دی

لغوي تحقيق:

أوفی: د اوفی معنی ده. په اوچت ځای باندې ختل

تشريح په اوچت ځای باندې د ختلو پرمهال الله اکبر ویل، لاندې راتللو کې سبحان الله ویل دا صرف په سفر کولو پورې خاص نه دي. بلکې بېرته واپس راتللو کې یې ویل هم سنت دي

په سفر باندې تلونکي ته نصيحت

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رجلاً قَالَ: يَارسول الله، إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُسَافِرَ فَأَوْصِنِي" د أبو هريره ﷺ نه روایت دی هغه فرمايي چې يو کس د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او ورته یې وویل. یا رسول الله ﷺ زما د سفر اراده ده، ما ته څه وصيت وفرمایئ! "قَالَ: عَلَيْكَ بِتَقْوَى اللهِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل. په تا باندې لازم دي چې تقوی اختيار کړې! "وَالتَّكْبِيرِ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ" او بل دا چې په هر اوچت ځای باندې د ختلو په وخت الله اکبر ووایې! "فَلَمَّا وَلَّى الرَّجُلُ، قَالَ: اللَّهُمَّ اطْوِلَهُ البُعْدَ" کله چې هغه سړی روان شو، نو نبي کريم ﷺ ورته دعاء وکړه چې اې الله! ده د سفر لرې والی رانزدې کړه! "وَهَوِّنْ عَلَيْهِ السَّفَرَ" او په ده باندې دده سفر اسان کړه! "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن".

لغوي تحقيق:

شرف: شرف اوچت او لوړ ځای ته ویل کېږي

تشريح إني أريد أن أسافر: ما د سفر اراده کړې ده، علماء فرمايي: که یو کس د سفر اراده لري باید کوم نېک کس ته ورشي، د هغه څخه د دعاء درخواست وکړي، دا یو مستحب عمل دی، "عليك بتقوى الله" په ځان باندې تقوی لازمه کړه. مطلب دا چې انسان کله مقيم وي، نو د تقوی او تابعداری اهتمام دې کوي، لیکن د سفر په حالت کې عمومي طور په دې کې کمی راځي، نو رسول الله ﷺ دې طرفته ترغيب ورکړو چې د سفر پرمهال هم د تقوی اهتمام کوه.

الله ﷻ ستا سره دی

"وعن أبي موسى الأشعري ﷺ، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِي سَفَرٍ، فَكُنَّا إِذَا أَشْرَفْنَا عَلَى وَادٍ هَلَّلْنَا وَكَبَّرْنَا وَارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُنَا" د أبو موسى اشعري ﷺ نه روایت دی هغه فرمايي چې موږ د رسول الله ﷺ سره په یو سفر کې وو، موږ چې به کله په کوم اوچت ځای باندې ختلو، نو (لا إله إلا الله) او (الله اکبر) به مو ویل او په دې باندې به زموږ اوازونه اوچت شول. "فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ، ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ" نبي کريم ﷺ وفرمايل. اې خلکو په ځانونو باندې رحم وکړئ! "فَإِنَّكُمْ لَا تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلَا غَائِباً" تاسو کوڼ یا غائب ته چيغې نه وهئ! "إِنَّهُ مَعَكُمْ، إِنَّهُ سَمِيعٌ قَرِيبٌ" بلکې د هغه ذات ستاسو سره دی، ستاسو خبرې اوري او ستاسو سره نزدې دی. متفق عليه

Maktaba Tul Ishaat. com

"اِرْبَعُوا بفتح الباء الموحدة أي: اُرْفُقُوا بِأَنْفُسِكُمْ" دا قول چې (اربعوا) ددې معنی ده: په ځان باندې رحم کول

تشريح: وارتفعت أصواتنا: زمونږ اوازونه پورته شول، کېدی شي چې د ضرورت نه زيات يې اوازونه پورته کړي وي، نو ځکه رسول الله ﷺ دغسې خوښ نه کړل، بلکې وې فرمايل: خپل ځانونه په مشقت کې مه اچوئ، ښه په اطمينان، سکون او معتدل اواز سره يې وايئ.

إنه معكم إنه سميع قريب: الله ﷻ ستاسو سره دی، يقيناً هغه اورې او نزدې دی، همدغسې مضمون په قرآن کريم کې شته، "وإذا سألك عبادي عني فإني قريب" کله چې زما بندګان زما په باره کې درنه پوښتنه وکړي، نو په جواب کې ورته وايه چې هغه نزدې دی، بلکې په يو بل ځای کې ارشاد دی. "ونحن أقرب إليه من حبل الوريد" مونږ هغوی ته د دوی د شارګ نه هم زيات نزدې يو.

باب إستحباب الدعاء في السفر

د سفر پر مهال دعاء

"وعن أبي هريرة ؓ، قال: قال رسول الله ﷺ: ثلاث دعوات مستجابات لا شك فيهن" د أبو هريره ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: درې دعاګانې داسې دي چې په قبلېدو کې يې هيڅ شک نشته. "دعوة المظلوم، ودعوة المسافر، ودعوة الوالد على ولده" يوه دعاء د مظلوم سړي ده، بله دعاء د مسافر ده او بله د پلار بد دعاء خپلو بچيانو ته ده. "رواه أبو داود والترمذي، وقال: ((حديث حسن))، وليس في رواية أبي داود: على ولده" د ابو داود ؒ په روايت کې (على ولده) لفظ نشته

تشريح: په دې حديث کې ارشاد دی چې د درې قسمه خلکو دعاګانې نه رد کيږي، بلکې قبليږي، يو يکې مظلوم دی، د مظلوم ښيرې د ظالم په حق کې سمدستي قبليږي، دا ځکه چې د مظلوم په ښېرو کې اخلاص زيات وي، د کوم سړي په دعاء کې (که هغه ښيرې وي او که دعاء وي) اخلاص زيات وي دغسې دعاء سمدستي قبليږي، دويم مسافر دی، د کوم مسافر سره چې ښه سلوک وکړی شي، نو د مسافر دعاء هم نه رد کيږي، بلکې سمدستي قبليږي، دغه شان که چا مسافر تکليف کړو او هغه ورته ښيرې وکړې، نو هم سدستي قبليږي، نه رد کيږي، بل د پلار ښيرې د بچيانو په حق کې، په دې حديث کې لفظ د (والد) راغلی دی، په يو بل روايت کې لفظ د (والده) راغلی دی، د مور ښيرې خو ډېرې تيزې قبليږي او دا ځکه چې د مور حق په بچيانو باندې د پلار نه هم زيات دی.

باب ما يدعو به إذا خاف ناسا أو غيرهم

د وېرې دعاء

"عن أبي موسى الأشعري ؓ: أن رسول الله ﷺ كان إذا خاف قوما، قال: اللهم إنا نجعلك في نحورهم" د أبو موسی اشعري ؓ نه رويت دی چې رسول الله ﷺ به د کوم قوم څخه وېره وشوه، نو داسې دعاء به يې کول

اې الله! زه تا د دوی په مقابل کې ګرځوم، "وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شُرُورِهِمْ" او په تا سره د دوی د شرونو نه پناه غواړم. رواه أبوداود والنسائي بإسنادٍ صحيحٍ.

لغوي تحقيق:

نحورهم: نحر ينحر نحراً، مقابله کول، د سينې پورتنی حصه، لکه ويل کيږي چې (قعد في نحر فلان) يعني دغه کس د فلانکي مقابله وکړه.

تشريح: **نحورهم:** نحور جمع د نحر ده، هغه ځای ته ويل کيږي چې ښاروي پکې حلالولی شي، د حديث مطلب دا دی: اې الله! موږ به ستا په مرسته خلاصيږو، تاسو ددې کافرانو چلونه او تدبيرونه زموږ څخه واړوه او د هغوی د سينو طرفته يې کړه، دا دعاء عامو حالاتو کې لوستل پکار دي، ليکن بيا د سفر پرمهال يې خامخا ويل پکار دي، ددې لپاره چې د دښمن نه د نقصان رسيدو خطره زياته وي.

بَاب مَا يقول إِذَا نزل منزلاً

کله چې په کوم ځای کې پړاو وکړئ نو کومه دعاء به واييئ

"عن خولة بنتِ حَكِيمٍ رضي الله عنها، قالت: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ يقُولُ: مَنْ نَزَلَ مَنْزِلاً ثُمَّ قَالَ: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ" د خوله بنت حکيم رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي، ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چې فرمايل يې: څوک چې په کوم ځای کې پړاو وکړي او بيا داسې دعاء وکړي. **ترجمه:** اې الله! ستا په پاکو کلماتو سره زه پناه غواړم د هغه شر څخه چې پيدا شوی دی، "لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ حَتَّى يَرْتَحِلَ مِنْ مَنْزِلِهِ ذَلِكَ" هغه ته به هيڅ شی تاوان نه رسوي تر هغه پورې چې ددې کور څخه روان نه شي. رواه مسلم.

تشريح: کله چې انسان سفر کوي او په کوم ځای کې پړاو اچوي، نو که دغه ذکر شوي دعاګانې يې ولوستلې، هيڅ شی به ورته نقصان ونه رسوي، "بکلمات الله" د کلمات نه مراد د الله ﷻ ازلي صفات دي کوم چې د الله ﷻ سره خاص دي او هميش به ورسره وي، د (التامات) معنی ده: هميش د الله ﷻ سره وي، هيڅ قسم نقصان او عيب پکې نه وي.

د راوي خوله بنت حکيم رضي الله عنها حالات:

اصل نوم يې خوله رضي الله عنها ده، د پلار نوم يې حکيم دی، کنيت يې ام شريك دی، قبيله يې بنو سليم ده، د رسول الله ﷺ ترور وه، د دوی نکاح د عثمان بن مظعون رضي الله عنه سره شوې وه، په دويمه هجري کې چې کله عثمان بن مظعون رضي الله عنه وفات شو، نو بيا خوله رضي الله عنها بله نکاح ونه کړه، علامه ابن اثير رحمه الله فرمايي "كانت امرأة صالحة" ډېره ښه ښځه وه، په مسند احمد کې دي چې: "تصوم النهار وتقوم الليل" د ورځې به يې روژه وه او د شپې به يې عبادت کولو، پنځه ۵ روايات ترې نقل دي.

Maktaba Tul Ishaat. com

که د سفر پرمهال شپه شي، نو څه به کوي؟

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: كان رسول الله ﷺ إذا سافر فأقبل الليل، قال: يا أرض، ربي وربك الله" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله سفر کولو او شپه به راغله، نو داسې دعاء به يې کول اې ځمکې زما او ستا رب يو الله دى، "أعوذ بالله من شرك وشر ما فيك، وشر ما خلق فيك، وشر ما يدب عليك" زه پناه غواړم په الله ﷻ سره ستا د شر نه، د هغه شر نه چې په تا کې دى، د هغه شر نه چې په تا کې پيدا دى او د هغه شر څخه چې ستا په مخ ګرځي، "وأعوذ بك من شر أسد وأسود" او زه پناه غواړم په الله ﷻ سره د شر د زمري نه او د شر د انسان نه، "ومن الحية والعقرب" او زه پناه غواړم په الله ﷻ سره د شر د مار نه او د شر د لړم نه، "ومن ساكن البلد" او زه پناه غواړم په الله ﷻ سره د ښار د اوسېدونکو پيريانو څخه، "ومن والد" او زه پناه غواړم په الله ﷻ سره د ابليس نه، "وما ولد" او زه پناه غواړم په الله ﷻ سره د شيطانانو نه. رواه أبوداود.

"و((الأسود)): الشخص" د (الاسود) نه مراد انسان دى، "قال الخطابي: و((ساكن البلد)): هم الجن الذين هم سكان الأرض" امام خطابي رحمه الله فرمايي چې د ساكن البلد نه مراد پيريان دي کوم چې په ځمکه کې اوسيږي، "قال: والبلد من الأرض: ما كان مأوى الحيوان، وإن لم يكن فيه بناء ومنازل" او بيا فرمايي چې د ښار نه مراد دلته هغه ځاى دى په کوم ځاى کې چې د ژوندي شي وخت تيريږي اګرچې هلته کورونه او يا قلاګانې نه وي، "قال: ويحتمل أن المراد: ((بالوالد)) إبليس" او دا خبره احتمال لري چې د الوالد نه مراد ابليس شي، "((وما ولد)): الشياطين" او د (ولد) څخه مراد شيطانان شي

لغوي تحقيق:

يدب: دب يدب دبًا ضرب يضرب دى، ددې معنى ده: ښخېدل، په پښو او لاسونو باندې په ځمکه مزل کول

تشريح: علماء فرمايي : که چېرته د سفر پرمهال شپه راشي، نو دغه حديث بايد ولولي، دېره مفيده او جامع دعاء ده، "شر ما فيك" ددې نه مراد هغه څه دي چې په ځمکه کې وي، يعنې د ځمکې ضرري او تکليف ورکونکي حشرات مراد دي، لکه مار، لړم وغيره ، په دې حديث کې د مار لړم او د شيطان تولو نه په الله ﷻ سره پناه اخيستل شوې ده، ددې لپاره چې جسماني او روحاني دواړو حفاظت وشي، کوم کس چې مذکوره دعاء ووايي نو داسې کس جسماني او روحاني هر لحاظ سره د الله ﷻ په پناه کې راشي

باب إستحباب تعجيل المسافر الرجوع إلى أهله إذا قضى حاجته

كله چې مسافر خپل مقصد پوره كړي، بايد سمدستي كورته واپس شي

سفر د عذاب يوه حصه ده

"عن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: السَّفَرُ قِطْعَةٌ مِنَ الْعَذَابِ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: سفر د عذاب يوه ټكړه ده، "يَمْنَعُ أَحَدَكُمْ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ وَنَوْمَهُ" تاسو منع كوي د خوراك نه، د څښاك نه او د خوب نه. "فَإِذَا قَضَى أَحَدُكُمْ نَهْمَتَهُ مِنْ سَفَرِهِ، فَلْيُعَجِّلْ إِلَى أَهْلِهِ" كله چې په تاسو كې كوم كس د سفر مقصد پوره كړي (يعنې د كوم مقصد لپاره چې يې سفر شروع كړى وي) بايد خپل كورته زر واپس راشي. "متفقٌ عَلَيْهِ. ((نَهْمَتُهُ)): مَقْصُودُهُ" د (نهمته) نه مراد مقصد دى.

تشريح: السفر قطعة من العذاب: سفر د عذاب يوه حصه ده، په سفر كې انسان جسماني او روحاني دواړو مشقتونو كې مبتلا وي، جسماني تكليف خو ظاهر دى، خوراك څښاك او آرام يې پوره نه وي، روحاني مشقت دا دى چې د جمعې جمعه يا د جماعت لمونځ ترې فوت كيږي، نو ځكه فرمايي چې كله تاسو خپل كار پوره كړئ، نو سمدستي واپس كورته راځئ، بې ضرورته ځان ته سفر مه اوږدوئ!

باب إستحباب القدوم على أهله نهارا وكراهته في الليل لغير حاجة

كورته د سفر نه د ورځې راتلل پكار دي، بغير ضرورته د شپې راتلل مكروه دي

"عن جابر ﷺ: أَنَّ رسولَ الله ﷺ، قَالَ: إِذَا أَطَالَ أَحَدُكُمُ الْغَيْبَةَ" د جابر ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "فَلَا يَطْرُقَنَّ أَهْلَهُ لَيْلاً" د شپې له خوا خپل كورته مه راځئ!

"وفي رواية: أَنَّ رسول الله ﷺ نَهَى أَنْ يَطْرُقَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ لَيْلاً" په يو بل روايت كې راغلي دي چې رسول الله ﷺ منع فرمايلي دي چې د شپې سړى خپل كورته راشي. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: دا ممانعت د زيات سفر كولو په وخت كې دى چې د شپې به نه راځئ بلكې د ورځې دې راشي، ددې لپاره چې ښځه خپل ځان صفا كړي، كه سفر نژدې وي يا ښځې ته د راتلو علم وي، نو بيا كه د شپې راشي هيڅ پرواه نشته

د سفر نه سهار يا ماښام راشه!

"وعن أنس ﷺ، قَالَ: كَانَ رسولُ الله ﷺ لا يَطْرُقُ أَهْلَهُ لَيْلاً" د انس ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ عادت دا وو چې د شپې به يې خپل كورته تشريف نه راوړلو، "وَكَانَ يَأْتِيهِمْ غُدْوَةً أَوْ عَشِيَّةً" بلكې يا به سهار وختي راتلو او يا به بېگا د شپې له خوا راتلو، "متفقٌ عَلَيْهِ ((الطُّرُوقُ)): المجيءُ في اللَّيْلِ" د (الطروق) معنى ده: د شپې راتلل

تشريح: د سفر نه د واپسى په حالت كې د شپې كورته راتلل پكار نه دي، لكه څرنگه چې

Maktaba Tul Ishaat. com

وراندې حديث كې دا مسئله ذكر شوه، بلكې د سهار په وخت يا د ماښام په وخت كور ته راشئ، په شرح السنة كې يو روايت دى چې راوي يې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دى، دوه كسان د سفر نه په واپسي كې د شپې كور ته راداخل شول، كله چې كور ته رادننه شول، نو وې كتل چې د ښځو سره يې پردي سړي دي، دغه مسافر سړي هغه سړى مړ كړو، بيا وروسته پته ولګېده چې دا خو ددې ښځې محرم وو، داسې كيږي چې څينې وخت ښځه ويريږي نو كور ته خپل محرم سړى لكه: ورور يا پلار راداخل كړي، دغه شان دلته هم وشو.

باب مَا يقول إِذَا رجع وإِذَا رأى بلدته

كله چې خپل كور كلي ووينې نو څه به وايې؟

"فِيهِ حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ السَّابِقُ فِي بَابِ تَكْبِيرِ الْمُسَافِرِ إِذَا صَعِدَ الثَّنَايَا" دې باره كې د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما حديث دى چې مخكې تېر شوى، كله چې مسافر په اوچت ځاى باندې خيژي، نو (الله اكبر) به وايي

د سفر نه په واپسى كې دعاء كول

"وعن أنس رضي الله عنه، قَالَ: أَقْبَلْنَا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِظَهْرِ الْمَدِينَةِ" د انس رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې كله به موږ مدينې منورې ته راورسېدو او مدينه منوره به راته ښكاره شوه، "قَالَ: آيِبُونَ، تَائِبُونَ، عَابِدُونَ، لِرَبِّنَا حَامِدُونَ" نبي كريم ﷺ به دا دعاء ووېل: رجوع كونكي يو، توبه ويستونكي يو، د خپل رب عبادت كونكي يو، د خپل رب ثناء او صفت ويونكي يو، "فَلَمْ يَزَلْ يَقُولُ ذَلِكَ حَتَّى قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ" نبي كريم ﷺ به دا دعاء همېش كوله تر څو چې به مدينې منورې ته راورسېدلو. رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

ظهر المدينة: ددې نه مراد د مدينې منورې اطراف دي

تشريح: د سفر نه د واپسۍ په حالت كې دعاګانې لوستل مسنون عمل دى، دا څكه چې په ذهن كې دا خبره راننشي چې ما دا كار وكړو او دا كار مې وكړو، بلكې هر څه چې شوي دي هغه ټول الله ﷻ كړي دي، موږ خو الله ﷻ ته رجوع كونكي يو، توبه ويستونكي يو، يعني هر څه كمې چې راڅخه شوي دى، معافي يې د الله ﷻ نه غواړو، دا دعاء به يې پرلپسې ويل تر دې چې خپل كور ته به داخل شو.

باب استحباب ابتداء القادم بالمسجد الذى فى جواره وصلاته فيه ركعتين

مسافر چې كله خپل كلي ته راورسيږي، نو بايد د كلي په جوماتـ كې دوه ركعته نفل وكړي

"عن كعب بن مالك رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ" د كعب بن مالك رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ عادت دا وو چې كله به د سفر نه واپس راغلو، "بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ فَرَكَعَ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ" نو

د ټولو نه اول به جومات ته لاړو او هلته به يې دوه رکعته نفل وکړل. متفق عليه

تشريح: کله چې سړی کور ته د سفر نه واپس شي، نو پکار ده چې د کلي جومات ته لاړ شي، دوه رکعته نفل لمونځ وکړي، ددې لپاره چې په خير او عافيت سره الله ﷻ خپل کور ته واپس کړ، جومات ته راتلونکي داسې دی لکه د الله ﷻ سره چې يې ملاقات وشي، انسان ته پکار ده چې تر ټولو وړاندې د الله ﷻ سره ملاقات وکړي، هغه ذات چې دی يې خپل کور او خپلوانو ته په خير راوستلو

باب تحريم سفر المرأة وحدها

د ښځې سفر په يوازيتوب کې حرام دی

"عن أبي هريرة ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: لا يحل لامرأة تؤمن بالله واليوم الآخر" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه ښځه چې په الله ﷻ او د آخرت په ورځ ايمان لري، دا خبره جائز نه ده چې: "تسافر مسيرة يوم وليلة إلا مع ذي محرم عليها" خانته يواځې يوه شپه او يوه ورځ سفر وکړي، مګر دا چې محرم ورسره وي. متفق عليه

د ښځې لپاره بغير محرم څومره سفر جائز دی؟

تشريح: په دې حديث کې د يوې ورځې سفر کولو تذکره ده، په بل روايت کې د دوه ورځو، په څينو نورو کې د درې ورځو ذکر دی، په ظاهر کې د درې واړو حديثونو تضاد دی، علماوو ددې ګن شمېر جوابونه ليکلي دي: (۱) د محرم څخه بغير ښځه د درې ورځو نه زيات سفر نه شي کولی، که ددې څخه کم وخت وي او ضرورت وي، نو بيا جواز لري، البته که حالات خراب وي، نو بيا يوه ورځ او يوه شپه هم ځان ته سفر نه شي کولی، محرم ورسره ضروري دی. که فتنه او فساد کم وي، حالات مناسب وي، نو بيا د دوه ورځو سفر کولو اجازت شته او که بالکل امن وي، نو بيا د درې ورځو نه کم سفر کولی شي، ليکن ددې نه زيات سفر کول حرام دی، په دې سره به په ټولو احاديثو باندې عمل راشي.

(۲) شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله فرمايي: ددې ټولو روايتونو مقصد حد او موده متعين کول مقصود نه دي، بلکې مقصد يې دا دی چې ښځه به بې محرمه يا د خاوند څخه بغير مطلقاً سفر نه کوي، که د يوې ورځې مسافت وي او که د درې ورځو.

د غير محرم ښځې سره به سړی ناسته نه کوي

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما: أنه سمع النبي ﷺ، يقول: لا يخلون رجل بامرأة إلا ومعها ذو محرم" د عبد الله بن عباس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چې فرمايل يې: يو سړی دې هم د ښځې سره يواځې کيږي نه، مګر دا چې ذي رحم محرم سړی ورسره وي، "ولا تسافر المرأة إلا مع ذي محرم" او ښځه به ځانته يواځې سفر نه کوي مګر د ذي رحم محرم سره، "فقال له رجل: يا رسول الله، إن امرأتي خرجت

Maktaba Tul Ishaat. com

حَاجَّةً، وَإِنِّي اكْتُتِبْتُ فِي غَزْوَةِ كَذَا وَكَذَا؟" يو كس ووېل: يا رسول الله ﷺ زما ښځه د حج اراده لري او ما په فلانكي جهاد كې خپل نوم ليكلى دى، اوس څه وكړم؟ "قَالَ: انْطَلِقْ فَحُجَّ مَعَ امْرَأَتِكَ" ن نبي كريم ﷺ وفرمايل: لاړ شه او د خپلې ښځې سره يو ځاى حج وكړه. متفقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

كتبت: په دفتر، رجستر او كتابچه كې مې خپل نوم ليكلى.

تشريح: لايخلون رجل بامراة الا ومعها ذو محرم: يو كس به هم د پردى ښځې سره يو ازې نه كښيني، په بل روايت كې دي چې: "لايخلون رجل بامراة الاكان ثالثهما الشيطان" كله چې هم يو غير محرم سړى د پردى ښځې سره خانته شي، نو هلته دريم ملګرى شيطان وي. شيطان ددې ښځې او سړي جنسي شوق او جذبه راپاروي، تردې چې په دوى باندې جنسي شوق غلبه وكړي، زنا ترې وشي، نو څكه شريعت ووېل د محرم نه علاوه پردى ښځه او پردى سړى به نه جمع كيږي.

د محرم تعريف:

د چا سره چې شريعت د هميش لپاره نكاح حرامه كړې ده، هغه كه د خپلوى په وجه وي او يا بې كه شيدې رودلې وي.

كتاب الفضائل

د فضيلتونو بيان

باب فضل قراءة القرآن

د قرآن كريم د تلاوت فضيلت

"عن أبي أُمَامَةَ ﷺ، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ اللّـهِ ﷺ، يقول: اقْرَؤُوا القُرآنَ" د ابو امامة ﷺ نه روايت دى هغه فرمايې چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: د قرآن كريم تلاوت كوئ، "فَإِنَّهُ يَأْتِي يَوْمَ القِيَامَةِ شَفِيعاً لأَصْحَابِهِ" څكه چې دا قرآن كريم به ستاسو لپاره د قيامت په ورځ سفارشي وي. رواه مسلم.

تشريح: اقرؤوا القرآن: د قرآن شريف تلاوت كوئ، صرف تلاوت كول هم د سعادت خبره ده، كه په معانيو كې ورسره غور وشي، نو بيا خو (نور على نور) ده.

شفيعاً لأصحابه: د لوستونكي لپاره به سفارش كوي، مطلب دا چې الله ﷻ به قرآن شريف ته د خبرو طاقت وركړي، همدغه قرآن شريف چې چا لوستى وي عمل يې پرې كړى وي، د الله ﷻ په دربار كې به سفارش كوي، د هغه د ګناهونو د معافى ذريعه به جوړه شي او د هغه سفارش به الله ﷻ قبول كړي.

د سورت بقره او آل عمران فضيلت

"وعن النَّوَّاس بن سمعان رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ يقول: يُؤْتَى يومَ القيامَةِ بالقرآنِ وأهلِه الذين كانوا يعملون به في الدُّنيا" د نواس بن سمعان رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: د قيامت په ورځ قرآن کريم او هغه کس چې په دې يې عمل کړی وي راوستل به شي "تَقْدُمُه سورةُ البقرةِ وآلِ عمران، تُحَاجَّانِ عَنْ صَاحِبِهِمَا" سورت آل عمران او سورت البقره به راوړاندې شي او د خپل ويونکي لپاره به سفارشونه کوي. رواه مسلم

تشريح: يؤتى يوم القيامة بالقرآن: قرآن مجيد به د قيامت په ورځ راوړل شي. مطلب دا چې قرآن شريف به په خپل شکل (يعنې په قرآني) شکل به د حشر ميدان ته راوړل شي، يا د قرآن نه مراد د قرآن کريم د لوستو ثواب به راوستل شي. "واهله الذين كانوا يعملون به في الدنيا" په دنيا کې چې چا قرآن کريم لوستی دی، ددې نه معلومه شوه چې د قيامت په ورځ به قرآن شريف د هغو خلکو سفارش کوي چې په دنيا کې يې لوستی وي او عمل يې پرې کړی وي، کومو کسانو چې صرف لوستی دی او عمل يې پرې نه دی کړی، د داسې کسانو لپاره به قرآن شريف سفارش نه کوي. "تقدمه سورة البقرة وآل عمران" تر ټولو وړاندې به سورت بقره او سورت آل عمران وي، يعنې د سورت بقره او آل عمران ثواب به تر ټولو وړاندې وي. د الله ﷻ په دربار کې به سفارش کوي او خپل لوستونکي به جنت ته داخل کړي. علماء کرام ددې نه استدلال کوي چې اجر او ثواب به د قيامت په ورځ په ظاهري شکل او صورت کې وي.

په ټولو خلکو کې غوره انسان څوک دی؟

"وعن عثمان بن عفان رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ القُرْآنَ" د عثمان بن عفان رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې غوره انسان هغه دی چې قرآن کريم يې زده کړو "وَعَلَّمَهُ" او بل چاته يې وښودلو. رواه البخاري

تشريح: "من تعلم القرآن" څوک چې قرآن کريم زده کړي. د لوستلو نه مراد د قرآن کريم علوم دي. يعنې په دې غور او فکر وکړي، ددې احکام، معناګانې او حقائق دقائق زده کړي. نورو ته يې وښيي، يا کم نه کم ددې الفاظ صحيح کړي، داسې انسان په ټولو خلکو کې څکه غوره دی چې قرآن شريف په ټولو کتابونو کې غوره کتاب دی، نو ددې زده کونکي هم په ټولو خلکو کې غوره دي. محدثين فرمايي: دغه ذکر شوی حديث په (او) سره راغلی او په (و) سره هم راغلی، د (و) سره چې شي نو مطلب به يې دا شي چې: کوم کس يې خپله زده کړي او بيا يې نورو ته وښيي، داسې کس به په ټولو کې غوره وي. ليکن په څينو رواياتو کې (او) سره نقل دی، په دې صورت کې به مطلب داسې شي چې په تاسو کې غوره سړی هغه دی چې قرآن شريف يا خپله زده کړي يا يې نورو ته وښيي. د قيامت په ورځ به د عرش تر سيوري لاندې هغه خلک هم وي چې خلکو ته د قرآن شريف تعليم ورکوي.

Maktaba Tul Ishaat. com

په سختۍ سره د قرآن شريف لوستونکي اجر

"وعن عائشة رضي اللـه عنها، قالت: قَالَ رسول الله ﷺ: اَلَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَهُوَ مَاهِرٌ بِهِ" د عائشه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل هغه سړی چې د قرآن کريم په تلاوت کې مهارت لري، "مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ" دی به د هغو پرښتو سره وي چې سفيرې دي. عزتمندې دي او نيک کارې دي، "وَالَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيَتَتَعْتَعُ فِيهِ" او هغه کس چې قرآن لولي او بيا پکې نخلي، "وَهُوَ عَلَيْهِ شَاقٌّ لَهُ أَجْرَانِ" او ده ته په دې نخلو کې سختي وي، نو د داسې کس لپاره به دوه اجره وي. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: وماهر به: د قرآن شريف ماهر وي. مطلب دا چې قرآن شريف ورته ښه ياد وي او تلاوت ېې هم په ښه شوق سره کوي، "مع السفرة الكرام البررة" دا به د هغو پرښتو سره وي چې نېک عمله او مېراني وي، دا هغه پرښتې دي چې د لوح محفوظ نه قرآن شريف نقل کوي. يا هغه پرښتې دي چې د انسانانو عملونه ليکي، مطلب دا چې د قرآن شريف ماهر د پرښتو سره مشابهت لري. کومې پرښتې چې قرآن شريف د لوح محفوظ نه راوړي، نو د قيامت په ورځ به هم الله ﷻ د داسې کس ملګرتيا ددې عظيمو پرښتو سره کوي

ويتتعتع فيه: د قرآن کريم د تلاوت په مينځ کې نخلي. سختي ورته پيښيږي. يعني ده ته قرآن شريف ياد نه دی، نو سختي ورته پکې پيښيږي، د داسې کس دومره فضيلت دی چې ده ته دوه برابره ثواب ملاويږي، (۱) د تلاوت کولو ثواب. (۲) د تکليف رسېدو اجر. محدثين فرمايي کوم کس چې پکې نخلي نو داسې کس به د ماهر قرآن نه وړاندې ځي، ماهر قرآن به د خاصو پرښتو سره وي. ليکن مقصود دا دی چې کوم کس پکې نخلي، داسې کس ته ترغيب ورکولی شي چې د قرآن شريف تلاوت پرېنږدي، هغه ته هم فضيلت شته

د تلاوت کونکي او نه کونکي مثال

"وعن أبي موسى الأشعري ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلُ الْأُتْرُجَّةِ: رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا طَيِّبٌ" د أبو موسى اشعري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل هغه مسلمان چې د قرآن کريم تلاوت کوي د هغه مثال د (ليمو، نارنج) په شان دی چې خوند يې هم ښه دی او خوشبو يې هم ښه ده، "وَمَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ التَّمْرَةِ: لَا رِيحَ لَهَا وَطَعْمُهَا حُلْوٌ" او هغه مسلمان چې قرآن کريم تلاوت نه کوي د هغه مثال د خورما دی چې ښې شته ليکن خوشبو نه لري، "وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الرَّيْحَانَةِ: رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ" او هغه منافق چې د قرآن کريم تلاوت کوي د هغه مثال د ګلاب په شان دی چې خوشبو لري، ليکن خوند نه لري، "وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي لَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الْحَنْظَلَةِ: لَيْسَ لَهَا رِيحٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ" او هغه منافق چې قرآن کريم نه تلاوت کوي، د هغه مثال د مرغوني دی چې نه خوند لري او نه خوشبو لري. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: ددې حديث په تشريح کې شيخ الحديث مولانا زکريا رحمه الله فرمايي: په حديث کې مقصود د يو محسوس شي تشبيه د غير محسوس سره ده، ددې لپاره چې په ذهن کې د قرآن لوستونکي او نالوستي فرق راشي، کنه دا خبره ظاهره ده چې د قرآن شريف د خوند پسې د نارنج لېمو خوند کله رسېدلى شي، د قران شريف حافظ او په دې باندې عمل کونکي ښکلى رنګ او ښکلي خوشبو لري کوم چې د الله ﷻ په نزد محبوب دى، ليکن حافظ قرآن صرف د قرآن شريف تلاوت کوي، نو داسې کس هم د الله ﷻ په نظر کې عزتمند دى او کوم منافق چې قرآن شريف لولي، نو ظاهر يې د قرآن شريف په وجه ښايسته وي، ليکن باطن يې ګنده وي او کوم منافق چې د قرآن شريف تلاوت نه کوي، د هغه ظاهر او باطن دواړه ګنده او ناپاک وي

د قرآن برکت

"وعن عمر بن الخطاب رضي الله عنه: أَنَّ النبيَّ ﷺ، قَالَ: إِنَّ اللَّهَ يَرْفَعُ بِهَذَا الكِتَابِ أَقْوَاماً" د عمر بن خطاب رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ ددې کتاب (قرآن) په ذريعه سره ډېر خلک اوچتوي، "وَيَضَعُ بِهِ آخرِينَ" او ډېر خلک پرې ښکته کوي. رواه مسلم

تشريح: کوم خلک چې په قرآن کريم ايمان لري او په دې باندې عمل کوي، نو داسې خلک به دنيا او اخرت کې سر لوړي وي، کوم خلک چې په قرآن کريم عمل نه کوي نو داسې خلک الله ﷻ ذليل کړي دي، په قرآن کريم کې ارشاد دى: "يضل به كثيرا ويهدى به كثيراً" الله ﷻ ددې قرآن کريم په وجه ډېر خلک ګمراه کوي او ډېرو ته هدايت کوي، شيخ الحديث مولانا زکريا رحمه الله نقل کړي دي چې عامر بن واثله رضي الله عنه فرمايي: عمر رضي الله عنه نافع رَحِمَهُ اللهُ د مکې حرم حاکم جوړ کړو، عمر رضي الله عنه ترې پوښتنه وکړه چې: د ځنګل ناظم دې څوک جوړ کړى دى؟ هغه ورته وويل: ابن ابزا! عمر رضي الله عنه وفرمايل: ابن ابزا څوک دى؟ هغه ورته وويل: زموږ غلام دى، هغه ورته وويل: غلام دې ځنګه ناظم جوړ کړو؟ هغه ورته وويل هغه د قرآن کريم زيات تلاوت کوي او ددې قرآن په وجه الله ﷻ ډېرو ته اوچتې مرتبې ورکړې دي

په دوه شيانو کې حسد جائز دى

"وعن ابن عمر رضى اللهُ عنهما، عن النَّبيِّ ﷺ، قَالَ: لاَ حَسَدَ إِلاَّ فِي اثْنَتَيْنِ: رَجُلٌ آتَاهُ اللهُ القُرْآنَ، فَهُوَ يَقُومُ بِهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې حسد نه دى جائز، مګر په دوه کسانو باندې جائز دى: يو هغه سړى چې الله ﷻ د قرآن کريم د تلاوت کولو توفيق ورته نصيب کړى دى، هغه يې شپه او ورځ تلاوت کوي، "وَرَجُلٌ آتَاهُ اللهُ مَالاً، فَهُوَ يُنْفِقُهُ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ" بل هغه کس دى چې الله ﷻ ډېر زيات مال ورکړى وي او هغه يې شپه او ورځ د الله ﷻ په لار کې خرچ کوي. (متفقٌ عَلَيْهِ) ((وَالآنَاءُ)): السَّاعَاتُ.

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب الكرم والجود) کې تېر شوى دى، دلته امام نووي رحمه الله بيا ذکر کړو، په دې کې د قرآن کريم د قاري فضيلت ذکر شوى دى

Maktaba Tul Ishaat. com

قرآن کريم د رحمت باعث دی

"وعن البراء بن عازب رضي الله عنهما، قَالَ: كَانَ رَجُلٌ يَقْرَأُ سُورَةَ الْكَهْفِ" د براء بن عازب ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کس د سورت کهف تلاوت کولو، "وَعِنْدَهُ فَرَسٌ مَرْبُوطٌ بِشَطَنَيْنِ" د هغه اس په رسۍ باندې تړل شوی و، "فَتَغَشَّتْهُ سَحَابَةٌ فَجَعَلَتْ تَدْنُو، وَجَعَلَ فَرَسُهُ يَنْفِرُ مِنْهَا" په دغه سړي باندې د پورته څخه وريځ راغله او هغه وريځ په ده باندې رانښکته کېده او دی بې پټ کړو او د دغه سړي اس تو پونه شروع کړل، "فَلَمَّا أَصْبَحَ أَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ" کله چې سهار شو، نو دغه کس د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او ټوله کيسه يې ورته بيان کړه، "فَقَالَ: تِلْكَ السَّكِينَةُ تَنَزَّلَتْ لِلْقُرْآنِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا يوه سکينه وه چې د قرآن کريم تلاوت ته نازلېده. متفقٌ عَلَيْهِ

"الشَّطَنُ: بفتح الشين المعجمة والطاءِ المهملة: الحَبْلُ" د (الشطن) نه مراد رسۍ ده.

تشريح: يقرأ سورة الكهف: هغه کس سورة کهف تلاوت کولو، په دې کې د سورت کهف فضيلت بيان شوی دی چې د دې سورت په تلاوت سره په سړي باندې سکون نازلېږي، "تلك السكينة" هغه سکينه ده. د سکينې ذکر په ډېرو ايتونو او حديثونو کې راغلی دی، د دې په معنی کې د محدثينو اختلاف دی، مثلاً علامه سدي رحمه الله فرمايي: سکينه په اصل کې په جنت کې د يو لوښي نوم دی، په دې لوښي کې به د مسلمانانو زړونو ته غسل ورکولی شي، دويم قول دا دی چې سکينه د الله ﷻ د يو خاص رحمت نوم دی، دريم قول دا دی چې سکينه وقار او عزت ته ويل کېږي، څلورم قول دا دی چې ملائکو ته ويل کېږي، پنځم قول دا دی چې: سکينه د زړه اطمينان او سکون ته ويل کېږي، ليکن د محققينو رايه دا ده چې دا ټول اقوال صحيح دي او ټول ترې مراد کېدی شي، مطلب دا چې د صحابي د قرآن کريم په تلاوت سره الله ﷻ خپل رحمت او سکينه نازله کړه، دا د دې صحابي کرامت وو چې هغه وليدو او نورو خلکو ونه ليدلو.

د قرآن کريم په يو حرف لس نېکۍ ملاوېږي

"وعن ابن مسعود ﷺ، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: مَنْ قَرَأَ حَرْفاً مِنْ كِتَابِ اللهِ فَلَهُ حَسَنَةٌ" د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د قرآن کريم يو حرف تلاوت کړي، د هغه لپاره به يوه نېکي وي، "وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا" او يوه نېکي به د لسو نېکيو برابر وي، "لاَ أقول: (الم) حَرْفٌ وَلكِنْ: أَلِفٌ حَرْفٌ، وَلاَمٌ حَرْفٌ، وَمِيمٌ حَرْفٌ" نبي کريم ﷺ فرمايي: زه دا نه وايم چې (الم) يو حرف دی، بلکې الف ځانته حرف دی، ميم ځانته حرف دی او لام ځانته حرف دی "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: فله حسنة والحسنة بعشر أمثالها: د قرآن شريف د يو حرف په بدله کې ورته يوه نېکي ملاوېږي او د يوې نېکۍ بدله د ۱۰ لسو نېکيو برابره ده، همدغه مضمون په قرآن کريم کې هم شته، "من جاء بالحسنة فله عشر أمثالها" څوک چې يوه نېکي وکړي، هغه ته به د لسو نېکيو برابر ثواب ملاوېږي، دا تر

تولو کمه درجه ده، په قرآن کريم کې بل ځای ارشاد دی: "والله يضاعف لمن يشاء" الله ﷺ چې ...
وغواړي نو هغه ته نور هم زيات ورکوي، په حديث کې د (الم) باره کې ووېل شو چې دا يو حرف ...
بلکې الف ځانته حرف دی، لام ځانته حرف دی او ميم ځانته حرف دی، دغه شان پوره ديرش نيکۍ به
قاري ته ملاوېږي، دغه شان په يو روايت کې دي چې بسم الله يو حرف نه دی، بلکې ب، س، م، ځان
ځانته حرفونه دي

چاته چې قرآن شريف ياد نه وي، هغه د وران کور په شان دی

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: إِنَّ الَّذِي لَيْسَ فِي جَوْفِهِ شَيْءٌ مِنَ الْقُرآنِ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغه سړي مثال چې په سينه کې يې د قرآن کريم هيڅ حصه نه وي، "كَالْبَيْتِ الْخَرِبِ" لکه وران کور دی، (يعني لکه څنګه چې په وران کور کې څوك نه اوسيږي، دغه شان ددې سړي په سينه کې هم څه نه اوسيږي "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

لغوي تحقيق:

الجوف: مصدر دی، ددې معنی خيټه ده، ليکن مراد ترې سينه ده

تشريح ليس في جوفه شيء من القرآن كالبيت الخرب: د چا په زړه کې چې د قرآن کريم څه حصه نه وي، د هغه مثال د وران کور په شان دی، د کور خوند او مزه هغه وخت وي کله چې په کور کې څوك اوسيږي، که څوك په کور کې نه اوسيږي، نو که هر څومره کور ښايسته وي دا کور نه دی بلکې قبرستان دی، هيڅ حيثيت يې نشته، دغه شان د انسان زړه هم دی چې د انسان زړه د ايمان او قرآن نه خالي وي، نو د هغه زړه هيڅ اهميت نه لري، د کوم کس په زړه کې چې د قرآن کريم څومره حصه وي د هغه زړه هغومره آباد او ښايسته دی، څومره کمې چې پکې راځي دغومره د هغه زړه غيرآباد او وران دی

د قرآن د هر آيت په بدله کې د جنت درجه

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ، قَالَ: يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرآنِ: اقْرَأْ وَارْتَقِ وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: صاحب قرآن ته به ووېل شي چې د قرآن کريم تلاوت شروع کړه او د جنت په درجو خيژه او څنګه چې به دې په دنيا کې ددې قرآن کريم تلاوت په ترتيل سره کولو، دغه شان يې اوس هم تلاوت کوه: "فَإِنَّ مَنْزِلَتَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَؤُهَا" ستا منزل هغه ځای دی په کوم ځای کې چې ستا آخري آيت لوستل کيږي. رواه أبو داود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: يقال لصاحب القرآن: صاحب قرآن ته به ووېل شي، د صاحب قرآن نه مراد قاري دی يا هر هغه کس ترې مراد دی چې د قرآن کريم تلاوت ښه په شوق سره کوي، ملا علي قاري رحمه الله فرمايي ددې مراد هغه خلك نه دي په کوم کس باندې چې قرآن کريم لعنت وايي "ألا لعنة الله على الظالمين" دغه

Maktaba Tul Ishaat. com

ايت تلاوت کوي هم او خپله ظلم هم کوي، ظالم خپله په دې وعيد کې داخل دى، دغه شان هغه تلاوت کوي چې "لعنة الله على الكاذبين" بيا خپله دروغ وايي، هغه به خپله په دې وعيد کې داخل وي

اقراء وارتق: قرآن کريم وايه او په درجو باندې خيژه! يعني څومره ايتونه چې وايي دومره به د جنت په درجو باندې خيژي، په ځينو رواياتو کې راغلي دي چې د جنت درجې د قرآن کريم د آيتونو برابر دي، څوك چې څومره تلاوت کوي هغومره به يې په جنت کې درجه اوچتيږي، ملا علي قاري رحمه الله فرمايي د قرآن کريم لوستونکي نه پورته درجه به د چا هم نه وي

د ترتيل مطلب:

ورتل: په آرام آرام سره يې وايه! مطلب دا چې د قرآن کريم په تلاوت کولو کې د حروفو، مخارجو او صفاتو لحاظ ساتل پکار دي، نه په سکون او قلاره يې ويل پکار دي، ام سلمه رضي الله عنها د چا خه پوښتنه وکړه چې رسول الله ﷺ به قرآن کريم څرنګه ويلو؟ هغې ورته وفرمايل د ټولو حرکاتو لحاظ به يې ساتلو، يعني زور، زير او پيښ وغيره به يې پوره پوره لوستلو، يو يو حرف به يې ځان ځانته ظاهريدو

باب الأمر بتعهد القرآن والتحذير عن تعريضه للنسيان

د قرآن کريم حفاظت او د ذهن نه د وتلو ګناه

"عن أبي موسى رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قال: تعاهدوا هذا القرآن" د ابو موسى اشعري رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل د قرآن کريم حفاظت کوئ او د دې نګراني کوئ! "فوالذي نفس محمد بيده لهو أشد تفلتا من الإبل في عقلها" زما دې قسم وي په هغه ذات چې د محمد ﷺ ساه د هغه په قبضه کې ده چې دا قرآن کريم ډير په تيزۍ سره د ذهن نه وتونکى دى، په نسبت د اوښ د خپلې کړۍ نه متفق عليه

لغوي تحقيق: تعاهدوا: حفاظت کول، خيال ساتل

تشريح: د حديث مطلب دا دى: که د اوښ مالك د اوښ د حفاظت نه غافله شي نو اوښ به ډير زر د رسۍ څخه ووځي، دغه شان که قرآن کريم څوك نه لولي، نو دا هم د انسان د ذهن څخه ډير زر ووځي، د اوښ د حفاظت نه هم زيات حفاظت د قرآن کريم ضروري دى

قرآن کريم ډير په تيزۍ سره د ذهن نه وځي

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أن رسول الله ﷺ، قال: إنما مثل صاحب القرآن كمثل الإبل المعقلة" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل د قرآن کريم د حفظ مثال داسې دى لکه اوښ چې په رسۍ باندې وتړي، "إن عاهد عليها أمسكها، وإن أطلقها ذهبت" که چيرته ددې اوښ حفاظت کوئ او ددې نګراني کوئ، نو دا به درسره وي او که چيرته يې پريږدئ نو دا اوښ به ډير زر درنه لاړ شي متفق عليه

لغوي تحقيق: المعقلة: اوښ چې د پښې نه وتړل شي

تشريح: صاحب القرآن: ددې نه مراد د قرآن کريم حافظ دی، که ټول يې حفظ کړی وي او که څه حصه يې حفظ کړې وي، د قرآن کريم څومره حصه چې درته ياده وي بايد ددې تلاوت وکړی شي، که د تلاوت اهتمام وکړی شي نو نه به هيريږي، لکه څنګه چې د اوښ خيال او حفاظت کولی شي، که هغه خلاص شي نو داسې منډې به وهي چې نيول يې بيا مشکل شي، دغه شان که قرآن کريم يو ځل درنه هير شي، نو بيا يې يادول مشکل کيږي

باب إستحباب تحسين الصوت بالقرآن وطلب القراءة من حسن الصوت والإستماع لها

قرآن کريم تلاوت په ښکلي اواز سره کول او غوږ ورته نيول

وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ، يقول: "مَا أَذِنَ اللهُ لِشَيءٍ مَا أَذِنَ لِنَبِيٍّ حَسَنِ الصَّوْتِ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چې فرمايل يې: الله ﷻ دومره بل شي ته توجه نه فرمايي لکه څومره چې د خپل نبي تلاوت ته توجه کوي، "يَتَغَنَّى بِالقُرْآنِ يَجْهَرُ بِهِ" کله چې هغه نبي د کتاب تلاوت په ښکلي آواز سره کوي او په تېزه يې وايي. متفقٌ عَلَيهِ.

"معنى ((أَذِنَ الله)): أي اسْتَمَعَ، وَهُوَ إشَارَةٌ إِلَى الرِّضَا والقَبُولِ" د (اذن الله) معنی ده: توجه کول او اوريدل، په دې کې اشاره ده راضي کېدو ته او د تلاوت قبلېدو ته.

تشريح: ما اذن الله لشيء ما أذن لنبي حسن الصوت: مطلب دا چې پېغمبر خو هسې هم بذات خود د ټولو انسانانو نه غوره وي، څکه چې انبياء عليهم السلام ته الله ﷻ ظاهري او باطني خوبيانې ورکړې دي، بيا هغه نبي چې په ښکلي آواز او تجويد سره تلاوت کوي، نو د هغه په آواز کې به څومره خوند او مزه وي، په دې وخت کې به دده آواز په ټوله دنيا کې شيرين وي، دغه آواز الله ﷻ خوښوي، امام شافعي رحمه الله فرمايي: تلاوت بايد په رقت او نرمی سره وشي

أذن الله: الله ﷻ غوږ ږدي، د الله ﷻ غوږ ايښودلو او اوريدلو باره کې علماء فرمايي چې بس موږ پرې ايمان ساتو، ليکن ددې د کيفيت او علم په اړه موږ ته هيڅ معلومات نشته چې د الله ﷻ غوږ څرنګه دی او اوريدل يې څنګه دي؟

ابو موسی اشعري ﷺ ته د داود عليه السلام خوش آوازي ورکړل شوې وه

"وعن أبي موسى الأشعري ﷺ: أنَّ رسولَ الله ﷺ، قَالَ لَهُ: "لَقدْ أُوتِيتَ مِزْمَاراً مِنْ مَزَامِيرِ آلِ دَاوُدَ" د ابو موسی اشعري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ راته فرمايل: تاته د داود عليه السلام د خوش آوازۍ څخه خوش آوازي درکړل شوې ده. متفقٌ عَلَيهِ

Maktaba Tul Ishaat. com

"وفي رواية لمسلم: أنّ رسول الله ﷺ، قَالَ لَهُ: لَوْرَأَيْتَنِي وَأَنَا أَسْتَمِعُ لِقِرَاءتِكَ البَارِحَةَ" د مسلم په يو بل روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: پرون شپه ما ستا تلاوت ته غوږ اېښى وو، که تا زه ليدلى واى نو ته به ډېر خوشحاله شوى واى.

لغوي تحقيق:

مزماراً: مزمارا په صل کې د شپېلۍ اواز ته ويل کيږي، ليکن دلته يې معنى ده: خوش اواز او ښکلى آواز.

تشريح: مزماراً من مزامير آل داود: د داود عليه السلام په خوش اوازۍ کې درته بوه خوش اوازي درکړل شوي ده، مزمار: اګرچې د سندرو سرود ته ويل کيږي، لکه د شپېلۍ او رباب وغيره اوازونه، ليکن دلته ترې ښکلي اوازونه مراد دي، په آل داود کې لفظ د آل زيات دى، مراد ترې خپله داود عليه السلام دى، ځکه چې الله ﷻ ښکلى آواز داود عليه السلام ته ورکړى وو، ښکلي آواز د الله ﷻ يو لوى نعمت دى، دغه نعمت الله ﷻ داود عليه السلام ته ورکړى وو، ددې څه حصه الله ﷻ ابو موسى اشعري رضي الله عنه ته هم ورکړې وه، علامه ذهبي رحمه الله فرمايي: "واليه المنتهى فى حسن الصوت بالقرآن" د قرآن شريف خوش آوازي په ابو موسى اشعري رضي الله عنه باندې ختمه شوه.

الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته ډېر ښکلى آواز ورکړى وو

"وعن البَراءِ بنِ عازبٍ رضى الله عنهما، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبيَّ ﷺ قَرَأَ فِي العِشَاءِ بِالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ" د براء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې د قرآن کريم د سورت التين والزيتون تلاوت يې د ماسخوتن په لمانځه کې کولو، "فَمَا سَمِعْتُ أحَداً أحْسَنَ صَوْتاً مِنْهُ" نو د رسول الله ﷺ نه زيات ښکلى آواز ما چېرته نه وو اورېدلى. متفقٌ عَلَيهِ

تشريح: فما سمعت احداً احسن صوتاً منه: د رسول الله ﷺ نه زيات ښکلى آواز د بل چا ما نه دى اورېدلى، څرنګه چې رسول الله ﷺ ته نورې خوبۍ او ښکلي اخلاق الله ﷻ ورکړي وو، په ښکلي آوازکې د رسول الله ﷺ سره مقابله کونکى څوک نشته، رسول الله ﷺ د ماسخوتن په لمانځه کې سورت التين والزيتون ولوستلو، حالانکې د ماسخوتن په لمانځه کې اوږد قرائت لوستل پکار دي، وجه يې دا ده چې دغه حديث د سفر په حالت باندې محمول دى او په سفر کې مختصر تلاوت پکار دى.

په ښکلي آواز قرآن شريف لوستل پکار دي

"وعن أبي لُبَابَةَ بشير بن عبد المنذر رضي الله عنه: أنّ النَّبيَّ ﷺ، قَالَ: مَنْ لَمْ يَتَغَنَّ بِالقُرْآنِ" د ابو لبابه بشير بن عبد المنذر رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: څوک چې د قرآن کريم تلاوت په ښکلي اواز سره نه کوي، "فَلَيْسَ مِنَّا" نو دا کس زمونږ څخه نه دى، "رواهُ أبُو داود بإسنادٍ جيدٍ، معنى ((يَتَغَنَّى)): يُحَسِّنُ صَوْتَهُ بِالقُرْآنِ" د (يتغني) معنى ده: په ښکلي اواز سره د قرآن کريم تلاوت کول.

لغوي تحقيق:

يتغنى: ددې معنی ده: په ښکلي اواز سره قرآن شريف لوستل.

تشريح يتغن بالقرآن: په ښکلي اواز سره يې قرآن لوستلو، علامه شيخ منصور علي مصري رحمه الله فرمايي چې «حسنوا القرآن بتحسين الصوت فإنه يزيد في بهائه وجلاله ويتغن الأبدان والأرواح ويصل بمواعظه إلى أعماق القلوب فتحسين الصوت بالقرآن مستحب الخ» قرآن شريف په ښکلي اواز سره تلاوت کوئ، ځکه چې په ښکلي اواز سره د قرآن شريف ښکلا او خوند نور هم زياتيږي، بدن او روح ته تازګي حاصليږي. بل دا چې په ښکلي اواز سره تلاوت کول په زړونو باندې اثر لري. قرآن شريف په ښکلي اواز سره تلاوت کول مستحب دي

ليکن دومره خبره ده چې په داسې انداز به يې نه وايې چې په حروفو کې ورسره تبديلي راشي، لکه څرنګه چې علامه خادمي رحمه الله فرمايي "ان التطريب به اوقع في النفس وادعى للاستماع وهو كالحلاوة التي تجعل في الدواء لكن بشرط ان لا يغير اللفظ ولا يخل بالنظم ولا يخفى حرفاً والا حرم اجماعاً" په ښکلي اواز سره قرآن شريف لوستل په زړونو باندې زيات اثر لري، غوږونه ورته نيول کيږي، لکه په دوايي کې چې شيريني واچول شي، ليکن په دې خوش آوازی سره لوستلو کې شرط دا دی چې په الفاظو يا حروفو کې به هيڅ تغير نه راځي، که داسې وشو، نو بيا بالاتفاق حرام دی

د فليس منا مطلب:

ددې مطلب دا دی چې په ښکلي اواز سره نه لوستل دا زمونږ طريقه نه ده، زمونږ طريقه خو دا ده چې په ښکلي اواز سره يې تلاوت وکړي

د راوي ابولبابه بشير بن عبدالمنذر رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې رفاعه يا بشير رضي الله عنه دی، ابو لبابه يې کنيت دی، د اوس قبيلې سره تعلق لري، په عقبه ثانيه کې مسلمان شو، په ډېرو جهادونو کې يې شرکت کړی دی، د بدر په جهاد کې يې هم شرکت کړی دی، د مدينې منورې نه د دوه ورځو په مسافت يو ځای دی چې روما ورته ويل کيږي هلته د رسول الله ﷺ له لورې د مدينې منورې امير وټاکل شو، بيا يې واپس مدينې منورې ته راولېږلو، په مال غنيمت کې يې ورته پوره حصه ورکړه، د قينقاع او سويق په جهادونو کې هم رسول الله ﷺ د مدينې منورې امير وټاکلو.

په اتمه هجري کې د مکې د فتحې په ورځ د عمرو بن عوف بيرغ د دوی په لاس کې وو، د تبوک په غزا کې يې هم شرکت کړی دی، د دوی د وفات په تاريخ کې سخت اختلاف دی، ليکن په دې اتفاق دی چې د رسول الله ﷺ په ژوند کې وفات شوی دی، پنځلس ۱۵ حديثونه ترې نقل دي

Maktaba Tul Ishaat. com

نبي كريم ﷺ د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه قرآن واورېدلو

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ لِي النَّبِيُّ ﷺ: اقْرَأْ عَلَيَّ الْقُرْآنَ" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل: ما ته د قرآن كريم تلاوت وكړه: "فقلتُ: يَا رَسولَ اللهِ أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ؟! قَالَ: إِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي" ما ووېل يا رسول الله ﷺ! زه تاسو ته د قرآن كريم تلاوت وكړم او حال دا چې قرآن كريم په تاسو باندې خپله نازل شوى دى. نبي كريم ﷺ وفرمايل زه دا خبره خوښه گنړم چې زه د بل چا نه قرآن واورم: "فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ سُورَةَ النِّسَاءِ، حَتَّى جِئْتُ إِلَى هٰذِهِ الآيَةِ" ما ورته د سورت النساء تلاوت شروع كړو تردې چې دې آيت ته ورسېدم. "فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ" ترجمه هغه وخت به د دوى څه حال وي په كوم ځت كې چې مونږ د هرې ډلې نه شاهدان رابورته كړو. "وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هٰؤُلَاءِ شَهِيدًا" او اې پېغمبره ﷺ! مونږ تاسو په دوى باندې شاهد راولو. "قَالَ: حَسْبُكَ الآنَ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: تردې ځاى پورې بس دى. "فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ، فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ" عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي ما د نبي كريم ﷺ مخ مبارك ته وكتل، نو د دوى د سترگو نه اوښكي رواني وې. متفق عليه

تشريح: أءقرأ عليك، وعليك أنزل؟ ايا زه تاسو ته د قرآن كريم تلاوت وكړم. حال دا چې په تاسو نازل شوى دى؟ مطلب دا چې قرآن كريم په تاسو نازل دى. په كومه طريقه چې نازل شوى دى په هغه طريقه بې لوستلى هم شې د بل كس څه مجال دى چې ستاسو په شان بې ووايي! "إني أحب أن أسمعه من غيري" زه دا خبره خوښوم چې قرآن د بل چانه واورم، بل د قرآن شريف اورېدو فايده دا ده چې د ايتونو په معناگانو مفهوماتو او رموزو كې سوچ او فكر كولو موقع انسان ته په لاس ورځي، خپله يې چې څوك وايي هغه ته به موقع په لاس نه ورځي، "فإذا عيناه تذرفان" د رسول الله ﷺ د سترگو نه اوښكي رواني شوې. مطلب دا چې د ايت په اورېدو سره رسول الله ﷺ د قيامت منظر سترگو ته وړاندې كړو. رسول الله ﷺ ته د قيامت سختي او د خپل امت كمزوري ورپه ياد شوه، نو ځكه يې د سترگو مباركو نه اوښكي رواني شوې، علماء كرام ليكي رسول الله ﷺ ځكه وژړل چې د دوى د خپل امت سره ډېره زياته مينه وه: صلى الله عليه الف الف الف صلوة كلما ذكره الذاكرون وكلما غفل عن ذكره الغافلون.

باب الحث على سور وآيات مخصوصة

د خاص سورتونه او خاص ايتونو فضيلت

"عن أبي سَعِيدٍ رَافِعِ بنِ الْمُعَلَّى رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ ﷺ: أَلَا أُعَلِّمُكَ أَعْظَمَ سُورَةٍ فِي الْقُرْآنِ قَبْلَ أَنْ تَخْرُجَ مِنَ الْمَسْجِدِ؟" د ابو سعيد رافع بن معلى رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل ايا زه تا ته يو لوى سورت ونه ښيم چې په قرآن كې ډېر لوى دى. مخكې له دې چې تاسو: جومات نه ووځئ؟ "فَأَخَذَ بِيَدِي، فَلَمَّا أَرَدْنَا أَنْ نَخْرُجَ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّكَ قُلْتَ: لَأُعَلِّمَنَّكَ أَعْظَمَ سُورَةٍ فِي الْقُرْآنِ؟" نبي كريم ﷺ زما لاس ونيولو. كله چې مونږ اراده وكړه چې د جومات نه ووځو. ما ووېل يا رسول الله ﷺ تاسو خو

وېيل: زه به تاته د قرآن كريم يو لوی سورت ښيم؟ "قَالَ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، هِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِيْ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: هغه سورت الحمدلله رب العالمين دی او دا سورت اوه / ۷ ايتونه پرلپسې لري، "وَالْقُرْآنُ الْعَظِيْمُ الَّذِيْ أُوْتِيْتُهُ" او قرآن كريم لوی دی كوم چې ماته راكړل شوی دی. رواه البخاري

تشريح: ألا أعلمك أعظم سورة في القرآن: ايا زه تاته په قرآن كريم كې لوی سورت ونه ښيم؟ دلته سوال پيدا كيږي چې په دې حديث كې لوی سورت فاتحه ښودل شوی دی، په يو بل روايت كې دي چې لوی سورت - سورت اخلاص دی؟ جواب دا دی چې دواړو ته د دوی د مضمون په لحاظ سره لوی سورت وويل شو، سورت فاتحه ته لوی سورت وويل شو، ځكه چې دا سورت د الله ﷻ په لويی، دعاء، د عبادت باندې مشتمل دی، سورت اخلاص ته ځكه لوی سورت وويل شو چې په دې سورت كې د الله ﷻ د وحدانيت مسئله بيان شوې ده.

هي سبع المثاني والقرآن العظيم: دا سبع مثاني او قرآن عظيم دی، سورت فاتحه ته سبع مثاني هم ويل كيږي، دا ځكه چې مثاني د مثنی جمع ده، د مثنی معنی ده: دوه، نو ددې سورت نزول هم دوه ځله شوی دی، يو ځل په مكه مكرمه كې، بل ځل په مدينه منوره كې يا ځكه ورته مثاني ويل كيږي چې ددې سورت تكرار د لمانځه په هر ركعت كې كيږي او سورت فاتحه ته قرآن عظيم هم ويل كيږي، ځكه چې د قرآن كريم بنيادي مضامين مبداء او معاد دي، هغه ټول په سورت فاتحه كې راجمع دي، لكه "تسمية الكل بأسم الجزء" شو.

د راوي ابوسعيد رافع بن معلی رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې رافع رضي الله عنه دی، كنيت يې ابوسعيد دی، ځينې وايي: نوم يې حارث وو، د پلار نوم يې نفيع وو، پوره نوم يې داسې دی: حارث بن نفيع بن المعلی بن لون بن لوان بن حارثة بن زيد بن ثعلبه بن عي بن مالك بن زيد الخ...، د مور نوم يې آمنه بنت قرط بن خنساء وو، حجازيان دي، صرف دوه حديثونه ترې روايت شوي دي.

د سورت اخلاص فضيلت

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه: أنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ فِيْ: "قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د سورت اخلاص (يعنې قل هو الله احد) باره كې وفرمايل: "وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ إِنَّهَا لَتَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ" زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما ساه د هغه په لاس كې ده دا سورت د قرآن كريم دريمې حصې برابر دی.

"وفي رواية: أن رسول الله ﷺ، قَالَ لِأَصْحَابِهٖ: أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَّقْرَأَ بِثُلُثِ الْقُرْآنِ فِيْ لَيْلَةٍ" او په يو بل روايت كې دي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ خپلو ملګروته وفرمايل: ايا په تاسو كې څوك ددې خبرې نه عاجز دی چې هغه دې په شپه كې د قرآن كريم دريمه حصه تلاوت كړي، "فَشَقَّ ذٰلِكَ عَلَيْهِمْ، وَقَالُوْا: أَيُّنَا يُطِيْقُ ذٰلِكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ؟" دا خبره په صحابه كرامو باندې لږه ګرانه شوه، دوی وويل: يارسول الله ﷺ! په موږ كې څوك ددې

Maktaba Tul Ishaat. com

وس نه لري؟ "فَقَالَ: قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ اللّٰهُ الصَّمَدُ: ثُلُثُ الْقُرْآنِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: قل هو الله احد د قران کريم دريمه برخه ده. ترجمه: اې پېغمبره! ورته ووايه چې الله ﷻ واحد لاشريك له ذات دى. رواه البخاري

تشريح: سورت اخلاص ته د قرآن کريم دريمه حصه ويلو کې د علماوو مختلف اقوال دي: امام غزالي رحمه الله فرمايي: په قرآن کريم کې درې اهم مضامين دي: (۱) د الله ﷻ معرفت، (۲) د آخرت معرفت، (۳) او د صراط مستقيم معرفت، په سورت اخلاص کې د الله ﷻ معرفت بيان شوى دى، نو ځکه دې ته ثلث القرآن ويل کيږي، ابو العباس بن شريح رحمه الله فرمايي: علامه ابن تيميه رحمه الله هم دا خبره خوښه کړې ده، هغه دا چې د قرآن مجيد ايتونه په درې قسمه دي: (۱) په ځينو کې وعد او وعيد دى (۲) په ځينو کې احکامات دي، (۳) او په ځينو کې د الله ﷻ اسماء او صفات دي، په سورت اخلاص کې د الله ﷻ د اسماء او صفاتو ذکر دى، په دې وجه دې ته ثلث القرآن ويل شوى، امام رازي رحمه الله فرمايي: په قرآن کې درې قسمه مضامين بيانيږي: (۱) واقعات، (۲) احکامات، (۳) د الله ﷻ صفات، په سورت اخلاص کې د الله ﷻ د صفاتو بيان دى، په دې وجه دې ته ثلث القرآن ويل شوي

يو صحابي په بار بار سورت اخلاص ويلو

"وعنه: أَنَّ رَجُلًا سَمِعَ رَجُلًا يَقْرَأُ: (قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ) يُرَدِّدُهَا فَلَمَّا أَصْبَحَ جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ" د أبو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې يو کس د بل کس نه بار بار سورت اخلاص ويل واورېدل، کله چې سهار شو، نو د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، نبي کريم ﷺ ته يې ټوله کيسه بيان کړه، "وَكَانَ الرَّجُلُ يَتَقَالُّهَا، فَقَالَ رسول الله ﷺ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، إِنَّهَا لَتَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ" هغه کس د سورت اخلاص لوستل معمولي وګڼل، نبي کريم ﷺ وفرمايل: زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما روح د هغه په قبضه کې دى چې دا سورت د قرآن شريف دريمه حصه ده. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

يتقالها: لږ او معمولي ګڼل

تشريح: يتقالها: هغه سړي دغه عمل معمولي وګڼلو، هغه د رسول الله ﷺ په وړاندې دې خبرې ذکر وکړو چې فلانکى کس بار بار همدغه يو سورت وايي، لکه هغه چې د سورت اخلاص لوستلو اجر او ثواب کم وګڼلو، رسول الله ﷺ وفرمايل: ددې سورت ثواب د قرآن شريف د دريمې حصې برابر دى.

سورت اخلاص د قران کريم دريمه برخه ده

"وعن أبي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه: أَنَّ رسولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ فِي: قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ، إِنَّهَا تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: سورت الاخلاص د قرآن کريم د دريمې حصې برابر دى. رواه مسلم

تشريح: دلته يو اعتراض واردېږي هغه دا چې کله د سورت اخلاص ثواب د قرآن شريف د

دريمې حصې برابر دى. نو كه درې ځله سورت اخلاص تلاوت شي، د ټول قرآن شريف ثواب به ورته حاصل شي، بيا د ټول قرآن لوستلو څه ضرورت دى؟ جواب دا دى چې سورت اخلاص ته ثلث القرآن قرآن كريم د مضامينو په لحاظ ويل شوى دى. كه څوك سورت اخلاص ووايي، نو هغه ته به د ثلث القرآن ثواب ملاو شي او بيا يې كه دويم ځل ووايي، بيا هم ورته د ثلث القرآن ثواب ملاو شي، خو درې ځله يې چې وايي د يو ثلث القرآن ثواب به ورته ملاويږي، ځكه چې په قرآن كريم كې درې مضامين چليږي: (۱) قصص، (۲) احكام (۳) او د الله ﷻ صفتونه. په سورت اخلاص كې يو مضمون دى چې هغه د الله ﷻ صفتونه پكې بيان شوي دي

د سورت اخلاص سره مينه كول جنت ته د داخليدو ذريعه ده

"وعن أنس رضي الله عنه: أَنَّ رَجُلاً قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي أُحِبُّ هٰذِهِ السُّورَةَ: قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ" د انس رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې يو كس رسول الله ﷺ ته وفرمايل: يا رسول الله ﷺ! زه خو ددې سورت سره ډېره مينه لرم، يعنې قل هو الله احد سره، "قَالَ: إِنَّ حُبَّهَا أَدْخَلَكَ الْجَنَّةَ" نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: ددې سورت سره د مينې په وجه به جنت ته داخليږې، "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن، ورواه البخاري في صحيحه تعليقاً".

تشريح: په دې حديث كې د سورت اخلاص يو بل فضيلت بيان شوى دى. هغه دا چې څوك ددې سورت سره مينه كوي، داسې كس به الله ﷻ جنت ته داخل كړي، ځكه چې په دې سورت كې د الله ﷻ عظمت بيان شوى دى او الله ﷻ ته خپله لويي زياته خوښه ده، په دې وجه شريعت شرك هم حرام كړى دى، "رواه البخاري في صحيحه تعليقاً" دا حديث امام بخاري رحمه الله په خپل صحيح كې تعليقاً نقل كړى دى، تعليق هغه حديث ته ويل كيږي چې د حديث صرف متن بيان شي، سند يې ذكر نه كړي

د معوذتين په شان بل سورت نه دى نازل شوى

"وعن عقبة بن عامر رضي الله عنه: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: أَلَمْ تَرَ آيَاتٍ أُنْزِلَتْ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ لَمْ يُرَ مِثْلُهُنَّ قَطُّ؟" د عقبه بن عامر رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا تاته پته نشته چې پرون شپه په ما باندې څو ايتونه داسې نازل شوي دي چې د هغوى مثال ما چېرته نه دى ليدلى؟ "قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ" يو سورت (قل اعوذ برب الفلق دى او بل قل اعوذ برب الناس) دى. رواه مسلم.

تشريح: الم تر آيات أنزلت هذه الليلة: ايا تاته پته نشته چې پرون شپه په ما باندې څو مره ايتونه نازل شوي دي؟ (الم تر) كلمه د تعجب لپاره استعماليږي، مطلب دا چې تاته پته نشته؟ "مثلهن قط" ددې په شان، مطلب دا چې ددې سورتونو په شان بل سورت داسې نشته چې په هغه ټول سورت كې صرف په الله ﷻ د پناه ذكر وي، په دې وجه دې دواړو سورتونو ته معوذتين ويل كيږي، يعنې ددې سورتونو په ذريعه په الله ﷻ سره پناه نيول كيږي.

Maktaba Tul Ishaat. com

د راوي عقبه بن عامر ﷺ حالات:

اصل نوم يې عقبه ﷺ دى. ابو عمر يې کنيت دى. د پلار نوم يې عامر دى. کله چې رسول الله ﷺ مديني منورې ته هجرت وکړو. عقبه ﷺ اسلام قبول کړو. علامه ذهبي ﷫ فرمايي: عقبه ﷺ فقيه، د کتاب الله قاري، په فرائضو کې ماهر. فصيح اللسان، شاعر او د اوچتې مرتبې صحابي وو. د قرآن شريف سره يې خاص تعلق وو، د قرآن شريف يو نسخه يې په خپل لاس ليکلې وه. د رسول الله ﷺ ډېر خدمت يې کړى دى، په سفر کې به د رسول الله ﷺ د سورلۍ واګې دوى نيولې وې، لکه څرنګه چې په يو روايت کې دي چې: "كان صاحب بغلة رسول الله ﷺ الشهباء" په اته پنځوسم/ ۵۸ هجري کې وفات شوى دى.

تر پنځه پنځوس/ ۵۵ پورې مرويات ترې نقل شوي دي، يو حديث يې په بخاري کې دى او اوه/ ۷ حديثونه په مسلم کې دي، مشرانو صحابه وو به د دوى څخه روايات نقل کول. يو ځل ابو ايوب انصاري ﷺ د مصر نه صرف د يو حديث اورېدو لپاره راغلى وو.

د معوذتين په ذريعه به رسول الله ﷺ په الله ﷻ باندې پناه نيول

"وعن أبي سعيد الخدري ﷺ، قال: كان رسول الله ﷺ يتعوذ من الجان، وعين الإنسان" د أبو سعيد خدري ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ عادت به دا وو چې په الله ﷻ سره به يې د پيريانو او انسانانو د بد نظر څخه پناه غوښتل، "حتى نزلت المعوذتان" تردې چې معوذتين (سورة الفلق او سورة الناس) نازل شول، "فلما نزلتا، أخذ بهما وترك ما سواهما" کله چې دا دوه سورتونه نازل شول، نو هغه مخکې عمل يې پرېښودلو او په دې باندې يې شروع وکړه، ددې تلاوت به يې کولو "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن".

تشريح: د حديث مطلب دا دى چې د معوذتين نه وړاندې به رسول الله ﷺ د پيريانو او د بد نظر نه په الله ﷻ سره پناه نيول، د هغې الفاظ به دا وو: "اعوذ بك من الجآن وعين الانسان" اې الله زه ستا په ذريعه د پيريانو او انسانانو د بد نظر نه پناه غواړم، دا ځکه چې بد نظر لګېدل حق دي، د پيريانو شرارتونه هم شته، ليکن کله چې: "قل أعوذ برب الفلق او قل أعوذ برب الناس" نازل شول، نو بيا رسول الله ﷺ هغه وړاندې دعاء پرېښوده، ددې سورتونو وظيفه يې شروع کړه، ځکه چې ددې سورتونو مطلب هم هغه دى، ددې سورتونو په برکت سره الله ﷻ خپل بنده د شيطاني اثراتو، د خلکو د حسد، بغض او بدنظرۍ څخه ساتي.

د سورة الملک فضيلت

"وعن أبي هريرة ﷺ: أن رسول الله ﷺ قال: من القرآن سورة ثلاثون آية شفعت لرجل حتى غفر له" د أبو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په قرآن کريم کې يو سورت د دېرشو آيتونو دى، ددې د ويونکي لپاره تر هغه سفارش کوي تر څو چې يې بخښنه نه وي شوې، "وهي: تبارك الذي بيده

الملك" او هغه سورت الملك (تبارك الذي بيده الملك) دی. رواه أبوداود والترمذي وقال: ((حديث حسن)).

"وفي رواية أبي داود: تَشْفَعُ" او د ابو داود په يو روايت کې د شفعت په ځای تشفع لفظ راغلی دی.

تشريح: ثلاثون آية شفعت لرجل: د دېرشو ايتونو سورت دی چې هغه د سړي سفارش کوي، سورت ملک نور ډېر زيات لري، مثلاً په يو روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما زړه غواړي چې د هر مسلمان په زړه کې بايد دا سورت وي، په يو بل روايت کې دي چې ددې سورت په برکت به انسان د الله ﷻ له عذابه خلاص شي، دا سورت به د قيامت په ورځ د خپل لوستونکي لپاره سفارش کوي، "شفعت" د ماضي صيغه ده، ليکن معنی به يې د مضارع شي، د ماضي وقوع يقيني او محقق وي، دغه شان ددې سفارش هم يقيني دی، په ځينو رواياتو کې د فعل مضارع صيغه راغلې ده.

د سورت بقره د آخري دوه ايتونو فضيلت:

"وعن أبي مسعودِ البَدْرِيِّ ﷺ، عن النبي ﷺ، قَالَ: مَنْ قَرَأَ بِالآيَتَيْنِ مِنْ آخرِ سُورَةِ البَقَرَةِ فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ" د ابو مسعود بدري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د سورت بقره آخري ايتونه په شپه کې ولولي، نو دا آيتونه به دده لپاره کافي شي، "متفقٌ عَلَيْهِ. قِيلَ: كَفَتَاهُ المَكْرُوهَ تِلْكَ اللَّيْلَةَ" چې ويلي دي چې ددې مطلب دا دی چې په دې شپه کې کوم مصيبتونه وي د هغې نه به يې الله ﷻ بچ کړي، "وَقِيلَ: كَفَتَاهُ مِنْ قِيَامِ اللَّيْلِ" او چا ددې دا مطلب اخيستی دی چې د قيام الليل يعنې د شپې د تهجد اجر به الله ﷻ ورته ورکړي.

تشريح: كفتاه: کوم کس چې د شپې ويده کېدو نه وړاندې د سورت بقرې آخري دوه ايتونه ووايي نو دا به د هغه لپاره کافي شي، آخري دوه ايتونه دا دي: "آمن الرسول بما أنزل إليه" علامه نووي ﷺ ددې دوه مطلبونه بيان کړي دي يو دا دی چې د سرکشه شيطانانو د شرارتونو نه به يې الله ﷻ محفوظ کړي، بل دا چې د شپې د تهجدو برابر ثواب به ورته ملاو شي، ځينې علماء فرمايي د تجديد ايمان لپاره هم کفايت کوي، دا آيتونه د ډېرو دعاګانو په بدل کې کافي دي، ځکه چې په دې کې د دنيا او اخرت ګټې شته.

د سورت بقره فضيلت

"وعن أبي هريرة ﷺ: أنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: لاَ تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ مَقَابِرَ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د خپلو کورونو نه هديرې مه جوړوئ! "إنَّ الشَّيطَانَ يَنْفِرُ مِنَ البَيْتِ الَّذِي تُقْرَأُ فِيهِ سُورَةُ البَقَرَةِ" ځکه چې شيطان د هغه کور نه تښتي په کوم کور کې چې سورت البقره لوستل کېږي. رواه مسلم

تشريح: لاتجعلوا بيوتكم مقابر: د خپلو کورونو نه هديرې مه جوړوئ، په بل روايت کې دي چې "لاتتخذوا بيوتكم مقابر، صلوا فيها، فإن الشيطان ليفر من البيت يسمع سورة البقرة تقرا فيه" د خپلو کورونو نه هديرې مه

Maktaba Tul Ishaat. com

جوړوئ، په دې کې لمونځونه کوئ، ځکه چې شيطان د هغه کور نه منډې وهي په کوم کور کې چې سورة بقره لوستلې شي، "لا تجعلوا بيوتكم مقابر" د خپلو کورونو نه قبرستان مه جوړوئ، ددې حقيقي مطلب دا دی چې په خپلو کورونو کې مړي مه ښخوئ، بلکې په هديرو کې يې ښخوئ، بل مطلب يې دا دی چې لکه څرنګه په هديرو کې مړي کوم عمل نه کوي، دغه شان تاسو هم په خپلو کورونو کې نفلي لمونځ، تلاوت وغيره اهتمام نه کوئ، نو ستاسو کورونه به هم د هديرو په شان شي، "ينفر من البيت" شيطان منډې وهي، کله چې د کور څخه شيطان شړې، نو په دې ښکلې بانديې عمل وکړه، شيطان به کور ته نه داخليږي، که شيطان د اول نه داخل وي او تلاوت وشي، نو منډې به وهي.

د قرآن تر ټولو لوی آيت

"وعن أبي بن كعب رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: يَا أَبَا الْمُنْذِرِ، أَتَدْرِي أَيُّ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ مَعَكَ أَعْظَمُ؟" د أبی بن کعب رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ راته وفرمايل: اې ابو المنذر رضي الله عنه! کوم ستا سره د قرآن کريم کوم آيت لوی دی؟ "قُلْتُ: اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ" ما وويل: الله لا اله إلا هو الحي القيوم، يعني آيت الکرسي لوی ايت دی، "فَضَرَبَ فِي صَدْرِي، وَقَالَ: لِيَهْنِكَ الْعِلْمُ أَبَا الْمُنْذِرِ" نبي کريم ﷺ زه په سينه باندې ووهلم او راته يې وفرمايل: تاته دې علم مبارک وي. رواه مسلم

تشريح: د مسلم په يو بل روايت کې دي چې کله رسول الله ﷺ د ابي بن کعب رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه چې په قرآن کريم کې تر ټولو لوی آيت کوم دی؟ نو اول هغه وويل چې: الله ورسوله أعلم، ليکن کله چې رسول الله ﷺ په دويم ځل پوښتنه وکړه، نو أبی بن کعب رضي الله عنه جواب ورکړو چې هغه آيت الکرسي دی، محدثين فرمايي: په اول ځل أبي بن کعب رضي الله عنه ځکه جواب ورنه کړو چې په هغې کې يې د ادب خيال ساتلی دی، ليکن کله چې رسول الله ﷺ په دويم ځل پوښتنه وکړه، نو کعب رضي الله عنه د سوال جواب ورکړو، دغه شان هغه ډېر په لطيف انداز سره ادب او تابعداري جمع کړه، آيت الکرسي ته ځکه عظيم آيت وويل شو چې په دې کې توحيد، الهي تعظيم، اسماحسنی او د الله ﷻ صفات او ستر مضامين پکې جمع دي.

ابوهريره رضي الله عنه ته درې شپې شيطان راتلو

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: وَكَّلَنِي رسول الله ﷺ بِحِفْظِ زَكَاةِ رَمَضَانَ" د أبو هريره رضي الله عنه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ زه د روژې د زکاتونو په حفاظت باندې ذمه وار جوړ کړم، "فَأَتَانِي آتٍ فَجَعَلَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ، فَأَخَذْتُهُ فَقُلْتُ: لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ" يو کس د شپې راغلو، په دوی کې يې لاس وهل شروع کړه، ما د لاس څخه ونيولو او ورته مې وويل: زه به تا د رسول الله ﷺ په خدمت کې دروم، "قَالَ: إِنِّي مُحْتَاجٌ، عَلَيَّ عِيَالٌ، وَبِي حَاجَةٌ شَدِيدَةٌ، فَخَلَّيْتُ عَنْهُ" هغه راته وويل: زه غريب سړی يم، د ماشومانو او کورنۍ بوج زما په غاړه دی او زه ډېر زيات ضرورتمند يم، د هغه لار مې خوشې کړه، "فَأَصْبَحْتُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، مَا

فَعَلَ أَسِيرُكَ الْبَارِحَةَ؟" کله چې سهار شو، د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل: اې ابو هريره رضي الله عنه! هغه پرون بندي سره دې څه وکړل؟ "قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، شَكَا حَاجَةً وَعِيَالاً فَرَحِمْتُهُ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ" ما وويل: يارسول الله ﷺ! د غريبۍ او د ماشومانو شکايت يې وکړو، نو ما رحم پرې وکړ او د هغه لار مې خوشې کړه، "فَقَالَ: أَمَا إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ وَسَيَعُودُ، فَعَرَفْتُ أَنَّهُ سَيَعُودُ، لِقَوْلِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَرَصَدْتُهُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دغه کس تاته دروغ وويل، دى به سبا بيا راځي، أبو هريره رضي الله عنه فرمايي: زه د رسول الله ﷺ مجلس نه پورته شوم، زما يقين راغلو چې دا کس به بيا راځي، ځکه چې رسول الله ﷺ راته فرمايلي وو چې دا کس به بيا راځي، زه انتظار وم، "فَجَاءَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ، فَقُلْتُ: لأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَ: دَعْنِي فَإِنِّي مُحْتَاجٌ، وَعَلَيَّ عِيَالٌ لاَ أَعُودُ، فَرَحِمْتُهُ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ" هغه کس بيا راغلو په ډوډۍ کې يې لاس وهلو، ما ورته وويل: زه به دې د رسول الله ﷺ په خدمت کې دروم، هغه راته وويل: ما پرېږده زه غريب سړى يم، بچيان مې دي، بيا به نه راځم، زما پرې بيا رحم راغلو، د هغه لار مې خوشې کړه، "فَأَصْبَحْتُ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ ﷺ: يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ الْبَارِحَةَ؟" سهار وختي بيا د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، رسول الله ﷺ راته وفرمايل: اې ابو هريره رضي الله عنه! هغه د شپې بندي سره دې څه وکړل؟ "قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ شَكَا حَاجَةً وَعِيَالاً فَرَحِمْتُهُ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ" ما وويل: يا رسول الله ﷺ! د غريبۍ او ضرورتمندۍ شکايت يې وکړو او وې ويل: بال بچ مې دي، نو رحم مې پرې راغلو، لار مې ورته خوشې کړه، "فَقَالَ: ((إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ وَسَيَعُودُ)) فَرَصَدْتُهُ الثَّالِثَةَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دى تاته دروغ وايي، هغه به بيا راځي، نو زه بيا په انتظار کېناستم، "فَجَاءَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ فَأَخَذْتُهُ، فَقُلْتُ: لأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ، وَهذَا آخِرُ ثَلاَثِ مَرَّاتٍ أَنَّكَ تَزْعُمُ أَنَّكَ لاَ تَعُودُ!" هغه کس بيا راغلو، په ډوډۍ کې يې لاس وهلو، نو ما بيا د لاس نه ونيولو او ورته مې وويل: دا ځل به دې د رسول الله ﷺ په خدمت کې دروم، دا ستا اخري ځل دى، هر ځل راته وايې چې بيا به نه راځم "قَالَ: دَعْنِي فَإِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ يَنْفَعُكَ اللهُ بِهَا، قُلْتُ: مَا هُنَّ؟" هغه راته وويل: ما پرېږده زه به تاته داسې کلمات وښيم چې الله ﷻ به تاته د هغې په ذريعه فايده درکړي، ما ورته وويل: هغه کومې دي؟ "قَالَ: إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِيِّ، فَإِنَّهُ لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللهِ حَافِظٌ، وَلاَ يَقْرَبُكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ" هغه راته وويل: کله چې خپلې بسترې ته د ويده کېدو لپاره راشې، نو آيت الکرسي ووايه، د الله ﷻ له طرفه به ستا لپاره يو نګهبان وي چې تر سهاره پورې به ستا حفاظت کوي، "فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، فَأَصْبَحْتُ، فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ ﷺ: مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ الْبَارِحَةَ؟" د هغه لار مې خوشې کړه چې سهار شو، نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل: د شپې بندي سره دې څه وکړل؟ "قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، زَعَمَ أَنَّهُ يُعَلِّمُنِي كَلِمَاتٍ يَنْفَعُنِي اللهُ بِهَا، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ، قَالَ: مَا هِيَ؟" ما ورته وويل: يا رسول الله ﷺ! هغه راته وويل: ما پرېږده زه به تاته يو څو کلمات وښيم چې په دې سره به الله ﷻ تاته ډېره فايده درکړي، نو د هغه لار مې خوشې کړه، نبي کريم ﷺ وفرمايل: هغه کوم کلمات دي؟ "قُلْتُ: قَالَ لِي: إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِيِّ مِنْ أَوَّلِهَا حَتَّى تَخْتِمَ الآيَةَ: اللهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ" ما نبي کريم ﷺ ته وويل: ما ته يې وويل: چې کله ته خپلې بسترې ته د خوب لپاره راشې، نو د اول نه تر آخره پورې آيت الکرسي وايه تر دې چې

Maktaba Tul Ishaat. com

پوره آيت ختم کړې. "وقال لي: لَا يَزَالُ عَلَيْكَ مِنَ اللهِ حَافِظٌ، وَلَنْ يَقْرَبَكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ" او دا يې هم راته وويل همېش به د الله ﷻ له طرفه ستا لپاره يوه حفاظت کوونکې پرښته وي او تا ته به تر سهاره پورې شيطان نه نږدې کيږي، "فقال النبي ﷺ: أَمَا إِنَّهُ قَدْ صَدَقَكَ وَهُوَ كَذُوبٌ" نبي کريم ﷺ وفرمايل هر چې دغه کس وو، نو ده چې تا ته څه ويلي دي هغه رښتيا دي، ليکن دی خپله زيات دروغجن دی، "تَعْلَمُ مَنْ تُخَاطِبُ مُنْذُ ثَلَاثٍ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ؟" او اې ابو هريره ﷺ! تا ته پته شته چې دا درې ورځې ستا سره چا مخاطبه کول او څوک به درته راتلو؟ "قُلْتُ: لَا قَالَ: ذَاكَ شَيْطَانٌ" ما ووېل: نه، نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا شيطان وو. رواه البخاري

لغوي تحقيق: يحثو: يو شی لټول، اخيستل.

ترصدته: انتظار کول.

تشريح: دې آيت کې هم د آيت الکرسي فضيلت بيانيږي، بل دا چې کوم کس د شپې ويده کيږي، نو بايد چې آيت الکرسي تلاوت وکړي، د آيت الکرسي نور هم ډېر زيات فضيلتونه دي، د دې وجه دا ده چې په دې آيت کې د الله ﷻ لس ځانګړې صفات په يو ځای بيان شوي دي، په بل کوم آيت کې داسې نشته، په دې آيت کې د الله ﷻ صفات جليله او قدرت عظيمه ډېر په ښکلي انداز سره بيان شوي دي، په دې وجه يې هره شپه ويل پکار دي.

د سورت کهف فضيلت

"وعن أبي الدرداء ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: مَنْ حَفِظَ عَشْرَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ سُورَةِ الْكَهْفِ" د أبو الدرداء ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د سورت کهف اولنی ايتونه په ياده زده کړي، "عُصِمَ مِنَ الدَّجَّالِ" نو د دجال د فتنې نه به محفوظ شي.

"وفي رواية: مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْكَهْفِ" او په بل روايت کې دي چې د سورت کهف آخري ايتونه. رواهما مسلم

تشريح: عصم من الدجال: هغه به د دجال د فتنې نه محفوظ شي، دجال به د قيامت په شپو او ورځو کې راځي، الله ﷻ به هغه ته ځينې داسې خارق العادت (سحر او جادو) کارونه ورکړي دي چې دغه کارونه کمزوري ايمان والا خلك ووينې، نو مرتد به شي، د دجال فتنه تر ټولو سخته فتنه ده. په دې وجه هر نبي خپل امت ددې فتنې څخه ويرولی دی، زموږ خوږ پيغمبر محمد مصطفی ﷺ به د دجال باره کې پوره تفصيل سره بيان کولو، فرمايل به يې چې څوك د سورت کهف لس ايتونه زده کړي او ددې د تلاوت اهتمام کوي، نو الله ﷻ به يې ددې په برکت د دجال د شرا وف تنې څخه وساتي.

سورت فاتحه او سورت بقره آخري ايتونه په بل نبي باندې نه دي نازل شوي

"وعن ابن عبّاس رضي الله عنهما: بَيْنَمَا جِبْرِيلُ ﷺ قَاعِدٌ عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ سَمِعَ نَقِيضًا مِنْ فَوْقِهِ، فَرَفَعَ رَأْسَهُ" د عبد الله بن عباس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې جبرئيل عليه السلام د رسول الله ﷺ په خدمت کې ناست وو چې ناڅاپه اواز غوندې وشو، نبي کريم ﷺ سر پورته کړو، "فَقَالَ: هَذَا بَابٌ مِنَ السَّمَاءِ فُتِحَ الْيَوْمَ لَمْ يُفْتَحْ قَطُّ إِلَّا

اليَوْمَ، فَنَزَلَ منهُ مَلَكٌ" بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل: دا په آسمان كې يوه دروازه وه چې نن خلاصه شوه ددې نه مخكې كله هم نه وه خلاصه شوې، ددې دروازې نه يوه پرښته رابكته شوه، "فقَالَ: هذا مَلَكٌ نَزَلَ الى الأرض لم ينزل قط إلاَّ اليومَ فَسَلَّمَ وقال: أَبْشِرْ بِنُورَيْنِ أُوتِيتَهُمَا لَمْ يُؤْتَهُمَا نَبِيٌّ قَبْلَكَ" بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل: په دې دروازه باندې كومه پرښته خمكې ته رابكته شوه دا پرښته ددې نه مخكې نه وه رابكته شوې، دغې پرښتې سلام واچولو او وې ويل: په دوه رڼاګانو سره زيرى واخلى چې تاسو ته دركړل شوي دي، ددې نه مخكې بل كوم نبي ته نه دي وركړل شوي "فَاتِحَةُ الكِتَابِ، وَخَوَاتِيمُ سُورَةِ البَقَرَةِ، لَنْ تَقْرَأَ بِحَرْفٍ مِنْهَا إلاَّ أُعْطِيتَهُ" يوه رڼا سورت فاتحه ده او بله رڼا د سورت بقره آخري څو ايتونه دي، څوک چې ددې يو حرف هم ولولي، نو ددې به پوره پوره اجر وركول كيږي "رواه مسلم((النَّقِيضُ)): الصَّوْتُ" د (النقيض) معنى ده: اواز.

تشريح: فنزل منه ملك: ددې نه يوه پرښته نازله شوه، دا الفاظ اګرچې د راوي د حديث دي، ليكن هغه به د رسول الله ﷺ نه اوريدلي وي، خكه يې وفرمايل

أبشر بنورين: د دوه رڼاوو زيرى واخلئ، يو رڼا سورت فاتحه ده او بله رڼا د سورت بقره آخري دوه ايتونه، سوره بقره ته خكه رڼا وويل شو چې په دنيا كې ددې په تلاوت كولو سره به په قيامت كې ددې لوستونكي ته داسې يوه نيكي وركړل شي چې هغه به ډېره زياته رڼا لري، هغه رڼا به دده څخه وړاندې روانه وي، سيده به يې جنت ته رسوي، "خواتيم سورة البقر" ددې نه مراد: "للّـــه ما في السموات وما في الأرض" دى، ددغه ځاى څخه د سورت تر آخري حصې پورې دى، "بحرف منهما إلا أعطيته" د يو يو حرف په بدله كې به ورته اجر وركولى شي، مطلب دا دى چې په سورت فاتحه او د سورة بقره په آخري ايتونو كې يوه دعاء ذكر ده چې هغه: "إهدنا الصراط المستقيم" او بل: "غفرانك ربنا" په دې كې د الله ﷻ حمد او ثناء ده، نو ددې لوستونكي ته به هر هغه څه وركولى شي كوم څه چې دى غواړي

باب إستحباب الإجتماع عَلَى القراءة

د تلاوت اوريدو لپاره راغونډيدل

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللهِ يَتْلُونَ كِتَابَ اللهِ، وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم خلك چې د الله ﷻ د كورونو نه په يو كور كې كيني او بيا دوى په خپل مينځ كې د الله ﷻ كتاب وايي او په خپل مينځ كې يو بل ته درس ښيي، "إلاَّ نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ، وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ، وَحَفَّتْهُمُ المَلاَئِكَةُ" په دوى به سكينه نازليږي، رحمت به پرې راګوريږي او پرښتې به يې په خپلو وزرونو كې پټوي، "وَذَكَرَهُمُ اللّـــهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ" او الله ﷻ ددې خلكو يادګيرنه د خپل نېک مخلوق (پرښتو) په وړاندې كوي. رواه مسلم.

تشريح: دا حديث په (باب قضاء حوائج المسلمين) كې وړاندې ذكر شوى دى، دلته علامه نووي رحمه الله د باب د مناسبت په وجه بيان كړو.

Maktaba Tul Ishaat. com

باب فضل الوضوء

داوداسه فضيلت

"قَالَ اللهُ تعالى" الله ﷻ فرمايي "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ" اې هغو کسانو چې تاسو ايمان راوړی دی، کله چې تاسو د لمانځه اراده ولرئ، "فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ" نو خپل مخونه ووينځئ! "إِلَى قَوْلِهِ تعالى: مَا يُرِيدُ اللهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ" تر دې قوله پورې چې الله ﷻ اراده نه لري چې په تاسو باندې څه تکليف جوړ کړي، "وَلَٰكِنْ يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ" ليکن الله ﷻ ددې خبرې اراده لري چې تاسو پاك کړي او خپل نعمتونه په تاسو باندې تمام کړي ددې لپاره چې تاسو شکر وباسئ! [المائدة:۶].

تشريح: إذا قمتم إلى الصلوة: کله چې د لمانځه لپاره اوچتيږئ، که په دې وخت کې دې اودس نه وي کړی، نو اودس وکړه، که اودس دې وي، نو بيا اودس ضروري نه دی، ليکن بيا هم غوره دی. "فاغسلوا وجوهكم" مخونه ووينځئ، کم نه کم يو ځل او زيات نه زيات درې ځله وينځل ضروري دي، "ارجلكم إلى الكعبين" پښې سره د ګټو ووينځئ، د "ارجلكم" عطف په "وجوهكم" باندې جائز دی، نو په دې صورت کې به مطلب دا شي چې پښې به تر ګټو/ بجلکو پورې وينځئ او په "رؤسكم" باندې هم عطف جائز دی. يعنې په پښو باندې هم مسح وکړئ، ليکن دا هغه صورت کې چې کله په پښو باندې موزې وي، د مسافر لپاره درې ورځې او درې شپې دي او د مقيم لپاره يوه شپه او يوه ورځ مسح کول جائز دي.

وان كنتم جنباً فاطهروا: که د جنابت په حالت کې يئ، نو غسل وکړئ، يعنې که احتلام مو شوی دي يا مو کوروالی کړی وي يا د حيض او نفاس وغيره څخه پاك شوئ، نو غسل در باندې واجب دی. "وان كنتم مرضى أو على سفر" که اوبه نه وي يا اوبه شته، ليکن کوم عذر دی چې اودس نه شی کولی يا غسل نه شی کولی، نو تيمم وهل جائز دي.

د قيامت په ورځ به اندامونه روښانه وي

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ، يقول: إِنَّ أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل، فرمايل يې زما امتيان به د قيامت په ورځ د اوداسه ځايونه د پړقېدو حالت کې ماته راوستل شي، "فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يُطِيلَ غُرَّتَهُ فَلْيَفْعَلْ" بس څوک چې خپل سپينوالی زياتول غواړي هغه دې داسې وکړي. متفق عليه.

تشريح: غراً: دا غر جمع ده، د ذوغرة په معنی سره دی، معنی يې ده: پړقېدونکې، ددې نه هغه رڼا مراد ده چې د قيامت په ورځ به د اودس کونکي د اودس په اندانو معلوميږي.

محجلين: ددې معنی هم سپينوالی او پړقېدل دي، عمومي طور داسې جمله هغه اس ته استعماليږي چې څلور واړه يا درې پښې يې سپينې وي، دلته مراد هغه اندامونه دي چې د قيامت په ورځ به د اودس کونکي سرې پړقيږي، مطلب دا چې د کوم اس پښې، مخ او نور اندامونه چې سپين

وي دغه اسپه په نورو اسپو کې ممتازه ده، دغه شان هغه کس چې اودس کوي، دی به هم د قيامت په ورځ نورو خلکو کې ممتاز وي. په حديث کې ترغيب ورکول شوی چې بايد د اودس د انداموتو په وينځلو کې پوره مبالغه وکړی شي

د قيامت په ورځ به د اودس په اندامونو باندې ښورات وي

"وعنه، قَالَ: سَمِعْتُ خليلي ﷺ، يقول: تَبْلُغُ الحِلْيَةُ مِنَ المُؤْمِنِ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د خپل دوست پيغمبر ﷺ نه اوريدلي دي چې فرمايل يې: د مؤمن سړي لپاره به د جنت زيورات ترهغه پورې وي، "حَيْثُ يَبْلُغُ الوَضُوءُ" تر څو پورې چې په بدن کې د اودس اوبو اثرات وي رواه مسلم

تشريح: محدثين ددې حديث مطلب داسې بيانوي: د اودس اوبه چې کوم کوم ځای ته رسيږي. په جنت کې به په دې اندامونو کې د جنت زيورات اچولی شي، دغه شان د چا اودس چې څومره د سنت مطابق وي، دومره به په جنت کې د هغه د اودس اندامونه په ډول او سنګار پوښل شوي وي.

د اوداسه په برکت به ګناهونه معاف کيږي

"وعن عثمان بن عفان ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: من تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الوُضُوءَ، خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهِ" د عثمان بن عفان ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې په ښکلي شان سره اودس وکړي، نو د هغه د بدن نه ګناهونه راوځي، "حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهِ" تردې چې د نوکانو لاندې ګناهونه يې ترې خارجيږي رواه مسلم

تشريح: په دې حديث کې هم د اوداسه فضيلت بيان شوی، په اوداسه سره د اودس کونکي ګناهونه معاف کيږي، څومره چې اودس د سنت مطابق وکړی شي دومره به يې ګناهونه معاف شي. "حتى تخرج من تحت أظفاره" تردې چې د هغه د نوکانو لاندې ګناهونه به هم معاف شي. دا جمله د مبالغې په توګه ويل شوې ده، د اودس نه پس چې هغه ته صرف ظاهري طهارت حاصليږي، بلکې باطني طهارت يعنې د ګناهونو نه به هم صفا شي

علماء فرمايي ددې نه صغيره (وړوکي ګناهونه) مراد دي، کبيره ګناهونه (لوی ګناهونه) د توبې څخه بغير نه معاف کيږي

په اوداسه سره ټول ګناهونه معاف کيږي

"وعنه، قَالَ: رَأَيْتُ رسول الله ﷺ تَوَضَّأَ مِثْلَ وُضُوئِي هَذَا، ثُمَّ قَالَ: مَنْ تَوَضَّأَ هكَذَا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ" د عثمان ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ وليدو. داسې اودس يې وکړو لکه څنګه چې اوس ما اودس وکړو. بيا يې وفرمايل: څوک چې داسې اودس وکړي نو د هغه مخکيني ټول

Maktaba Tul Ishaat. com

ګناهونه به معاف شي. "وَكَانَتْ صَلَاتُهُ وَمَشْيُهُ إِلَى الْمَسْجِدِ نَافِلَةً" او بيا لمونځ کول او جومات ته تلل زياتي اجر او ثواب لري. رواه مسلم

تشريح: غفرله ماتقدم من ذنبه: د اودس نه ورانديي چي يي څومره ګناهونه کړي دي هغه ټول به ورته معاف شي. مطلب دا چي په اوداسه سره ورته ټول صغيره ګناهونه معاف کيږي. علماء کرام فرمايي د بنده حق نه معاف کيږي. ځکه چي تر څو پوري يي حقدار ته حق نه وي رسولی. تر هغي به ورته نه معاف کيږي. بل دا چي په دې حديث کي اشاره ده دې خبرې ته چي بايد د کور نه سري وځي، نو په اوداسه سره دي ووځي. په دې عمل سره ګناهونه معاف کيږي. بل جومات ته تلل او په جماعت سره لمونځ کول نور هم زيات ثواب لري

د اودس آخري څاڅکي سره ګناهونه معاف کيږي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ: إِذَا تَوَضَّأَ الْعَبْدُ الْمُسْلِمُ- أَوِالْمُؤْمِنُ- فَغَسَلَ وَجْهَهُ، خَرَجَ مِنْ وَجْهِهِ كُلُّ خَطِيئَةٍ نَظَرَ إِلَيْهَا بِعَيْنَيْهِ مَعَ الْمَاءِ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل. کوم مسلمان او يا مومن (دا شك د راوي له لوري دی) چي اودس وکړي. کله چي خپل مخ ووينځي نو هغه ګناهونه چي د سترګو څخه يي صادر شوي وي د اوبو سره تري وځي. "أَوْمَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ" يا يي داسي وفرمايل د اوبو آخري قطري سره وځي. "فَإِذَا غَسَلَ يَدَيْهِ، خَرَجَ مِنْ يَدَيْهِ كُلُّ خَطِيئَةٍ كَانَ بَطَشَتْهَا يَدَاهُ مَعَ الْمَاءِ، أَوْمَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ" او کله چي لاسونه ووينځي نو هر هغه ګناه چي په لاس سره يي کړي وي د اوبو د څاڅکي سره تري خارجيږي او يا يي داسي وفرمايل د اوبو د آخري څاڅکي سره تري خارجيږي. "فَإِذَا غَسَلَ رِجْلَيْهِ، خَرَجَتْ كُلُّ خَطِيئَةٍ مَشَتْهَا رِجْلَاهُ مَعَ الْمَاءِ، أَوْمَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ" او کله چي پښي ووينځي، نو هر هغه ګناه چي په پښو سره يي کړي وي هغه ټول ګناهونه يي د اوبو سره تري خارج شي او يا يي داسي وفرمايل د اوبو د آخري څاڅکي سره تري خارج شي. "حَتَّى يَخْرُجَ نَقِيًّا مِنَ الذُّنُوبِ" يا دده داسي حال شي چي د ګناهو څخه بيخي پاك اوصاف وګرځي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

نقياً: نقياً معنی ده: صفا سوتره

تشريح: د حديث نه معلومه شوه چي ټول واړه ګناهونه په اودس سره معاف کيږي. کوم چي د الله ﷻ د حقونو پوري تعلق لري. خو کوم حقونه چي د بنده پوري تعلق لري هغه نه معاف کيږي. بل دا چي اودس د بدني نظافت سره باطني نظافت هم راولي

رسول الله ﷺ به د قيامت په ورځ اودس کونکي خلك پيژني

"وعنه: أَنَّ رسول الله ﷺ أتى المقبرة، فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ، وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چي رسول الله ﷺ يوه ورځ هديري ته راغلو، نو داسي يي وفرمايل

ترجمه: سلام دي وي په تاسو باندې اې د مسلمانانو كورني، كه الله ﷻ وغواړي نو موږ به هم په تاسو پسې درشو، "وَدِدْتُ أَنَّا قَدْ رَأَيْنَا إِخْوَانَنَا" بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل: زه دا خوښه ګڼم چې زه خپل وروڼه ووينم، "قَالُوا: أَوَلَسْنَا إِخْوَانَكَ يَا رَسُولَ اللهِ؟" صحابه كرامو ﷺ وفرمايل: يارسول الله ﷺ! موږ ستاسو وروڼه نه يو؟ "قَالَ: أَنْتُمْ أَصْحَابِي، وَإِخْوَانُنَا الَّذِينَ لَمْ يَأْتُوا بَعْدُ" نبي كريم ﷺ وفرمايل نه! تاسو زما ملګري يئ، زما وروڼه خو هغه دي چې تر اوسه نه دي پيدا شوي، "قَالُوا: كَيْفَ تَعْرِفُ مَنْ لَمْ يَأْتِ بَعْدُ مِنْ أُمَّتِكَ يَا رَسُولَ اللهِ؟" هغوي وفرمايل: يا رسول الله ﷺ! تاسو به د قيامت په ورځ خپل وروڼه څنګه پېژنئ او حال دا چې هغوی لا تر اوسه پيدا شوي هم نه دي؟ "فَقَالَ أَرَأَيْتَ لَوْ أَنَّ رَجُلًا لَهُ خَيْلٌ غُرٌّ مُحَجَّلَةٌ" رسول الله ﷺ وفرمايل كه د يو كس داسې اسونه وي چې د هغې تندي او پښې سپينې وي، "بَيْنَ ظَهْرَيْ خَيْلٍ دُهْمٍ بُهْمٍ أَلَا يَعْرِفُ خَيْلَهُ؟" د داسې اسونو په مينځ كې وي چې هغه ټول تك تور وي، ايا دغه مالک به خپل اسونه ونه پېژني؟ "قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: فَإِنَّهُمْ يَأْتُونَ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنَ الْوُضُوءِ، وَأَنَا فَرَطُهُمْ عَلَى الْحَوْضِ" صحابه كرامو وفرمايل: يا رسول الله ﷺ! ولې نه، رسول الله ﷺ وفرمايل: زما امت به د حشر په ميدان كې داسې حال كې راځي چې د اوداسه په وجه به يې تندي، لاسونه او پښې سپين پرقيږي. رواه مسلم

تشريح: قالوا: لسنا إخوانك يا رسول الله ﷺ! اې د الله رسوله! ايا موږ ستاسو وروڼه نه يو؟ د صحابه كرامو څخه وروسته چې څومره امت دی هغو ټولو ته رسول الله ﷺ خپل وروڼه ويلي دي، په قرآن كريم كې ارشاد دی چې مسلمانان په خپلو كې وروڼه دي، "أنتم أصحابي" تاسو زما ملګري يئ، په دې جمله كې د صحابه كرامو خاص فضيلت بيانيږي چې ستاسو سره زما ورور ګلوي ده، "وانا فرطهم على الحوض" زه به د كوثر په حوض د ټولو نه وړاندې ناست يم، (فرطهم) هغه چاته ويل كيږي چې د قافلې نه يې وړاندې چېرته پړاو كړی وي، د قافلې د راتګ لپاره يې هغوی ته د ضرورياتو انتظام كړی وي، دا ددې امت امتيازي شان دی، د خلكو نه به وړاندې هلته د الله ﷻ په دربار كې د خلكو د بخښنې او درجاتو اوچتېدو لپاره دعاګانې كوي

«اللهم ارزقنا شفاعته يوم القيامة»

د قيامت په ورځ درجې اوچتونكي اعمال

"وعنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللهُ بِهِ الْخَطَايَا، وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته داسې عمل ونه ښيم چې د هغې په كولو سره به ستاسو ګناهونه الله ﷻ معاف كړي او درجې به مو اوچتې كړي؟ "قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: اودس پوره سنت طريقې سره كول، سره له دې چې تكليف هم ورته وي، "وَكَثْرَةُ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ، وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ" او جوماتو ته ډېر قدمونه اخيستل او د يو لمانځه څخه تر بل لمانځه پورې انتظار كول، "فَذَلِكُمُ الرِّبَاطُ، فَذَلِكُمُ الرِّبَاطُ" همدغه ستاسو رباط

Maktaba Tul Ishaat. com

دی، همدغه ستاسو رباط دی. رواه مسلم

تشریح: ګناهونه چې پرې معاف کیږي او درجې وربانديې اوچتیږي، په دې حدیث کې درې قسمه اعمال ذکر شو: په تکلیف او سختۍ کې په ښه شان سره اودس کول، مثلاً بیماري وي یا سخته یخني وي، نو په داسې وخت کې د سنت طریقې مطابق اودس کول د ګناهونو د معافۍ ذریعه ده، دویم جوماتونو طرفته په کثرت سره قدمونه ایښودل، که جومات لرې وي نو بیا هم جومات ته د جمعې لپاره ځي، دریم د یو لمانځه ځخه تر بل لمانځه پورې انتظار کول، که د جومات نه وځي نو بیا یې هم په جومات پورې زړه لګېدلی وي. "فذلکم الرباط" رباط په اصل کې سرحداتو باندې پېره دارۍ ته ویل کیږي، ددې لپاره چې دښمن رانشي، دغه شان په دې اعمالو سره هم انسان د خپل دښمن ځخه شیطان ځان ساتي، نو ځکه ورته رباط ویلی شي

صفايي نيمايي ايمان دی

"وعن أبي مالك الأشعري رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: الطُّهُورُ شَطْرُ الإِيمَانِ" د ابو مالك اشعري رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: صفايي او پاکیزګي نیمايي ایمان دی. رواه مسلم

"وَقَدْ سبق بطوله في باب الصبر" دا حدیث پوره په تفصیل سره باب الصبر کې ذکر دی. "وفي الباب حديث عمرو بن عَبَسَة رضي الله عنه السابق في آخر باب الرَّجَاءِ، وَهُوَ حديث عظيم، مشتمل عَلَى جمل من الخيرات" او په دې باب کې د عمرو بن عبسه رضي الله عنه حدیث دی چې مخکې په (باب الرجاء) کې تېر شوی دی او دا لوی حدیث دی چې چې د خیر نېکیو په خبرو باندې مشتمل دی.

داسې عمل چې د جنت اته واړه دروازې پرې خلاصیږي

"وعن عمر بن الخطاب رضي الله عنه، عن النبيِّ ﷺ، قَالَ: مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ - أَوْ فَيُسْبِغُ - الْوُضُوءَ" د عمر رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کې چې کوم کس پوره طریقې سره اودس وکړي، "ثُمَّ يقول: أَشْهَدُ أَنْ لاَ إلهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ" بیا دا کلمه ووايي: زه ددې خبرې شاهدي ورکوم چې نشته لائق د عبادت سېوا د الله ﷻ ځخه چې (واحد لا شريك له) ذات دی او زه ددې خبرې شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دی، "إِلاَّ فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ" نو د جنت اته (۸) دروازې به ورته خلاصې شي، په کومه دروازه چې یې داخلېدل خوښ وي داخل دې شي. "رواه مسلم. وزاد الترمذي: اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ" امام ترمذي رحمه الله پکې دا اضافه ذکر کړې ده چې اې الله! ما د توبه ویستونکو خلکو ځخه وګرځوې "وَاجْعَلْنِي مِنَ المُتَطَهِّرِينَ" او د پاکو خلکو ځخه مې وګرځوې!

تشریح: فیبلغ أو فیسبغ: په ښکلې طریقه اودس وکړي یا په کامله توګه اودس وکړي، راوي شکې دی چې رسول الله ﷺ (فيبلغ) وفرمایل او که (فيسبغ) يې وفرمایل، راوي دواړه جمع کړل. د

دوارو مطلب يو دى. يعني په ښه شان سره اودس وكړي چې اودس وكړي بيا د شهادت كلمه ووايي نو هغه ته به د جنت اته / ۸ دروازې خلاصيږي. دا ددې كلمې شان ته اشاره ده، كنه نو جنت ته به يوه دروازه داخليږي

اللهم اجعلنى من التوابين الخ: اي الله ﷻ! ما په توبه ويستونكو خلكو كې شامل كړې مطلب دا چې كه د بشري تقاضې مطابق كومه غلطي راڅخه وشي، نو تر څو چې مونږ سمدستي توبه ونه باسو او الله ﷻ يې راته معاف نه كړي، تر هغې مونږ ته آرام نه راځي. د ګناه نه پس په زړه د توبې ويستلو تقاضا پيدا كيږي، د داسې خلكو نه الله ﷻ ډېر زيات خوشحاليږي. لكه څرنګه چې په قرآن شريف كې هم ارشاد دى: "إن الله يحب التوابين" الله ﷻ د توبه ويستونكو سره مينه كوي

باب فضل الأذان

دآذان فضيلت

"عن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي النِّدَاءِ وَالصَّفِّ الأَوَّلِ، ثُمَّ لَمْ يَجِدُوا إِلَّا أَنْ يَسْتَهِمُوا عَلَيْهِ لَاسْتَهَمُوا عَلَيْهِ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل كه چېرته خلكو ته ددې خبرې پته ولګي چې په اولني صف كې او په آذان كې څومره اجر دى، نو دوى به په دې باندې قرعه اندازې (پچه) واچوي، ليكن دا اجر به خانته راكاږي. "ولو يعلمون ما في التهجير لاستبقوا إليه" كه چېرته د غرمې په وخت كې جمعې ته د تللو پته ورته ولګيږي چې څومره اجر پكې دى، نو په دې كې به هم ډير بل نه وړاندې كيږي، "وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي الْعَتَمَةِ وَالصُّبْحِ لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا" او كه چېرته ددې خبرې پته ورته ولګيږي چې د سهار په جمع كې او د ماسخوتن په جمع كې څومره اجر دى، نو دې ته به هم راځي، اګر چې په ګښېدو ولې نه وي. متفقٌ عَلَيْهِ

"الاسْتِهَامُ: الاقْتِرَاعُ" د (الاستهام) معنى ده: قرعه اندازي / پچه اچول. "وَ((التَّهْجِيرُ)): التَّبْكِيرُ إِلَى الصَّلاةِ" د (التجهير) معنى ده: د غرمې په وخت كې جمعې ته تلل.

لغوي تحقيق:

العتمة: د شپې تياره، د شپې اولنى حصه

تشريح: دې حديث كې د اولني صف، په اول وخت كې لمونځ كول، د سهار او ماسخوتن لمونځ ثواب او د هغې فضيلتونه بيان شوي دي. "حبواً" په اصل كې ګښېدو باندې مزل كولو ته وايي، لكه څرنګه چې ماشوم په ځيږو باندې مزل كوي. ليكن د حديث مطلب دا دى چې كه په ډېر تكليف او سختې سره هم د ماسخوتن او سهار جمعې ته راتلى شي، بايد چې راشي

Maktaba Tul Ishaat. com

د قيامت په ورځ به د مؤذن غاړه اوږده وي

"وعن معاوية ؓ، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ، يقولُ: اَلْمُؤَذِّنُونَ أَطْوَلُ النَّاسِ أَعْنَاقاً يَوْمَ الْقِيَامَةِ" د معاويه ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې د قيامت په ورځ به د آذان کونکو څټونه اوږده وي. رواه مسلم

تشريح: غاړه اوږد يدونه څه مراد دي؟په دې باره کې مختلف اقوال نقل شوی دی: (۱) يو مطلب خو يې دا دی چې ډېر زيات ثواب او مرتبه مقام به ورله حاصل شي (۲) مشر او سردار جوړيدل مراد دي، (۳) مؤذن لپاره به د قيامت په ورځ ډېر زيات ثواب طمع وي نو ځکه هغه به خپل څټ غاړه اوږد وي اوګورې به، (۴) الله ﷻ به مؤذن د قيامت په ورځ لوی عزت او لوړه مرتبه ورکړي، ځينې علماء کرام ؒ فرمايي چې مؤذن ته به ځکه دومره ستر او لوی مقام حاصليږي چې هغه به خلک نېکی او خير طرفته دعوت کول. او کوم کس چې نېک عمل طرفته خلک دعوت کوي نو په دې باندې عمل کونکي خلکو برابر ثواب به دته حاصليږي

په اوچت آواز آذان ويل پکار دي

"وعن عبدِ اللهِ بن عبدِ الرَّحْمانِ بن أبي صَعصعة: أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ الخدريَّ ؓ، قَالَ لَهُ: ((إِنِّي أَرَاكَ تُحِبُّ الغَنَمَ وَالبَادِيَةَ" د عبدالله بن عبد الرحمن بن أبي صعصعة ؒ نه روايت دی هغه فرمايي چې ماته أبو سعيد خدري ؓ وفرمايل: زه تا وينم چې د ګډو او دښتو سره مينه لرې، "فَإِذَا كُنْتَ فِي غَنَمِكَ - أَوْ بَادِيَتِكَ - فَأَذَّنْتَ لِلصَّلاةِ، فَارْفَعْ صَوْتَكَ بِالنِّدَاءِ" بس کله چې ته خپلې ګډې څروې او په دښته کې وې او د لمانځه لپاره آذان کوې، نو ښه په اوچت اواز سره آذان کوه: "فَإِنَّهُ لاَ يَسْمَعُ مَدَى صَوْتِ الْمُؤَذِّنِ جِنٌّ، وَلاَ إِنْسٌ، وَلاَ شَيْءٌ، إِلاَّ شَهِدَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" دا ځکه چې د مؤذن د آذان آواز که پيريان اوري او که انسانان يې اوري، هر شی چې وي دا ټول ورته د قيامت په ورځ شاهدي کوي، "قَالَ أَبُو سَعِيدٍ: سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ" أبو سعيد خدري ؓ فرمايي: دا خبره مې د رسول الله ﷺ نه واورېده. رواه البخاري

تشريح: فارفع صوتك بالنداء: په آذان کې خپل اواز اوچت کړه: اذان ددې وجې په اوچت آواز سره ويل کيږي څومره خلک چې دده د آذان آواز اوري هغومره به دده ته د قيامت په ورځ شاهدان زيات وي، نو ځکه ويل کيږي چې په اوچت آواز آذان وکړه. ددې لپاره چې زيات نه زيات مخلوقات ستا لپاره شاهدي ادا کړي.

ولا شئ إلا شهد له يوم القيامة: يو شی داسې نشته چې هغه ددې مؤذن آذان واوري. مګر دا چې دا ټول به ورته د قيامت په ورځ شاهدي ورکوي، که حيوانات دي. که نباتات دي او که جمادات وي. د الله ﷻ ټول مخلوقات به د قيامت ورځ ددې ټولو خيرو شاهدي وراندې کوي، دا هر څه به د انسانانو او پيريانو په شان مؤذن ته د آذان شاهدي ورکوي

د راوي عبد الله بن عبد الرحمن بن أبي صعصعه رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې عبد الله رضي الله عنه دى، د مازن قبيلې سره يې تعلق دى، جليل القدر تابعي دى، د دوى نه يې زوى عبد الرحمن رحمه الله او حميد رحمه الله روايت نقل كوي، په ثقه راويانو كې شمار دى، د دوى نه په بخاري، ابوداود، نسائي او ابن ماجه كې روايات نقل دي.

د اذان په اورېدو سره شيطان منډې وهي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: إِذَا نُودِيَ بِالصَّلَاةِ، أَدْبَرَ الشَّيْطَانُ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې د لمانځه لپاره آذان شروع شي نو شيطان منډه كړي، "وَلَهُ ضُرَاطٌ حَتَّى لَا يَسْمَعَ التَّأْذِينَ" او شيطان تېزونه شروع كړي تر هغه ځاى پورې تښتي چې ترڅه چې د آذان اواز نه رسيږي، "فَإِذَا قُضِيَ النِّدَاءُ أَقْبَلَ" او كله چې آذان ختم شي، بيا راواپس شي، "حَتَّى إِذَا ثُوِّبَ لِلصَّلَاةِ أَدْبَرَ حَتَّى إِذَا قُضِيَ التَّثْوِيبُ أَقْبَلَ" او كله چې اقامت شروع شي، نو بيا شيطان منډه كړي اقامت چې ختم شي بيا واپس راشي، "حَتَّى يَخْطِرَ بَيْنَ الْمَرْءِ وَنَفْسِهِ، يَقُولُ: اذْكُرْ كَذَا وَاذْكُرْ كَذَا ـ لِمَا لَمْ يَذْكُرْ مِنْ قَبْلُ" كله چې واپس راشي، نو د انسان په زړه كې وسوسې غورځوي، ورته وايي چې دا كار ياد كړه هغه كار ياد كړه او هغه كارونه درته پاتې دي، داسې كارونه به درته ياد كړي چې ستا په خاطر كې هم نه وي، "حَتَّى يَظَلَّ الرَّجُلُ مَا يَدْرِي كَمْ صَلَّى" په دې وسوسو كې راګېر وي چې د سړي حالت بيا دا شي چې پته ورته نه لګيږي چې څومره ركعتونه يې وكړه. متفق عليه

"التَّثْوِيبُ: الإِقَامَةُ" د تثويب نه مراد اقامت دى.

تشريح: له ضراط: شيطان چې كله د آذان اواز واوري، نو تېزونه شروع كړي او منډې وهي، مطلب دا دى چې شيطان ډېر په تېزى سره منډې شروع كړي، د ډېرې تېزى نه د هغه نه تېزونه وځي، يا دا چې قصدا د شرارت په وجه تېزونه شروع كړي او منډې وهي، "أذكر كذا أذكر كذا" فلانكى شى ياد كړه! فلانكى شى ياد كړه! مطلب دا چې شيطان د هغه په زړه كې وسوسې غورځوي، د هغه زړه دنيا ته متوجې كوي، مقصد يې دا وي چې په زړه كې يې خشوع ختمه شي.

شيطان چې د آذان نه منډې وهي، د لمونځ نه ولې منډې نه وهي؟

د آذان د آواز نه شيطان منډې وهي، د لمونځ نه يې منډې نه وهي؟ جواب دا دى چې د آذان په كلماتو كې داسې هيبت پروت دى چې شيطان يې واوري نو سمدستي په وېره كې مبتلا شي، بل دا چې آذان دعوت دى او شيطان چې د دعوت خبرې واوري، نو هغه سمدستي د داسې ځاى څخه منډې وهي

د مؤذن آذان ته جواب وركول

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما: أَنَّهُ سمع رسول الله ﷺ، يقول: إِذَا سَمِعْتُمُ النِّدَاءَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې

Maktaba Tul Ishaat. com

فرمايل دي: کله چې تاسو د آذان اواز واورئ نو هغه څه وايئ کوم څه چې مؤذن وايي "ثُمَّ صَلُّوا عَلَيَّ، فَإِنَّهُ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا" بيا په ما باندې درود شريف ولېږئ ځکه چې کوم کس په ما باندې يو ځل درود شريف ووايي، الله ﷻ به په هغه باندې لس ځله رحمت رانازل کړي، "ثُمَّ سَلُوا اللّٰهَ لِيَ الْوَسِيلَةَ، فَإِنَّهَا مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ" بيا زما لپاره د الله ﷻ نه د وسيلې سوال وکړئ وسيله په جنت کې يو مقام دی، "لَا تَنْبَغِي إِلَّا لِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِ اللّٰهِ" دا به نه شي ورکولی مګر د الله ﷻ په بندګانو کې به يو بنده ته ورکول کيږي، "وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا هُوَ" او زه اميد ساتم چې هغه بنده به زه يم، "فَمَنْ سَأَلَ لِيَ الْوَسِيلَةَ حَلَّتْ لَهُ الشَّفَاعَةُ" کوم کس چې زما لپاره د وسيلې سوال وکړي د هغه لپاره زما شفاعت واجب کيږي رواه مسلم

تشريح: إذا سمعتم النداء فقولوا مثل ما يقول المؤذن: کله چې تاسو د آذان آواز واورئ نو تاسو هم هغسې وايئ څرنګه چې هغه وايي، د مؤذن په جواب کې هم هغه الفاظ ويل کيږي کوم چې مؤذن وايي، ليکن په يو څو الفاظو کې لږ فرق شته کوم چې په وړاندې حديث کې راتلونکي دي

ثم سلوا اللّٰــه لي الوسيلة: بيا د الله ﷻ نه زما لپاره وسيله وغواړئ، د وسيلې نه مراد په جنت کې هغه مقام دی چې الله ﷻ به يې خپل خاص پېغمبر ته ورکوي، "أرجو أن أكون أنا هو" اميد لرم چې هغه به زه يم، يقينا هغه درجه او مقام د رسول الله ﷺ لپاره خاص دی، ليکن دلته رسول الله ﷺ لفظ د (ارجو) استعمال کړو، دا يې د عاجزۍ او خاکسارۍ په توګه داسې وويل.

حلت له الشفاعة: د هغه لپاره به زما شفاعت حلال شي، مطلب دا چې کومو خلکو د الله ﷻ څخه زما لپاره د وسيلې سوال وکړو، هغه ته به زما له لورې د شفاعت رعايت ملاو شي، د داسې خلکو باره کې به رسول الله ﷺ شفاعت کوي، کومو خلکو ته چې اجازه نه وي رسول الله ﷺ به: داسې کسانو په حق کې شفاعت نه کوي.

د مؤذن د آذان جواب به په ژبه ورکولی شي

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: إِذَا سَمِعْتُمُ النِّدَاءَ، فَقُولُوا كَمَا يَقُولُ الْمُؤَذِّنُ" د أبو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې تاسو د آذان آواز واورئ، نو تاسو هم هغسې وايئ لکه څنګه الفاظ چې هغه ادا کوي. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: كما يقول المؤذن: مؤذن چې څه وايي هغسې تاسو هم وايئ، البته د (حي على الصلاة) او (حي على الفلاح) په جواب کې به: (لاحول ولا قوة إلا باللّٰــه) وايي، د سهار په آذان کې چې کله (الصلوة خيرٌ من النوم) ووايي، نو په جواب کې به يې (صدقت وبررت وبالحق نطقت) وايي، علماء فرمايي: د آذان جواب هر کس ورکولی شي، برابره خبره ده چې په اوداسه کې وي يا نه، که جنبي وي او که د حيض په حالت کې وي.

دآذان نه وروسته دعاء

"وعن جابر رضي الله عنه: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: مَنْ قَالَ حِيْنَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ: اللَّهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ" د جابر رضي الله عنه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کوم کس چې په تاسو کې د آذان آواز واوري او بيا دا دعاء ووايي، ترجمه: اې الله جل جلاله! ته ددې پوره دعوت رب يې "وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ" او د ولاړ لمانځه "آتِ مُحَمَّداً الْوَسِيْلَةَ، وَالْفَضِيْلَةَ" محمد ﷺ ته وسيله او فضيلتونه ورکړې "وَابْعَثْهُ مَقَاماً مَحْمُوداً الَّذِي وَعَدْتَهُ" او دی هغه مقام ته ورسوه چې نوم يې مقام محمود دی کوم چې تاسو د نبي کريم ﷺ سره د هغې وعده کړې ده "حَلَّتْ لَهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ" نو د داسې کس لپاره زما شفاعت واجب شو. رواه البخاري

تشريح: الصلوة القائمة: د قائم کېدو والا لمانځه مالکه! لمونځ ته قائم ووېل شو، مطلب دا چې لمونځ به همېش تر قيامته پورې قائم وي، ان شاء الله! "والفضيلة" ددې نه وروسته ځينې خلک "والدرجة الرفيعة" الفاظ هم زياتوي، دا په کوم حديث کې نشته، "وابعثه مقاماً محموداً" هغه مقام محمود ته ورسوه ددې نه مراد شفاعت عظمی دی، د قيامت په ورځ به رسول الله ﷺ دګناهګارو خلکو د شفاعت لپاره د الله جل جلاله په دربار کې ودرېږي.

وعدته: د کوم وعده چې تاسو کړې ده، علماء فرمايي په دې کې د قرآن کريم دې آيت ته اشاره ده "عسى أن يبعثك ربك مقاماً محموداً" اميد شته چې ستاسو رب تاسو ته مقام محمود درکړي، يعنې رسول الله ﷺ ته به الله جل جلاله مقام محمود (شافع محشر) مقام ورنصيب کړي، دا هغه عزت دی چې په ټول بنيادم کې چاته نه دی ملاو شوی، په ځينو رواياتو کې "إنك لا تخلف الميعاد" الفاظ په آخر کې راغلي دي.

دآذان نه وروسته بله دعاء

"وعن سعد بن أبي وقّاص رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، أنه قال: مَنْ قَالَ حِيْنَ يَسْمَعُ الْمُؤَذِّنَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ" د سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د آذان کلمات واوري او بيا دا دعاء ووايي: چې زه ددې خبرې شاهدي ورکوم چې نشته لائق د عبادت سېوا د الله جل جلاله نه چې (واحد لاشريك له) ذات دی او محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دی، "رَضِيْتُ بِاللهِ رَبّاً، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُوْلاً، وَبِالْإِسْلَامِ دِيْناً" زه په دې خبره راضي يم چې رب مې الله جل جلاله دی، محمد ﷺ مې رسول دی او اسلام مې دين دی، "غُفِرَ لَهُ ذَنْبُهُ" الله جل جلاله ددې کس لپاره ټول ګناهونه بخښي. رواه مسلم

تشريح: حين يسمع المؤذن: کله چې د مؤذن د آذان اواز وارېدل شي، نو د شهادت کلمه دې ووايي، الفاظ يې دا دي: (أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأن محمداً عبده ورسوله) دغه راز "رضيت بالله رباً وبمحمد ﷺ الخ" دعائيه کلمات به هم ووايي، دې باره کې د محدثينو دوه قوله دي (۱) کله چې مؤذن (أشهد أن لا إله إلا الله الخ" ووايي، (۲) دويم قول دا دی چې کله آذان ختم شي، وروسته دې ووايي، ليکن

Maktaba Tul Ishaat. com

علماوو دغه دويم قول ته ترجيح ورکړې ده، ځکه چې په دې سره د آذان د نورو کلماتو جواب ورکول هم ممکن شي.

د آذان او تکبير ترمينځ دعاء نه رد کيږي

"وعن أنس ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: الدُّعَاءُ لَا يُرَدُّ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د آذان او اقامت ترمنځ دعاء نه رد کيږي. "رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن."

تشريح: لايرد بين الأذان والإقامة: د آذان او تکبير ترمنځ دعاء نه رد کيږي، په يو بل روايت کې دي چې "الدعوة لاترد بين الأذان والإقامة" دعاء د آذان او اقامت ترمينځ نه رد کيږي، په يو بل روايت کې دي چې "الدعاء بين الأذان والإقامة يستجاب فأدعوا" د آذان او اقامت ترمينځ دعاء قبليږي، په دې وخت کې دعاء غواړئ، علامه قاضي ابوبکر محمد بن عبد الله المعروف بابن عربي رحمه الله فرمايي: د آذان نه وروسته د رحمت دروازې خلاصيږي، نو ځکه په دې وخت کې دعا ډيره زر قبليږي.

باب فضل الصلوات

د لمانځه فضيلت

"قَالَ اللّٰهُ تعالى" الله جل جلاله فرمايي: "إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ" بې شکه لمونځ د بې حيايي او ناروا کارونو څخه انسان منع کوي [العنکبوت:۴۵].

تشريح: په لمانځه کې دا اثر پروت دی چې کله په لمونځ کې ظاهري او باطني آدابو لحاظ وساتل شي، نو انسان ددې په وجه د ګناهونو نه بچ کېدلی شي، خو څوک چې لمونځونه کوي ليکن بيا هم د ګناه څخه نه بچ کيږي، پوه شه چې دده په لمونځ کې څه نا څه خرابوالی شته، د عمران بن حصين ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي: کله چې د رسول الله ﷺ نه ددې آيت: "إن الصلوة تنهى عن الفحشاء الخ" باره کې پوښتنه وشوه چې ددې مطلب څه دی؟ نو رسول الله ﷺ وفرمايل چې: "من لم تنه صلوته عن الفحشاء والمنكر فلا صلوة له" څوک چې د لمانځه په وجه د بې حيايي کارونو څخه منع نه شي، نو د هغه لمونځ صحيح نه دی، دغه شان د عبد الله بن عباس ﷺ نه ددې آيت باره کې پوښتنه وشوه، دوی جواب ورکړو چې يو کس د لمانځه په وجه نېکو اعمالو ته متوجه نه شي او بدو اعمالو څخه ځان ونه ساتي، نو داسې لمونځ په ځای ددې چې الله جل جلاله ته يې ورنږدې کړيو نور يې هم ترې لرې کوي.

د پنځه وخته لمونځونو مثال

"وعن أبي هريرة ﷺ، قال: سَمِعْتُ رسولَ اللّٰه ﷺ يقول: أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهَرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: ماته خبر راکړئ چې که په تاسو کې د يو کس د دروازې سره نږدې نهر بهيږي او هغه يکې پنځه وخته غسل

کوي، "هَلْ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ؟" ايا د هغه په بدن باندې به څه خيره پاتې شي؟ "قَالُوا: لَا يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ" صحابه کرامو وفرمايل: يارسول الله ﷺ! د هغه په بدن باندې به هيڅ خيره پاتې نه شي. "قَالَ: فَذٰلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ يَمْحُو اللّٰهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا" نبي کريم ﷺ وفرمايل: همدغه مثال د پنځه وخته لمونځونو هم دی چې ددې په وجه د انسان ګناهونه بخښل کيږي. متفقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

درن: خيرنوالی، ګندګي.

تشريح: په دې حديث کې اشاره ده دې خبرې ته چې د لمانځه په وجه د انسان ګناهونه معاف کيږي، رسول الله ﷺ ددې ذکر د يو مثال په توګه بيان کړو، يو کس چې کوم کاروبار کوي، ددې په وجه د هغه په بدن خيرې پريوځي، خو ددې سره سره د هغه د کاروبار او کور ترمينځ يو نهر وي، کله چې ددې کاروبار څخه واپس شي، نو په دې نهر کې غسل کوي، په ورځ کې دا عمل پنځه وخته کوي، کله چې هم دی کور ته واپس راځي، نو پاک او صفا وي، دغه شان ددې لمونځ کونکي سړي مثال دی چې د يو لمانځه څخه تر بل لمانځه پورې د ګناهونو خيرې او ګند ورباندې وي، هغه د الله ﷻ په دربار کې لمانځه ته دريږي، نو د هغه څخه به ددې لمانځه په برکت خيرې، ګند او ګناهونه لرې شي

د پنځه وخته لمونځ مثال د يو ډوب نهر دی

"وعن جابر ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ كَمَثَلِ نَهَرٍ جَارٍ غَمْرٍ عَلَى بَابِ أَحَدِكُمْ" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د پنځه وخته لمونځونو مثال د هغه روان نهر په شان دی چې ډير ډوب وي او د دروازې مخې ته روان وي، "يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ" هره ورځ ترې پنځه وخته غسل کوي رواه مسلم

لغوي تحقيق:

"الْغَمْرُ: بفتح الغين المعجمة: الكثير" د (الغمر) معنی ده: ډوبې اوبه.

تشريح: نهراً غمراً: ښه ډوب نهر، نهر چې څومره ډوب وي دومره د هغه اوبه سپينې وي، سړی چې په څومره صفا اوبو باندې غسل کوي دومره به يې بدن صفا وي، نو د پنځه وخته لمانځه مثال د غسل په شان دی، د لمانځه نه علاوه نورو وختونو کې چې په بدن د ګناه کومه خيره ولګيږي، ددې لمانځه په برکت سره هغه صفا شي

لمانځه سره ګناهونه معاف کيږي

"وعن ابن مسعود ﷺ: أَنَّ رَجُلًا أَصَابَ مِنِ امْرَأَةٍ قُبْلَةً، فَأَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَأَخْبَرَهُ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى" د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي: يو کس يوه ښځه مچو کړه، د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو، ټوله واقعه يې ورته بيان کړه، الله ﷻ دغه آيت رانازل کړو: "أَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ

Maktaba Tul Ishaat. com

اللَّيْلِ" په دواړو طرفونو د ورځې او څه حصه د شپې کې لمونځ کوه: "إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ" بې شکه چې نيکۍ ګناهونه ختموي، [هود: ۳] "فَقَالَ الرَّجُلُ أَلِيَ هَذَا؟" هغه کس ووېل يا رسول الله ﷺ دا حکم صرف زما لپاره دی؟ "قَالَ: لِجَمِيعِ أُمَّتِي كُلِّهِمْ" نبي کريم ﷺ وفرمايل نه! بلکې دا حکم زما د ټول امت لپاره دی.

متفق عليه

تشريح رجلا أصاب من إمرأة قبلة: يو کس يوه ښځه مچو کړه، په ترمذي کې هغه صحابي ﷺ خپله واقعه بيانوي چې ماته يوه ښځه راغله، خورما يې راڅخه اخيستل، ما ورته ووېل ددې خورما نه رامره نوري ډېرې ښې خورما په داخل د دکان کې شته، هلته به لاړ شو. ته به يې وګورې کله چې هغه زما دکان ته راغله، نو ما هغه مچو کړه، په دې کار باندې زه ډېر زيات وشرمېدم. د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، ټوله واقعه مې ورته بيان کړه، په دې باندې رسول الله ﷺ هغه پورتنی حديث بيان کړو، ددې سړي نوم ابو اليسر ښودل شوی دی. "طرفي النهار وزلفاً من الليل" د ورځې په دواړو اطرافو او د شپې په څه حصه کې، "طرفي النهار" ددې نه د سهار، ماسپښين او مازيګر لمونځ مراد دی. "زلفاً من الليل" ددې نه ماښام او ماسختن لمونځونه مراد دي، مطلب دا چې د پنځه وخته لمونځ پابندي کوه؛ په دې سره ګناهونه معاف کيږي

پنځه وخته لمونځ د ګناهونو کفاره جوړيږي

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د يو لمونځ نه تر بل لمانځه پورې او يا د يوې جمعې نه تر بله جمعې پورې، "كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ، مَا لَمْ تُغْشَ الْكَبَائِرُ" دا کفاره ده د هغه ګناهونو لپاره چې ددې په مېنځ کې وکړی شي تر څو يې چې غټ ګناهونه نه وي کړي رواه مسلم

تشريح: خلاصه دا چې څوک د پنځه وخته لمونځ اهتمام کوي او ورسره د جمعې د لمانځه خيال ساتي، نو ټول واړه ګناهونه به يې معاف کيږي او د لويو ګناهونو څخه به توبه وباسي. دلته يو اعتراض دی، هغه دا چې کله په لمانځه سره ټول ګناهونه معاف کيږي، نو د جمعې په ورځې د جمع لمونځ سره د ګناهونو د معاف کېدو مطلب څه دی؟ جواب دا دی چې ملا علي قاري رحمه الله فرمايي په لمانځه سره ګناهونه معاف کيږي، که څه باقي پاتې شي نو هغه د جمعې په لمانځه سره معاف کيږي. دويم جواب محدث دهلوي رحمه الله ورکړی دی هغه دا کنه نو ددې په بدله کې ورته نېکۍ ليکل کيږي، دويم جواب محدث دهلوي ورکړی دی هغه دا چې په پنځه وخته لمونځ کې او د جمعې د جمع په لمانځه کې دا صلاحيت شته چې په دې سره ګناهونه معاف شي، که چېرته په لمانځه کې څه نقصان وي، نو په دې سره ګناهونه معاف کيږي، يا د جمعې په لمانځه سره معاف کيږي

په اوداسه او لمانځه سره ګناهونه معاف کيږي

"وعن عثمان بن عفان ﷺ، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ، يقول: مَا مِنِ امْرِئٍ مُسْلِمٍ تَحْضُرُهُ صَلَاةٌ مَكْتُوبَةٌ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهَا"

د عثمان بن عفان ﷺ نه روایت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چې فرمایل یې
نشته داسې مسلمان چې هغه ته د فرض لمونځ وخت راشي او ښکلی اودس وکړي، "وخشوعها وركوعها"
بیا ښه په ښکلي شان سره د خشوع او خضوع په حال کې خپله رکوع او پوره لمونځ وکړي. "إلا كانت كفارة
لِمَا قَبْلَهَا مِنَ الذُّنُوب" مګر دا چې دا لمونځ به دده لپاره د هغه ګناهونو کفاره ګرځي کوم ګناهونه چې تري
مخکې شوي دي، "مَالَمْ تُؤتَ كَبِيرَةٌ، وَذٰلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ" تر څو چې يې غټه ګناه نه وي کړي او دا به تر ټول عمر
پورې وي. رواه مسلم

تشريح: د حديث مطلب هم دا دی چې کوم مسلمان په داسې طريقه لمونځ وکړي چې د هغه
ټولو آدابو او شرائطو لحاظ وساتي او پوره په خشوع او خضوع سره يې وکړي، نو داسې لمونځ دده
لپاره د ګناهونو کفاره ګرځي، "مالم تؤت كبيرة" تر څو چې د لويې ګناه مرتکب شوی نه وي، ځکه چې لوی
ګناهونه په لمانځه سره نه معاف کيږي، ددې لپاره توبه او استغفار ضروري دی، لکه په قرآن کريم کې
چې راځي "إن تجتنبوا كبائر ما تنهون عنه نكفر عنكم سيائكم" که تاسو د لويو ګناهونو نه ځان بچ کړو، نو زه به
تاسو ته واړه ګناهونه معاف کړم

باب فضل صلاة الصبح والعصر

د سهار او مازيګر لمانځه فضيلت

"عن أبي موسى ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: مَنْ صَلَّى الْبَرْدَيْنِ" د أبو موسى اشعري ﷺ نه روايت دی
هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کوم کس چې دوه يخ لمونځونه وکړي. "دَخَلَ الْجَنَّةَ" جنت ته به
داخليږي. متفقٌ عَلَيْهِ

"الْبَرْدَانِ: الصُّبْحُ وَالْعَصْرُ" د (البردان) نه مراد د سهار او مازديګر لمونځونه دي.

تشريح: علماء فرمايي: د هر لمانځه اهتمام او پابندي ضروري ده. ليکن ځينې داسې
لمونځونه دي چې د هغې اهتمام او پابندي شريعت په تاکيد سره کړې ده. ددې لپاره چې په دې
لمونځونو کې سستي ونه شي، په دې کې يو د سهار لمونځ دی چې د خوب په وجه ددې کول ډېر
مشکل وي، دغه شان د مازيګر لمونځ دی چې په دې وخت کې کاروباري خلك اکثره په کاروبار کې
مشغول وي، نو ددې لمانځه ادا کول ورته مشکل شي. دا خو په حديث کې وويل شو چې ددې
لمونځونو اهتمام کوئ. جنت ته به داخل شئ. ليکن ددې دا مطلب هيڅکله نه دی چې پاتې نور
لمونځونه مه کوئ، مطلب دا چې ددې سختو وختونو د لمانځه اهتمام کوئ، د باقي لمونځونو اهتمام
به په طريق اولى سره کوئ.

د سهار او مازيګر لمانځه اهتمام سره سړی د جهنم نه خلاصيږي

"وعن أبي زهير عُمارة بن رُوَيْبَةَ ﷺ، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ، يقول: لَنْ يَلِجَ النَّارَ أَحَدٌ صَلَّى قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ

Maktaba Tul Ishaat. com

غروبها يعني: الفجر والعصر" د ابو زهير عماره بن رؤيبة ﷛ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چې فرمايل يې: هغه کس به دوزخ ته داخل نه شي چې د لمر ختلو نه مخکې او د لمر پريوتو نه مخکې لمونځ وکړي، يعنې د سهار او مازديګر لمونځ. رواه مسلم

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې کوم کس د سهار او مازيګر لمونځ کوي، نو جهنم ته به نه ځي، ددې دواړو خصوصيت څه دی؟ دې باره کې علامه طيبي ؒ فرمايي: وجه يې دا ده چې د سهار وخت د آرام وخت وي، په دې وخت کې له خوبه راپاڅېدل مشکل وي، د مازيګر وخت د کاروبار وخت وي، کوم کس چې ددې وختونو د لمانځه خيال ساتي او په دې باندې مداومت کوي. نو د پاتې نورو لمونځونو خيال او اهتمام به په طريق اولی سره کوي، لکه څرنګه چې په قرآن شريف کې ارشاد مبارك دی: "إن الصلوة تنهى عن الفحشاء والمنكر" لمونځ د بې حيايي او ناروا کارونو څخه منع کوي، مطلب دا چې د ټولو لمونځونو اهتمام کوئ، ددې لپاره چې د جنت مستحق جوړ شئ.

د راوي ابو زهير عماره بن رويبه ﷛ حالات:

اصل نوم يې عماره ﷛ دی، کنيت يې ابو زهير دی، د پلار نوم يې رويبه دی، د بنو ثقيف قبيلې سره تعلق لري، په کوفه کې مقيم وو، د دوی نه يې زوی ابوبکر او ابو اسحاق السبعي روايت کوي، نهه احاديث ترې نقل دي، په مسلم کې ترې دوه روايتونه نقل شوي دي.

څوک چې د سهار لمونځ وکړي، د الله ﷻ په حفاظت کې راشي

"وعن جندب بن سفيان ﷛، قال: قال رسول الله ﷺ: من صلى الصبح فهو في ذمة الله، فانظر يا ابن آدم" د جندب بن سفيان ﷛ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د سهار لمونځ وکړي، نو داسې کس د الله ﷻ په ذمه دارۍ کې داخليږي، اې د آدم عليه السلام بچيه! خيال کوه "لا يطلبنك الله من ذمته بشيء" چېرته الله ﷻ د خپلې ذمه دارۍ باره کې ستاسو نه پوښتنه ونه کړي، يعنې لمونځ درنه فوت نه شي، کنه نو الله ﷻ به درنه ضرور پوښتنه کوي. رواه مسلم

تشريح: من صلى الصبح فهو في ذمة الله: کوم کس چې د سهار لمونځ کوي، داسې کس د الله ﷻ په حفاظت کې راځي، ددې يو مطلب دا دی چې د سهار په لمانځه کې غفلت مه کوئ: هسې نه چې د الله ﷻ په مؤاخذه کې راشي، دويم مطلب يې دا دی چې کوم کس د سهار لمونځ کوي، نو داسې کس د الله ﷻ په عهد او امان کې راځي، اوس د داسې کس سره بد سلوکي کول، د هغه پسې غيبت کول، مال ترې اخيستل، د هغه بې عزتي کول دا هر څه حرام دي، ددې نه ځان ساتل پکار دي، ځکه چې هر سړی د الله ﷻ په عهد او امان کې دی، د الله ﷻ په عهد او امان کې چې څوك خلل اچوي، نو الله ﷻ خپله د هغه مؤاخذه کوي، کوم کس ته چې الله ﷻ په قهر شي، نو داسې کس بيا هيڅوك د الله ﷻ نه نشي خلاصولی

د سهار او مازيګر په لمانځه کې د پرښتو اجتماع

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: يَتَعَاقَبُونَ فِيكُمْ مَلَائِكَةٌ بِاللَّيْلِ، وَمَلَائِكَةٌ بِالنَّهَارِ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو ته د شپې او د ورځ پرښتې وار په وار راځي. "وَيَجْتَمِعُونَ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ وَصَلَاةِ الْعَصْرِ" دغه پرښتې د سهار او مازيګر په لمانځه کې جمع کيږي. "ثُمَّ يَعْرُجُ الَّذِينَ بَاتُوا فِيكُمْ، فَيَسْأَلُهُمُ اللهُ -وَهُوَ أَعْلَمُ بِهِمْ- كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِي؟" بيا هغه پرښتې چې ستاسو سره يې شپه تيره کړې وي پورته وخيژي، الله ﷻ ترې پوښتنه وکړي (حال دا چې الله ﷻ د دوی په حال ښانده پوه دی) تاسو زما بندګان په کوم حال کې پرېښودل؟ "فَيَقُولُونَ: تَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ، وَأَتَيْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ" پرښتې ورته ووايي: موږ په داسې حال کې پرېښودل چې لمونځ يې کولو او په داسې حال کې مو ملاقات ورسره وشو چې بيا هم دوی لمونځ کولو. متفقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

يتعاقبون: د يتعاقبون معنى ده: وار په وار.

تشريح: ويجتمعون فى صلاة الفجر وصلاة العصر: د سهار او مازيګر په لمانځه کې ټولې سره جمع کيږي. مطلب دا چې د بندګانو د اعمالو ليکونکي کومې پرښتې چې مقررې دي څه سهار راځي تر ماښامه پورې وي او څينې يې ماښام راځي تر سهاره پورې وي، نو ددې پرښتو جمع والی د سهار او مازيګر په لمانځه کې وي، "فيسالهم ربهم" الله ﷻ ترې پوښتنه وکړي، دلته يو اعتراض واردېږي هغه دا چې ايا الله ﷻ ته ددې علم نشته چې زما بندګان اوس په دې وخت کې څه کوي چې الله ﷻ يې د پرښتو نه پوښتنه کوي؟ جواب دا دی چې کله الله ﷻ آدم عليه السلام پيدا کول غوښتل، نو پرښتو اعتراض وکړو چې انسان به دنيا ته راشي، فساد به جوړ کړي، وينې به توی وي او دا بې هم ووېل: اې الله! موږ ستا عبادت کوو. په داسې وخت کې د الله ﷻ د سوال کولو مطلب دا دی چې: وګورئ! د کوم مخلوق باره کې چې ستاسو دا خيال وو چې هغه به په دنيا کې فتنه او فساد خپروي، اوس نو تاسو وګورئ چې هغوی په څومره پابندۍ سره زما عبادت کوي. خلاصه دا چې په پرښتو باندې د انسان فضيلت او عظمت ظاهرول مقصود وي.

خپل رب به د سپوږمۍ په شان وويني

"وعن جرير بن عبد الله البَجَلِيِّ ﷺ، قَالَ: كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ فَنَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ" د جرير بن عبد الله بجلي ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې موږ د رسول الله ﷺ په خدمت کې ناست وو چې موږ ته د څوارلسمې شپې سپوږمۍ په نظر شوه، "فَقَالَ: إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هَذَا الْقَمَرَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: تاسو به خپل رب داسې وګورئ لکه څنګه چې اوس تاسو دغه سپوږمۍ وينئ! "لَا تُضَامُونَ فِي رُؤْيَتِهِ" چې يو بل ته ددې د ليدلو لپاره ديکې نه ورکوئ! "فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَا تُغْلَبُوا عَلَى صَلَاةٍ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا، فَافْعَلُوا" که وس مو

Maktaba Tul Ishaat. com

ګورئ چې په تاسو باندې د سهار په لمانځه کې او د مازديګر په لمانځه کې غلبه رانشي، نو دا لمونځونه وکړئ. متفق عليه

"وفي رواية: فَنَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ لَيْلَةَ أَرْبَعَ عَشْرَةَ" په يو بل روايت کې دي چې وې کتل د څوارلسمې شپې سپوږمۍ ته.

تشريح: القمر ليلة البدر: د څوارلسمې شپې سپوږمۍ، د څوارلسمې شپې سپوږمۍ مکمله وي، دغه شان د قيامت په ورځ به هر انسان خپل رب دغه شان ويني، د اهل سنت والجماعت عقيده ده چې د قيامت په ورځ به مسلمانان خپل رب ويني. همدغه خبره د قرآن مجيد نه هم معلوميږي او د رسول الله ﷺ د احاديثو څخه هم ثابته ده. لکه څرنګه چې په پورتني حديث کې ذکر شول. بل د دې حديث نه دا هم معلومه شوه چې څوک د مازيګر او سهار لمونځ په اهتمام سره کوي، نو الله ﷻ د دې په برکت خپل ديدار ورته نصيب کوي چې د جنت نعمتونه ورپسې نه شي رسيدلى.

د مازيګر لمونځ پرېښودو سره اعمال بربادېږي

"وعن بُرَيْدَةَ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ تَرَكَ صَلَاةَ الْعَصْرِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ" د بريده رضي الله عنه نه روايت دى فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د مازديګر لمونځ پرېږدي، نو د هغه ټول عملونه برباد شول. رواه البخاري

تشريح: په يو بل روايت کې دي چې "من ترك صلاة العصر متعمداً حتى تفوته فقد حبط عمله" چا چې د مازيګر لمونځ قصداً وروسته کړو تردې چې ترې قضاء شو. نو د هغه اعمال برباد شول. "صلوة العصر" د مازيګر وخت د مشغولتيا وخت وي. څکه يې په پوره تاکيد سره وفرمايل چې دا لمونځ مه قضاء کوئ. کنه نو که څوک يو لمونځ هم پرېږدي، نو ګناهګار به شي. "فقد حبط عمله" د هغه اعمال بربادېږي. ابن عربي رحمه الله د دې مطلب داسې بيانوي چې د هغه زيات نقصان وشو. څکه چې په دې وخت کې پرښتې آسمان ته اعمال خېژوي او دده په اعمالو کې کمې راغلى دى. تقريباً همدغه مطلب ابن المالك رحمه الله هم بيان کړى دى چې د (حبط) نه د ټولې زندګۍ اعمال خرابېدل مراد نه دي، بلکې د نقصان په معنى سره دى چې په دې ورځ پرښتې کوم اعمال پورته خېژوي، د هغه په دې اعمالو کې کمى راغلى وي

باب فضل المشي إلى المساجد

جوماتونو ته د پياده تللو فضيلت

"عن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ النَّبيَّ ﷺ، قَالَ: مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ أَوْ رَاحَ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې سهار جومات ته لاړ شي او يا د شپې جومات ته لاړ شي، "أَعَدَّ اللهُ لَهُ فِي الْجَنَّةِ نُزُلاً كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ" الله ﷻ هغه ته په جنت کې مېلمستيا تياروي، هر کله چې دى سهار او ماښام جومات ته ځي. متفق عليه

تشريح: من غدا إلى المسجد أو راح: څوك چې سهار او ماښام جومات ته ځي، غدوة د زوال نه وړاندې وخت ته وايي، رواح: د زوال نه وروسته وخت ته وايي، ځينې وخت غدوة او رواح مطلقاً سهار او ماښام وخت ته ويل كيږي، دلته هم دغه معنى مراد ده، د حديث مطلب دا دى چې جومات خو د الله ﷻ كور وي، نو كوم كس چې د الله ﷻ كور ته ځي د قيامت په ورځ به يې الله ﷻ مېلمستيا وكړي، په دنيا كې چې څومره زيات جومات ته تللى وي دغومره به په آخرت كې ورته مېلمستيا كيږي

جومات ته په تللو سره ګناهونه معاف كيږي

"وعنه: أن النبي ﷺ، قَالَ: مَنْ تَطَهَّرَ فِي بَيْتِهِ، ثُمَّ مَضَى إِلَى بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللهِ، لِيَقْضِيَ فَرِيضَةً مِنْ فَرَائِضِ اللهِ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم كس چې په كور كې اودس وكړي بيا د الله ﷻ د كورونو څخه يو كور ته د فرض لمانځه ادا كولو لپاره لاړ شي، "كَانَتْ خُطُوَاتُهُ إِحْدَاهَا تَحُطُّ خَطِيئَةً، وَالأُخْرَى تَرْفَعُ دَرَجَةً" نو په هر قدم به ورته يوه ګناه معاف كولى شي او يوه درجه به ورته په جنت كې اوچتولى شي. رواه مسلم

تشريح: ليقضي فريضة من فرائض الله: ددې لپاره چې د الله ﷻ په فرائضو كې يو فرض پوره كړي، په يو بل روايت كې دي چې "لا يخرجه إلا الصلوة" هغه د كور نه صرف د لمانځه په نيت راوتلى وي، ددې نه علاوه د بل مقصد لپاره راوتلى نه وي، نو اوس به هغه ته دا انعام ملاويږي چې په هر قدم كې به ورته يوه ګناه معاف شي او په بل قدم به ورته يوه درجه اوچته شي

جومات ته د پېدل مزل كولو فضيلت

"وعن أبي بن كعب ﷺ، قَالَ: كَانَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ لاَ أَعْلَمُ أَحَداً أَبْعَدَ مِنَ الْمَسْجِدِ مِنْهُ، وَكَانَتْ لاَ تُخْطِئُهُ صَلاَةٌ، فَقِيلَ لَهُ: لَوِ اشْتَرَيْتَ حِمَاراً تَرْكَبُهُ فِي الظَّلْمَاءِ وَفِي الرَّمْضَاءِ" د أبي بن كعب ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي: يو انصاري صحابي ﷺ وو، زه نه پوهېږم چې د جومات څخه به لرې دده څخه د بل چا كور وي، د هغه نه به يو لمونځ هم په جماعت سره نه فوت كېدو، چا ورته وويل: كه تاسو خانته يو خر واخلئ او په هغې باندې په ګرمه كې او په شپه كې ځئ او راځئ "قَالَ: مَا يَسُرُّنِي أَنَّ مَنْزِلِي إِلَى جَنْبِ الْمَسْجِدِ، إِنِّي أُرِيدُ أَنْ يُكْتَبَ لِي مَمْشَايَ إِلَى الْمَسْجِدِ وَرُجُوعِي إِذَا رَجَعْتُ إِلَى أَهْلِي" هغه وويل: زه په دې خبره نه خوشحالېږم چې زما كور دې د جومات سره نژدې وي، كه ددې خبرې اراده لرم چې زما جومات ته تلل او بېرته واپس راتلل په عملنامه كې وليكل شي، "فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: قَدْ جَمَعَ اللهُ لَكَ ذَلِكَ كُلَّهُ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: الله ﷻ دا ټول ستا لپاره په عملنامه كې وليكل. رواه مسلم

لغوي تحقيق: الرمضاء: د ګرمى سختي

تشريح: د حديث نه معلومه شوه چې د كوم كس كور د جومات نه څومره لرې وي، نو دومره زيات بهتر دى، وجه يې دا ده چې د هغه د قدمونو شمار به زيات وي، نو په دې حساب سره به هغه ته زياتې نېكى

Maktaba Tul Ishaat. com

ملاويږي، زيات ګناهونه به يې معاف شي، په دې حديث کې د جومات څخه لرې اوسېدونکو لپاره بشارت دی او ترغيب ورکولی شي چې جومات ته راتلل پرېښنږدئ.

جومات ته د راتلو پرمهال د پښو نخښې هم پر ښتې ليکي

"وعن جابر رضي الله عنه، قَالَ: خَلَتِ الْبِقَاعُ حَوْلَ الْمَسْجِدِ، فَأَرَادَ بَنُو سَلِمَةَ أَنْ يَنْتَقِلُوا قُرْبَ الْمَسْجِدِ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې د نبوي جومات سره نزدې يو ځای خالي پاتې شو، نو بنو سلمه قبيلې والا خلکو اراده وکړه چې نبوي جومات ته نزدې راشي. "فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ ﷺ، فَقَالَ لَهُمْ: بَلَغَنِي أَنَّكُمْ تُرِيدُونَ أَنْ تَنْتَقِلُوا قُرْبَ الْمَسْجِدِ؟" دا خبره چا نبي کريم ﷺ ته ورسول، نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې بنوسلمه! ماته خبر رارسېدلی دی چې تاسو جومات ته نزدې راتلل غواړئ؟ "قَالُوا: نَعَمْ، يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَدْ أَرَدْنَا ذَلِكَ" هغوی ووېل: هو! اې د الله تعالی رسوله! همداسې ده، موږ اراده کړې ده. "فَقَالَ: بَنِي سَلِمَةَ دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ، دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: اې بنوسلمه! په خپلو کليو کې اوسېږئ! ستاسو د پښو قدمونه به په عملنامه کې ليکلی شي، په خپلو کورونو کې اوسېږئ، ستاسو قدمونه به په عملنانه کې ليکلی شي. "فَقَالُوا: مَا يَسُرُّنَا أَنَّا كُنَّا تَحَوَّلْنَا" هغوی ووېل: اوس موږ په دې خبره نه خوشحالېږو چې موږ دې جومات ته نزدې راشو.

"رواه مسلم، وروى البخاري معناه من رواية أنس" امام مسلم رحمه الله روايت کړی دی او امام بخاري رحمه الله د انس رضي الله عنه څخه بالمعنی روايت کړی دی.

لغوي تحقيق: البقاع: د ځمکې حصه، ټکړه، خالي ځای.

تشريح فأراد بنوسلمه أن ينتقلوا: بنو سلمه اراده وکړه چې دوی د جومات سره خالي ځای ته خپل کورونه نقل کړي، بنوسلمه د مدينې منورې د انصارو يو خاندان دی، ددې خاندان خلک د رسول الله ﷺ د جومات نه لرې اوسېدل، کله چې د رسول الله ﷺ جومات سره نزدې ځای خالي پيدا شو، نو دوی اراده وکړه چې دلته خپل کورونه منتقل کړي، کله چې رسول الله ﷺ ته د دوی د حال پته ولګېده نو رسول الله ﷺ وفرمايل: جومات ته چې د راتلو پرمهال څومره قدمونه زياتېږي نو د هر يو قدم په بدله کې درته نېکۍ ليکل کېږي، ستاسو په حق کې به ښه دا وي چې خپل کورونه په خپل ځای پرېږدئ او جومات ته نزدې رانشئ.

د ټولو نه زيات ثواب هغه کس ته ملاويږي چې د جومات نه لرې وي

"وعن أبي موسى رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: إِنَّ أَعْظَمَ النَّاسِ أَجْرًا فِي الصَّلَاةِ أَبْعَدُهُمْ إِلَيْهَا مَمْشًى، فَأَبْعَدُهُمْ" د ابو موسی اشعري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په ټولو کې لوی اجر د هغو خلکو دی چې د جومات نه يې کورونه لرې وي او بيا د هغوی نه چې کوم لرې کورونه وي، "وَالَّذِي يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ حَتَّى يُصَلِّيَهَا مَعَ الْإِمَامِ أَعْظَمُ أَجْرًا مِنَ الَّذِي يُصَلِّيهَا ثُمَّ يَنَامُ" او هغه کس چې د لمانځه په انتظار کې ناست وي ترڅو چې د امام سره لمونځ وکړي، داسې کس لوی اجر والا دی په نسبت سره هغه کس ته چې د امام سره لمونځ وکړي او بيا ويده شي متفق عليه

تشريح: أبعدهم إليها ممشي: د ټولو نه د لرې ځاى څخه راځي، څومره چې د لرې ځاى نه راځي دومره به يې قدمونه زياتيږي او دومره به يې نېکۍ هم زياتيږي، "ان ينتظر الصلاة حتى يصليها مع الإمام" کوم کس چې د لمانځه انتظار کوي ددې لپاره چې د امام سره يې په جمع وکړي، نو داسې کس ته زيات ثواب ملاويږي په بدله د هغه کس کې چې ځان ته لمونځ کوي، داسې کس ته د جمع ثواب هم ملاويږي او تر څو چې د لمانځه انتظار کوي تر هغې پورې داسې دى لکه په لمانځه کې چې وي، نو ددې ثواب ځانته شو. دا به ورته ځانله ثواب ملاويږي

په تياره کې جوماتونه ته د تلو فضيلت

"وعن بُرَيدَة رضي الله عنه عن النبيّ ﷺ، قَالَ: بَشِّرُوا المَشَّائِينَ فِي الظُّلَمِ إلَى المَسَاجِدِ" د بريده رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغو خلکو ته زيرى ورکړئ چې په تيارو کې جوماتونو ته ځي، "بِالنُّورِ التَّامِّ يَوْمَ القِيَامَةِ" چې د قيامت په ورځ به په پوره رڼا کې وي. رواه أبوداود والترمذي

تشريح: في الظلم: په تيارو کې جوماتونو ته تلونکي، د قيامت په ورځ به ډېره سخته تياره وي، اعمال به په دې کې د رڼا ذريعه وي، د کومو اعمالو په واسطه چې انسان ته په قيامت کې رڼا ملاويږي په هغو اعمالو کې يو عمل په تياره کې يعنې د شپې له خوا جومات ته تلل دي، نن خو د خلك سهار او ماسخوتن په تيارو کې جوماتونو ته تلل، ددې په بدله کې به الله جل جلاله دوى د قيامت د تيارو نه وساتي. دغو رڼاګانو ته په قرآن شريف کې هم اشاره شوې ده: "نور هم يسعى بين أيديهم وبأيمانهم يقولون ربنا أتمم لنا نورنا" د دوى رڼاګانې به د دوى نه وړاندې منډې وهي، دوى به په خپلو دعاګانو کې داسې وايي چې اې الله! موږ ته زموږ رڼاګانې پوره کړه!

هغه اعمال چې ګناهونه ورسره معاف کيږي او درجې ورسره اوچتيږي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: أَلاَ أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللهُ بِهِ الخَطَايَا، وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته داسې عمل ونه ښيم چې په هغې سره به ستاسو ګناهونه الله جل جلاله معاف کړي او درجې به مو اوچتې کړي؟ "قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ" صحابه کرامو وفرمايل: هو! ولې نه؟! اې د الله تعالى رسوله! "قَالَ: إِسْبَاغُ الوُضُوءِ عَلَى المَكَارِهِ، وَكَثْرَةُ الخُطَا إِلَى المَسَاجِدِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: په پوره سنت طريقې سره اودس کول د سختۍ او تکليف په حالت کې او جوماتونه ته ډېر قدمونه اخيستل، "وَانْتِظَارُ الصَّلاَةِ بَعْدَ الصَّلاَةِ، فَذلِكُمُ الرِّبَاطُ، فَذلِكُمُ الرِّبَاطُ" او د يو لمونځ نه تر بل لمونځ پورې انتظار کول، بس هم دا ستاسو رباط دى او بس، همدا ستاسو رباط دى. رواه مسلم

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب بيان کثرة طرق الخير او باب فضل الوضوء) کې هم تېر شوى دى. مصنف رحمه الله دلته يو ځل بيا راوړو، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې په طهارت، لمونځ او عبادت باندې مداومت کول هم د جهاد في سبيل الله او د جنګ په محاذ کې د معرکې په څېر اجر لري

Maktaba Tul Ishaat. com

جوماتو ته په کثرت سره راتلونکي سړي ايما ندار وي

"وعن أبي سعيد الخدري ﷺ، عن النبي ﷺ، قال: إذا رأيتم الرجل يعتاد المساجد فاشهدوا له بالإيمان" د ابو سعيد خدري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې تاسو يو کس ووينئ چې په جوماتو ته ځي، نو هغه ته د ايمان شاهدي ورکړئ، "قال الله ﷻ: إنما يعمر مساجد الله من آمن بالله واليوم الآخر" ځکه چې الله ﷻ فرمايي: جوماتونه هغه خلک آبادوي چې په الله ﷻ او په ورځ د آخرت ايمان لري "الآية، رواه الترمذي، وقال: حديث حسن".

تشريح: يعتاد المساجد: جوماتو ته يې د تللو عادت وي، (عاد عودة) څخه ماخوذ دی، معنی يې ده بار بار واپس راتلونکی، يعني جوماتو ته بار بار راتلونکي وي، ظاهره خبره ده چې څوک جوماتو ته په راځي نو د جمعې لپاره به راځي يا به مطلقاً د نفلي عبادت لپاره راځي، ځيني وايي: ددې نه د جوماتو مرمت صفايي او د هغه خيال ساتل هم مراد کېدی شي، ددې ټولو کارونو کوونکو لپاره د خوشحالي زيري دی، د دوی باره کې ددې خبرې شاهدي ورکولی شي چې دوی ايماندار خلک دي

باب فضل إنتظار الصلاة

لمونځ ته د انتظار کولو فضيلت

"وعن أبي هريرة ﷺ: أن رسول الله ﷺ، قال: لايزال أحدكم في صلاة مادامت الصلاة تحبسه" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: سړی تر هغه پورې په لمانځه کې وي تر څو چې د لمانځه په انتظار کې وي، "لايمنعه أن ينقلب إلى أهله إلا الصلاة" کور ته د راتلو څخه صرف لمانځه منع کړی وي متفق عليه

تشريح: لايزال أحدكم في صلوة: انسان تر هغه پورې په لمانځه کې وي، مطلب دا چې د لمانځه ثواب ورته ملاويږي، تر څو چې په جوماتو کې د لمانځه انتظار کوي، په دې حديث کې د لمانځه په انتظار کې د ناستې فضيلت بيان شوی دی، انسان چې تر څو په جوماتو کې د لمانځه په انتظار ناست وي، تر هغې ورته د لمانځه ثواب ملاويږي

لمونځ کوونکي ته پرښتې دعاګانې کوي

"وعنه ﷺ: أن رسول الله ﷺ، قال: الملائكة تصلي على أحدكم مادام في مصلاه الذي صلى فيه" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: پرښتې تر هغه پورې انسان ته دعاګانې کوي تر څو چې انسان په هغه ځای کې ناست وي کوم ځای کې چې ده لمونځ کړی دی، "مالم يحدث، تقول: اللهم اغفرله، اللهم ارحمه" تر څو چې بې اودسه شوی نه وي پرښتې ورته دعاګانې کوي او وايي: اې الله! دا وبخښې، اې الله! په هغه رحم وکړې. رواه البخاري

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې يو کس لمونځ وکړي بيا په هغه ځای کې په اوداسه ناست وي کوم ځای يې چې لمونځ کړی وي، د الله ﷻ ذکر کوي نو تر څو چې په اوداسه کې وي تر هغې به پرښتې هغه ته د مغفرت او رحمت دعاګانې کوي

د لمانځه په انتظار کې اوسېدل

"وعن أنس ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ أَخَّرَ لَيْلَةً صَلَاةَ الْعِشَاءِ إِلَى شَطْرِ اللَّيْلِ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ بَعْدَمَا صَلَّى" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ يوه شپه د ماسخوتن لمونځ نيمې شپې ته وروسته کړی وو، بيا يې چې لمونځ وکړو، نو مونږ ته متوجه شو. "فَقَالَ: صَلَّى النَّاسُ وَرَقَدُوا وَلَمْ تَزَالُوا فِي صَلَاةٍ مُنْذُ انْتَظَرْتُمُوهَا" او رسول الله ﷺ فرمايل خلکو لمونځونه وکړل او ويده شول او تاسو تر هغې پورې په لمانځه کې يئ تر څو چې مو د لمانځه انتظار کولو رواه البخاري

تشريح: آخر ليلة صلاة العشاء إلى شطر الليل: يوه شپه رسول الله د ماسخوتن لمونځ د شپې آخرينې حصې پورې مؤخر کړو، په يو بل روايت کې په واضح طور سره راغي چې: "صلاة العشاء إلى نصف الليل ثم صلى" چې نيمې شپې پورې يې د ماسخوتن لمونځ مؤخر کړو، امام بخاري رحمه الله د دې نه استدلال کوي چې د ماسخوتن لمانځه وخت تر نيمې شپې پورې دی، د دې حديث نه دويمه خبره دا ثابته شوه چې د امام او د جمعې د لمانځه په انتظار کې اوسيدل د اجر او ثواب خبره ده، د داسې کس انتظار د لمانځه په حالت کې حسابيږي.

باب فضل صلاة الجماعة

د جماعت د لمانځه فضيلت

"عن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاةِ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً" د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د جماعت لمونځ اجر په نسبت سره د خانته لمانځه نه اوه ويشت / ۲۷ درجې زيات ثواب لري متفق عليه

تشريح: بسبع وعشرين درجة: اوه ويشت/ ۲۷ درجې زياتيږي، په يو بل حديث کې د پنځه ويشت/ ۲۵ درجو زيات ثواب ذکر راغلی دی، په ظاهره کې د دواړو ترمنځ تعارض راغلی دی، د دې تعارض دفع کولو لپاره د محدثينو څخه مختلف جوابونه راغلي دي، مثلاً: دا اختلاف د لمونځ کوونکي د اخلاص او د احوالو په تفاوت باندې مبني دی چې چاته اوه ويشت/ ۲۷ او چاته پنځه ويشت/ ۲۵ درجې ثواب ملاويږي، ځينو ويلي دي چې د جهري لمونځ ثواب په پنځه ويشت او د سري/ پټ لمونځ ثواب په اوه ويشت درجې زياتيږي، ځيني محدثين فرمايي په شروع کې پنځه ويشت درجې زيات ثواب وو، بيا الله ﷻ زيات فضل وکړو، نو اوه ويشت/ ۲۷ درجې يې بيان کړې.

Maktaba Tul Ishaat. com

د جماعت د لمانځه ثواب پنځه ويشت / ۲۵ درجې زياتيږي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي جَمَاعَةٍ تُضَعَّفُ عَلَى صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ وَفِي سُوقِهِ خَمْسًا وَعِشْرِينَ ضِعْفًا" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د سړي لمونځ په جماعت سره د هغه لمانځه چې په کور کې يې وکړي او يا يې په بازار کې وکړي پنځه ويشت / ۲۵ درجې زياتيږي. "وَذَلِكَ أَنَّهُ إِذَا تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ، ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الْمَسْجِدِ، لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا الصَّلَاةُ، لَمْ يَخْطُ خُطْوَةً إِلَّا رُفِعَتْ لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ، وَحُطَّتْ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ" او دا ځکه چې کله دی په ښه شان سره اودس وکړي بيا لمانځه ته د جماعت لپاره روان شي، نو داسې کس ته په يو يو قدم يوه ګناه معاف کيږي او يوه درجه يې اوچتيږي. "فَإِذَا صَلَّى لَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تُصَلِّي عَلَيْهِ مَا دَامَ فِي مُصَلَّاهُ، مَا لَمْ يُحْدِثْ" کله چې لمونځ وکړي نو پرښتې ورته دعاګانې کوي تر څو چې په هغه ځای باندې ناست وي کوم ځای کې چې يې لمونځ کړی وي تر څو چې يې اودس نه وي ماتی شوی. "تَقُولُ: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ، اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ" پرښتې دعاء کوي چې اې الله ﷻ! په ده باندې رحمتونه نازل کړې او په ده باندې رحم وکړې! "وَلَا يَزَالُ فِي صَلَاةٍ مَا انْتَظَرَ الصَّلَاةَ" او دده هغه وخت په لمانځه کې حسابيږي کوم وخت چې د لمانځه په انتظار کې تيروي متفقٌ عَلَيهِ، وهذا لفظ البخاري

تشريح: په دې حديث کې هم په جمعي سره د لمانځه کولو ترغيب ورکولی شي چې کوم کس په جمعي سره لمونځ وکړي نو هغه ته ۲۵ درجې زيات ثواب ورکولی شي، او بل دا چې کله دې جمعي لپاره جوماټ ته راځي نو په هر يو قدم ورله يوه نيکي ليکلی شي او يوه ګناه يې معاف کيږي او يوه درجه يې اوچتيږي، د احنافو اکثره مشايخ عظام رحمهم الله مسلک هم دغه دی چې د جمعي لمونځ واجب دی، ابن همام رحمه الله په شرحه دهدايه کې فرمايي چې د احنافو رحمهم الله راجح قول دا دی چې د جمعي لمونځ واجب دی، خيني ورته سنت موکده ويلي دي، ددې وجه دا دی چې ددې ثبوت په سنت يعني حديث سره شوی دی، ددې دا مطلب ندی چې د جمعي لمونځ سنت دی، لکه څرنګه چې د اخترونو مونځ واجب دي دغه شان د جمعي لمونځ هم واجب دی لکه څرنګه چې د اخترونو مونځ په سنتو يعني حديثو سره ثابت دي، هغې ته واجب ويل کيږي نو دغه شان جمعي ته به هم واجب ويل کيږي

ړوند صحابي ته په کور کې د لمانځه کولو اجازت ملاو نه شو

"وعنه، قال: أتى النبيَّ ﷺ رجلٌ أعمى، فقال: يا رسول الله، لَيسَ لي قائدٌ يقودُني إلى المسجد" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ په خدمت کې يو ړوند صحابي حاضر شو او ورته يې وويل: يا رسول الله ﷺ زه ړوند يم، زما لارښود نشته چې د لاسه مې ونيسي او جوماټ ته مې راولي. "فَسَأَلَ رَسُولَ اللهِ ﷺ أَنْ يُرَخِّصَ لَهُ فَيُصَلِّيَ فِي بَيْتِهِ، فَرَخَّصَ لَهُ" د رسول الله ﷺ نه يې رخصت وغوښتلو چې په کور کې لمونځ وکړم، نبي کريم ﷺ ورته رخصت ورکړو. "فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ، فَقَالَ لَهُ: «هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ؟» قَالَ: نَعَمْ" کله چې هغه کس په واپسی روان شو، نو رسول الله ﷺ راوغوښتلو او ورته يې وفرمايل آيا ته د اذان آواز اوريې؟ هغه کس وويل هو! اورم يې. "قَالَ: فَأَجِبْ" نبي کريم ﷺ وفرمايل بيا د مؤذن د اذان

اجابت کوه؛ يعنې په کور کې لمونځ مه کوه جومات ته راځه؛ رواه مسلم

تشريح: أتى النبي ﷺ رجل اعمى: د رسول الله ﷺ په خدمت کې يو نابينا صحابي حاضر شو، د صحيحينو په روايت کې دي چې ددې نه مراد عتبان بن مالك رضي الله عنه دی، ځينو ابن ام مکتوم رضي الله عنه ښودلی دی. "فرخص له" رسول الله ﷺ هغوی ته اجازت ورکړو، ددې نه معلوميږي چې ړوند سړي ته د جماعت لمونځ پرېښودلو اجازه شته. "هل تسمع النداء؟" ايا ته آذان اورې؟ علماء فرمايي: دا د اعلی درجې صحابي وو، نو ځکه د هغه د شان سره دا خبره مناسبه وه چې هغه دې په اولی باندې عمل وکړي، نو ځکه رسول الله ﷺ وفرمايل: د آذان غږ اورې، نو جومات ته راځه او په جماعت سره لمونځ کوه، ځينې علماء فرمايي: په اول خل ورته رسول الله ﷺ د جماعت لمونځ پرېښودلو اجازت ورکړو، ليکن بيا په وحې سره يا په اجتهاد سره رسول الله ﷺ هغه صحابي رضي الله عنه ته اجازت ورنه کړو، دا هم په کمال مبالغه باندې حمل دی، ددې نه هم د جماعت د لمانځه اهميت معلوميږي

ابن ام مکتوم رضي الله عنه ته په کور کې د لمونځ اجازه ملاو نه شوه

"وعن عبد الله -وقيل: عمرو بن قيس- المعروف بابن أم مكتوم المؤذن رضي الله عنه أنه قال: يا رسول الله، إن المدينة كثيرة الهوام والسباع" د عبد الله رضي الله عنه نه روايت دی او چا ويلي دي چې د عمرو بن قيس رضي الله عنه نه روايت دی کوم چې په ابن ام مکتوم سره مشهور دی مؤذن هم وو، د هغه نه روايت دی فرمايي چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم او ورته مې ووېل: يا رسول الله ﷺ! مدينه منوره کې خو ډېر زيات ړمان او ماران دي، ماته اجازه راکړئ چې زه په کور کې لمونځ وکړم، "فقال رسول الله ﷺ: تسمع حي على الصلاة حي على الفلاح، فحيهلا" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: که ته حي على الصلاة او حي على الفلاح اورې، نو د هغې اجابت کوه؛ "رواه أبو داود بإسناد حسن. ومعنى حيهلا: تعال" د (حيهلا) معنی ده: راشه!

لغوي تحقيق:

الهوام: حشرات الارض، چينجي وغيره

تشريح: خلاصه دا چې ابن ام مکتوم رضي الله عنه يو ړوند صحابي وو، هغه شکايت وکړو چې په مدينه منوره کې ړمان، ماران، شرمخان وغيره ډېر زيات دي، نو زه به په کور کې لمونځ کوم؟ رسول الله ﷺ هغه ته اجازه ورنه کړه، اگر چې ړندېدل يو عذر کېدلی شي، ليکن ابن ام مکتوم رضي الله عنه مهاجر صحابي وو، رسول الله ﷺ دوی ته په عزيمت باندې د عمل کولو ترغيب ورکړو چې په جماعت سره لمونځ کوه! په دې وجه علماء کرام فرمايي: جماعت سره لمونځ کول د لمانځه په شرائطو کې داخل دی، ددې اهميت له وجې رسول الله ﷺ کله هم ځانته لمونځ نه دی کړی، تردې چې د بيمارۍ په حالت کې به هم کله چې رسول الله ﷺ د دوه کسانو په کومک سره (چې يو لاس به يې په يو کس ؤ او بل لاس به يې په بل کس باندې اچولی ؤ) جومات ته به راتلو. ليکن جماعت به يې نه قضاء کولو.

Maktaba Tul Ishaat. com

د راوي ابن ام مكتوم ﷺ حالات:

دی په خپل كنيت سره دومره مشهور شو چې اصلي نوم يې د تاريخ نه پټ دی، څينو عبد الله ښودلی دی، څينو عمرو ښودلی دی، ليکن پوره پته نه لګيږي، د پلار نوم يې قيس وو، په مکه کې مسلمان شو، روند صحابي وو، د رسول الله ﷺ په خدمت کې به اکثره ناست وو، کله چې د هجرت اجازت ملاو شو، نو دوی هم د رسول الله ﷺ سره مديني منورې ته لاړو، د رسول الله ﷺ په زمانه کې مؤذن پاتې شوی دی، دوی به آذان هله کولو کله چې به د پېشمنۍ وخت ختم شو، روند وو، نو څکه يې په جهادونو کې شرکت نه دی کړی، رسول الله ﷺ به چې کله چېرته تشريف وړلو، نو دوی به په مدينه منوره کې د امامت فرائض ادا کول، مجموعي طور سره دوی ديارلس خله د رسول الله ﷺ نائب پاتې شوی دی، د قرآن کريم حافظ وو، مديني منورې ته راتلونکو خلکو ته به يې قرآن کريم ښودلو، د عمر فاروق ﷺ په دور خلافت کې وفات شو، علامه واقدي ﷫ فرمايي: په مدينه منوره کې وفات شوی دی، ليکن مشهور قول دا دی چې د دوی شهادت په قدسيه جنګ کې شوی دی، دوه يا درې روايات ترې نقل دي.

بغير عذر د جماعت پرېښودلو سزا

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِحَطَبٍ فَيُحْتَطَبَ، ثُمَّ آمُرَ بِالصَّلَاةِ فَيُؤَذَّنَ لَهَا" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما ساه د هغه په لاس کې ده، ما اراده وکړه چې زه خلکو ته ووايم چې لرګي راغونډ کړئ بيا د لمانځه لپاره حکم وکړم، نو د هغې لپاره چې آذان وکړی شي، "ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا فَيَؤُمَّ النَّاسَ" بيا يو سړي ته حکم وکړم چې خلکو ته جمع ورکړي، "ثُمَّ أُخَالِفَ إِلَى رِجَالٍ فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوتَهُمْ" بيا زه د هغو خلکو کورونو ته ورشم چې د جماعت څخه پاتې دي، د هغوی کورونه ورباندې وسوځوم. متفق عليه

تشريح: ددې حديث نه هم د جماعت د لمانځه تاکيد معلوميږي، کوم خلک چې بلاعذره د جماعت لمونځ پرېږدي، رسول الله ﷺ خپله جماعت ورته پرېږدي او د سزا په طور د هغوی کورونو سوځولو ته تيار دی، ددې حديث نه دا هم ثابته شوه چې د زمانې د امام لپاره جائز دي چې هغه د کوم عذر په بنياد يو کس خپل نائب جوړ کړي او خپل ضرورت پوره کړي، ددې حديث نه علماء استدلال کوي چې د جماعت سره لمونځ فرض دی، که فرض نه وای، نو رسول الله ﷺ به دومره سخت نه خفه کېدلو چې د خلکو کورونو سوځولو ته تيار دی، ليکن څينې نور علماء فرمايي: د جماعت سره لمونځ سنت موکد دی او هغوی هم ددې حديث نه استدلال کوي، ولې چې رسول الله ﷺ صرف هغوی ته سزا اختيار ورکړی و، سزا يې نه وه ورکړې، که په جماعت سره لمونځ فرض وای، نو رسول الله ﷺ به سزا هم ورکړې وای

د جماعت لمونځ په سنن هدی کې راځي

"وعن ابن مسعود ﷺ، قَالَ: مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَلْقَى اللّٰهَ تعالى غداً مُسْلِماً فَلْيُحَافِظْ عَلٰى هٰؤُلَاءِ الصَّلَوَاتِ حَيْثُ يُنَادَى بِهِنَّ" د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې کوم سړی دا خبره خوښه ګڼي چې سبا د قيامت ورځ د الله ﷻ سره د مسلمانی په حالت کې ملاقات وکړي، نو داسې کس دې پنځه وخته لمونځ په داسې ځای کې ادا کړي چې آذان کيږي، "فَإِنَّ اللّٰهَ شَرَعَ لِنَبِيِّكُمْ ﷺ سُنَنَ الْهُدَى، وَإِنَّهُنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدَى" الله ﷻ ستاسو پيغمبر ﷺ ته ټولې سنت طريقې د هدايت لپاره جاري کړي دي او په جماعت سره لمونځ د نبي کريم ﷺ يو سنت او د هدايت طريقه ده، "وَلَوْ أَنَّكُمْ صَلَّيْتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ كَمَا يُصَلِّي هٰذَا الْمُتَخَلِّفُ فِي بَيْتِهِ لَتَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ" که چېرته تاسو په خپلو کورونو کې لمونځ کول شروع کړئ، لکه څنګه چې يو فلانکی سړی کوي، نو تاسو به د خپل پيغمبر ﷺ سنت طريقه پرېږدئ! "وَلَوْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ لَضَلَلْتُمْ" او که تاسو د خپل پيغمبر ﷺ سنت طريقه پرېښوده، نو ګمراه به شئ، "وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا إِلَّا مُنَافِقٌ مَعْلُومُ النِّفَاقِ" او مونږ به خپل خاوند ليدل چې د جماعت نه به نه شو پاتې کېدی مګر هغه سړی چې ښکاره منافق وو او په منافقت کې به مشهور وو، "وَلَقَدْ كَانَ الرَّجُلُ يُؤْتَى بِهِ، يُهَادَى بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ حَتَّى يُقَامَ فِي الصَّفِّ" که چېرته يو کس به دومره سخت بيمار شو چې د دوه کسانو په راښکلو سره به جماعت ته راتلی شو، نو هغه به هم راوستلی شو او په صف کې به درولی شو رَوَاهُ مُسْلِم

"وفي رواية له قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ عَلَّمَنَا سُنَنَ الْهُدَى" او په يو بل روايت کې داسې دي چې عبد الله بن مسعود ﷺ وفرمايل بې شکه مونږ ته رسول الله ﷺ د هدايت والا سنت طريقې ښودلي دي. "وَإِنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدَى الصَّلَاةَ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي يُؤَذَّنُ فِيهِ" او د سنت طريقو نه يې ځينې د هدايت والا هغه هم دي چې لمونځ په هغه ځای کې وکړي شي په کوم ځای کې چې آذان کيږي.

تشريح په دې حديث کې هم د جماعت د لمانځه فضيلت بيان شوی دی او کوم خلک چې بې نه کوي هغوی ته ګمراه ويل شوي دي، دا ځکه چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې به منافقانو هم د جماعت لمونځ نه پرېښودلو، "لنبيكم سنن الهدى" د هدايت طريقې، د رسول الله ﷺ افعال په دوه قسمه دي (۱) کوم چې رسول الله ﷺ بطور عبادت کړي وي، (۲) هغه چې رسول الله ﷺ بطور عادت کړي وي، اولنی قسم ته فقهاء کرام سنن هدی وايي او دويم قسم ته سنن زوائد وايي، بيا سنن هدی په دوه قسمه دي سنن مؤکده او سنن غير مؤکده، سنن مؤکده هغه دي چې رسول الله ﷺ پرې مواظبت کړی وي او تاکيد يې پرې فرمايلی وي، سنن غير مؤکده هغه ته ويل کيږي چې رسول الله ﷺ نه هميشه والی پرې کړی وي او نه يې پرې تاکيد فرمايلی وي، "كما يصلي هذا المتخلف في بيته" لکه څرنګه چې دا وروسته پاتې کېدونکي سړي يې په کور کې کوي، په ظاهر کې عبد الله بن مسعود ﷺ کوم خاص سړي ته اشاره وکړه او وې فرمايل چې لکه څرنګه فلانکی سړی په کور کې لمونځ کوي او جماعت ته نه راځي، د حق د لارې څخه کټ شوی دی، نو که تاسو هم په خپلو کورونو کې لمونځونه شروع کړل، نو تاسو به هم ګمراه شئ!

Maktaba Tul Ishaat. com

په جماعت سره لمونځ لازم ونيسئ!

"وعن أبي الدرداء ﷺ، قال: سمعت رسول الله ﷺ، يقول: مَا مِنْ ثَلَاثَةٍ فِي قَرْيَةٍ، وَلَا بَدْوٍ، لَا تُقَامُ فِيهِمُ الصَّلَاةُ" د أبو درداء ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چې فرمايل يې: نشته داسې درې کسان په کلي يا په دښته کې چې هغوى په جماعت سره لمونځ نه کوي، "إِلَّا قَدِ اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ، فَعَلَيْكُمْ بِالْجَمَاعَةِ" مګر دا چې په هغوى باندې شيطان غالب وي، بس په تاسو باندې لازم دي چې په جماعت سره لمونځ ادا کړئ "فَإِنَّمَا يَأْكُلُ الذِّئْبُ مِنَ الْغَنَمِ الْقَاصِيَةَ" دا ځکه چې شرمخ هغه چيلى خوري کومه چيلۍ چې ځانته خريږي. رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ بِإِسْنَادٍ حَسَنٍ.

تشريح: قد استحوذ عليهم الشيطان: شيطان په هغوى مسلط دى، مطلب دا دى چې په کوم کلي يا ښار کې په جماعت سره لمونځ نه کيږي، نو شيطان يې په اسانۍ سره لاندې کولى شي، په خپل شيطاني جال کې يې راګېرولى شي، کوم خلك چې په جماعت سره لمونځ کوي په دوى باندې شيطان په آسانه غلبه نه شي حاصلولى، همدغه حال د شيطان دى چې په ځانته سړي باندې يې اثر ډېر په تيزۍ سره غورځيږي، ليکن په ډله يا جماعت باندې يې په آسانه اثر نه غورځيږي. هم دغې خبرې ته په حديث کې اشاره ده چې که دوه درې کسان وي، نو پکار ده چې په ځان کې جمعيت پيدا کړي او په جماعت سره لمونځونه شروع کړي، شيطان به ورباندې په آسانه نه مسلط کيږي او داسې مثال ورکوي لکه ګډې وزې چې وي. نو که ټولې يو ځاى خريږي، يو ځاى خوراك کوي، نو شرمخ کله هم په دوى باندې حمله نه شي کولى، ليکن که چېرته ځان ځانله خريږي او خوراك شروع کړي، بيا شرمخ ورباندې په آسانۍ سره حمله کولى شي.

باب الحث على حضور الجماعة في الصبح والعشاء

د سهار او ماسخوتن په لمانځه کې شريکېدل

"عن عثمان بن عفان ﷺ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ، يقول: مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ، فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ" د عثمان بن عفان ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چې فرمايل يې: کوم کس چې د ماسخوتن لمونځ په جماعت سره ادا کړي، دا داسې ده لکه نيمه شپه چې يې عبادت کړى وي، "وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِي جَمَاعَةٍ، فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ" او کوم کس چې د سهار لمونځ په جماعت سره وکړي دا داسې دى لکه پوره شپه يې چې عبادت کړى وي. رواه مسلم

"وفي رواية الترمذي عن عثمان بن عفان ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: مَنْ شَهِدَ الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ كَانَ لَهُ قِيَامُ نِصْفِ لَيْلَةٍ" او د ترمذي په يو روايت کې داسې هم شته چې د عثمان بن عفان ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي، رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د ماسخوتن جماعت ته راشي نو د هغه لپاره به د نيمې شپې ثواب ليکل کيږي، "وَمَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ وَالْفَجْرَ فِي جَمَاعَةٍ، كَانَ لَهُ كَقِيَامِ لَيْلَةٍ" او کوم کس چې د

ماسخوتن او سهار لمونځ په جماعت سره ادا کړي، نو د هغه لپاره پوره د شپې عبادت ليکل کېږي.

قَالَ التِّرمذي: حديث حسن صحيح.

تشريح: د حديث مطلب هم دا دی چې څوک د سهار او ماسخوتن لمونځ په جماعت سره وکړي، نو هغه ته دومره ثواب ملاويږي لکه يو کس چې توله شپه عبادت وکړي، په دې حديث کې هم د جماعت د لمانځه اهميت ته اشاره ده.

د سهار د لمانځه اهميت

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي الْعَتَمَةِ وَالصُّبْحِ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: که چېرته خلکو ته پته ولګيږي چې د سهار او ماسخوتن په لمانځه کې څومره اجر او ثواب دی، "لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا" نو هغوی به دې جمعو ته خامخا راتلل، اګر چې په ښپږو / ښخېدلو باندې ولې نه وي. متفقٌ عَلَيهِ. وقد سبق بطوله.

تشريح: دا حديث هم وړاندې په (باب فضل الاذان) کې تېر شوی دی، امام نووي رحمه الله دلته بيا ذکر کړو په دې کې اشاره ده د ماسخوتن او سهار لمونځونو اهميت ته.

په منافقانو باندې د سهار او ماسخوتن لمونځ درونډ وي

"وعنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: لَيْسَ صَلَاةٌ أَثْقَلَ عَلَى الْمُنَافِقِينَ مِنْ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَالْعِشَاءِ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د سهار او ماسخوتن لمانځه نه سيوا بل کوم يو شی په منافقانو باندې درونډ او سخت نه وي، "وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِيهِمَا لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا" او که چېرته دوی ته پته ولګيږي چې په دې جمعو کې څومره ثواب دی نو هغوی به دې جمعو ته راشي، اګر چې په خيږړو ولې نه وي. متفقٌ عَلَيهِ.

تشريح: اثقل على المنافقين: په منافقانو باندې به ډېر زيات بوج وي، د سهار او ماسخوتن وخت عمومي طور داسې وي چې په دې وخت کې آرام او د خوب غلبه وي، بيا خصوصاً د يخنۍ په موسم کې نوره سستي هم پيدا کيږي، په دې حديث کې عامو مسلمانانو ته ترغيب دی چې د سهار او ماسخوتن په لمانځه کې سستي مه کوئ؛ د منافقانو سره مشابهت مه اختياروئ؛ "ولوحبواً" د کوناټو په سر مزل کولو ته وايي، يعنې که کوم کس د پښو نه معذوره وي، نو بايد چې د کوناټو په سر وښخيږي او دې دواړو جماعتونو ته راشي، ځکه چې دا دواړه جمعې ډېر زيات فضيلت لري

Maktaba Tul Ishaat. com

باب الأمر بالمحافظة على الصلوات المكتوبات والنهي الأكيد والوعيد الشديد في تركهن

د فرض لمونځونو تاکيد او په پرېښودلو يې سزا

"قال الله تعالىٰ" الله فرمايي: "حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ" تاسو د ټولو لمونځونو پابندي وکړئ. "وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَىٰ" او بيا خامخا د مازديګر د لمانځه [البقرة:۲۳۸]

تشريح: د ټولو لمونځونو اهتمام بايد وکړی شي. ليکن خاص کر د مينځني لمونځ، د مينځني لمونځ نه کوم لمونځ مراد دی، ددې نه هر لمونځ مراد کېدی شي. ځکه چې هر لمونځ راواخلې، نو د دوه لمونځونو ترمنځ وي. ليکن اکثره مفسرين فرمايي ددې نه د مازيګر لمونځ مراد دی چې ددې نه وړاندې هم دوه لمونځونه دي يعنې سهار او ماسپښين. وروسته هم دوه لمونځونه دي چې ماښام او ماسخوتن دی، ددې قول تاييد ديو روايت نه هم کيږي چې د خندق په غزا کې رسول الله ﷺ د مازيګر لمانځه ته د صلوة وسطی لمونځ ووېلو. د مازيګر لمونځ ځکه هم مراد کولی شي چې په دې وخت کې مصروفيات زيات وي

د توبې، زکوة او لمونځ اهتمام زيات کول پکار دي:

"وقال تعالىٰ" الله ﷻ فرمايي: "فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ" که چيرې دوی توبه وويستل، لمونځ (يې وکړو) او زکات يې ورکړو، نو بيا د دوی لاره مه نيسئ" [التوبة:۵]

تشريح: که يو کس توبه وباسي، لمونځ کوي او زکوة ورکوي، نو په هغه باندې پابندي نشته، که په دې درې واړو کې د يو شي نه هم منکر شو، نو هغه به مسلمان نه شي ګڼلی، همدغه شان ابوبکر صديق رضی الله عنه د مانعين زکات په خلاف جهاد وکړو. هغوی هم په دې موقع دغسې فرمايلي وو: "والله لأقاتلن من فرق بين الصلوة والزكوة" په الله تعالى قسم! زه به د هغو خلکو په خلاف خامخا جهاد کوم چې د لمانځه او زکوة په منځ کې فرق راولي. يعنې لمونځ به کوي ليکن زکوة به نه ورکوي. داسې نه شي کېدی

تر ټولو زيات افضل عمل

"وعن ابن مسعود رضی الله عنه، قال: سألت رسول الله ﷺ أي الأعمال أفضل؟ قال: الصلاة على وقتها" د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ کوم عمل ډېر غوره دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل په خپل وخت کې لمونځ کول، "قلت: ثم أي؟ قال: بر الوالدين" بيا مې ترې پوښتنه وکړه چې بيا کوم عمل ډېر غوره دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: د مور پلار سره نيکي کول، "قلت: ثم أي؟ قال: الجهاد في سبيل الله" ما بيا پوښتنه وکړه چې ددې نه پس کومه نيکي غوره ده؟ نبي کريم

ﷺ وفرمایل: د الله ﷻ په لار کې جهاد کول. متفق علیه

تشریح: دا حدیث هم وړاندې په: (باب بر الوالدین) کې تیر شوی دی، علامه نووي رحمه الله یو ځل بیا دلته ذکر کړو، په دې کې اشاره ده چې لمونځ په خپل وخت باندې کول پکار دي، زیات تاخیر پکې پکار نه دی، د امام شافعي رحمه الله مسلك دا دی چې کوم کس په لمونځ کې دومره سستي وکړي چې د خپل وخت نه قضاء شي، نو که داسې کس توبه ونه باسي، نو قتل کولی به شي، په حدیث کې د مور - پلار سره ښه سلوك کول او جهاد في سبیل الله غوره عمل ښودل شوی دی.

د اسلام بنیاد په پنځه شیانو دی:

"وعن ابن عمر رضی الله عنهما، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بُنِيَ الإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د اسلام بنیاد په پنځه شیانو ولاړ دی: "شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللهِ" اول دا چې شاهدي ورکول چې نشته لائق د عبادت سېوا د الله ﷻ نه او محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی، "وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَحَجِّ الْبَيْتِ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ" د لمانځه پابندي کول، زکات ورکول، د بیت الله حج کول او روژه نیول. متفق علیه.

تشریح: بني الاسلام علی خمس: د اسلام بنیاد په پنځه شیانو دی، په دې حدیث کې د دین اسلام تشبیه د یو عمارت سره ورکړل شوې ده، په کوم کې چې پنځه ستنې وي، لکه څنګه چې د ستنې او بنیاد نه بغیر عمارت نه شي قائمېدلی، دغه شان د دې پنځه رکنونو نه (یعنې د شهادت کلمې، لمونځ، زکات، حج او د رمضان روژې) نه بغیر دین اسلام قائم نه شي پاتې کېدلی، که څوك په دې پنځه رکنونو کې د یو رکن څخه هم انکار وکړي، نو داسې کس به د ټولو مسلمانانو په اتفاق کافر وي او که په دې کې غفلت او سستي کوي، نو د فقهاوو په اصطلاح به هغه ته فاسق او فاجر ویل کیږي.

جهاد به تر هغه پورې وي چې خلك کلمه و نه وايي

"وعنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللهِ" د أبو هریره رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ماته د دې خبرې حکم شوی دی چې زه تر هغه د خلکو سره وجنګېږم تر څو چې هغوی د دې خبرې شاهدي ورنکړي چې نشته لائق د عبادت سېوا د الله ﷻ نه او محمد ﷺ د الله رسول دی، "وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ، وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ" او د لمانځه پابندي وکړي او زکات ادا کړي، "فَإِذَا فَعَلُوا ذٰلِكَ، عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ" کله چې دوی دا کار وکړي، نو د دوی وینې او مالونه به زما څخه محفوظ شي، "إِلَّا بِحَقِّ الْإِسْلَامِ، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ" مګر د دین اسلام په حق سره، او د دوی حساب په الله ﷻ باندې دی (د اسلام حق دا معنی چې که قتل یې وکړو یا یې زنا وکړه، نو په دوی باندې به بیا حد جاري کیږي. متفق علیه

تشریح: دا حدیث هم په وړاندې (باب إجراء الأحکام علی الظاهر) کې تیر شوی دی، امام نووي

Maktaba Tul Ishaat. com

رحمه الله دلته بيو ځل بيا ذكر كړو، د لمانځه اهميت ته پكې اشاره ده، "وحسابهم على الله" د دوى حساب د الله جل جلاله په ذمه دى، ددې مطلب دا دى چې كه يو كس په ظاهري توګه دې باندې عمل كوي نو هغه به هم مسلمان ګڼلى شي د باطن معامله به يې الله جل جلاله ته سپارو، ځكه چې د باطن د احوالو څخه صرف هغه ذات خبر دى او بس، په دنيا كې به په ظاهري اعمالو باندې فيصلې كيږي.

د دين دعوت به مزه مزه وركولى شي

"وعن معاذ رضي الله عنه، قَالَ: بَعثَنِي رَسُولُ اللهِ ﷺ إلى اليَمَنِ، فَقَالَ: إنَّكَ تَأتِي قَوماً مِنْ أهْلِ الكِتَابِ، فَادْعُهُمْ إلى شَهَادَةِ أنْ لاَ إلهَ إلاَّ اللهُ، وَأنِّي رَسُولُ اللهِ" د معاذ رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې زه رسول الله ﷺ يمن ته د تبليغ لپاره روان كړم، په تلو كې يې راته وفرمايل: اې معاذ رضي الله عنه! ستا واسطه به هلته د يو داسې قوم سره راځي چې اهل كتاب به وي، هغوى دې خبرې ته راوبله چې ددې خبرې شاهدي وركړي چې نشته د عبادت لائق سيوا د الله جل جلاله نه او زه د الله جل جلاله رسول يم، "فَإنْ هُمْ أطَاعُوا لِذلِكَ، فَأعْلِمْهُمْ أنَّ اللهَ تَعَالَى افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ في كُلِّ يَوْمٍ وَلَيلَةٍ" كه چيرې دا خبره دوى درسره ومنې نو بيا يې په دې خبره پوه كړه چې الله جل جلاله په دوى باندې پنځه وخته لمونځ شپه او ورځ كې فرض كړى دى، "فَإنْ هُمْ أطَاعُوا لِذلِكَ، فَأعْلِمْهُمْ أنَّ اللهَ تَعَالَى افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ" كه دا خبره يې درسره ومنل نو بيا يې په دې خبره پوه كړه چې الله جل جلاله په دوى باندې زكات فرض كړى دى چې د مالدارو نه به يې اخلې او د دوى په غريبانانو به خرچ كولى شي "فَإنْ هُمْ أطَاعُوا لِذلِكَ، فَإيَّاكَ وَكَرَائِمَ أمْوَالِهِمْ" كه دا خبره يې درسره ومنل نو بيا په دې خبره ځان پوه كړه چې د دوى نه غوره مال مه اخله! "وَاتَّقِ دَعْوَةَ المَظْلُومِ، فَإنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللهِ حِجَابٌ" او بله خبره دا چې د مظلوم د بدو ښيرو څخه ځان وساته! ځكه چې د مظلوم د ښيرو او د الله جل جلاله په مينځ كې هيڅ پرده نشته. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب تحريم الظلم) كې تير شوى دى، د باب د مناسبت له وجې دلته امام نووي رحمه الله يو ځل بيا ذكر كړو.

د سړي او كفر ترمنځ فرق صرف لمونځ پرېښودل دي

"وعن جابر رضي الله عنه، قَالَ: سمعت رَسُولَ اللهِ ﷺ، يقول: إنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالكُفْرِ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: د سړي او د شرك او كفر په مينځ كې فرق "تَرْكَ الصَّلاَةِ" لمونځ پرېښودل دي. رواهُ مُسلِم

تشريح: ان بين الرجل وبين الشرك والكفر ترك الصلاة: د سړي او كفر ترمينځ فرق او فاصله صرف لمونځ پرېښودل دي، په دې حديث كې په لمانځه پرېښودلو باندې سخت وعيد او سخته سزا بيان شوې ده، په دې وجه اصحاب الظواهر وايي چې لمونځ پرېښودنكى كافر دى، د امام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نزد اګرچې كافر نه دى ليكن دده سزا قتل ده او د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد تارك الصلوة يعنې څوك چې لمونځ نه كوي، داسې كس به بندي خانې ته اچولى شي تر څو يې چې توبه نه

وي ويستلې، تر هغې به په بندي خانه کې پروت وي، د احنافو په نزد د حديث مطلب دا دی چې ممکنه ده تارك الصلوة سړی کافر شي يا دا مطلب چې څوك لمونځ پرېږدي هغه د کافرانو عمل کوي لکه څرنګه چې کافر لمونځ نه کوي، دغه شان دی يې هم نه کوي

لمونځ پرېښودونکی کافر دی

"وعن بُرَيْدَةَ ﷺ، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: العَهْدُ الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمُ الصَّلاةُ" د بريده ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زموږ او د دوی په مينځ کې فرق په لمونځ سره دی، "فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ" کوم کس چې لمونځ پرېږدي هغه کفر وکړو. رواه التِّرمِذِيُّ، وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

"وعن شقِيق بن عبد الله التَّابِعِيّ المتفق عَلَى جَلاَلَتِهِ رَحِمَهُ اللهُ، قَالَ" د شقيق بن عبد الله تابعي ﷺ نه روايت دی او دده په ثقه والي باندې اتفاق دی، فرمايي چې "كَانَ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ ﷺ لا يَرَوْنَ شَيْئاً مِنَ الأَعْمَالِ تَرْكُهُ كُفْرٌ غَيْرَ الصَّلاَةِ" د رسول الله ﷺ صحابه کرامو به د لمانځه پرېښودلو نه علاوه بل کوم عمل د کفر والا نه ګڼلو. "رَوَاهُ التِّرمِذِيُّ في كِتَابِ الإيمان بإسنادٍ صَحِيحٍ".

تشريح: العهد الذي بيننا وبينهم الصلاة: زموږ او د کافرانو په مينځ کې چې کوم عهد دی هغه لمونځ دی، د حديث مطلب دا دی چې د مسلمانانو او منافقانو ترمنځ چې کوم عهد او پيمان شوی دی، هغه دا چې يو مسلمان به يو منافق نه قتلوي، نو دا عهد به تر هغې پورې وي چې تر څو دوی لمونځ کوي او په جماعت سره يې کوي، د اسلام په ظاهري اعمالو کې به د مسلمانانو سره مشابهت ساتي، او س چې څوك لمونځ پرېږدي، هغه سره به د کافرانو عمل کوي. په دې کې هم مسلمانانو ته ترغيب دی چې لمونځ پرېنږدي، کنه نو د کافرانو سره به يې مشابهت پيدا راشي

بل حديث کې هم دې طرفته اشاره ده چې د سستی له امله لمونځ پرېښودل لويه ګناه ده، مسلمان تر هغه پورې کامل مسلمان جوړېدی نه شي تر څو چې يې په خپله زندګی کې د لمانځه اهميت نه وي پېژندلی، لمونځ يو ډېر لوی او اهم عبادت دی، د دين ستن ده، په دين کې داسې اهميت لري لکه د انسان په بدن کې چېچې سر دی، لکه څرنګه چې يو انسان بې سره ژوندی پاتې کېدی نه شي، دغه شان د يو کس دين او ايمان ژوندی (کامل) کېدلی نه شي تر څو چې يې لمونځ شروع کړی نه وي.

د شقيق بن عبد الله ﷺ حالات:

د خضرميانو مولي دی، انس بن مالك ﷺ نه روايت نقل کوي، دده په شاګردانو کې يحيی بن سعيد قطان او وکيع دی، اکثره محدثينو دوی ته ثقه ويلي دي، تردې چې علامه نووي رحمه الله دده په ثقه والي باندې اتفاق نقل کړی دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

د قيامت په ورځ به اول حساب د لمانځه اخيستل کيږي

"وعن أبي هريرة ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: إِنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلَاتُهُ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د بنده سره د قيامت په ورځ چې اول د کوم شي حساب کيږي، نو هغه لمونځ دی. "فَإِنْ صَلَحَتْ، فَقَدْ أَفْلَحَ وَأَنْجَحَ" که چېرته يې لمونځ صحيح راووتلو، نو کامياب شو. "وَإِنْ فَسَدَتْ، فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ" او که لمونځ يې خراب راووتلو نو تاواني شو او برباد شو، "فَإِنِ انْتَقَصَ مِنْ فَرِيضَتِهِ شَيْءٌ، قَالَ الرَّبُّ ﷻ: انْظُرُوا هَلْ لِعَبْدِي مِنْ تَطَوُّعٍ، فَيُكَمَّلُ مِنْهَا مَا انْتَقَصَ مِنَ الْفَرِيضَةِ؟" که چېرته يې په فرض لمونځ کې څه کمی راوځي، نو الله ﷻ به وفرمايي چې ګورئ ايا زما د بنده سره کوم نفلي عبادتونه شته چې په دې سره د هغه د فرضو کمی پوره کړی شي؟ "ثُمَّ تَكُونُ سَائِرُ أَعْمَالِهِ عَلَى هَذَا" بيا به د نورو عملونو باره کې داسې طريقه چليږي. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: اول مايحاسب به العبد يوم القيامة: د قيامت په ورځ به اول حساب د لمانځه کيږي، دلته يو اعتراض دی هغه دا چې په يو بل روايت کې دي چې اول حساب به د ناحقه قتل باره کې کيږي؟ جواب دا دی چې حقونه په دوه قسمه دي: يو حقوق الله دي او بل حقوق العباد دي، په حقوق الله کې تر ټولو اول حساب به د لمانځه کيږي او په حقوق العباد کې به تر ټولو وړاندې د ناحقه قتل حساب کيږي، همدغه جواب په يو روايت کې هم شته. "أول مايحاسب العبد، وأول مايقضى به الناس في الدماء" تر ټولو اول حساب به د لمانځه کيږي او په ټولو کې اولنی فيصله به د ناحق قتل باره کې کيږي.

فان انتقص من فريضته شيأ الخ: که په فرضو کې څه کمی راغلو، نو دغه کمی به د نفلو څخه پوره کيږي، علامه قاضي ابوبکر عربي رحمه الله فرمايي : د فرضو کمی به د نفلو څخه پوره کولی شي. که چېرته يې فرض نه وي کړي، بيا که نفلونه ورسره وي، نو ددې فرضو کمی به په نفلو پوره کيږي، ليکن جمهور علماء وايي : که چېرته يې فرض نه وي کړي، بيا زر رکعته نفل هم د يو فرض لمونځ برابر کېدی نه شي، البته که فرض يې کړي وو، خو په دې کې کمی وي، نو دغه کمی به په نفلو سره پوره کولی شي، همدغه خبره په مجمع الزوائد کې په يو روايت کې نقل ده

باب فضل الصف الأول والأمر بإتمام الصفوف الأُوَل وتسويتها والتراصّ فيها

داولني صف فضيلت د لومړيو صفونو پوره کولو حکم شوی دی او په مينځ کې بايد خالي ځای پرېښودل شي

"عن جابر بن سمرة رضي الله عنهما، قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ، فَقَالَ: أَلَا تَصُفُّونَ كَمَا تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا؟" د جابر بن سمره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو ولې داسې صفونه نه جوړوئ لکه څنګه چې پرښتې د خپل رب په وړاندې صفونه جوړوي؟ "فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ، وَكَيْفَ تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ

عِنْدَ رَبِّهَا؟" مونږ ووېل: يارسول الله ﷺ پرښتې څنګه خپل صفونه د الله ﷻ په وړاندې جوړوي؟ "قَالَ: يُتِمُّونَ الصُّفُوفَ الْأُوَلَ، وَيَتَرَاصُّونَ فِي الصَّفِّ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: اولنی صف پوره كوي او په خپل مينځ كې نژدې نژدې دريږي، خالي ځايونه نه پرېږدي. رواه مُسلِم

تشريح: په دې حديث كې د صفونو برابرولو ترغيب وركړل شوی دی، تر ټولو اول به اولنی صف پوره كولی شي بيا به وروسته دويم صف، بيا به وروسته دريم صف، وعلى هذا القياس. "ويتراصون في الصف" په صف كې سره نژدې او جوخت دريږي: تراص په اصل كې دې ته ويل كيږي چې د يو ديوال يوه خښته د بلې خښتې سره يوځای ملاو وي، دغه شان په صف كې هم دريدل پكار دي، په مينځ كې فاصله او خالي ځای پرېښودل پكار نه دي، كه چېرته په مينځ كې خالي ځای پاتې شو، نو په دې خالي ځای كې شيطان راننه كيږي.

د اولني صف اجر او ثواب

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي النِّدَاءِ وَالصَّفِّ الْأَوَّلِ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كه چېرته خلكو ته معلومه شي چې په آذان كولو او په اولني صف كې څومره اجر او ثواب دی، "ثُمَّ لَمْ يَجِدُوا إِلَّا أَنْ يَسْتَهِمُوا عَلَيْهِ لَاسْتَهَمُوا" او بيا دوی ته ددې ثواب حاصلولو موقع په لاس نه ورځي، مګر په قرعه اندازي (پچې) سره، نو دوی به په دې باندې هم قرعه اندازي وكړي. متفقٌ عَلَيهِ

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب فضل الاذان) كې تېر شوی دی، مصنف رحمه الله دلته بيا راوړو اشاره ده په دې كې د اولني صف فضيلت ته.

د سړيانو اولنی صف غوره دی

"وعنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: خَيْرُ صُفُوفِ الرِّجَالِ أَوَّلُهَا، وَشَرُّهَا آخِرُهَا" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: غوره صفونه د سړو هغه دي چې اولني وي او بد صفونه د سړو اخريني دي، "وَخَيْرُ صُفُوفِ النِّسَاءِ آخِرُهَا، وَشَرُّهَا أَوَّلُهَا" او غوره صفونه د ښځو اخريني دي او بد صفونه د ښځو اولني دي. رواه مُسلِم

تشريح: خير صفوف الرجال اولها: د سړو غوره صف اولنی صف دی، سړي به د امام سره نژدې دريږي، كوم كس چې څومره د امام سره نژدې وي دومره به يې اجر زيات وي، "وخير صفوف النساء آخرها" د ښځو د ټولو نه غوره صف آخرينی دی، د ښځو صفونه چې د سړو نه څومره لرې وي، دومره به يې اجر زيات وي، ددې نه معلومه شوه چې د ښځو او سړو په خپل مينځ كې اختلاط څومره ناخوښ عمل دی، سړو ته ووېل شو چې په اولني صف كې ودريږئ او ښځو ته ووېل شو چې تر ټولو په آخري صف كې ودريږئ، ددې لپاره چې د يو بل نه بېخي لرې وي او په خپل مينځ كې اختلاط رانشي.

Maktaba Tul Ishaat. com

خوک چې وروسته کيږي، الله ﷻ به يې وروسته کړي

"وعن أبي سعيد الخدري ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ رأى في أَصْحَابِهِ تَأَخُّراً، فَقَالَ لَهُمْ" د أبو سعيد خدري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ خپل ځيني ملګري وليدل چې په صف کې وروسته ولاړ وو، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: "تَقَدَّمُوا فَأْتَمُّوا بِي" تاسو راوړاندې شئ او په ما پسې صف پوره کړئ "وَلْيَأْتَمَّ بِكُمْ مَنْ بَعْدَكُمْ" بيا چې په تاسو پسې کوم کسان وروسته راځي هغوی دې وروستني صفونه پوره کړي، "لَا يَزَالُ قَوْمٌ يَتَأَخَّرُونَ حَتَّى يُؤَخِّرَهُمُ اللهُ" ځکه چې که د يو قوم داسې خوی او عادت جوړ شي چې هغوی وروسته وروسته کيږي، نو الله ﷻ به يې هم بيا په حقيقت کې وروسته کړي. رواه مسلم.

تشريح: محدثين ددې مطلب داسې بيانوي: کله چې رسول الله ﷺ ځيني کسان وليدل چې هغوی په صف کې وروسته ولاړ دي، دغو کسانو ته رسول الله ﷺ وفرمايل: وړاندې راشئ، په ما پسې اولني صف کې ودريږئ، ددې لپاره چې تاسو زما اقتداء وکړئ، دغه شان کوم خلک چې ستاسو نه وروسته دريږي، هغوی به په تاسو پسې اقتداء وکړي. ځکه چې آخريني صف د اولني صف خلکو تابعداري کوي، مطلب دا چې د لمانځه کوم افعال په وړاندېني صف کې کيږي هغه به وروستني صف والا کوي، ليکن دا متابعت ظاهراً دی په حقيقت کې ټول خلک د امام اقتداء کوي. "يوخرهم الله" الله ﷻ به داسې کسان وروسته کړي، ځکه چې هغوی د اولني صف نه وروسته شول نو د دين د حصول او علم نه وروسته شول، الله ﷻ به يې هم جنت ته د دخول په اعتبار سره وروسته کړي.

په لمانځه کې به هغه کسان نزدې دريږي چې هوښياران او مشران وي

"وعن أبي مسعود ﷺ، قال: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ، يَمْسَحُ مَنَاكِبَنَا فِي الصَّلَاةِ" د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دی فرمايي چې د لمانځه دوړېدو نه مخکې به صفونو سيده کولو لپاره رسول الله ﷺ زمونږ په اوږو باندې لاسونه راښکل. "وَيَقُولُ: اسْتَوُوا وَلَا تَخْتَلِفُوا فَتَخْتَلِفَ قُلُوبُكُمْ" او فرمايل به يې: سيده ودريږئ او کاږه مه دريږئ! کنه نو الله ﷻ به ستاسو په زړونو کې مخالفت واچوي. "لِيَلِيَنِي مِنْكُمْ أُولُو الْأَحْلَامِ وَالنُّهَى" زما سره نزدې دې هغه کسان ودريږئ چې عاقلان بالغان او د پوهې خاوندان دي. "ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ" او بيا په دوی پسې هغه کسان ودريږئ چې په عقل او پوهه کې دوی ته نزدې وي او بيا دغه شان نور ...... رواه مسلم.

تشريح: يمسح مناكبنا في الصلوة: د جمع په وخت کې به يې د صف سيده کولو لپاره زمونږ په اوږو باندې لاسونه راښکل، ددې لپاره چې څوک وړاندې وړاندې وروسته نه وي، "لاتختلفوا فتختلف قلوبكم" اختلاف مه کوئ کنه نو ستاسو په زړونو کې به اختلاف پيدا شي. مطلب دا چې صفونه سيده کوئ، وړاندې وروسته مه دريږئ، اوږې د اوږې سره به برابروئ، پښې د پښو سره، که په ظاهر کې اختلاف پيدا شي نو په باطن کې خو به خامخا پيدا کيږي، لکه څرنګه چې د ظاهري اعضاوو بخوالي باطني اعضاوو ته هم رسيږي، دغه شان په صف کې د ظاهري اعضاوو د اختلاف په وجه باطني اعضاوو ته هم اثر رسيږي.

قال ابو مسعود ﷺ فأنتم اليوم أشد إختلافاً: ابو مسعود ﷺ فرمايي: په تاسو کې چې کوم اختلاف دی، ددې بنيادي وجه هم دغه ده چې په صفونو کې مو اختلاف موجود دی، که تاسو خانونه د انتشار نه ساتل غواړئ، نو خپل صفونه سيده کړئ، ددې په برکت به په تاسو کې اتفاق راشي

صفونه سيده کول د لمانځه په شرائطو کې دي

"وعن أنس ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: سَوُّوا صُفُوفَكُمْ" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل صفونه سيده کړئ "فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصَّفِّ مِنْ تَمَامِ الصَّلَاةِ" ځکه چې صفونه سيده کول د لمانځه يوه حصه ده. "متفقٌ عَلَيهِ، وفي رواية للبخاري: فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصُّفُوفِ مِنْ إِقَامَةِ الصَّلَاةِ" او د بخاري رحمه الله په يو روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل صفونه سيده کول د لمانځه په قائمېدو کې پوره حصه لري

تشريح: فإن تسوية الصف من تمام الصلوة: صفونه سيده کړئ، ځکه چې صفونه سيده کول د لمانځه په شرائطو کې داخل دي، مطلب دا دی چې يو صف تر څو نه وي پوره شوی تر هغې دي دويم صف نه جوړوي، ځکه چې هسې نه اولنی صف خالي وي او دويم صف پوره شي

فإن تسوية الصفوف من إقامة الصلوة: محدثين فرمايي په قرآن کې دي چې "اقيموا الصلوة" لمونځ قائم کړئ، مطلب دا چې په لمونځ کې د تعديل ارکان، سنتو، آدابو او د صفونو رعايت وکړئ، همدغه خبره په پورتني حديث کې "إقامة الصلوة" هم بيانيږي چې صفونه سيده کړئ. دا هم په "اقيموا الصلوة" کې داخل ده. په دې وجه د فقهاوو په نزد صفونه سيده کول سنت مؤکد دي. بلکې د ځينو په نزد واجب دي، د علامه ابن حزم رحمه الله په نزد فرض دي، که صفونه سيده نه وي، نو لمونځ فاسد دی

خپل صفونه سيده کړئ!

"وعنه، قَالَ: أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَأَقْبَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ بِوَجْهِهِ، فَقَالَ: أَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ وَتَرَاصُّوا" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې جمع ودرېده، نو رسول الله ﷺ موږ ته متوجه شو او وې فرمايل صفونه قائم کړئ او په مېنځ کې خالي ځايونه مه پرېږدئ "فَإِنِّي أَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِي" ځکه چې زه تاسو د وروسته نه هم وينم رواه البُخَارِيُّ بلفظه، ومسلم بمعناه.

"وفي رواية للبخاري: وَكَانَ أَحَدُنَا يُلْزِقُ مَنْكِبَهُ بِمَنْكِبِ صَاحِبِهِ وَقَدَمَهُ بِقَدَمِهِ" او د بخاري په يو روايت کې دي چې موږ به د يو بل اوږو سره اوږې جنګولې او قدمونه به مو د بل سرې د قدم سره جنګول

تشريح: أقيموا صفوفكم: خپل صفونه سيده کړئ دا د رسول الله ﷺ معجزه وه چې دوی به صفونه وروسته د شانه هم ليدل، سره له دې چې د رسول الله ﷺ مخ مبارک به قبلې طرفته وو

تراصوا: په صفونو کې نژدې درېدل. مطلب دا چې د هر سړي اوږه به د بل کس د اوږې سره ملاو وي، دغه شان د يو کس پښه به د بل کس د پښې سره ملاو وي، لکه څرنګه چې د دېوال يوه خښته د بلې خښتې سره ملاو وي

Maktaba Tul Ishaat. com

د صفونو د اختلاف په وجه به په زړونو کې سره اختلاف پیدا شي

"وعن النعمان بن بشير رضي الله عنهما، قَالَ: سمعت رَسُول اللهِ ﷺ يقول: لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ" د نعمان بن بشير رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چې فرمایل یې: یا خو تاسو خپل صفونه سیده کړئ "أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللَّهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ" کنه نو الله ﷻ به ستاسو په زړونو کې مخالفت او د یو بل نه نفرت پیدا کړي. متفقٌ عَلَيه

"وفي رواية لمسلم: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يُسَوِّي صُفُوفَنَا، حَتَّى كَأَنَّمَا يُسَوِّي بِهَا الْقِدَاحَ" او د مسلم رحمه الله په یو روایت کې داسې هم دي چې د نعمان بن بشير رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به زمونږ صفونه داسې سیده کول لکه څنګه چې غشي سیده کولی شي، "حَتَّى رَأَى أَنَّا قَدْ عَقَلْنَا عَنْهُ، ثُمَّ خَرَجَ يَوماً فَقَامَ حَتَّى كَادَ يُكَبِّرُ" تردې چې رسول الله ﷺ په دې پوه شو چې صحابه کرامو د دوی نه د صفونو سیده کولو چل زده کړو، یوه ورځ بهر راووتلو او قریب وو چې الله اکبر یې ویلي وای، "فَرَأَى رَجُلاً بَادِياً صَدْرُهُ مِنَ الصَّفِّ" یو کس یې ولیدو چې خپله سینه یې د صف نه لږ وړاندې کړې وه، "فَقَالَ: عِبَادَ اللهِ، لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ، أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ" نبي کریم ﷺ وفرمایل: د خدای بندګانو خپل صفونه سیده او برابر کړئ، کنه نو الله تعالی به ستاسو په مینځ کې مخالفت پیدا کړي.

تشريح: دا حدیث وړاندې په (باب في الامر بالمحافظة على السنة وآدابه) کې تېر شوی دی. مصنف رحمه الله دلته د باب د مناسبت په وجه بیا راوړو، "ليخالفن الله بين وجوهكم" الله ﷻ به ستاسو په زړونو کې بغض، عناد او حسد پیدا کړي، "كأنما يسوى بها القداح" لکه رسول الله ﷺ چې به د دې صفونو په وجه غشي سیده کول غوښتل. مطلب دا چې د صفونو سیده کولو به یې دومره اهتمام فرمايلو لکه دې صف په وجه چې غشي سیده کولی شول، حالانکې په عربو کې د غشو سیده کېدل دومره مشهور وو چې د نورو شیانو تشبیه د غشو سره ورکولی شوه، لیکن دلته یې د مبالغې په توګه وفرمایل چې دا صفونه به دومره سیده وو چې د غشو نه به هم زیات سیده وو.

"وعن البراءِ بن عازِبٍ رضي الله عنهما، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَتَخَلَّلُ الصَّفَّ مِنْ نَاحِيَةٍ إِلَى نَاحِيَةٍ، يَمْسَحُ صُدُورَنَا وَمَنَاكِبَنَا" د براء بن عازب رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ به عادت مبارکه دا وو چې د صف یو سر نه به شروع شو بل سر ته به تلو، زمونږ په اوږو او سینو به یې لاس مبارک راښکلو، "وَيَقُولُ: لاَ تَخْتَلِفُوا فَتَخْتَلِفَ قُلُوبُكُمْ" او فرمایل به یې چې اختلاف مه جوړوئ (یعني ګډوډ) مه دریږئ) کنه نو الله ﷻ به ستاسو په زړونو کې مخالفت پیدا کړي، "وَكَانَ يَقُولُ: إِنَّ اللهَ وَمَلاَئِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصُّفُوفِ الأُوَلِ" او دا به یې فرمایل چې الله ﷻ او د هغه پرښتې په مخکیني صف والا باندې رحمتونه او دعاګانې رالېږي. رواه أَبُو داود بإسنادٍ حسنٍ.

په اولني صف د الله ﷻ رحمتونه نازليږي

"وعن ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُما: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: أَقِيمُوا الصُّفُوفَ، وَحَاذُوا بَيْنَ المَنَاكِبِ" د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: صفونه سيده کړئ او د اوږو سره اوږې ملاو کړئ؛ "وَسُدُّوا الخَلَلَ" او په مينځ کې خالي ځايونه بند کړئ؛ "وَلِينُوا بِأَيْدِي إِخْوَانِكُمْ" او د خپلو وروڼو سره په نرمی لاسونه ونيسئ؛ "وَلاَ تَذَرُوا فُرُجَاتٍ لِلشَّيْطَانِ" او شيطان ته په مينځ کې خالي ځايونه مه پرېږدئ؛ "وَمَنْ وَصَلَ صَفّاً وَصَلَهُ اللهُ" او کوم کس چې صفونه سره يو کړي او پيوسته يې کړي، الله ﷻ هغه کس د خپل رحمت سره پيوسته کړي، "وَمَنْ قَطَعَ صَفّاً قَطَعَهُ اللهُ" او کوم کس چې صفونه پرې کړي، الله ﷻ به هغه د خپل رحمت نه پرې کړي. رواهُ أبُو دَاوُدَ بإسنادٍ صحيحٍ.

تشريح: إن اللــــه وملائكته يصلون على الصفوف الأول: بې شکه چې الله ﷻ په خپله او د هغه پرښتې په اولني صف والا بندې رحمتونه نازلوي، د صلوة اضافت چې الله ﷻ ته وشي، نو دديې معنی ده رحمت نازلېدل او چې پرښتو ته يې اضافت وشي، نو معنی په دعاء او استغفار سره کيږي، اوس مطلب دا شو چې په اولني صف باندې د الله ﷻ له طرفه رحمتونه نازليږي او پرښتې ورته د مغفرت او بخښنې دعاګانې کوي

په صف کې خالي ځای پرېښودل حرام دي

"وعن أنس ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: رُصُّوا صُفُوفَكُمْ، وَقَارِبُوا بَيْنَهَا" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په صفونو کې يو بل سره پيوسته ودرېږئ او په خپل مينځ کې نژدې شئ؛ "وَحَاذُوا بِالأَعْنَاقِ" څټونه سيده کړئ: "فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي لأَرَى الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ مِنْ خَلَلِ الصَّفِّ، كَأَنَّهَا الحَذَفُ" قسم په هغه ذات چې په لاس کې يې زما روح ده چې زه شيطان ستاسو په خالي ځايونو کې داسې داخلېدونکی وينم لکه هغه چې د چېلي بچې وي او په خالي ځای کې وځي او ننوځي حديث صحيح رواهُ أبُو دَاوُدَ بإسنادٍ عَلَى شرطِ مسلمٍ

"الحَذَفُ: بحاءٍ مهملةٍ وذالٍ معجمةٍ مفتوحتينِ ثُمَّ فاءٌ وهي: غَنَمٌ سُودٌ صِغَارٌ تَكُونُ بِاليَمَنِ" د (الحذف) معنی ده: د يمن وړوکي قد والا توره چېلۍ.

تشريح: ولينوا بأيدي إخوانكم: د وروڼو په لاسونو کې نرم شئ؛ مطلب دا چې کوم کس صفونه سيده کوي د هغه سره تعاون پکار دی، په دې باندې خفه کېدل پکار نه دي چې څرنګه درته ووايي چې داسې شه يا داسې شه، نو هغه څه کول پکار دي چې څه درته هغه ووايي، کوم کس چې صفونه سيده کوي، "ومن وصل صفاً وصله الله،من قطع صفاً قطعه اللــه" او کوم کس چې صف ماتوي، هغه دي الله ﷻ مات کړي او کوم کس چې صف جوړوي هغه دي الله ﷻ جوړ کړي، مطلب دا چې په صف کې خالي ځای پرېښودل پکار نه دي؛ که په وړاندې صف کې ځای وي او دی بيا هم وروسته وروستـه کيږي، نو داسې کس ته بد دعاء شوې ده.

Maktaba Tul Ishaat. com

شيطان د صف په مينځ کې داخليږي

"وعنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: أَتِمُّوا الصَّفَّ الْمُقَدَّمَ، ثُمَّ الَّذِي يَلِيهِ" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د ټولو نه اول اولنی صف پوره کړئ بيا وريسې چې کوم صف وي هغه پوره کړئ! "فَمَا كَانَ مِنْ نَقْصٍ فَلْيَكُنْ فِي الصَّفِّ الْمُؤَخَّرِ" که چېرته کوم نيمګړی صف وي هغه وروستنی صف ښکار دي. رواه أبو داود بإسناد حسن.

تشريح: رصوا صفوفكم: خپل صفونه سره ملاو کړئ! مطلب دا چې صفونه بيخي ملاو کړئ او سيده ودريږئ! وړاندې وروسته مه دريږئ! "إني لأرى الشيطن يدخل من خلل الصف" بې شکه زه شيطان په صفونو کې د داخلېدو پرمهال وينم، مطلب دا چې نبي کريم ﷺ يا خو شيطان بطور معجزه د صف په خالي ځايونو کې ليدلو يا خو دا په حقيقت باندې محمول دی، يا د وحې په ذريعه الله ﷻ هغه ته اطلاع ورکړه چې د صف په خالي ځايونو کې شيطان داخليږي او خلکو ته په لمونځ کې وسوسې اچوي

تر ټولو وړاندې اولنی صف پوره کړئ!

"وعن عائشة رَضِيَ اللهُ عَنها، قالت: قال رَسُولُ اللهِ ﷺ: إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى مَيَامِنِ الصُّفُوفِ" د عائشې ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله ﷻ رحمت او د پرښتو دعاګانې د صفونو د ښي طرف نه شروع کيږي، "رواه أبو داود بإسناد على شرط مسلم، وفيه رجل مُخْتَلَفٌ فِي تَوْثِيقِهِ" دا حديث امام ابوداود رحمه الله په صحيح سند سره په شرط د مسلم روايت کړی او په دې کې يو سړی دی چې د هغه په توثيق او تضعيف کې اختلاف دی.

تشريح: أتموا الصف المقدم: تر ټولو وړاندې اول صف پوره کړئ؛ دا مضمون په ګڼ شمېر رواياتو کې راغلی دی، د صفونو جوړولو ترتيب دا دی چې تر ټولو وړاندې اولنی صف پوره کړئ، بيا دويم بيا دريم او دغسې په ترتيب سره ټول صفونه پوره کړئ، "فما كان من نقص" کوم کمی چې پاتې وي، هغه به په آخري صف کې وي، په وړاندې صفونو کې به نه وي.

الله ﷻ او پرښتې د صف په ښي طرف باندې رحمتونه نازلوي:

"وعن البراء ﷺ، قَالَ: كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ رَسُولِ اللهِ ﷺ أَحْبَبْنَا أَنْ نَكُونَ عَنْ يَمِينِهِ" د براء بن عازب ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې کله به مونږ په رسول الله ﷺ پسې جمع کول، نو مونږ به دا خبره خوښه ګڼل چې مونږ دې د رسول الله ﷺ ښي طرفته يو، "يُقْبِلُ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ، فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ -أو تَجْمَعُ- عِبَادَكَ" کله چې به رسول الله ﷺ سلام وګرځولو، نو مونږ ته به يې توجه وکړه او داسې دعاء به يې کول چې اې الله! ما د عذاب نه وساتې، په هغه ورځ چې ته خپل بندګان راپورته کوې او يا يې داسې وفرمايل: په کومه ورځ چې ته خپل بندګان راجمع کوې! رواه مسلم.

تشريح: ملا علي قاري رحمه الله فرمايي : په صف كې چې د امام ښي طرفته يو كس ودريږي اګرچې هر څومره د امام نه لرې وي، دا كس د هغه كس نه بهتر دى كوم كس چې د امام سره نژدې دريږي، ليكن چپ طرفته هم دريږئ! كه په صف كې چپ طرفته خالي ځاى وي نو بيا د صف دواړه طرفونه د سيده كولو په خاطر چپ طرف دريدل پكار دي.

صحابه كرامو به د صف په ښي طرف دريدل خوښول

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه ،قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: وَسِّطُوا الإِمَامَ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل امام په مينځ كې راولئ! "وَسُدُّوا الخَلَلَ" په مينځ كې خالي ځايونه بند كړئ! رواه أبوداود.

تشريح: ددې حديث نه يو طرف دا معلوميږي چې مقتديانو ته پكار ده چې د صف په ښي طرف ودريږي ليكن په دې شرط چې ښي طرف ځاى خالي وي، بل ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې امام سلام وګرځوي، نو مقتديانو ته دې مخ كړي دا هم مستحب عمل دى، بل دا چې په دعاء كې دومره اواز پورته كول پكار دي چې نژدې كس يې درسره واوري ليكن په دې شرط چې د تعليم په غرض وي، كنه نو غوره دا ده چې دعاء په پټه وغوښتل شي.

باب فضل السنن الراتبة مع الفرائض وبيان أقلها وأكملها وما بينهما

د سنت مؤكده بيان

فايده: دې باب كې درې حديثونه دي : د سنت مؤكده او غير مؤكده په شمېر كې، ددې د كمي او زياتي باره كې مختلف حديثونه دي او د رواياتو د اختلاف په سبب د امامانو ترمينځ هم اختلاف دى، مثلاً : روايت ۲۰۴ كې د دولس ركعتونو لپاره د تطوع لفظ راغلى دى چې عام طور د هر نفل لپاره دغه لفظ راځي، دا تعداد پوره د ورځې نفلونو دى، دا د مسلم روايت دى، ليكن په ترمذي او نسائي كې دا اضافه ده چې څلور ركعته د ماسپښين نه وروسته او دوه ركعته د فرضو نه مخكې دي؛ دا خبره ابن خزيمه او ابن حبان رحمهما الله په خپل خپل صحيح كې كړې ده.

دغه شان په ۲۰۵ روايت كې د ماسپښين نه مخكې صرف د دوه ركعتو بيان دى، ليكن د ام حبيبة رضي الله عنها نه روايت دى چې نبي كريم ﷺ د ماسپښين نه مخكې هيڅ كله څلور ركعته نه دي پرېښودلي

ملا علي قاري رحمه الله فرمايي د ابن عمر رضي الله عنهما د روايت څخه د دوه ركعتونو ثبوت دى، امام شافعي رحمه الله ترې استدلال كړى دى، ليكن ددې نه علاوه د علي رضي الله عنه ، عائشې رضي الله عنها او ام حبيبة رضي الله عنها نه د څلورو ركعتونو ثبوت دى، امام ترمذي رحمه الله فرمايلي دي چې د نبي كريم ﷺ د صحابه وو او اكثرو اهل علمو عمل په څلورو ركعتونو باندې وو ، همدا قول د سفيان، ابن مبارك او اسحاق

Maktaba Tul Ishaat. com

ﷺ دي، د امام احمد او امام شافعي رَحِمَهُمَااللهُ نه هم د ماسپښين د سنتو باره کې څلور رکعته منقول دي. (على هذا القياس) د جمعې نه وروسته هم په حديث کې د څلورو رکعتونو ثبوت ملاوېږي. مطلب دا چې دا حديث د احنافو د مسلك خلاف نه دی.

د دولسو رکعتونو سنتو فضيلت

"وعن أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ أُمِّ حَبِيبَةَ رملة بِنْتِ أَبِي سُفْيَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنهما، قالت: سمعت رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يقول: ((مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّي لِلَّهِ تعالى كُلَّ يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكعته تَطَوُّعاً غَيْرَ الْفَرِيضَةِ" د ام المؤمنين ام حبيبه رمله بنت أبي سفيان رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: نشته داسې يو مسلمان د الله ﷻ رضا لپاره چې هره ورځ دولس رکعته نفل لمونځونه وکړي سېوا د فرضو نه. "إِلَّا بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتاً فِي الْجَنَّةِ، أَوْ إِلَّا بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ" مګر دا چې الله ﷻ به هغه ته په جنت کې کور جوړ کړي او يا يې داسې وفرمايل: د هغه لپاره به په جنت کې کور جوړ کړی شي. رواه مُسْلِمٌ

تشريح: كل يوم ثنتى عشرة ركعة: هره ورځ دولس رکعته سنت لمونځ کول، ددينه دولس رکعته سنت مرکده لمونځ مراد دی، تفصيل يې دا دی چې: د سهار لمانځه نه وړاندې دوه رکعته سنت، د ماسپښين لمانځه نه وړاندې څلور او بيا وروسته دوه رکعته سنت دي، په ماز يګر کې سنت موکده نشته، د ماښام نه وروسته دوه رکعته سنت او د ماسخوتن فرض لمانځه نه وروسته دوه رکعته سنت، دا ټول دولس شو، څوك چې ددې اهتمام کوي، هغه ته په جنت کې د کور وعده ده.

د راويه ام حبيبه رضي الله عنها رمله بنت أبي سفيان حالات:

اصلي نوم يې رمله رضي الله عنها ده، کنيت يې ام حبيبه ده، د پلار نوم يې ابوسفيان دی، د مور نوم يې صفيه بنت العاص ده، د عثمان رضي الله عنه حقيقي ترور وه، ام حبيبه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ د بعثت نه ۱۷ کاله وړاندې پيدا شوه

اولنی نکاح يې د عبد الله بن جحش سره شوې وه، د خاوند سره يو ځای مسلمانه شوه، حبشې ته يې هجرت کړی دی، ليکن خاوند يې هلته عيسايي شو او په عيسايت کې ورته مرګ راغلو، دويمه نکاح يې د رسول الله ﷺ سره وشوه، نجاشي خپله د دوی نکاح وتړل، مهر يې هم ادا کړو، په دې وخت کې د دوی عمر ۳۲ يا ۳۷ کاله و، په احاديثو به يې ډېر زيات په تاکيد سره عمل کولو او نورو ته به يې هم ددې تاکيد فرمايلو.

وفات: د خپل ورور امير معاويه رضي الله عنه په دور خلافت کې د ۴۴ کالو په عمر کې وفات شوه، په مدينه منوره کې دفن شوه، د وفات پرمهال هغوی د ام سلمه رضي الله عنها او عايشې رضي الله عنها نه معافي وغوښتل، عايشه رضي الله عنها فرمايي: ما ورته ووېل: ما معاف کړې، هغې راته ووېل: الله ﷻ دې تاسو خوشحاله وساتي، زه مو خوشحاله کړم، پنځه شپېته / ۶۵ احاديث ترې نقل دي.

د ماسپښين نه وړاندې څلور رکعته سنت

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ سره دوه رکعته د ماسپښين لمانځه نه مخکې ادا کړه او دوه رکعته مې د فرضو نه وروسته ادا کړه، "وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْجُمُعَةِ" او دوه رکعته د جمعې د لمانځه نه وروسته، "وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ" او دوه رکعته د ماښام د لمانځه وروسته او دوه رکعته د ماسخوتن د لمانځه وروسته. متفق عليه

تشريح: رکعتين قبل الظهر: دوه رکعته سنت د ماسپښين نه وړاندې، دا د امام شافعي رحمه الله قول دی، ليکن د احنافو په نزد د ماسپښين نه وړاندې څلور کعته سنت دي او په حديث کې چې کوم لفظ د (رکعتين) تثنيه ذکر شوی دی، نو دې باره کې محدثين فرمايي: رکعتين بمعنی تثنيه ددې اطلاق په څلورو هم کيږي او په څينو احاديثو کې صراحتاً لفظ د څلورو رکعتونو راغلی دی، نو د رکعتين نه څلور اخيستل ډېر ښه دي، څينې محدثين فرمايي: رسول الله ﷺ به څلور رکعته سنت په کور کې کول او په جومات کې به يې دغه دوه رکعته تحية المسجد کول، دې حديث کې د سهار لمانځه نه وړاندې د دوه رکعته سنتو ذکر نشته، ليکن په نورو احاديثو کې ذکر شته، بلکې حسن بصري رحمه الله او د څينو احنافو په نزد د سهار سنت د نورو سنتو په مقابله کې د زيات اهميت له وجې واجب دي.

د جمعې په ورځ د جمعې د لمانځه وروسته شپږ رکعته سنت دي:

رکعتين بعد الجمعة: دوه رکعته د جمعې نه وروسته، د جمعې د لمانځه وروسته سنتو کې د ائمه اربعه په مينځ کې اختلاف دی، د امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد د جمعې د لمانځه وروسته دوه رکعته سنت دي، لکه څرنګه چې په حديث کې ذکر شو، د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد څلور رکعته سنت دي او د صاحبينو په نزد شپږ رکعته سنت دي، لکه څرنګه چې د علي رضي الله عنه او ابن عمر رضي الله عنه قول دی، که شپږ رکعته سنت وکړی شي، نو په ټولو حديثو به عمل راشي، په څينو کې د څلورو رکعتونو ذکر دی او په څينې کې د دوه رکعتو ذکر دی، په دې وجه د څينو علماء کرامو په دې باندې فتوی ده چې شپږ واړه دې وکړی شي، علامه انور شاه کشميري رحمه الله فرمايي: اول دې دوه رکعته وکړی شي او بيا دې څلور رکعته وکړي، دا به غوره وي.

د جمعې په ورځ دواړو آذانو نو تر مينځ سنت شته:

"وعن عبد الله بن مُغَفَّلٍ رضي الله عنه، قال: قال رَسُولُ اللهِ ﷺ: بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ، بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ، بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ" د عبد الله بن مغفل رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د هر آذان او اقامت په مينځ کې لمونځ دی، د هر آذان او اقامت په مينځ کې لمونځ دی، "قَالَ فِي الثَّالِثَةِ: لِمَنْ شَاءَ" بيا نبي کريم ﷺ په دريم ځل وفرمايل: که د چا خوښه وي. متفق عليه

"الْمُرَادُ بِالْأَذَانَيْنِ: الْأَذَانُ وَالْإِقَامَةُ" په آذانين سره "يو آذان او بل اقامت دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

تشريح: بين كل أذانين صلوة: د دوه اذانونو ترمنځ لمونځ دی، علامه نووي رحمه الله فرمايي: د آذانونو نه مراد يو آذان دی او بل تكبير دی، يعني د آذان او تكبير ترمينځ دوه ركعته لمونځ مستحب دی، ددي نه مراد غير راتبه يعني مستحب دي، ليكن د سهار آذان نه وروسته او د ماښام آذان نه وروسته د احنافو په نزد هيڅ نفل نشته.

باب تأكيد ركعتي سنّةِ الصبح

د سهار د سنتو تاكيد

"عن عائشة رَضِيَ اللّٰهُ عَنها: أنَّ النَّبيَّ ﷺ كَانَ لَايَدَعُ أَرْبَعاً قَبْلَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الغَدَاةِ" د عائشي رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ عادت به دا وو چې څلور ركعته سنت به يې د ماسپښين لمانځه نه مخکې نه پرېښودل او دوه ركعته سنت به يې د سهار فرضو نه مخکې نه پرېښودل. رَوَاهُ البُخَارِيُّ

تشريح: لا يدع أربعاً قبل الظهر: څلور ركعته د ماسپښين نه ورانديې رسول الله ﷺ كله هم نه پرېښودل، ددېنه يو طرف د احنافو د مذهب تائيد كيږي چې د ماسپښين لمانځه نه وړاندې دوه ركعته نه بلكې څلور ركعته دي، دويم دا چې دا څلور ركعته سنت موكد دي، په دې وجه به رسول الله ﷺ په دې باندې ډېر زيات تاكيد فرمايلو.

ركعتين قبل الغداة: رسول الله ﷺ به د سهار نه وړاندې دوه ركعته نه پرېښودل، د سهار د سنتو باره کې ډېر زيات احاديث راغلي دي، په دې وجه علماء كرام فرمايي: په سنتو کې تر ټولو زيات موكد سنت هم دغه سهارني دي، د حسن بصري رحمه الله او د ځينې احنافو په نزد واجب دي.

د سهار د سنتو تاكيد

"وعنها، قالت: لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ ﷺ عَلَى شَيْءٍ مِنَ النَّوَافِلِ أَشَدَّ تَعَاهُداً مِنْهُ عَلَى رَكْعَتَي الفَجْرِ" د عايشي رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به دومره پابندي د نورو نفلونو نه كول، لكه څومره پابندي به يې چې د سهار د نفلونو (سنتو) كول. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: أشد تعاهداً منه على ركعتي الفجر: د سهار د دوه ركعته سنتو به يې ډېر زيات خيال ساتلو، علامه قطب الدين رحمه الله فرمايي: رسول الله ﷺ به د سهار د سنتو دومره اهتمام فرمايلو چې كه سفر واى او كه حضر واى، په هرحال کې چې وي ددې د ادا كولو خيال به يې ساتلو، په دې وجه فقهاء فرمايي چې بې عذره د سهار سنت په ناسته كول صحيح نه دي.

رسول الله ﷺ به كله هم د سهار دوه ركعته سنت نه پرېښودل

"وعنها، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: رَكْعَتَا الفَجْرِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا" د عائشي رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د سهار دوه ركعته سنت د ټولې دنيا او په دې کې چې څه دي ددې نه غوره

دي، "رواه مُسْلِمٌ، وفي رواية: لَهُمَا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنَ الدُّنْيَا جَمِيعاً" او په يو بل روايت کې داسې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د سهار دا دوه رکعته سنت ماته د ټولې نړۍ څخه خوښ دي.

تشريح: خير من الدنيا وما فيها: د سهار دوه رکعته سنت د دنيا او څه چې په دنيا کې دي د دې نه غوره دي، مطلب دا چې که څوك د الله ﷻ په لار کې ټوله دنيا او څه چې په دې کې دي خرچ کړي، ليکن بيا هم دغه دوه رکعته سنت ددېنه غوره دي، علماء کرامو د سنت موکده ترتيب په دې شان ليکلی دی: د ټولو نه زيات سنت موکد سهارني دي، بيا د ماښام دوه رکعته دي، بيا د ماسپښين نه وروسته دوه رکعته سنت دي، بيا د ماسخوتن دوه رکعته سنت دي او په آخر کې د ماسپښين نه وړاندې څلور رکعته سنت دي.

د سهار راختلو سره په رسول الله ﷺ دوه رکعته سنت کول

"وعن أبي عبد الله بلال بن رباح رضي الله عنه، مُؤَذِّنِ رَسُولِ اللهِ ﷺ: أَنَّهُ أَتَى رَسُولَ اللهِ ﷺ، لِيُؤْذِنَهُ بِصَلَاةِ الغَدَاةِ، فَشَغَلَتْ عَائِشَةُ بِلَالاً بِأَمْرٍ سَأَلَتْهُ عَنْهُ" د أبو عبد الله بلال بن رباح ﷺ نه روايت دی کوم چې د رسول الله ﷺ مؤذن هم وو، فرمايي يوه ورځ د سهار لمانځه ته د اطلاع ورکولو لپاره راغلم، عائشې ﷺ زما څخه د يو څو خبرو په اړه پوښتنې شروع کړې، "حَتَّى أَصْبَحَ جِدّاً" په خبرو خبرو کې په ما باندې بيخې رڼا شوه، "فَقَامَ بِلَالٌ فَآذَنَهُ بِالصَّلَاةِ وَتَابَعَ أَذَانَهُ، فَلَمْ يَخْرُجْ رَسُولُ اللهِ ﷺ" بلال ﷺ اوچت شو او رسول الله ﷺ ته يې د جمعې خبر ورکړو چې جمع تياره ده، ليکن نبي کريم ﷺ تشريف رانه وړو، "فَلَمَّا خَرَجَ صَلَّى بِالنَّاسِ" کله چې يې تشريف راوړو، نو خلکو ته يې جمع ورکړه، "فَأَخْبَرَهُ أَنَّ عَائِشَةَ شَغَلَتْهُ بِأَمْرٍ سَأَلَتْهُ عَنْهُ حَتَّى أَصْبَحَ جِدّاً" بلال ﷺ نبي کريم ﷺ ته وفرمايل: په ما باندې د عائشې ﷺ په وجه ناوخته شو، هغې څه پوښتنې کولې تردې چې ښه رڼا شوه، "وَأَنَّهُ أَبْطَأَ عَلَيْهِ بِالخُرُوجِ" نبي کريم ﷺ هم لږ تاخير وکړو، "فَقَالَ -يعني النَّبِيَّ ﷺ-: ((إِنِّي كُنْتُ رَكَعْتُ رَكْعَتَي الفَجْرِ)) فقالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّكَ أَصْبَحْتَ جِدّاً؟" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ما د سهار دوه رکعته سنت کول. بلال ﷺ وفرمايل: يا رسول الله ﷺ تاسو خو ډېر ناوخته کړو، تردې چې رڼا خيره شوه؟ "فَقَالَ: لَوْ أَصْبَحْتُ أَكْثَرَ مِمَّا أَصْبَحْتُ، لَرَكَعْتُهُمَا، وَأَحْسَنْتُهُمَا وَأَجْمَلْتُهُمَا" نبي کريم ﷺ وفرمايل: که چېرته ددې نه هم زيات نوره رڼا جوړېدلې، نو ما به بيا هم دغه دوه رکعته کول او ښه په ښکلي انداز او اطيمنان سره به مې کول. رواه أبو داود بإسناد حسن.

تشريح: محدثين فرمايي: هر څومره وخت چې تېر شي، ليکن که بيا هم وخت پاتې وي نو سنت ضرور کول پکار دي، ددې په اداء کولو کې سستي پکار نه ده.

د راوي ابوعبد الله بلال بن رباح ﷺ حالات:

اصل نوم يې بلال ﷺ دی، ابوعبد الله يې کنيت دی، د پلار نوم يې رباح دی، د مور نوم يې حمامه ده، حبشي غلام وو، ليکن په مکه کې پيدا شو، بلال ﷺ ظاهري لحاظ سره تور حبشي وو، د اسلام په شروع کې مسلمان شوی وو، په دوی باندې ډېر زيات تکليفونه راغلي دي، کفارو به په ګرمه

Maktaba Tul Ishaat. com

ځنګه او سکرونو ځملولو، ددې باوجود یې اسلام پرېنښودلو. ابوبکر رضي الله عنه ولیدو، نو وايي خيستلو او آزاد يې کړو، کله چې د هجرت کولو حکم ملاو شو، نو مکه يې پرېښوده او مدينې منورې ته يې هجرت وکړو، د اسلام تر ټولو اولنی موذن جوړ شو، ځکه چې د دوی آواز ډېر اوچت، ډېر ښکلی وو، که دوی به نه وو، نو ابو محذوره رضي الله عنه یا ابن ام مکتوم رضي الله عنه به آذان کولو په ټولو جهادونو کې یې شرکت کړی دی، د رسول الله ﷺ سره يو ځای د مکې د فتحې په ورځ مکې ته داخل شو، د رسول الله ﷺ د وفات وروسته شام ته لاړو، عمر رضي الله عنه به د دوی باره کې فرمايل "ابوبکر سيدنا واعتق سيدنا" ابوبکر رضي الله عنه زموږ سردار دی او هغه بلال رضي الله عنه چې زموږ سردار دی هغه يې آزاد کړو، په شلمه / ۲۰ هجري کې زيات او کم د شپېتو کالو په عمر کې په دمشق کې وفات شو، هلته د باب الصغير سره نږدې دفن شو، څلور څلوېښت / ۴۴ روايات ترې نقل دي، په يو حديث کې بې بخاري او مسلم دواړه متفق عليه دي، دوه په مسلم کې او يو په بخاري کې دی

باب تخفيف ركعتي الفجر وبيان ما يقرأ فيهما وبيان وقتهما

د سهار سنت مختصر کول

"عن عائشة رَضِيَ اللّٰهُ عَنها: أنّ رسولَ الله ﷺ كَانَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ بَيْنَ النِّدَاءِ وَالإقَامَةِ مِنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د آذان او اقامت په مينځ کې دوه رکعته سنت په مختصره توګه ادا کول. متفقٌ عَلَيهِ

"وفي رواية لهما: يُصَلِّي رَكْعَتَيِ الفَجْرِ، فَيُخَفِّفُهُمَا" په يو بل روايت کې دي چې د سهار سنت به يې داسې مختصر کول، "حَتَّى أَقُولَ: هَلْ قَرَأَ فِيهِما بِأُمِّ القُرْآنِ" ما به د ځان سره ويل چې ايا سورت فاتحه يې پکې ولوسته او که نه؟.

"وفي رواية لمسلم: كَانَ يُصلِّي رَكْعَتَيِ الفَجْرِ إذَا سَمِعَ الأذَانَ وَيُخَفِّفُهُمَا" او د مسلم رحمه الله په يو روايت کې دي چې د سهار سنت به يې د آذان او اقامت په مينځ کې کول او ډېر مختصر به يې کول. "وفي رواية: إذَا طَلَعَ الفَجْرُ" او په يو بل روايت کې دي چې کله به سهار شو.

تشريح: كان يصلي ركعتين خفيفتين: د سهار سنت به يې مختصر کول. ترڅو چې عايشه رضي الله عنها فرمايي: ما ته به کله کله شك شو چې رسول الله ﷺ به سورة فاتحه پکې وايي او که نه؛ په دې وجه د جمهورو فقهاوو رايه دا ده چې د سهار سنت مختصر کول پکار دي، د احنافو معتبر کتاب بحرالرائق هم نقل کړي دي چې د سهار سنت مختصر کول پکار دي

د سهار سنت مختصر کول پکار دي

"وعن حفصة رَضِيَ اللّٰهُ عَنها: أنّ رَسُولَ الله ﷺ كَانَ إذَا أذَّنَ المُؤَذِّنُ لِلصُّبْحِ وَبَدَا الصُّبْحُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ. متفقٌ عَلَيهِ" د حفصه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې کله به مؤذن د سهار د لمانځه لپاره آذان وکړو او سهار به شو، نو رسول الله ﷺ به دوه رکعته مختصر لمونځ وکړو، "وفي رواية لمسلم: كَانَ رَسُولُ الله ﷺ إذَا طَلَعَ

الفَجْرُ لا يُصَلِّي إِلَّا رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ" او په يو بل روايت کې دي چې کله به سهار شو، نو رسول الله ﷺ به دوه رکعته مختصر وکړه.

تشريح: وبدأ الصبح صلى ركعتين خفيفتين: کله چې به سهار شو، نو رسول الله ﷺ به دوه رکعته سنت مختصر وکړه، دغه شان په يو بل روايت کې دي چې: "كان ركعتين خفيفتين بين النداء والإقامة من صلوة الفجر" رسول الله ﷺ به دوه رکعته سنت د آذان او اقامت ترمينځ کول. علماء ددېنه استدلال کوي چې که يو کس د سهار سنت د وخت نه وړاندې وکړي، نو دوباره به يې واپس کوي، بل دا چې د سهار سنت مختصر کول پکار دي.

د سهار د فرضو نه وړاندې دوه رکعته سنت کول

"وعن ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: كَانَ رسول الله ﷺ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د شپې دوه دوه رکعته لمونځ کولو، "وَيُوتِرُ بِرَكْعَةٍ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ" او د اخري شپې رکعتونو کې به يې د يو رکعت اضافه کولو سره وتر کول، "وَيُصَلِّي الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْغَدَاةِ" د سهار فرضو نه مخکې به يې دوه رکعته سنت کول، "وَكَأَنَّ الْأَذَانَ بِأُذُنَيْهِ" او دا دوه رکعته سنت به يې دومره مختصر کول لکه يو کس چې د اقامت آواز واوري او په تيزۍ سره سنت وکړي چې چېرته ترې اول رکعت فوت نه شي. متفقٌ عَلَيهِ

تشريح: يصلي من الليل مثنى مثنى: رسول الله ﷺ به د تهجدو لمونځ دوه دوه رکعته ادا کولو، په دې وجه د امام شافعي رحمه الله، امام احمد بن حنبل رحمه الله، امام ابو يوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزد د تهجدو لمونځ دوه دوه رکعته کول افضل دي.

ويؤتر ركعته من آخر الليل: او د شپې په آخريني حصه کې به يې يو رکعت وکړو او وتر به يې جوړ کړل، مطلب دا چې رسول الله ﷺ به دوه دوه رکعته تهجد وکړل، کله چې به يې محسوسه کړه چې اوس سهار کېدونکی دی، نو ددې دوه رکعتونو سره به يې يو بل رکعت ځانله وکړو او وتر (تاق) به يې کړل، معلومه شوه چې د وترو لپاره غوره وخت د شپې آخريني وخت دی، که داسې مشکل وي، نو په خپل اولني وخت کې يې کول پکار دي.

وكأن الأذان بأذنيه: لکه د تکبير آواز چې د رسول الله ﷺ په غوږونو مبارکو کې وي، مطلب دا دی چې د سهار سنت به رسول الله ﷺ دومره په سرعت او تيزۍ سره کول لکه د آذان آواز چې د رسول الله ﷺ په غوږونو کې د شروع څخه وي او هغوی د سهار سنت د آذان سره کوي، مطلب دا چې ډېر مختصر به يې کول.

د سهار په سنتو کې قرائت لوستل

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقْرَأُ فِي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فِي الْأُولَى مِنْهُمَا: قُولُوا آمَنَّا بِاللهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د سهار په دوه رکعته سنتو

Maktaba Tul Ishaat. com

دغه آيتونه به سوره بقرې کې دي، "وفي الآخرة منهما: آمنا بالله واشهد بأنا مسلمون" او په آخري رکعت کې به يې دا آيت لوستلو، "آمنا بالله واشهد بأنا مسلمون".

کې به اولني رکعت کې د اولي سپارې آخري آيتونه (قولوا آمنا بالله الخ) لوستلو، (الآية التي في البقرة) دغه

"وفي رواية: وفي الآخرة التي في آل عمران: تعالوا إلى كلمة سواء بيننا وبينكم" او په يو بل روايت کې داسې دي چې په آخرني رکعت کې به يې د سورت آل عمران آيت "تعالوا إلى كلمة سواء بيننا وبينكم" لوستلو. رواه مسلم

تشريح: وكان يقرأ في ركعتي الفجر: رسول الله ﷺ به د سهار په دوارو رکعتونو کې دا آيتونه ويل، په اولني رکعت کې به يې د سورة فاتحې نه وروسته د سورة بقرې دغه ايتونه ويل "قولوا آمنا بالله وما أنزل إلينا وما أنزل إلى إبراهيم وإسماعيل وإسحاق ويعقوب والأسباط وما أوتي موسى وعيسى وما أوتي النبيون من ربهم لانفرق بين أحد منهم ونحن له مسلمون" او په دويم رکعت کې به يې د سوره فاتحې نه وروسته د سورة آل عمران دا ايتونه ويل "فلما أحس عيسى منهم الكفر قال من أنصاري إلى الله قال الحواريون نحن انصار الله آمنا بالله واشهد بأنا مسلمون" او کله کله به يې د ذکر شوي آيت په ځای دغه آيت وويلو "قل يا أهل الكتاب تعالوا إلى كلمة سواء بيننا وبينكم ألا نعبد إلا الله ولا نشرك به شيئا ولا يتخذ بعضنا بعضا أربابا من دون الله فإن تولوا فقولوا اشهدوا بأنا مسلمون" ويل.

د سهار په سنتو کې به رسول الله ﷺ سورة کافرون او سورة اخلاص ويلو

"وعن أبي هريرة ؓ: أن رسول الله ﷺ قرأ في ركعتي الفجر "قل يا أيها الكافرون" د أبو هريره ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به په اولني رکعت کې سورت قل يا أيها الكافرون ويلو، "وقل هو الله أحد" رواه مسلم.

تشريح په دې حديث کې دي چې رسول الله ﷺ به د سهار په سنتو کې په اولني رکعت کې: "قل يا أيها الكافرون" او په دويم رکعت کې به يې: "قل هو الله أحد" ويلو، دا خبره دې واضحه وي چې په ځينو لمونځونو کې ځيني خاص سورتونه ويل د ابن نجيم ؒ په قول په دې باندې زيات عمل پکار دی، که کله کله يې پريږدي او نور سورتونه ووايي، نو خير دی، ددې لپاره چې د نورو سورتونو پرېښودلو عادت يې ونه ګرځي

د سهار په سنتو کې سورة کافرون او سورة اخلاص لوستل غوره دي

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: رمقت النبي ﷺ، شهرا" د عبد الله بن عمر ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ پوره يوه مياشت پوره په غور سره کتلی دی چې "فكان يقرأ في الركعتين قبل الفجر: قل يا أيها الكافرون وقل هو الله أحد" هغوی به د سهار په سنتو کې په اولني رکعت کې قل يا أيها الكافرون ويلو او په آخري رکعت کې به يې (قل هو الله أحد) ويلو. "رواه الترمذي وقال: حديث حسن".

تشريح: معلوم شوه چې رسول الله ﷺ پوره يوه مياشت د سهار په سنتو کې په اولني رکعت کې: "قل يا أيها الكافرون" او په دويم رکعت کې "قل هو الله أحد" ويلی دی، د رسول الله ﷺ په اتباع کې امت ته پکار دي چې د سهار په سنتو کې اکثر وخت دغه دوه سورتونه ووايي

باب إستحباب الاضطجاع بعد ركعتي الفجر علىٰ جنبه الأيمن والحث عليه سواء كَانَ تَهَجَّدَ بِاللَّيْلِ أَمْ لَا

د سهار د سنتو نه وروسته لړ ډډه وهل مستحب دي، برابره خبره ده چې تهجد يې کړي وي او که نه

دې باب کې درې حديثونه دي چې د نبي کريم ﷺ د مبارك عادت ذکر پکې دی، نبي کريم ﷺ به د سهار د سنتو نه وروسته لړ شان په ښي اړخ څملاستلو، ظاهره ده چې د نبي کريم ﷺ دا مبارك فعل امت ته د تعليم ورکولو لپاره دی او علماوو ليکلي دي چې که چا تهجد کړي وي يا يې نه وي کړي، هغه هم که چېرته ددې عمل پيروي وکړي، نو د ثواب څخه به نه محروم کيږي، دې باره کې روايات ملاويږي چې د هغې نه معلوميږي نبي کريم ﷺ به د سنتو نه مخکې څملاستلو، د يو روايت څخه معلوميږي چې دا سنت عبادت نه وو، بلکې سنت عادت وو چې د شپې په وخت کې به يې د نفلو په سبب ستړي والی محسوس کړو، بيا به يې ملا سيده کول، احناف وايي دا سنت عادت وو او د بعضې صحابه کرامو د داسې کولو څخه د منع مطلب دا دی چې يا به يې خلک دې ته د سنت ويلو نه منع کول او په دې خبره کې د چا اختلاف نشته چې دا سنت نبي کريم ﷺ په کور کې ادا کړی دی، هيڅکله يې په جومات کې دا معمول نه دی جوړ کړی

د سهار سنتو نه وروسته لړ ارام کول

"عن عائشة رَضِيَ اللَّهُ عَنها، قالت: كَانَ النبيُّ ﷺ إِذَا صَلَّى ركعتي الفجر" د عائشې ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله د سهار سنت وکړل، "اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَن" نو په ښي طرف به يې لړ شان ډډه ولګول رَوَاهُ البُخَارِي

تشريح: اضطجع على شقه الأيمن: کله چې به رسول الله ﷺ د سهار سنت وکړل، نو په خپل ښي طرف به يې ډډه ووهل، د سهار د سنتو نه وروسته لړ وخت آرام کول څه حکم لري؟ دې باره کې د ائمه اربعه وو اختلاف دی

اولنی مذهب: د احنافو او جمهورو فقهاوو په نزد د رسول الله ﷺ دغه آرام کول په سنن عاديه کې شمار دي، په سنن تشريعي کې شمار نه دي، مطلب دا چې رسول الله ﷺ به د تهجدو لمونځ وکړو، نو لړ به ستړی شو، ددې ستړيا لرې کولو لپاره به رسول الله ﷺ لړ آرام وفرمايلو، که څوك په دې باندې عمل کول غواړي، نو ثواب به ورته ملاويږي

دويم مذهب: د امام شافعي رحمه الله دی هغه فرمايي چې دغه آرام کول د رسول الله ﷺ په سنن تشريعي کې شمار دي، په هر حال کې آرام کول پکار دي، که ستړی وي او که نه، ثواب به ورته خامخا ملاويږي

Maktaba Tul Ishaat. com

دريم مذهب: د ابن حزم رحمه الله او د ځينو اهل ظواهرو دی، هغوی وايي چې دغه آرام کول واجب دي، مولانا محمد يوسف بنوري رحمه الله فرمايي: د صحابه کرامو په نزد دغه عمل مستحب دی، ليکن رسنت په توګه يې ددې اهتمام نه دی فرمايلی.

د سهار د سنتو نه وروسته به رسول الله ﷺ په خپل ښي طرف ارام فرمايلو

وعنها، قالت: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُصَلِّي فِيمَا بَيْنَ أَنْ يَفْرُغَ مِنْ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى الْفَجْرِ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً، يُسَلِّمُ بَيْنَ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د ماسخوتن لمانځه څخه تر سهاره پورې يوولس رکعته کول، په دوه رکعته به يې سلام ګرځولو. "وَيُوتِرُ بِوَاحِدَةٍ" او په آخر کې به يې يو رکعت زيات کړو، هغه به يې تاق ګرځولو. "فَإِذَا سَكَتَ الْمُؤَذِّنُ مِنْ صَلَاةِ الْفَجْرِ، وَتَبَيَّنَ لَهُ الْفَجْرُ، وَجَاءَهُ الْمُؤَذِّنُ" کله چې به مؤذن آذان بند کړو او پته به ورته ولګېده چې سهار شو او مؤذن به کله د جمعې تيارېدو اطلاع ورکولو لپاره راغلو. "قَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ" نو نبي کريم ﷺ به پاڅېدو او دوه رکعته سنت به يې مختصر وکړل، "ثُمَّ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ" بيا به په ښي اړخ باندې څملاستلو. "هَكَذَا حَتَّى يَأْتِيَهُ الْمُؤَذِّنُ لِلْإِقَامَةِ" او د مؤذن د راقامت الصلاة، تر اطلاع پورې به يې په ښي اړخ باندې آرام کولو. رَوَاهُ مُسْلِم

"قولها: ((يُسَلِّمُ بَيْنَ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ)) هكذا هو في مسلم ومعناه: بَعْدَ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ" دا قول د عائشه رضي الله عنها چې په هر دوه رکعته به يې سلام ګرځولو. دغه شان په مسلم کې هم راغلي دي او ددې په معناه باندې دا هم ده چې د هر دوه رکعته وروسته به يې سلام اړولو.

تشريح: إحدى عشرة ركعة: رسول الله ﷺ به يوولس رکعته کول، ددې نه اته رکعات تهجد او درې رکعته وتر مراد دي. نو دا ټول يوولس رکعاته شول. "وتبين له الفجر" کله چې به سهار شو، نو رسول الله ﷺ به دوه رکعته سنت مختصر وکړل، ددېنه يو دا معلومه شوه چې دا سنت به د سهار په داخلېدو سره کولی شي، د وخت څخه وړاندې ادا کول جائز نه دي، بل دا چې د سهار سنت مختصر کول مستحب دي. ليکن ضروري نه دي، که يو کس يې اوږده کوي بيا جائز دي.

إضطجع على شقه الأيمن: رسول الله ﷺ به د سهار د سنتو وروسته لږ وخت د آرام لپاره څملاستلو، د احنافو په نزد دغه آرام د شپې د محنت په وجه د ستړيا لرې کولو لپاره مقصود وو، ددې لپاره چې فرضي عبادت په خوند سره ادا کړي، لهذا کوم کس چې د شپې محنت کوي، هغه ته پکار ده چې د سهار سنتو نه وروسته د لږ وخت لپاره آرام وکړي. دا مستحب عمل دی.

د سهار سنتو نه وروسته په ښي طرف آرام کول مستحب دي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ، فَلْيَضْطَجِعْ عَلَى يَمِينِهِ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو کې کوم کس د سهار دوه رکعته لمونځ وکړي، نو هغه دې په ښي اړخ باندې څملي، "رواه أبو داود والترمذي بأسانيد صحيحة، قال الترمذي: حديث حسن صحيح".

تشریح: په دې حدیث کې د سهار د سنتو نه وروسته د آرام کولو ذکر دی، لیکن په یو بل روایت کې دي: "قالت کان النبي ﷺ اذا صلی رکعتی الفجر فان کنت مستیقظة حدثني والا اضطجع" عایشه ﵂ فرمایي چې کله به رسول الله ﷺ د سهار سنت وکړل، نو که زه به ویښه وم، نو زما سره به رسول الله ﷺ خبرې وکړې او که ویده به وم، دوی ﷺ به هم څملاستل، د دېنه معلومه شوه چې د سهار سنتو نه وروسته د رسول الله ﷺ دغه آرام مستقل عادت نه وو، کله به یې آرام فرمایلو او کله به یې د عایشه ﵂ سره خبرې کولې، معلومه شوه چې دا مستقل مقصود دي سنت نه دي، په یو بل روایت کې دي چې د رسول الله ﷺ خوب به په اودس باندې نه ماتېدلو، که یو امتي چیرته ویده شي او سترګې یې پټې شي، نو اودس یې مات شو، بیا به اودس کوي، دغه شان د رسول الله ﷺ دغه آرام کول په کور کې وو، په جومات کې یې دا معمول نه وو.

باب سنة الظهر

د ماسپښین سنت

"عن ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُما، قَالَ: صَلَّيتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ رَكعَتَينِ قَبلَ الظُّهرِ ورَكعَتَينِ بَعدَهَا" د عبد الله بن عمر ﵄ نه روایت دی هغه فرمایي چې ما د رسول الله ﷺ سره د ماسپښین دوه رکعته سنت د فرضو څخه وړاندې وکړل او بیا مې دوه رکعته سنت د ماسپښین د لمانځه وروسته وکړل. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

تشریح: د ماسپښین د لمانځه نه وړاندې څلور رکعات سنت دي، په دې کې د فقهاوو ګڼ شمېر اقوال دي، مثلاً: د احنافو په نزد او د امام مالك ﷫ او یو قول د امام شافعي ﷫ هم دی چې سنت موکده څلور رکعته دي، دویم قول د امام شافعي ﷫ او د امام احمد ﷫ مشهور قول دی، دوی فرمایي چې دوه رکعته سنت موکده دي، د دې پورتني حدیث نه استدلال کوي، اولني قول والا دوی ته جواب ورکوي چې په دې حدیث کې د کوم لمونځ ذکر دی، هغه د زوال دوه رکعته نفل دي، د رسول الله ﷺ عادت دا وو چې زوال به ختم شو، نو دوه رکعته نفل به یې کول، ځینې علماء فرمایي په حدیث کې چې د دوه رکعتونو کوم ذکر دی هغه د ماسپښین سنت نه دي، بلکې تحیة المسجد دي، سنت خو به رسول الله ﷺ په کور کې ادا کول.

د ماسپښین لمانځه نه وړاندې څلور رکعته سنت

"وعن عائشة رَضِيَ اللهُ عَنها: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ لا يَدَعُ أَربَعاً قَبلَ الظُّهرِ" د عائشه ﵂ نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ به د ماسپښین د فرضو نه مخکې څلور رکعته سنت هیڅ کله نه پرېښودل. رَوَاهُ البُخَارِيُّ

تشریح: لایدع أربعاً قبل الظهر: رسول الله ﷺ به د ماسپښین د فرضو نه وړاندې څلور رکعته سنت نه پرېښودل، همدغه د جمهورو فقهاوو او امام ابوحنیفه ﷫ قول دی چې د ماسپښین فرضو نه وړاندې څلور رکعته سنت مؤکد دي، مولانا محمد یوسف بنوري ﷫ د حافظ ابن جریر طبري

Maktaba Tul Ishaat. com

ﷺ نه نقل کړي دي چې د رسول الله ﷺ نه د ماسپښين فرضو نه وړاندې څلور رکعته او دوه رکعته دواړه ثابت دي، البته د څلورو رکعتونو روايات زيات دي او د دوه رکعتونو روايات کم دي

رسول الله ﷺ به سنت په کورکې کول

"وعنها، قالت: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُصَلِّي فِي بَيْتِي قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعاً، ثُمَّ يَخْرُجُ، فَيُصَلِّي بِالنَّاسِ، ثُمَّ يَدْخُلُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ" د عائشې ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به زما په حجره کې څلور رکعته سنت د فرضو نه مخکې ادا کړل، بيا به بهر لاړو، خلکو ته به يې جمع ورکړه بيا به يې کور ته تشريف راوړو او دوه رکعته سنت به يې زما په کوټه کې کول، "وَكَانَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ الْمَغْرِبَ، ثُمَّ يَدْخُلُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ" بيا به يې خلکو ته د مابنام جمع ورکړه بيا به زما حجرې ته راغلو، دوه رکعته سنت به يې وکړه، "وَيُصَلِّي بِالنَّاسِ الْعِشَاءَ، وَيَدْخُلُ بَيْتِي فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ" بيا به يې د ماسخوتن جمع ورکړه او زما حجرې ته به داخل شو او دوه رکعته سنت به يې اداء کړل رَوَاهُ مُسْلِم

تشريح: د حديث نه معلومه شوه چې انسان له پکار دي چې نفلي او سنتي لمونځ په کورکې وکړي همدغه سنت طريقه ده.البته که چيرتاپه کورکې دمشغولتياويره وي لکه څرنګه چې نن سبامشغوليت غلبه زياته ده،نو بيابايد چې په جومات کې سرې سنت وکړي.البته که اعتمادیي وي چې سنت به رانه،نه فوت کيږي نو بيا په کورکې سنت کول أفضل دي

د ماسپښين فرضو نه وړاندې څلوررکعته کولوسره جهنم حرامېدل

"وعن أُمِّ حَبِيبَةَ رَضِيَ اللهُ عَنها، قالت: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: مَنْ حَافَظَ عَلَى أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ، وَأَرْبَعٍ بَعْدَهَا" د ام حبيبة ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل. کوم کس چې د ماسپښين فرضو نه مخکې څلور رکعته سنت او د ماسپښين فرضو نه وروسته څلور رکعته سنت همېش ادا کړي، "حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّارِ" الله ﷺ به په هغه باندې د جهنم اور حرام کړي، "رواهُ أَبُودَاوُدَ وَالتِّرمِذِيُّ، وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ".

تشريح: أربع ركعات قبل الظهر: څلور رکعات د ماسپښين د فرضو نه وړاندې، د احنافو په نزد څلور رکعاته سنت کول سنت موکد دي، ددې اهتمام ډېر ضروري دي، "وأربعاً بعدها" څلور رکعتونه د فرضو نه وروسته، ځيني علماء ددې مطلب داسې بيانوي چې د فرضو نه وروسته چې کوم دوه رکعتونه سنت دي، ددېنه علاوه څلور رکعتونه نور اضافي چې کوم کس ددې اهتمام کوي نو هغه ته به دغه ذکر شوی فضيلت حاصليږي، يعني جهنم به پرې حراميږي، ليکن ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: په دې څلورو رکعتونو کې دوه رکعات سنت هم داخل دي چې د دوه رکعتونو سنت موکده نه علاوه دوه رکعته نور کوم کس زيات وکړي، نو په هغه به د جهنم اور حرام وي

د زوال نه وروسته د څلوررکعتونوفضيلت

"وعن عبدالله بن السائب ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يُصَلِّي أَرْبَعاً بَعْدَ أَنْ تَزُولَ الشَّمْسُ قَبْلَ الظُّهْرِ" د عبد الله بن

سائب رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به څلور رکعته سنت د زوال نه وروسته او د ماسپښين د فرضو نه مخکې ادا کول، "وَقَالَ: إِنَّهَا سَاعَةٌ تُفْتَحُ فِيهَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ" او فرمايل به يې: دا يو داسې وخت دی چې په دې کې د آسمان دروازې خلاصيږي، "فَأُحِبُّ أَنْ يَصْعَدَ لِي فِيهَا عَمَلٌ صَالِحٌ" نو زه دا خبره خوښوم کنم چې زما يو نيک عمل په دې وخت کې پورته آسمان ته وخيژي "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ".

تشريح: كان يصلي أربعا بعد أن تزول الشمس قبل الظهر: رسول الله ﷺ به د زوال نه وروسته د فرضو نه وړاندې څلور رکعته کول، دا څلور رکعته کوم دي؟ په دې کې د علماوو اختلاف دی: د ځينو په نزد دا هم هغه څلور رکعتونه سنت مؤکده دي کوم چې د ماسپښين نه وړاندې کولی شي، ليکن ځينې نور علماء فرمايي چې دا څلور رکعتونه د ماسپښين د سنت موکده نه علاوه دي کوم چې د زوال نه وروسته کولی شي. اکثره علماوو دې دويم قول ته ترجيح ورکړې ده چې د زوال نه وروسته کوم کس څلور رکعتونه وکړي، نو الله ﷻ به ده ته د آسمان دروازې خلاصې کړي

د راوي عبد الله بن سائب رضي الله عنه حالات:

اصلي نوم يې عبد الله رضي الله عنه دی، کنيت يې ابو عبد الرحمن مخزومي قريشي دی، دده نه د مکې خلکو قرائت زده کړی دی، علامه ذهبي رحمه الله فرمايي چې ده ته د رسول الله ﷺ صحبت حاصل دی او دوی د أبي بن کعب رضي الله عنه نه قرآن زده کړی دی، د دوی انتقال د عبد الله بن زبير رضي الله عنه په زمانه کې وشو، د دوی نه ټول اوه/ ۷ احاديث نقل شوي دي، په مسلم شريف کې صرف يو روايت نقل دی، په بخاري شريف کې يو هم نشته، باقي نور احاديث په صحاح سته کې دي

د ماسپښين څلور رکعات که د فرضو نه وړاندې ادا نه شي؟

"وعن عائشة رَضِيَ اللَّهُ عَنهَا: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا لَمْ يُصَلِّ أَرْبَعاً قَبْلَ الظُّهْرِ" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله د ماسپښين د لمانځه څخه مخکې څلور رکعته سنت ونه کړل، "صَلَّاهُنَّ بَعْدَهَا" نو بيا به يې وروسته کول، "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ".

تشريح: كان إذا لم يصل أربعاً قبل الظهر صلاهن بعدها: که د ماسپښين نه وړاندې به يې څلور رکعته ونه کړل نو بيا به يې د فرضو نه وروسته کول، ددې حديث نه يو دا معلومه شوه چې د ماسپښين فرضو نه وړاندې څلور رکعته سنت موکده دي، بل دا چې که د فرضو نه وړاندې ادا نه کړی شي نو بيا به وروسته ادا کولی شي، اوس ددې ادايګي به څرنګه کيږي، نو دې باره کې د احنافو دوه قوله دي: اولنی قول د محمد بن حسن شيباني رحمه الله دی، فرمايي چې اول به دغه څلور رکعته وکړی شي بيا به هغه دوه رکعته سنت وکړی شي، دويم قول دا دی چې اول دې هغه دوه رکعته سنت وکړی شي بيا دې څلور رکعته سنت ادا کړی شي او همدغه قول مفتی به دی، همدغه خبره د عايشه رضي الله عنها د قول نه هم معلوميږي، "قالت كان رسول الله ﷺ اذا فاتته الاربع قبل الظهر صلاها بعد الركعتين بعد الظهر" عايشه رضي الله عنها فرمايي کله چې به د رسول الله ﷺ نه څلور رکعته سنت فوت شول، نو بيا به يې د دوه رکعته سنتو نه وروسته ادا کول

Maktaba Tul Ishaat. com

باب سنة العصر

د مازیګر سنت

"عن علي بن أبي طالب ﷺ، قال: كان النبي ﷺ يصلي قبل العصر أربع ركعات" د علي ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د مازيګر لمانځه نه مخکې څلور رکعته سنت کول. "يفصل بينهن بالتسليم على الملائكة المقربين، ومن تبعهم من المسلمين والمؤمنين" ددې څلورو رکعتونو په مينځ کې به يې په سلام سره جدايي کول، کوم چې به په مقربو پرښتو او په مسلمانانو مؤمنانو باندې اچول کېدو. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن".

تشريح: يفصل بينهن بالتسليم على الملائكة المقربين الخ: په څلور رکعتې لمونځ کې به رسول الله ﷺ په ملائکو او په تابعدارو مسلمانانو باندې سلام اچولو سره جدايي راوستل، د محدثينو په نزد په دې حديث کې (بالتسليم) نه مراد سلام اړول مراد نه دي چې په دوه رکعته به يې سلام اړولو، بلکې ددې نه مراد تشهد (التحيات لله) دی، ځکه چې په تشهد کې دا الفاظ راځي "السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته، السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين" دا څلور رکعته به يې په يو سلام کول، د احنافو په نزد غوره دي، ليکن شوافع او حنابله وايي چې دوه دوه رکعاته کول غوره دي

د مازیګر لمانځه نه وړاندې څلور رکعته

"عن ابن عمر رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ، قال: رحم الله امرأ صلى قبل العصر أربعا" د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ دې په هغه سړي رحم وکړي چې د مازيګر لمانځه نه مخکې څلور رکعته وکړي "رواه أبو داود والترمذي، وقال: حديث حسن".

تشريح: رحم الله امرأ صلى قبل العصر أربعا: الله ﷻ دې رحم وکړي په هغه کس باندې چې د مازيګر لمانځه نه وړاندې څلور رکعته لمونځ کوي، حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمايي: ددې څلورو رکعتونو فضيلت په معين او واضحه فضيلت سره د بيانېدو په ځای د مطلق رحمت ذکر کول ددې خبرې واضح دليل دې چې ددې څلورو رکعتونو دومره زيات ثواب دی چې په بيان کې نه راځي

د مازیګر فرضو نه وړاندې دوه رکعته هم کولی شي

"وعن علي بن أبي طالب ﷺ: أن النبي ﷺ كان يصلي قبل العصر ركعتين" د علي ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د مازيګر لمانځه نه مخکې دوه رکعته کول "رواه أبو داود بإسناد صحيح".

تشريح: كان يصلي قبل العصر ركعتين: رسول الله ﷺ به د مازيګر لمانځه نه وړاندې دوه رکعاته کول، د مازيګر لمانځه نه وړاندې سنتو باره کې ډېر احاديث راغلي دي، د ځينو څخه معلومېږي چې رسول

الله ﷺ به دوه رکعته کول او د ځينو نه معلوميږي چې څلور رکعته به يې کول. علماء فرمايي: د مازيگر سنت غير موکد دي، نو ځکه لمونځ کوونکي ته اختيار دی، که دوه رکعته کوي او که څلور رکعته ادا کوي، ليکن څلور رکعته غوره دي، په يو سلام سره به يې کوي.

باب سنة المغرب بعدها وقبلها تقدم في هذه الأبواب حديث ابن عمر وحديث عائشه وهما صحيحان أن النبي ﷺ كان يصلي بعد المغرب ركعتين

د ماښام د فرض لمانځه وروسته دوه رکعته سنت کول

امام نووي رحمه الله فرمايي: ددې په اړه د ام المومنين عائشه رضي الله عنها او د امير المومنين عمر فاروق رضي الله عنه دوه صحيح حديثونه مخکې بيان شوي دي چې هلته بيان شوي دي: نبي کريم ﷺ به د ماښام نه وروسته دوه رکعته سنت ادا کول، د عبد الله بن مغفل رضي الله عنه د روايت نه معلوميږي چې د ماښام نه مخکې هم نبي کريم ﷺ د لمانځه حکم کړی دی، ليکن د بريدة رضي الله عنه روايت دی چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: د هر دوه آذانونو په مينځ کې لمونځ دی، سېوا د ماښام نه، ددې روايت په بناء امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله د ماښام نه مخکې نفلونو ته مکروه وايي، ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: د ماښام نه مخکې نفل کول نادره خبره ده، کېدی شي په څه خاص خبره کې ددې حکم شوی وي يا اول دا لمونځ شوی وي او وروسته پرېښودل شوی وي.

د مازيګر نه وروسته نفل کول

"وعن عبد الله بن مُغَفَّل رضي الله عنه، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: صَلُّوا قَبْلَ المَغْرِبِ" د عبد الله بن مغفل رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو لمونځ کوئ د ماښام نه مخکې. "قَالَ فِي الثَّالِثَةِ: لِمَنْ شَاءَ" بيا يې په دريم ځل وفرمايل: د چا چې خوښه وي. رواه البُخَارِيُّ

تشريح: قال صلوا قبل المغرب: رسول الله ﷺ وفرمايل: د ماښام نه وړاندې لمونځ کوئ، د صحيح احاديثو څخه دا خبره ثابته ده چې رسول الله ﷺ د مازيګر نه بعد او د ماښام نه وړاندې دوه رکعته نفل کړي دي، په ګڼ شمېر احاديثو کې د مازيګر لمانځه نه وروسته د نفل منع راغلې ده، رسول الله ﷺ ته جائز دي، ليکن باقي امت ته ددې څه حکم دی؟ د امام ابوحنيفه رحمه الله او د امام مالك رحمه الله په نزد د مازيګر نه وروسته نفل کول د باقي امت لپاره مکروه دي او د امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد د باقي امت لپاره دوه رکعته نفل جائز دي.

د ماښام د فرضو نه وړاندې نفل کول

"وعن أنس رضي الله عنه، قَالَ: لَقَدْ رَأَيْتُ كِبَارَ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ ﷺ يَبْتَدِرُونَ السواري عِنْدَ المَغْرِبِ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ ډېر زيات مشران صحابه کرام وليدل چې هغوی به د ماښام په وخت کې د لمانځه لپاره نبوي جومات ته د ستنو لپاره په تېزۍ سره تلل. رَوَاهُ البُخَارِيُّ.

Maktaba Tul Ishaat. com

لغوي تحقيق:

يبتدرون: إبتدر يبتدر إبتداراً باب افتعال دی، ددې معنی ده تيزي کول

تشريح: ايا صحابه کرامو به د ماښام نه وړاندې نفل کول؟ ددې حديث نه معلوميږي چې مشرانو صحابه کرامو به د ماښام نه وړاندې دوه رکعته نفل ادا کول، ددې مشرانو صحابه کرامو نومونه ذکر نه دي، ددې برعکس د خلفاء راشدينو باره کې راځي چې دغه دوه رکعته نفل به يې په رسول الله ﷺ پورې خاص ګڼل، د باقي امت لپاره به يې جائز نه ګڼل، د عمر ؓ باره کې دي چې دوی به کوم کس په دې نفلو وليدو، هغه به يې وهلو، د عمر ؓ دغه عمل نورو زياتو صحابه وو ليدلی دی، ليکن انکار يې پرې نه دی کړی

د ماښام نه وړاندې دوه رکعته نفل نه منع دي نه پرې حکم شوی دی

"وعنه، قال: كنا نصلي على عهد رسول الله ﷺ ركعتين بعد غروب الشمس قبل المغرب" د انس ؓ نه روايت دی فرمايي چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې به د غروب شمس نه وروسته مونږ د ماښام نه مخکې دوه رکعتونه کول، "فقيل: أكان رسول الله ﷺ صلاهما؟ قال: كان يرانا نصليهما فلم يأمرنا ولم ينهنا" چا ورته ووېل: ايا رسول الله ﷺ به هم دا لمونځ کولو؟ هغوی ورته وفرمايل: نبي کريم ﷺ به زمونږ دا لمونځ (رکعتونه) ليدل ليکن نه به يې منع کولو او نه به يې ددې متعلق د کولو حکم کولو. رواه مسلم.

تشريح: انس ؓ فرمايي: مونږ به دغه دوه رکعته نفل د رسول الله ﷺ په وړاندې کول، ليکن دوی به مونږ نه منع کولو، دېته د محدثينو په اصطلاح کې تقريري حديث ويل کيږي، د پېغمبر عليه السلام په وړاندې چې يو عمل وشي او پېغمبر عليه السلام پرې رد ونه کړي، نو معلومه خبره ده چې دا عمل جائز دی، ددې جواب دا دی چې دغه دوه رکعتونه نفل کول د اسلام په شروع کې جائز وو، بيا وروسته پرېښودل شول، لهذا اوس دغه دوه رکعته مکروه دي

د ماښام لمانځه نه وړاندې دوه رکعته نفل

"وعنه، قال: كنا بالمدينة فإذا أذن المؤذن لصلاة المغرب، ابتدروا السواري فركعوا ركعتين" د انس ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې مونږ په مدينه منوره کې وو، کله چې به د ماښام آذان وشو، نو خلکو به رامنډې کړې او د ستنو سره به يې دوه رکعته نفل وکړل، "حتى إن الرجل الغريب ليدخل المسجد فيحسب أن الصلاة قد صليت من كثرة من يصليهما" د خلکو د ډېروالي له امله که چېرته کوم نابلده انسان جومات ته داخل شو او دا خلک به يې په دې عمل وليدل، نو ګومان به يې کولو چې د ماښام جمع شوې ده. رواه مسلم.

تشريح: ملا علي قاري رحمه الله ددې حديث باره کې فرمايي: رسول الله ﷺ به عمومي طور د ماښام لمونځ ډېر په تيزی سره کولو، که چېرته دغه دوه رکعته هم وکړل شي نو بيا به په لمانځه کې تاخير راشي، نو ځکه دغه دوه رکعته کول صحيح نه دي، د حديث مطلب دا کېدی شي چې څينو

خلکو داسې طريقه اختيار کړې وه چې د ماښام آذان سره به دوی په تېزۍ سره دوه رکعته نفل کول کوم چې انس ﷺ رانقل کړل. علامه يوسف بنوري رحمه الله فرمايي: دغه دوه رکعته نفل د رواياتو په لحاظ سره جائز دي، ليکن پرېښودل يې بهتر دي، د دې لپاره دوه وجې دي:

يوه وجه دا ده چې په دې سره به د ماښام په فرضو کې تاخير راشي.

دويم دا چې اکثره صحابه کرامو به دغه نفل نه کول، البته که کوم کس يې اوس هم وکړي نو قابل د ملامتيا به نه وي.

باب سنة العشاء بعدها وقبلها

د ماسخوتن نه مخکې او وروسته سنت کول

"فِيهِ حديث ابن عمر السابق: صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ العِشَاءِ" دې باره کې د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما حديث دی چې مخکې تېر شو، وې ويل: ما د رسول الله ﷺ سره د ماسخوتن د لمانځه وروسته دوه رکعته سنت وکړل. "وحديث عبد الله بن مُغَفَّلٍ: بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ" او د عبد الله بن مغفل رضي الله عنه حديث دی چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: د هر دوه آذانونو په منځ کې لمونځ دی. "متفق عَلَيْهِ، كما سبق" دا متفق عليه حديث دی، لکه څنګه چې مخکې دا خبره تېره شوه.

تشريح: اولنی روايت د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما دی کوم چې ورانديې په: (باب فضل السنن الراتبة مع الفرائض وبيان اقلها الخ...) دغه شان دويم روايت د عبد الله بن مغفل رضي الله عنه دی کوم چې په: (باب السنن الراتبة مع الفرائض وبيان أقلها وأكملها) کې تېر شوی دی، د دې دواړو احاديثو نه معلومېږي چې د ماسخوتن د فرضو نه وروسته دوه رکعته سنت کول سنت موکده دي.

باب سنة الجمعة

د جمعې سنت

"فِيهِ حَدِيث ابن عمر السابق أَنَّهُ صَلَّى مَعَ النَّبِيِّ ﷺ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الجُمُعَةِ" دې باره کې د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما حديث دی کوم چې مخکې تېر شوی دی، هغه دا چې عبد الله بن عمر رضي الله عنهما د نبي کريم ﷺ سره دوه رکعته سنت د جمعې د فرضو نه وروسته وکړل. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: ركعتين بعد الجمعة: د جمعې د لمانځه وروسته دوه رکعته لمونځ به يې کولو، د دې حديث نه معلومه شوه چې د جمعې د لمانځه وروسته دوه رکعته سنت موکد دي، د جمعې د لمانځه نه وړاندې څو رکعتونه سنت دي؟ دې باره کې احناف او اکثر ائمه کرام د دې قائل دي چې څلور رکعته سنت دي. د امام شافعي رحمه الله وغيره په نزد دوه رکعته سنت دي، د علامه ابن تيميه رحمه الله په نزد د جمعې د لمانځه وړاندې هيڅ سنت نشته، د جمعې د لمانځه وروسته څو رکعتونه سنت دي؟ دې باره

Maktaba Tul Ishaat. com

کې هم اختلاف شته. د امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد دوه رکعته سنت دي، د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد څلور رکعته سنت دي او د صاحبينو رحمهما الله په نزد شپږ رکعته سنت دي

د جمعې د لمانځه وروسته څلور رکعته کول پکار دي

"عن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: إِذَا صَلَّى أَحَدُكُم الْجُمُعَةَ، فَلْيُصَلِّ بَعْدَهَا أَرْبعاً" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو کې کوم کس د جمعې لمونځ وکړي، نو هغه دې د فرضو نه وروسته څلور رکعته نور هم وکړي. رواه مسلم

تشريح: دا حديث د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دی چې په دې کې د څلور رکعتونو ذکر دی، دغه شان د ابو هريره رضي الله عنه په روايت کې دي چې "من کان منکم مصلياً بعد الجمعة فليصل اربعاً" کوم کس چې په تاسو کې د جمعې د لمانځه وروسته لمونځ کول غواړي، هغه ته پکار دي چې څلور رکعات وکړي، دغه شان د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په روايت کې دي "ان کان يصلي قبل الجمعة اربعاً وبعدها اربعاً" د جمعې لمانځه وړاندې او وروسته به يې څلور - څلور رکعته لمونځ کولو. د صاحبينو استدلال د عطاء رحمه الله روايت دی، په کوم کې چې دي: "قال رايت ابن عمر رضي الله عنه صلى بعد الجمعة رکعتين ثم صلى بعد ذالك اربعاً" ما ابن عمر رضي الله عنه وليد چې يو ځل يې د جمعې لمانځه وروسته دوه رکعته وکړه بيا يې څلور رکعته نور وکړل، دغه شان د ابن مسعود رضي الله عنه نه نقل دي چې دوی به شپږ رکعتونه کول، که شپږ رکعات وکړل شي نو په ټولو احاديثو به عمل وشي او تطبيق به هم راشي او دغه عمل اکثره مشائخو خوښ کړی دی.

د جمعې د لمانځه وروسته به يې دوه رکعته په کور کې کول:

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ لاَ يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ حَتَّى يَنْصَرِفَ، فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ فِي بَيْتِهِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ به د جمعې د فرضو نه وروسته تر هغه پورې نور لمونځ نه کولو تر څو پورې چې به کور ته واپس لاړ نه شو او کله چې به کور ته واپس لاړو، نو هلته به يې دوه رکعته لمونځ وکړو. رواه مسلم

تشريح: فيصلي رکعتين: خپل کور ته به رسول الله ﷺ تشريف راوړو او په کور کې به يې دوه رکعته سنت وکړل، د جمعې د لمانځه وروسته دوه رکعته سنت د رسول الله ﷺ نه ثابت دي، څلور رکعته هم ثابت دي او شپږ رکعته هم ثابت دي، که شپږ رکعته وشي، نو په ټولو حديثو به عمل وشي، په دې باندې د احنافو فتوی ده، بهتره خبره دا ده چې اول دوه رکعات وکړل شي بيا څلور، که ددې برعکس يې وکړي، نو هم جائز دي، انور شاه کشميري رحمه الله اول قول ته ترجيح ورکړې ده

باب إستحباب جعل النوافل في البيت سواء الراتبة وغيرها والأمر بالتحول للنافلة من موضع الفريضة أو الفصل بينهما بكلام

کور کې نفل لمونځ کول

مصنف رحمه الله د دې باب عنوان ډېر اوږد ترلی دی، په دې کې یې ویلي دي چې سنن او نوافل برابره خبره ده چې مؤکده وي او که غیر مؤکده وي، په کور کې یې کول مستحب دي او د فرضو نه وروسته که سنت کوي، نو د فرضو د ځای نه دې یو طرفته شي او بیا دې وکړي او که چېرته نفل کوي، نو د دواړو لمونځونو په منځ کې دې خبرو سره یا د څه کار په ذریعه وقفه وکړي.

"عن زيد بن ثابت رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ، قَالَ: صَلُّوا أَيُّهَا النَّاسُ فِي بُيُوتِكُمْ" د زید بن ثابت رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: اې خلکو! په خپلو کورونو کې لمونځ کوئ! "فَإِنَّ أَفْضَلَ الصَّلَاةِ صَلَاةُ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ" ځکه چې غوره لمونځ هغه دی چې سړی یې په کور کې وکړي. هغه د فرضو نه علاوه لمونځ وي. متفقٌ عَلَيهِ

تشریح: أفضل الصلوة صلوة المرء في بيته: د سړي غوره لمونځ هغه دی چې په کور کې یې وکړي، مطلب دا چې د فرض لمونځ نه علاوه نور نفلي لمونځ یا سنت موکده او غیر موکده په کور کې کول افضل دي، ځکه چې په کور کې سنت کونکی د ریاء کارۍ څخه لرې وي، په دې کې اخلاص هم زیات وي، بل دا چې په کور کې برکت هم نازلیږي، په کور کې نفلونه کول مستحب عمل دی او کوم کس چې نفل یا سنت په جوماتونو کې کوي، نو بلاکراهته جائز دي، اختلاف صرف په افضلیت کې دی.

د راوي زيد بن ثابت رضي الله عنه حالات:

اصل نوم یې زید رضي الله عنه دی، د پلار نوم یې ثابت دی، کنیت یې ابو سعید یا ابو خارجه، یا ابو عبدالرحمن دی، مقري، فرضي، کاتب الوحي، حبر الامت القاب ورته الله ﷻ ورکړي وو، دی د شپږ کالو وو چې پلار یې وفات شو، د یوولسو کالو په عمر کې ؤ چې د مصعب بن عمیر رضي الله عنه په لاس مسلمان شو، کله چې مدینې منورې ته راغلو، نو پوره اولس/ ۱۷ سورتونه یې یاد وو، د دیارلسو/ ۱۳ کالو وو چې د بدر په جهاد کې یې شرکت کړی ؤ، د دوی شوق وو چې زه هم په جهاد کې شریک شم لیکن د کم عمرۍ له کبله واپس شو، د خندق په غزا کې یې شرکت کړی دی، د یمامه په جهاد کې یې شرکت کړی دی، په دې جهاد کې وریاندې یو غشی لګېدلی وو خو بدن ته یې هیڅ تکلیف ونه رسېدلو، رسول الله ﷺ د ډېرو صحابه کرامو نه د وحی لیکلو کار اخیستی دی، په دې کې د دوی نوم هم شمار دی، ډېر زیات زیرک او هوښیار صحابي ؤ، په پنځم/ ۵ هجري کې یې یو ځل وفرمایل: ماته

Maktaba Tul Ishaat. com

دلکو خطونه راخي، ښيني پکې عبراني ژبې والا وي. په يهوديانو مې باور نشته، په دې بنياد هغه په پنځلسو ۱۵ ورځو کې عبراني او سرياني ژبې زده کړې، په فقه کې امام وو. د خلفاء راشدينو او امير معاويه ﷺ په دور خلافت کې مفتي اعظم وو، ويل کيږي چې که د دوی ورکړی شوي فتوې راجمع شي، نو پوره يو لوی کتاب به ترې جوړ شي، په پنځه څلويښتم ۴۵ هجري کې د شپږ پنځوسو ۵۶ کالو په عمر کې يې ددې فاني نړۍ څخه رحلت وکړو، په وفات باندې يې ابوهريره ﷺ وفرمايل نن حبرالامة لاړو، ابن عباس ﷺ وفرمايل: ګورئ! علم داسې ختميږي، د دوی نه د روايت شوي احاديثو شماره تر دوه نوي ۹۲ پورې رسيږي، په پنځه احاديثو يې د بخاري او مسلم اتفاق دی

لږ لمونځ په کور کې هم پکار دی

"وعن ابن عمر رضی الله عنهما، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: اجْعَلُوا مِنْ صَلاَتِكُمْ فِي بُيُوتِكُمْ" د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په خپلو کورونو کې لمونځونه کوئ! (يعني نفل سنت وغيره لمونځ په کور کې کوئ) "وَلاَ تَتَّخِذُوهَا قُبُوراً" او د خپلو کورونو څخه هديره مه جوړوئ! متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: ولاتتخذوها قبوراً: د کورونو څخه هديرې مه جوړوئ، ددې دوه مطلبه دي: يو دا چې په کوم کور کې د لمونځ اهتمام نه کيږي هغه کور د قبرستان په شان وي، لکه څرنګه چې په قبرستان کې لمونځونه نه کيږي، دغه شان په دې کور کې هم څوك لمونځ نه کوي، دويم مطلب يې دا دی چې په کورونو کې مړي مه ښخوئ! بلکې په هديرو کې يې ښخ کړئ!

د لمونځ په وجه کور کې برکت نازليږي

"وعن جابر ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: إِذَا قَضَى أَحَدُكُمْ صَلاَتَهُ فِي مَسْجِدِهِ فَلْيَجْعَلْ لِبَيْتِهِ نَصِيباً مِنْ صَلاَتِهِ" د جابر ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې تاسو فرض لمونځ په جومات کې وکړئ، نو بيا خپل کور ته هم څه حصه د لمانځه ورکړئ! (يعني هلته سنت کوئ)، "فَإِنَّ اللهَ جَاعِلٌ فِي بَيْتِهِ مِنْ صَلاَتِهِ خَيْراً" ځکه چې الله ﷻ د لمونځ په برکت سره ستاسو په کورونو کې خير او برکت اچوي. رواه مسلم

تشريح: فان الله جاعل في بيته من صلاته خيراً: الله ﷻ د هغه لمانځه په برکت دده په کور کې خير او برکت اچوي، د حديث مطلب دا دی چې انسان ته پکار دي چې په خپل کور کې هم څه نا څه عبادت وکړي او هغه د نفلو او سنت موکده او غير موکده په ادا کولو سره تماميږي، ددې لپاره چې په کور کې خير او برکت وي، علماء فرمايي دا حکم هغه چاته دی چې فرض لمونځ په جومات کې وکړي او خپلو کورونو ته واپس ځي، که چيرته کوم کس په جومات کې پاتې کيږي، لکه اعتکاف کونکی سړی نو بيا به يې په جومات کې ادا کوي، د رسول الله ﷺ معمول هم دغه وو چې فرض به يې په جومات کې کول، سنت او نفل به يې په کور کې کول

د فرضو نه وروسته ځای بدلول

"وعن عمر بن عطاء: أَنَّ نَافِعَ بْنَ جُبَيْرٍ أَرْسَلَهُ إِلَى السَّائِبِ ابْنِ أُخْتِ نَمِرٍ يَسْأَلُهُ عَنْ شَيْءٍ رَآهُ مِنْهُ مُعَاوِيَةُ فِي الصَّلَاةِ" د عمر بن عطاء رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې زه نافع بن جبير رضي الله عنه سائب بن اخت نمر ته ددې خبرې معلومولو لپاره ولېږلم چې د لمونځ باره کې امير معاويه رضي الله عنه دده کومه خبره وليده ده ته يې څه ويلي وو، "فَقَالَ: نَعَمْ، صَلَّيْتُ مَعَهُ الْجُمُعَةَ فِي الْمَقْصُورَةِ، فَلَمَّا سَلَّمَ الْإِمَامُ، قُمْتُ فِي مَقَامِي، فَصَلَّيْتُ" هغه وويل هو، خبره دا وه چې يوه جمعه ما د هغه سره د جومات په حجره کې لمونځ کولو، کله چې امام سلام وګرځولو، نو زه په خپل ځای ودرېدلم، لمونځ مې شروع کړو، "فَلَمَّا دَخَلَ أَرْسَلَ إِلَيَّ، فَقَالَ: لَا تَعُدْ لِمَا فَعَلْتَ. إِذَا صَلَّيْتَ الْجُمُعَةَ فَلَا تَصِلْهَا بِصَلَاةٍ حَتَّى تَكَلَّمَ أَوْ تَخْرُجَ" کله چې معاويه رضي الله عنه دننه لاړو، نو ما ته يې يو قاصد راولېږلو. وې ويل: کوم عمل چې تا کړی دی دوباره داسې مه کوه! کله چې جمعه ادا کړې، نو سمدستي لمونځ مه شروع کوه يا خو خبرې اترې وکړه يا د هغه ځای نه لاړ شه بل ځای لمونځ وکړه! "فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ أَمَرَنَا بِذَلِكَ، أَنْ لَا نُوصِلَ صَلَاةً بِصَلَاةٍ حَتَّى نَتَكَلَّمَ أَوْ نَخْرُجَ" ځکه چې موږ ته رسول الله ﷺ ددې خبرې حکم کړی دی چې موږ يو لمونځ د بل لمونځ نه بغير د فاصلې او وقفې نه ونه کړو، څه خبره وکړو يا بل کوم ځای ته لاړ شو، هلته يې وکړو. رواه مسلم

تشريح: في المقصورة: د مقصورة نه مراد د جومات يو کونج يا کومه مخصوصه کوټه وغيره ده چې ځينو کسانو ته جوړه شوې وي، لکه: امام يا خطيب ته، "فلا تصلها بصلاة" د فرض لمونځ سره سمدستي بل لمونځ مه يو ځای کوه! خبرې وکړئ، بهر ته لاړ شئ يا ځای بدل کړئ، مطلب دا چې فرض لمونځ دې په کوم ځای وکړو، په هغه ځای سمدستي سنت يا نفل کول پکار نه دي، ددې لپاره چې د فرض او سنتو يا نفل ترمينځ فرق راشي، ځکه چې خلک به بيا شک کوي چې اوس هم په فرضو کې مشغول دی، که لږه وقفه وکړی شي نو بيا به شک باقي پاتې نه شي.

د راوي عمر بن عطاء رحمه الله حالات:

اصلي نوم يې عمر رحمه الله دی، د پلار نوم يې عطاء دی، تابعي دی، رښتونی او صدوق دی، د محدثينو په نزد د دوی احاديث معتبر دي، په مسلم او ابوداود کې د دوی نه روايت نقل دي

باب الحث علی صلاة الوتر وبيان أنه سنة مؤكدة وبيان وقته

د وترو ترغيب

"عن علي رضي الله عنه قَالَ: الْوِتْرُ لَيْسَ بِحَتْمٍ كَصَلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ" د علي رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې وتر داسې فرض نه دي لکه څنګه چې فرض لمونځ فرض دی، "وَلَكِنْ سَنَّ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ" ليکن رسول الله ﷺ دا کړي دي، "قَالَ: إِنَّ اللَّهَ وِتْرٌ يُحِبُّ الْوِتْرَ، فَأَوْتِرُوا يَا أَهْلَ الْقُرْآنِ" او فرمايلي يې دي چې الله وتر (تاق) دی او وتر (تاق) خوښوي، بس تاسو هم اې اهل القرآن وتر کوئ! "رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن".

Maktaba Tul Ishaat. com

تشريح: الوتر ليس بحتم كصلوتكم المكتوبة: وتر د فرض لمونځ په شان لازمي (فرض) نه دی، ايا وتر واجب دي او که سنت؟ د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد وتر واجب دي او د ائمه ثلاثه په نزد وتر سنت دي، امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايي: په حديث کې راځي چې "الوتر حق، فمن لم يوتر فليس منا، الوتر حق فمن لم يوتر فليس منا، الوتر حق فمن لم يوتر فليس منا" وتر حق دی او کوم کس چې وتر ونه کړي هغه زمونږ څخه نه دی، دغه شان په پورتني حديث کې هم په آخر کې دي چې: "فأوتروا يا أهل القرآن" اې اهل القرآن والا! وتر کوئ، دلته د امر صيغه راغلې ده چې په وجوب باندې دلالت کوي، دغه شان په نورو احاديثو کې ددې اهميت بيان شوی دی، ددې برعکس د ائمه ثلاثه وو او صاحبينو په نزد وتر سنت موکده دي چې قريب الى الوجوب دي

د وترو وخت تر سهاره پورې دی

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: مِنْ كُلِّ اللَّيْلِ قَدْ أَوْتَرَ رسول الله ﷺ" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د شپې په هره حصه کې وتر کړي دي، "مِنْ أَوَّلِ اللَّيْلِ، وَمِنْ أَوْسَطِهِ، وَمِنْ آخِرِهِ" د شپې په اوله حصه کې يې هم کړي دي او په مينځنۍ حصه کې يې هم کړي دي او په آخري حصه کې يې هم کړي دي، "وَانْتَهَى وِتْرُهُ إِلَى السَّحَرِ" د رسول الله ﷺ وتر به عموماً تر سهار پورې ختمېدل متفقٌ عَلَيْه

تشريح: من أول الليل ومن أوسطه: د شپې په شروع کې، په مينځ کې او په آخر کې به يې وتر کول. علماء فرمايي: په دې حديث کې د وترو د وخت بيان دی، د وترو وخت د ماسخوتن لمانځه څخه بعد شروع کيږي او تر سهاره پورې دوام لري

د شپې آخري لمونځ وتر پکار دی

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ قَالَ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "اجْعَلُوا آخِرَ صَلَاتِكُمْ بِاللَّيْلِ وِتْراً" د خپلې شپې آخري لمونځ وتر (تاق) وګرځوئ! متفقٌ عَلَيْه

تشريح: إجعلوا آخر صلوتكم بالليل وتراً: تاسو د شپې خپل آخري لمونځ وتر جوړ کړئ، ځينې علماء ددې حديث دا مطلب بيانوي چې د شپې په آخر کې وتر وکړئ، ددينه وروسته دې بل لمونځ نه کوي او که چېرته د وتر نه وروسته دوه رکعته نفل کول غواړي، نو کولی يې شي، په حديث کې ددې نه زيات نفي ده، يا داسې ووايه چې تر ټولو آخري لمونځ د وترو پکار دی، دا حکم په استحباب باندې محمول دی، په وجوب محمول نه دی، که چېرته څوک ددې نه وروسته نور زيات نفل کول غواړي، نو کولی يې شي، ځينې علماء فرمايي: لکه څرنګه چې د فرض لمونځ نه وروسته سنت وي، دغه شان د وترو نه وروسته هم دوه رکعته نفل شته، ددې دوه رکعتو نفل کولو سره به د پورتني حديث سره هيڅ تعارض رانشي

د سهار کېدو نه وړاندې وتر کول پکار دي

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ، قَالَ: أَوْتِرُوا قَبْلَ أَنْ تُصْبِحُوا" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل. د سهار نه مخکې وتر کوئ! رواه مسلم.

تشريح: أوتروا قبل أن تصبحوا: د سهار کېدو نه وړاندې وتر وکړئ! احناف رحمهم الله فرمايي: وتر واجب دي، که چېرته د يو کس څخه وتر قضاء شي، نو ددې قضائي به راګرځوي، ددې برعکس د ائمه ثلاثه په نزد سنت دی، لهذا د دوی په نزد يې قضاء نشته.

رسول الله ﷺ به د وترو لپاره عائشه رضي الله عنها راپاڅول

"وعن عائشة رضي الله عنها: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يُصَلِّي صَلاَتَهُ بِاللَّيْلِ وَهِيَ مُعْتَرِضَةٌ بَيْنَ يَدَيْهِ" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د شپې لمونځ کولو او زه به د نبي کريم ﷺ وړاندې ويده وم. "فَإِذَا بَقِيَ الوِتْرُ، أَيْقَظَهَا فَأَوْتَرَتْ" کله چې به وتر ورته پاتې شول. نو زه به يې راويښه کړم نو ما به هم وتر وکړل. رواه مسلم.

"وفي روايةٍ لَهُ: فَإِذَا بَقِيَ الوِتْرُ، قَالَ: قُومِي فَأَوْتِرِي يَا عَائِشَةُ" په يو بل روايت کې دي چې کله وتر پاتې شول، نو ماته به يې وفرمايل: اې عائشه رضي الله عنها پورته شه او وتر وکړه!

تشريح: وهي معترضة: مخامخ به ويده وه. د حديث نه معلومه شوه چې کوم کس د لمونځ کوونکي مخې ته ويده شي نو لمونځ يې کېږي. "فاذا بقي الوتر أيقظها" کله چې به وتر پاتې شول، نو رسول الله ﷺ به ام المومنين عائشه رضي الله عنها راويښه کړه، د وتر لمانځه لپاره به رسول الله ﷺ عائشه رضي الله عنها راويښه کړه، ځکه چې وتر د عام سنتو په شان نه دي، بلکې قريب الى الوجوب دي، نو ځکه وتر ضروري دي، بل د حديث نه دا هم معلومه شوه چې د وترو لپاره غوره وخت د تهجد و وخت دی.

د وترو تاکيد:

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ، قَالَ: بَادِرُوا الصُّبْحَ بِالوِتْرِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د سهار نه مخکې وتر کوئ! "رواه أبو داود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: بأدروا الصبح بالوتر: د سهار کېدو نه وړاندې وړاندې په وترو کې تېزي کوئ، ددې حديث نه هم د وترو تاکيد معلومېږي، د سهار کېدو نه وړاندې وړاندې ادا کول پکار دي، که خدای مه کړه د چا نه قضاء شول، نو کله چې سهار شي، ددې قضائي به راوړي، ځکه چې د احنافو په نزد وتر واجب دي، وجه يې دا ده چې که وتر واجب نه وای، نو ددې لپاره به وخت متعين نه وو، د وخت متعين کېدل عام طور د واجباتو لپاره وي، لکه څرنګه چې په حديث کې د وترو وخت بيان شوی دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

که د وتروپاتې کېدو وېره وي

"وعن جابر رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: مَنْ خَافَ أَنْ لَا يَقُومَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ، فَلْيُوتِرْ أَوَّلَهُ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کوم کس چې په دې خبره وېرېږي چې د شپې په آخري حصه کې به له خوبه پورته نه شي، نو هغه دې د شپې په اوله حصه کې وتر وکړي. "وَمَنْ طَمِعَ أَنْ يَقُومَ آخِرَهُ فَلْيُوتِرْ آخِرَ اللَّيْلِ" او کوم کس چې په ځان اعتبار لري چې د شپې آخري حصه کې اوچتېدی شم نو هغه دې د شپې په آخري حصه کې وتر وکړي. "فَإِنَّ صَلَاةَ آخِرِ اللَّيْلِ مَشْهُودَةٌ، وَذَٰلِكَ أَفْضَلُ" او دا ځکه چې د شپې لمونځ په پرښتې حاضرېږي او دا غوره کار دی رواه مسلم

تشريح: من خاف أن لا يقوم من آخر الليل فليوتر أوله: که کوم کس وېرېږي چې د شپې په راوېښ نه شم نو بايد چې د شپې په اوله حصه کې وتر وکړي، دا جمله د وتر وجوب ته اشاره کوي چې د وتر لمونځ ضروري دی. غوره خبره دا ده که د راوېښېدو يقين يې وي نو د شپې په آخرينی حصه کې دې وکړي او که وېره لري چې راوېښ به نه شم نو بيا بايد د شپې په اوله حصه کې ادا کړل شي. "فإن صلاة آخر الليل مشهودة وذلك افضل" د شپې په آخري حصه کې پرښتې حاضرېږي او دا خبره ډېره ښه ده، مطلب دا چې د شپې په آخري حصه کې د پرښتو نزول کيږي، نو ځکه په دې وخت کې وتر کولو سره د الله ﷻ د انوارانو او برکاتو څخه ځان مستفيد کول دي

باب فضل صلاة الضحى وبيان أقلها وأكثرها وأوسطها، والحث على المحافظة عليها

د اشراق او څاښت د لمانځه بيان

"عن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: أَوْصَانِي خَلِيلِي ﷺ بِصِيَامِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ماته زما دوست رسول الله ﷺ وصيت وکړو چې زه هره مياشت درې ورځې روژې ونيسم، "وَرَكْعَتَيِ الضُّحَى" او د دوه رکعتونو څاښت لمونځ وصيت يې راته وکړو، "وَأَنْ أُوتِرَ قَبْلَ أَنْ أَرْقُدَ" او بل دا چې د ويده کېدو نه مخکې وتر وکړم متفق عليه

وَالإِيتَارُ قَبْلَ النَّوْمِ إِنَّمَا يُسْتَحَبُّ لِمَنْ لَا يَثِقُ بِالِاسْتِيقَاظِ آخِرَ اللَّيْلِ: د خوب نه مخکې وتر کول د هغه چا لپاره مستحب دي چې په ځان پوهېږي چې زه به د شپې راوېښ نه شم، "فَإِنْ وَثِقَ، فَآخِرُ اللَّيْلِ أَفْضَلُ" او که په ځان يې يقين وي چې راوېښېدی شم نو بيا د شپې په آخري حصه کې د وتر لمونځ غوره دی

تشريح: أوصاني خليلي ﷺ: د وصيت نه مراد تاکيد دی، د فرضو سره نفلونه هم د الله ﷻ د قربت ذريعه ده، "بصيام ثلاثة أيام من كل شهر" په هره مياشت کې درې ورځې روژې نيول، دا درې ورځې کومې دي؟ دې باره کې مختلف اقوال دي. ځينې وايي ددې نه مراد ايام بيض (۱۳، ۱۴، ۱۵) دي، ځينې

فرمايي: ددې نه مراد د مياشتې په اول تاريخ، مينځني او آخرني تاريخ کې روژې مراد دي، ليکن محققين علماء فرمايي چې حکم مطلقا دی، اختيار دی چې په ټوله مياشت کې هر وخت روژې نيسي نيولی يې شي، "وركعتي الضحى" او د څاښت لمونځ، د څاښت لمونځ کم نه کم دوه رکعته دي او زيات نه دوولسو رکعتونو پورې دی، دلته يې کمه درجه ذکر شوې ده، "والإيتار قبل النوم" او د خوب نه وړاندې وتر کول، أبو هريره رضي الله عنه ته د شپې په اوله حصه کې د وتر کولو اجازت حاصل وو، ځکه چې دوی به د شپې تر ناوخته پورې د رسول الله ﷺ احاديث زده کول، ددې مشغوليت په وجه دوی ته اجازت حاصل وو چې هسې نه ورنه قضاء شي

د انسان په هر بند باندې صدقه واجب ده

"وعن أبي ذر رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: يُصْبِحُ عَلَى كُلِّ سُلَامَى مِنْ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ" د أبو ذر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هر سهار ستاسو په هر بند (پيوند) باندې صدقه واجبيږي، "فَكُلُّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةٌ، وَكُلُّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةٌ" بس هر سبحان الله ويل صدقه ده او هر الحمد لله ويل صدقه ده، "وَكُلُّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةٌ، وَكُلُّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةٌ" هر (لا اله الا الله) صدقه ده او هر (الله اکبر) ويل صدقه ده، "وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ، وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ" خلکو ته په نېک کار باندې امر کول صدقه ده او د بد کار څخه يې منع کول صدقه ده، "وَيُجْزِىءُ مِنْ ذَلِكَ رَكْعَتَانِ يَرْكَعُهُمَا مِنَ الضُّحَى" او د ضحی (څاښت) دوه رکعته لمونځ د ټولو جوړونو، بندونو صدقه ګرځي. رواه مسلم

تشريح: كل سلامي من أحدكم صدقة: په هر انسان باندې د هغه د هر بند په بدله کې يوه صدقه واجب ده، وجه يې دا ده چې د انسان هر بند د الله ﷻ له طرفه يو نعمت دی، نو هر سهار د هر بند په بدله کې صدقه ورکول واجب دي، د هر انسان په بدن کې ۳۶۰ جوړونه (بندونه) دي، هر انسان ته پکار دي چې په دې شمار سره هره ورځ تسبيح او تحميد ووايي، امر بالمعروف او نهي عن المنكر هم صدقه ده، که د څاښت دوه رکعته نفل دي ادا کړل، نو د ټولو بندونو له طرفه صدقه شوه، بل ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې صدقه ورکول صرف په مال کې نه وي، بلکې د صدقې مفهوم عام دی، تسبيح او تحميد ته هم صدقه شامله ده.

رسول الله ﷺ به د څاښت څلور رکعته لمونځ کولو

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُصَلِّي الضُّحَى أَرْبَعاً" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د څاښت لمونځ څلور رکعته کول، "وَيَزِيدُ مَا شَاءَ اللهُ" او زياتي کول به يې هم څومره چې به الله ﷻ وغوښتل. رواه مسلم

تشريح: يصلي الضحى أربعاً ويزيد ماشاء الله: رسول الله ﷺ به د څاښت لمونځ څلور رکعته کولو او که الله ﷻ به وغوښتل نو زيات به يې هم کولو.

Maktaba Tul Ishaat. com

د څاښت لمونځ د رکعتونو تعداد:

د څاښت لمونځ شماره کم نه کم دوه رکعته دي، زيات نه زيات دوولس رکعته دي او د دولسو نه زيات په کوم روايت کې نشته. قاضي ابوبکر رحمه الله فرمايي: دا لمونځ د اولني پېغمبرانو سنت وو. ابن نجار رحمه الله د ثوبان رضي الله عنه نه نقل کړي دي چې دا لمونځ به اول آدم عليه السلام، نوح عليه السلام، ابراهيم عليه السلام، موسی عليه السلام او عيسی عليه السلام کولو، ابن جرير طبري رحمه الله فرمايي: د څاښت لمونځ باره کې متواتر احاديث دي، ابن حجر رحمه الله فرمايي: تقريباً شل صحابه کرام د څاښت د لمانځه روايت کوي. علامه عيني رحمه الله د دېرشو صحابه وو نه قولاً او فعلاً نقل کړی دی.

رسول الله ﷺ د څاښت لمونځ اته رکعته هم کړی دی

"وعن أم هانىء فاختة بنت أبي طالب رضى الله عنها، قالت: ذَهَبْتُ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ عَامَ الفَتْحِ فَوَجَدْتُهُ يَغْتَسِلُ" د ام هانۍ فاخته بنت أبي طالب رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې د فتح مکې په ورځ حاضره شوم، هغوی غسل کولو، "فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ غُسْلِهِ، صَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ، وَذَلِكَ ضُحًى" کله چې د غسل نه فارغ شو، نو نبي کريم ﷺ اته رکعته لمونځ وکړو او دا وخت د څاښت وو. "متفقٌ عَلَيْهِ، وهذا مختصرُ لفظِ إحدى روايات مسلم".

تشريح: صلى ثماني رکعات: رسول الله ﷺ اته رکعته وکړل، هغه د څاښت وخت وو، په دې حديث کې د څاښت د لمانځه اته رکعتونو ذکر دی، په دې بنياد د رسول الله ﷺ عادت کله څلور رکعته، کله اته رکعته او کله دوولس رکعته نقل شوی دی. علماء فرمايي: دا لمونځ تر دوولسو رکعتونو پورې کولی شي، په يو روايت کې دي چې کوم کس د څاښت دوولس رکعته لمونځ وکړي، الله ﷻ به هغه ته په جنت کې د سرو زرو کور جوړ کړي

باب تجويز صلاة الضحى من إرتفاع الشمس إلى زوالها والأفضل أن تُصلَّى عِنْدَ إشتداد الحر وارتفاع الضحى

د څاښت وخت: په دې باب کې دا ښودل شوي چې لمر ښکاره کېدو نه تر زوال پورې د ضحی/ څاښت وخت دی، غوره دا ده چې دا لمونځ هغه وخت وکړی شي کله چې په ګرمۍ کې سختي پيدا شي:

"عن زيد بن أرقم رضي الله عنه: أَنَّهُ رَأَى قَوْماً يُصَلُّونَ مِنَ الضُّحَى" د زيد بن ارقم رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې داسې قوم يې وليدو چې هغوی د څاښت لمونځ کولو، "فَقَالَ: أَمَا لَقَدْ عَلِمُوا أَنَّ الصَّلاَةَ فِي غَيْرِ هذِهِ السَّاعَةِ أَفْضَلُ" نو هغه وفرمايل: څه ښه خبره به وي چې دې خلکو ته پته ولګيږي چې د دې وخت په نسبت بل وخت کې لمونځ کول غوره دي، "إنَّ رسولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: صَلاَةُ الأَوَّابِينَ حِينَ تَرْمَضُ الفِصَالُ" ځکه چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې د څاښت لمونځ هغه دی په کوم وخت کې چې د اوښانو بچي ګرم شي. رواه مسلم.

"تَرْمَضُ: بفتح التاء والميم وبالضاد المعجمة، يعني: شدة الحر" د (ترمض) معنی ده: د ګرمۍ سختي

"وَ(الفِصَالُ) جَمْعُ فَصِيلٍ وَهُوَ الصَّغِيرُ مِنَ الإِبِلِ" د (الفصال) معنی ده: د اوښانو بچي.

لغوي تحقيق: الأوابين: جمع د (اواب) ده، د دې معنی ده: توبه ويستونکي خلك

الفصال: فصال د اوښ يا غوا هغه بچي ته ويل کيږي چې شيدې رودل پرېږدي

تشريح: في غير هذه الساعة أفضل: د دې وخت نه علاوه په بل وخت کې کول غوره دي، مطلب دا چې خلکو د څاښت د لمانځه لپاره د غوره وخت انتظار ونه کړو، بلکې څرنګه چې وخت داخل شو هغوی نفل شروع کړل، زيد بن ارقم ﷺ ورته تنبيه ورکړه، بيا خپله زيد بن ارقم ﷺ ورته غوره وخت وښودلو، "صلاة الأوابين حين ترمض الفصال" د اوابين وخت هغه دی کله چې د اوښانو د بچيو پښې د ګرمۍ نه وسوځي. "صلاة الأوابين" د اوابين نه مراد د څاښت وخت دی، زمونږ په عرف کې د ماښام نفلونو ته اوابين ويلی شي، د څاښت د لمانځه وخت هغه دی کله چې د اوښانو د بچو پښې د ګرمۍ له امله وسوځي، يعنې لمر ښه اوچت شي، ګرمي تېزه شي، د اوابين وخت د زوال نه لږ وړاندې ختميږي

باب الحث على صلاة تحية المسجد بركعتين وكراهة الجلوس قبل أن يصلي ركعتين في أي وقت دخل وسواء صلّى ركعتين بنية التَّحِيَّةِ أَوْ صلاة فريضة أَوْ سنة راتبة أَوْ غيرها

تحية المسجد نفل کول

"عن أبي قتادة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ، فَلَا يَجْلِسْ حَتَّى يُصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ" د ابو قتاده ﷺ روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو کې څوک جومات ته داخل شي، هغه دې تر هغه پورې نه کيني تر څو پورې چې بې دوه رکعته لمونځ نه وي کړی. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: إذا دخل أحدكم المسجد: کله چې په تاسو کې څوك جومات ته را داخل شي، نو هغه ته پکار دي چې دوه رکعته تحية المسجد وکړي، دا يو سنت عمل دی، د داود ظاهري ﷫ په نزد دا واجب دي، که يو کس جومات ته داخل شي او هلته کيني، بيرته بيا پاڅيږي، دوه رکعته لمونځ وکړي نو هم صحيح ده، د شوافعو په نزد تحية المسجد په ناستې سره فوت کيږي

رسول الله ﷺ د تحية المسجد امر کړی دی

"وعن جابر ﷺ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، هغوی په دې وخت کې په جومات کې ناست وو، "فَقَالَ: صَلِّ رَكْعَتَيْنِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دوه رکعته لمونځ وکړه. متفقٌ عَلَيْهِ

Maktaba Tul Ishaat. com

تشريح: د حديث مطلب دا دى چې انسان كله د الله ﷻ په دربار كې حاضر شي، نو هغه ته پكار دي چې دوه ركعته نفل تحية المسجد وكړي، كه داسې وخت وي چې دوه ركعته نفل تحية المسجد پكې نشي كولى، لكه جمع ولاړه وي يا وخت لند وي، نو بيا په دې وخت كې يو ځل (سبحان الله والحمد لله ولا إله إلا الله والله أكبر) دې ووايي.

باب إستحباب ركعتين بعد الوضوء

تحية الوضوء

"عن أبي هريرة ﷺ: أن رسول الله ﷺ قال لبلال: يا بلال، حدثني بأرجى عمل عملته في الإسلام" د أبو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ بلال ﷺ ته وفرمايل: اې بلال! ماته هغه غوره عمل بيان كړه چې ته يې په اسلام كې كوې! "فإني سمعت دف نعليك بين يدي في الجنة" ځكه چې ما ستا د پښو كتاري په جنت كې زما ځخه وړاندې اورېدلې دى، "قال: ما عملت عملا أرجى عندي من أني لم أتطهر طهورا في ساعة من ليل أو نهار" بلال ﷺ وفرمايل: زما خو څه داسې خاص عمل نشته چې زه يې كوم، مګر دا چې ما كله هم اودس كړى دى، كه په شپه كې وي او كه په ورځ كې وي، "إلا صليت بذلك الطهور ما كتب لي أن أصلي" مګر دا چې ما په دې اودس سره څومره چې ماته مقدر وي لمونځ كړى دى. متفق عليه، وهذا لفظ البخاري

"الدف: بالفاء: صوت النعل وحركته على الأرض، والله أعلم" الدف معنى ده: په ځمكه باندې د پښو د كتار آواز، نور الله ﷻ ښه پوهيږي

تشريح: سمعت دف نعليك بين يدي في الجنة: ما په جنت كې زما ځخه وړاندې ستا د پښو د پښو كتار واورېدلو، دا كله شوي وو؟ علماء فرمايي: ممكنه ده چې د معراج په شپه كې شوي وي يا په خوب كې د كشف په توګه رسول الله ﷺ ته ښودل شوي وي او دا داسې مثال لري لكه د مخدوم نه وړاندې چې خادم روان وي، "لم أتطهر طهورا في ساعة من ليل أو نهار" ما په شپه يا ورځ كې چې كله هم پاكي حاصله كړې ده يعني اودس مې كړى دى، علماء فرمايي: په اودس، غسل او تيمم دريواړو سره پاكي حاصليږي، مطلب دا چې بلال ﷺ كله هم پاكي حاصله كړې ده، نو سمدستي يې (تحية الوضوء) كړې ده

باب فضل يوم الجمعة ووجوبها والاغتسال لها والطيب والتبكير إليها والدعاء يوم الجمعة والصلاة على النبي ﷺ وفيه بيان ساعة الإجابة واستحباب إكثار ذكر الله تعالى بعد الجمعة

د جمعې د ورځې فضيلت، د هغې فرضيت، غسل کول، په ځان خوشبو لګول او په وخت ورتلل او د جمعې په ورځ په خاص وخت کې دعاګانې کول او په نبي کريم ﷺ باندې درود ويل او د هغه ساعت بيان چې دعاګانې پکې قبليږي او د جمعې وروسته د الله ﷻ ذکر کول

"قَالَ اللّٰهُ تعالى" الله ﷻ فرمايي: "فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ" کله چې د جمعې ورځې لمونځ وشي، نو بيا په ځمکه خپاره شئ! "وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ، وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ" د الله ﷻ فضل ولټوئ او د الله ﷻ ذکر ډير کوئ! ددې لپاره چې تاسو کامياب شئ! [الجمعة:۱۰].

تشريح: په ايت کې اشاره ده دې خبرې ته چې کله يو مسلمان د جمعې د ورځې لمانځه څخه فارغ شي، نو هغه ته جائز دي چې په خپل کاروبار کې مصروف شي، د جمعې په ورځ د لمانځه لپاره خپل کاروبار بندول ضروري دي، ليکن د لمانځه نه بعد کاروبار شروع کول نه صرف جائز، بلکې په داسې کاروبار کې الله ﷻ برکت هم اچوي او ځينې علماء فرمايي. د (فضل الله) نه مراد علم دی.

د جمعې په ورځ آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ پيدا شوی

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل غوره ورځ چې لمر پکې راخيژي هغه د جمعې ورځ ده. "فِيهِ خُلِقَ آدَمُ، وَفِيهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ، وَفِيهِ أُخْرِجَ مِنْهَا" په دې ورځ آدم عليه السلام پيدا شوی دی، په دې ورځ جنت ته داخل شو او په همدې ورځ د جنت نه راوويستل شو. رواه مسلم

تشريح: په دې حديث کې اشاره ده دې خبرې ته چې د جمعې ورځ د ټولو ورځو سرداره ده، په دې کې آدم عليه السلام پيدا شو، د انساني نسل ابتداء ددې ورځې نه وشوه، علامه طيبي رحمه الله فرمايي: ځينو کسانو د عرفې ورځې ته افضل ويلي دي، په دې کې داسې تطبيق کېدی شي چې په ټوله هفته کې په ټولو ورځو کې غوره ورځ د جمعې ورځ ده، په ټول کال کې غوره ورځ د عرفې ورځ ده، "اخرج منها" په دې ورځ د جنت نه راخارج شوی دی، دلته يو سوال پيدا کيږي هغه دا چې د جنت نه ويستل څه د فضيلت خبره نه ده؟ جواب دا دی چې د جنت نه راويستل د انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ او اولياء کرامو د وجود اصلي سبب جوړ شو.

Maktaba Tul Ishaat. com

د جمعې د لمانځه سره د لسوورځو ګناهونه معاف کيږي

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې په ښکلي شان سره اودس وکړي بيا د جمعې لمانځه ته راشي، "فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ" بيا خطبه واوري او چوپ پاتې شي، "غُفِرَلَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ" هغه ته به هغه ټول ګناهونه وبخښل شي کوم چې ددې جمعې نه تر بلې جمعې پورې ترې شوي دي او درې نورې هم زياتې، "وَمَنْ مَسَّ الْحَصَى، فَقَدْ لَغَا" او کوم کس چې په لاس کې ګيټکي (شګې) اړوي، هغه کس بې ځايه او باطل کار کوي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

مس الحصى: ګيټکي / شګې سمول

تشريح: فأحسن الوضوء: په ښه شان سره بې اودس وکړو، مطلب دا چې د سنت مطابق اودس وکړي، نه پکې اسراف وکړي او نه پکې کمی وکړي، هر اندام درې درې خله ووينځي، د ضرورت نه زياتې اوبه استعمال نه کړي، "ثم أتى الجمعة" بيا جومات ته راشي، معلومه شوه چې بايد سړی په کور کې اودس وکړي، جومات ته روان شي، دا د ډېر زيات فضيلت خبره ده، "ومن مس الحصى فقد لغا" څوک چې شګې اړوي هغه لغو او بې ځايه کار وکړو، وړاندې زمانه کې به د صفونو په ځای شګې وې، په دې شګو به خلکو لوبې کولې يا په لمانځه کې ځای صفا کول منع دي

د جمعې په لمانځه سره د لسوورځو ګناهونه معاف کيږي

"وعنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ، وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ، وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: پنځه وخته لمونځ، د يوې جمعې نه تر بلې جمعې پورې او د يو رمضان نه تر بل رمضان پورې، "مُكَفِّرَاتٌ مَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتُنِبَتِ الْكَبَائِرُ" ددې ټولو سره ګناهونه ختميږي څومره چې ددې وختونو په مينځ کې وکړي، تر څو چې د غټو ګناهونو نه ځان وساتي. رواه مسلم

تشريح: مكفرات ما بينهن إذا اجتنب الكبائر: د ګناهونو د معافی سبب دی، تر څو چې د سترو ګناهونو نه ځان ساتي، مطلب دا چې د جمعې د ورځې لمونځ او روژه او داسې نور نېک اعمال د ګناهونو د کفارې سبب ګرځي، تر څو چې انسان د لويو ګناهونو نه ځان ساتي، ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې په نېکو اعمالو سره صغيره ګناهونه معاف کيږي او کبيره ګناهونه په توبې سره معاف کيږي

د جمعې لمونځ پريښودلو سره په زړه باندې مهر لګيږي

"وعنه، وعن ابن عمر ﷺ: أَنَّهُمَا سَمِعَا رسول الله ﷺ يقول عَلَى أَعْوَادِ مِنْبَرِهِ" د أبو هريره ﷺ او عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دی هغوی دواړه فرمايي چې مونږ د رسول الله ﷺ نه په منبر باندې دا خبره واورېده چې فرمايل بې: "لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجُمُعَاتِ" هغه خلک چې د جمعې د ورځې لمونځ پرېږدي، هغوی

دي ددې کار نه منع شي، "أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللّٰهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ ثُمَّ لَيَكُونُنَّ مِنَ الْغَافِلِينَ" کنه نو الله ﷻ به د دوی په زړونو باندې مهر ولګوي او بيا به دوی په غافلانو کې شمار کړل شي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

اعواد: جمع د عود ده، معنی ده: د لرګي تختې

تشريح: ليختمن الله على قلوبهم: الله ﷻ به د دوی په زړونو باندې مهر ولګوي، مطلب دا چې کله خلك د جمعې ورځې لمونځ پرېږدي، نو الله ﷻ به د دوی په زړونو باندې مهر ولګوي، د مهر لګولو مطلب دا دی چې الله ﷻ به داسې کسان د هغو خلکو په فهرست کې شمار کړي چې د غافلينو څخه وي، بيا به دوی د نصيحت او خير خبرې ته غوږ نه نيسي، په آخرت کې داسې کسانو ته سخت عذاب تيار دی.

د جمعې په ورځ غسل کول

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ: إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې تاسو د جمعې لمانځه ته حاضرېږئ نو غسل کوئ" (يعني د جمعې په ورځ د لمانځه لپاره غسل کوئ) متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: فليغتسل: د جمعې په ورځ غسل کولو حکم څه دی، فرض دی که واجب دی او که سنت دی؟ دې باره کې د جمهورو علماوو (چې په هغوی کې امام ابو حنيفه رحمه الله، امام شافعي رحمه الله، امام احمد رحمه الله شامل دي) رايه دا ده چې د جمعې په ورځ غسل کول سنت دي، د امام مالك رحمه الله يو قول او د اصحاب الظواهر رايه دا ده چې غسل کول واجب دي، ځکه چې صيغه د امر په وجوب باندې دلالت کوي، ددې جواب امام صاحب رحمه الله او امام شافعي رحمه الله داسې ورکړی دی چې کله کله صيغه د امر د استحباب لپاره هم وي، دلته صيغه د امر د استحباب لپاره ده.

ايا د جمعې په ورځ غسل واجب دی؟

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه: أَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ: غُسْلُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ" د أبو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د جمعې د ورځې غسل په هر بالغ باندې واجب دی. متفقٌ عَلَيْهِ

"المراد بِالْمُحْتَلِمِ: الْبَالِغُ" په محتلم سره مراد بالغ انسان دی، "وَالْمُرَادُ بِالْوَاجِبِ: وُجُوبُ اخْتِيَارٍ" او د وجوب نه مراد اختياري وجوب دی، (يعنې ستا خوښه ده)، "كَقَوْلِ الرَّجُلِ لِصَاحِبِهِ: حَقُّكَ وَاجِبٌ عَلَيَّ، وَاللّٰهُ أَعْلَمُ" لکه دا قول د يو سړي چې ستا حق په ما باندې واجب دی، نور الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي

تشريح: واجب على كل محتلم: د جمعې په ورځ غسل کول په هر بالغ باندې واجب دي، دا د اصحاب الظواهر دليل دی چې د جمعې د ورځې غسل واجب دی، علامه نووي رحمه الله ددې يو جواب

Maktaba Tul Ishaat. com

دا ورکړې دی چې دلته وجوب اختياري مراد دی کوم چې په استحباب باندې حمل دی، دويم جواب
په دا دی چې د اسلام په شروع کې غسل فرض وو، کله چې د نبوي جومات چت ډېر نژدې او لاندې
وو، صحابه کرامو به د څرمنو جامې اغوستلې، په دې سره به د خولې بوی روان شو او په جومات کې
په بدبويي شول شوه، ليکن کله چې الله ﷻ فتوحات راوستل، نو اوس خلک مالداره شول، ښې جامې
به يې اغوستلې، نو دا حکم پوره نه شو.

د جمعې په ورځ غسل کول افضل دي

"وعن سمرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ تَوَضَّأَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَبِهَا وَنِعْمَتْ" د سمره بن جندب ﷺ نه روايت
دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د جمعې په ورځ لمانځه لپاره اودس وکړي
دا ښه خبره ده، "وَمَنِ اغْتَسَلَ فَالْغُسْلُ أَفْضَلُ" او کوم کس چې غسل وکړي، نو غسل کول غوره طريقه ده.
"رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن".

تشريح: د حديث نه معلومه شوه چې د جمعې په ورځ خالي اودس کول هم جائز دي او که غسل
يې وکړو، نو ښه خبره ده، همدغه د جمهورو علماوو مسلك دی، د أبو هريره ﷺ روايت دی "من توضأ
فأحسن الوضوء ثم أتى الجمعة فدنا واستمع وانصت غفرله مابينه وبين الجمعة وزيادة ثلثة أيام" ژباړه: څوک چې په ښکلې شان
سره اودس وکړي بيا د جمعې لمانځه ته راشي او پوره په توجه سره خطبه واوري او غلی پاتې شي، نو
ددې جمعې نه تر هغې بلې جمعې پورې ورته ګناهونه معاف کيږي او درې ورځې زياتې.

د جمعې په ورځ تر خپل وسه صفائي کول پکار ده

"وعن سلمان ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: لَا يَغْتَسِلُ رَجُلٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَيَتَطَهَّرُ مَا اسْتَطَاعَ مِنْ طُهْرٍ، وَيَدَّهِنُ مِنْ دُهْنِهِ" د
سلمان فارسي ﷺ روايت دی فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د جمعې په ورځ
غسل وکړي او ښه ځان پاک کړي، بيا په ځان باندې تيل ولګوي، "أَوْ يَمَسُّ مِنْ طِيبِ بَيْتِهِ" او بيا د خپل
کوروالا عطر (خوشبو) په ځان پورې کړي، "ثُمَّ يَخْرُجُ فَلَا يُفَرِّقُ بَيْنَ اثْنَيْنِ" بيا جومات ته لاړ شي او د دوه
کسانو په مينځ کې جدايي رانه ولي، "ثُمَّ يُصَلِّي مَا كُتِبَ لَهُ، ثُمَّ يُنْصِتُ إِذَا تَكَلَّمَ الْإِمَامُ" او بيا چې په هغه څومره
لمونځ فرض وي هغه په پوره طريقې سره ادا کړي او بيا چوپ کيني، د امام خطبه په خاموشۍ سره
واوري. "إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى" الله ﷻ ددې جمعې نه تر بلې جمعې پورې چې څومره ګناهونه
دده نه شوي وي هغه ټول ورته وبخښي رواه البخاري

تشريح: دا حديث په باب آداب المجلس والجليس کې تېر شوی دی، يو ځل بيا امام نووي
رحمه الله دلته راوړو چې په دې حديث کې د جمعې په ورځ د پاکۍ بيان دی، "ويتطهر ما استطاع" تر خپله وسه
چې يې څومره طاقت وي پاکي دې حاصله کړي، ددې مطلب دا دی چې ورېښتو نه دې کټ کړي، نوکان
دې کټ کړي، د نامه لاندې وېښتان دې صفا کړي، د بغل وېښته دې پاک کړي، نوې جامې دې
واغوندي. ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې د جمعې په ورځ لمانځه ته د تللو نه وړاندې تېل پکار

دي، په جومات کې دي د دوه کسانو په منځ کې نه کښيني، بل دا چې خطبه دې په توجه سره واوري، کله چې ددې ټولو خبرو رعايت وکړل شي، نو هله سړی ددې فضيلتونو مستحق ګرځي.

د جمعې په ورځ په اول وخت کې د حاضرېدو فضيلت

"وعن أبي هريرة ﷺ: أنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ غُسْلَ الْجَنَابَةِ، ثُمَّ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الأُولَى فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د جمعې په ورځ د جنابت غسل وکړي بيا په اول وخت کې جمعې ته لاړ شي، نو هغه ته دومره ثواب ملاويږي لکه څومره چې يو سړی د الله ﷻ په نوم اوښ قرباني کړي، "وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَقَرَةً" او کوم کس چې په دويم وخت کې جمعې ته لاړ شي د هغه دومره ثواب دی لکه يوه غوا چې يې د الله ﷻ په نوم قرباني کړې وي، "وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّالِثَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ كَبْشاً أَقْرَنَ" او کوم کس چې په دريم وخت کې جمعې ته لاړ شي د هغه دومره اجر دی لکه ښکر والا ګډ يې چې قرباني کړی وي، "وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الرَّابِعَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ دَجَاجَةً" او کوم کس چې په څلورم وخت کې لاړ شي د هغه دومره اجر دی لکه يوه چرګه چې يې د الله ﷻ په نوم قرباني کړې وي، "وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الخَامِسَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَيْضَةً" او کوم کس چې په پنځم وخت کې لاړ شي د هغه دومره اجر دی لکه يوه هګۍ يې چې قربانۍ کړې وي، "فَإِذَا خَرَجَ الإِمَامُ حَضَرَتِ الْمَلَائِكَةُ يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ" کله چې امام خطبې ته راشي، نو پرښتې هم د خطبې اورېدو ته حاضرې شي. متفقٌ عَلَيْهِ

"قوله: ((غُسْلَ الْجَنَابَةِ)) أَيْ غُسلاً كَغُسْلِ الْجَنَابَةِ فِي الصِّفَةِ" دا قول چې (غسل الجنابة) ددې مطلب دا دی چې لکه څنګه د غسل نه سړی لامبي او ځان پوره صفا کوي، دغه شان د جمعې په ورځ هم پوره په اهتمام سره بايد غسل وکړی شي.

تشريح: ثمراح في الساعة الأولى: بيا د ورځې په اول وخت کې جومات ته لاړ شي، په دې حديث کې د جمعې په ورځ جومات ته په اول وخت کې د تللو فضيلت بيان شوی دی، انسان چې هر څومره وختي جومات ته لاړ شي دومره به د فضيلت مستحق ګرځي، د ټولو نه اول سړي ته به د اوښ د قربانۍ ثواب ملاويږي، دويم ته به د غوا برابر ثواب ملاويږي، دريم کس ته د ګډ برابر، دغه شان حساب راکميږي، تردې چې کله خطبه شروع شي، نو بيا چې څوک راځي، هغه ددې فضيلت نه محرومه وي، "يستمعون الذکر" د ذکر نه مراد خطبه ده چې پرښتې هم خطبه اوري، نورو خلکو ته هم ترغيب ورکول کيږي چې تاسو هم په خاموشۍ سره خطبه واورئ!

د جمعې په ورځ يو ساعت دی چې په هغې کې دعاء قبليږي

"وعنه أنّ رسول الله ﷺ ذَكَرَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، فَقَالَ: فِيهَا سَاعَةٌ لاَ يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ، وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي يَسْأَلُ اللهَ شَيْئاً" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ د جمعې د ورځې ذکر وکړو، بيا يې وفرمايل: په دې ورځ کې يو ساعت دی چې کوم مسلمان په دې ساعت کې لمونځ ته ودريږي او ددې وخت سره يې موافقه هم راشي او د الله ﷻ نه سوال وکړي، "إِلاَّ أَعْطَاهُ إِيَّاهُ، وَأَشَارَ بِيَدِهِ يُقَلِّلُهَا" الله ﷻ به هغه

Maktaba Tul Ishaat. com

څه ورکړي کوم څه چې د الله ﷻ څخه وغواړي، بيا نبي کريم ﷺ په خپلو لاسونو سره ددې وخت کموالي ته اشاره وکړه. متفق عليه

تشريح: فيها ساعة لا يوافقها عبد مسلم: د جمعې په ورځ داسې ساعت دی چې په هغې کې کوم مسلمان بنده دعاء وکړي، الله ﷻ يې ضرور قبلوي، هغه کوم ساعت دی، الله ﷻ دغه ساعت پټ ساتلی دی، حکمت يې دا دی چې ددې ساعت په اميد کې انسان بايد ټوله ورځ د الله ﷻ په عبادت کې تېره کړي، "أعطاه إياه" الله ﷻ يې ورکوي، ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: د آخرت باره کې به دعاء قبوله شي، ليکن که د دنيا باره کې دعاء وشي، نو که د قبلېدو لائق وي، دا هم سمدستي قبلېږي، کنه نو ددې دعاء اجر هم په آخرت کې ملاوېږي.

د دعاء قبلېدو وخت د امام منبر ته تر ختلو پورې وي

"وعن أبي بردة بن أبي موسى الأشعري رضي الله عنه، قال: قال عبد الله بن عمر رضي الله عنهما: أسمعت أباك يحدث عن رسول الله ﷺ، في شأن ساعة الجمعة؟" د ابو بردة بن ابو موسی اشعري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې عبد الله بن عمر رضي الله عنهما پوښتنه وکړه چې ايا ستا پلار د رسول الله ﷺ نه ددې وخت باره کې څه اورېدلي دي چې هغه کوم وخت دی؟ "قال: قلت: نعم، سمعته يقول: سمعت رسول الله ﷺ، يقول: هي ما بين أن يجلس الإمام إلى أن تقضى الصلاة" هغه ووېل: هو! ما اورېدلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دا وخت د امام خطبې ته د کښېنستلو نه تر لمانځه ختمېدو پورې دی. رواه مسلم

تشريح: د جمعې په ورځ د قبوليت ساعت کوم دی؟ اول متعين و، ليکن بيا پټ کړی شو، دې باره کې د علماء کرامو څو اقوال دي چې په هغې کې څه دا دي: (۱) د جمعې په سهار چې کله مؤذن د سهار لمانځه لپاره آذان شروع کړي، (۲) د خطبې پرمهال چې کله امام خطبه شروع کړي او د منبر نه راښکته شي تر تکبير تحريمه پورې، (۳) د ورځې په آخري وخت کې، (۴) کله چې زوال شروع شي، (۵) د زوال شروع کېدو نه د جمعې د لمانځه شروع کېدو پورې، (۶) کله چې امام خطبې ته په منبر باندې کيني، (۷) کله چې امام په منبر باندې د خطبې لپاره کيني او د خطبې تر ختمېدو پورې دغه وخت دی، يا چې کله خطبه ختمه شي او امام د منبر نه راښکته شي، په دغه وخت کې، (۸) يا د جمعې د لمانځه نه وروسته، (۹) د مازيګر د لمانځه نه وروسته، داسې نور اقوال هم شته چې په دې وختونو کې څوک دعاء وکړي نو دعاء يې قبلېږي. چې کله فارغ شي ددې نه وروسته،

د جمعې په ورځ په کثرت سره درود شريف ويل

"وعن أوس بن أوس رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: إن من أفضل أيامكم يوم الجمعة" د اوس بن اوس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: غوره ورځ د جمعې ده، "فأكثروا علي من الصلاة فيه" په دې ورځ کې په ما باندې ډېر ډېر درود وايئ! "فإن صلاتكم معروضة علي" ځکه چې ستاسو درود په ما باندې پېش کولی شي. رواه أبو داود بإسناد صحيح

تشريح: فأكثروا علي من الصلوة فيه: په دې ورځ په ما باندې په كثرت سره درود وايئ، ځكه چې ستاسو درود ماته راوړل كېږي، علامه سخاوي رحمه الله فرمايي: د جمعې په ورځ د درود فضيلت د ډېرو صحابه كرامو څخه منقول دی، مثلاً د أبو هريره رضي الله عنه نه، د ابوامامه رضي الله عنه نه، د ابومسعود رضي الله عنه نه، د عمر رضي الله عنه نه او د ابن عمر رضي الله عنهما او داسې نورو څخه...

ولې د جمعې په ورځ درود شريف فضيلت لري؟

حافظ ابن قيم رحمه الله فرمايي: د جمعې په ورځ د درود فضيلت ځكه زيات دی چې د جمعې ورځ د ټولو ورځو سرداره ده، بل طرف د رسول الله ﷺ ذات د ټول مخلوق سردار دی، دغه شان انس رضي الله عنه فرمايي چې د جمعې په ورځ او د جمعې په شپه چې كوم كس په رسول الله ﷺ باندې په كثرت سره درود وايي، د داسې كس لپاره به رسول الله ﷺ د قيامت په ورځ شفاعت كوي

يا رب صل وسلم دائماً أبداً ...... على حبيبك خير الخلق كلهم

د راوي اوس بن اوس رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې اوس رضي الله عنه دی، د ثقيف قبيلې سره يې تعلق درلود، ځينې وايي: اوس ته به اوس بن أبي اوس ويل كېږي، د ځينو نورو خيال دی چې دا خان خاته بېل كسان وو، په دمشق كې يې مستقل سكونت اختيار كړو، هلته يې ځان ته كور او جومات جوړ كړو، د دوی نه ډېر زيات روايات نقل دي. ځينو څلرويشت ۲۴ راخستي دي، په بخاري او مسلم كې يو روايت هم نقل نه دی، د دوی نه په ترمذي او ابن ماجه كې روايات موجود دي.

باب إستحباب سجود الشكر عند حصول نعمة ظاهرة أو اندفاع بلية ظاهرة

د شكر سجده كول

"عن سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه، قال: خرجنا مع رسول الله ﷺ من مكة نريد المدينة، فلما كنا قريباً من عزوراء نزل ثم رفع يديه فدعا الله ساعة، ثم خر ساجداً، فمكث طويلاً" د سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ موږ د رسول الله ﷺ سره د مكې مكرمې څخه د مدينې منورې په طرف سفر شروع كړو، كله چې موږ عزوراء ته نزدې شو، نبي كريم ﷺ د خپلې سورلۍ نه ښكته شو او خپل لاسونه يې اوچت كړل او د الله جل جلاله نه يې سوالونه شروع كړل، بيا الله جل جلاله ته په سجده باندې پرېوتلو، تر ډېره وخته په سجده پروت وو، "ثم قام فرفع يديه ساعة، ثم خر ساجداً - فعله ثلاثاً" بيا يې سر مبارك راپورته كړو او لاسونه يې پورته كړل او د الله جل جلاله نه يې سوال شروع كړو، بيا په سجده پرېوتو، دا كار يې درې ځله وكړو، "وقال: اني سألت ربي، وشفعت لأمتي، فأعطاني ثلث أمتي" بيا يې وفرمايل: ما د خپل امت د بخښنې لپاره د الله جل جلاله نه دعاء وغوښتل، د دريمې حصې امت په حق كې زما سفارش قبول شو، "فخررت ساجداً لربي شكراً" ما دې باره كې د شكر سجده وكړه، "ثم رفعت رأسي، فسألت ربي لأمتي، فأعطاني ثلث أمتي" ما بيا سر راپورته كړو د خپل رب نه

Maktaba Tul Ishaat. com

مي د خپل امت لپاره د بخښني سوال وكړو، نو مزيد يو ثلث امت لپاره زما سفارش قبول شو، "فَخَرَرْتُ سَاجِدًا لِرَبِّي شُكْرًا" ما بيا د شكر سجده وكړه، "ثُمَّ رَفَعْتُ رَأْسِي، فَسَأَلْتُ رَبِّي لِأُمَّتِي، فَأَعْطَانِي الثُّلُثَ الْآخَرَ فَخَرَرْتُ سَاجِدًا لِرَبِّي" ما بيا سر راپورته كړو د خپل رب نه مي د خپل امت لپاره د بخښني سوال وكړو، الله ﷻ بيا مزيد دريمه حصه كې زما سفارش قبول كړو، نو ما بيا د شكر سجده وكړه. رواه أبوداود

تشريح: **شفعت لامتي:** ما د خپل امت لپاره شفاعت وكړو، مطلب دا چې رسول الله ﷺ د خپل امت لپاره دعاء وكړه او شفاعت يې وكړو چې زما امت جنت ته داخل كړې، د رسول الله ﷺ امت به ټول بالاخره جنت ته داخليږي، په جهنم كې به د همېش لپاره څوك نه پاتې كيږي، څيني به د سزا پوره كېدو نه وروسته جنت ته ځي، ځيني به د شفاعت په ذريعه او ځيني به د الله ﷻ په فضل سره جنت ته ځي.

فخررت ساجداً: زه په سجده پرېوتم، امام شافعي رحمه الله فرمايي: ددېنه مراد د شكر سجده ده، ليكن د احنافو رحمهم الله په نزد ددېنه مراد دوه ركعته نفل دي، د سجدې نه مراد لمونځ دى، ذكر د جزء دى او مراد ترې كل دى.

باب فضل قيام الليل

د تهجدو فضيلت

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَكَ" او څه حصه د شپې تهجد كوه دا به د فرضو نه علاوه ستا لپاره زياتي عبادت وي، "عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا" قريبه ده چې ستا رب به تا مقام محمود ته ورسوي [الإسراء:۷۹]

تشريح: **تهجد:** تهجد د هجود څخه دى، دا په متضاد معنى كې استعماليږي، ددې لفظ استعمال او معنى په ويده كېدو كې هم راځي او په بيدارى كې هم، په "به" كې د ضمير مرجع قرآن كريم دى، مطلب دا چې د قرآن كريم سره بيدار اوسېږه، ابن كثير رحمه الله د تهجد باره كې د حسن بصري رحمه الله قول نقل كړى دى، فرمايي چې: "قَالَ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ رحمه الله: هُوَ مَا كَانَ بَعْدَ الْعِشَاءِ وَيُحْمَلُ عَلَى مَا كَانَ بَعْدَ النَّوْمِ" حسن بصري رحمه الله فرمايي: د تهجدو د لمانځه اطلاق په هر هغه لمانځه باندې كيږي چې د ماسخوتن لمانځه نه وروسته وكړل شي، البته د تعامل په وجه دغه لمونځ د خوب نه ورووسته كولو باندې محمول كولى شي، مطلب دا چې د تهجدو لمونځ كې خوب شرط نه دى، ليكن اكثر وخت د صحابه وو او د رسول الله ﷺ معمول همدغسې وو چې د خوب وروسته به يې كول، غوره تهجد هغه دي چې د خوب وروسته وشي، "نَافِلَةً لَكَ" په دې كې د مفسرينو رحمهم الله دوه رايې دي: (۱) يو مطلب دا دى چې په رسول الله ﷺ باندې زياتي فرض وو، يعني د تهجدو لمونځ په رسول الله ﷺ باندې فرض وو، (۲) دويم مطلب يې دا دى چې دا نفل لمونځ په رسول الله ﷺ باندې زائد وو، "مَقَامًا مَحْمُودًا" ددې نه مراد شفاعت كبرى دى، مطلب دا چې د حشر په ميدان كې چې كله ټول بنيادم پرېشان وي، نو رسول الله ﷺ به سفارش كوي، بيا به حساب كتاب شروع شي.

د مؤمنانو صفات:

"وقال تعالى" الله جل جلاله فرمايي: "تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ" دوى ده دي د خپلو بسترو څخه جدا وي، (يعنې زيات وخت د شپې عبادت کوي [السجدة:۱۶] الآية

تشريح: د جمهورو مفسرينو په نزد ددې آيت نه مراد د تهجدو لمونځ دى، همدغه خبره د حسن بصري رحمه الله، مجاهد رحمه الله، امام مالك رحمه الله او امام اوزاعي رحمه الله څخه منقول ده، انس رضي الله عنه فرمايي: دغه آيت د هغو خلکو باره کې نازل دى کوم چې د ماسخوتن لمانځه وراندې نه ويده کيږي او د لمانځه په انتظار کې ناست وي، ځينې علماء فرمايي: دغه آيت د هغو خلکو باره کې نازل دى چې د ماښام او ماسخوتن په مينځ کې نفلونه کوي، د قتاده رضي الله عنه، ابودرداء رضي الله عنه وغيره په نزد ددې نه مراد هغه خلك دي چې د ماسخوتن لمونځ په جمعې سره ادا کوي او بيا د سهار لمونځ هم په جمع سره ادا کړي، په دې کې چې څومره اقوال دي، ددې ټولو اقوالو په مينځ کې هيڅ تضاد نشته، دا ټول اقوال ددې آيت مصداق ګرځيدلى شي، کوم خلك چې تهجد کوي داسې خلك به بې حسابه او بې کتابه جنت ته داخليږي

مؤمنان به د شپې لږ ويده کيدل:

"وقال تعالى" الله جل جلاله فرمايي: "كَانُوا قَلِيلًا مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ" هغوى به د شپې لږ وخت ويده کيدل [الذاريات:۱۷].

تشريح: په دې آيت کې د مسلمانانو صفات بيان شوي دي هغه دا چې دوى د شپې ډير کم ويده کيږي، ددې آيت په تشريح کې حسن بصري رحمه الله فرمايي: متقيان د شپې کم ويده کيږي او د شپې ټنه په عبادت کې مشغول وي، ابن عباس رضي الله عنهما، قتاده رضي الله عنه او مجاهد رحمه الله وغيره د دوى رايه ددې آيت په باره کې دا ده چې په دې کې (ما) د نفي لپاره ده، مطلب دا چې د شپې لږه برخه دوى خوب کولو، په دوى باندې داسې هم راځي چې په هغې کې دوى نه ويده کيږي، بلکې عبادت کوي، په دې تفسير کې ټول هغه خلك داخل دي چې د شپې په هر وخت کې عبادت کوي، ابو جعفر باقر رحمه الله فرمايي: کوم خلك چې د ماسخوتن لمانځه نه وړاندې نه ويده کيږي هغوى هم په دې کې داخل دي، ابن کثير رحمه الله د عبدالرحمن بن زيد بن اسلم رضي الله عنه نه نقل کړي دي چې هغوى به فرمايل: د بنو تميم يو کس زما والد صاحب ته وويل: اې ابو اسامه! موږ په خپلو ځانونو کې هغه صفات نه وينو چې الله جل جلاله د متقينو باره کې فرمايلي دي "كانوا قليلاً من الليل ما يهجعون" زموږ حال دا دى چې "قليلاً من الليل ما نقوم" يعنې د شپې کم وخت راپورته کيږي او عبادت کوي، زما والد صاحب ورته وويل: "طوبى لرجل إذا نعس واتقى الله إذا استيقظ" زيرى دي وي هغه کس لپاره چې خوب ورشي ويده شي ليکن چې بيدار شي نو تقوي اختيار کړي، مطلب دا چې مقبوليت په دې کې منحصر نه دى چې صرف د شپې دي عبادت وکړى شي، يعنې که د شپې زيات نه او چتيږي ليکن د بيدارى په حالت کې د ګناهونو نه ځان بچ ساتي هغه هم د مبارکۍ او زيري لائق دى.

Maktaba Tul Ishaat. com

رسول الله ﷺ به د شپې دومره قيام كولو چې پښې مباركې به يې ورپړسېدلې

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَقُومُ مِنَ اللَّيْلِ حَتَّى تَتَفَطَّرَ قَدَمَاهُ" د عائشه ؓ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: نبي كريم ﷺ به د شپې دومره زيات عبادت كولو چې پښې مباركې به يې ورپړسېدلې، "فَقُلْتُ لَهُ: لِمَ تَصْنَعُ هَذَا، يَا رَسُولَ اللهِ، وَقَدْ غُفِرَ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ؟" ما ورته وويل: يا رسول الله ﷺ! تاسو ولې دومره محنت كوئ او حال دا چې الله ﷻ تاسو ته مخكيني او وروستني ټول ګناهونه معاف كړي دي؟ "قَالَ: أَفَلَا أَكُونُ عَبْداً شَكُوراً؟" نبي كريم ﷺ وفرمايل: ايا زه د الله ﷻ شكر ګزاره بنده جوړ نه شم. متفقٌ عَلَيْهِ

"وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ نَحْوُهُ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ" د مغيره بن شعبه ؓ نه هم داسې روايت نقل دى.

تشريح: دا روايت وړاندې په (باب المجاهده) كې تېر شوى دى، د باب د مناسبت له وجې مصنف ؒ يو ځل بيا ذكر كړو.

رسول الله ﷺ د شپې له خوا د فاطمې ؓ او علي ؓ كور ته تشريف يوړو:

"وعن علي ؓ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ طَرَقَهُ وَفَاطِمَةَ لَيْلاً" د علي ؓ نه روايت دى هغه فرمايي چې نبي كريم ﷺ په شپه زما او د فاطمې ؓ كره تشريف راوړو، "فَقَالَ: أَلَا تُصَلِّيَانِ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: تاسو د شپې لمونځ نه كوئ؟ (د تهجد لمونځ نه كوئ؟) متفقٌ عَلَيْهِ.

"طَرَقَهُ: أَتَاهُ لَيْلاً" طرقه معنى ده: د شپې راتلل

تشريح: أَلا تصليان؟ ايا تاسو د تهجد لمونځ نه كوئ؟ دې حديث كې د تهجدو لمانځه ته ترغيب دى چې دا لمونځ دومره فضيلت او اهميت والا دى چې ددې نه څوك محروم پاتې نه شي، په يو بل روايت كې دي چې كه چېرته ددې ويره نه وې چې زما امت به په مشقت كې پرېوځي نو ما به دا لمونځ ورباندې فرض كړى واى، يعنې د الله ﷻ نه به مې سوال كړى واى چې دا لمونځ هم فرض كړي.

عبد الله بن عمر ؓ ښه سړى دى

"وعن سالم بن عبد الله بن عمر بن الخطاب ؓ، عن أبيه: أَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ: نِعْمَ الرَّجُلُ عَبْدُ اللهِ، لَوْ كَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ" د سالم ؓ بن عبد الله بن عمر ؓ نه روايت دى هغه فرمايي چې زما پلار به ويل: رسول الله ﷺ وفرمايل چې عبد الله ؓ ډېر ښه سړى دى خو كه د شپې يې لمونځ كولى، "قَالَ سَالِمٌ: فَكَانَ عَبْدُ اللهِ بَعْدَ ذَلِكَ لَا يَنَامُ مِنَ اللَّيْلِ إِلَّا قَلِيلاً" سالم ؓ فرمايي: عبد الله ؓ به ددې نه وروسته بيا د شپې نه ويده كېدو مګر ډېر لږ وخت. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: نعم الرجل عبد الله: عبد الله ؓ ډېر ښه سړى دى، علماء فرمايي: په دې حديث كې كه يو طرف ته د عبد الله ؓ د فضيلت ذكر دى، بل طرفته د تهجدو د لمانځه فضيلت او اهميت ته هم اشاره ده، بل ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې كه مخامخ د چا تعريف وكړى شي او په هغه كې

تکبر او عجب نه پيدا کيږي، نو مخامخ تعريف کول جائز دي، لکه څرنګه چې نبي کريم ﷺ د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما په وړاندې د هغه تعريف وکړو چې عبد الله رضي الله عنه ډېر ښه سړی دی

يو څل چې تهجد شروع کړې بيا يې مه پرېږده!

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، قال: قال رسول الله ﷺ: يَا عَبْدَ اللهِ، لَا تَكُنْ مِثْلَ فُلَانٍ" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ يوه ورځ عبد الله رضي الله عنه ته وفرمايل: اې عبد الله رضي الله عنه! ته د فلانکي سړي په شان مه کيږه! "كَانَ يَقُومُ اللَّيْلَ فَتَرَكَ قِيَامَ اللَّيْلِ" چې د شپې يې يو څل تهجد شروع کړل بيا يې پرېښودل. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: لا تكن مثل فلان: د فلانکي سړي په شان مه کيږه: علماء کرام فرمايي: ممکنه ده چې کوم صحابي ددې نه مراد وي چې د تهجدو لمونځ يې کولو بيا يې پرېښودو، رسول الله ﷺ ته به د هغه حال چا ويلې وي، نو رسول الله ﷺ د نصيحت په توګه عبد الله بن عمرو رضي الله عنه ته وفرمايل: ته داسې مه کوه، ددې نه معلومه شوه چې يو عمل نه کول ښه کار نه دی، ليکن ددې نه زيات بد عمل دا دی چې يو کس يو عمل شروع کړي او بيا يې پرېږدي، په دې بنياد د رسول الله ﷺ په دعاګانو کې يوه دعاء دا هم ده چې: "نعوذ بالله من الحور بعد الكور" موږ د زيادت نه وروسته په نقصان کې د واقع کېدو نه په الله ﷻ سره پناه غواړو.

شيطان د انسان په غوږ کې متيازې کوي

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه، قال: ذُكِرَ عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ رَجُلٌ نَامَ لَيْلَةً حَتَّى أَصْبَحَ" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې د يو داسې سړي يادګېرنه د نبي کريم ﷺ په وړاندې وشوه چې د شپې داسې مستغرق ويده شي چې پرې سهار شي، (مطلب د داسې سړي متعلق څه حکم دی؟) "قَالَ: ذَاكَ رَجُلٌ بَالَ الشَّيْطَانُ فِي أُذُنَيْهِ - أَوْ قَالَ: فِي أُذُنِهِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا يو داسې سړی دی چې په دواړو غوږونو کې يې شيطان متيازې وکړي او يا يې داسې وفرمايل: په يو غوږ کې ورته شيطان متيازې وکړي. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: ما زال نائماً حتى اصبح: هغه تر سهاره ويده وي، ځينې علماء فرمايي: ددې نه د تهجدو لمونځ مراد دی، ځينو ترينه د سهار لمونځ مراد اخيستی دی، "بال الشيطان في أذنه" شيطان د هغه په غوږونو کې متيازې کوي، مطلب دا چې حقيقتاً شيطان د هغه په غوږونو کې متيازې کوي، ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: يو کس چې د شپې عبادت ته بيدار نه شي يا د سهار لمونځ ته بيدار نه شو، نو هغه په خوب کې وليدل چې يو تک تور سړي د هغه په غوږ کې متيازې کوي

د شيطان منترونه

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رسول الله ﷺ، قال: يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلَاثَ عُقَدٍ، يَضْرِبُ عَلَى كُلِّ عُقْدَةٍ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: شيطان چې تاسو ته راځي د سر سره درته نژدې کيني بيا ورته شيطان د خوب په حالت کې درې غوټې اچوي او په هره غوټه

Maktaba Tul Ishaat. com

ي پو کي کوي، "عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ فَارْقُدْ" شيطان ورته وايي: شپه ډېره اوږده ده، ډېر وخت دی، ويده شه؛ "فَإِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللهَ تَعَالَى انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ" که چېرته دا انسان وېښ شي او الله ﷻ ياد کړي، نو يوه غوټه خلاصه شي؛ "فَإِنْ تَوَضَّأَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَإِنْ صَلَّى انْحَلَّتْ عُقَدُهُ كُلُّهَا" که چېرته اودس وکړي نو بله غوټه پرانستل شي او که لمونځ وکړي، نو ټولې غوټې وسپړل شي، "فَأَصْبَحَ نَشِيطاً طَيِّبَ النَّفْسِ" نو د هغه سهار ډېر ښائسته خوشحاله او تروتازه بيدار وي، "وَإِلَّا أَصْبَحَ خَبِيثَ النَّفْسِ كَسْلَانَ" او که داسې ونه کړي نو بيا د هغه سهار طبيعت او مزاج يې بدمزه او سست وي. متفقٌ عَلَيْهِ

"قَافِيَةُ الرَّأْسِ: آخِرُهُ" د (قافية الراس) معنی ده: د سر آخري حصه يعني څټ

تشريح: يعقد الشيطان على قافية رأس أحدكم: شيطان د هر سړي په څټ باندې غوټې لګوي، د غوټې نه حقيقي غوټې مراد دي، ددې په تائيد کې ملا علي قاري رحمه الله يو روايت نقل کړی دی، ځينې علماء فرمايي: ددې نه غفلت او سستي مراد ده، په دې غوټو سره هغه په خپل قابو کې راوستل مراد دي، مراد ده فأصبح نشيطاً طيب النفس" هغه د سهار په وخت پاک او ښکلي طبيعت والا وي، مطلب دا چې څوک د الله ﷻ په عبادت، ذکر او اذکار کې مشغول شي، نو هغه د شيطان په چلونو کې نه راګيرېږي، د هغه ټوله ورځ د الله ﷻ په رحمتونو او برکتونو کې تيرېږي، ددې برعکس کوم کس چې د شيطان په چلونو کې راګير شي د هغه ټوله ورځ په غفلت، سستی او بې برکتی کې تيرېږي، په کارونو کې يې هيڅ قسم برکت نه وي.

کله چې خلک ويده وي تهجد کوئ!

"وعن عبد الله بن سلام رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ، قَالَ: أَيُّهَا النَّاسُ: أَفْشُوا السَّلَامَ، وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ" د عبد الله بن سلام رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: اې خلکو! سلام خپور کړئ، خلکو ته ډوډۍ ورکړئ؛ "وَصَلُّوا بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ، تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ" د شپې عبادت کوئ کله چې خلک ويده وي، نو جنت ته به په سلامتيا سره داخل شئ؛ "رواه الترمذي وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب فضل السلام والأمر بإفشائه) کې تېر شوی دی، علامه نووي رحمه الله دلته يو ځل بيا د باب د مناسبت په وجه ذکر کړو.

د فرضو نه وروسته تر ټولو زيات فضيلت والا لمونځ تهجد دی

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: أَفْضَلُ الصِّيَامِ بَعْدَ رَمَضَانَ: شَهْرُ اللهِ الْمُحَرَّمُ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د رمضان نه وروسته غوره روژه د الله ﷻ مياشت محرم ده، "وَأَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْفَرِيضَةِ: صَلَاةُ اللَّيْلِ" د فرضو نه وروسته غوره لمونځ د شپې تهجد دی. رواه مسلم

تشريح: صلاة الليل: تر ټولو زيات فضيلت والا لمونځ د شپې تهجد دی، وجه يې دا ده چې په

دې لمانځه کې په نفس باندې بوج هم زيات وي او اخلاص هم زيات وي، ددې لمانځه په برکت سره فرض لمونځونه درجه کمال ته رسيږي، يعنې کوم کس چې د شپې لمونځ کوي هغه به فرض هم په پوره اهتمام سره کوي

د شيخ جنيد بغدادي رحمه الله باره کې منقول دي چې د مرګ نه وروسته چا په خوب کې وليدو، نو پوښتنه يې ترې وکړه چې څه حال درباندې تېر شو؟ هغه وويل چې "تاهت العبادت وفنيت الاشارات ومانفعنا الا رکعات صليناها في جوف الليل" هغه خبرې چې د حقائقو او معارفو په باره کې مې بيانولې ټولې ختمې شوې دي، ماته صرف د يو څو رکعتونو په وجه فايده راورسېده، هغه رکعتونه چې ما به د شپې له خوا کول.

د تهجدو لمونځ د رکعتونو تعداد

"وعن ابن عمر رضى الله عنهما: أَنَّ النبيَّ ﷺ، قَالَ: صَلاةُ اللَّيلِ مَثْنَى مَثْنَى" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د شپې لمونځ (تهجد) دوه دوه وي، "فَإذَا خِفْتَ الصُّبْحَ فَأَوْتِرْ بِوَاحِدَةٍ" کله چې د سهار کېدو نه وېره کوې، نو بيا بې په يو رکعت سره تاق وګرځوه؛ "متفقٌ عَلَيهِ

تشريح: صلوٰة الليل مثنی مثنی: د شپې لمونځ دوه دوه رکعته وي، د جمهورو علماوو او صاحبينو په نزد د شپې دوه دوه رکعته عبادت غوره دی، د امام صاحب رحمه الله په نزد د شپې څلور څلور رکعته لمونځ غوره دی، د جمهورو علماوو دليل همدغه حديث دی، د امام صاحب رحمه الله دليل دا دی: "ما كان رسول الله ﷺ يزيد في رمضان ولا في غيره على احدى عشرة ركعة يصلي اربعاً فلا تسأل عن حسنهن وطولهن ثم يصلي اربعاً فلا تسأل عن حسنهن وطولهن ثم يصلي ثلاثاً" رسول الله ﷺ به په روژه او غير د روژې نه د تهجدو لمونځ يوولس رکعتونه کول، پوښتنه مه کوه چې څومره به ښکلي وو، د څلورو کعتونو نيت به يې وتړلو، د هغې د حسن، ښکلا او اوږدوالي باره کې پوښتنه مه کوه، بيا به يې درې رکعته وتر وکړل، دا اختلاف صرف په افضليت کې دی، که څلور وکړي او که دوه رکعته وشي، دواړه صحيح دي، "فأوتر بواحدة" په يو رکعت سره به يې د تهجدو دوه رکعته يو ځای کړل او درې رکعته وتر به يې وکړل، دا مطلب نه دی چې وتر به يې صرف يو رکعت وکړو.

وتر درې رکعته دي

"وعنه، قَالَ: كَانَ النَّبيُّ ﷺ يُصَلِّي مِنَ اللَّيلِ مَثْنَى مَثْنَى" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د شپې دوه دوه رکعته کول، "وَيُوتِرُ بِرَكْعَةٍ" په يو رکعت کولو سره به يې دا تاق ګرځول. متفقٌ عَلَيهِ

تشريح: ددې حديث نه معلومه شوه چې د شپې دوه دوه رکعته تهجد کول غوره دي، امام شافعي رحمه الله او صاحبين رحمهما الله فرمايي: که يو کس څلور رکعته وکړي، نو هم جائز دي، دغه شان د امام صاحب رحمه الله په نزد څلور رکعته دي، که يو کس دوه رکعته وکړي، نو هم غوره عمل دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

د دوه رکعتونو سره يو رکعت ملاولو مطلب:

باوتر بركعة: په يو ركعت سره بې وتر جوړ كړل، امام طحاوي رحمه الله فرمايي: د شپې دوه ركعتونو سره يو ركعت زياتې وكړه، په دې سره به ترې درې ركعته جوړ شي، ابن همام رحمه الله فرمايي: ددې حديث نه دانه ثابتيږي چې يو ركعت وتر دې مستقل په يو تكبير تحريمه سره وكړى شي، په يو روايت كې دي چې "صلوة بتيرة" څانته يو ركعت كول جائز نه دي

رسول الله ﷺ د شپې په هره برخه كې تهجد كړې دي

"وعن أنس رضي الله عنه قال: كان رسول الله ﷺ يفطر من الشهر حتى نظن أن لا يصوم منه" د انس رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به په ځينو مياشتو كې دومره زمانه روژه پرېښودل چې زموږ به خيال راغى چې دې مياشت كې به هغوى يوه روژه هم نه نيسي، "ويصوم حتى نظن أن لا يفطر منه شيئا" او بيا به بې چې روژه نيول شروع كړل، نو زموږ خيال به بيا راغلو چې دې مياشت كې به بيخي روژه ناغه نه كړي، "وكان لا تشاء أن تراه من الليل مصليا إلا رأيته" او كه ته دا غواړې چې نبي كريم ﷺ د شپې لمونځ كونكى وننه گورې نو ددې موقع به هم درته ملاوېده، "ولا نائما إلا رأيته" او كه تا دا غوښتل چې د شپې بې ويده وننه وينې نو دا موقع به هم درته ملاوېدى شوه، (يعني د نبي كريم ﷺ ژوند مبارك معتدل وو، د شپې به ويده كېدو هم او ټوله شپه به بې په لمانځه كې هم تېرول رواه البخاري

تشريح: كان رسول الله ﷺ يفطر من الشهر حتى نظن ان لا يصوم منه: د رسول الله ﷺ عادت به دا وو چې كله به بې په كومه مياشت كې روژې نيول پرېښودل نو موږ به گومان كولو چې هغه به چېرته په دې مياشت كې روژه وننه نيسي، مطلب دا چې په نفلي روژو كې به بې كوم مستقل معمول نه وو، كله به بې ټوله مياشت روژې نه نيولې تردې چې د مياشتې په آخري ورځو كې به بې شروع كړې او كله به بې دومره روژې نيولې چې گومان كېدو چې ټوله مياشت به بې ونيسي، ليكن بيا به بې پرېښودلې، "وكان لاتشاء ان تراه من الليل مصليا الا رايته" كه تا غوښتل چې د شپې په كومه برخه كې بې په لمانځه ووينم، نو تا به كتلى شو، مطلب دا چې كله به رسول الله ﷺ د شپې په اوله برخه كې لمونځ كولو، بيا به بې آرام كولو، كله به بې د شپې په اوله برخه كې آرام وكړو، د شپې په آخر كې به بې لمونځ كولو، په دې بنياد رسول الله ﷺ به د شپې په هره برخه كې لمونځ كولو يا به بې آرام كولو

رسول الله ﷺ به د پنځوسو ايتونو برابر په سجده كې وخت تېرولو

"وعن عائشة رضي الله عنها: أن رسول الله ﷺ كان يصلي إحدى عشرة ركعة - تعني في الليل" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د شپې يوولس ركعته لمونځ كولو، "يسجد السجدة من ذلك قدر ما يقرأ أحدكم خمسين آية قبل أن يرفع رأسه" دومره اوږده سجده به بې كول مخكې له دې چې سر مبارك راپورته كړي، لكه څومره چې په تاسو كې يو كس پنځوس ايتونه لولي، "ويركع ركعتين قبل صلاة الفجر" بيا

به يې د سهار سنت وکړل، "ثُمَّ يَضْطَجِعُ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَنِ حَتَّى يَأْتِيَهُ الْمُنَادِي لِلصَّلاَةِ" بيا به په ښي اړخ څملاسملو، تردې چې مؤذن به د لمونځ اطلاع ورکولو لپاره راغلو. رواه البخاري

تشريح: إحدى عشر ركعة: رسول الله ﷺ به د تهجدو لمونځ يوولس رکعته کولو، عموما رسول الله ﷺ به اته رکعته تهجد کول او بيا به يې په آخر کې درې رکعته وتر وکړل، په دې حساب سره يوولس رکعته جوړيږي، "يسجد السجدة من ذلك قدر ما يقرأ أحدكم خمسين آية" رسول الله ﷺ به دومره اوږده سجده کول لکه يو کس چې پوره پنځوس ايتونه لولي، علماء فرمايي: څومره زيات اوږد قيام به وو، په دې حساب سره به يې رکوع او سجده هم وه، رسول الله ﷺ به د شپې په لمانځه کې اوږد قيام فرمايلو، نو څکه د رسول الله ﷺ سجده به هم اوږده وه، "يركع ركعتين قبل صلوة الفجر" دوه رکعته به يې د سهار نه وړاندې وکړل، رسول الله ﷺ به عموماً د تهجدو نه وروسته وتر کول، کله چې به سهار شو، نو دوه رکعته سنت به يې وکړه، بيا به يې څه معمولي شان آرام وکړو، ددې لپاره چې څه تکليف ختم شي او د سهار لمونځ ښه په خوند سره وکړي.

اللهم صل وسلم دائماً أبداً ::: على حبيبك خير الخلق كلهم

د پيغمبر ﷺ سترګې پټيږي ليکن زړه يې بيداروي

"وعنها، قالت: مَاكَانَ رسول الله ﷺ يَزِيدُ - فِي رَمَضَانَ وَلاَ فِي غَيْرِهِ - عَلَى إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً" د عائشې ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به که د روژې مياشت وه او که غير د روژې مياشت وه، د يوولس رکعتونو څخه به يې زيات لمونځ نه کولو، "يُصَلِّي أَرْبَعاً فَلاَ تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ" د څلورو رکعتونو نيت به يې وتړلو، بيا د هغه لمونځ د اوږدوالي او ښکلا پوښتنه مه کوه! "ثُمَّ يُصَلِّي أَرْبَعاً فَلاَ تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ" بيا به يې د څلورو رکعتونو نيت وکړو، بيا د هغې د اوږدوالي او د حسن پوښتنه مه کوه! "ثُمَّ يُصَلِّي ثَلاَثاً، فَقُلْتُ: يَارَسُولَ اللهِ، أَتَنَامُ قَبْلَ أَنْ تُوتِرَ؟" بيا به يې درې رکعته وتر وکړل، ما پوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ! تاسو ويده کيږئ مخکې له دې چې وتر مو نه وي کړي؟ "فَقَالَ: يَا عَائِشَةُ، إِنَّ عَيْنَيَّ تَنَامَانِ وَلاَ يَنَامُ قَلْبِي" نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې عائشه ؓ! زما سترګې ويده کيږي ليکن زما زړه بيداروي. متفق عليه

تشريح: يصلي أربعاً: څلور رکعته به يې وکړل، ددې نه امام صاحب رحمه الله استدلال کړی دی چې د شپې څلور رکعته دي، زيات اجر لري، څکه چې په څلورو رکعتونو کې تکليف زيات دی، په نسبت سره دوه رکعتونو ته، "ان عيني تنامان ولاينام قلبي" زما سترګې ويده کيږي ليکن زړه مې بيداروي، دا د انبياء عليهم السلام خصوصيت دی چې د دوی اودسونه په خوب سره نه ماتيږي، ددې برخلاف د امت اودسونه په خوب سره ماتيږي.

د شپې په اوله برخه کې به رسول الله ﷺ خوب کولو او په آخره برخه کې به يې تهجد کول:

"وعنها: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَنَامُ أَوَّلَ اللَّيْلِ، وَيَقُومُ آخِرَهُ فَيُصَلِّي" د عائشه ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله

Maktaba Tul Ishaat. com

ﷺ به د شپې په اوله حصه کې خوب کولو او په آخري حصه کې به يې لمونځ کولو. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: ويقوم آخره فيصلي: د شپې په وروستي برخه کې به پاڅېدو او لمونځ به يې کولو، په دې حديث کې عايشه ﷺ د رسول الله ﷺ اکثريت معمول بيانوي چې رسول الله ﷺ به اکثره د تهجدو لمونځ د شپې په آخري حصه کې کولو، ليکن کله کله به يې د شپې په اوله برخه کې کولو، په مينځ کې به يې هم کولو، ددې لپاره چې امت ته پکې اساني پيدا شي، د شپې په کومه برخه کې چې يې خوښه شي د تهجدو لمونځ دې وکړي

رسول الله ﷺ به د تهجدو لمونځ ډېر زيات اوږد کولو

"وعن ابن مسعود ﷺ، قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ لَيْلَةً، فَلَمْ يَزَلْ قَائِمًا حَتَّى هَمَمْتُ بِأَمْرِ سَوْءٍ" د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه شپه ما د رسول الله ﷺ سره د لمونځ نيت وتړلو، نبي کريم ﷺ تر ډېر وخته ولاړ وو، تر دې چې زما په ذهن کې ډېر سوچونه شروع شول، "قِيلَ: مَا هَمَمْتَ؟ قَالَ: هَمَمْتُ أَنْ أَجْلِسَ وَأَدَعَهُ" چا ورته وويل: څه قسم سوچ وو؟ هغوی ورته وفرمايل: ما اراده وکړه چې زه ورته کښېنم او نيت يې مات کړم. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: فلم يزل قائماً حتى هممت بأمر سوء: رسول الله ﷺ برابر ولاړ وو چې ما د يو بد کار (کښېنستلو) اراده وکړه، ددې حديث نه معلومه شوه چې د شپې لمونځ کې چې څومره قيام، رکوع، سجده اوږده وي هغومره يې ثواب زيات وي، بل ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې په نفلي لمونځ کې که دوه کسان سره جمع شي نو د دوی جماعت جائز دی، د احنافو په نزد د درې کسانو نه زيات د جمعې لمونځ په نفلي عبادت کې صحيح نه دی، بل دا که په نفلي لمانځه کې مقتدي ستړی شي، نو کښېنستلی شي

د تهجدو د لمانځه کيفيت

"وعن حذيفة ﷺ، قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَافْتَتَحَ الْبَقَرَةَ، فَقُلْتُ: يَرْكَعُ عِنْدَ الْمِائَةِ" د حذيفه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ ما رسول الله ﷺ پسې د لمونځ نيت وتړلو، رسول الله ﷺ سورت البقره شروع کړه، ما په زړه کې وويل: رسول الله ﷺ به د سلو آيتونو تلاوت وکړي، رکوع ته به لاړ شي، "ثُمَّ مَضَى، فَقُلْتُ: يُصَلِّي بِهَا فِي رَكْعَةٍ فَمَضَى فَقُلْتُ: يَرْكَعُ بِهَا" نبي کريم ﷺ نور هم مخکې تلاوت کولو، ما خپل ځان سره بيا وويل: کېدی شي دا خل به رکوع ته لاړ شي، "ثُمَّ افْتَتَحَ النِّسَاءَ فَقَرَأَهَا" بيا نبي کريم ﷺ سورت النساء شروع کړو، ټول سورت يې ولوستلو، "ثُمَّ افْتَتَحَ آلَ عِمْرَانَ فَقَرَأَهَا" بيا يې سورت آل عمران شروع کړو او ټول يې ولوستلو، "يَقْرَأُ مُتَرَسِّلًا" نبي کريم ﷺ به تلاوت ښه په ښکلي انداز او په ترتيل سره کولو، "إِذَا مَرَّ بِآيَةٍ فِيهَا تَسْبِيحٌ سَبَّحَ" کله چې به په کوم آيت کې د تسبيح ذکر راغلو، نو نبي کريم ﷺ به سبحان الله وويل، "وَإِذَا مَرَّ بِسُؤَالٍ سَأَلَ" او کله چې به په کوم آيت کې ذکر د سوال کولو وو، نو نبي کريم ﷺ به د الله ﷻ نه سوال وکړو، "وَإِذَا مَرَّ بِتَعَوُّذٍ تَعَوَّذَ" او کله چې به په کوم آيت کې په الله ﷻ پناه غوښتل وو، نو

نبي كريم ﷺ به په الله ﷻ سره پناه وغوښتل، "ثُمَّ رَكَعَ، فَجَعَلَ يَقُولُ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ فَكَانَ رُكُوعُهُ نَحْواً مِنْ قِيَامِهِ" بيا نبي كريم ﷺ ركوع ته لاړو، په ركوع كې به يې (سبحان ربي العظيم) ووېل او ركوع به يې هم په اوږدوالي كې په اندازې د قيام وه. "ثُمَّ قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ثُمَّ قَامَ طَوِيلاً قَرِيباً مِمَّا رَكَعَ" بيا يې (سمع الله لمن حمده ربنا لك الحمد) ووېل، بيا ودرېدو او ښه ډېر وخت ودرېدو څومره چې به ركوع كې درېدلى وو. "ثُمَّ سَجَدَ، فَقَالَ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى فَكَانَ سُجُودُهُ قَرِيباً مِنْ قِيَامِهِ" بيا نبي كريم ﷺ سجدې ته لاړو، په سجده كې به يې (سبحان ربي الأعلى) ووېل او سجده به يې هم د قيام په شان ښه اوږده وه. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

نحواً: النحو معنى ده مقدار، مثل، طرف، لاره، قصد او اراده وغيره

تشريح دا حديث وړاندې په (باب المجاهده) كې تېر شوى دى، علامه نووي رحمه الله د باب د مناسبت له وجې دلته بيا ذكر كړو.

اوږد قيام والا لمونځ غوره دى

"وعن جابر رضي الله عنه، قَالَ: سُئِلَ رسولُ الله ﷺ أيُّ الصَّلاَةِ أفْضَلُ؟ قَالَ: طُولُ القُنُوتِ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چې كوم لمونځ غوره دى؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: هغه لمونځ غوره دى چې قيام پكې ډېر وي. رواه مسلم

"المراد بالقنوت: القيام" د (القنوت) نه مراد قيام دى.

لغوي تحقيق:

القنوت: قنوت معنى ده: اطاعت او تابعداري كول، د الله ﷻ په وړاندې خاكساري او عاجزي كول. الله ﷻ ته سيده او تابعدار درېدل.

تشريح: په دې حديث كې د اوږد قيام لمونځ ته غوره لمونځ ووېل شوي دي، په دې كې د ائمه اربعه وو اختلاف دى چې ايا اوږد قيام والا لمونځ غوره دى او كه زياتې سجدې غوره دي؟ په امامانو كې امام ابوحنيفه رحمه الله او يو قول د امام شافعي رحمه الله هم دى چې په لمانځه كې اوږد قيام غوره دى، ليكن د امام شافعي رحمه الله مفتى به قول او د امام محمد رحمه الله په يو قول كې زيات ركعتونه او زياتې سجدې الله ﷻ ته لګول بهتر دي، ددې حديث نه هم د امام ابوحنيفه رحمه الله د مذهب تائيد هم كيږي، په دې كې ارشاد ده چې تر ټولو غوره لمونځ هغه دى چې ركعتونه يې اوږده وي

الله ﷻ ته محبوب عمل د داود عليه السلام لمونځ او روژه ده

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما: أنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: أَحَبُّ الصَّلاةِ إِلَى اللهِ صَلاةُ دَاوُدَ، وَأَحَبُّ الصِّيَامِ إِلَى اللهِ صِيَامُ دَاوُدَ" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ ته ډېر خوښ لمونځ د داود عليه السلام لمونځ دى او خوښه روژه ورته د داود عليه السلام ده،

Maktaba Tul Ishaat. com

كَانَ يَنَامُ نِصْفَ اللَّيْلِ وَيَقُومُ ثُلُثَهُ وَيَنَامُ سُدُسَهُ" نيمه شپه به ويده كېدو، دريمه حصه د شپې به ويښ وو او شپږمه حصه به ويده كېدو، "وَيَصُومُ يَوماً وَيُفْطِرُ يَوماً" يوه ورځ به يې روژه نيول او بله ورځ به يې كوژه وه. متفق عليه

تشريح: أحب الصلوة إلى اللـــه صلوة داود: د الله ﷻ په نزد تر ټولو زيات خوښ لمونځ د داود عليه السلام والا دى، داود عليه السلام به نيمه شپه ويده كېدو، بيا يې به په دريمه حصه كې لمونځ كولو، په شپږمه حصه كې به بيا ويده شو، په دې شان سره كه څوك د الله ﷻ عبادت كوي نو پوره نيمې نه زياته حصه په خوب وكړي، كه يو كس دومره وخت آرام وكړي، نو بيا په عبادت كې زړه هم لګيږي

يصوم يوما ويفطر يوما: يوه ورځ به يې روژه نيول، بله ورځ به يې كوژه وه، دغه شان كه يوه ورځ تكليف تېر كړي، نو بله ورځ به ورته راحت حاصل شي، په دې ترتيب سره روژې نيول او د الله ﷻ عبادت كول مستحب دي

په شپه او ورځ كې د قبوليت يو ساعت وي

"وعن جابر رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ، يقول: إنَّ فِي اللَّيْلِ لَسَاعَةً" د جابر رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: په شپه كې يو ساعت او وخت وي، "لَا يُوَافِقُهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللهَ تعالى خَيْراً مِنْ أَمْرِ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ" په دې ساعت او وخت كې چې كوم مسلمان سړى د الله ﷻ نه سوال وكړي، كه هغه د دنيا سوال وي او كه د آخرت سوال وي، "إلَّا أَعْطَاهُ إيَّاهُ وَذَلِكَ كُلَّ لَيْلَةٍ" نو الله ﷻ به هغه څه وركړي كوم څه يې چې د الله ﷻ نه غوښتي وي او دا وخت په هره شپه كې وي. رواه مسلم

تشريح: إلا أعطاه: په هره شپه ورځ كې يو ساعت داسې خامخا وي چې په هغې كې دعاء قبليږي، د شپې دغه ساعت الله ﷻ پټ ساتلى دى، لكه څرنګه چې د جمعې د ورځې ساعت يا د ليلة القدر شپه او وجه يې دا ده چې انسان بايد په دې شپه كې ښه زيات عبادت وكړي، ځينو علماوو فرمايلي دي چې دا ساعت د نيمې شپې وي، ځينو ويلي دي چې د شپې آخري حصه ده او ځينو ويلي دي چې د پېشمنې وخت دى.

د تهجدو په شروع كې دوه ركعته مختصر كول مستحب دي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أنَّ النبيَّ ﷺ، قَالَ: إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ مِنَ اللَّيْلِ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې په تاسو كې يو كس د شپې لمانځه لپاره پاڅيږي، "فَلْيَفْتَتِحِ الصَّلَاةَ بِرَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ" نو د لمونځ افتتاح او شروع دې د دوه مختصرو ركعتونو وكړي. رواه مسلم

تشريح: بركعتين خفيفتين: دوه ركعت مختصرشان سره، د ځينې علماوو دا خيال دې چې دغه دوه ركعات مختصر كول تحية الوضوء وو، تحية الوضوء مختصر كول مستحب دي. ليكن ځينې نور علماء فرمايي چې دا دوه ركعات مختصر هم په تهجدو كې داخل دي، كوم چې د تحية الوضوء قائمقام دي. رسول الله ﷺ به په دې وخت كې تيحة الوضوء لپاره خالله لمونځ نه كولو

رسول الله ﷺ به د تهجد و شروع په دوه مختصرو رکعتونو سره کول

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كَانَ رسولُ الله ﷺ إذا قَامَ مِنَ اللَّيلِ افْتَتَحَ صَلاتَهُ بِرَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ" د عائشې ﷺ نه روايت دى فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله د شپې لمانځه ته پاڅېدو، نو شروع به يې د دوه مختصرو رکعتو څخه وکړه رواه مسلم

تشريح: د رسول الله ﷺ په اقتداء کې د تهجدو په شروع کې دوه رکعته مختصر کول سنت طريقه ده، بيا ددې نه وروسته اوږده رکعتونه کول سنت دي، په شروع کې دوه رکعته مختصر کولو وجه دا ده چې د انسان د خوب اثرات ختم شي، په بدن کې تازګي پيدا شي، بيا په اوږده رکعتونو کې د سړي زړه لګيږي

رسول الله ﷺ به د تهجدو قضائي هم راوړه

"وعنها رضي الله عنها، قالت: كَانَ رسول الله ﷺ إذا فَاتَتْهُ الصَّلاةُ مِن اللَّيلِ مِنْ وَجَعٍ أَوْ غَيْرِهِ" د عائشې ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه به کله د شپې لمونځ د مرض يا د بل څه په وجه قضاء شو، "صَلَّى مِنَ النَّهارِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً" نو بيا به يې د ورځې دولس رکعته لمونځ کول رواه مسلم

تشريح: د حديث مطلب دا دى چې کله به د رسول الله ﷺ نه د شپې لمونځ د کوم عذر په وجه قضاء شو، نو رسول الله ﷺ به ددې قضائي هم راوړه، همدغه مفهوم د يو بل روايت نه معلوميږي، "كان رسول الله ﷺ إذا عمل عملاً أثبته، وكان إذا نام من الليل أو مرض صلى من النهار ثنتي عشرة ركعة" رسول الله ﷺ به چې کوم کار کولو، نو مستقل به يې کولو، کله چې به د رسول الله ﷺ نه د شپې تهجد د بيمارى يا د بل کوم عذر په بنياد قضاء شو، نو د ورځې به يې دوولس رکعته نفل کول

د شپې وظيفه په ورځ کې هم پوره کولى شي

"وعن عمر بن الخطاب ﷺ، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: مَنْ نَامَ عَنْ حِزْبِهِ، أَوْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ، فَقَرَأَهُ فِيمَا بَيْنَ صَلاَةِ الفَجْرِ وصَلاةِ الظُّهْرِ" د عمر بن خطاب ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کوم کس چې د خپلې وظيفې او اعمالو نه او يا څه شى ترې پاتې شي او ديې ترې ويده شي او بيا يې د سهار لمانځه او د ماسپښين لمانځه په مينځ کې ووايي، "كُتِبَ لَهُ كَأنَّمَا قَرَأَهُ مِنَ اللَّيلِ" ده ته دومره ثواب ورکولى شي لکه د شپې يې چې ويلي وي رواه مسلم

تشريح: دا روايت وړاندې په (باب المحافظة) کې تېر شوى دى، د شپې په عبادت باندې انسان عمومي طور عادي وي، که چېرته د کوم کس څخه د شپې د خوب د غلبې له امله يا کوم بل شرعي عذر په وجه د تهجد لمونځ قضاء شي، نو د ماسپښين نه وړاندې وړاندې دې قضاء راوړي، ددې به پوره پوره ثواب ورته حاصل شي، بل دا چې کوم عادت يې وو، هغه به يې برقرار پاتې شي

Maktaba Tul Ishaat. com

خاوندته پکاردي چې خپله ښځه تهجدوته راپاځوي

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: رَحِمَ اللهُ رَجُلاً قَامَ مِنَ اللَّيْلِ، فَصَلَّى وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهُ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ دې په هغه سړي باندې رحم وکړي چې د شپې راويښ شي او خپل ښځه هم راوېښه کړي، "فَإِنْ أَبَتْ نَضَحَ فِي وَجْهِهَا الْمَاءَ" که هغه نه پاځيږي، نو دی دې په مخ باندې اوبه واچوي، "رَحِمَ اللهُ امْرَأَةً قَامَتْ مِنَ اللَّيْلِ، فَصَلَّتْ وَأَيْقَظَتْ زَوْجَهَا" او الله ﷻ دې په هغه ښځه باندې هم رحم وکړي چې د شپې لمانځه لپاره پاځيږي او خپل خاوند هم راويښ کړي، "فَإِنْ أَبَى نَضَحَتْ فِي وَجْهِهِ الْمَاءَ" که سړی نه پاڅيدو نو دی ورته په مخ باندې اوبه واچوي. رواه أبوداود بإسناد صحيح

تشريح: نضح في وجهها: د هغه په مخ اوبه وشيندي، مطلب دا دی چې څرنګه شي خو چې يو بل تهجدو ته راويښ کړي، د شريعت منشاء دا ده چې څرنګه ښځه او خاوند په دنيوي کارونو کې د يو بل مرسته کوي، دغه شان په ديني کارونو کې هم بايد د يو بل مرسته وکړي، ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې د يو مسلمان وررور سره په ديني کارونو کې مرسته کول پکار دي

"وعنه وعن أبي سعيد رضي الله عنهما، قالا: قَالَ رسولُ اللهِ ﷺ: إِذَا أَيْقَظَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّيَا - أَوْصَلَّى رَكْعَتَيْنِ جَمِيعاً" د أبو هريره ﷺ او أبو سعيد ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې يو کس خپل خاندان د شپې له خوا عبادت ته راويښ کړي او دواړه لمونځ وکړي او يا يې داسې وفرمايل چې دوه رکعته تول لمونځ وکړي، "كُتِبَا فِي الذَّاكِرِينَ وَالذَّاكِرَاتِ" الله ﷻ به يې په ذکر کونکو سړو او ذکر کونکو ښځو کې شمار کړي. رواه أبوداود بإسناد صحيح

تشريح: په دې حديث کې د هغه سړي خصلت ذکر دی چې خپله ښځه نفلونو او عبادتونو ته آماده کړي او بيا دواړه د الله ﷻ په عبادت کې مشغول شي، "كتبا في الذاكرين والذكرات" نو دغه دواړه ښځه او خاوند په ذاکرين او ذاکرات کې وليکل شي، علماء فرمايي: په دې کې سورت احزاب آيت نمبر ۳۵ (ان المسلمين والمسلمات الخ) کې دې طرف ته اشاره ده، په دې کې د نېکانو سړو او نېکانو ښځو ذکر دی چې د دوی سره د لوی اجر او بخښنې وعدې شوي دي

کله چې خوب درځي، بايد لمونځ مؤخر کړی شي

"وعن عائشة رضي الله عنها: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: إِذَا نَعَسَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلاَةِ، فَلْيَرْقُدْ حَتَّى يَذْهَبَ عَنْهُ النَّوْمُ" د عائشې ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې تاسو ته په لمانځه کې خوب درشي، نو بايد چې ويده شئ چې د خوب غلبه ترې لاره شي، "فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا صَلَّى وَهُوَ نَاعِسٌ، لَعَلَّهُ يَذْهَبُ يَسْتَغْفِرُ فَيَسُبُّ نَفْسَهُ" او دا ځکه چې کېدی شي کله لمونځ کوي او د خوب په حالت کې وي، نو د ځان لپاره به د الله ﷻ نه بخښنه غواړي او ځانته به يې ښيرا کړې وي. متفق عليه

لغوي تحقيق:

نَاعس: نعس ينعس باب فتح يفتح او نصر ينصر دی، د نعس معنی ده: سرې ته خوب ورتلل، د خوب جټکي

تشريح: إذا نعس أحدكم في الصلوة: په لمانځه کې چې کله خوب ورشي، مطلب دا چې په لمانځه کې څومره خشوع خضوع او حضور قلب وي، دومره به لمونځ زيات قبليږي او خوب چې سړي ته ورځي، نو بيا خشوع او خضوع چېرته وي، نه صرف دا چې د خشوع او خضوع نه مانع وي، بلکې کله کله چې انسان ته خوب ورشي، نو وايي به يو څه او د خولې نه يې بل څه وځي، د حديث همدغه مطلب دی چې که خوب درځي او ته ځان ته استغفار غواړې، نو کېدی شي چې د استغفار په ځای ځانته ښيرې وکړې

د خوب د غلبې پرمهال تهجد کول

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: إذا قَامَ أحَدُكُمْ مِنَ اللَّيْلِ، فَاسْتَعْجَمَ القُرْآنَ عَلَى لِسَانِهِ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د شپې عبادت لپاره پاځي او په ده باندې د خوب له امله د قرآن کريم تلاوت مشکل وي، "فَلَمْ يَدْرِ مَا يَقُولُ، فَلْيَضْطَجِعْ" په دې نه پوهيږي چې زه څه وايم، نو بايد چې دده واچوي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

فاستعجم: استعجم: د عاجزی او کمزوری له امله چوپ پاتې کېدل، په تلاوت کې مشکل پېښېدل، په مشکله تلاوت کول

تشريح: فلم يدر ما يقول فليضطجع: هغه ته پته نه لګيږي چې زه څه وايم نو پکار ده چې ويده شي، مطلب دا چې کله يو انسان د شپې د الله ﷻ عبادت لپاره راپاځيږي، الله ﷻ ته خپله عاجزي او خاکساري وړاندې کړي او په ده باندې خوب غلبه وکړي، سستي پرې راشي، نو اوس ده ته پکار دي چې ويده شي چې په هغه کې بيا تازګي او آرام پيدا شي او ښه د زړه په مينه د الله ﷻ عبادت وکړي، علماء فرمايي: لکه څرنګه چې د خوب د غلبې پرمهال د الله ﷻ عبادت کول منع دي، دغه شان کله چې قلبي حضور او خضوع نه وي، نو بيا هم عبادت پکار نه دی، کله چې په انسان کې تازګي راشي، په زړه کې يې جذبه راپيدا شي، نو بيا د الله ﷻ عبادت پکار دی

باب إستحباب قيام رمضان وَهُوَ التراويح

د تراويحو لمونځ

"عن أبي هريرة رضي الله عنه أنّ رسول الله ﷺ، قَالَ: مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إيمَاناً وَاحْتِسَاباً" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د رمضان د شپو عبادت (تراويح) وکړي په

Maktaba Tul Ishaat. com

ايمان سره او د خان لپاره د ثواب په طمع، "غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ" د هغه مخکيني ټول ګناهونه به ورته معاف شي. متفق عليه

تشريح: من قام رمضان إيماناً واحتساباً: كوم كس چې د رمضان مياشتې روژې په ايمان او د ثواب په نيت ونيسي، مطلب دا چې د روژې په مياشت كې د ورځې روژه ونيسي، د شپې تراويح وكړي، د قرآن كريم تلاوت اهتمام وكړي او كه په بيت الله شريف كې وي، نو بايد چې طواف هم وكړي، "غفرله ما تقدم من ذنبه" د هغه وړاندېني ټول ګناهونه به معاف شي، علامه نووي رحمه الله فرمايي: ددې نه مراد صغيره يعني وړوكي ګناهونه دي، د كبيره يعني لويې ګناه لپاره توبه ويستل ضروري دي، كه چېرته كوم نېكمرغه انسان وي چې د هغه په اعمال نامه كې ګناهونه نه وي، نو د هغه لپاره د شپې عبادت د درجاتو اوچتولو باعث ګرځي.

رسول الله ﷺ به د روژې په مياشت كې د قيام ترغيب وركولو

"وعنه رضي الله عنه، قَالَ: كَانَ رسولُ اللهِ ﷺ يُرَغِّبُ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَأْمُرَهُمْ فِيهِ بِعَزِيمَةٍ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د قيام رمضان (تراويحو) عبادت په باره كې ترغيب خلكو ته وركولو، ليكن دوى ته به يې په سختۍ سره امر نه كولو، (يعني ددې فضيلتونه به يې راته بيانول) "فيقول: مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَاناً وَاحْتِسَاباً غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ" او داسې به يې فرمايل: كوم كس چې د رمضان د تراويحو عبادت د ايمان او په دې نيت وكړي چې ماته به يې الله ﷻ اجر راكوي، نو دده ټول هغه ګناهونه چې دده نه مخكې شوي دي، ټول به ورته وبخښل شي. رواه مسلم

لغوي تحقيق: بعزيمة: عزيمت: مضبوطي او سختې ارادې ته وايي.

تشريح: يرغب في قيام رمضان: رسول الله ﷺ به د روژې په شپو كې د قيام (عبادت) كولو ترغيب وركولو، علماوو ددې نه استدلال كړى دى چې تراويح سنت موكده دي، دا د رسول الله ﷺ نه خپله هم ثابتې دي، بلكې د روژې په مياشت كې يې درې شپې په جمع سره هم كړي دي. بيا يې وفرمايل: ماته خطره ده چې هسې نه په تاسو فرض نه شي، د رسول الله ﷺ د وفات نه وروسته چې كله دا خطره او وېره ختمه شوه، نو د عمر رضي الله عنه په زمانه خلافت كې تراويح په جمع سره كول اهتمام شروع شو.

باب فضل قيام ليلة القدر وبيان أرجى لياليها

د قدر د شپې فضيلت

"قَالَ اللهُ تعالَى" الله ﷻ فرمايي: "إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ" بې شكه چې مونږ دا قرآن د قدر په شپه نازل كړى دى. [القدر: ۱] "إلى آخر السورة، وقال تعالى: إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ" بې شكه مونږ دا قرآن كريم په مباركه شپه را نازل كړى دى. [الدخان: ۳] الآيات.

تشريح: ددې سورت شان نزول داسې دی - يوه ورځ رسول الله ﷺ د بني اسرائيلو د يو عابد ذکر کولو چې هغه به ټوله شپه د الله ﷻ په عبادت کې تېرول او سهار به يې جهاد کولو، پوره زر مياشتې يې داسې عمل وکړو، په دې باندې الله ﷻ سورت القدر نازل کړو، بل ددې نه دا هم معلومه شوه چې د قدر شپه د رسول الله ﷺ د امت خصوصيت دی، د (قدر) ګڼ شمېر معناګانې دي، مثلاً عظمت، تقدير، حکم او تنګي وغيره، دا شپه هم ډېره د عظمت والا ده، بل په دې شپه کې انسان توبې او استغفار وايي، خلک بايد د عظمت والا جوړ شي، يا د تقدير څخه مشتق دی، معنی يې دا ده چې پوره د يو کال ټول معاملات په دې شپه کې الله ﷻ پرښتو ته حواله کوي، په دې کال کې چې څه کېږي هغه ټول په دې شپه کې پرښتو ته حواله کړی شي يا په معنی د تنګۍ سره دی، يعنې د پرښتو د ډېروالي له امله ځمکه تنګه شي.

د قدر د شپې فضيلت:

په دې شپه کې قرآن کريم نازل شوی دی، باقي نور کتابونه هم په دې شپه کې نازل شوي دي، د ابراهيم عليه السلام صحيفې هم په رمضان کې، تورات په شپږم د رمضان کې، انجيل په ديارلسم د رمضان کې، زبور په اتلسم د رمضان کې او قرآن کريم د قدر په شپه کې نازل شو، دا شپه ډېره د فضيلت شپه ده، ددې شپې عبادت پوره درې اتيا کاله او څلور مياشتو عبادت نه غوره دی، په يو بل روايت کې دي چې کوم کس ددې شپې د خير او برکت نه محروم پاتې شي لکه د ټول خير او برکت نه چې محروم پاتې وي، عائشې رضي الله عنها يوه ورځ رسول الله ﷺ ته وفرمايل: يارسول الله ﷺ! که مې دا شپه نصيب شي نو کومه دعاء پکې وکړم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: داسې ووايه: "اللهم انك عفو تحب العفو فاعف عنى" اې الله ﷻ! تاسو معافي کونکي يې، معافي خوښوې، نو ما معاف کړې.

د قدر شپه کله وي؟

دې باره کې تقريباً د علماوو څلوېښت اقوال دي، د زياتره علماوو رايه دا ده چې په هغې کې امام شافعي رحمه الله، امام احمد رحمه الله، سفيان ثوري رحمه الله او ابوقلابه رحمه الله شامل دي، دوی فرمايي چې دا شپه د رمضان په آخري عشره کې وي، بيا په طاق شپو کې وي، مثلاً: ۲۱، ۲۳، ۲۵، ۲۷، ۲۹ کې، بل په حديث کې هم راځي چې: "تحروا ليلة القدر في العشر الأواخر من رمضان" د قدر شپه د رمضان په آخري لسو شپو کې ولټوئ! "تنزل الملائكة والروح" د اکثره مفسرينو رحمهم الله په نزد د روح نه مراد جبرئيل عليه السلام دی، د ځينو نورو علماوو په نزد ددې نه نورې پرښتې هم مراد دي، په قرآن کريم کې د قدر په شپه کې د نازلېدو مطلب دا دی چې په دې شپه کې د لوح محفوظ نه ټول په ټوله د دنيا اسمان ته را نازل شوی دی، بيا د ضرورت موافق په رسول الله ﷺ باندې پوره په درويشت کالو کې نازل شوی دی، ځينو د "إنا أنزلنه في ليلة القدر" نه مراد د شعبان پنځلسمه شپه مراد کړې ده، ليکن د جمهورو په نزد دا قول صحيح نه دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

د قدر په شپه د عبادت کونکي ګناهونه معاف کيږي

"وعن أبي هريرة ﷺ، عن النبي ﷺ، قَالَ: "مَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَاناً وَاحْتِسَاباً" د أبو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د ليلة القدر په شپه په ايمان سره او د ثواب په نيت عبادت وکړي، "غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ" دده هغه ټول مخکيني ګناهونه کوم يې چې کړي وي ورته بخښلى شي. متفقٌ عَلَيهِ

تشريح: من قام ليلة القدر: کوم کس چې د قدر د شپې قيام وکړي، د شپې د قيام نه مراد د شپې تراويح دي، د قرآن کريم تلاوت پکې وکړي، د الله ﷻ ذکر پکې وکړي، د ماسختن او سهار لمونځ په جمعې سره وکړي، نو داسې کس ته زېرى ورکولى شي چې د داسې کس وړاندېني صغيره ټول ګناهونه معاف کيږي، د قدر په شپه کې خالص د الله ﷻ عبادت کول مقصود دي، اګر چې هغه ته د قدر د شپې علم هم نه وي، ځکه چې د قدر د شپې علم خالص يو الله ﷻ ته دى.

ځينو صحابه وو ته د قدر د شپې علم په خوب کې ښودل شوى دى

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ رِجَالاً مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ أُرُوا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْمَنَامِ فِي السَّبْعِ الأَوَاخِرِ" د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې د نبي کريم ﷺ ځينو ملګرو ته په خوب کې د قدر شپه د رمضان په آخري اوه شپو کې وښودل شوه، "فَقَالَ رسول الله ﷺ: أَرَى رُؤْيَاكُمْ قَدْ تَوَاطَأَتْ فِي السَّبْعِ الأَوَاخِرِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: زه وينم چې ستاسو خوب زما د خوب سره موافق شو، د قدر شپه د رمضان په آخري اوه شپو کې د واقع کېدو سره، "فَمَنْ كَانَ مُتَحَرِّيهَا فَلْيَتَحَرَّهَا فِي السَّبْعِ الأَوَاخِرِ" بس کوم کس چې دغه شپه لټول غواړي، نو هغه دې د رمضان په آخري اوه شپو کې ولټوي. متفقٌ عَلَيهِ

لغوي تحقيق:

تواطـأت: د (تواطأت) مطلب دى: موافقت کول

تشريح: في السبع الأواخر: په آخري شپو کې بې ولټوئ، ددې نه هغه شپې مراد دي چې د شلم د رمضان نه تر ۲۷ پورې وي، يا بې مطلب دا دى چې آخري اوه شپې ترې مراد دي، يعني د درويشتمې شپې نه تر نهه ويشتمې شپې پورې، "فمن كان متحريها فليتحرها في السبع الأواخر" کوم کس چې د قدر شپه لټول غواړي هغه ته پکار دي چې آخري اووه شپو کې دي ولټوي، په دې کې هم هغه مسئله ده چې ددې نه مراد د شلم نه تر اوه ويشتم پورې، يا د درويشتم نه تر نهه ويشتم پورې، ليکن دواړه احتماله راجح دي.

رسول الله ﷺ به د رمضان په آخري عشره کې اعتکاف کولو

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كَانَ رسولُ الله ﷺ يُجَاوِرُ فِي العَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ" د عائشې ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د رمضان په آخري لسو شپو کې اعتکاف کولو، "ويقول: تَحَرَّوا لَيْلَةَ

القَدْرِ فِي العَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ" فرمايل به يې: د قدر شپه د رمضان په آخري لسو شپو کې ولټوئ. متفق عليه

لغوي تحقيق:

تحروا: تحري معنى ده: لټول، قابل استعمال شی لټول، په دوه شيانو کې غوره شی لټول

تشريح: تحروا ليلة القدر من العشر الأواخر: تاسو د قدر شپه د رمضان په آخري لسو طاق شپو کې ولټوئ، ددې نه معلومه شوه چې د قدر شپه د روژې په مياشت کې بيا په آخرينيو لسو شپو کې په طاق شپو کې وي چې هغه: ۲۱، ۲۳، ۲۵، ۲۷ او ۲۹ شپې دي، دا شپې ځکه پټې ساتل شوي دي چې خلك په عبادت کې زيات کوشش وکړي

د قدر شپه په آخري طاق شپو کې وي

"وعنها رضي الله عنها: أَنَّ رسولَ اللهِ ﷺ قَالَ: تَحَرَّوْا لَيْلَةَ القَدْرِ فِي الوِتْرِ مِنَ العَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ" د عائشې ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د قدر شپه د رمضان په آخري لسو شپو کې ولټوئ. رواه البخاري

تشريح: ليلة القدر في الوتر من العشر الاواخر من رمضان: د قدر شپه د رمضان په آخري شپو کې ولټوئ، بيا په آخري طاق شپو کې بې ولټوئ، رسول الله ﷺ به په همدې وجه اعتکاف کولو، معتکف ته د قدر د شپې لټول آسان وي، ځکه چې هغه ټوله شپه په عبادت کې تيروي.

رسول الله ﷺ به د رمضان په آخري عشره کې ويښ پاتې کېدو او خپل کوروالا به يې هم راويښول

"وعنها، رضي الله عنها، قالت: كَانَ رسولُ اللهِ ﷺ إِذَا دَخَلَ العَشْرُ الأَوَاخِرُ مِنْ رَمَضَانَ" د عائشې ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ عادت به دا وو چې کله به د رمضان آخري لس ورځې شروع شوې، "أَحْيَا اللَّيْلَ، وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ، وَجَدَّ وَشَدَّ المِئْزَرَ" شپه به يې په عبادت ژوندی کړه، خپل کور والا به يې د عبادت لپاره راويښ کړل او خپله ملا به يې د عبادت لپاره وتړل. متفق عليه

لغوي تحقيق:

جد: جد يجد (ض، ن) ددې معنى ده: کوشش کول.

تشريح: إذا دخل العشر الأواخر من رمضان أحيي الليل وأيقظ أهله: کله چې به د روژې آخرينی لس ورځې شروع شوې، نو رسول الله ﷺ به په خپله هم راپاځېدو او ټوله شپه به يې د الله ﷻ په عبادت کې سبا کول او خپل کوروالا به يې راويښ کړل، د شپې به يې عبادت کولو، تلاوت کول، ذکر کول او لمونځ کول په دې کې به يې ټوله شپه تېره کړه، دا معمولات به پوره لس ورځې وو، دلته يو سوال پيدا کيږي هغه دا چې په يو روايت کې دي چې: "ما سهر جميع الليل كله" رسول الله ﷺ به ټوله شپه ويښ نه پاتې کېدو، ددې حديث نه معلوميږي چې ټوله شپه به ويښ وو؟ جواب دا دی چې دا خبره په عامو شپو کې ده، د رمضان آخري لس ورځې ترې مستثنی دي، "شد المئزر" رسول الله ﷺ به خپل ملابند وتړلو، مطلب دا

Maktaba Tul Ishaat. com

چې په دې اخري لسو شپو کې به رسول الله ﷺ حد درجه د خپل الله ﷻ په عبادت کې کوشش کولو. په دا چې دا کنايه ده ددې نه چې رسول الله ﷺ به په دې شپو کې د خپلو ازواج مطهرات سره کورولي نه کولو

رسول الله ﷺ به په اخري لسو شپو کې سخت محنت کولو

"وعنها، قالت: كَانَ رسولُ اللهِ ﷺ يَجْتَهِدُ فِي رَمَضَانَ مَا لَا يَجْتَهِدُ فِي غَيْرِهِ" د عائشې ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ عادت دا وو چې په رمضان کې به يې خومره په عبادت کې کوشش کولو دومره به يې په نورو ورځو کې نه کولو. "وَفِي العَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْهُ مَا لَا يَجْتَهِدُ فِي غَيْرِهِ" او بيا به يې په آخري لسو ورځو کې چې خومره کوشش کولو، دومره به يې په نورو ورځو کې نه کولو رواه مسلم

تشريح: مالايجتهد في غيره: دومره مشقت او محنت به چې رسول الله ﷺ په دې لسو اخري شپو کې کولو، داسې محنت به يې په نورو شپو کې نه کولو. هسې خو به رسول الله ﷺ په عامو شپو کې هم محنت کولو، ليکن په دې لسو شپو کې به يې نور زيات محنت کولو

د قدر د شپې دعاء

"وعنها، قالت: قُلْتُ: يَا رسولَ الله، أَرَأَيْتَ إِنْ عَلِمْتُ أَيُّ لَيْلَةٍ لَيْلَةُ القَدْرِ مَا أَقُولُ فِيهَا؟" د عائشې ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ ته ووېل: يا رسول الله ﷺ! که چېرته ماته الله ﷻ د قدر شپه ونښيي، نو زه پکې څنګه دعاء وکړم؟ "قَالَ: قُولِي: اللَّهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ العَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: بيا داسې ووايه: اې الله! ته بخښنه کونکی ذات يې، د بخښنې سره مينه لرې، ماته هم بخښنه وکړه! "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: قال: قولي: اللهم انك عفوٌ: د قدر په شپه کې رسول الله ﷺ ددې دعاء ښودنه وکړه، "اللهم انك عفو تحب العفو فاعف عنى" ژباړه: اې الله! تاسو معافي کونکي يئ، معافي خوښوئ، نو ماته هم معافي وکړئ، دا ډېره ستره جامع دعاء ده، په دې کې د دنيا او اخرت دواړو خير جمع دی. د الله ﷻ له طرفه بخښنه او مغفرت دومره لوی دولت دی چې ددې په مقابل کې دنيا هيڅ شی ده، په يو روايت کې دي چې د الله ﷻ نه د بنده د خير او عافيت سوال کول ددې نه غوره بل شی نشته.

باب فضل السواك وخصال الفطرة

د مسواک فضيلت او فطري خصلتونه

"عن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رسولَ الله ﷺ، قَالَ: لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي -أَوْ عَلَى النَّاسِ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: که چېرته ددې خبرې وېره نه وای چې بيا به زما په امت سختي شي او يا به داسې وفرمايل: په خلکو باندې به سختي شي، "لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ مَعَ كُلِّ صَلَاةٍ" نو ما به دوی ته حکم کړی وو چې هر لمانځه ته مسواک وهئ! متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: لولا أن أشق على أمتي: که ددې خبرې ويره راسره نه وای چې زما امت به په مشقت کې پرېوځي، نو ما به دوی ته حکم کړی وو چې تاسو د هر لمانځه لپاره مسواک وهئ، د رسول الله ﷺ د خپل امت سره بې حده زياته مينه وه، په دې بنياد رسول الله ﷺ حکم هم ورنه کړو چې هسې نه امت مې په تکليف کې اخته نه شي، که حکم يې کړی وای، نو امت به د ډېرې سستۍ له امله په دې عمل نه شو کولی، بيا به ګناهګار وو، لهذا اوس چې فرض نه دي، نو که څوک پرې عمل ونه کړي ګناهګار به نه وي، ليکن د سنت پرېښودونکی به ګڼل کيږي.

رسول الله ﷺ به چې له خوبه راپاڅېدو، نو بيا به يې هم مسواک وهلو

"وعن حُذَيْفَةَ ﷺ، قَالَ: كَانَ رسول الله ﷺ إذا قَامَ مِن النَّومِ يَشُوصُ فَاهُ بِالسواك" د حذيفه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله د خوب نه راپاڅېدو، نو خپله خوله مبارکه به يې په مسواک ووهله متفقٌ عَلَيهِ

"الشَّوصُ: الدَّلْكُ" د (الشوص) معنی ده وهل/ مږل

تشريح: يشوص فاه بالسواك: کله چې به رسول الله ﷺ له خوبه راببيدار شو، نو خپله خوله مبارکه به يې په مسواک پاکول، انسان چې کله له خوبه راپاڅيږي، نو د خولې خوند يې بدل وي، نو څکه چې به رسول الله ﷺ له خوبه راپاڅېدو، مسواک به يې وهلو، له خوبه په بيدارۍ کې مسواک وهل هم سنت دي

د تهجدو په وخت کې هم رسول الله ﷺ مسواک استعمال کړی دی

"وعن عائشة رضي اللّـــه عنها، قالت: كُنَّا نُعِدُّ لِرسولِ الله ﷺ سواكَهُ وَطَهُورَهُ، فَيَبْعَثُهُ اللهُ مَا شَاءَ أَنْ يَبْعَثَهُ مِنَ اللَّيْلِ" د عائشې ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې موږ به رسول الله ﷺ ته اوبه او مسواک تيارولو او کله چې به د شپې الله ﷻ دوی بيدارولو، نو پاڅېدو به، "فَيَتَسَوَّكُ، وَيَتَوَضَّأُ وَيُصَلِّي" نو مسواک به يې ووهلو، اودس به يې وکړو او لمونځ به يې وکړو رواه مسلم

تشريح: فيستوك ويتوضأ ويصلي: کله چې به رسول الله ﷺ له خوبه راپاڅېدو نو اول به يې مسواک ووهلو، بيا به يې اودس وکړو، بيا به په لمانځه ودرېدلو، په خوب سره د سږي په خوله کې بد بوی پيدا کيږي، ددې بدبويۍ ختمولو لپاره مسواک وهل ډېر مفيد دي، ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې ازواج مطهرات ﷺ به د رسول الله ﷺ مزاج ته کتل، رسول الله ﷺ به مسواک خوښولو، نو څکه به هغوی هم د وړاندې څخه ددې اهتمام کولو.

د مسواک کولو تاکيد

"وعن أنس ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: أَكْثَرْتُ عَلَيْكُمْ فِي السِّوَاكِ" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: خيال کوئ ما په تاسو باندې د مسواک متعلق ډېر تاکيد کړی دی. رواه البخاري

Maktaba Tul Ishaat. com

تشریح: په يو بل روايت کې دي چې: رسول الله ﷺ وفرمايل: ماته جبرئيل علیه السلام د مسواك دومره تاکید وکړو چې ماته د خپلو ژامو د خرابېدو وېره پيدا شوه، دغه شان د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې لمونځ ته مسواك ووهي، نو داسې لمونځ بغير مسواك وهلو نه اويا/ ۷۰ درجې زيات وي، علامه ابن نجيم رحمه الله فرمايي: که چېرته د يو ښار اوسېدونکي د مسواك وهلو نه انکار وکړي، نو موږ به د هغوی سره داسې جهاد کوو، لکه څرنګه چې د مرتدينو سره جهاد کولی شي

کورته د داخلېدو پرمهال هم رسول الله ﷺ مسواك وهلو

"وعن شريح بن هانئ، قَالَ: قلت لعائشة رضي الله عنها: بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ يَبْدَأُ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا دَخَلَ بَيْتَهُ؟" د شريح بن هانئ ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما يوه ورځ عائشې ﷺ ته وويل: رسول الله ﷺ به چې کله کور ته تشريف راوړو، نو شروع به يې په کوم شي کول؟ "قالت: بِالسِّوَاكِ" هغوی وويل: په مسواك باندې. رواه مسلم

تشریح: إذا دخل بيته قالت: بالسواك: کله چې به هم رسول الله ﷺ کور ته تشريف راوړو، نو شروع به يې په مسواك کول، په دې حديث کې تعليم دی چې خلکو ته پکار ده چې لکه څرنګه دوی د کور نه صفا راوځي، دغه شان کور ته هم صفا داخل شي، په دې حديث کې يوې بلې خبرې ته هم اشاره ده، هغه دا چې کله يو کس کور ته داخلېږي نو پکار ده چې تر ټولو وړاندې مسواك ووهي، ځکه چې په مسواك وهلو سره په خوله کې خوشبو پيدا کېږي او په دې وجه کورو الا سره ښه سلوك هم اضافه شي.

د راوي شريح بن هانئ ﷺ حالات:

اصل نوم يې شريح ﷺ دی، کنيت يې ابو المقدام دی، اصلاً يمني وو، ليکن په کوفه کې يې مستقل ژوند تېر کړو، د اميرالمومنين علي کرم الله وجهه په ملګرو کې وو، عموماً د خپل پلار نه روايت نقل کوي، د هغه نه علاوه عمر ﷺ او بلال ﷺ نه هم روايت نقل کوي، يحيى بن معين رحمه الله فرمايي چې ثقه راوي دی، د دوی ﷺ وفات د ابوحاتم سجستاني رحمه الله په قول په ۷۸ هجري کې شوی دی، خو چا قتل کړی وو.

رسول الله ﷺ په ژبه مبارکه هم مسواك وهلی دی

"وعن أبي موسى الأشعري ﷺ، قَالَ: دَخلتُ عَلَى النَّبيِّ ﷺ وطَرَفُ السِّواكِ عَلَى لِسَانِهِ" د ابو موسى اشعري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، ومې ليدل چې د مسواك سر د هغوی په ژبه باندې وو. متفقٌ عَلَيْهِ، وهذا لفظ مسلم

تشریح: طرف السواك على لسانه: د مسواك کناره/ طرف د رسول الله ﷺ په ژبه مبارکه باندې وو. ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې په ژبه مسواك وهل سنت دي

د مسواک کولو طريقه:

اول بايد پورته په ښي طرف ژامو باندې ووهل شي، بيا چپ طرف، صاحب حليه رحمه الله فرمايي په غاښونو باندې عرضاً مسواک وهل پکار دي او په ژبه باندې طولاً.

د مسواک لرگي:

د هر قسم لرگي نه مسواک جوړول جائز دي، خو چې نقصان پکې نه وي، د انار لرگي، بانس لرگي، ريحان او چنبيلي لرگي نه مسواک جوړول مکروه دي، په ټولو لرگو کې د پيلو لرگي غوره دي، ددې لرگي تعريف رسول الله ﷺ هم کړی دی، خپله رسول الله ﷺ او د هغه ملګرو هم استعمال کړی دی، ددې نه وروسته د زيتون لرگی ښه دی.

په مسواک وهلو سره الله ﷻ خوشحاليږي او خوله پاکيږي

"وعن عائشة رضي الله عنها: أَنَّ النبيَّ ﷺ، قَالَ: السواك مَطْهَرَةٌ لِلْفَمِ" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په مسواک سره خوله پاکيږي، «مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ» او الله ﷻ ورسره راضي کيږي "رواه النسائي وابنُ خُزَيْمَةَ في صحيحهِ بأسانيدَ صحيحةٍ".

تشريح: د مسواک وهلو ډيرې فايدې دي، مثلاً: "السواك مطهرة للفم" په مسواک سره خوله صفا کيږي، په مسواک سره فراخي او قوت پيدا کيږي، الله ﷻ په آسانه رزق ورکوي، خوله ورسره خوشبوداره کيږي، د سر درد ورسره ښه کيږي، نظر ورسره تيزيږي، معده ورسره ښه کيږي، بدن ته طاقت حاصليږي، حافظه او عقل ورسره تيزيږي، د عرش پورته کوونکي پرښتې دده لپاره دعاګانې کوي، علماء ليکي: د مسواک ادنی فايده دا ده چې د خولې بدبويي ورسره ختميږي او اعلی فايده يې دا ده چې په آخر کې ورته د شهادت کلمه نصيب کيږي.

فطري شيان

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبيِّ ﷺ، قَالَ: الفِطْرَةُ خَمْسٌ، أَوْ خَمْسٌ مِنَ الفِطْرَةِ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د فطرت پنځه شيان دي او يا يې داسې وفرمايل: پنځه شيان د فطرت څخه دي: "الخِتَانُ" سنتي کول، "وَالاسْتِحْدَادُ" د نامه لاندې ويښته پاکول، "وَتَقْلِيمُ الأَظْفَارِ" نوکان کاټول، "وَنَتْفُ الإبطِ" او د تخرګ لاندې ويښتان ويستل، "وَقَصُّ الشَّارِبِ" او بريتونه لنډول متفقٌ عَلَيْهِ

"الاستحداد: حَلْقُ العَانَةِ، وَهُوَ حَلْقُ الشَّعْرِ الَّذِي حَوْلَ الفَرْجِ" د استحداد نه مراد د عورت نه شاوخوا ويښتان دي

تشريح: په دې حديث کې پنځه شيان داسې ذکر شوي چې عين د فطرت سره موافق دي، په دې کې پنځه ذکر شوي دي او په يو بل روايت کې لس ذکر شوي دي، په دې کې هيڅ تعارض نشته، ځکه چې په دې کې پنځه ذکر دي، ليکن د لسو نفي پکې نشته

اول نمبر: ختنه ده، ختنه هغې غوښې ته وايي چې په اندام مخصوصه (د نارينه په مخکينې

Maktaba Tul Ishaat. com

شرمګاه د پاسه وي، زياتي وي او د ذکر سر بې پټ کړی وي، ختنه د اسلام په شعائرو کې داخل عمل دی، علامه شامي رحمه الله فرمايي "الأصل أن الختان سنة وهو من شعائر الله وخصائصه فلو اجتمع اهل بلدة على ترکه حاربهم الإمام" اصل جبره دا ده چې ختنه سنت ده، د اسلام د شعائرو څخه ده، دا د دين اسلام يو خصوصيت دی، که چېرته د يو ښار والا خلك په دې راجمع شي چې دوی بالکل ختنه پرېږدي نو د دوی سره به د زماني امام جنګ کوي

دويم نمبر: فطري شی (استحداد) دی، استحداد دې ته وايي چې د نوم لاندې وېښتان پاک کړي، غوره دا ده چې په پتري (ماشين چاړې باندې وېښتان پاک کړی شي، علامه ابن قدامه رحمه الله فرمايي "الحلق افضل لموافقته الخبر وقد قال ابن عمر رضي الله عنه: هو مما أحدثوا من النفيسة يعني النورة" د نوم لاندې وېښتان خريول افضل دي، ځکه چې د حديث سره موافقت راځي، ابن عمر رضي الله عنه فرمايي: نوره (چونه) استعمالول انساني عمل دی، کوم چې په ترقياتو کې حسابيږي

دريم نمبر: بل تقليم الاظفار دی: نوکان کاټول، دا هم فطري شی دی، نوکان چې کاټ کړی شي نو بيا يې دفن کول افضل دي، بلکې د بدن نور وېښتان، نوکان يا هر هغه شی چې د بدن سره تعلق لري هغه په خمکه کې ښخول غوره دي

څلورم نمبر: نتف الابط دی: يعنې د تخرګ وېښتان ويستل، د تخرګ وېښتان خريول او ويستل دواړه جائز دي، ليکن ويستل يې غوره دي، کوم کس چې په شروع کې عادت وي چې هغه يې وباسي، نو ويستل يې ښه دي، اول دې ښی طرف وېښتان وباسي، بيا د چپ طرف، د ضرورت پرمهال په بل کس يې هم ويستلی شي

پنځم نمبر: وقص الشوارب: بريتونه کاټول دي، دا هم سنت دي، چې ښه کاټ کړی شي نو ډېر به ښه وي، علامه انور شاه کشميري رحمه الله فرمايي چې "الإحفاء أفضل من الحلق" بريتونه کاټول (کمول غوره دي په نسبت سره د بېخ نه خرېيول يا ويستلو څخه.

لس شيان فطري دي

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: قَالَ رسول الله ﷺ: عَشْرٌ مِنَ الفِطْرَةِ: قَصُّ الشَّارِبِ، وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: لس شيان په فطرت کې داخل دي: بريتونه کمول، ږيره پرېښودل، "وَالسِّوَاكُ، وَاسْتِنْشَاقُ المَاءِ، وَقَصُّ الأَظْفَارِ" مسواك وهل، پوزې ته اوبه اچول او نوکونه کاټول، "وَغَسْلُ البَرَاجِمِ، وَنَتْفُ الإِبِطِ" د ګوتو بندونه وينځل او د تخرګ لاندې وېښتان ويستل، "وَحَلْقُ العَانَةِ، وَانْتِقَاصُ المَاءِ" د نامه لاندې وېښتان کاټول او استنجاء کول، "قَالَ الرَّاوِي: وَنَسِيتُ العَاشِرَةَ إِلاَّ أَنْ تَكُونَ المَضْمَضَةَ" راوي فرمايي زما څخه لسم شی هېر شو، کېدی شي چې هغه خولې ته اوبه اچول وي، "قَالَ وَكِيعٌ - وَهُوَ أَحَدُ رُوَاتِهِ - انْتِقَاصُ المَاءِ: يَعْنِي الاسْتِنْجَاءَ" وکيع رحمه الله فرمايي (هغه يو د رواتو څخه دی) د (انتقاص الماء) نه مراد استنجاء کول دي. رواه مسلم

"البَرَاجم: بالباء الموحدة والجيم: وهي عُقَدُ الأَصَابِعِ" (البراجم) نه مراد د ګوتو سرونه وينځل دي، "وَإعْفَاءُ اللِّحْيَةِ) مَعْنَاهُ: لَايَقُصُّ مِنْهَا شَيْئاً" د (اعفاء اللحية) نه مراد ږيره پوره پرېښودل، څه شی ترې نه کمول.

تشريح: دا لس شيان فطري دي، يعني د انسان په فطرت کې داخل دي، د ټولو انبياوو عَلَيْهِمُ السَّلَام سنت طريقه ده، ټولو په دې باندې عمل کړی دی، کوم چې په لاندې ډول ذکر کيږي:

(۱) بريتونه کاټول. دې باره کې مولانا زکريا رَحِمَهُ الله فرمايي: د علماوو او سلف صالحينو يوه ډله په دې طرف ده چې بريتونه د بيخ نه ختمول سنت دي، ليکن د اکثره علماوو رايه دا ده چې لنډول يې سنت دي، ليکن په لنډولو کې هم بايد داسې طريقه اختيار کړی شي چې د بيخ نه ختمولو ته نژدې شي، د بريتونو په کمولو کې بايد د ښي طرف څخه شروع وشي.

(۲) ږيره پرېښودل ږيره پرېښودل واجب دي، په ګڼ شمېر رواياتو کې ددې ترغيب راغلی دی، دې مسئله باندې د څلورو واړو امامانو اتفاق دی چې ږيره پرېښودل واجب دي، مثلاً د احنافو مستند کتاب درمختار کې دي چې: "کذا يحرم على الرجل قطع لحيته" دغه شان په سړو باندې دا خبره حرامه ده چې هغوی خپلې ږيرې وخريي، د شافعي مسلك مستند کتاب (الام) کې دي چې امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: ږيره خريل حرام دي، امام اوزاعي رَحِمَهُ الله فرمايي: صحيح خبره دا ده چې بې عذره ټوله ږيره خريل حرام ده، د مالکي مسلك مستند کتاب: (شرح رساله) کې دي چې: "ويمنع حلقها الشيب منها ونتفه ويحرم عقدها وضفرها" ږيره خريل حرام دي، په دې کې سپين ويښتان ويستل يا خريل هم حرام دي، ږيره کې غوټې اچول يا ددې نه کمڅې جوړول هم حرام دي، د حنبلي مسلك مستند کتاب: (الاقناع) کې دي چې: "واعفاء اللحية ويحرم حلقها" ږيره پرېښودل واجب دي او خريل يې حرام دي.

(۳) مسواك کول: هم سنت دي او يو فطري عمل دی، دې باره کې ګڼ شمېر روايات وارد شوي دي، په يو روايت کې دي چې کوم لمونځ د مسواك وهلو سره وشي، هغه پوره اويا درجې زيات وي په هغه لمونځ چې بې مسواك وهلو لمونځ وشي، مسواك بايد د نرم لرګي نه جوړ شي.

(۴) څلورم نمبر: په پوزه کې اوبه اچول دي، په دې سره پوزه پاکيږي ليکن د روژې په حالت کې بايد په پوزه کې داسې شان سره اوبه وانچول شي چې دننه لاړې شي او روژه ورسره ماته شي، په يو بل روايت کې دي چې: "بالغ فى الاستنشاق إلا أن تكون صائماً" په پوزه کې ښې زياتې اوبه واچوئ چې صفائي يې وشي، ليکن که تاسو روژه وئ نو بيا خير دی، (۵) نوکان کاټول: دا هم په سنت او فطري اعمالو کې داخل دي، په دې کې شريعت کومه پابندي نه ده لازم کړې چې د کومې ګوتې نه يې شروع کړي جائز دي او په کومه ګوته باندې يې چې ختموي جائز دي، ليکن د ښي طرف نه يې شروع کول سنت طريقه ده، مولانا خليل احمد سهارنپوري رَحِمَهُ الله فرمايي چې: "ولم يثبت فى كيفيته شئ ولا فى تعين يوم له" چې د نوکانو په کاټولو کې کوم کيفيت منقول نه دی او نه کومه ورځ ورله متعين ده، (۶) جوړونه وينځل، د بدن هر هغه جوړ او بند چېرته چې د خيرنوالي احتمال وي هغه صفا کول، مولانا منظور

Maktaba Tul Ishaat. com

احمد نعماني رحمه الله فرمايي: د بدن صفائي او خپل هيئت او صورت صحيح كول، د هر هغه شي ازاله كول او د هغه شي نه اجتناب كول چې د انسان كركه ترې كيږي، دا ټول په فطري احكاماتو كې داخل دي او د انبياوو عليهم السلام طريقه ده، (۷) د بغل وېښتان ويستل، د بغل وېښتان ويستل سنت طريقه ده، ليكن دا هغه څوك كولی شي چې د شروع نه په ويستلو عادت وي، ځكه چې د اول نه پرې عادت نه وي او بيا يې وباسي نو انسان زخمي كيږي، ليكن كه ټول او په بليډ (پتري) يې ختمول هم جائز دي، علامه شامي رحمه الله فرمايي: كه وېښتان وويستل شي، نو ددې يو څو فايدې دي: يو دا چې د بغل تخرګ بوی ورسره ختميږي، بل دا چې وېښتان په ډېر وخت كې نه راوځي، (۸) بل فطري عمل د نامه لاندې وېښتان ويستل دي، په دې كې اصل دا دي چې د نامه نه لاندې وېښتان وويستل شي، كه يو كس يې په پتري يا په چونه وغيره سره صفا كړي، نو هم جائز دي، علامه شامي رحمه الله د فتاوی هنديه نه نقل كړي دي چې: "لو عالج بالنورة يجوز" كه چېرته يې په نوره وغيره سره ختم كړي، نو هم جائز دي، (۹) بل فطري عمل استنجاء كول دي، دا هم په فطري امورو كې داخل دي، كه چېرته نجاست د خپل مخرج نه زيات نه وي، نو بيا استنجاء كول سنت طريقه ده، كه چېرته د خپل مخرج نه زيات نجاست وي نو بيا استنجاء كول ضروري دي، استنجاء هم په فطري اعمالو كې داخله ده، په دې كې اوبه او كاڼي استعمالول جائز دي، كه كاڼي يا اوبه استعمال كړی شي نو هم جائز دي، كه نجاست د خپل مخرج نه زيات راوتلی وي، نو په اوبو يې وينځل ضروري دي، (۱۰) لسم فطري عمل خولې ته اوبه اچول دي، دا هم په فطري عمل كې داخل دي، خولې ته اوبه اچول په اوداسه كې سنت او په غسل كې فرض دي، د روژې په حالت كې غرغرې كول مكروه دي، ځكه چې د اوبو تيرېدو احتمال پكې شته.

برېتونه كات كړئ او ږيره پرېږدئ!

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ، قال: أَحْفُوا الشَّوَارِبَ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی "وَأَعْفُوا اللِّحَى" او ږيرې پرېږدئ' متفق عليه

هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: برېتونه كم كړئ' "وَأَعْفُوا اللِّحَى" او ږيرې پرېږدئ' متفق عليه

تشريح: احفوا الشوارب: برېتونه كټ كړئ، په دې اړه مولانا انور شاه كشميري رحمه الله فرمايي: د برېتونو وېښتان كه په قينچې سره وتراشل شي او كم كړل شي دا افضل دي ددې نه چې برېتونه د بېخه وويستل شي يا تر بېخه كټ كړل شي

د څلورو واړو امامانو په نزد ږيره كلول حرام دي:

علماء فرمايي: لكه څرنګه چې ږيره خريول حرام دي، دغه شان د يو موټي نه يې زيات كټول هم حرام دي، په دې باندې د ائمه اربعه وو اجماع ده، مولانا منظور احمد نعماني رحمه الله فرمايي: د يو موټي په اندازه تحديد اګرچې په كوم حديث كې صراحتاً نشته، غالباً ددې وجه دا كېدای شي چې د صحابه كرامو نه د يو موټي په اندازه ږيره پرېښودل د ټولو نه ثابت دي او ددې نه كم ږيره پرېښودل د يو صحابي نه هم ثابت نه دي

باب تأكيد وجوب الزكاة وبيان فضلها وما يتعلق بها

د زکات فرضيت او د هغې فضيلت

"قَالَ اللهُ تعالیٰ" الله ﷻ فرمايي "وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ" د لمانځه پابندي وکړئ او زکاة ورکړئ [البقرة:۴۳]

تشريح: وأقيموا الصلوة: ددې مطلب دا دی چې بايد داسې لمونځ وکړی شي چې په هغې کې خشوع او خضوع وي، خشوع او خضوع دېته وايي چې د لمانځه ارکان لکه فرض، واجب، مستحب او د وخت جماعت وغيره پابندي وکړي، ددې ټولې مجموعې نوم (اقيموا الصلوة) دی، لفظ د "وآتوا الزكاة" د زکی يزکي نه مشتق دی، ددې معنی ده نمو، مطلب دا چې په زکات ورکولو سره باقي مال حسي يا معنوي اضافه کيږي، حسي مطلب دا چې الله ﷻ د مال مقدار زيات کړي او معنوي مطلب دا چې پاتې مال په غلطو ځايونو کې نه مصرف کيږي.

د الله تعالیٰ اطاعت په اخلاص سره پکار دی:

"وقال تعالیٰ" بل ځای الله ﷻ فرمايي "وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ" دوی ته امر نه وو شوی مګر ددې خبرې چې دوی به صرف د يو الله ﷻ عبادت کوي او خالص کونکي به وي د الله ﷻ دين لره، "حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ" په داسې حال کې به حق ته مائل وي او د لمانځه پابندي به کوي او زکاة به ورکوي او دا مضبوط او پوره دين دی [البينة:۵]

تشريح: په دې آيت کې اهل کتابو ته خطاب دی چې دوی ته په خپلو خپلو کتابونو کې دا خبره واضحه وه چې د نبي کريم ﷺ راتلو نه وروسته به دوی په نبي کريم ﷺ پاندې ايمان راوړي او د هغه په کتاب باندې به عمل کوي، (مطلب دا چې سابقه کتابونه به منسوخ وي) "وذلك دين القيمة" دلته په ظاهره لفظ د (قيمة) د (کتب) لپاره صفت واقع دی، د ځينو په نزد د قلت لپاره صفت دی، مطلب دا چې اهل کتابو ته د دوی په کتابونو کې دا خبره واضحه وه چې دوی به خپل عبادت او اطاعت خالص د الله ﷻ د رضا په خاطر کوي، لمونځ به کوي او زکات به ورکوي، دا عبادت کول نه صرف دا چې د دوی خصوصيت وو، بلکې د هر ملت او هر قوم بلکې په ټولو اسماني کتابونو کې دا خبره موجوده وه، خلاصه دا چې محمدي شريعت اهل کتابو ته څه احکام ورکړي دي، هغه احکام بعينه هم هغه دي کوم چې وړاندې دوی ته د دوی په کتابونو کې ورکړل شوي وو، دوی ته پکار دي چې دغه احکام دوی ومني، که چېرته کوم احکام مختلف وای، نو دوی ته د مخالفت کولو څه نا څه بهانه هم په لاس ورتله ليکن اوس هغه هم نشته.

تاسو د دوی د مال نه زکاة اخلئ!

"وقال تعالیٰ" الله ﷻ فرمايي "خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا" واخله اې پيغمبره ﷺ! د

Maktaba Tul Ishaat. com

دوی د مالونو نه صدقه، ځکه چې په دې سره د دوی مالونه هم صفا کيږي او د نفس تزکيه يې هم کيږي [التوبة:۱۰۳].

تشريح: علامه ابن کثير رحمه الله د آيت مطلب داسې بيانوي چې په دې آيت کې رسول الله ﷺ ته خطاب شوی دی چې تاسو ددې خلکو نه صدقات واخلئ چې د دوی د نفس تزکيه وشي. ددې نه معلومه شوه چې زکاة او صدقات ورکول د انسان د اخلاقو او طهارت جوړولو يوه ډېره موثره ذريعه ده، بل دا چې څوک صدقه ورکوي هغه بې په دې نيت ورکوي چې دی په خپل ايمان کې رښتونی دی، د ټول امت په دې باندې اجماع ده چې په دې آيت کې اګر چې خطاب رسول الله ﷺ ته دی، ليکن په دې سره دوی مخصوص نه دي بلکې هر هغه امير مراد دی چې د يو قوم مشر جوړ شي، هغه هم په دې آيت سره مخاطب دی، د هغه په فرائضو کې دا خبره داخله ده چې د مسلمانانو زکاة او صدقات وصول کړي، په صحيح ځای باندې يې ولګوي، په دې باندې واضح دليل د ابوبکر رضي الله عنه زکاة او د صدقات وصولول دي.

د اسلام پنځه ارکان دي

"وعن ابن عمر رضى الله عنهما: أنّ رسول الله ﷺ، قَالَ: بُنِيَ الإسْلَامُ عَلى خَمْسٍ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د اسلام بنياد په پنځو شيانو ولاړ دی. "شَهَادَةِ أنْ لَا إلٰهَ إلَّا اللهُ، وَأنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ" ددې خبرې شاهدي ورکول چې نشته لائق د عبادت سوا د الله جل جلاله نه او محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دی، "وَإقَامِ الصَّلَاةِ، وَإيْتَاءِ الزَّكَاةِ، وَحَجِّ الْبَيْتِ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ" د لمانځه پابندي کول، زکاة ورکول، د بيت الله حج کول او روژه نيول متفقٌ عَلَيْه

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب الامر والمحافظة على الصلوات المكتوبات) کې تېر شوی دی، امام نووي رحمه الله دلته يو ځل بيا ذکر کړو چې په دې کې د زکاة ذکر راغلی ؤ، کوم کس چې د نصاب څښتن وي، هغه ته پکار ده چې کال ورباندې تېر شي، نو زکات ورکړي

رسول الله ﷺ يو کوچي ته د اسلام تعليم ورکړو

"وعن طَلْحَةَ بن عبيد الله رضي الله عنه، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إلى رسولِ الله ﷺ مِنْ أهْلِ نَجْدٍ ثَائِرُ الرَّأسِ نَسْمَعُ دَوِيَّ صَوْتِهِ وَلَا نَفْقَهُ مَا يَقُوْلُ" طلحه بن عبيد الله رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کس د اهل نجد نه رسول الله ﷺ ته په داسې حال کې حاضر شو چې د سر وېښته يې پراګنده ؤ، د هغه د خبرو اواز مو اورېدو، خو موږ پرې نه پوهېدو چې څه وايي، "حَتّٰى دَنَا مِنْ رسولِ الله ﷺ، فَإذَا هُوَ يَسْألُ عَنِ الإسْلَامِ، فَقَالَ رسولُ الله ﷺ" تر دې چې رسول الله ﷺ ته نږدې راغلو، نو هغه د دين اسلام باره کې پوښتنې کولې، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل "خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ، قَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُنَّ؟ قَالَ: لَا، إلَّا أنْ تَطَوَّعَ" پنځه وخته په شپه او ورځ کې در باندې فرض دي، هغه کس ووېل: ددې نه علاوه په ما باندې نور شته؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: نه! مګر دا چې که نفلي

عبادت کوې هغه ځانته خبره ده، "فَقَالَ رسولُ الله ﷺ: وَصِيَامُ شَهْرِ رَمَضَانَ قَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُ؟ قَالَ: لَا، إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: د رمضان د مياشتې روژې درباندې فرض دي، هغه کس وويل: ددې نه علاوه راباندې نورې فرض شته؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل چې نه! مګر دا چې که ته نفلي روژې نيسې هغه ځانته خبره ده، "قَالَ: وَذَكَرَ لَهُ رسولُ الله ﷺ الزَّكَاةَ، فَقَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا؟ قَالَ: لَا، إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ" راوي وايي: دغه شان نبي کريم ﷺ ورته زکاة هم ذکر کړو، هغه کس وويل: ددې نه علاوه نور زکاة راباندې شته؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل نه! مګر دا چې که ته نفلي صدقې ورکوې، هغه ځانته خبره ده، "فَأَدْبَرَ الرَّجُلُ وَهُوَ يَقُولُ: وَاللهِ لَا أَزِيدُ عَلَى هَذَا وَلَا أَنْقُصُ مِنْهُ، فَقَالَ رسولُ الله ﷺ: أَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ" هغه سړی لاړو، په شا روان شو او د ځان سره يې دا خبره کول چې قسم په الله ﷻ! ددې نه به نه زيات شم او نه به کم شم، رسول الله ﷺ وفرمايل: دا سړی کامياب شو، که چېرته يې رښتيا ويلي وي. متفق عليه

لغوي تحقيق:

دوي صوته: د ږغ کشار، اواز، غوراري

تشريح: جاء رجل: يو کس راغلو، ددې نه مراد څوک دی؟ د ځينو محدثينو په نزد ضمام بن ثعلبه دی، ليکن علامه نووي رحمه الله او انور شاه کشميري رحمه الله فرمايي: په حديث کې ضمام بن ثعلبه مراد نه دی، بلکې ددې نه بل کوم کس مراد دی چې مبهم دی، "ثائر الرأس" د سر ويښتان يې بير وو، ددې نه معلوميږي چې هغه کس د کوم لرې ځای نه په سفر راغلی وو، "يسأل عن الاسلام" د اسلام باره کې يې پوښتنې کولې، دلته يو سوال پيدا کيږي هغه دا چې د شهادتين باره کې يې ولې پوښتنې ونه کړې؟ جواب دا دی چې د اسلام نه مراد شرائع الاسلام دي، ځکه يې د شهادتين ذکر ونه کړو، په يو بل روايت کې دي چې: "فأخبره شرائع الاسلام" د شرائع الاسلام باره کې يې هغه ته خبر ورکړو چې د اسلام راوړلو نه وروسته کوم کوم شيان په هغه فرض دي.

سوال: په دې حديث کې د حج ذکر نشته دا نور وارکانو ذکر شته؟

جواب: دا د راوي تصرف دی، رسول الله ﷺ د حج ذکر کړی وو، ليکن راوي هغه ذکر نه کړو، يا دا چې تر دې مهال حج هيله فرض نه وو

والله لا أزيد على هذا ولا أنقص منه: په الله ﷻ قسم! چې زه به په هغه باندې نه زياتی وکړم او نه کمی.

سوال: د اسلام احکامات ددې نه هم سېوا شته، نو هغه ولې وويل چې صرف په دې خبرو به عمل کوم، نه به په دې کې څه کمی کوم او نه به څه نقصان کوم؟

جواب: نفي د يو شي کيږي، ليکن په کلام کې د مبالغې پيدا کولو لپاره د هغه ضد هم کله کله بيانولی شي، مثلاً: يو کس سامان اخلي او هغه دوکاندار ته وايي چې په دې سامان کې څه کمی زياتی کېدی شي او که نه؟ ظاهره ده چې مراد ترې کمی دی، زياتی مراد نه دی، دلته هم کمی مراد دی

Maktaba Tul Ishaat. com

چې په دې کې په کمې نه کوم، زياتی به کوم، "أفلح الرجل إن صدق" دغه کس کامياب شو، که رښتيا يې ووېلي وي، کله چې هغه کس لاړو، نو رسول الله ﷺ دغه جمله وفرمايل، د هغه په وړاندې يې دا جمله ونه فرمايل يا دا وجه ده چې هسې نه په هغه کې غرور او تکبر پيدا نشي يا دا چې د هغه جنتي کېدو زيری ورو سته راغلو.

د راوي طلحه بن عبيد الله رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې طلحه رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې عبيد الله دی، کنيت يې ابو محمد دی، فياض او خير يې لقبونه دي، د مور نوم يې صعبه ده، د طلحه رضي الله عنه نسب د رسول الله ﷺ سره په شپږم پشت باندې ملاګيږي، د رسول الله ﷺ د هجرت نه څلرويشت يا پنځه ويشت کاله وړاندې پيدا شوی وو، د اتلسو کالو په عمر کې بصرې ته لاړو، د ابوبکر رضي الله عنه په دعوت باندې مسلمان شو، د بدر د جهاد پرمهال په مدينه منوره کې وو، ددې نه علاوه نورو ټولو جهادونو کې يې شرکت کړی دی، په بيعت رضوان کې يې هم شرکت کړی دی، د دوه خليفه ګانو په عهد کې يې په جهادونو کې شرکت کړی دی، دوی حد درجه زيات سخي وو، فقيرانو او غريبانانو خلکو ته به يې همېش دروازه خلاصه وه، قيس بن أبي حازم فرمايي: ما د طلحه رضي الله عنه نه زيات سخي بل کس نه دی ليدلی، الله ﷻ ډېر زيات مال ورکړی وو، هره ورځ به يې زر دينار ګټل، په جنګ جمل کې شهيد شو، په دې وخت کې د دوی رضي الله عنه عمر دوه شپېته يا شپږ شپېته کاله وو، په دې ميدان کې مدفون شو، دلته به اوبه جمع کيدلې، چا په خوب کې وليدلو چې وايي زما قبر ددې ځای نه بدل کړئ، نو عبد الله بن عباس رضي الله عنه د ابوبکر رضي الله عنه ځای په لس زره درهمه واخيستلو او هلته يې دده قبر منتقل کړو، دومره زيات وخت تېرېدو سره د دوی بدن بالکل محفوظ وو، تردې چې د سترګو په مينځ کې يې چې کوم کافور ورته لګولی وو، هغه هم محفوظ وو، د دوی نه ۳۸ روايات نقل دي، په بخاري او مسلم کې ترې روايات نقل دي، بخاري په دوه احاديثو کې او مسلم په درې احاديثو کې منفرد دی

د اسلام دعوت په مزه مزه ورکول پکار دي

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ بعث مُعاذاً رضي الله عنه إلى اليمن، فقال: ادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ"

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ معاذ رضي الله عنه يمن ته وليږلو، ورته يې وفرمايل: دا خلک دې خبرې ته راوبله چې دوی شاهدي ورکړي چې نشته لائق د عبادت سيوا د الله ﷻ او زه د الله ﷻ پېغمبر او رسول يم، "فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ تَعَالَى افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ" که چېرې دا خبره دوی درسره ومنې نو بيا ورته ووايه چې الله ﷻ په دوی باندې پنځه وخته لمونځ په شپه او ورځ کې فرض کړی دی، "فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذَلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ، وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ" که دا خبره هم درسره تسليم کړي نو بيا ورته ووايه چې په دوی باندې زکاة فرض دی چې د مالدارو څخه به اخيستل کيږي او په غريبانانو باندې به تقسيميږي. متفق عليه

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب المحافظة على الصلوات المكتوبات) کې تېر شوی دی، دلته د زکاة اهميت ښودلو لپاره او مالداره خلکو نه اخيستلو او په فقيرانو باندې د تقسيم مسئله واضحه شوه. بل په دې حديث کې د دعوت او تبليغ يو حکيمانه اسلوب بيان شو چې د دين دعوت په مزه مزه ورکول پکار دي، کله چې د دين په يو جزء باندې عمل وشي، بيا د بل جزء دعوت ورکول پکار دي، بيا د بل او بل او داسې نور...

په ژبه باندې د کلمې په اقرار سره جان او مال محفوظ دی

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: أُمِرْتُ أنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أنْ لاَ إلهَ إلاَّ اللهُ، وأنَّ مُحَمَّداً رسولُ الله" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ما ته دې خبرې حکم شوی دی چې زه به تر هغه پورې د خلکو سره جهاد کوم چې تر څو پې دې خبرې شاهدي نه وي ورکړې چې نشته لائق د عبادت سوا د الله ﷻ نه او محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی، "وَيُقِيمُوا الصَّلاةَ، وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ، فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءهُمْ وَأمْوَالَهُمْ" او پابندي د لمانځه وکړي او زکاة ورکړي، کله چې دوی دا کار وکړي، نو د دوی ځانونه او مالونه زما څخه محفوظ شول. "إلاَّ بِحَقِّ الإسْلاَمِ، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ" مګر دا چې د اسلام حق ورپورې شي نو بيا به ترېنه حق اخيستلی شي او د دوی حساب کتاب په الله ﷻ باندې دی. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: دا حديث هم وړاندې په (باب تحريم الظلم) کې تېر شوی دی، علامه نووي رحمه الله دلته يو ځل بيا راوړو، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې کوم خلکو زکاة نه ورکولو، د داسې خلکو په خلاف رسول الله ﷺ د جهاد حکم فرمايلی دی، که دوی زکاة ورکول شروع کړي، نو د دوی مالونه او ځانونه به محفوظ شي.

د رسول الله ﷺ د وفات نه وروسته په عربو کې ځينې خلک مرتد شول

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: لَمَّا تُوُفِّيَ رسولُ الله ﷺ، وَكَانَ أبُو بَكْرٍ رضي الله عنه، وَكَفَرَ مَنْ كَفَرَ مِنَ العَرَبِ، فَقَالَ عُمَرُ رضي الله عنه: كَيْفَ تُقَاتِلُ النَّاسَ وَقَدْ قَالَ رسولُ الله ﷺ: أُمِرْتُ أنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لاَ إلهَ إلاَّ اللهُ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې کله رسول الله ﷺ وفات شو او ابوبکر رضي الله عنه خليفه شو، نو د عربو ځينې خلک مرتد شول او د اسلام نه واوړېدل، ابوبکر رضي الله عنه ورسره د جهاد اعلان وکړو، عمر رضي الله عنه ورته وفرمايل: تاسو څنګه د داسې خلکو سره جهاد کوئ چې دې شاهدي ورکوي چې نشته لائق د عبادت سوا د الله ﷻ نه او محمد ﷺ د هغه رسول دی، څکه چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: تر هغه به زه د خلکو سره جهاد کوم تر څو چې دوی د دې خبرې شاهدي نه وي ورکړې چې نشته لائق د عبادت سوا د الله ﷻ نه، "فَمَنْ قَالَهَا فَقَدْ عَصَمَ مِنِّي مَالَهُ وَنَفْسَهُ إلاَّ بِحَقِّهِ، وَحِسَابُهُ عَلَى اللهِ" کله چې دوی د دې ګواهي ورکړي نو د دوی مالونه او ځانونه زما څخه محفوظ پاتې شول، مګر په حق سره او د دوی حساب په الله ﷻ باندې دی، "فَقَالَ أبُو بَكْرٍ: وَاللهِ لأُقَاتِلَنَّ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الصَّلاةِ وَالزَّكَاةِ" ابوبکر رضي الله عنه وفرمايل: قسم په خدای! زه به د هغه چا سره جهاد کوم چې د

Maktaba Tul Ishaat. com

لمانځه او د زکاة په مينځ کې فرق راولي. "فَإِنَّ الزَّكَاةَ حَقُّ الْمَالِ، وَاللهِ لَوْ مَنَعُونِي عِقَالًا كَانُوا يُؤَدُّونَهُ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ لَقَاتَلْتُهُمْ عَلَى مَنْعِهِ" ځکه چې زکاة د مال حق دی، قسم په الله ﷻ که دوی زما څخه يوه د اوښ رسی هم په کړي او ماته يې په زکاة کې رانه کړي کومه چې به دوی رسول الله ﷺ ته ورکول، نو په دې باندي به هم ورسره جهاد کوم چې دوی ماته دغه رسی نه راکوي. "قَالَ عُمَرُ ﷺ: فَوَاللهِ مَا هُوَ إِلَّا أَنْ رَأَيْتُ اللهَ قَدْ شَرَحَ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ لِلْقِتَالِ، فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ" عمر ﷺ وفرمايل: قسم په الله، ما وليدل چې د ابو بکر ﷺ سينه الله ﷻ د جهاد لپاره خلاصه کړه، نو په دې خبره زه پوه شوم چې دا خبره (جهاد) کول حق دي. متفق عليه

تشريح: كفر من كفر من العرب: د عربو ځينې خلک کافران شول، علماوو ليکلي دي چې د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته څلور قسمه ارتداد شروع شو: (۱) بت پرستي شروع شوه، (۲) د توحيد قائل وو، ليکن د رسالت نه منکر وو، د دروغو پيغمبران پيدا شول، (۳) د نفس زکاة نه يې انکار کولو، ويل به يې چې دا زکات د نبي سره خاص وو، د نبي عليه السلام د وفات وروسته اوس زکاة نشته، (۴) خليفه ته يې د زکاة ورکولو څخه صفا انکار وکړو، ويل به يې چې موږ چاته وغواړو زکاة به ورکوو.

علامه ابن حجر رحمه الله فرمايي: "كفر من كفر من العرب" ته مجازاً کافر ويل شوي دي، کنه ټول کافر نه وو، اولنی دوه طبقې حقيقتاً کافران وو، آخريني دوه طبقو ته کافر وويل شو، ځکه چې دوی هم کفر ته نږدې وو.

د ابوبکر ﷺ جهاد کول:

أمرت أن أقاتل الناس: زه به د خلکو سره تر هغه پورې جهاد کوم، مطلب دا چې لکه څرنګه د لمانځه نه انکار کفر دی، که څوک د لمانځه نه انکار وکړي او په پوهولو سره هم پوه نه شي، نو بيا به هغه قتل کولی شي، دغه شان که څوک د زکاة نه انکار وکړي او هغه پوه کړل شي ليکن نه پوهيږي نو بيا به هم قتلولی شي، ځکه چې لمونځ بدني عبادت دی او روژه مالي عبادت دی.

علامه انور شاه کشميري رحمه الله فرمايي: عمر ﷺ ته چې په شروع کې کوم شک وو، د هغې منشاء دا وه چې هغوی د واقعې په تشخيص کې اختلاف درلود، عمر ﷺ دا ګڼل چې مانعين زکاة صرف د يو عمل نه بغاوت کوي او دا يو خان ته جرم دی، د حالاتو نزاکت دا غوښتنه کوي چې اوس دې د باغيانو سره جنګ ونه شي، ددې برعکس د ابوبکر ﷺ تحقيق دا وو چې د زکاة منکر د لمانځه د منکر په شان دی، لکه څرنګه چې د لمانځه منکر مرتد او کافر دی، دغه شان د زکاة منکر هم مرتد او کافر دی.

من فرق بين الصلوة والزكاة: علامه نووي رحمه الله فرمايي: ابوبکر ﷺ د زکاة منکر په د لمانځه په منکر باندې قياس کړو، ددې نه معلومه شوه چې د لمانځه د منکر سره د صحابه کرامو په اتفاق سره جنګ صحيح دی، دغه شان ابوبکر ﷺ مختلف فيه (د زکات منکر) په متفق عليه (د لمانځه په منکر) باندې قياس کړو، "قد شرح صدر أبي بكر الخ:" عمر ﷺ د ابو بکر ﷺ د رايې او مضبوط دليل له وجې

متاثره شو. سمدستي يې د ابوبکر رضی الله عنه خبره تاييد کړه، معلومه شوه چې کله هم د رباندې حق واضح شي، نو بايد چې تسليم يې کړي، د ضد په بنياد انکار کول حرام دي

جنت ته داخلونکي اعمال

"وعن أبي أيوب رضی الله عنه: أنَّ رَجُلاً قَالَ للنبيِّ ﷺ: أخبِرني بعمل يُدخِلُني الجَنَّة، قَالَ: تَعْبُدُ اللهَ، وَلاَ تُشْرِكُ بِهِ شَيْئاً" د ابو ايوب رضی الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کس رسول الله ﷺ ته وفرمايل: يارسول الله ﷺ داسې عمل راته وښيه چې زه د هغې په وجه جنت ته داخل شم؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: د الله ﷻ عبادت کوه او د هغه سره شريك مه جوړوه! "وَتُقِيمُ الصَّلاَةَ، وَتُؤتِي الزَّكَاةَ، وَتَصِلُ الرَّحِمَ" د لمانځه پابندي کوه، زکاة ورکوه او صله رحمي (يعنې خپلوانو سره تعلق جوړوه)! مُتفقٌ عَلَيهِ

تشريح: وتصل الرحم: صله رحمي کوې، علماء فرمايي: په دې حديث کې د لمانځه او زکاة سره د صله رحمي ذکر دی، وجه يې د اهميت ده، د صله رحمي مطلب دا دی چې د خپلوانو سره په هر حال کې ښه سلوك کوې، د دوی سره تعلقات ساتې، اګر چې خپلوان در سره بدسلوکي کوي، بيا هم د دوی سره ښه سلوك کوه، د صله رحمي ډېر زيات فضيلتونه دي، په يو روايت کې دي چې څوك د خپلوانو سره ښه سلوك کوي، نو ددې په برکت به د دوی په خپل مېنځ کې مينه او محبت قائم وي، په مال کې برکت، د مرګ په وخت کې به ورته اساني وي، په يو بل روايت کې دي چې څوك په خپل رزق کې فراخي او وسعت غواړي او خپل عمر هم زياتول غواړي، نو هغه ته پکار دي چې د خپلوانو سره ښه سلوك وساتي، په يو بل روايت کې دي چې کوم کس خپلوي ختموي نو داسې کس به جنت ته داخل نه شي، رسول الله ﷺ يو کوچي ته جنت ته د داخلېدو لپاره صرف درې عملونه وښودل لمونځ کول، زکاة ورکول او صله رحمي کول، ددې وجه دا ده چې حقوق په دوه قسمه دي: حقوق الله او بل حقوق العباد، بيا حقوق الله په دوه قسمه دي: مالي او بدني، د زکاة څخه مالي عبادت مراد دی او د روژې څخه بدني عبادت مراد دی، په حقوق العباد کې صله رحمي ته اشاره ده، رسول الله ﷺ په درې الفاظو سره په ټول شريعت باندې د عمل کولو رهنمايي وفرمايل

يو جنتي کوچی

"وعن أبي هريرة رضی الله عنه: أنَّ أعْرَابِياً أتَى النبيَّ ﷺ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، دُلَّني عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ، دَخَلْتُ الجَنَّةَ. قَالَ: تَعْبُدُ اللهَ لاَ تُشْرِكُ بِهِ شَيْئاً" د أبو هريره رضی الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کوچی د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او ورته يې وويل: يا رسول الله ﷺ! داسې عمل راته وښيه چې زه يې وکړم نو جنت ته ورې داخل شم؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: د الله ﷻ عبادت کوه، د هغه سره شريك مه جوړوه! "وَتُقِيمُ الصَّلاَةَ، وَتُؤتِي الزَّكَاةَ المَفْرُوضَةَ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ" د لمانځه پابندي کوه او فرض زکاة ادا کوه او روژې نيسه! "قَالَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لاَ أزيدُ عَلَى هَذَا، فَلَمَّا وَلَّى، قَالَ النبيُّ ﷺ" هغه سړي وويل: زه به په دې باندې نور څه زياتي نه کړم، کله چې هغه سړی لاړو، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: "مَنْ سَرَّهُ أنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أهْلِ الجَنَّةِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا" کوم

Maktaba Tul Ishaat. com

کس چې زړه يې غواړي چې زه دې جنتي سړی ووينم، نو هغه دې دغه سړي ته وګوري متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: يو کوچي صحابي د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، دا څوک وو؟ ځينې علماء فرمايي: دا صحابي سعد بن احزم ﷺ دی، ځکه په يو بل روايت کې هغه خپله فرمايي: زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، علامه عيني رحمه الله فرمايي: دا دې نه د قيس قبيلې يو کس مراد دی چې هغه ابن المنتفق نومېدو، "تعبدُ اللّٰـه" رسول الله ﷺ دغه کوچي ته د اسلام يو څو فرضي اعمال وښودل چې هغه يې محفوظ کړي، "من أهل الجنة فلينظر إلى هذا" څوک چې جنتي کس ليدل غواړي هغه دې دې کس ته وګوري.

سوال: عشره مبشره صحابه کرامو کې خو ددې صحابي نوم نشته؟

جواب: عشره مبشره هغه صحابه کرام دي چې رسول الله ﷺ ورته په يو مجلس کې د جنت زيری اورولی وي، ددې نه علاوه نور هم ډېر زيات شته چې هغوی ته د رسول الله ﷺ په ژبه د جنت زيری اورول شوی وي، په هغې کې ازواج مطهرات هم شته، په هغې کې حسن ﷺ او حسين ﷺ هم شته او په هغې کې دغه کس هم شامل دی.

په لمانځه او زکاة ورکولو بيعت

"وعن جرير بن عبد الله ﷺ، قَالَ: بَايَعْتُ النبيّ ﷺ على إقَامِ الصَّلاة، وإيتاءِ الزكَاةِ، والنُّصحِ لِكُلِّ مُسْلِم" د جرير بن عبد الله ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ سره په دې خبره باندې بيعت وکړو چې زه به د لمانځه پابندي کوم، زکاة به ورکوم او د هر مسلمان سړي به ښېګڼه کوم. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب النصيحة) کې تېر شوی دی، د باب د مناسبت له امله امام نووي رحمه الله بيا ذکر کړو، په دې کې رسول الله ﷺ په زکاة ورکولو باندې بيعت اخيستی دی، علماء فرمايي: لمونځ او زکاة په بدني او مالي اعمالو کې تر ټولو زيات اهم دي، ځکه يې دلته ذکر کړل، کنه نو ټول دين مراد دی، لکه څرنګه چې په يو بل روايت کې دي چې رسول الله ﷺ د صحابه کرامو نه په دې خبره بيعت واخيستو چې هغوی به خبره اوري او اطاعت به کوي

د زکاة نه ورکولو عذاب

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَا مِنْ صَاحِبِ ذَهَبٍ، وَلاَ فِضَّةٍ، لاَ يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا إِلاَّ إِذَا كَانَ يَوْمُ القِيَامَةِ صُفِّحَتْ لَهُ صَفَائِحُ مِنْ نَارٍ، فَأُحْمِيَ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د کوم کس سره چې سره زر او سپين زر وي او د هغې نه زکاة نه ورکوي، کله چې د قيامت ورځ شي نو ددې سپينو او سرو زرو نه به ورته د اور تختې جوړې شي، هغه تختې به په جهنم کې ګرمې کړې شي، "فَيُكْوَى بِهَا جَنْبُهُ، وَجَبِينُهُ، وَظَهْرُهُ" په دې تختو سره به د هغه اړخ، د هغه تندی او د هغه شا داغل کېږي، "كُلَّمَا بَرَدَتْ أُعِيدَتْ لَهُ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ" کله چې دغه تختې يخې شي وروسته

نو بيا به ورته ګرمې کړى شي او بيا به دغه عمل کولى شي داسې به هره ورځ وي او يوه ورځ د قيامت ددې دنيا د پنځوس زرو (۵۰۰۰۰) برابر ده. "حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ العِبَادِ فَيُرَى سَبِيلَهُ، إِمَّا إِلَى الجَنَّةِ، وَإِمَّا إِلَى النَّارِ" تر دې چې خپله لار (يعنې انجام) ووينې يا جنت ته تلل او يا جهنم ته. "قِيلَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، فَالإِبِلُ؟ قَالَ: وَلَا صَاحِبِ إِبِلٍ لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا، وَمِنْ حَقِّهَا حَلَبُهَا يَوْمَ وِرْدِهَا، إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ القِيَامَةِ بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ أَوْفَرَ مَا كَانَتْ لَا يَفْقِدُ مِنْهَا فَصِيلًا وَاحِدًا" يو کس پوښتنه وکړه: يارسول الله ﷺ! د اوښانو والا به څه حساب وي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: که چېرته د دولت په ځاى ورسره اوښان وي، نو ددې حق دا دى چې په کومه ورځ د اوبو څښلو لپاره راوستل شي، نو د هغه ورځې شيدې به هم صدقه کوي، که چېرته ددې حق (يعنې زکاة نه ورکوي) نو د قيامت په ورځ به دغه کس په يو هوار ميدان کې وغورځول شي او هغه ټول اوښان به دى پايمال (غوبل) کوي، يو اوښ به هم ترې کم نه وي، ټول اوښان به ورته ولاړ وي، "تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا، وَتَعَضُّهُ بِأَفْوَاهِهَا" په پښو سره به يې پائمال کوي او په غاښونو به يې چيچي، "كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ أُولَاهَا، رُدَّ عَلَيْهِ أُخْرَاهَا" هر کله چې اولنى ټولى د اوښانو پرې تېر شي، نو د اوښانو بله ډله به پرې راشي، "فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ، حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ العِبَادِ، فَيُرَى سَبِيلَهُ، إِمَّا إِلَى الجَنَّةِ، وَإِمَّا إِلَى النَّارِ" او دا عذاب به په هغه ورځ وي چې يوه ورځ پوره د پنځوس زرو کالو برابره وي، دا عذاب به تر هغه پورې وي تر څو چې د خلکو په مېنځ کې ټولې فيصلې شوې نه وي، نو ده ته به هم فيصله واورول شي يا به جنت ته ځي او يا به دوزخ ته ځي، "قِيلَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، فَالبَقَرُ وَالغَنَمُ؟ قَالَ: وَلَا صَاحِبِ بَقَرٍ وَلَا غَنَمٍ لَا يُؤَدِّي مِنْهَا حَقَّهَا، إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ القِيَامَةِ، بُطِحَ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ، لَا يَفْقِدُ مِنْهَا شَيْئًا" يو کس پوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ! د غواګانو او چېليو متعلق څه حکم دى؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا حشر به د غواګانو او چېليو والا هم وي، په دې شرط چې د دوى زکاة يې نه وي ورکړى. دى به هم په يو هوار ميدان کې وغورځول شي، ټولې غواګانې او چېلۍ به وي يو به هم پکې کم نه وي او د ټولو به ښکرونه وي. "لَيْسَ فِيهَا عَقْصَاءُ" په دې غواګانو يا چېليو کې به داسې ښکرونه نه وي چې سره پيوست وي (بلکې نېغ او تېره به وي)، "وَلَا جَلْحَاءُ" او نه به پکې داسې کومه غوا يا چېلۍ وي چې د هغې ښکر نه وي، "وَلَا عَضْبَاءُ" او نه به پکې داسې کومه غوا يا چېلۍ وي چې د هغې ښکرونه مات وي، "تَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا، وَتَطَؤُهُ بِأَظْلَافِهَا، كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ أُولَاهَا، رُدَّ عَلَيْهِ أُخْرَاهَا، فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ العِبَادِ، فَيُرَى سَبِيلَهُ، إِمَّا إِلَى الجَنَّةِ، وَإِمَّا إِلَى النَّارِ" نو دا کس به دغه غواګانې او چېلۍ په خپلو ښکرونو او په پښو باندې پايمال او غوبل کوي تر هغې پورې چې تر څو د خلکو په مېنځ کې قضاوت نه وي شوى، په هغه ورځ د کومې چې يوه ورځ پوره د پنځوس زرو کالو برابر ده، هغه ته به فيصله واورول شي يا جنت ته او يا جهنم ته، "قِيلَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَالخَيْلُ؟ قَالَ: الخَيْلُ ثَلَاثَةٌ: هِيَ لِرَجُلٍ وِزْرٌ، وَهِيَ لِرَجُلٍ سِتْرٌ، وَهِيَ لِرَجُلٍ أَجْرٌ" چا پوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ! د اسانو باره کې ستاسو څه فيصله ده؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: اسونه په درې قسمه دي، يو هغه دي چې په مالک باندې وبال او بوج ګرځي، بل هغه دي چې د مالک پرده پوشي کوي، درېم هغه دي چې دده لپاره د اجر او ثواب ذريعه جوړېږي، "فَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ وِزْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا رِيَاءً وَفَخْرًا وَنِوَاءً عَلَى أَهْلِ الإِسْلَامِ، فَهِيَ لَهُ وِزْرٌ" کوم اسونه چې د

سړي لپاره وبال او د ګناه باعث جوړیږي، دا هغه دي چې د نمایش او فخر لپاره ساتل شوي وي یا مسلمانانو ته د نقصان رسولو لپاره ساتل شوي وي، "وَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ سِتْرٌ، فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ، ثُمَّ لَمْ يَنْسَ حَقَّ اللهِ فِي ظُهُورِهَا، وَلَا رِقَابِهَا، فَهِيَ لَهُ سِتْرٌ" پرده پوشي والا اسونه هغه دي چې د الله ﷻ لپاره وساتل شي او د دوی په شاګانو او څټونو کې چې کوم حقونه دي هغه هېر نه کړي، دا اسونه پرده پوش وي، "وَأَمَّا الَّتِي هِيَ لَهُ أَجْرٌ، فَرَجُلٌ رَبَطَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ لِأَهْلِ الْإِسْلَامِ فِي مَرْجٍ، أَوْ رَوْضَةٍ فَمَا أَكَلَتْ مِنْ ذَلِكَ الْمَرْجِ أَوِ الرَّوْضَةِ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا كُتِبَ لَهُ عَدَدَ مَا أَكَلَتْ حَسَنَاتٌ وَكُتِبَ لَهُ عَدَدَ أَرْوَاثِهَا وَأَبْوَالِهَا حَسَنَاتٌ" او کوم اسونه چې د سړي لپاره د اجر او ثواب باعث ګرځي دا هغه اسونه دي چې د الله ﷻ په لار کې په باغونو او ورشوګانو څرې چې ښه طاقتور وي، په دغو ورشوګانو او باغونو کې چې کوم وانښه او دانې خوري. الله ﷻ هغه دده په عملنامه کې لیکي او خشیه او متیازې چې هر څو خله وکړي هغه هم په نیکی کې شمارلی شي، "وَلَا تَقْطَعُ طِوَلَهَا فَاسْتَنَّتْ شَرَفًا أَوْ شَرَفَيْنِ إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ عَدَدَ آثَارِهَا وَأَرْوَاثِهَا حَسَنَاتٍ" څومره رسۍ چې د هغوی د توپونو وهلو سره وشلیږي یا په منډو وهلو او توپونو کې چې څومره فاصله قطع کړي، د دوی د هر توپ او هر قدم باندې یوه یوه نیکي لیکل کیږي، "وَلَا مَرَّ بِهَا صَاحِبُهَا عَلَى نَهْرٍ، فَشَرِبَتْ مِنْهُ، وَلَا يُرِيدُ أَنْ يَسْقِيَهَا إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ عَدَدَ مَا شَرِبَتْ حَسَنَاتٍ" او که چېرته دغه کس خپل اسونه په یو نهر او چینه باندې تیروي، نو که دده د اوبو ورکولو نیت وي او که نه وي، خو چې دغه اسونه څومره اوبه وڅښي، په هر ګوټ؛ غړپ سره به ورته الله ﷻ په عملنامه کې اجر لیکي، "قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ فَالْحُمُرُ؟ قَالَ: مَا أُنْزِلَ عَلَيَّ فِي الْحُمُرِ شَيْءٌ إِلَّا هَذِهِ الْآيَةُ الْفَاذَّةُ الْجَامِعَةُ" یو کس پوښتنه وکړه: یا رسول الله ﷺ! د خرونو متعلق څه حکم دی؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: ددې باره کې په ما باندې څه خاص حکم نه دی نازل شوی، لیکن جامع آیت شته هغه دا چې: "فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ" کوم کس چې یوه ذره نیکي وکړي هغه به هم وګوري، "وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ" او کوم کس چې ذره برابر بدي وکړي هغه به وګوري. متفق عَلَيْهِ، وهذا لفظ مسلم

لغوي تحقيق:

صفحت له: صفح الشئ: یو شئ سیده کول، تیارول.

بطحه: پر مخې راپرېښول.

تنطحه: غوا، غوايي چې په ښکر وهل شروع کړي.

نواء: تکبر، فخر کول.

تشریح: ومن حقها حلبها یوم وردها: اوبه ورکولو پر مهال ددې غوا شیدې ضرورتمندو ته ورکوي، د حق نه مراد وجوب نه دی، بلکې د انساني همدردی لپاره داسې باید وکړل شي چې کله خلك خارويو ته شیدې ورکوي، نو خلك دلته جمع کیږي، په دې کې غریبان خلك هم وي، نو دغو غریبانو ته باید ددې خاروي شیدې ورکړل شي، یا دا حدیث به په حالت اضطراري باندې حمل کړی شي، که څوك اضطراري حالت کې وي نو هغه ته شیدې ورکول واجب دي یا دا چې دا حکم د زکاة ورکولو نه وړاندې

دی، کله چې زکاة ورکول فرض شو، نو دا حکم اوس صرف په استحباب باندې حمل شو، "کلما مرعليه اولاها رد عليه اخراها" کله چې په هغه باندې اولنی اوښ تېر شي، نو په ده باندې به آخرينی اوښ راوستل شي، دغه شان چکر به ورکولی شي، ځينې محدثين ددې حديث مطلب داسې بيانوي کله چې په هغه باندې د ټولو اخرينی اوښ تېر شي، نو بېرته به بيا ټول راوستل شي او د سر نه به ورباندې بيا ټول نمبر په نمبر پښې ږدي

اسونه په درې ډوله دي:

الخيل ثلاثة: د اسونو درې قسمونه يې بيان کړل، په دې کې يې دوه خلې في سبيل الله بيان کړي، د اولنې في سبيل الله نه مراد نېک نيت دی، يعنې د اسونو په ساتلو کې د هغه نيت دا وي چې هغه به برې خپل ضروريات پوره کوي، دويم في سبيل الله دی. مطلب دا چې د جهاد په نيت يې ساتلي وي، اولنی ډول اسونه ساتل د پرده پوشی ذريعه ده، د حديث خلاصه دا ده چې کوم خلك په خپلو مالونو کې زکاة نه ورکوي، هغوی ته په دې حديث کې سخت وعيد بيان شوی دی

باب وجوب صوم رمضان وبيان فضل الصيام وما يتعلق به

د روژې فرضيت او د روژې فضيلتونه

"قَالَ اللّٰهُ تعالىٰ" الله ﷻ فرمايي: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ" اې هغو کسانو چې تاسو ايمان راوړی دی په تاسو باندې روژه نيول فرض دي لکه څنګه چې ستاسو نه مخکې خلکو باندې فرض وه، "إلى قوله تعالى: شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدَىٰ وَالْفُرْقَانِ" تر دې قوله پورې چې د رمضان مياشت هغه مياشت ده چې قرآن کريم پکې نازل شوی دی، په دې کې د خلکو لپاره هدايت پروت دی او د هدايت لپاره واضح دلائل دي او د حق او باطل واضح فرق پکې پروت دی. "فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ" بس کوم کس چې د روژې مياشتې ته حاضر شو، نو هغه به روژه نيسي او کوم کس چې بيمار وي او يا په سفر باندې روان وي؛ هغه دې اوس قضاء کړي بيا دې قضائي راوړي [البقرة: ۱۸۳-۱۸۵].

تشريح: يا أيها الذين آمنوا كتب عليكم الصيام كما كتب على الذين من قبلكم لعلكم تتقون: أياما معدودات فمن كان منكم مريضاً أو على سفر فعدة من أيام أخر، وعلى الذين يطيقونه فدية طعام مسكين فمن تطوع خيراً فهو خير له وان تصوموا خير لكم ان كنتم تعلمون:

ژباړه: اې مؤمنانو! په تاسو روژې فرض شوې دي لکه څرنګه چې ستاسو نه په وړاندې خلکو باندې فرض شوې وې، دا په شمار يو څو ورځې دي، بس چې څوك په تاسو کې بيمار وي او يا په سفر روان وي، نو بيا دې په نورو ورځو کې وشماري، کوم خلك چې د روژې نيولو طاقت نه لري، هغوی دې يو مسکين ته ډوډی ورکړي، څوك چې په نېکو اعمالو کې وړاندېز وکړي، هغه به دده لپاره غوره وي او که تاسو روژه ونيول، نو دا به ستاسو په حق کې غوره وي

Maktaba Tul Ishaat. com

كتب عليكم الصيام كما كتب على الذين من قبلكم لعلكم تتقون: د دې نه معلومېږي چې د آدم عليه السلام نه واخله تر رسول الله ﷺ پورې په ټولو شريعتونو كې روژه فرض وه، ليكن دا ضروري نه ده چې د هغو امتونو روژې دې هم په حالاتو او صفاتو كې د رسول الله ﷺ د شريعت مشابه وي، حقيقت دا دى چې په شمار كې هم او په ورځو او اوقاتو كې هم فرق وو.

فمن كان منكم مريضاً أو على سفر: كه يو انسان داسې مريض شي چې د روژې نيولو طاقت يې نه وي، يا د مرض زياتېدو انديښنه لري يا كم نه كم د اته څلوېښت ميله په اندازه په سفر روان وي، د داسې كس لپاره رخصت دى، كه خوښه يې شي نو روژې دې ونيسي او يا يې كه خوښه شي، نو ودې خوري بيا دې وروسته قضائي راوري

فعدة من أيام أخر: د هغه قضائي راوړل ضروري ده، ليكن په دې كې د دې خبرې قيد نشته چې هغه به يا برلبسې وي يا به په ترتيب سره وي، نه؛ څرنګه چې يې خوښه شوه، خو صرف دا چې قضائي دې راوړي

وعلى الذين يطيقونه فدية: مطلب دا چې كوم كس مريض وي يا مسافر وي، نو هغه به په روژو نيولو نشي مجبوره كولى، د اسلام په شروع كې د دې خبرې اجازت وو چې هغوى دې د روژې په ځاى فديه وركړي، ليكن بيا وروسته دا حكم د عامو خلكو باره كې منسوخ شو، اوس دا حكم صرف د هغو خلكو باره كې دى چې داسې بوډا وي چې بيخې روژې نه شي نيولى يا داسې مريض وي چې د هغه د رغبدو هيڅ اميد نه وي

شهر رمضان الذى أنزل فيه القرآن: په روژه كې قرآن نازل شو، د قرآن كريم د بل آيت نه معلومېږي چې د قدر په شپه كې نازل شوى دى.

فمن شهد منكم الشهر فليصمه: څوك چې د روژې مياشتې ته ورسيږي، په هغه باندې لازم دي چې د روژې مياشتې ټولې روژې ونيسي، دې نه وړاندې چې په كوم آيت كې د فديې وركولو اختيار وركړى شوى وو، هغه په دې آيت سره منسوخ شو، د روژې مياشت شرعاً په درې طريقو سره ثابتيږي:

(۱) يا خو دا چې خپله د روژې مياشت ووينې، (۲) يا په كوم معتبر شهادت سره د روژې مياشت وليدل شي، (۳) د شعبان د مياشتې پوره دېرش ورځې پوره شي.

فمن كان منكم مريضاً أو على سفر فعدة من أيام أخر: مسافر او مريض ته رخصت دى چې هغوى دې د سفر يا بيمارى پر مهال روژې نه نيسي، ليكن بيا د دې قضاء ضروري ده، دا جمله وړاندې آيت كې هم راغلې وه، ليكن كله چې په دې آيت كې د روژې په ځاى فديه وركول منسوخ شو، نو اوس به دا شبه شک پيدا كېدو چې كېداى شي سخت مريض يا مسافر لپاره چې كوم رخصت دى هغه به هم منسوخ وي، هغوى به كېداى شي په هر حال كې روژه نيسي، د دې غلطى دفع كولو لپاره دا جمله يو ځل بيا به تكرار كړى شوه چې مريض يا مسافر لپاره رخصت اوس هم شته چې هغوى به روژې نه نيسي بيا به وروسته قضائي راوړي

وأما الأحاديث فقد تقدمت في الباب الّذي قبله: هر چې حديثونه دي هغه په مخكې باب كې تېر شوي دي

روژه زما لپاره ده او زه به يې بدله ورکوم

"وعن أبي هريرة ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: قال الله ﷻ: كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ إِلَّا الصِّيَامُ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د انسان هر عمل د هغه لپاره دی مگر روژه نه. "فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، وَالصِّيَامُ جُنَّةٌ" روژه زما لپاره ده او زه به ددې بدله ورکوم او روژه د جهنم نه يو ډال دی. "فَإِذَا كَانَ يَوْمُ صَوْمِ أَحَدِكُمْ فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَصْخَبْ فَإِنْ سَابَّهُ أَحَدٌ أَوْ قَاتَلَهُ فَلْيَقُلْ: إِنِّي صَائِمٌ" بس کله چې په تاسو کې کوم کس روژه ونيسي نو بيا به جماع نه کوي او نه به فحاشي او بې هوده خبرې کوي او که چېرته څوک ورته ښيرې کوي او يا ورسره جگړه کوي، نو بايد چې دی ورته ووايي زما روژه ده، "وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ" قسم په هغه ذات چې د محمد ﷺ روح د هغه په قبضه کې ده چې د روژه دار د خولې بوی (ورمه) دا د الله ﷻ په نزد د مشك نه هم ډېره زياته خوږه ده، "لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ يَفْرَحُهُمَا: إِذَا أَفْطَرَ فَرِحَ بِفِطْرِهِ، وَإِذَا لَقِيَ رَبَّهُ فَرِحَ بِصَوْمِهِ" د روژه دار لپاره دوه خوشحالی دي په کوم چې به دی خوشحالي کوي، يوه دا چې کله دی روژه ماتوي او بله خوشحالي دا چې کله د الله ﷻ سره مخامخ کيږي. متفق عليه، وهذا لفظ رواية البخاري

وفي رواية له: يَتْرُكُ طَعَامَهُ، وَشَرَابَهُ، وَشَهْوَتَهُ مِنْ أَجْلِي: او په يو بل روايت کې دي چې خوراك څښاك پرېږدي او جماع / کوروالی هم زما له وجې پرېږدي، "الصِّيَامُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا" روژه زما لپاره ده او زه به يې بدله ورکوم او يوه نيکي په لس برابره ده

وفي رواية لمسلم: كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ يُضَاعَفُ، الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِ مِئَةِ ضِعْفٍ: او د مسلم په يو روايت کې دي: د بنيادم هر عمل دوه برابره ثواب ورکولی شي، لس برابره تر اوه سوه برابرې پورې ثواب ورکولی شي، "قَالَ اللهُ تَعَالَى: إِلَّا الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ" الله ﷻ فرمايي: روژه زما لپاره ده او زه به ددې بدله ورکوم، "يَدَعُ شَهْوَتَهُ وَطَعَامَهُ مِنْ أَجْلِي" کوروالی او خوراك څښاك زما لپاره پرېږدي، "لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ: فَرْحَةٌ عِنْدَ فِطْرِهِ، وَفَرْحَةٌ عِنْدَ لِقَاءِ رَبِّهِ" د روژه دار لپاره دوه خوشحالی دي: يوه خوشحالي د روژه ماتي په وخت کې او بله خوشحالي د الله ﷻ سره د ملاقات په وخت کې، "وَلَخُلُوفُ فِيهِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ" او د روژه دار سرې د خولې بدبويي د الله ﷻ په نزد تر مشکو هم زياته معتبره ده.

لغوي تحقيق: يصخب: شور جوړول

تشريح: فانه لي وأنا أجزي به: روژه زما لپاره ده او زه به يې بدله ورکوم، په روژه کې چې کوم اخلاص وي په بل عبادت کې نشته، روژه داسې عبادت دی چې ددې علم صرف يو الله ﷻ سره دی، بل دا چې په روژې سره نفس ته کوم تکليف رسيږي په کوم بل عبادت کې دومره تکليف نه رسيږي، ددې ټولو وجوهاتو په بناء الله ﷻ فرمايي: روژه زما لپاره ده او زه به ددې بدله ورکوم، ځينو محدثينو ددې مطلب داسې بيان کړی دی چې "أجزي به" زه به د هغه بدله جوړېږم، "فرحتان" د روژه دار لپاره دوه خوشحالی ديک يوه د روژه ماتي په وخت کې، څکه چې د الله ﷻ د روژې نيولو کوم حکم وو هغه

Maktaba Tul Ishaat. com

اوس پوره شوی دی یا دا چې د روژې په وجه دده په زړه کې یو قسم ته نورانیت پیدا کیږي کوم چې د خوشحالۍ یو سبب جوړ شي

ولخلوف فيه أطيب عند اللـه من ريح المسك: د روژه دار سرې د خولې بوی د الله ﷻ په نزد تر مشکو زيات خوښ دی یا دا چې د قیامت په ورځ به د روژه دار د خولې د مشکو بوی خې.

روژه نيونکی به د ريان په دروازه جنت ته داخليږي

"وعنه: أنّ رسول الله ﷺ، قَالَ: مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللهِ نُودِيَ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ، يَا عَبْدَ اللهِ هَذَا خَيْرٌ" د أبو هريره ﷺ روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د الله په لار کې دوه شيان خرچ کوي (مثلاً دوه جوړې دوه دوه شيان) نو د جنت د دروازو نه به ورته اواز کيږي، اې د الله ﷻ بنده! دا د خير کار دی، "فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلَاةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلَاةِ" بس کوم کس چې د لمانځه والا وي هغه ته به د لمانځه د دروازې نه اواز کيږي، "وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ" او کوم کس چې د جهاد د لارې والا وي، نو هغه ته به په جنت کې د جهاد د دروازې څخه اواز کيږي، "وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ" او کوم کس چې ډيرې روژې نيسي هغه ته به د باب الريان نه اواز کيږي، "وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ" او کوم کس چې ډيرې صدقې ورکوي هغه ته به په جنت کې د صدقې د دروازې څخه اواز کيږي، "قَالَ أَبُو بَكْرٍ ﷺ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللهِ! مَا عَلَى مَنْ دُعِيَ مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ، فَهَلْ يُدْعَى أَحَدٌ مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ كُلِّهَا؟" أبو بكر ﷺ وفرمايل: يارسول الله ﷺ! داسې به هم څوك وي چې دده ته ټولو دروازو نه ورته اواز کولی شي، اګرچه دده ضرورت ورته نه وي؟ "فَقَالَ: نَعَمْ، وَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: هو! او زه امید ساتم چې هغه به ته یې. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: من أنفق زوجين في سبيل اللــه: کوم کس چې د الله ﷻ په لاره کې دوه جوړې شيان خرچ کړي، د جوړې نه مراد دوه شيان دي، هغه که دوه غوايان وي، يا دوه اسونه وي، يا دوه چيلي وغيره وي، يا دا مطلب چې نر او ښځه څاروي دواړه خرچ کړي، دده لپاره چې دا دوه به دوه پاتې نه شي بلکې د دوی نسل چليږي او روان وي، او ده ته به يې ثواب ملاويږي

دعی من باب الصلوة: د لمانځه دروازې نه به ورته اواز کولی شي، مطلب دا دی چې په کوم انسان کې د کوم عبادت غلبه زياته وي چې د فرضو سره د نفلي عبادتونو اهتمام هم کوي، نو هغه ته به د هغې دروازې نه اواز کولی شي

دعی من باب الريان: روژه دار خلك به د جنت (باب الريان) دروازې نه رابللی شي، ريان: خړوب کيدو ته وايي، روژه دار خلك به د باب الصوم په بدله کې د باب الريان په دروازه باندې رابللی شي، په دې کې دې طرفته اشاره ده چې په دنيا کې د روژې په حالت کې چې کومه تنده دوی ته لګيدلې وه، اوس به دغه تنده نه وي، ددې نه به محفوظ وي

أن تكون منهم: تاسو ددې څخه يئ! په دې کې د ابوبكر ﷺ فضيلت ته اشاره ده، ځکه چې به

دوی کې د ټولو اعمالو غلبه او اهتمام وو، بل دا ددې نه دا هم معلومه شوه چې په کوم کس کې تکبر نه وي او خود پسندي پکې وي، نو د هغه په وړاندې د هغه تعریف جائز دی.

د روژه دارو لپاره په جنت کې یوه ځانګړې دروازه ده

"وعن سهل بن سعد رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: إنَّ في الجَنَّةِ بَاباً يُقَالُ لَهُ: الرَّيَّانُ، يَدْخُلُ مِنْهُ الصَّائِمُونَ يَوْمَ القِيامَةِ" د سهل بن سعد رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت کې یوه دروازه ده هغې ته (ريان) ويل کيږي، په دې دروازه باندې به روژه دار داخليږي، "لاَ يَدْخُلُ مِنْهُ أحَدٌ غَيْرُهُمْ" په دې دروازه باندې به د دوی نه علاوه بل څوک نه داخليږي، "يقَالُ: أيْنَ الصَّائِمُونَ؟ فَيَقُومُونَ لاَ يَدْخُلُ مِنْهُ أحَدٌ غَيْرُهُمْ" اواز به وکړی شي چې روژه دار چېرته دي، هغوی به راپورته شي، د دوی نه علاوه به بل څوک په دې دروازه باندې نه داخليږي، يوازې دوی به پرې داخل کړی شي، "فَإذَا دَخَلُوا أُغْلِقَ فَلَمْ يَدْخُلْ مِنْهُ أحَدٌ" کله چې دوی داخل شي، نو دغه دروازه به بنده کړی شي بيا به په دې دروازه باندې بل څوک داخل نه شي متفقٌ عَلَيهِ

تشریح: أين الصائمون؟: روژه دار خلك چېرته دي؟ دلته د روژه دارو نه مراد صرف د رمضان روژې نيونکي مراد نه دي، بلکې هغه خلك پکې شامل دي چې د ورژې مياشتې نه علاوه نورې نفلي روژې هم نيسي، ددې روژه دارو خصوصي فضيلت بيانيږي چې د دوی لپاره الله ﷻ په جنت کې ځانګړې دروازه پيدا کړې ده، کله چې دوی په دې دروازه ورداخل شي، نو دغه دروازه بنده کړی شي چې بيا تر اخره نه خلاصيږي

د الله ﷻ په لار کې د روژې نيولو فضيلت

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَا مِنْ عَبْدٍ يَصُومُ يَوْماً في سَبيلِ الله" د أبو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د الله تعالی په لار کې يوه ورځ روژه ونيسي، "إلاَّ بَاعَدَ اللهُ بِذلِكَ اليَوْمِ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ سَبْعِينَ خَرِيفاً" الله ﷻ به ددې په وجه دغه کس د دوزخ د اور نه د اويا کالو په مسافت لرې کړي متفقٌ عَلَيهِ

تشریح: يوماً في سبيل الله: محدثين فرمايي د (في سبيل الله) مفهوم عام دی، په دې کې مجاهد هم داخل دی، حاجي هم داخل دی، عمره کونکي هم داخل دي او يا اعلاء كلمة الله لپاره چې څوك سفر کوي، مطلقاً دا ټول پکې داخل دي، داسې کس چې د الله ﷻ په لاره کې يوه ورځ روژه ونيسي، نو دده فضيلت د هغه سړي نه ډېر زيات دی چې په کور کې وي، ځکه چې د الله ﷻ په لاره کې روژه نيونکی سړی پوره د اويا کالو په اندازه د جهنم نه لرې کيږي

روژه نيولو سره ټول وړاندېني ګناهونه معاف کيږي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إيمَاناً وَاحْتِسَاباً" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه

Maktaba Tul Ishaat. com

فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم کس چې د رمضان روژې په ایمان او د ثواب په نیت ونیسي، "غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ" د هغه ټول مخکیني ګناهونه به معاف شي. متفق علیه

تشریح: په دې حدیث کې د روژې نیولو فضیلت بیان شوی دی، کوم کس چې د رمضان روژې ونیسي، نو ددې په برکت سره به یې ټول سابقه ګناهونه معاف شي، که کوم نیک بخت انسان وي چې د هغه صغیره ګناهونه نه وي، نو د هغه دغه روژه نیول د رفع درجات ذریعه جوړیږي.

په روژه کې د جنت دروازې خلاصیږي

"وعنه ﷺ: أَنَّ رسولَ الله ﷺ قَالَ: إِذَا جَاءَ رَمَضَانُ، فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ النَّارِ" د ابو هریره ﷺ نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې د روژې میاشت شروع شي، نو د جنت دروازې خلاصې شي او د جهنم دروازې بندې شي، "وَصُفِّدَتِ الشَّيَاطِينُ" او سرکشه شیطانان وتړل شي. متفق علیه

لغوي تحقیق:

صفدت: بندي کول، په قید کې راوستل/ زندان ته اچول

تشریح: **فتحت أبواب الجنة:** د جنت دروازه ورته خلاصه شي، مطلب دا چې دغه میاشت چې څرنګه شروع شي نو د الله ﷻ د رحمت نزول شروع شي، خلکو ته د جنت داخلېدو والا اعمالو توفیق ملاو شي، "غلقت أبواب النار" د جهنم دروازې بندې کړی شي، مطلب دا چې په دې میاشت کې روژه دار سړي د داسې اعمالو څخه محفوظ شي کوم اعمال چې جهنم ته د داخلېدو ذریعه وي، غټ ګناهونه نه کوي او وړوکي ګناهونه د روژې په برکت ورته معاف کړی شي.

صفدت الشیاطین: شیطانان بند کړل شي، مطلب دا چې کوم سرکش شیطانان دي هغه په زنځیرونو وتړل شي، دوی به انسان نه شي دوکه کولی، بل دا چې په روژه کې د انسان قوت حیوانیه مغلوب وي کوم چې د ګناهونو باعث ګرځي او قوت عقلیه یې غالب وي کوم چې انسان نیکو اعمالو ته اماده کوي، په دې وجه د انسان په روژه کې ګناهونه کمیږي.

د میاشتې په لیدو سره روژه نیول او په لیدو یې اختر کول

"وعنه: أَنَّ رسولَ الله ﷺ قَالَ: صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ، وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ" د ابو هریره ﷺ نه روایت دی هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: روژه هله ونیسئ کله چې میاشت ووینئ او افطار کوئ (یعني اختر وکړئ) کله چې میاشت ووینئ! "فَإِنْ غُبِّيَ عَلَيْكُمْ، فَأَكْمِلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلاَثِينَ" که چیرته میاشت دریاندې ورکه شي (یعني د وریځې له امله، نو بیا د شعبان د میاشتې دېرش ورځې پوره کړئ! "متفق علیه، وهذا لفظ البخاري"

"وفي رواية لمسلم: فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَصُومُوا ثَلاَثِينَ يَوْماً" او د مسلم په یو روایت کې دي چې که میاشت دریاندې پټه شي، نو بیا دېرش ورځې روژه پوره کړئ!

تشریح: **صوموا لرؤیته وافطروا لرؤیته:** میاشت چې ووینئ نو روژه وکړئ او کله چې میاشت ووینئ نو

کوژه کړئ، مطلب دا چې تر څو مو مياشت نه وي ليدلې يا په معتبر شهادت او ذريعه مياشت نه وي معلومه شوې، تر هغې روژه مه نيسئ او مه اختر کوئ.

فإن غمّ عليكم: لفظ د غبي او غم يوه معنی ده، يعني کله چې وريځې مياشته پټه کړي، داسې حالت کې حکم دا دی چې د شعبان پوره دېرش ورځې پوره کړئ، کله چې هغه پوره شي نو بيا د رمضان روژې شروع کړئ، دغه شان که ۲۹ رمضان ته مياشت ونه ليدل شي، نو دېرش روژې دې پوره کړي او بيا دې اختر وکړي.

باب الجود وفعل المعروف والإكثار من الخير في شهر رمضان والزيادة من ذلك في العشر الأواخر منه

په روژه کې د نېکو عملونو ډېروالي فضيلت

دي باب کې د رمضان مياشتې دوه حديثونه دي، رمضان د الله ﷻ مياشت ده، په روژه باندې د ثواب اجر اوس په تېر باب کې بيان شو. تاسو وليدل چې د روژې نه علاوه کومې نيکۍ او عبادتونه په دې مبارکه مياشت کې کولی شي، صدقات او خيرات پکې ورکولی شي د هغې د اجر او ثواب څه اندازه نه شي لګولی، ليکن په هغې کې د ايمان او احتساب شرط پکار دی او په دنيوي اغراضو سره (رياکارۍ) سره اعمال ضائع کېږي.

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قال: كَانَ رسول الله ﷺ أَجْوَدَ النَّاسِ، وَكَانَ أَجْوَدَ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ حِينَ يَلْقَاهُ جِبْرِيلُ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ډېر زيات سخي وو او بيا د روژې په مياشت کې خو ډېر زيات سخي وو، کله چې به جبرئيل عليه السلام ورسره ملاقات کولو، "وَكَانَ جِبْرِيلُ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ فَيُدَارِسُهُ الْقُرْآنَ" جبرئيل عليه السلام به په روژه کې هره شپه راتلو او د قرآن کريم درس به يې ورسره کولو، "فَلَرَسُولُ اللهِ ﷺ حِينَ يَلْقَاهُ جِبْرِيلُ أَجْوَدُ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ" د رسول الله ﷺ سره به چې کله جبرئيل عليه السلام ملاقات وکړو، نو بيا به د باران ورونکي هوا نه هم زيات ډېر لو. متفق عليه

لغوي تحقيق:

أجود الناس: د اسم تفضيل صيغه ده، ډېر زيات فياض او سخي.

تشريح أجود الناس: جود ديته وايي چې بغير طلب څه ورکړي، سائل ته پکې ذلت نه وي، دويمه معنی يې ده ډېر زيات ورکول، مطلب دا چې رسول الله ﷺ بغير طلب ډېر څه ورکړل، (ما تحت الاسباب) د رسول الله ﷺ د سخاوت مثالونه د احاديثو په کتابونو کې دي، مثلاً يو ځل د بحرين نه يو لک درهم راغلل، رسول الله ﷺ د هغې تقسيم شروع کړو، تردې چې د رسول الله ﷺ سره يو درهم پاتې نه شو. د رسول الله ﷺ سره په مرض الوفات کې يو څو دينار وو، تر څو چې رسول الله ﷺ هغه تقسيم کړي نه وو، تر هغې ارام نه ورتلو، کله چې يې هغه تقسيم کړل، نو بيا ورته ارام ورغلو.

Maktaba Tul Ishaat. com

وكان أجود ما يكون في رمضان: رسول الله ﷺ خو هسې هم سخي وو، ليکن بيا به يې په روژه کې ډېر زيات سخاوت کولو، په روژه کې د سخاوت وجه دا ده چې په روژه کې د نيکو عملونو موسم وي، د انسان په طبيعت کې د نيکۍ رغبت وي، ددې اثر د رسول الله ﷺ په طبيعت باندې هم کېدو، په سخاوت کې به يې ډېره زياته اضافه کېده يا دا وجه ده چې په روژه کې جبرئيل امين سره ملاقات کېدو، پرښتې په دنيا کې د کوم شي سره رغبت نه کوي، نو دغه اثر به رسول الله ﷺ ته منتقل شو

فيدارسه القرآن: د قرآن کريم دور به يې کولو

سوال: د څومره قرآن کريم دور به يې کولو. ايا د ټول قرآن کريم دور به يې کولو. لا تر اوسه خو پوره نازل شوی هم نه وو؟

جواب: د علماوو څخه دې باره کې دوه اقواله نقل دي اول دا چې څومره قرآن کريم نازل شوی وو، د هغې دور به يې کولو، دويم قول دا چې د ټول قرآن کريم دور به يې کولو. ليکن بيا به وروسته د رسول الله ﷺ نه غير نازل شده برخه هېره شوه

أجود بالخير من الريح المرسلة: د (بالخير) نه مراد مال هم دی، علم هم دی، مطلب دا چې لکه څرنګه هوا چليږي، هر ځای ته رسيږي، هر چاته يې فايده وي، دغه شان د رسول الله ﷺ د سخاوت او علم نبوت فايده هم هر کس ته رسيږي.

په آخري عشره کې د رسول الله ﷺ معمول

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كَانَ رسول الله ﷺ إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ أَحْيَا اللَّيْلَ" د عائشه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ عادت مبارک دا ؤ چې کله به د روژې آخري لس ورځې شروع شوې، نو ټوله شپه به يې عبادت کولو، "وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ، وَشَدَّ الْمِئْزَرَ" خپل خاندان به يې هم د عبادت لپاره راويښ کړو او خپله ملا به يې عبادت ته کلکه وتړل متفقٌ عَلَيهِ

لغوي تحقيق:

المئزر: المئزر مفرد دی، جمع يې مآزر ده، تهبند، لنګ او پرتوګ ته وايي

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب فضل قيام ليلة القدر) کې تېر شوی دی، علامه نووي رحمه الله يو ځل بيا دلته راوړو، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې رسول الله ﷺ به د روژې په مياشت کې ډېر زيات د عبادت اهتمام کولو، بيا په خانګړې توګه د روژې په آخري ورځو کې به يې په دې کې نوره هم اضافه وکړه. په خپله به يې هم ددې اهتمام کولو او کور والا به يې هم راپاڅول. "وشد المئزر" ددې نه مراد عبادت ته ځان تيارول. دا کنايه ده د کثرت عبادت نه. يا د خپلو مېرمنو څخه ليرې اوسېدل

باب النهي عن تقدم رمضان بصوم بعد نصف شعبان إلا لمن وصله بما قبله أو وافق عادة له بأن كان عادته صوم الإثنين والخميس فوافقه

د رمضان نه دوه څلور ورځې مخکې د روژې ممانعت

دې باب کې څلور حديثونه دي، په عنوان کې دا خبره ښودل شوې ده چې نيمايي شعبان نه وروسته د رمضان نه دوه څلور ورځې مخکې د روژې ممانعت دی، ليکن که د چا عادت وي چې د روژې مياشتې نه مخکې هم څو محدودې ورځې روژه نيسي، مثلاً: ځينې خلک د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ روژې نيسي، دا خل د روژې مياشتې شروع کېدو نه مخکې دوشنبه يا پنجشنبه راغله، نو ددې روژو په نيولو کې هيڅ حرج نشته

د رمضان نه وړاندې روژې نيول منع دي

"عن أبي هريرة ﷺ، عن النبي ﷺ، قال: لا يتقدمن أحدكم رمضان بصوم يوم أو يومين" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې دې يو کس د روژې نه مخکې يوه ورځ يا دوه ورځې مخکې روژه نه نيسي، "إلا أن يكون رجل كان يصوم صومه، فليصم ذلك اليوم" مګر که چېرته هغه د مخکې څخه ددې ورځو د روژې نيولو عادي وي، نو هغه وخت هم روژه نيولی شي. متفق عليه

تشريح لايتقدمن أحدكم رمضان: کوم کس دې د روژې مياشتې نه وړاندې يوه ورځ يا دوه ورځې وړاندې روژه نه نيسي، د رمضان نه يوه يا دوه ورځې وړاندې روژې نيول ځکه منع دي چې په انسان کې ضعف راځي بيا فرضي روژې نيول ورته مشکل شي، البته که يو کس داسې وي چې هغه دوشنبه يا پنجشنبه په روژه نيولو عادت وي يا صوم داودي يې عادت وي چې يوه ورځ روژه نيسي بله ورځ يې نه نيسي، نو داسې کس د رمضان نه يوه يا دوه ورځ وړاندې روژه نيولی شي، ځکه چې دا دده معمول دی

که مياشت ونه ليدل شي، نو بيا دېرش روژې پوره کول پکار دي

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قال: قال رسول الله ﷺ: لا تصوموا قبل رمضان، صوموا لرؤيته، وأفطروا لرؤيته" د عبد الله بن عباس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د روژې مياشتې نه مخکې روژه مه نيسئ چې د رمضان مياشت ووينئ، نو روژه ونيسئ او د شوال مياشت چې ووينئ نو روژه ختمه کړئ "فإن حالت دونه غيابة فأكملوا ثلاثين يوماً" که چېرته دې دواړو مياشتو کې مطلع (يعني په کوم ځای کې چې مياشت ليدل کيږي) وريځ وي، نو بيا د شعبان مياشتې دېرش ورځې په حساب پوره کړئ "رواه الترمذي وقال: حديث حسن صحيح".

"الغياية: بالغين المعجمة وبالياء المثناة من تحت المكررة، وهي: السحابة" د (الغيابة) نه مراد وريځ ده.

تشريح: لاتصوموا قبل رمضان: د رمضان نه وړاندې روژې مه نيسئ! د رمضان نه وړاندې يوه يا دوه

Maktaba Tul Ishaat. com

روژې نيول ځکه منع دي چې هسې نه په رمضان کې زيادت ونشي، "صوموا لرؤيته" مياشت چې ورځې روژې ونيسئ! که مياشت په يقيني ونه ليدل شي، نو بيا د شعبان ديرش ورځې پوره کول ووبئ نو روژه ونيسئ! که مياشت په يقيني ونه ليدل شي، نو بيا د شعبان ديرش ورځې پوره کول پکار دي چې هغه پوره شي، نو بيا د رمضان روژې نيول پکار دي، په دې بنياد علماء فرمايي چې په خلکو باندې واجب کفايي دي چې هغوی د رمضان مياشتې ليدو لپاره کوشش وکړي

نصف شعبان نه وروسته روژې نيول پکار نه دي

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: إذابَقِيَ نِصْفٌ مِنْ شَعْبَانَ فَلَا تَصُومُوا" د أبو هريره ﷺ روايت دی فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې د شعبان مياشت نيمه پاتې شي نو بيا روژې مه نيسئ. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح."

تشريح: إذابقي نصف من شعبان فلاتصوموا: کله چې د شعبان د مياشتې نيمايي پاتې شي نو بيا روژې مه نيسئ: مطلب دا چې نيمايي شعبان يعني ۱۵ تاريخ نه وروسته روژې نيول مکروه تنزيهي دي. دا ځکه چې هسې نه د رمضان په روژو کې کومې فرض دي په هغې کې سستي رانشي، بيا به هغه فرضي روژې نيول ورته مشکل شي. ددې ممانعت تعلق د امت د اسانۍ او مشقت سره دی، قاضي عياض رحمه الله فرمايي: په دې حديث کې د ممانعت تعلق د هغو خلکو سره دی چې روژه ونيسي او بيا په دوی کې کمزوري راشي، په چا کې چې قوت او طاقت وي، بيا هيڅ حرج نشته

د شک په ورځ روژه نيول

"وعن أبي اليقظان عمار بن ياسر رضي الله عنهما، قَالَ: مَنْ صَامَ الْيَوْمَ الَّذِي يُشَكُّ فِيهِ" د أبو اليقظان عمار بن ياسر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې کوم کس د شک په ورځ روژه ونيسي، "فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ ﷺ" شکه چې دې سرې د رسول الله ﷺ د حکم نافرماني وکړه، "رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: د شک ورځ د شعبان ديرشم تاريخ دی، په کوم کې چې ورځ وي يا شهادت مکمل شوی نه وي، په دې کې شک پيدا شي چې ايا رمضان شروع دی او که تر اوسه د شعبان ديرشم تاريخ دی. دېته د شک ورځ وايي، نو د شک په ورځ د رمضان روژه يا د بل کوم واجب روژه نيول مکروه دي، په دې ورځ نورې نفلي روژې نيول هم مکروه دي، ليکن هغه کس چې د دوشنبې يا پنځشنبې په ورځ د روژې نيولو عادي وي، يا د هرې مياشتې په آخر کې د روژې نيولو عادي وي، نو بيا د داسې کس لپاره په دې ورځ روژه نيول مکروه نه دي.

باب مَا يقال عند رؤية الهلال

د مياشتې ليدلو دعاء

"عن طلحة بن عبيد الله ﷺ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا رَأَى الْهِلَالَ، قَالَ: اللَّهُمَّ أَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْأَمْنِ وَالْإِيمَانِ، وَالسَّلَامَةِ وَالْإِسْلَامِ" د طلحه بن عبيد الله ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ به کومه مياشت وليده نو په

دعاء کې به يې داسې ويل: اې الله: په موږ باندې په امن - ايمان - په سلامتيا او اسلام سره دغه مياشت تېره کړه! "رَبِّي وَرَبُّكَ اللهُ، هِلالُ رُشْدٍ وَخَيْرٍ" اې مياشتې زما رب او ستا رب يو الله ﷻ دی، اې الله! دا مياشت په موږ د هدايت او خير تېره کړې رواه الترمذي وقال: حديث حسن.

تشريح: د رسول الله ﷺ عادت به دا وو چې کله به يې نوې مياشت وليده، نو دغه دعاء به يې کول. "اللَّهُمَّ أَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالأَمْنِ وَالإِيمَانِ، وَالسَّلامَةِ وَالإِسْلامِ رَبِّي وَرَبُّكَ اللَّهُ، هِلالُ رُشْدٍ وَخَيْرٍ" ژباړه: اې الله ﷻ دغه مياشت په موږ باندې په امن او ايمان او سلامتيا سره تېره کړه، اې مياشتې زما او ستا رب الله ﷻ دی، اې الله ﷻ! دا مياشت په موږ باندې د هدايت او خير مياشت تېره کړې، څوک چې مياشت وويني نو بايد چې دغه مسنونه دعاء ووايي، نو ټوله مياشت به يې په خير کې تېره شي او بل به د رسول الله ﷺ د اتباع کولو ثواب هم ورته ملاو شي

باب فضل السحور وتأخيرهما لم يخش طلوع الفجر

د پيشمني کولو ثواب او د هغې وروسته والی تر څو چې د صبح صادق راختلو وېره نه وي

"عن أنس ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: تَسَحَّرُوا فَإِنَّ فِي السُّحُورِ بَرَكَةً" د انس ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل پيشمنی کوئ! ځکه چې په پيشمني کې اجر او ثواب دی. متفق عليه

تشريح: فإن في السحور بركة: په پيشمني کې برکت وي، مطلب دا چې پيشمني ته پاڅېدل پکار دي او خوراك کول پکار دي، که لږ خوراك وکړل شي، خو کول يې پکار دي، ځکه چې په دې کې الله ﷻ برکت اېښی دی، انسان چې د پيشمني خوراك وکړي نو بيا ټوله ورځ روژه نيول ورته آسان شي، ددې برعکس کوم کس چې د پيشمني خوراك نه کوي، نو د هغه بدن ټوله ورځ کمزوری وي، روژه نيول ورته مشکل وي، د اسلام په تعليماتو کې د انسان د صحت ډېر زيات خيال ساتل شوی دی.

د پيشمني او لمانځه ترمينځ وقفه

"وعن زيد بن ثابت ﷺ، قال: تَسَحَّرْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ، ثُمَّ قُمْنَا إِلَى الصَّلاةِ" د زيد بن ثابت ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ موږ د رسول الله ﷺ سره پيشمني وکړو، بيا موږ جمعې ته پاڅېدو، "قِيلَ: كَمْ كَانَ بَيْنَهُمَا؟ قَالَ: قَدْرُ خَمْسِينَ آيَةً" چا وويل چې څومره فاصله وه د پيشمني او د صبح صادق په مينځ کې؟ هغوی ورته وفرمايل د پنځوس (۵۰) آيتونو په اندازه متفق عليه

تشريح: په دې حديث کې د پيشمني او د لمانځه ترمينځ وقفه بيان شوې ده چې تقريباً د پنځوس ايتونو په اندازه د پيشمني او لمانځه ترمينځ وقفه پکار ده، ددې نه ملومېږي چې پيشمني بيخي په اخري وخت کې کول پکار دي. په دې حديث کې د پنځوس اياتونو په مقدار وقفه بيان شوې ده او عموما پنځوس ايتونه لس پنځلس منټو کې تلاوت کېږي. د فجر صادق نه لس پنځلس منټه وړاندې پيشمني کول مستحب دي

Maktaba Tul Ishaat. com

پيشمني به د ابن ام مكتوم رضي الله عنه په آذان بندوئ!

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: كَانَ لِرسولِ الله ﷺ مُؤَذِّنَانِ: بِلَالٌ وَابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ لپاره به دوه كسانو اذان كولو، يو بلال رضي الله عنه او بل عبد الله بن ام مكتوم رضي الله عنه دى، "فَقَالَ رسولُ الله ﷺ: إِنَّ بِلَالًا يُؤَذِّنُ بِلَيْلٍ، فَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يُؤَذِّنَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ" نبي كريم ﷺ وفرمايل بلال رضي الله عنه د شپې اذان وركوي، نو تاسو خوراك څښاك كوئ تر څو چې ابن ام مكتوم رضي الله عنه آذان نه وي كړې، "قَالَ: وَلَمْ يَكُنْ بَيْنَهُمَا إِلَّا أَنْ يَنْزِلَ هَذَا وَيَرْقَى هَذَا" عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وفرمايل چې ددې دواړو په مينځ كې فرق صرف دومره وو چې دا يو كس به د آذان له ځاى څخه راښكته شو او بل به ورختلو. متفق عليه

لغوي تحقيق: كم: د (كم) دوه قسمونه دي: (۱) استفهاميه او بل كم خبريه، د (كم) استفهاميه تميز منصوب وي، لكه: (كم درهماً عندك) ستا سره څومره درهم دي؟ او د (كم) خبريه تميز مجرور وي، لكه: كم عبدٍ او (كم عبيد ملكتُ) زه د ډېرو غلامانو مالك يم

تشريح: كان لرسول الله ﷺ موذنان: بلال رضي الله عنه وابن ام مكتوم رضي الله عنه: د رسول الله ﷺ دوه موذنين وو، يو بلال رضي الله عنه او بل ابن ام مكتوم رضي الله عنه ؤ، د رسول الله ﷺ په زمانه كې به دوه كسانو آذان كولو، د لومړي آذان مطلب دا وو چې كه څوك پيشمنى كوي، نو خبر دي شي چې د پيشمني وخت په ختمېدو دى، دا آذان به بلال رضي الله عنه كولو، ددې څخه به يو څو منټه وروسته سمدستي بل آذان شروع شو، ددې مطلب به دا وو چې كومو خلكو خوراك كولو، اوس دې بند كړي، ځكه چې وخت ختم دى، دا آذان به ابن ام مكتوم رضي الله عنه كولو، خلاصه دا چې پيشمنى څومره په تاخير سره وشي مستحب دى، ليكن د وخت خيال ساتل هم ضروري دي، هسې نه چې سهار يعني فجر صادق راختلى وي او ته په خوراك شروع يې چې په دې سره روژه ماتيږي، نو بيا به له سره روژه نيسې

پيشمني د رسول الله ﷺ د امت خصوصيت دى

"وعن عمرو بن العاص رضي الله عنه: أَنَّ رسولَ الله ﷺ، قَالَ: فَصْلُ مَا بَيْنَ صِيَامِنَا وَصِيَامِ أَهْلِ الْكِتَابِ، أَكْلَةُ السَّحَرِ" د عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زموږ او د اهل كتابو د روژې په مينځ كې فرق صرف د پيشمني دى (يعني هغوى پيشمني نه كوي او موږ يې كوو. رواه مسلم

لغوي تحقيق: فصل: د فصل معنى ده: جدا كول، يو شى پرې كول

تشريح: ما بين صيامنا وصيام أهل الكتاب أكلة السحر: زموږ او د اهل كتابو تر مينځ فرق په پيشمني كولو او نه كولو سره دى، موږ پيشمني كوو او دوى يې نه كوي، د اهل كتابو په مذهب كې د خوب نه وړاندې خوراك كول جائز وو، ليكن كله چې به ويده شو او بېرته به راپاڅېدو، نو خوراك كول به ورته حرام وو، د اسلام په شروع كې هم دغه حكم وو، ليكن بيا وروسته پيشمني كول د بركت او فضيلت شى وګرځېدو، بل پيشمني كولو كې د اهل كتابو سره فرق لازميږي

باب فضل تعجيل الفطر وَمَا يفطر عَلَيهِ، وَمَا يقوله بعد الإفطار

په افطار کې تيزي غوره ده، روژه به په څه شي ماتوي او د روژه ماتي نه وروسته به څه وايي؟

"عن سهل بن سعد ﷺ: اَنّ رسول الله ﷺ، قَالَ: لَايَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الفِطْرَ" د سهل بن سعد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: خلك به تر هغه پورې په خير کې وي تر څو چې دوی افطار (روژه ماتی وختي کوي). متفقٌ عَلَيهِ

تشريح: د غروب آفتاب نه وروسته سمدستي خوراك کول پكار دي، په دې کې تاخير کول ښه خبره نه ده، په دې حديث کې هم دغه خبره ذکر شوه چې دغه امت به تر هغه پورې په خير کې وي تر څو چې دوی په افطار کې تيزي کوي، په دې کې د اهل کتابو سره مخالفت لازميږي، ځکه چې دوی به په تاخير سره افطار کولو. اهل روافض (شيعه گان) هم افطار (روژه ماتی) په تاخير سره کوي، لهذا په تيزی سره افطار (روژه ماتي کول) کې ثواب هم دی او بل د اهل کتابو سره مخالفت راځي

رسول الله ﷺ به په تېزی سره روژه ماتول

"وعن أبي عطِيَّةَ، قَالَ: دَخَلْتُ أَنَا وَمَسْرُوقٌ على عائشة رضي الله عنها، فَقَالَ لَهَا مَسْرُوق: رَجُلَانِ مِنْ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ ﷺ كِلَاهُمَا لَا يَألُو عَنِ الخَيْرِ" د أبو عطية ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي: زه او مسروق ﷺ يوه ورځ مور عائشې ﷺ ته ورغلو، مسروق ﷺ ورته ووېل: د رسول الله ﷺ په ملگرو کې دوه کسان د خير لټونكي دي. "أَحَدُهُمَا يُعَجِّلُ المَغْرِبَ وَالإِفْطَارَ" يو کس په افطار کې تيزي کوي، "وَالآخَرُ يُؤَخِّرُ المَغْرِبَ وَالإِفْطَارَ؟" او بل په افطار کې لږ تاخير کوي، نو په دې دواړو کې کوم يو صحيح دی؟ "فَقَالَتْ: مَنْ يُعَجِّلُ المَغْرِبَ وَالإِفْطَارَ؟ قَالَ: عَبْدُ اللهِ-يعني: ابن مسعود؟" عائشې ﷺ ورته وفرمايل: څوک په افطار کې تيزي کوي، هغوی ورته ووېل: عبد الله بن مسعود ﷺ تيزي کوي، "فَقَالَتْ: هٰكَذَا كَانَ رسولُ اللهِ يَصْنَعُ" هغوی ورته وفرمايل: دغه شان عادت به د رسول الله ﷺ هم وو، هغه به داسې کول. (يعنې افطار به يې ډېر زر کولو) رواه مسلم

"قَوْله: لَايَألُو أي: لَايُقَصِّرُ فِي الخَيْرِ" دا قول چې (لا يألو) ددې مطلب دا دی چې دوی دواړه د خير لټونكي دي

لغوي تحقيق:

يألوا: ددې معنی ده: کوتاهي کول، سستي کول.

تشريح په دې حديث کې د عبد الله بن مسعود ﷺ يو عمل ښودل شوی دی چې هغوی به پېشمنې تر ناوخته کولو او افطار (روژه ماتی) به يې په تيزی سره کولو، په دې باندې عائشې ﷺ وفرمايل: رسول الله ﷺ به هم دغسې کول، ددې بالمقابل د ابو موسی اشعري ﷺ باره کې وويل شو چې هغه به په افطار کې تاخير کولو، ددې ګڼ شمېر وجوهات کېدی شي: يا ددې وجې نه چې دا عمل په جواز کې داخل دی، يا د کوم عذر يا مصلحت په بنياد به يې داسې کول او يا دا چې کله کله به دوی دا کار کولو کوم چې مسروق رحمه الله وليدو او رانقل يې کړو.

Maktaba Tul Ishaat. com

د راوي ابو عطيه رحمه الله حالات:

د دوی په نوم کې اختلاف دی، ځينې وايي چې مالك بن عامر دی، ځينې وايي: مالك بن أبي عامر دی، ځينې وايي: مالك بن عوف دی، دا تابعي دی، د همدان قبيلې سره يې تعلق درلود، د ابو موسی اشعري رضي الله عنه او د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت نقل کوي، دوی ته اسحاق رحمه الله او اعمش رحمه الله ثقه ويلي دي، په ۷۸ هجري کې وفات شوی دی، د دوی نه په بخاري، مسلم، ابوداود، نسائي او ترمذي کې روايات نقل دي

د الله جل جلاله محبوب بندګان هغه دي چې په افطار کې تيزي کوي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: قَالَ اللهُ عز وجل: أَحَبُّ عِبَادِي إِلَيَّ أَعْجَلُهُمْ فِطْراً" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله عز وجل فرمايي چې ماته زما خوښ بندګان هغه دي چې په افطار (روژه ماتي) کې تېزي کوي. رواه الترمذي، وقَالَ: حديث حسن.

تشريح: أحب عبادي إلى أعجلهم فطراً: زما په بندګانو کې غوره هغه کسان هغه دي چې په افطار کې تيزي کوي، په دې حديث کې وښودل شو چې کوم خلك په روژه ماتي کې تيزي کوي هغوی د الله عز وجل په نزد غوره خلك دي، بل په دې کې د رسول الله ﷺ د سنتو تابعداري هم کيږي او بل د اهل کتابو او روافضو سره مخالفت ښکاره کيږي

لمر چې ډوب شي، روژه ماتی پکار دی

"وعن عمر بن الخطاب رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: إِذَا أَقْبَلَ اللَّيْلُ مِنْ هَاهُنَا، وَأَدْبَرَ النَّهَارُ مِنْ هَاهُنَا" د عمر بن خطاب رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې شپه د دې طرفه را وخيژي او ورځ په دې طرف روانه شي، "وَغَرَبَتِ الشَّمْسُ، فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ" او لمر ډوب شي، نو د روژه دار سړي روژه ماته شوه. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: غربت الشمس فقد أفطر الصائم: لمر چې ډوب شي، نو يقيناً چې روژه دار سړي روژه ماته کړه، مطلب دا چې لمر ډوب شي، نو د روژه ماتي وخت رانژدې شو، بل مطلب يې دا هم دی چې روژه دار سړی شرعي طور روژه ماتونکی جوړ شو، اګرچې هغه تر اوسه څه نه وي خوړلي

روژه ماتی د خورما څخه علاوه په بل شي هم کېدی شي

"وعن أبي إبراهيم عبد الله بن أبي أوفى رضي الله عنهما، قَالَ: سِرْنَا مَعَ رسولِ الله ﷺ، وَهُوَ صَائِمٌ، فَلَمَّا غَرَبَتِ الشَّمْسُ، قَالَ لِبَعْضِ القَوْمِ: يَا فُلاَنُ انْزِلْ فَاجْدَحْ لَنَا" د أبو ابراهيم عبد الله بن أبي أوفى رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې مونږ يو ځل د رسول الله ﷺ سره په سفر روان وو، هغوی روژه نيولې وه، کله چې لمر ډوب شو، رسول الله ﷺ زمونږ يو ملګري ته وفرمايل: ښکته شه: او روژه ماتي تيار کړه! "فَقَالَ: يَا رَسُولَ الله، لَوْ أَمْسَيْتَ؟ قَالَ: انْزِلْ فَاجْدَحْ لَنَا قَالَ: إِنَّ عَلَيْكَ نَهَاراً" هغه کس ووېل: يا رسول الله ﷺ! که لږ وخت انتظار مو وکړو، ځکه چې

اوس لا وختي دى؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: ښكته شه! او روژه ماتي تيار كړه، هغه كس وويل: يا رسول الله ﷺ! اوس خو لا وختي دى، "قَالَ: انْزِلْ فَاجْدَحْ لَنَا قَالَ: فَنَزَلَ فَجَدَحَ لَهُمْ فَشَرِبَ رَسُولُ اللهِ ﷺ" نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: ښكته شه! او موږ ته روژه ماتي تيار كړه! هغه كس د اس نه ښكته شو او رسول الله ﷺ ته يې شربت تيار كړل، نبي كريم ﷺ هغه وڅښل، "ثُمَّ قَالَ: إِذَا رَأَيْتُمُ اللَّيْلَ قَدْ أَقْبَلَ مِنْ هَاهُنَا، فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ وَأَشَارَ بِيَدِهِ قِبَلَ الْمَشْرِقِ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: كله چي تاسو ووينئ چي شپه ددې طرفنه راخپره شوه، نو د روژه دار سړي روژه ماته شوه، بيا نبي كريم ﷺ په خپل لاس مبارك سره مشرق ته اشاره وكړه. متفق عليه

"قوله: اجْدَحْ بجيم ثُمَّ دال ثُمَّ حاء مهملتين، أي: اخْلِطِ السَّوِيقَ بِالْمَاءِ" دا قول چي (جدح) ددې معنى ده: ستوان په اوبو كي ګډوډ كول.

لغوي تحقيق:

فاجدحلنا: د امر صيغه ده، ددې معنى ده: ستوان جوړل.

تشريح: يافلان انزل: اې فلانكيه! ښكته شه، په ځينو روايتونو كې راغلي چي "يا بلال" د حديث مطلب دا دى: كله چي لمر ډوب شي، نو په افطار كي هيڅ تاخير پكار نه دى، لكه څرنګه چي په وړاندې واقعه كي ذكر شول، بل دا چي په سفر كي روژه نيول په عزيمت باندې عمل دى، په دې كي هيڅ حرج نشته، بل دا هم معلومه شوه چي د خورما نه علاوه په بل شي باندې هم افطار/ روژه ماتى جائز دى.

روژه په خورما ماتول پكار ده

"وعن سلمان بن عامر الضَّبِّيِّ الصحابي ﷺ، عن النبي ﷺ، قَالَ: إِذَا أَفْطَرَ أَحَدُكُمْ، فَلْيُفْطِرْ عَلَى تَمْرٍ" د سلمان بن عامر ضبي صحابي نه روايت دى هغه فرمايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي په تاسو كي څوك روژه ماتى كوي، نو بايد چي په خورما يې وكړي. "فَإِنْ لَمْ يَجِدْ، فَلْيُفْطِرْ عَلَى مَاءٍ، فَإِنَّهُ طَهُورٌ" كه خورما نه وي، نو بيا يې بايد په اوبو سره ماته كړي، ځكه چي اوبه پاكې دي، "رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: فليفطر على تمر: روژه دې په خورما ماته كړي، علماوو ددې يوه فايده ليكلي ده، هغه دا چي كله معده خالي وي او څه خوږ خوراك ورته داخل شي، نو بدن او معدې ته پكي فايده رسيږي، ځكه چي ددې په وجه په قواى جسماني كي طاقت ډېر په تيزى سره سرايت كوي، خورما چي نه وي، نو بيا په اوبو سره روژه ماتول پكار دي، ځكه چي اوبه هم د ظاهري او باطني صفايي ذريعه ده.

د راوي سلمان عامر ضبي رحمه الله حالات:

اصل نوم يې سلمان ﷺ دى، د پلار نوم يې عمار دى، سلسله نسب يې داسې ده: سلمان بن عامر بن اوس بن حجر بن عثمان بن عمرو بن حارث ضبي، په بصره كي اوسېدلو، بخاري او اصحاب السنن د دوى څخه روايات نقل كړي دي، ليكن امام مسلم رحمه الله د دوى نه كوم روايت نه دى نقل كړى، د دوى نه ديارلس/ ۱۳ روايات نقل دي.

Maktaba Tul Ishaat. com

رسول الله ﷺ به په خورما روژه ماتول

"وعن أنس رضي الله عنه، قَالَ: كَانَ رسولُ الله ﷺ يُفطِرُ قَبْلَ أنْ يُصَلِّي على رُطَبَاتٍ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د لمانځه نه مخکې په تازه او غوره خورما باندې روژه ماتول، "فَإنْ لَمْ تَكُنْ رُطَبَاتٌ فَتُمَيرَاتٌ" که غوره خورما به نه وې، نو بيا به يې په پخو خورما باندې روژه ماته کړه، "فَإنْ لَمْ تَكُنْ تُمَيرَاتٌ حَسَا حَسَوَاتٍ مِنْ مَاءٍ" که چېرته دا به هم نه وای، نو بيا به يې يو گوټ/ غړپ اوبه وڅښلې. رواه أبُوداود والترمذي وقال: حديث حسن.

په خورما باندې روژه ماتول د جديد سائنس تحقيق:

تشريح: چاته چې خورما ملاو شي، ډېره ښه ده او که خورما نه وي، نو بيا دې په اوبو باندې روژه ماته کړي، ځکه چې هغه هم پاکې دي، په روژې سره د انسان طاقت کمزوری شي، نو بايد په داسې شي باندې روژه ماته کړی شي چې هغه زر هضم کيږي او طاقتور وي، دې باره کې خورما ډېره زر هضمېدونکې او مقوي شی ده.

په خورما باندې تحقيق:

Prteins:::::::۲.۰	Fats::::::: /
Carbohydrates:::::۲٤.۰	Calorites:::۲.۰
Sodium:::٤.۷	Potassium:::۷٥٤.۰
Calcium::٦۷.۹	Magnesium:::٥۸.۹
Copper::::۰.۲۱	Iron::::۱.٦۱
Phosphorus::: ٦۳۸.۰	Sulphur::::٥۱.٦
	Chlorine:::۲۹۰.۰

ددې نه علاوه بل جوهر هم پکې شته چې په هغې کې (peroxides) هم وي، د سهار نه تر ماښامه چې څه ونه خوړل شي، په بدن کې (کيلورين (calories) يا مسلسل حرارت کميږي، نو ځکه خورما داسې معتدل او جامع خوراک دی چې ددې په واسطه د بدن حرارت په اعتدال کې راځي او بدن د مختلف قسم بيماريو نه په امن کې کيږي، که د بدن حرارت کنټرول نه کړی شي، نو بيا په بدن کې لاندې بيماری پيدا کيږي:

(۱) لو بلډ پرېشر (low blood pressure) د د وينو د سرعت کمېدل، فالج، لقوه او په سر باندې چکر راتلل وغيره.

د خوراك د كمي لا امله په بدن کې وينه کميږي، نو کوم خلك چې د وينې کمي په مرض اخته دي، د هغوی لپاره د فولاد (iron) ډېر زيات ضرورت وي او دغه فولاد په خورما کې قدرتي طور موجود وي، خينې خلك د خشکی په مرض اخته وي، داسې خلك چې روژه ونيسي، نو د دوی خشکي نوره هم زياتيږي، خورما چونکې معتدله ده، لهذا د روژه دارو په حق کې ډېره مفيده ده.

د گرمی په موسم کې انسان ته سخته تنده لګيږي، که داسې کس د روژه ماتې پرمهال سمدستي يخې اوبه وڅښي نو په معده کې يې ګيس، تبخير او په ګردو کې يې پړسوب پيدا کيږي که همدغه روژه دار په خورما باندې روژه ماته کړي او بيا وروسته اوبه وڅښي، نو د ډيرو زياتو بيماريو څخه به محفوظ شي، که خورما نه وي، نو بيا په اوبو سره هم افطار کول صحيح دی، ځکه چې اوبه هم الله ﷻ صفا پيدا کړي دي

باب أمر الصائم بحفظ لسانه وجوارحه عن المخالفات والمشاتمة ونحوها

روژه دار به ټول بدن د شريعت د مخالفت، بښېرا او کنځلو نه ساتي

"عن أبي هريرة ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: إذا كان يوم صوم أحدكم، فلا يرفث ولا يصخب" د أبو هريره ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې چې کوم کس روژه ونيسي، نو نه به جماع/ کوروالی کوي، نه به بې هوده او فحش خبرې کوي، "فإن سابه أحد أو قاتله، فليقل: اني صائم" که څوک ورسره جنګ کوي، يا ښېرا ورته کوي، نو بايد چې ورته ووايي: زما روژه ده متفق عليه

تشريح: دا حديث په باب وجوب صوم رمضان کې مخکې تېر شوی دی، علامه نووي رحمه الله دلته بيا د باب د مناسبت په وجه راوړو، لکه څرنګه چې په روژه کې انسان نه څه خوري شي نه څه څښلی شي او نه د خپلې مېرمنې سره کوروالی کولی شي، دغه شان هغه ته پکار ده چې د خپلې ژبې، سترګو، غوږونو، لاسونو او پښو وغيره د بدن د ټولو اندامونو حفاظت وکړي او په ناجائزه کارونو کې يې مصرف نه کړي

څوک چې دروغ پرېنږدي د هغه روژه صحيح نه ده

"وعنه، قال: قال النبي ﷺ: من لم يدع قول الزور والعمل به" د أبو هريره ؓ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې دروغ پرېنږدي او په دې باندې عمل هم ونه کړي، "فليس لله حاجة في أن يدع طعامه وشرابه" نو بيا الله ﷻ لره ددې هيڅ ضرورت نشته چې دی خوراك او څښاك پرېږدي. رواه البخاري

تشريح: قول الزور: دروغ ويل، مطلب دا چې داسې خبره کول چې په هغې کې ګناه وي، مثلاً دروغ ويل، د دروغو شاهدي ورکول، غيبت کول، بهتان تړل يا په چا پسې تهمت پوري کول، په قرآن کريم کې هم راغلي: "واجتنبوا قول الزور" يعني که روژه دار خپله ژبه په حفاظت کې ونه ساتي او نه د بدو افعالو او ويناوو څخه منع شي، نو د الله ﷻ ورته هيڅ ضرورت نشته چې انسان دې تش خوراك څښاك پرېږدي، هغه ته د روژې هيڅ مقصد حاصل نه شو، خلاصه دا شوه چې لکه څرنګه د امور حسيه نه په روژه کې بچ کېدل ضروري دي، لکه خوراك، څښاك او جماع کول شو، دغه شان د امور معنويه نه هم ځان بچ کول ضروري دي، لکه دروغ ويل، تهمت پوري کول، غيبت کول او داسې نور...

Maktaba Tul Ishaat. com

باب في مسائل من الصوم

د روژې مسئلې

"عن أبي هريرة ﷺ، عن النبي ﷺ، قال: إذا نسي أحدكم، فأكل، أو شرب فليتم صومه" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كه چېرته ستاسو نه روژه هېره شي او خوراك څښاك وكړي، نو بايد چې خپله روژه پوره كړي؛ "فإنما أطعمه الله وسقاه" څكه چې دا په حقيقت كې الله ﷺ وربائدي خوراك او څښاك وكړو. متفق عليه

تشريح: فإنما أطعمه الله وسقاه: څوك چې په هېره سره خوراك څښاك وكړي په حقيقت كې په هغه باندې الله ﷺ خوراك او څښاك كوي، د ائمه ثلاثه لكه امام ابوحنيفه رحمه الله، امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد دا حكم عام دی، كه نفلي روژه وي او كه فرضي وي، كه روژه دار په هېره خوراك يا څښاك وكړي، نو پروا نه كوي، روژه يې نه ماتېږي. البته امام مالك رحمه الله فرمايي كه په رمضان كې يې په هېره خوراك او څښاك وكړو، نو قضاء دې راوړي، غير رمضان كې په هغه باندې قضاء نشته

د احنافو مشهور كتاب هدايه كې يې ليكلي دي چې كه په هېره جماع وكړي، نو خير دی، روژه يې نه ماتېږي، څكه چې دا هم په حكم د خوراك او څښاك كې دی.

د روژې په حالت كې غرغره منع ده

"وعن لقيط بن صبرة ﷺ، قال: قلت: يا رسول الله، أخبرني عن الوضوء؟" د لقيط بن صبرة ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې يوه ورځ مې رسول الله ﷺ ته وويل: يا رسول الله ﷺ د اودس پوره طريقه راته وښيه "قال: أسبغ الوضوء، وخلل بين الأصابع، وبالغ في الاستنشاق" نبي كريم ﷺ وفرمايل: اودس پوره كړه او د ګوتو منځ خلال كړه او پوزې ته اوبو اچولو كې مبالغه كوه؛ يعنې زياتې اوبه اچوه چې په پوزه كې د ډېرې لارې شي؛ "إلا أن تكون صائماً" مګر دا چې ستا روژه وي، نو په داسې وخت كې زياتې اوبه مه اچوه، څكه چې بيا د روژې ماتېدو احتمال وي "رواه أبوداود والترمذي وقال: حديث حسن صحيح".

تشريح: واسبغ الوضوء: په ښه شان سره اودس وكړه، په كامل اودس كې دا هم داخل دي چې په ګوتو كې خلال وكړي، كه اوبه داخل د ګوتو ته داخلې وي نو بيا مستحب دي او كه نه وي داخلې نو بيا فرض دي، دغه شان بايد په پوزه كې په ښه شان سره اوبه واچوي، ليكن د روژې په حالت كې احتياط پكار دی، څكه چې امكان لري چې اوبه يې خولې ته داخلې شي، نو روژه به يې ماته شي

د راوي لقيط بن صبره ﷺ حالات:

اصل نوم يې لقيط ﷺ دی، د پلار نوم يې عامر بن صبره بن عبد الله بن منتفق ده، دوی ته لقيط بن صبره وايي، يعنې خپل نيكه ته يې نسبت شوی دی، د بنو منتفق سره يو خای راغلو او په

اسلام مشرف شو، د دوی نه يو څو روايات منقول دي، امام بخاري رحمه الله په خپل تاريخ کې د دوی روايت نقل کړی دی، ليکن په خپل صحيح کې يې ترې نه دي نقل کړي، امام مسلم رحمه الله هم ترې روايات نه دي نقل کړي، اصحاب السنن ترې روايات نقل کړي دي.

جنابت کې روژه نيول صحيح دي

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كَانَ رسول الله ﷺ يُدْرِكُهُ الفَجْرُ وَهُوَ جُنُبٌ مِنْ أَهْلِهِ" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ باندې به په داسې وخت کې سهار شو چې دوی به د جنت په حالت کې وو، "ثُمَّ يَغْتَسِلُ وَيَصُومُ" بيا به يې غسل وکړو او روژه به يې پوره کړه. متفق عليه

تشريح: وهو جنب من أهله: رسول الله ﷺ به د خپلې کوروالا نه د جنابت په حالت کې وو، د حديث مطلب دا دی چې کوم کس د جنابت په حالت کې وي نو د طلوع فجر (سهار) نه وړاندې غسل کول ضروري نه دي، په همدې حالت کې دې د روژې نيت وکړي او بيا دې ورروسته ولامبي، په دې باندې د ټولو امامانو اتفاق دی. البته د ابراهيم نخعي رحمه الله وغيره ځينو نورو علماوو رايه دا ده چې جنبي سړی روژه نه شي نيولی، اول صفايي ضروري ده، بيا به د روژې نيت کوي.

رسول الله ﷺ هم د جنابت په حالت کې روژه نيولې ده

"وعن عائشة وأم سلمة رضي الله عنهما، قالتا: كَانَ رسول الله ﷺ يُصْبِحُ جُنُباً مِنْ غَيْرِ حُلُمٍ" د عائشه رضي الله عنها او ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دی هغوی دواړه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د احتلام نه بغير (د کوروالي په وجه په جنابت کې وو) او په هغه به سهار شو، "ثُمَّ يَصُومُ" او روژه به يې ونيوله. متفق عليه

تشريح: يصبح جنباً: په رسول الله ﷺ باندې به سهار شو په داسې حال کې چې د جنابت په حالت کې به وو، د جمهورو علماوو په دې باندې اتفاق دی چې "إلى نسائكم" دا آيت د شپې آخري اجزاء سره کوم چې طلوع فجر سره متصل وي تر دې پورې (روژه نيونکي لپاره هم) جائز دي، نو ده نه د غسل کولو موقع په لاس نه ورځي، نو ځکه جمهور علماء فرمايي: جنبي سړي د جنابت په حالت کې د روژې نيت کولی شي.

من غيرحلم: بې احتلامه، عائشه رضي الله عنها دا خبره واضحه کول غواړي چې رسول الله ﷺ به جنبي وو، ليکن د احتلام له وجې به نه وو، بلکې د جماع له وجې به وو، ځکه چې احتلام د شيطاني وسوسې له امله کيږي او انبياء عليهم السلام ددې نه محفوظ وي. خلاصه دا چې جنبي انسان خوا که د جماع له امله جنبي شوی وي يا د احتلام له امله جنبي شوی وي، د روژې نيولو نيت کولی شي، جماع خو اختياري شوې ده، په دې کې د روژې نيولو جواز شته، نو کوم احتلام چې يو غير اختياري شی دی، په دې کې به بدرجه اولی جائز وي.

Maktaba Tul Ishaat. com

باب فضل صوم المحرم وشعبان والأشهر الحرم

د محرم مياشتې روژې او د شعبان او د عزت مياشتو روژې نيولو فضيلت

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: أَفْضَلُ الصِّيَامِ بَعْدَ رَمَضَانَ: شَهْرُ اللهِ الْمُحَرَّمُ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د رمضان د مياشتې وروسته غوره روژه د الله ﷻ والا مياشتې د محرم دي، "وَأَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْفَرِيضَةِ: صَلَاةُ اللَّيْلِ" او غوره لمونځ د فرض لمانځه وروسته د شپې لمونځ دی. رواه مسلم

تشريح: أفضل الصيام بعد رمضان شهر الله المحرم: د رمضان نه پس غوره روژه د الله ﷻ په مياشتو کې د محرم ورځې روژه ده، ځينو علماوو ددې نه يوم عاشورا (د محرم لسم) مراد اخيستی دی، ليکن د ځينو نورو په نزد مطلقاً د محرم د مياشتې روژه ده، "شهر الله" د الله ﷻ مياشت.

سوال: ايا صرف د محرم مياشت د الله ﷻ مياشت ده، نورې نه دي؟

جواب: د محرم مياشت ته د شرافت او فضيلت له وجې الله ﷻ ته منسوب شوه، لکه بيت الله، ناقة الله، "أفضل الصلاة بعد الفريضة صلاة الليل" د فرض لمانځه وروسته تر ټولو غوره لمونځ د شپې لمونځ دی.

د فرضو نه وروسته د سنت مؤکده درجه ده او که د تهجدو؟

اولنی جواب دا دی چې: په دې کې دا تاويل کولی شي چې ددې نه هغه واجب او سنت مراد دي چې په فرضو کې داخل وي، ځکه چې دا هم د فرضو د تکميل لپاره کولی شي، ددې نه وروسته د تهجدو لمونځ دی

يا دا چې د مشقت او تکليف په لحاظ او د رياکارۍ نه چې انسان لرې وي هغه د تهجدو لمونځ دی چې د فرضو نه بې درجه وروسته ده، د تاکيد او اهميت په لحاظ سنت موکده د فرضو نه وروسته افضل دي

د شعبان په مياشت کې د رسول الله ﷺ عادت مبارک

"عن عائشة رضي الله عنها، قالت: لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ ﷺ يَصُومُ مِنْ شَهْرٍ أَكْثَرَ مِنْ شَعْبَانَ" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ به د شعبان په مياشت کې ډېرې زياتې روژې نيولې دومره به يې په بله مياشت کې نه نيولې، "فَإِنَّهُ كَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ كُلَّهُ" ځکه چې د شعبان مياشت به يې ټوله روژه نيوله. "وفي رواية: كَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ إِلَّا قَلِيلاً" او په يو بل روايت کې دي چې د شعبان مياشت به يې ټوله روژه نيوله، مګر يو څو ورځې نه. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې رسول الله ﷺ به د شعبان په مياشت کې اکثره روژه نيول، کله کله داسې هم شوي دي چې د شعبان د مياشتې ټولې روژې به يې ونيولې، ځينې علماء فرمايي چې

يو كال به رسول الله ﷺ د شعبان د مياشتې اكثره روژې ونيولې او په بل كال به يې توله مياشت روژې ونيولې، په دې كې حكمت دا دى چې په يو روايت كې دي - د شعبان په مياشت كې اعمال د الله ﷻ په حضور كې وړاندې كيږي، رسول الله ﷺ به دا خبره خوښه ګڼل چې زما اعمال د الله ﷻ حضور ته په داسې حال كې وړاندې شي چې زما روژه وي، ليكن امت ته بطور شفقت د نيم شعبان نه وروسته روژې نيول منع فرمايل شوي دي، د دې لپاره چې په رمضان كې كمزوري نه شي

په هره مياشت كې درې ورځې روژې نيول

"وعن مُجِيبَةَ البَاهِلِيَّةِ، عن أبيها أو عمها: أنه أتى رسولَ اللهِ ﷺ، ثُمَّ انطلقَ فأتاهُ بعدَ سنةٍ – وقد تغيرت حالُه وهيئتُه" د مجيبة الباهلية رضي الله عنها نه روايت دى هغه يې د خپل پلار نه او يا تره نه روايت كوي، يوه ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضره شوه، هغه لاړو او بيا يو كال پس بېرته راغلو چې رنګ يې خراب شوى ؤ، "فقال: يَارسولَ الله، أمَا تعرِفُني؟ قَالَ: وَمَنْ أنتَ؟ قَالَ: أنَا البَاهِلِيُّ الَّذِي جِئْتُكَ عامَ الأوَّلِ" باهليه ووېل: يارسول الله ﷺ ما نه پېژنې؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: تاسو څوك يئ؟ هغوى ورته وفرمايل: باهليه رضي الله عنها يم يو كال مخكې ستاسو په خدمت كې حاضره شوې وم، "قَالَ: فَمَا غيَّرَكَ، وَقَدْ كُنْتَ حَسَنَ الهَيْئَةِ! قَالَ: مَا أكَلْتُ طَعَامًا مُنْذُ فَارَقْتُكَ إلاَّ بِلَيْلٍ" نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: دا ستا حال ولې بدل شوى دى؟ ستا خو ډېر ښكلى رنګ ؤ؟ هغې رضي الله عنها ورته ووېل: يارسول الله ﷺ! د كومې ورځې نه چې ستاسو نه جدا شوې يم د هغې ورځې نه مې د ورځې خوراك نه دى كړى، بس صرف د شپې به مې خوراك كولو، "فَقَالَ رسولُ اللهِ ﷺ: عَذَّبْتَ نَفْسَكَ! ثُمَّ قَالَ: صُمْ شَهْرَ الصَّبْرِ، وَيَوْمًا مِنْ كُلِّ شَهْرٍ" نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: تاسو خو خپل ځانته عذاب وركړى دى، بيا نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: د صبر (رمضان) په مياشت كې روژې نيسه؛ او بيا يوه ورځ په توله مياشت كې روژه نيسه؛ "قَالَ: زِدْنِي، فإنَّ بِي قُوَّةً، قَالَ: صُمْ يَوْمَيْنِ" الباهليه رضي الله عنها ورته ووېل: يارسول الله ﷺ زما طاقت زيات دى، روژې نيولى شم، ماته زيات كړه؛ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: بيا په هره مياشت كې دوه ورځې روژې نيسه؛ "قَالَ: زِدْنِي، قَالَ: صُمْ ثَلاثَةَ أيَّامٍ" هغه ووېل: يا رسول الله ﷺ؛ نور هم راته زيات كړه؛ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: بيا درې ورځې روژه نيسه؛ "قَالَ: زِدْنِي، قَالَ: صُمْ مِنَ الحُرُمِ واتْرُكْ، صُمْ مِنَ الحُرُمِ وَاتْرُكْ، صُمْ مِنَ الحُرُمِ وَاتْرُكْ" هغه ووېل: ماته يې زياتې كړه؛ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: د حرمت د مياشتې نه روژې نيسه بيا يې پرېږده؛ د حرمت د مياشتې نه روژې نيسه او بيا يې پرېږده؛ د حرمت د مياشتې نه روژې نيسه او بيا يې پرېږده؛ "وقَالَ بأصَابِعِهِ الثَّلاثِ فَضَمَّهَا، ثُمَّ أرْسَلَهَا" نبي كريم ﷺ خپلو ګوتو مباركو ته اشاره وكړه، درې ګوتې يې سره يو ځاى كړې بيا يې پرېښودلې. رواه أبوداود

لغوي تحقيق: وَشَهْرُ الصَّبْرِ: رَمَضَان.

تشريح: عن أبيها: د دې صحابي نوم عبد الله بن حارث باهلي رضي الله عنه دى، راوي ته يې په تره او پلار كې شك دى، "قال بأصابعه الثلاث فضمها ثم أرسلها" بقول ابن غسلان درې ګوتې يې سره خپلو كې ملاو كړې

Maktaba Tul Ishaat. com

بيا بې پرېښودلې، ځکه د ربمه ګوته ورسره ملاو کړې، په دې کې طاقت پيدا وي، "صمِ ثلاثة أيّام" په هره مياشت کې درې ورځې روژه نيسه، ځکه چې د هرې نېکۍ ثواب لس چنده وي، نو د درې ورځو روژې بپولو ثواب د دېرشو ورځو برابر شو، دغه شان انسان د الله ﷻ په نزد صائم الدهر شمار شي، دا کمزورو خلکو ته بيان شوه. ليکن که په چا کې طاقت وي، نو هغه ته د صوم داودي ساتلو وصيت شوی دی چې يوه ورځ روژه نيسي او بله ورځ کوژه وي، په دې کې د انسان د بدن د صحت لحاظ هم ساتل شوی دی او د روژې عادت جوړېدل هم پکې جوړېږي.

د راوي مجيبة باهلية عن ابيها او عمها مختصر حالات:

اصل نوم يې مجيبة ﷺ ده، ځينو ويلي دي چې دا د سړي نوم دی، ليکن د علماوو صحيح قول دا دی چې دا په اصل کې د ښځې نوم دی، د پلار نوم يې عبد الله بن حارث باهلي دی او د تره نوم يې ابو موسی دی، د دوی نه يو څو روايات نقل دي چې د هغې شمار مجهول دی

باب فضل الصوم وغيره في العشر الأول من ذي الحجة

د ذوالحجې په اولنيو لسو ورځو کې د روژې فضيلت

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قال: قال رسول الله ﷺ: مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهَا أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ هَذِهِ الأَيَّامِ يعني أيام العشر" د عبد الله بن عباس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل د ذو الحجې په لسو ورځو کې الله ﷻ له عملونه ډېر زيات خوښ دي په نسبت سره نورو ورځو کې، "قَالُوا: يَا رسولَ اللهِ، وَلاَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ؟ قَالَ: وَلاَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ" صحابه کرامو وفرمايل يارسول الله ﷺ جهاد هم ددې برابر کېدی نه شي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل هو! جهاد هم ددې برابر کېدی نه شي، "إِلاَّ رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ، فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذَلِكَ بِشَيْءٍ" هغه مجاهد چې په خپل نفس او مال سره د الله ﷺ په لار کې ووځي او بيا بېرته وا پس رانشي، يعني دده رتبه د هغه سړي نه زياته ده. رواه البخاري

تشريح: ما من أيام العمل الصالح فيها أحب إلى اللـــه من هذه الأيام يعني أيام العشر: د ذو الحجې په ابتدائي لسو ورځو کې الله ﷻ ته اعمال ډېر زيات خوښ دي په نسبت سره نورو ورځو ته، د ذو الحجې په ابتدائي لسو ورځو کې د حج ارکان ادا کېږي. ځينې مسلمانان ددې نعمت نه فايده حاصله کړي، ليکن هغه کوم چې حج ته نه شي تللی، نو د دوی د زړه خوشحالولو لپاره شريعت دا عمل ښودلی دی چې هغوی دې په خپلو کورونو کې اوسي او په دې ورځو کې دې ښه ډېر اعمال وکړي. په دې وجه په يو روايت کې دي چې څوک په دې ورځو کې روژه ونيسي، هغه ته د يو کال برابر ثواب ملاوېږي او ددې شپې تهجد کول د قدر د شپې برابر دی

باب فضل صوم يوم عرفة وعاشوراء وتاسوعاء

د عاشورې او عرفې په ورځ روژه نيولو فضيلت

"وعن أبي قتادة ﷺ قَالَ: سُئِلَ رسول الله ﷺ عن صوم يوم عرفة" د أبو قتاده ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چې د عرفې په ورځ روژه نيول څنګه دي؟ "قَالَ: يُكَفِّرُ السَّنَةَ المَاضِيَةَ وَالبَاقِيَةَ" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل د يو کال وړاندې ګناهونو او يو کال راتلونکو ګناهونو لپاره کفاره جوړيږي رواه مسلم

تشريح: صوم يوم عرفة: د عرفې د ورځې روژه، عرفه نهم د ذي الحجې ته وايي، په دې ورځ حاجيان په عرفات کې وقوف کوي. کوم چې د حج يو ستر رکن دی، ددې نه پرته حج نه قبليږي، په دې ورځ باندې حاجيانو ته حکم دی چې دوی به بنه په ذکر، اذکار او دعاګانو کې مشغول شي، دوی به روژه نه نيسي، ليکن غير حاجيانو لپاره حکم دا دی چې هغوی دې روژه ونيسي چې ددې ډېر ستر فضيلت بيان شوی دی. که په دې ورځ چا روژه ونيوله، نو د دوه کلونو ګناهونه بې الله ﷻ ورته معاف کوي، يو تير شوی کال بل راتلونکی کال. که دده ګناهونه نه وي بيا بې درجې الله ﷻ اوچتوي

د عاشورا د ورځې روژه

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما: أَنَّ رسول الله ﷺ صَامَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ" د عبد الله بن عباس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د عاشورې په ورځ روژه ونيوله او خلکو ته بې هم په دې ورځ باندې د روژې نيولو حکم وکړو متفق عَلَيْه

تشريح: د عاشورا د ورځې حکم ولې ورکړی شو، ددې وجه دا ده چې په يو روايت کې هم شته چې کله رسول الله ﷺ مدينې منورې ته هجرت وکړو، نو دوی وکتل چې يهوديان په دې ورځ روژه نيسي، نو د يهوديانو نه رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې ددې ورځې څه داسې خانګړې خصوصيت دی چې تاسو پکې روژه نيسئ؟ هغوی ووېل دا ډېره ستره ورځ ده، په دې ورځ باندې زموږ پيغمبر موسی (علی نبينا وعليه الصلوة والسلام، او د هغه قوم ته الله ﷻ د ظالم فرعون نه خلاصون ورکړی وُ، فرعون او د هغه قوم بې په اوبو کې غرق کړل، موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د شکر په توګه په دې ورځ روژه ونيول، نو څکه موږ هم روژه نيسو، نبي کريم ﷺ وفرمايل. موږ ستاسو په مقابله کې موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ډېر نږدې يو، لهذا رسول الله ﷺ امر وکړو چې په دې ورځ روژه ونيسئ او ځپله بې هم روژه ونيول، علماء فرمايي: د اسلام په شروع کې د عاشورې د ورځې روژه نيول فرض وه، ليکن کله چې د رمضان روژې فرض شوې، نو د عاشورې د ورځې د روژې فرضيت منسوخ شو او سنت والی بې اوس هم پاتې دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

د عاشورا په روژه د يو کال ګناهونه معاف کيږي

"وعن أبي قتادة ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ سُئِلَ عَنْ صِيَامِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ" د ابو قتادة ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه د عاشورې په ورځ د روژې نيولو په اړه پوښتنه وشوه؟ "فَقَالَ: يُكَفِّرُ السَّنَةَ الْمَاضِيَةَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل "وعن ابن عباس رضی الله عنهما، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: لَئِنْ بَقِيتُ إِلَى قَابِلٍ لأَصُومَنَّ التَّاسِعَ" د عبد الله بن عباس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: که چېرته زه راتلونکی کال ژوندی پاتې شوم، نو زه به د عاشورې نهم هم روژه نيسم. رواه مسلم

تشريح: په دې حديث کې د عاشورې د ورځې د روژې فضيلت بيان شوی دی، څوک چې په دې ورځ روژه ونيسي، نو د يو تېر شوي کال ګناهونه بې معاف کيږي. د علماوو تحقيق هم دغه دی چې په دې سره صغيره ګناهونه معاف کيږي، د کبيره ګناهونو لپاره د توبې ضرورت دی

د عاشورې د روژې سره يوه بله ورځ روژه هم نيول پکار دي

"وعن ابن عباس ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: لئن بقيت إلى قابل لاصومن التاسع: رواه مسلم" د ابن عباس ﷺ څخه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: که چېرته زه راتلونکی کال ژوندی پاتې شوم، نو زه به نهم/ ۹ محرم هم روژه نيسم

تشريح: لئن بقيت إلى قابل لأصومن التاسع: که چېرته زه راتلونکی کال ژوندی پاتې شوم، نو د عاشورا په نهم/ ۹ تاريخ به ضرور روژه نيسم، رسول الله ﷺ ددې ارمان کړی وو، ليکن آينده کال ژوندی پاتې نه شو، د محرم د مياشتې څخه وړاندې وفات شو، علامه ابن همام ﷺ فرمايي: د عاشورا د ورځې روژې نيول مستحب دي، ليکن ددې سره د يهوديانو د مخالفت لپاره د نهم محرم يا وروسته يوولسم د محرم روژه نيول پکار ده

باب استحباب صوم ستة أيام من شوال

د شوال مياشتې شپږ روژې نيولو فضيلت

"عن أبي أيوب ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ أَتْبَعَهُ سِتًّا مِنْ شَوَّالٍ" د ابو ايوب ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د رمضان مياشتې روژې ونيسي او بيا ورپسې شپږ ورځې د شوال ونيسي، "كَانَ كَصِيَامِ الدَّهْرِ" دا داسې دي لکه ټول عمر چې يې روژه نيولې وي رواه مسلم

لغوي تحقيق:

الدهر: ډېره زياته زمانه. ډېره موده، زيات وخت.

تشريح د رمضان د روژې نه وروسته د شوال شپږ ورځې چې څوک ونيسي، نو د ټول کال

ثواب ورته ملاويږي، دا روژې نيول مستحب دي، لکه څرنګه چې علامه نووي رحمه الله فرمايلي دي، حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ددې وجه داسې ليکلې ده چې د يوې نېکۍ کم نه کم لس درجه ثواب ملاويږي، نو د رمضان پوره يوه مياشت چې روژې ونيسي، نو پوره د لسو مياشتو ثواب ورته حاصل شو او بيا يې وروسته شپږ روژې نورې ونيولې، نو ددې هم ورته د دوه مياشتو ثواب ملاو شو، نو دغه شان د ټول کال ثواب ورته حاصل شو، که دغه شان يې هر کال کول، نو د ټول ژوند د روژو ثواب به ورته ملاويږي، علامه عبدالوهاب شعراني رحمه الله فرمايي: د امام ابوحنيفه رحمه الله، امام شافعي رحمه الله او د امام احمد رحمه الله په نزد د شوال شپږ روژې نيول مستحب دي او د امام مالک رحمه الله په نزد دا مستحب نه دي، علامه ظفر احمد عثماني رحمه الله دا باب قائم کړی دی (باب إستحباب صيام ستة من شوال) د شوال شپږ ورځې روژې نيول مستحب دي، بيا دا روژې نيول په هر شکل چې وي نيولی يې شي، برابره خبره ده چې متفرق (يوه ورځ روژه نيسي بله ورځ کوژه نيسي، داسې يې هم نيولی شي او پرلپسې يې هم نيولی شي. په فتاوی دارالعلوم ديوبند کې يې ورته مستحب ويلي دي.

باب إستحباب صوم الإثنين والخميس

د دوشنبې او پنج شنبې په ورځ روژې نيولو فضيلت

"عن أبي قتادة رضي الله عنه: أنَّ رسول الله ﷺ سُئِلَ عَنْ صَوْمِ يَوْمِ الاِثْنَيْنِ" د أبو قتادة رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي: د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چې د دوشنبې په ورځ روژه نيول څنګه دي؟ "فَقَالَ: ذَلِكَ يَوْمٌ وُلِدْتُ فِيهِ وَيَوْمٌ بُعِثْتُ، أَوْ أُنْزِلَ عَلَيَّ فِيهِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا هغه ورځ ده چې زه پيدا شوی يم او په دې ورځ باندې راته پېغمبري راکړل شوه او يا يې داسې وفرمايل: په دې ورځ په ما باندې وحي نازله شوه. رواه مسلم

تشريح: صوم يوم الإثنين: د دوشنبې / دوشنبې ورځ روژه، د دوشنبې د ورځې روژه يې نبودل چې په دې ورځ کې زما ولادت شوی دی او په همدې ورځ ماته پېغمبري راکړل شوې ده، ولادت د دوشنبې په ورځ د ربيع الاول مياشت کې وشو، د نبوت شروع د دوشنبې په ورځ اولسم، ۱۷ د رمضان باندې وشو.

د دوشنبې او پنج شنبې په ورځ الله ﷻ ته اعمال وړاندې کيږي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، عن رسول الله ﷺ، قَالَ: تُعْرَضُ الأَعْمَالُ يَوْمَ الاِثْنَيْنِ وَالخَمِيسِ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ ټول عملونه الله ﷻ ته واړندې کيږي، "فَأُحِبُّ أنْ يُعْرَضَ عَمَلِي وَأنَا صَائِمٌ" نو زه دا خبره خوښه ګڼم چې زما عملونه الله ﷻ ته پيش کيږي او زه روژه يم. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن، ورواه مسلم بغير ذكر الصوم" دا حديث امام ترمذي رحمه الله روايت کړی دی او فرمايلي يې دي چې دا حديث حسن دی او امام مسلم رحمه الله بغير د ذکر د (الصوم) نه روايت کړی دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

تشريح: تعرض الاعمال يوم الاثنين والخميس: د دوشنبې (دوشنبې) او پنجشنبې (پنجشنبې) په ورځ اعمال د الله ﷻ حضور ته وړاندې کيږي.

سوال: په يو حديث کې راځي چې هر سهار او ماښام د الله ﷻ حضور ته اعمال وړاندې کيږي؟

جواب: هره ورځ تفصيلي توګه عمل وړاندې کولی شي او بيا د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ اجمالي توګه وړاندې کولی شي، د سهار او ماښام والا حديث کې به دا تاويل وکړی شي چې پرښتې د انسانانو سهارني اعمال د شپې والا اعمالو نه وړاندې او د شپې اعمال سهارني اعمالو نه وړاندې پورته وړي، ليکن د الله ﷻ حضور ته يې د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ وړاندې کوي.

د دوشنبې د ورځې روژې نيولو اهتمام

"وعن عائشة رضي الله عنها، قالت: كَانَ رسولُ الله ﷺ يَتَحَرَّى صَومَ الاثْنَيْنِ والخَمِيسِ" د عائشه رضي الله عنها نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ به د دوشنبې د ورځې او د پنجشنبې د ورځې روژې نيولو ډېر زيات اهتمام فرمايلو

رواه الترمذي وقال: حديث حسن.

لغوي تحقيق:

يتحرى: قصد او اراده کول، لټول.

تشريح: يتحرى صوم الاثنين والخميس: رسول الله ﷺ به د دوشنبې د ورځې او پنجشنبې د ورځې د روژې نيولو اهتمام کولو، ددې وجه په يو بل حديث کې بيان شوې ده، هغه دا چې په دې ورځ د رسول الله ﷺ ولادت هم شوی دی او په دې ورځ ورته الله ﷻ پېغمبري هم ورکړې ده، په بل حديث کې دا هم بيان شوي دي چې د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ الله ﷻ ته اعمال وړاندې کيږي، نو د رسول الله ﷺ زړه غوښتل چې په دې ورځ زما روژه وي

باب إستحباب صوم ثلاثة أيام من كل شهر

په هره مياشت کې درې ورځې روژه نيول مستحب دي

والأفضل صومها في الأيام البيض وهي الثالث عشر والرابع عشر والخامس عشر

غوره روژې په ايام البيض (ديارلسمه څوارلسمه او پنځلسمه) باندې دي

وقيل: الثاني عشر، والثالث عشر، والرابع عشر، والصحيح المشهور هو الأول

چا ويلي دي چې (دولسمه، ديارلسمه او څوارلسمه) ورځ روژې نيول مستحب دي ليکن اولنی خبره غوره ده

"وعن أبي هريرة ؓ، قَالَ: أوصاني خليلي ﷺ بِثلاثٍ: صِيامِ ثلاثةِ أيامٍ مِنْ كُلِّ شَهرٍ" د ابو هريره ؓ نه روايت

دی فرمايي چې ماته زما دوست رسول الله ﷺ وصيت وکړو چې په هره مياشت کې درې ورځې روژه نيسه، "وَرَكْعَتَيِ الضُّحَى، وَأَنْ أُوتِرَ قَبْلَ أَنْ أَنَامَ" او بل دوه رکعته د څاښت لمونځ کول او بل وتر کول مخکې د ويده کېدو نه. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب بيان فضل صلاة الضحی) کې تېر شوی دی.

ابودرداء ﷺ ته وصيت

"وعن أبي الدرداء ﷺ، قَالَ: أَوصاني حَبِيبي ﷺ بِثَلاثٍ لَنْ أَدَعَهُنَّ مَا عِشْتُ" د أبو الدرداء ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ماته زما ملګري رسول الله ﷺ د درې خبرو وصيت وکړو چې تر څو زه ژوندی يم هغه به نه پرېږدم. "بِصِيَامِ ثَلاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ" په هره مياشت کې درې ورځې روژه نيول، "وَصَلاةِ الضُّحَى" او دوه رکعته څاښت لمونځ کول. "وبِأَنْ لاَ أَنَامَ حَتَّى أُوتِرَ" بل دا چې زه به تر هغه پورې ويده نه شم چې تر څو مې وتر نه وي کړي. رواه مسلم

تشريح: په دې حديث کې ابو درداء ﷺ ته رسول الله ﷺ د درې ورځې روژو نيولو وصيت فرمايلې دی، که يو کس په هره مياشت کې درې ورځې روژې نيسي، نو د يوې نېکۍ ثواب لس چنده دی، دغه شان د درې ورځو ثواب به ورته د دېرشو ورځو په ثواب باندې حساب شي، نو که ټول ژوند يې په هره مياشت کې درې ورځې روژې ونيولې، نو د ټولې زندګۍ ثواب به ورته حاصل شي

په مياشت کې متفرق روژې نيول

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: صَوْمُ ثَلاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ صَوْمُ الدَّهْرِ كُلِّهِ" د عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په هره مياشت کې درې ورځې روژه نيول داسې دي لکه ټول عمر يې چې روژه نيولې وي. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: په دې حديث کې هم په هره مياشت کې د درې ورځې روژو نيولو فضيلت بيانيږي. صرف درې ورځې روژې نيولو سره د پوره مياشتې ثواب انسان ته ملاويږي او که ټول ژوند يې داسې وکړل نو بيا به د ټولې زندګۍ د روژې ثواب ورته ملاويږي

په مياشت کې يې چې هره ورځ خوښه وي روژه نيولی شي

"وعن مُعاذة العدوية: أنها سألت عائشة رضي الله عنها: أَكَانَ رسول الله ﷺ يَصُومُ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلاثَةَ أَيَّامٍ؟" د معاذة العدويه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د عائشه ﷺ نه پوښتنه وکړه چې آيا رسول الله ﷺ به په هره مياشت کې درې ورځې روژې نيولې؟ "قالت: نَعَمْ. فقلتُ: مِنْ أَيِّ الشَّهْرِ كَانَ يَصُومُ؟" هغې وفرمايل: هو، ما ورته بيا ووېل: په کومه متعين او مشخصه مياشت کې به يې نيولې؟ "قالت: لَمْ يَكُنْ يُبَالِي مِنْ أَيِّ الشَّهْرِ يَصُومُ" هغې وفرمايل: ددې خبرې قيد به نه وي چې په کومه مياشت کې به يې خوښې شوې روژې نيولې. رواه مسلم

Maktaba Tul Ishaat. com

لغوي تحقيق:

لم‌يكن‌يبالي: پروا كول

تشريح: ددې حديث نه دا خبره معلومه شوه چې په مياشت كې هره ورځ چې يې خوښه شي روژې نيولې شي، په دې كې كوم قيد نشته چې په فلانكۍ ورځ به يې نيسې او په فلانكۍ نه، يا په ترتيب سره به يې نيسې يا نه، هر رنګ چې وي خو چې درې ورځې روژې ونيول شي، ايام بيض دې ورځو ته وايي: ۱۳، ۱۴، ۱۵.

د راوي معاذه عدويه رحمها الله حالات:

اصل نوم يې معاذه رحمها الله ده، د پلار نوم يې عبد الله دی، كنيت يې ام الصهباء ده، د خاوند نوم يې صله بن اشيم ده، د بصرې اوسېدونكې وه، د محدثينو په نزد ثقه دی، د عايشې رضي الله عنها سره به يې ملاقاتونه كېدل، نو ځكه د هغې احاديث معاذه رحمها الله رانقل كوي، ډېر زيات عبادت ګزاره ښځه وه، ابن جوزي رحمه الله د حكيم بن سنان نه نقل كړي دي چې ماته يوې خادمې چې د «معاذه عدويه رضي الله عنها» سره اوسېده، بيان يې وكړو چې هغې به ټوله شپه عبادت كولو، كله چې به خوب ورباندې غلبه وكړه، نو پېدل مزل به يې شروع كړو، خپل نفس به يې مخاطب كړو چې اې نفس! خوب ستا په وړاندې دی، اوس پرېږده بيا به ويده شې، دوی به په ژړا شوه، تردې چې سهار به شو، ددې ښځه اصحاب د صحاح سته په خپلو كتابونو كې روايات نقل كوي.

د ايام بيض روژې

"وعن أبي ذر رضي الله عنه، قَالَ : قَالَ رسول الله ﷺ : إذا صُمْتَ مِنَ الشَّهْرِ ثَلَاثًا" د ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چې ته په مياشت كې درې ورځې روژې نيول غواړې، "فَصُمْ ثَلَاثَ عَشْرَةَ، وَأَرْبَعَ عَشْرَةَ، وَخَمْسَ عَشْرَةَ" نو بيا ديارلسمه، څوارلسمه او پنځلسمه ورځ روژه نيسه" "رواه الترمذي وقال: حديث حسن".

تشريح: أيام البيض: د هرې مياشتې ديارلسم، څوارلسم او پنځلسم ته ايام البيض وايي، په هره مياشت كې درې ورځې روژې نيولو تائيد چې څومره په ذخيره د احاديثو كې راغلې دی، كه دا ټول سره جمع كړل شي، نو پوره دوولس صورتونه جوړيږي: (۱) غير معين، په ټوله مياشت كې دې چې كله خوښه شي، (۲) د مياشتې په شروع كې درې ورځې روژې يعنې اوله ورځ، دويمه ورځ او دريمه ورځ، (۳) د مياشتې په هره هفته كې دې چې خوښه وي د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ، (۴) د مياشتې په سې شنبه، چارشنبه او پنج شنبه، (۵) ايام البيض، (۶) د مياشتې دوشنبه، سې شنبه او چهارشنبه، (۷) د مياشتې چې هر كله دې خوښه وي خو پنجشنبه، جمعه او هفته، (۸) اولنۍ روژه د شنبې په ورځ بيا دوه روژې د پنجشنبې په ورځو كې، (۹) د دوشنبې په ورځ پنج شنبې په ورځ او د شنبې په ورځ، (۱۰) په هره عشره كې يوه ورځ روژه، (۱۱) د مياشتې په آخري ورځو كې درې روژې، (۱۲) اولنۍ روژه د

پنجشنبې په ورځ بيا دوه روژې د دوه شنبې په ورځو کې، مقصد دا دی چې شريعت په دې کې کوم خاص قيد نه دی لګولی، بلکې د آسانتيا په خاطر چې بې کله خوښه شي، بس روژه نيول پکار دي، ټولې ورځې برابرې دي، ليکن د ايام بيض فضيلت لږ زيات دی

رسول الله ﷺ به د ايام بيض روژو حکم کولو

"وعن قتادة بن ملحان رضي الله عنه، قَالَ: كَانَ رسولُ الله ﷺ يَأْمُرُنَا بِصِيَامِ أَيَّامِ البِيض" د قتاده بن ملحان رضي الله عنه نه روايت دی فرمايي چې موږ ته به رسول الله ﷺ د ايام البيض يعنې د سپينو ورځو د روژو نيولو حکم فرمايلو. "ثَلاثَ عَشْرَةَ، وَأَرْبَعَ عَشْرَةَ، وَخَمْسَ عَشْرَةَ" يعنې: ديارلسمه ورځ، څوارلسمه ورځ او پنځلسمه ورځ روژه نيولو حکم به يې راته کولو. رواه أبوداود

تشريح: ايام بيض يعنې د رڼا ورځې، ددې نه مراد ۱۳، ۱۴، ۱۵، ورځې مراد دي، او دې ته ايام بيض ځکه ويلی شي چې په دې شپو کې د مياشتې رڼا د شپې د اول نه تر آخره پورې وي، لکه ټوله شپه چې رڼا وي، ځينې علماء فرمايي: ديته ځکه ايام بيض ويل کيږي چې که څوک په دې ورځو کې روژې ونيسي، نو د هغه ځخه د ګناهونو تيارې لرې شي او د ايمان په رڼا منور شي، زړه يې صفا شي

د راوي قتاده بن ملحان رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې قتاده رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې ملحان دی، د ژوند آخري پړاو يې په بصره کې تېر کړی دی، علامه ابن اثير رحمه الله فرمايي: دوی د رسول الله ﷺ نه صرف دوه احاديث نقل کړي دي

رسول الله ﷺ به په سفر او حضر دواړو کې د ايام بيض روژې نيولې

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قَالَ: كَانَ رسولُ الله ﷺ لاَ يُفْطِرُ أيَّامَ البِيضِ في حَضَرٍ وَلاَ سَفَرٍ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به په سفر او حضر کې د ايام البيض ورځو روژې نه پرېښودلې. رواه النسائي بإسنادٍ حسن

تشريح: د ايام البيض ورځو فضيلت بيانول مقصود دي، رسول الله ﷺ به په هر حال کې (سفر به وُ او که به حضر وُ)، د ايام البيض روژې به يې نيولې، په دې ورځو کې روژې نيول مستحب دي

باب فضل من فطّر صائماً وفضل الصائم الذي يؤكل عنده ودعاء الآكل للمأكول عنده

د روژه دار سرې روژې ماتولو فضيلت او هغه ته دعاء کول

"عن زيد بن خالد الجُهَنِيِّ رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: مَنْ فَطَّرَ صَائِماً، كَانَ لَهُ مِثْلُ أجْرِهِ" د زيد بن خالد جهني نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د يو روژه دار روژه ماته کړي، هغه ته به هم دومره اجر ملاويږي څومره اجر چې روژه دار ته ملاويږي، "غَيْرَ أنَّهُ لاَ يَنْقُصُ مِنْ أجْرِ الصَّائِمِ شَيْءٌ" او د روژه

Maktaba Tul Ishaat. com

دار سري د اجر نه به هيڅ شی نه کميږي. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: من فطر صائماً: څوک چې د بل کس روژه ماته کړي، يعني هغه ته يې داسې څه شی ورکړو چې هغه پرې روژه ماته کړي، برابره خبره ده چې خورما وي، که اوبه وي يا څه بل شی وي چې هغه پرې روژه ماته کړي، په يو بل روايت کې دي چې راوي يې سلمان فارسي ﷺ دی. په دې روايت کې د رمضان قيد هم ذکر شوی دی. کوم کس چې د بل کس روژه په رمضان کې ورماته کړي، د هغه لپاره به دا عمل د ګناهونو بخښنې او د دوزخ نه د خلاصون ذريعه وي، روژه ورماتونکي لپاره به هغومره اجر وي، ليکن د روژه دار په روژه کې به کمی نه راځي، صحابه وو پوښتنه وکړه. اې د الله تعالی رسوله! په موږ کې هر کس دومره شيان نشي موندلی چې د يو روژه دار سرې روژه ورباندې ماته کړي، رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ دا اجر صرف په يوه خورما هم ورکوي يا په يو ګوټ: غوړ اوبو ورکولو يا په يو ګوټ: غوړ شيدو ورکولو سره يې هم ورکوي، په دې حديث کې د روژې ماتولو ترغيب دی، ددې په واسطه د مسلمانانو خپل مينځ کې مينه او محبت هم زياتيږي.

د روژه دار لپاره پرښتې د الله ﷻ نه استغفار غواړي

"وعن أم عمارة الأنصارية رضي الله عنها: أن النبي ﷺ دخل عليها، فقدمت إليه طعاماً، فقال: كلي فقالت: اني صائمة" د ام عمارة الانصارية ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ نبي کريم ﷺ زما کره ميلمه شو، نو ما ورته ډوډی مخې ته کېښوده، رسول الله ﷺ ماته وفرمايل: ډوډی وخوره! ما ورته وويل: زما روژه ده، "فقال رسول الله ﷺ: إن الصائم تصلي عليه الملائكة إذا أكل عنده حتى يفرغوا" نبي کريم ﷺ وفرمايل: روژه دار سړي ته ترهغې پورې پرښتې د مغفرت دعاګانې کوي تر څو چې ورسره خوراک کوي او هغه د ډوډی نه فارغ شوی نه وي، "وربما قال: حتى يشبعوا" او کله به يې داسې فرمايل: تر څو چې موړ شوی نه وي. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: په دې حديث کې د روژه دار د روژې فضيلت بيان دی، تر څو پورې چې د روژه دار سړي په وړاندې څوک خوراک کوي او هغه په دې صبر کوي، نو پرښتې ورته د مغفرت دعاګانې کوي تر څو چې دده په وړاندې خوراک کيږي.

د راوي ام عماره الانصاريه ﷺ حالات:

اصل نوم يې نسيبه ﷺ ده، کنيت يې ام عماره ده، د خزرج قبيلې نجار خاندان سره يې تعلق درلود، اولنی نکاح يې د زيد بن عاصم سره شوې وه، بيا يې په دويم ځل د عربه بن عمرو سره نکاح وشوه، په بيعت عقبه کې چې کوم خلک مسلمان شوي وو، په دوی کې دا هم شريکه وه، د احد په غزا کې شريکه وه، په رسول الله ﷺ باندې به چې چا حمله کول، دوی به ترې دفاع کول، په بيعت رضوان، خيبر او په فتح مکه کې شريکه وه.

د ابوبکر ﷺ په دور خلافت کې په يمامه کې جنګ شروع شو، په دې کې يې هم شرکت کړی

دی. څکه چې مسيلمه کذاب ملعون د دوی پو زوی حبيب ﷺ شهيد کړی وو، په دې جنګ کې دوی ته ۱۲ زخمونه رسېدلي وو. په همدې جنګ کې مسيلمه ملعون هم مردار شو

وفات: د دوی ﷺ دوفات تاريخ پتا پوره نشته

مرويات: د دوی نه درې احاديث منقول دي او اصحاب السنن په خپلکو کتابونو کې نقل کړي دي

د مېلمستيا نه وروسته دعاء

"وعن أنس ﷺ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ جَاءَ إِلَى سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ ﷺ فَجَاءَ بِخُبْزٍ وَزَيْتٍ، فَأَكَلَ، ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: أَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّائِمُونَ" د انس ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ زمونږ کره تشريف راوړو، نو ما ورته دوډی او د زيتونو تېل وړاندې کړل، نبي کريم ﷺ هغه وخوړل بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل ستاسو سره روژه دارو خلکو روژه ماته کړه، "وَأَكَلَ طَعَامَكُمُ الأَبْرَارُ" او ستاسو کره نېکو خلکو خوراک وکړو، "وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ المَلَائِكَةُ" او تاسو ته پرښتو د مغفرت دعاګانې وکړې، "رواه أبوداود بإسناد صحيح"

تشريح: افطر عندکم الصائمون: روژه دارو خلکو تاسو سره روژه ماته کړه، علماء فرمايي چې دا جمله خبريه ده، ليکن د دعا په شکل ده، چې الله ﷻ دې تاسو ته د هغه سرې په شان بدله درکړي کوم چې خلکو ته روژه ماتوي، بل په دې حديث کې ترغيب دی دې خبرې ته چې انسان ته پکار دي چې ترخپله وسه پورې خلکو ته مېلمستيا وکړي، بل دا چې روژه دار ته هم پکار ده چې هغه ته دعاء وکړي

كتاب الاعتكاف

د اعتکاف بيان

باب الاعتكاف في رمضان

په روژه کې اعتکاف کول

"عن ابن عمر رضي الله عنهما، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَعْتَكِفُ العَشْرَ الأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ" د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د رمضان په آخري لسو ورځو کې اعتکاف کولو. متفق عليه

لغوي تحقيق:

يعتكف: عکفه عکفاً، ددې معنی ده: بندېدل/ منع کول

تشريح: يعتكف العشر الأواخر من رمضان: د روژې په آخري شپو کې به يې اعتکاف کولو، رسول الله ﷺ چې کله مدينې منورې ته هجرت وکړو، نو د روژې په آخري لسو شپو کې به يې خامخا اعتکاف کولو، په دې بنياد علماء فرمايي چې اعتکاف سنت موکده دی، علامه عيني رحمه الله د ابن شهاب زهري رحمه الله نه قول نقل کړي دي چې دوی به ډېر زيات په حيرانتيا سره دا خبره کول چې په خلکو څه شوي دي چې دوی هغه عمل پرېږدي کوم عمل چې به رسول الله ﷺ همېش کولو

Maktaba Tul Ishaat. com

رسول الله ﷺ درمضان په آخري شپوکې اعتكاف وكړو

"وعن عائشة رضي الله عنها: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ" د عائشه ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د رمضان په آخري لسو ورځو كې اعتكاف كولو. "حَتَّىٰ تَوَفَّاهُ اللهُ تَعَالَىٰ، ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ" تردې چې الله ﷻ د هغه روح قبض كړ، بيا به د دوی نه وروسته يې ښځو اعتكاف كولو متفقٌ عليه

تشريح: حتی توفاه: تردې چې ددې فاني نړۍ څخه وفات شو، ليكن دوفات كېدو ترآخره يې كله چې مدينې منورې ته هجرت كړی دی اعتكاف كولو، په دې بنياد په درمختار كې دامسئله په صراحت سره ذكرده چې اعتكاف سنت موكده على الكفايه دې، ددې مطلب دا دی چې كه په كوركلي كې يو كس هم په جومات كې اعتكاف وكړونو د ټولو غاړه پرې او كه يو هم په اعتكاف كې كېنه ناستلو، نو ټول كلي اومحله وربانديې ګناهګاره ده.

ثم اعتكف أزواجه من بعده: بيا د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته د دوی ازواج مطهرات رضي الله تعالى عنهن به اعتكاف كولو، فقهاء ليكي: ښځې به په خپلو كورونو كې اعتكاف كوي، دا د دوی په حق كې مستحب خبره ده، په كور كې دې خاته يو ځای مخصوص كړي او په هغې كې دې اعتكاف كوي، بيا دې د ضرورت څخه بغير ددې ځای نه، نه وځي، دا ځای به د ښځو په حق كې جومات ګڼل كېږي

شل ورځې اعتكاف كول

"وعن أبي هريرة ؓ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَعْتَكِفُ فِي كُلِّ رَمَضَانَ عَشْرَةَ أَيَّامٍ" د أبو هريره ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د رمضان په آخري لسو شپو كې اعتكاف كولو. "فَلَمَّا كَانَ الْعَامُ الَّذِي قُبِضَ فِيهِ اعْتَكَفَ عِشْرِينَ يَوْماً" او په كوم كال چې وفات شو، په هغه كال بانديې شل ورځې اعتكاف وكړو رواه البخاري

تشريح: ددې حديث نه دا خبره معلومه شوه چې اعتكاف شل ورځې هم كېدلی شي، ليكن د رسول الله ﷺ عام عادت مبارك د لسو ورځو د اعتكاف وو، په دې بنياد د فقهاوو په نزد سنت موكده اعتكاف آخري لس ورځې دی

د شل ورځو د اعتكاف وجه؟

رسول الله ﷺ به هر كال د قرآن كريم يو دور كولو، ليكن په كوم كال چې رسول الله ﷺ وفات كېدو، په دې كال يې د قرآن كريم دوه دوره كړي وو، پوره شل ورځې يې اعتكاف هم كړی وو، وجه يې يا دا وه چې د رسول الله ﷺ نه تېر كال اعتكاف پاتې وو، يا دا چې د قرآن كريم دور دوه ځلې شوی و، نو اعتكاف يې هم شل ورځې وكړو، يا دا چې دا كال د رسول الله ﷺ د ژوند آخرينی كال وو، د الله ﷻ په حضور كې

د حاضرۍ وخت رانژدې وو، نو ځکه د وصال شوق او غلبه زياته وه، په دې کې امت ته هم تعليم دی چې په آخري وخت کې بايد انسان نېکو اعمالو ته متوجه شي بايد د ژوند په دې آخري شېو او ورځو کې خپل رب راضي کړي او داسې کوم کار ترې ونه شي چې بيا ورته د توبې موقع هم په لاس نه ورځي

كتاب الحجّ

د حج بيان

باب وجوب الحج وفضله

د حج فرضيت او د هغې اجر

"قَالَ اللّٰه تعالى: وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً" او خاص الله ﷻ لره دي په خلکو باندې د بيت الله شريف حج کول چې د کوم سړي وس او طاقت وي، "وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ" او کوم کس چې د حج د فرضيت څخه کافر شي، نو پوه شه چې الله ﷻ د ټول عالم نه بې پروا ذات دی. [آل عمران: ۹۷].

تشريح: علامه عيني رحمه الله فرمايي : د حج فرضيت د دې آيت څخه ثابت دی، بل دا چې په دې آيت کې ډېر زيات تاکيدات جمع شوي دي، مثلاً لله: کې لام د ايجاب لپاره دی، يعني ضروري دی، "على الناس" په خلکو باندې لازم دي او بل "ومن كفر" کوم کس چې حج نه کوي داسې عمل يې په کفر سره تعبير کړو، "غنى عن العالمين" کوم کس چې حج نه کوي، الله ﷻ د داسې کس نه بې پروا دی، دا جمله په غصه او قهر باندې دلالت کوي.

ومن كفر: ائمه اربعه وايي په کوم کس باندې چې حج فرض شي او حج ونه کړي او مړ شي، نو کافر نه دی، تر څو چې د حج د فرضيت انکار يې نه وي کړی، البته ګناهګار به خامخا وي، دا جمله بطور تهديد او زجر ده چې په کوم کس باندې حج فرض شي او بيا هم حج ونه کړي، نو دې کس د کافرانو په شان عمل وکړو، دا جمله د هغو کسانو لپاره سخت وعيد دی چې د طاقت او مالي استطاعت باوجود حج ونه کړي، هغوی په دې عمل کې د کافرانو په شان کيږي.

د اسلام بنياد په پنځه شيانو دی

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: بُنِيَ الإِسْلامُ عَلَى خَمْسٍ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د اسلام بنياد په پنځه ستنو ولاړ دی: "شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ، وَأَنَّ مُحَمَّداً رسولُ اللّٰه" د دې خبرې شاهي ورکول چې نشته لائق د عبادت سېوا د الله نه او محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی، "وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَحَجِّ الْبَيْتِ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ" د لمانځه پابندي کول، زکوة ورکول، د بيت الله شريف حج کول او روژه نيول. متفقٌ عَلَيْهِ

Maktaba Tul Ishaat. com

لغوي تحقيق:
حج: حج حجاً، باب نصر ينصر دی، معنى يې ده: اراده کول، د مقدسو مقاماتو زيارت کول.

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب الامر بالمحافظة على الصلوات المكتوبات) کې تېر شوی دی، علامه نووي رحمه الله يو ځل بيا دلته راوړو، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې د دين اسلام پنځم او اهم رکن حج دی.

حج په ټول ژوند کې يو ځل فرض دی

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: خَطَبَنَا رسولُ اللهِ ﷺ، فَقَالَ: أَيُّهَا النَّاسُ، قَدْ فَرَضَ اللهُ عَلَيْكُمُ الحَجَّ فَحُجُّوا" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ موږ ته رسول الله ﷺ خطبه ووېل، په هغې کې يې وفرمايل: اې خلکو! په تاسو باندې الله ﷻ حج فرض کړی دی، نو حج کوئ "فَقَالَ رَجُلٌ: أكُلَّ عَامٍ يَا رَسُولَ اللهِ؟ فَسَكَتَ، حَتَّى قَالَهَا ثَلاثاً. فَقَالَ رسولُ الله ﷺ: لَوْ قُلْتُ نَعَمْ لَوَجَبَتْ، وَلَمَا اسْتَطَعْتُمْ" يو کس پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ هر کال به حج فرض وي؟ نبي کريم ﷺ چوپ پاتې شو، هېڅ يې ونه ويل، داسې درې ځله وشو، نبي کريم ﷺ بيا وفرمايل: که چېرته ما ويلي وای چې هو! نو بيا به هر کال درباندې حج فرض وو او دې وس او طاقت به بيا تاسو نه درلود، "ثُمَّ قَالَ: ذَرُونِي مَا تَرَكْتُكُمْ، فَإِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِكَثْرَةِ سُؤَالِهِمْ، وَاخْتِلافِهِمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ" نبي کريم ﷺ بيا وفرمايل: ما پرېږدئ تر څو زه تاسو ته د څه شي باره کې حکم ونه کړم، ځکه چې ستاسو نه مخکې قومونه په دې وجه هلاک شوي وو چې هغوی به ډېرې پوښتنې کولې او د خپلو پېغمبرانو سره به يې اختلاف کولو، "فَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ، وَإِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَدَعُوهُ" بس زه چې کله تاسو ته د څه شي باره کې د کولو حکم وکړم، هغه تر خپله وسه پوره کوئ او د کوم شي نه مو چې منع کړم د هغه نه منع کېږئ! رواه مسلم

تشريح: فقال رجل أكــل عام يارسول الله ﷺ! يو کس پوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ په هر کال حج فرض دی؟ د سوال کونکي صحابي نوم په يو بل روايت کې د اقرع بن حابس رضي الله عنه ياد شوی دی، هغوی حج په نورو عبادتونو باندې قياس کړو، لکه لمونځ شو، روژه شوه، زکاة وغيره شو، نو پوښتنه يې وکړه چې په هر کال باندې حج فرض دی؟ نبي کريم ﷺ په دې پوښتنې د ناخوښۍ اظهار وکړو، هغه دا چې که ما درته ويلي وای چې هو! نو بيا به هر کال حج فرض شوی وو، ځکه چې ما به دا جواب د الله ﷻ په حکم درکولو، يې د الله ﷻ د حکم نه کومه تشريعي خبره زما د ژبې مبارکې نه نه وځي، که هر کال درباندې حج فرض وای، نو بيا به تاسو دومره وس او طاقت نه درلود.

د جهاد نه وروسته غوره عمل مبرور حج دی

"وعنه، قَالَ: سُئِلَ النَّبيُّ ﷺ أيُّ العَمَلِ أفْضَلُ؟ قَالَ: إيمَانٌ بِاللهِ وَرَسُولِهِ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چې کوم يو عمل ډېر غوره دی؟ نبي کريم ﷺ ورته

وفرمايل: په الله ﷻ او د هغه په رسول ﷺ باندې هم ايمان راوړل، "قيل: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: الجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ" پوښتنه بيا وشوه چې بيا کوم عمل دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ په لار کې جهاد کول. "قيل: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: حَجٌّ مَبْرُورٌ" بيا پوښتنه وشوه چې بيا کوم عمل دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: مقبول حج دی. متفقٌ عَلَيْهِ

"المبرور هُوَ: الَّذِي لا يرتكِبُ صَاحِبُهُ فِيهِ معصيةً" د حج مبرور نه مراد هغه حج دی چې د الله ﷻ نافرماني پکې ونه شي.

تشريح: أي العمل أفضل؟: کوم عمل تر ټولو زيات غوره دی؟ دا يو سوال دی، ليکن د رسول الله ﷺ څخه په احاديثو کې ددې مختلف جوابات راغلي دي، کله به يې د حالاتو مطابق جواب وفرمايلو، کله به يې د سائل د حال مطابق جواب ورکړو، "الجهاد في سبيل اللـــه قيل ثم ماذا؟ قال حج مبرور" د الله ﷻ په لاره کې جهاد کول، پوښتنه وشوه چې بيا کوم عمل دی؟ وې فرمايل: چې مبرور حج دی.

سوال: د حج درجه د جهاد نه وړاندې ده، ليکن دلته يې وروسته ذکر کړو، دا ولې؟

جواب: قاضي عياض رحمه الله فرمايي: دا خبره د اسلام په شروع کې وه، د جهاد فرضيت وړاندې شوی دی، بيا ددې نه وروسته حج فرض شو، دا هم کېدی شي چې دا مسئله د هغه وخت وي کله چې جهاد فرض عين شي، يعنې کله چې کفار حمله وکړي، نو بيا هر سړي باندې جهاد دی، په دې صورت کې جهاد په حج باندې مقدم دی.

د مبرور حج بدله

"وعنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ اللهِ ﷺ، يقول: مَنْ حَجَّ، فَلَمْ يَرْفُثْ، وَلَمْ يَفْسُقْ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: کوم کس چې حج وکړي په داسې حال کې چې نه يې پکې جماع کړې وي، نه يې کوم د فسق کار پکې کړی وي، "رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ" دی د ګناهونو نه داسې پاک کور ته راواپس شي. لکه اوس چې د مور نه پيدا شوی وي. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: يرفث: د رفث معنی ده: جماع کول، يعنې داسې خبرې کول، يا د ښځې سره داسې خبرې وکړي چې جماع طرفته انسان مائل کړي، "يفسق" مطلب دا چې د حج پرمهال لويه ګناه ونه کړي او په وړوکې ګناه باندې اصرار ونه کړي، د حديث مطلب دا دی چې کوم کس د الله ﷻ د رضا لپاره داسې حج وکړي چې بالکل صغيره او کبيره ګناهونه يې ترې ونه شي، نه کوم داسې صورت اختيار کړي چې د صغيره يا کبيره ګناه موجب ګرځي، نو که داسې کس د حج نه واپس کور ته راشي، د ګناهونو نه به داسې پاک وي، لکه نن چې د خپلې مور نه زېږېدلی وي.

يوه عمره تر بلې عمرې پورې د ګناهونو کفاره ګرځي

"وعنه: أنَّ رسولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: العُمْرَةُ إِلَى العُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي

Maktaba Tul Ishaat. com

چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يوه عمره تر بلې عمرې پورې د هغو ګناهونو كفاره وي چې ددې په مينځ كې شوي وي، "وَالْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةَ" او د قبول شوي حج بدله صرف جنت ده. متفق عليه

تشريح: العمرة إلى العمرة كفارة لما بينهما: يوه عمره تر بلې عمرې پورې د ګناهونو لپاره كفاره ده، د امام شافعي رحمه الله په نزد عمره د حج په شان فرض ده، د احنافو په نزد عمره سنت مؤكده ده، په دې حديث كې د عمرې فضيلت بيان شوى دى، ددې په بركت چې په مينځ كې كوم ګناهونه شوي وي هغه ټول ورسره معاف كيږي او د قبول شوي حج بدله دا ده چې د انسان ټول ګناهونه ورسره معاف كيږي او ددې بدله جنت ده

د ښځو جهاد قبول شوى حج دى

"وعن عائشة رضي الله عنها، قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رسول الله، نَرَى الجِهَادَ أَفْضَلَ العَمَلِ، أَفَلاَ نُجَاهِدُ؟" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دى هغه فرمايي چې ما رسول الله ﷺ ته وويل: يارسول الله ﷺ موږ په عملونو كې غوره عمل جهاد ګڼو، ايا موږ (ښځې) جهاد ونه كړو؟ "فَقَالَ: لَكُنَّ أَفْضَلُ الجِهَادِ: حَجٌّ مَبْرُورٌ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: ستاسو غوره جهاد قبول شوى حج دى. رواه البخاري

تشريح: أفضل الجهاد حج مبرور: غوره جهاد قبول شوى حج دى، محدثين فرمايي: په دې حديث كې عامو وختونو كې د ښځو لپاره حج غوره عمل ښودل شوى دى، ليكن كله چې جهاد فرض عين شي، لكه كفار چې په كوم اسلامي هېواد باندې حمله وكړي، نو بيا به په داسې صورت كې جهاد مقدم وي، ښځې به د مجاهدينو زخميانو ته د مرهم پټى، تړي او د خوراك څښاك وغيره انتظام به بې كوي

د عرفې ورځ د بخښنې ورځ ده

"وعنها: أَنَّ رسولَ الله ﷺ، قَالَ: مَا مِنْ يَوْمٍ أَكْثَرَ مِنْ أَنْ يُعْتِقَ اللهُ فِيهِ عَبْداً مِنَ النَّارِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د عرفې په ورځ چې څومره دوزخيان د دوزخ نه ازادولى شي دومره كسان په كومه بله ورځ نه شي ازادولى. رواه مسلم

لغوي تحقيق: يوم عرفة: د ذي الحجه نهمې ته د عرفې ورځ وايي

تشريح: مامن يوم اكثر من ان يعتق الله فيه عبدا من النار: بله ورځ داسې نشته لكه د عرفې د ورځې په شان چې په دې ورځ كې ډېر زيات خلك الله جل جلاله د جهنم د عذاب نه خلاصوي، په دې حديث كې د عرفې د ورځې فضيلت بيان شوى دى

په روژه كې عمره د حج برابر ده

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما: أنَّ النبيَّ ﷺ، قَالَ: عُمْرَةٌ في رَمَضَانَ تَعْدِلُ حَجَّةً" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: په روژه كې عمره كول د حج برابر ده، "أَوْ حَجَّةً مَعِي" يا يې داسې وفرمايل: لكه زما سره يې چې حج كړى وي متفق عليه

تشريح: تعدل حجة: د حج برابر ده، ددې دا مطلب نه دی چې کوم کس په روژه کې عمره وکړي، نو د هغه د حج فرضي ذمه فارغه شوه، بيا د حج کولو ضرورت نشته، داسې نه ده، بلکې د حج او ثواب په لحاظ يې داسې وفرمايل: چې د حج برابره ده.

ايا د پلار له طرفه حج کيږي؟

"وعنه: أنّ امرأة قالت: يَارسول الله، إنّ فَرِيضَةَ اللهِ على عِبَادِهِ فِي الحَجِّ، أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخاً كَبِيراً" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يوې ښځې رسول الله ﷺ ته وويل: يا رسول الله ﷺ! د الله ﷻ له طرفه په خپلو بندګانو باندې فرض شوي شيانو کې زما په پلار باندې حج فرض شوی دی، ليکن هغه ډېر زيات ضعيف او کمزوری دی، "لَا يَثْبُتُ على الرَّاحِلَةِ أَفَأَحُجُّ عَنْهُ؟ قَالَ: نَعَمْ" په اس باندې نه شي سپرېدلی، ايا زه د هغه له طرفه حج کولی شم؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: هو! د هغه له طرفه حج کولی شې. متفقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

شيخاً: بوډا، سپين ږيری.

تشريح أدركت أبي شيخا كبيرا: زما په بوډا پلار باندې حج فرض شوی دی، مطلب دا دی چې په دې بوډاتوب کې اوس مسلمان شو يا دا چې اوس ورسره دومره مال پيدا شو چې حج پرې فرض کيږي، "لايثبت على الراحلة" هغه په اس باندې کېنستلی نه شي، مطلب دا چې هغه دومره کمزوری دی چې په سورلۍ باندې نه شي کېنستلی، باقي د حج ارکان خو په ځای پرېږده، هغه خو بطريق اولی نه شي ادا کولی، "افأحج عنه؟" ايا زه د هغه له طرفه حج کولی شم؟ علماء ليکي: د بل له طرفه هغه وخت يو انسان حج کولی شي کله چې هغه د حج خرچه وغيره هم په خپل ځان واخلي، هغه ددې حکم هم ورکړي يا د مرګ په مهال يې وصيت کړی وي، نو دلته ممکنه ده چې د هغه پلار هغه ته خرچه هم ورکړې وي او حکم به يې هم ورته کړی وي، نو په دې وجه رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو د هغه له طرفه حج کولی شئ، ځينو علماوو ددې نه مور پلار مستثنی کړي دي چې اولاد د مور پلار له طرفه حج کولی شي، اګرچې مور پلار ورته اجازه هم نه وي ورکړې

ايا د معذور پلار له طرفه حج کېدلی شي؟

"وعن لقيط بن عامر ﷺ: أنّه أتى النبيّ ﷺ، فَقَالَ: إنّ أَبِي شَيْخٌ كَبِيرٌ، لَا يَسْتَطِيعُ الحَجَّ، وَلَا العُمْرَةَ، وَلَا الظَّعْنَ؟" د لقيط بن عامر ﷺ نه روايت دی هغه يوه ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، وې ويل يارسول الله ﷺ! زما پلار ډېر زيات کمزوری دی، نه حج ته تلی شي، نه عمره کولی شي او نه د سفر طاقت لري. اوس څه وکړم؟ "قَالَ: حُجَّ عَنْ أَبِيكَ وَاعْتَمِرْ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: د خپل پلار له طرفه حج او عمره وکړه! رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: مسئله دا ده چې که په کوم کس باندې حج فرض شي او هغه بذات خود حج ته نه شي

نللی، معذور وي او معذوري هم داسې وي چې يا خو ړوند وي، تلل ورته مشکل وي يا يې ښپې کټ وي، يا داسې کومه بله معذوري وي چې تر مرګه نه ختميږي، لکه د بوډاتوب کمزوري، نو په داسې حال کې بل کس دده له طرفه حج کولی شي، خو په دې شرط چې د چا له طرفه حج کيږي هغه د حج خرچه هم مني او حکم به هم ورتاه کوي او د داسې کس له طرفه هم حج صحيح کيږي چې د مرګ نه وړاندې وصيت وکړي

ځينې علماء فرمايي: اولاد د خپل مور پلار له طرفه حج کولی شي او په دې باندې د حکم کولو يا د وصيت کولو ضرورت هم نشته، په دې حديث کې به دا تاويل کولی شي چې هغې ښځې ته به د هغې پلار وصيت هم کړی وي او خرچه به يې هم ورکړې وي، نو ځکه رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د پلار له طرفه حج وکړه، يا ځينو نورو علماوو فرمايلي دي چې مور پلار ددې نه مستثنی دي، نو په داسې حال کې به هيڅ اشکال پاتې نه شي

د ماشوم حج

"وعن السائب بن يزيد ﷺ، قَالَ: حُجَّ بِي مَعَ رسولِ اللهِ ﷺ فِي حَجَّةِ الوَدَاعِ" د سائب بن يزيد ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې په ما باندې حج وکړی شو د رسول الله ﷺ په معيت کې په حجة الوداع کې، "وَأَنَا ابنُ سَبعِ سِنِينَ" په دې وخت کې زما عمر اوه کاله وو. رواه البخاري

تشريح: ايا د نابالغ ماشوم يا ماشومې حج کيږي او که نه؟ ددې جواب دا دی چې د نابالغ حج صحيح دی، ده ته به د نفلي حج ثواب ملاويږي، دويمه مسئله دا ده چې کله دا نابالغ ماشوم بالغ شي او حج ورباندې فرض شي، ايا بيا به دوباره حج کوي او که نه؟ د امام ابوحنيفه ﷬ مسلك دا دی چې په هغه باندې بيا حج فرض دی، د نابالغی په حالت کې يې چې کوم حج کړی دی ددې په وجه اوس د بلوغ په حال کې کوم حج پرې فرض شو، ددې ذمه نه ساقطيږي، بلکې اوس به بيا حج کوي

د راوي سائب بن يزيد ﷺ حالات: اصلي نوم يې سائب ﷺ دی، د پلار نوم يې يزد بن سعيد بن ثمامه کندي دی، امام زهري ﷬ فرمايي: د ازد قبيلې سره يې تعلق درلود، کوم چې په يمن کې يوه علاقه ده، ليکن شمار يې په کنانه کې کيدو، د عمر کندي خوريي وو، ولادت يې په شپږمه هجري کې شوی دی، د اوه کالو په عمر کې د خپل پلار سره د حجة الوداع په موقع حج کې شريك شو، د دوی نه محمد بن يوسف ﷬ او امام زهري ﷬ روايات نقل کړي دي، د رواياتو شمېر يې معلوم نه دی، وفات يې په ۸۰ هجري کې وشو.

د ماشوم د حج ثواب مور پلار ته ملاويږي

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما: أَنَّ النَّبيَّ ﷺ لَقِيَ رَكْباً بالرَّوْحَاءِ، فَقَالَ: مَنِ القَوْمُ؟ قَالُوا: المُسلِمُونَ" د عبد الله بن عباس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ په روحاء کې د يو څو کسانو سره مخامخ شو کوم چې په اوښانو باندې سپاره وو، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: څوك يئ؟ هغوی ورته ووېل: موږ

مسلمانان يو. "قالوا: مَنْ أَنْتَ؟ قَالَ: رسولُ اللهِ. فَرَفَعَتِ امْرَأَةٌ صبياً، فَقالَتْ: أَلِهذا حَجٌّ؟ قالَ: نَعَمْ، وَلَكِ أَجْرٌ" هغوی ووېل: تاسو څوك يئ؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: زه د الله ﷻ رسول يم، په دې كې يوې ښځې خپل بچی راپورته كړو او پوښتنه يې وكړه چې ددې بچي حج كېږي؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: هو! كيږي او اجر به يې تا ته ملاوېږي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

نعم: د ايجاب كلمه ده، په دې كې څلور لغته دي: نَعَم، نِعِم، نَعَام، نَعَم.

تشريح نعم ولك اجر: هو! ددې ثواب به تا ته هم ملاوېږي، په كمكي ماشوم باندې حج جائز دی، ددې ثواب به يې مور پلار ته ملاوېږي، ليكن كله چې ماشوم ستر شي او بالغ شي او دده سره دومره مال پيدا شي چې حج پرې فرض كيږي، نو په ده باندې به بيا حج فرض وي، سابقه حج ددې فرض نه كفايت نه كوي.

په حرف (نعم) كې تحقيق:

د خبر وروسته چې واقع شي، نو حرف تصديق به وي، لكه (زيدٌ قائمٌ) په جواب كې نعم راشي، نو اوس به ددې معنی قائم سره وي.

كه د امر او نهي وروسته واقع شي، نو حرف وعد به وي، لكه د (اِضرب زيداً) په جواب كې به (نعم أعدك بضربه) راځي.

او كه د استفهام وروسته واقع شي، نو حرف اعلام به وي، لكه (أقام زيدٌ؟) په جواب كې (نعم: اعلمك بقيامه) په معنی سره راځي.

او كله چې په صدر د كلام كې واقع شي، نو فايده به يې د تاكيد وي.

په حجة الوداع كې د رسول الله ﷺ سره يوه سورلي وه

"عن أنس رضي الله عنه: أَنّ رسول اللّه ﷺ حَجَّ على رَحْلٍ وكانت زَامِلَتَهُ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی فرمايي چې رسول الله ﷺ د بار وړونكي اوښ په كجاوه باندې ناست وُ، حج يې كولو چې د سورلۍ اوښ عليحده نه وو. رواه البخاري

لغوي تحقيق: رحل: كجاوه، منزل، قيامګاه؛ د اوسېدو ځای.

تشريح حج: ددې نه مراد حجة الوداع دی، ځكه چې ددې حج نه پرته بل حج رسول الله ﷺ كړی نه دی. "على رحل" د سفر لپاره لوښي سامان، سورلي وغيره، مطلب دا چې كله رسول الله ﷺ حج وكړو، نو د دوی د سفر سورلي خاته جدا نه وه، بلكې په يوه سورلی باندې سيور وو او د خوراك څښاك سامان هم ورباندې پروت وو، محدثين فرمايي: كه ددې حديث په يو اړخ كې د رسول الله ﷺ كامل تواضع ته اشاره ده. نو بل طرف د رسول الله ﷺ په معمولي شان سامان سره حج كولو ته هم اشاره ده، دومره خوراك مال او متاع لكه نن سبا يې چې خلك مصرف كوي، داسې نه وو.

Maktaba Tul Ishaat. com

د حج په موسم کې د ضرورت پر مهال تجارت کول جائز دي

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قَالَ: كَانَتْ عُكَاظُ، وَمَجَنَّةُ، وَذُو المَجَازِ أسواقاً في الجَاهِلِيَّةِ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى هغه فرمايي چې عكاظ، مجنة او ذوالمجاز د جاهليت د زمانې بازارونه وو. "فَتَأَثَّمُوا أنْ يَتَّجِرُوا في المَوَاسِمِ" دغو خلكو به د حج په موسم كې په دې بازارونو كې اخيستل خرڅول ګناه ګڼل. "فَنَزَلَتْ: لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلاً مِنْ رَبِّكُمْ [البقرة: ۱۹۸] في مَوَاسِمِ الحَجِّ" دا آيت نازل شو په تاسو باندې ګناه نشته كه تاسو د حج په دوران كې د الله ﷻ فضل (تجارت) كوئ (مطلب دا چې په حج كې اخيستل خرڅول ګناه نه ده). رواه البخاري.

لغوي تحقيق: تأثموا: خيال كول چې ګناهګار نه شو

تشريح: علماوو ددې حديث نه استدلال كړى دى چې كله سړى د حج په موسم كې سعودي ته لاړ شي، نو د ضرورت په اندازه تجارت كول جائز دي، اګر چې كمال هم په دې كې دى چې په مكمله توګه سړى خپل اركان پوره كړي، تجارت وغيره ته نظر ونه كړي او بس په ذكر او عبادت كې خپل وخت تېر كړي

كتاب الجهاد

د جهاد بيان

باب وجوب الجهاد وفضل الغدوة والروحة

د جهاد فرضيت او د يو سهار يا ماښام وخت پكې تېرولو اجر

"قَالَ الله تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ" تاسو ټول د مشركانو سره وجنګېږئ، لكه څرنګه چې دوى ستاسو سره ټول جنګېږي او پوه شئ چې د الله ﷻ نصرت د متقيانو سره دى. [التوبة:۳۶]

تشريح: د آيت مطلب دا دى چې كله مشركان ستاسو سره په اشهر حرم كې جنګ كوي نو تاسو هم ورسره جنګ وكړئ، اشهر حرم څلور مياشتې دي: ذي القعده، ذي الحجه، محرم او رجب، د رجب مياشتې باره كې د عربو نه دوه قوله نقل دي خينو به دې مياشتې ته رجب ويل كومې ته چې اوس موږ رمضان وايو او خينو به رجب هغې مياشتې ته ويل چې د جمادى الثاني او شعبان ترمينځ راځي، هم دغه دويمه مياشت ترې مراد ده

د اسلام په شروع كې په دې مياشتو كې قتل قتال حرام وو، بيا وروسته منسوخ شو، ليكن اوس هم ددې احترام باقي دى، خلاصه دا شوه چې كه په دې مياشتو كې درسره څوك جنګ كوي نو تاسو هم ورسره جنګ وكړئ

د جهاد د فرضیت اعلان

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ" په تاسو باندې جهاد فرض دی او دا په تاسو باندې بد لګیږي، "وَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ" لیکن د ډېر خله به ته یو شی بد ګڼې خو په حقیقت کې به په هغې کې خیر پروت وي، "وَعَسَىٰ أَن تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ" او ډېر خله به ته یو شی ښه ګڼې لیکن په حقیقت کې به په هغې کې شر او بدي وي، الله ﷻ پوهیږي او تاسو نه پوهیږئ! [البقرة:۲۱۶]

تشریح: په دې آیت کې د جهاد د فرضیت اعلان دی، مفسرین لیکي د ظاهري آیت نه معلومیږي چې په هر مسلمان باندې په هر حال کې جهاد فرض دی، لیکن د قرآن کریم د نورو ینونو څخه معلومیږي چې جهاد په هر حال کې فرض عین نه دی، بلکې فرض کفایه ده، کله چې د مسلمانانو یوه ډله دا فریضه ترسره کوي، نو د نورو مسلمانانو غاړه پرې خلاصیږي، البته که مسلمانان بیخي جهاد پرېږدي، یو ځای هم جهاد نه کوي، نو بیا به ټول مسلمانان ګناهګار وي

په هر حال کې د الله ﷻ په لار کې ووځئ

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "انْفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ" وځئ درانه او سپک د الله ﷻ په لار کې او په خپلو مالونو او نفسونو سره جهاد کوئ! [التوبة:۴۱]

تشریح: خفافاً وثقالاً: ددې مختلف تفسیرونه بیان شوي دي، د حسن بصري رحمه الله، ضحاک رحمه الله، مجاهد رحمه الله، قتاده رحمه الله او عکرمه رحمه الله په نزد ددې نه ځوان او بوډا مراد دي، د ابن عباس رضي الله عنهما په نزد مراد دا دی چې لږه اسلحه وي او که زیاته اسلحه وي، خو وتل پکار دي، د عطیه عوفي رحمه الله په نزد ددې نه مراد سپور او پیدل دي، د ابن زید رحمه الله په نزد مراد دا دی چې که مال درسره وي او که نه وي، د ځینو په نزد چست وي او که کمزوري وي، هر څنګه چې وي، د ځینو په نزد مراد دا دی چې که په کارونو کې مشغول وي او که فارغ وي، د ځینو په نزد بیمار وي او که تندرست وي، د ځینې په نزد مراد دا دی چې که بچي لري او که نه، د ټولو مراد دا دی چې جهاد په هر حال کې فرض دی، که درباندې سخت لګیږي او که نه، لیکن بیا وروسته ځینې معذورین ترې مستثنی شول

الله ﷻ د جنت په بدله کې د مسلمانانو نه ځانونه اخیستي دي

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ" بې شکه الله ﷻ د مؤمنانو څخه د هغوی مالونه او نفسونه د جنت په بدله کې اخیستي دي، "يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ" دوی به د الله ﷻ په لار کې جهاد کوي، بس دوی به هم خلك وژني او دوی به هم شهیدان کیږي. "وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ" دا وعده ده د الله ﷻ له طرفه حقه وعده

Maktaba Tul Ishaat. com

ده چې په تورات کې هم او په انجيل کې هم او په قرآن کريم کې هم ده، بس کوم کس چې خپله وعده رښتونې کړي کومه يې چې د الله ﷻ سره کړې وي، "فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُمْ بِهِ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ" بيا نو زيرى واخلئ په هغه سودا سره چې تاسو د الله ﷻ سره کړې ده او دا ډېره لويه کاميابي ده [التوبة:۱۱]

تشريح او شان نزول: کوم خلك چې په بيعت عقبه کې شريك وو، د هغوى متعلق دا آيت نازل شوى دى، کله چې دا آيت نازل شو، نو تر ټولو اول براء بن معرور او ابوالهيثم او اسعد رضي الله عنهم د رسول الله ﷺ په لاس مبارك کې خپل لاسونه کېښودل، وې فرمايل: موږ په دې معامله کې تيار يو چې کله تاسو مدينې منورې ته ورسېږئ نو موږ به ستاسو حفاظت کوو، داسې حفاظت به دې وکړو چې لکه څرنګه موږ د خپلو بچو مال وغيره ساتو.

فاستبشروا ببيعكم الذى بايعتم به: په بيعت عقبه کې د حفاظت او دفاع معامله په ظاهر کې د اخيستلو او خرڅولو صورت جوړ شو، نو ځکه الله ﷻ په شروع کې ددې نه تعبير په "إن الله اشترى" سره تعبير وکړو، ځکه چې جنت باقي دى، نعمتونه يې باقي دي او دنيا فاني ده، ختميدونکې ده، په دې کې چې څه دي هغه هم ختميدونکي دي، حسن بصري رحمه الله فرمايي: واوره! دا څومره ښکلې سودا ده چې الله ﷻ د هر مسلمان نه د هغه بدن د جنت په بدله کې اخيستى دى، الله ﷻ موږ ته مال هم راکړى دى او ځان يې هم راکړى دى، نو که ددې مال او جان نه لږه برخه د الله ﷻ په لار کې خرچ کړو، نو پوره جنت پرې اخيستى شو.

په کور ناست خلك او مجاهدين برابر نه دي

"وقال الله تعالى" الله ﷻ فرمايي: "لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ" برابر نه دي هغه کسان چې د جهاد نه ناست دي او هغه کسان چې د الله ﷻ په لار کې په خپلو مالونو او نفسونو سره جهاد کوي، مګر هغه کسان چې ړانده شل وغيره دي دا ترې مستثنى دي، په دوى باندې هيڅ قسم وبال نشته، "فَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَةً" الله ﷻ فضيلت ورکړى دى په درجو درجو هغو مجاهدينو ته چې د الله ﷻ په لار کې په خپلو مالونو او نفسونو سره جنګيږي په هغو خلکو باندې چې د جهاد نه ناست دي، "وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا" او د ټولو سره الله ﷻ ښکلې وعده کړې ده، ليکن بيا هم الله ﷻ فرمايي: ما ډېر لوى اجر ورکړى دى هغه مجاهد ته چې د الله ﷻ په لار کې جنګيږي په ناستو خلکو باندې، "دَرَجَاتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَرَحْمَةً وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا" ډېرې درجې به وي په جنت کې او بخښنې به وي او رحمتونه به وي او الله ﷻ بخښش کوونکى مهربان ذات دى [النساء:۹۵-۹۶]

تشريح: ددې آيت په مطلب کې ځينې مفسرين فرمايي: کوم خلك چې د شرعي عذر پرته جهاد نه کوي او په جهاد کې نه شريکيږي، داسې خلك د هغو کسانو سره برابر نه دي کوم چې جهاد کوي، بل ددې آيت نه دا هم معلوميږي چې جهاد فرض کفايه دى، ځينې خلك د غه اهمه فريضه تر سره کړي، د

ډېرو خلکو يه غاړه پاتې شي، خو په دې شرط چې کوم جهاد کونکي دي، هغوی د جهاد لپاره کافي وي، که کافي نه وي، نو بيا چې د دوی سره کوم مسلمانان نژدې وي په هغوی فرض دی چې هغوی د مجاهدينو مرسته وکړي، که دوی هم کافي نه شو، نو بيا د دوی سره چې کوم خلك نژدې وي په هغوی فرض دی، که دوی هم کافي نه شو، نو بيا چې د دوی سره کوم مسلمانان نژدې وي، په هغوی فرض کيږي، ترڅو چې دا مسئله تر شرق او غرب پورې رسيږي چې په دوی باندې جهاد فرض عين کيږي

داسې تجارت چې انسان د عذاب نه بچ کوي

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ" اې مؤمنانو ايا زه تاسو ته داسې تجارت ونه ښيم چې د هغې په عملي کولو سره به تاسو د سخت عذاب نه خلاص شئ. "تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ" هغه دا چې تاسو ايمان راوړئ په الله ﷻ او د هغه په رسول ﷺ باندې او جهاد وکړئ د الله ﷻ په لار کې په خپلو مالونو او نفسونو سره، دا کار به ستاسو په برخه کې غوره وي، که تاسو پوهېږئ. "يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ" بخښنه به درته وکړي ستاسو د ګناهونو او داخل به مو کړي هغو باغونو ته چې لاندې يې نهرونه بهيږي او ښکلي ښکلي بنګلې د اوسېدو دي په جنت کې او دا ډېره لويه کاميابي ده، "وَأُخْرَى تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ" او يو بل شی کوم چې تاسو ډېر خوښوئ هغه دا چې د الله ﷻ له طرفه کومك او کاميابي نژدې ده او مؤمنانو ته زيری ورکړه! [الصف: ۱۰-۱۳]. والآيات في الباب كثيرة مشهورة.

وأما الأحاديث في فضل الجهاد فأكثر من أن تحصر، فمن ذلك: د جهاد په فضيلت کې ډېر حديثونه دي چې لږ شان يې دا دي:

تشريح: على تجارة تنجيكم من عذاب اليم: داسې سودا چې ددې په وجه به له عذاب اليم، يعنې سخت عذابه خلاص شئ! په دې آيت کې د مال او ځان يو تجارت ښودل شوی دی، لکه څرنګه چې په تجارت يا مال خرڅولو کې يو قسم فايده وي، دغه شان په الله ﷻ ايمان او ورسره د الله ﷻ په لار کې په مال او جان سره جهاد کولو کې د الله ﷻ رضا حاصليږي، په آخرت کې د جنت وعده ده، دغه شان په قرآن کريم کې په يو بل ځای کې الله ﷻ فرمايي: "إن الله اشترى من المومنين انفسهم واموالهم بأن لهم الجنة" الله ﷻ د مسلمانانو څخه د هغوی د مالونو او ځانونو سودا کړې ده چې ددې په بدله کې به ورته جنت ورکول شي، الله ﷻ بل ځای فرمايي: "واخرى تحبونها نصر من الله وفتح قريب" او زه تاسو ته يو بل شی وښيم چې تاسو يې خوښوئ، هغه دا چې د الله ﷻ له طرفه به مرسته وي او نژدې کاميابي به وي

بل ځای ارشاد دی: ان تنصروا الله ينصركم: که تاسو د الله ﷻ د دين مرسته وکړئ نو الله ﷻ به ستاسو مرسته وکړي، ددې نصرت اولنی مصداق د خيبر فتح ده او ددې نه وروسته د مکې فتح ده، ځينو ترې فارس او روم مراد اخستی دی، خلاصه دا چې اصل نعمتونه د آخرت دي، ليکن انسان

Maktaba Tul Ishaat. com

تيزي کوي هغه نقدي نعمت غواړي، نو هغه ته الله ﷻ دنيوي فتح ورکړي، ليکن اصلاً د آخرت وعدې دي، په دې باب کې نور ايتونه هم شته

په قرآن کريم کې په دې عنوان سره نور زيات ايتونه راغلي دي، مثلاً: فاقتلوا المشركين حيث وجدتموهم وخذوهم واحصروهم واقعدوا لهم كل مرصد: دغه مشرکان چې تاسو چېرته راګير کړئ وې نيسئ مره يې کړئ، بندي يې کړئ او په هر کمين کې ورته کينئ، "وقاتلوا في سبيل الله واعلموا ان الله سميع عليم" د الله ﷻ په لار کې جهاد کوئ او په دې خبره پوه شئ چې الله ﷻ اوريدونکی او خبردار دی

ولولا دفع الله الناس بعضهم ببعض لفسدت الارض ولكن الله ذو فضل على العالمين: که الله ﷻ ځيني خلك په ځينو نورو سره نه دفع کولی، نو په ځمکه کې به فساد جوړ وو، ليکن الله ﷻ په ټولو خلکو مهربان دی

ولولا دفع الله الناس بعضهم ببعض لهدمت صوامع وبيع وصلوات ومساجد يذكر فيها اسم الله كثيراً ولينصرن الله من ينصره ان الله لقوي عزيز: که چېرته الله ﷻ ځيني خلك په ځينو نورو سره نه دفع کولی، نو کليساوې او د يهوديانو عبادت خانې او جوماتونه هغه چې په هغې کې د الله ﷻ نوم اخيستلی شي دا ټول به وران وو، بې شکه چې الله ﷻ د هغو کسانو سره مرسته کوي کوم چې د الله ﷻ د دين مرسته کوي، بې شکه الله ﷻ طاقت والا غالب ذات دی

قاتلوا الذين لا يؤمنون بالله ولا باليوم الاخر ولا يحرمون ما حرم الله ورسوله ولا يدينون دين الحق من الذين اوتوا الكتاب حتى يعطوا الجزية عن يد وهم صاغرون: د هغو کسانو سره جنګيږئ چې نه په الله ﷻ باندې ايمان لري، نه په ورځ د آخرت او نه هغه شيان حرام مني کوم چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ حرام کړي دي او نه حق دين قبلوي، دا هغه کسان دي چې کتاب ورکړی شوی دی ترديې ورسره وجنګيږئ تر څو چې دوی په ذلت او خوارې سره تاسو ته جزيه درکړي

تر ټولو غوره عمل

"عن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: سُئِلَ رسول الله ﷺ: أَيُّ العَمل أفْضَلُ؟" د أبو هريره ﷺ روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چې کوم عمل غوره دی؟ "قَالَ: إيمَانٌ بِاللهِ وَرَسُولِهِ قيلَ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: الجِهادُ في سَبِيلِ اللهِ" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: په الله ﷻ باندې ايمان راوړل او د هغه په رسول ﷺ باندې ايمان راوړل، صحابي بيا پوښتنه وکړه چې بيا کوم عمل غوره دی؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: د الله ﷻ په لار کې جهاد کول، "قيلَ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: حَجٌّ مَبْرُورٌ" بيا پوښتنه وشوه چې بيا کوم عمل غوره دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: قبول شوی حج متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: دا حديث وړاندې په باب الحج کې تېر شوی دی، علامه نووي رحمه الله يو ځل بيا دلته راوړو، ځکه چې په دې حديث کې د جهاد اهميت بيان شوی دی چې په حج باندې يې هم مقدم کړی دی.

تر ټولو غوره عمل لمونځ په وخت کې کول دي

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه، قَالَ: قُلْتُ: يَا رسول الله، أيُّ العَمَلِ أَحَبُّ إلى اللهِ تعالى؟" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ ما د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ الله ﷻ ته کوم عمل ډېر خوښ دی؟ "قَالَ: الصَّلاَةُ عَلَى وَقْتِهَا" نبي کريم ﷺ وفرمايل: په خپل وخت کې لمونځ کول الله ته ډېر خوښ دی. "قُلْتُ: ثُمَّ أيٌّ؟ قَالَ: بِرُّ الوَالِدَيْنِ" ما بيا پوښتنه وکړه چې بيا کوم عمل ډېر ورته خوښ دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: د مور پلار سره ښه سلوک کول. "قلتُ: ثُمَّ أيٌّ؟ قَالَ: الجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ" ما بيا وويل بيا بې کوم عمل ډېر خوښ دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ په لار کې جهاد کول. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: دا حديث هم وړاندې په (باب بر الوالدين وصلة الارحام) کې تېر شوی دی، علامه نووي رحمه الله دلته يو ځل بيا راوړو، ځکه چې په دې کې هم د جهاد ذکر دی

تر ټولو غوره عمل ايمان بالله دی

"وعن أبي ذر رضي الله عنه، قَالَ: قُلْتُ: يَا رسول الله، أيُّ العَمَلِ أفْضَلُ؟ قَالَ: الإيمَانُ بِاللهِ، وَالجِهَادُ فِي سَبيلِهِ" د ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي: ما وويل چې يا رسول الله ﷺ کوم عمل ډېر غوره دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل په الله ﷻ باندې ايمان راوړل او د هغه په لار کې جهاد کول. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح أي العمل أفضل؟: کوم عمل غوره دی؟ په مختلفو احاديثو کې مختلف اعمال غوره ښودل شوي دي، ددې يوه وجه دا ده چې دلته يې (من) حرف پټ دی، يعنې (من افضل الاعمال يعني په غوره اعمالو کې يو دا هم دی، يا د مختلفو حالاتو، مختلفو وختونو يا ځايونو په اعتبار سره هغه عمل غوره ښودل شوی دی، په دې حديث کې په الله ﷻ باندې د ايمان راوړلو نه وروسته جهاد غوره عمل ښودل شوی دی، دا به هغه وخت وي کله چې جهاد فرض عين شوی وي

يو سهار يا ماښام د الله ﷻ په لار کې

"وعن أنس رضي الله عنه: أنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: لَغَدْوَةٌ فِي سَبيلِ اللهِ، أَوْ رَوْحَةٌ، خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو سهار د الله ﷻ په لار کې تېرول او يا يو ماښام د الله ﷻ په لار کې تېرول دا دنيا او څه چې په دې کې دي، ددې نه غوره دي. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: لغدوة أوروحة: په دې کې تنوين (دوه پېښونه) د تنکير لپاره دي، مطلب دا چې ټول سهار يا ټول ماښام مراد نه دی، بلکې د سهار يا ماښام نه څه معمولي شان وخت چې وباسي او د الله ﷻ په لار کې يې ولګوي، نو په دې حديث کې چې کوم فضيلت ذکر دی، هغه به ورته حاصل شي، د دنيا ټول نعمتونه ددې فضيلت په مقابل کې هيڅ دي، د آخرت ټول نعمتونه همېش باقي پاتې کېدونکي دي. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: د حديث مطلب دا دی چې که يو کس ټوله دنيا حاصله کړي او هغه ټوله د الله ﷻ په لار کې خرج کړي بيا هم ددې نه دا غوره ده چې هغه يو سهار يا ماښام د الله ﷻ په لار کې

Maktaba Tul Ishaat. com

ولګوي، ددې مطلب تائيد په يو بل روايت سره هم کيږي، د عبد الله بن رواحه ﷺ څخه روايت دی "والی نفس بيده لو انفقت مافی الارض ماادرکت فضل غدوتهم" په هغه ذات مې دې قسم وي چې د هغه په لاس کې زما روح ده که تاسو ټول هغه څه کوم څه چې په ځمکه کې دي خرچ کړئ خو بيا هم يو هغه سهار چې د الله ﷻ په لار کې ولګول شي ددې نه نشي غوره کېدلی

په جهاد کې مال او ځان لګول

"وعن أبي سعيد الخدري ﷺ قَالَ: أَتَى رَجُلٌ رسولَ اللهِ ﷺ فَقَالَ: أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: مُؤْمِنٌ مُجَاهِدٌ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ" د أبو سعيد خدري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کس د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او وې ويل: يا رسول الله ﷺ په خلکو کې کوم سړی ډېر غوره دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل هغه مسلمان مجاهد چې د الله په لار کې په خپل مال او نفس سره جهاد کوي. "قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: مُؤْمِنٌ فِي شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ يَعْبُدُ اللهَ، وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهِ" بيا يې وويل: بيا کوم يو غوره دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل هغه مؤمن چې ځانته په کوم ګرنګ (د غره په لمن) کې اوسيږي او د الله ﷻ عبادت کوي او خلک يې له شر څخه محفوظ وي. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: دا حديث وړاندې په باب العزلة کې تېر شوی دی، علامه نووي رحمه الله يو ځل بيا راوړو، ځکه چې په دې کې د جهاد ذکر دی.

يوازې کېښستل غوره دي او که د خلکو سره يو ځای وخت تېرول

امام شافعي رحمه الله او داسې نور علماء فرمايي: د خلکو سره اختلاط کول دا غوره دي. خو په دې شرط چې په دين کې فتنه او فساد پيدا نه شي، جمهور علماء فرمايي: دا حديث د فتنې په زمانه باندې محمول دی، يا دا حکم هغه کس ته دی چې د خلکو په تکليفونو باندې صبر نه شي کولی، يا دده نه خلک په تنګ راځي

د الله ﷻ په لار کې يوه ورځ پيره داري کول

"وعن سهل بن سعد ﷺ: أنَّ رسول الله ﷺ قَالَ: رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا" د سهل بن سعد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ په لار کې يوه ورځ پيره داري د دنيا او په دې کې چې څه دي ددې ټولو نه غوره ده. "وَمَوْضِعُ سَوْطِ أَحَدِكُمْ مِنَ الجَنَّةِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا" او په جنت کې ستاسو لپاره د يوې قمچينې په اندازه ځای د دنيا او ما فيها نه غوره دی. "وَالرَّوْحَةُ يَرُوحُهَا العَبْدُ فِي سَبِيلِ اللهِ تعالى، أَوِ الغَدْوَةُ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا" او يو سهار او يا يو مابنام چې د الله ﷻ په لار کې تېر شي، دا د دنيا او ما فيها نه غوره ده. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: علماوو ددې حديث دوه مطلبونه بيان کړي دي: لومړی مطلب دا دی چې په جهاد کې يوه ورځ څوکيداري کول دا د هغه مال نه غوره ده چې د الله ﷻ په لار کې ولګول شي، دويم مطلب يې

دا دی چې په جهاد کې څوکیداري کول ددې نړۍ څخه او څه چې په دې کې دي غوره دي، (دره
قمچيني ته وايي، زيات وخت قمچينه وړه وي او لږ ځای نيسي، په دې کې د دنيا حقارت ته اشاره ده
چې دنيا د الله ﷻ په نزد څومره سپک شی ده او جنت څومره قیمتي شی ده.

د الله ﷻ په لار کې پيره داري کول

"وعن سَلْمَانَ رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يقول: رِبَاطُ يَومٍ وَلَيْلَةٍ خَيْرٌ مِنْ صِيَامِ شَهْرٍ وَقِيَامِهِ" د سلمان رضي الله عنه نه روايت دی
هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل، فرمايل يې: د الله ﷻ په لار کې د پيره داري يوه ورځ
د ټولې مياشتې د روژې نيولو او ورسره په شپو کې د عبادت نه غوره ده. "وَإِنْ مَاتَ جَرَى عَلَيْهِ عَمَلُهُ الَّذِي
كَانَ يَعْمَلُ" او که پيره دار په دې پيره داری کې مړ شي، نو د هغه عمل کوم به يې چې کولو، هغه به ورته
جاري او ساري ليکلی شي، "وَأُجْرِيَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ، وَأَمِنَ الفَتَّانَ" او رزق به يې زيات کړی شي او د قبر د عذاب
نه به محفوظ کړی شي. رواه مسلم

تشریح: رباط يوم وليلة: د رباط معنی ده: د دښمن په نقل او حرکت باندې نظر ساتل، د خپلو
سرحداتو حفاظت کول، کوم کس چې په رباط کې شهيد شي، د داسې کس خصوصيت دا دی چې تر
قيامته به هغه ته نېک اعمال ليکلی شي، کله به هم نه ختمیږي، پيره دار سړی به د قبر له عذابه
خلاص وي، "وامن الفتان" او په امتحان کې به د راګېرېدو نه محفوظ وي، ددې نه مراد د قبر پرښتې دي
کومو ته چې منکر او نکير ويل کيږي، کومې چې په قبر کې درې پوښتنې کوي، دا وخت په انسان
باندې ډېر زيات ګران او مشکل وي، ليکن کوم کس چې د اسلامي سرحداتو حفاظت کوي، داسې
کس به د امتحان او تکليف نه محفوظ وي.

د پيره دار انسان اعمال تر قيامته جاري وي

"وعن فَضَالَةَ بنِ عُبَيْدٍ رضي الله عنه: أنَّ رسولَ الله ﷺ، قَالَ: كُلُّ مَيِّتٍ يُخْتَمُ عَلَى عَمَلِهِ إِلاَّ المُرَابِطَ فِي سَبِيلِ اللهِ" د فضالة بن
عبيد رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هر سړی چې مړ شي نو د هغه عملونه بند
شي، (يعنې نور نه شي ليکلی)، مګر هغه کس چې د الله ﷻ په لار کې پيره داري کوي، "فَإِنَّهُ يُنَمَّى لَهُ عَمَلُهُ
إِلَى يَوْمِ القِيَامَةِ، وَيُؤَمَّنُ فِتْنَةَ القَبْرِ" دده عملونه تر قيامته پوري ليکلی شي او د قبر د عذاب نه به محفوظ وي
رواه أبو داود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشریح: يختم على عمله: کوم کس چې د اسلامي سرحداتو په حفاظت کې مصروف وي، نو د
داسې کس نېک اعمال په مرګ نه ختمیږي، بلکې اجر او ثواب يې تل جاري وي، په دې بنياد د
اسلامي سرحداتو حفاظت کول دا يو متعدي عبادت دی چې په دې کې د ټولو خلکو حفاظت کيږي،
نو ځکه هغه ته هم الله ﷻ دا انعام ورکوي چې دده نېک اعمال همېش جاري ساري وي او بل دا چې
دده نه به د قبر سوال او جواب لرې کړی شي.

Maktaba Tul Ishaat. com

د الله ﷻ په لار کښې يوه ورځ پيره داري کول کور کښې د يو زر ورځو نه ښه ده

وعن عثمان رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ يقول: رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللهِ، خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ يَوْمٍ فِيمَا سِوَاهُ مِنَ المَنَازِلِ، د عثمان رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې چې يوه ورځ د الله ﷻ په لار کښې پيره داري ورکول دا د هغو زرو ورځو نه چې په کور کښې يې تيرې کړې غوره دي رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: رباط: رباط لفظ په حديث کښې د دوه معناګانو لپاره استعمال شوی دی. يو دا چې د يو لمانځه نه تر بل لمانځه پورې انتظار کول، دويمه معنی يې دا ده چې د اسلامي سرحداتو حفاظت کوي، دلته يې د غه دويمه معنی مراد ده، په دې حديث کښې هم د اسلامي سرحداتو د حفاظت اجر او ثواب د انفرادي عبادت نه زيات ښودل شوی دی، ځکه چې انفرادي عبادت فايده صرف تر خپل ذات پورې محدود وي چې ددې برعکس د اسلامي سرحداتو حفاظت يو اجتماعي او عام عمل دی، نو ددې اجر به هم ځکه زيات وي.

د قيامت په ورځ د مجاهد د وينې خوشبو

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: تَضَمَّنَ اللهُ لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ، لاَ يُخْرِجُهُ إِلاَّ جِهَادٌ فِي سَبِيلِي، وَإِيمَانٌ بِي، وَتَصْدِيقٌ بِرُسُلِي" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ و فرمايل الله ﷻ ذمه داري ورکوي هغه کس ته چې د هغه په لار کښې وځي، دی چې وځي نو صرف د جهاد لپاره وځي، په ما باندې ايمان لري او زما د رسول ﷺ تصديق کوي، "فَهُوَ عَلَيَّ ضَامِنٌ أَنْ أُدْخِلَهُ الجَنَّةَ، أَوْ أُرْجِعَهُ إِلَى مَنْزِلِهِ الَّذِي خَرَجَ مِنْهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ، أَوْ غَنِيمَةٍ" نو د داسې کس لپاره زما ذمه داري ده چې که شهيد شي نو جنت ته به يې داخلوم، که غازي شي، کور ته به يې د اجر او مال غنيمت سره واپس کوم، "وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، مَا مِنْ كَلْمٍ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِ اللهِ، إِلاَّ جَاءَ يَوْمَ القِيَامَةِ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ كُلِمَ" قسم په هغه ذات چې د محمد ﷺ روح د هغه په قبضه کښې ده چې هغه زخم کوم چې د الله ﷻ په لار کښې وشي د قيامت په ورځ به هم هغه شانته زخم وي کوم رنګ چې په دنيا کښې وو، "لَوْنُهُ لَوْنُ دَمٍ، وَرِيحُهُ رِيحُ مِسْكٍ" رنګ به يې د وينې وي او خوشبو به يې د مشکو وي، "وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَوْلاَ أَنْ يَشُقَّ عَلَى المُسْلِمِينَ مَا قَعَدْتُ خِلاَفَ سَرِيَّةٍ تَغْزُو فِي سَبِيلِ اللهِ أَبَداً" قسم په هغه ذات چې د محمد ﷺ روح د هغه په قبضه کښې ده، که چېرته ددې خبرې ويره نه وای چې بيا به په مسلمانانو باندې خبره سخته شي نو زه به د يو تشکيل نه هم پاتې نه وای کوم چې د جهاد لپاره ځي، "وَلَكِنْ لاَ أَجِدُ سَعَةً فَأَحْمِلَهُمْ وَلاَ يَجِدُونَ سَعَةً، وَيَشُقُّ عَلَيْهِمْ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنِّي" ليکن زما خپله هم دومره وس نشته چې زه دوی ته د جهاد لپاره سورلۍ ورکړم او نه د دوی دومره څه طاقت شته او دا خبره به په دوی باندې سخته پرېوځي چې دوی دې په کور کښې ناست وي او زه دې جهاد ته تللی وم، "وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَوَدِدْتُ أَنْ أَغْزُوَ فِي سَبِيلِ اللهِ، فَأُقْتَلَ، ثُمَّ أَغْزُو فَأُقْتَلَ، ثُمَّ أَغْزُو فَأُقْتَلَ" قسم په هغه ذات چې د محمد ﷺ روح د هغه په لاس کښې ده چې زه دا خبره خوښوم چې زه دې د الله ﷻ په لار کښې جهاد وکړم، شهيد شم، بيا دې ژوندی شم جهاد دې وکړم او شهيد شم او بيا دې

ژوندی شم، جهاد دې وکړم او شهيد شم. رواه مسلم، وروی البخاري بعضه.

الكَلْمُ الجُرْحُ: د الكلم معنی ده: زخم

تشريح: په دې حديث کې د رسول الله ﷺ د جهادي شوق بيان دی، رسول الله ﷺ چې په کومو جهادونو کې خپله تشريف نه دی وړی، ددې وجه خپله رسول الله ﷺ داسې بيانوي چې ځينې غريبان صحابه کرام چې نه سورلی ورسره وي چې ورباندې سپور شي، نه اسلحه ورسره وي چې جهاد پرې وکړي او نه زما خپله دومره څه وس شته چې دوی ته دغه اسباب ورکړم، نو که زه جهاد ته لاړم شم او دوی په کورونو کې پاتې شي، نو دوی به ډېر خفه شي، په دې بنياد به رسول الله ﷺ د ځينو تشکيلونو نه پاتې کېدو، ددې نه معلومه شوه چې رسول الله ﷺ د خپلو صحابه کرامو سره څومره زياته مينه درلوده، "ثم أحيى ثم اقتل" زه ژوندی شم او بيا شهيد شم، رسول الله ﷺ دا جمله څو څو خله ارشاد وفرمايل او رسول الله ﷺ په آخر کې وفرمايل "أقتل" چې بيا هم د الله ﷻ په لار کې شهيد شم

د مجاهد د زخم نه به هم د قيامت په ورځ د وينو ځاځکي روان وي

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: مَا مِنْ مَكْلُومٍ يُكْلَمُ في سَبِيلِ الله إلاَّ جَاءَ يَومَ القِيَامَةِ، وَكَلْمُهُ يَدْمَى" د ابو هريره ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: نشته داسې يو زخم چې د الله ﷻ په لار کې جوړيږي، مګر دا چې همدغه زخم به د قيامت په ورځ راوړل شي او د هغه نه به وينه روانه وي، "اللَّوْنُ لَوْنُ دَمٍ، وَالرِّيحُ رِيحُ مِسْكٍ" رنګ به يې د وينې وي او خوشبو به يې د مشکو وي. متفقٌ عَلَيهِ

تشريح اللون لون دم والريح ريح مسك: رنګ به يې د وينې وي او خوشبو به يې د مشکو وي، په دې حديث کې د مجاهد امتيازي شان بيانيږي چې د قيامت په ورځ به مجاهد د زخمونو سره د حشر ميدان ته راشي او څرنګه چې په دنيا کې دده د زخمونو نه وينه بهېده، په همدې کيفيت به د حشر ميدان ته راشي، ليکن دده د وينې نه به بد بوی نه ځي، بلکې د مشکو په شان خوشبو به ترې ځي، دا کيفيت او د فخر تاج به به د حشر په ميدان کې صرف د مجاهد په سر وي، په دې بنياد علماء فرمايي چې مجاهد به د وينو سره دفن کولی شي

داوښې لوښلو په مقدار د الله ﷻ په لار کې وتل

"وعن معاذٍ ؓ، عن النبيِّ ﷺ، قَالَ: مَنْ قَاتَلَ في سَبيلِ الله من رَجُلٍ مُسْلِمٍ فُوَاقَ نَاقَةٍ، وَجَبَتْ لَهُ الجَنَّةُ" د معاذ ؓ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم مسلمان سړی چې دومره اندازې سره د الله ﷻ په لار کې جهاد وکړي لکه څومره چې د اوښې لوشلو کې تيريږي، داسې سړي ته جنت واجب شو، "وَمَنْ جُرِحَ جُرْحاً في سَبيلِ الله أَوْ نُكِبَ نَكْبَةً فَإنَّهَا تَجِيءُ يَوْمَ القِيَامَةِ كَأَغْزَرِ مَا كَانَتْ: لَوْنُهَا الزَّعْفَرَانُ، وَرِيحُهَا كَالمِسْكِ" کوم کس چې د الله ﷻ په لار کې زخمي شي يا کومه بله حادثه ورته ورسيږي، نو د قيامت په ورځ به هم هغسې حالت کې وي لکه څرنګه چې زخم يا حادثه په کوم حالت کې په دنيا کې وه، خو دومره ده چې رنګ به يې د زعفرانو وي او خوشبو به يې د مشکو وي. رواه أبُو داود والترمذي، وقال: حديث حسن.

Maktaba Tul Ishaat. com

تشريح: **فواق ناقة:** فواقة دې ته وايي چې اوښ يو ځل ولوشل شي بيا دويم ځل لوشلو لپاره څه لږ شان وقفه وکړي، نو دغې وقفې ته فواق ويل کيږي، دا جمله کنايه ده ددې نه چې که لږ وخت هم د الله ﷻ په لار کې ولګول شي، نو هغه ته جنت واجب شو، خو په دې شرط چې په سړي کې اخلاص وي او د خلکو حق په هغه باندې نه وي

د الله ﷻ په لار کې لږ وخت لګول د اويا کالو نه بهتر دی

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: مَرَّ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رسولِ الله ﷺ بِشِعبٍ فِيهِ عُيَيْنَةٌ مِنْ مَاءٍ عَذْبَةٍ، فَأَعْجَبَتْهُ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې د رسول الله ﷺ سره په جهاد کې يو صحابي په يوه چينه باندې تېرېدو، ددې چينې اوبه خوږې وې، نو ده ته ډېرې ښې ولګېدې، "فَقَالَ: لَوِ اعْتَزَلْتُ النَّاسَ فَأَقَمْتُ فِي هذَا الشِّعْبِ، وَلَنْ أَفْعَلَ حَتَّى أَسْتَأْذِنَ رسولَ الله ﷺ، فَذَكَرَ ذلِكَ لِرسولِ الله ﷺ" هغه د ځان سره وويل که زه د خلکو نه ځانته شم او دلته مقيم شم، خو دا کار به هله کيږي کله چې د رسول الله ﷺ نه اجازه وغواړم، هغه صحابي تو له کيسه نبي کريم ﷺ ته تېره کړه، "فَقَالَ: لاَ تَفْعَلْ، فَإنَّ مُقَامَ أَحَدِكُمْ فِي سَبيلِ اللهِ أفْضَلُ مِنْ صَلاتِهِ فِي بَيْتِهِ سَبْعِينَ عَاماً" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: داسې مه کوه ځکه چې ستاسو د جهاد په صف کې دريدل دا د هغه لمونځونو نه غوره ده چې په کور کې اويا کاله وشي، "أَلاَ تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَكُمْ، وَيُدْخِلَكُمُ الجَنَّةَ؟" ايا تاسو ته دا خبره خوښه نه ده چې الله ﷻ تاسو وبخښي او جنت ته مو داخل کړي؟ "أُغْزُوا فِي سَبيلِ اللهِ، مَنْ قَاتَلَ فِي سَبيلِ اللهِ فُوَاقَ نَاقَةٍ وَجَبَتْ لَهُ الجَنَّةُ" د الله ﷻ په لار کې جهاد کوئ! کوم کس چې د الله ﷻ په لار کې د اوښې لوشلو په اندازه جهاد وکړي، د هغه لپاره جنت واجب شو رواه الترمذي، وقال: حديث حسن

وَالفُوَاقُ: مَا بَيْنَ الحَلْبَتَيْنِ: (الفواق) د اوښې لوشلو په مينځ کې وقفې ته فواق ويل کيږي

تشريح: **فأعجبته فقال: لواعتزلت الناس:** هغه ته دا خبره خوښه شوه چې که د خلکو نه ځانته شم او دلته قيام وکړم، دا جمله موږ ته دا ښيي چې که يو کس د خلکو سره ژوند کوي او د هغوی نه چې ده ته کوم تکليفونه رسيږي، په دې باندې صبر کوي، دا ډېره ښه ده ددې نه چې يو انسان دې ځانله ژوند تېروي، که يو کس دغسې عمل شروع کړي چې د خلکو سره ژوند نه کوي، بلکې ځانله ژوند کوي، نو دا د انبياء عليهم السلام او صحابه وو طريقه نه ده، ليکن خدای مه کړه: که چېرته داسې حالات پيښ شي چې خپل دين ساتل ګران شي، نو بيا د خلکو نه ځانته ژوند تېرول ډېر ښه دي

ولن أفعل حتى أستاذن رسول الله ﷺ: ليکن زه به داسې ونه کړم تر څو چې ما د رسول الله ﷺ نه پوښتنه نه وي کړې، ددې جملې نه معلومه شوه چې د صحابه کرامو په زړونو کې د رسول الله ﷺ سره څومره مينه او قدر وو، يو کار يې هم د رسول الله ﷺ بې اجازې نه شو کولی

افضل من صلاته في بيته سبعين عاماً: ځکه چې د الله ﷻ په لار کې يو ساعت تېر کړي، دا يو ساعت په خپل کور کې د اويا کالو نه بهتر دی، مطلب دا دی چې جهاد د اعلاء کلمة الله (د دين سر بلندۍ) لپاره کيږي، فايده يې عامه ده او لمونځ، روژه وغيره عبادتونو فايده ذاتي ده، ددې فايده عامه نه وي

داصرف تر لمونځ كوونكي محدود وي، نو څكه جهاد د اويا / ٧٠ كالو تر عبادت بهتر دى

دالله ﷻ په لاركې وتل

"وعنه، قَالَ: قِيلَ: يَارسولَ اللهِ، مَايَعدِلُ الجِهادَ في سَبِيلِ اللهِ؟ قَالَ: لَاتَستَطِيعُونَه فَأعَادُوا عَلَيهِ مَرَّتَينِ أَوثَلَاثًا كُلُّ ذٰلِكَ يَقُولُ: لَاتَستَطِيعُونَهُ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې چا د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وكړه: يا رسول الله ﷺ! د جهاد سره كوم يو عمل په ثواب كې برابر كېدى شي؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: تاسو ددې طاقت نشى لرلى، دا خبره هغه كس درې څله وكړه او په هر ځل به رسول الله ﷺ فرمايل: تاسو ددې طاقت نشى لرلى! "ثُمَّ قَالَ: مَثَلُ المُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللهِ كَمَثَلِ الصَّائِمِ القَائِمِ القَانِتِ بِآيَاتِ اللهِ لَايَفتُرُ مِن صِيَامٍ وَلَاصَلَاةٍ، حَتّٰى يَرجِعَ المُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ" نبي كريم ﷺ بيا وفرمايل: د مجاهد في سبيل الله د عمل برابرى مثال دا دى چې يو سړى ددې مجاهد جهاد ته تللو نه واخله د هغه تر واپسى پورې متواتر روژې نيسي، مسلسل لمونځ كوي او د څه وقفې نه بغير د قرآن كريم تلاوت كوي، يوه لمحه هم په عملونو كې انقطاع نه كوي. متفقٌ عَلَيهِ، وهذا لفظ مسلم.

وفي رواية البخاري: أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَارسولَ اللهِ، دُلَّنِي عَلٰى عَمَلٍ يَعدِلُ الجِهَادَ؟ د بخاري شريف په يو روايت كې دي چې يو كس د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وكړه چې يا رسول الله ﷺ! داسې يو عمل راته وښيه چې د جهاد سره په ثواب كې برابر وي؟ "قَالَ: لَاأَجِدُهُ" نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: زه داسې هيڅ عمل نه وينم چې د جهاد د ثواب سره برابر وي، "ثُمَّ قَالَ: هَل تَستَطِيعُ إِذَا خَرَجَ المُجَاهِدُ أَن تَدخُلَ مَسجِدَكَ فَتَقُومَ وَلَا تَفتُرَ، وَتَصُومَ وَلَا تُفطِرَ" بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل: ايا ته ددې وس لرې چې كله مجاهد جهاد ته لاړ شي، نو ته جومات ته داخل شې او لمونځ شروع كړې او انقطاع پكې نه راولې او دغه شان روژه نيول شروع كړې او ماتوې يې نه؟ "فَقَالَ: وَمَن يَستَطِيعُ ذٰلِكَ؟!" هغه كس ووېل: څوك ددې طاقت لرلى شي؟!

تشريح: په دې دواړو حديثونو كې د مجاهد فضيلت او مقام ښودل شوى دى، د مجاهد مثال د هغه سړي په شان دى چې د ورځې روژې نيسي او د شپې عبادت كوي تر څو چې مجاهد كلي ته واپس نه وي راغلى، دى همدغسې پرلپسې عبادت كوي، معلومه شوه چې په ټولو عبادتونو كې جهاد تر ټولو غوره عمل دى، يو عبادت كوونكى هغه اجر او ثواب په كور كې نشي حاصلولى كوم چې يو مجاهد حاصلوي

تر ټولو غوره انسان

"وعنه: أَنَّ رسولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: مِن خَيرِ مَعَاشِ النَّاسِ لَهُم، رَجُلٌ مُمسِكٌ عِنَانَ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په خلكو كې غوره ژوند د هغه مجاهد دى چې د الله ﷻ په لاره كې يې هر وخت د اس واګې په لاس كې نيولي وي او په ركاب باندې يې پښې وي، "يَطِيرُ عَلٰى مَتنِهِ، كُلَّمَا سَمِعَ هَيعَةً أَو فَزعَةً طَارَ عَلَيهِ يَبتَغِي القَتلَ وَالمَوتَ مَظَانَّهُ" په انتظار كې اوسي چې چېرته د خطرې يا پريشانى خبره وي نو د هغې دفعه كولو لپاره تيزۍ سره هلته رسيږي او د قتل يا مرګ لپاره د داسې

Maktaba Tul Ishaat. com

مواقعو په طلب او انتظار کې وي، "أَوْرَجُلٌ فِي غُنَيْمَةٍ فِي رَأْسِ شَعَفَةٍ مِنْ هٰذَا الشَّعَفِ، أَوْبَطْنِ وَادٍ مِنَ الْأَوْدِيَةِ، يُقِيمُ الصَّلَاةَ، وَيُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَيَعْبُدُ رَبَّهُ" په دويمه درجه کې د هغه سړي ژوند دی چې د غر په څوکه کې يا دواديانو / د غره د درو څخه په يوه دره کې د ميږو د معمولي رمې سره مقيم وي، خپل لمونځ کوي، زکوة ورکوي او د خپل رب په عبادت کې مشغول وي، "حَتّٰى يَأْتِيَهُ الْيَقِينُ" تردې چې مرګ ورته راشي، "لَيْسَ مِنَ النَّاسِ إِلَّا فِي خَيْرٍ" د داسې خلکو د نيک عمل نه علاوه بل څه کار نه وي رواه مسلم

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب استحباب العزلة عند فساد الزمان) کې تېر شوی دی، علامه نووي رحمه الله دلته يو ځل بيا راوړو، په دې حديث کې د هغه کس د فضيلت ذکر دی چې هر وخت د جهاد لپاره تيار وي، لږ شان د جهاد نعره چې چېرته واوري نو سمدستي اوچت شي او د جهاد په لور روان شي، په حديث کې د مجاهد د فضيلت نه پرته د هغه سړي د فضيلت ذکر هم دی چې د خپل دين او ايمان ساتلو لپاره چېرته لرې ځنګل ته روان شي او د خپل رب عبادت کوي

د جنت سل درجې

"وعنه: أَنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِئَةَ دَرَجَةٍ أَعَدَّهَا اللهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت کې د مجاهد في سبيل الله لپاره الله جل جلاله سل درجې تياري کړي دي، "مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ" د دوه درجو په مينځ کې دومره فاصله ده لکه د ځمکې نه تر اسمان پورې چې څومره فاصله ده. رواه البخاري

تشريح: محدثين فرمايي: د مجاهدينو لپاره د الله جل جلاله په نزد هغه درجې دي چې د عامو خلکو لپاره نه دي، د مجاهد لپاره پوره سل درجې دي، ددې درجو ترمينځ دومره فاصله ده، لکه څومره چې د اسمان او د ځمکې ترمينځ ده، دا ټولې درجې هغو کسانو لپاره دي چې د الله جل جلاله د دين سربلندۍ لپاره يې خپل سرونه وړاندې کړي وي

د جنت د درجو ترمينځ فاصله

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا، وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ" د أبو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې په دې خبره راضي شي چې رب مې الله جل جلاله دی او اسلام مې دين دی او محمد ﷺ مې پېغمبر دی، د داسې کس لپاره جنت واجب شو، "فَعَجِبَ لَهَا أَبُوسَعِيدٍ، فَقَالَ: أَعِدْهَا عَلَيَّ يَا رَسُولَ اللهِ، فَأَعَادَهَا عَلَيْهِ" ابو سعيد خدري رضي الله عنه ډېر زيات په تعجب کې پرېوتلو، وې فرمايل: يا رسول الله ﷺ! که دا خبره مو بيا وکړه! نبي کريم ﷺ ورته هغه خبره دوباره وکړه. "ثُمَّ قَالَ: وَأُخْرَى يَرْفَعُ اللهُ بِهَا الْعَبْدَ مِئَةَ دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ، مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ" نبي کريم ﷺ بيا وفرمايل: يو بل عمل هم شته په کوم چې الله جل جلاله د بنده لپاره په جنت کې سل درجې اوچتوي او د هرې دوه درجو په مينځ کې د اسمان او ځمکې په اندازه فاصله ده. "قَالَ: وَمَا هِيَ

يَارسول الله؟ قَالَ: الجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ، الجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ" أبو سعيد خدري ﷛ پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ هغه کوم عمل دی؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل هغه د الله ﷻ په لار کې جهاد کول، هغه د الله ﷻ په لار کې جهاد کول رواه مسلم

تشريح: علماء ددې حديث نه ددې خبرې استدلال کوي چې د جنتيانو ترمينځ د دوی د اعمالو د تفاوت په بنياد په درجو کې به هم فرق وي، ځينو ته به اوچتې درجې ملاويږي او ځينو ته به لاندې درجې ملاويږي، ليکن دخول جنت به د الله ﷻ په رحمت سره وي، ليکن درجې به د اعمالو په لحاظ ملاويږي، بل دا هم معلومه شوه چې په جنت کې بې شماره درجې دي، خکه خو مجاهدينو ته سل درجې ملاويږي

جنت د تورو تر سيوري لاندې دی

"وعن أبي بكر بن أبي موسى الأشعري، قَالَ: سَمِعْتُ أبي ﷛، وَهُوَ بِحَضْرَةِ العَدُوِّ، يقول: قَالَ رسول الله ﷺ: إنَّ أبْوَابَ الجَنَّةِ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ" د أبو بكر بن أبي موسى اشعري ﷛ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د خپل پلار نه واوريدل په داسې حال کې چې هغه د دښمن سره په مقابله کې وو چې رسول الله ﷺ وفرمايل جنت د تورو تر سيوري لاندې دی، "فَقَامَ رَجُلٌ رَثُّ الهَيْئَةِ، فَقَالَ: يَا أَبَا مُوسَى آنْتَ سَمِعْتَ رسولَ الله ﷺ يقول هَذَا؟ قَالَ: نَعَمْ" په دې کې يو کس را پورته شو چې جامې يې شليدلې وې هغه وويل چې اې ابوموسى ﷛ تاسو دا حديث د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی؟ هغه ورته وويل هو ما دا حديث د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی. "فَرَجَعَ إِلَى أَصْحَابِهِ، فَقَالَ: أَقْرَأُ عَلَيْكُمُ السَّلَامَ، ثُمَّ كَسَرَ جَفْنَ سَيْفِهِ فَأَلْقَاهُ، ثُمَّ مَشَى بِسَيْفِهِ إِلَى العَدُوِّ فَضَرَبَ بِهِ حَتَّى قُتِلَ" ددې خبرې اوريدو سره هغه کس خپلو ملګرو ته ورغلو او وې ويل زه تاسو ته خپل آخري سلام کوم، بيا يې د خپلې تورې تيکى وشلولو، هلته يې وغورځولو او توره يې راوويستل، په دښمن يې حمله وکړه او تر هغې يې جنګ کولو چې شهيد شو رواه مسلم

تشريح: ان ابواب الجنة تحت ظلال السيوف: د جنت دروازې د تورو تر سيوري لاندې دي، مطلب دا دی چې د مجاهدينو هغه حال کله چې د دوی د سرونو دپاسه د کفارو تورې چليږي، دا کيفيت جوړيدل جنت ته د دخول سبب دی، ددې خبرې لپاره واضح دليل دی چې د جنت دروازې د مجاهد لپاره خلاصې دي، دلته بس شهادت دی او هلته جنت ته داخليدل دي، دا حديث چې کله صحابي واوريدو، نو توره يې د تيکي څخه راوويستل او د کفارو په صف کې داخل شو، تر هغه پورې وجنګيدو چې شهيد شو

د راوي ابوبکر بن ابو موسى اشعري ﷛ حالات:

د دوی اصلي نوم عمرو يا عامر وو، دده د ورور نوم ابوبرده وو، دواړه د ابو موسى اشعري ﷛ زامن وو، تابعين وو، اسماء الرجال والا په ثقه راويانو کې شمار کړی دی، د دوی نه بخاري، مسلم او اصحاب السنن روايات نقل کړي دي

Maktaba Tul Ishaat. com

د سنګر ګردونه او د جهنم لوګي نه سره جمع کيږي

"وعن أبي عبس عبد الرحمان بن جبر ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَا اغْبَرَّتْ قَدَمَا عَبْدٍ في سَبِيلِ اللهِ فَتَمَسَّهُ النَّارُ" د أبو عبس عبد الرحمان بن جبر ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل. په کومو پښو باندې چې د الله ﷻ په لار کې ګردونه پرېوځي، هغه پښې به په جهنم کې نه سوځي. رواه البخاري.

تشريح: ما اغبرت قدما عبد: د يو بنده پښې چې په ګردو خړې شي، مطلب دا چې د کوم کس په پښو باندې چې د الله ﷻ په لار کې ګردونه پرېوځي، نو ددې ګردونو په برکت به د جهنم د عذاب نه خلاص شي.

يادونه: که څه هم د في سبيل الله الفاظو اطلاق په مجاهد کيږي، نو هلته په طالب علم، د حاجيانو په قافله هم کيږي، بلکې څوک چې د دين حفاظت، د دين د نشر په خاطر په ځان باندې سختې تېروي، نو دا هم په مجاهد في سبيل الله کې داخل دى.

د راوي ابوعبس عبدالرحمن بن جبر ﷺ حالات:

اصل نوم يې عبدالرحمن ﷺ دى، کنيت يې ابوعبس دى، خو کنيت يې د نوم نه زيات شهرت لري، پوره نسب يې داسې دى: عبدالرحمن بن جبر بن عمرو بن زيد بن جشم بن مجده انصاري، بدري صحابي دى، ډېر زيات فضيلت والا صحابي دى، د دوى وفات په ۳۴ هجري کې په مدينه منوره کې د عثمان ﷺ په دور خلافت کې وشو، عثمان ﷺ ورباندې د جنازې لمونځ وکړو او په جنت البقيع کې مدفون شو.

مرويات: د دوى نه پنځه روايات نقل دي، يو په بخاري کې دى، باقي په ترمذي او نسائي وغيره کې دي.

د الله ﷻ له وېرې ژړا کول

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: لَا يَلِجُ النَّارَ رَجُلٌ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللهِ حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل. هغه سړى به جهنم ته تر هغې پورې داخل نه شي تر څو چې شيدې واپس غولانځې ته تللې نه وي، "وَلَا يَجْتَمِعُ عَلَى عَبْدٍ غُبَارٌ فِي سَبِيلِ اللهِ وَدُخَانُ جَهَنَّمَ" نه جمع کيږي په يو کس باندې د الله ﷻ د لارې ګرد او د جهنم لوګى. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: لايلج النار: جهنم ته به داخل نه شي تر څو چې شيدې په غولانځه کې بېرته واپس تللې نه وي. دا جمله هغه وخت استعماليږي کله چې يو کار کول محال وي، لکه څرنګه چې يو ځل شيدې ولوشل شي او بېرته په غولانځه کې واپس تلل محال وي، دغه شان کوم کس چې د الله ﷻ د خوف او وېرې له امله وژاړي، نو داسې کس جهنم ته تلل محال وي، دغه شان هغه مجاهد چې پښې يې په ګردونو خړې شوې وي، نو دده هم جهنم ته تلل محال دي. په حديث کې لفظ د (دخان) استعمال شوى دى، مطلب دا چې د جهنم اور پرېږده چې د هغه لوګى هم ورباندې حرام دى.

د الله ﷻ په لار کې ويښې سترګې پاتې کېدل

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ اللهِ ﷺ يقول: عَيْنَانِ لاَ تَمَسُّهُمَا النَّارُ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: په دوه سترګو باندې د جهنم اور حرام دی، "عَيْنٌ بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ، وَعَيْنٌ بَاتَتْ تَحْرُسُ فِي سَبِيلِ اللهِ" يوه هغه سترګه ده چې د الله ﷻ د ويرې وژاړي، بله سترګه هغه ده چې د الله ﷻ په لار کې ويښه پاتې شي. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: په دې حديث کې دوه قسمه خلکو ته د جهنم نه د برائت اعلان شوی دی، اول هغه کس ته چې خپل ګناهونه ورپه ياد شي د الله ﷻ د ويرې له امله په ژړا شي، دويم هغه کس چې د الله ﷻ په لار کې پيره داري وکړي، د دغو دوه کسانو لپاره د جهنم نه برائت اعلان شوی دی، خو په دې شرط چې اخلاص پکې وي.

چا چې د مجاهد مرسته وکړه هغه هم جهاد وکړو

"وعن زيد بن خالد ﷺ: أَنَّ رسولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: مَنْ جَهَّزَ غَازِياً فِي سَبِيلِ اللهِ فَقَدْ غَزَا" د زيد بن خالد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې يو مجاهد د جهاد لپاره تيار کړي او د جهاد اسباب ورته مهيا کړي، نو هغه هم په حقيقت کې جهاد وکړو، "وَمَنْ خَلَفَ غَازِياً فِي أَهْلِهِ بِخَيْرٍ فَقَدْ غَزَا" او کوم کس چې د يو مجاهد د کوروالا پوښتنه او د هغوی د ضرورت سامان مهيا کړي، نو ده هم جهاد وکړو. متفقٌ عَلَيهِ.

لغوي تحقيق:

جهز يجهز تجهيزاً: د دې معنی ده: تياری کول، سامان تيارول.

تشريح: من جهز غازياً في سبيل الله فقد غزا: چا چې د الله ﷻ په لار کې يو غازي تيار کړو، هغه هم جهاد وکړو، ځکه چې په يو بل روايت کې دي چې: "الدال على الخير كفاعله" نيکۍ طرفته رهنمايي کونکی داسې دی لکه خپله چې يې نيکي کړې وي، دغه شان هغه مجاهد چې د الله ﷻ په لار کې وتلی وي او يو بل کس د هغه د کور والا خبرګيري کوي، نو دغه کس ته هم هغومره ثواب ملاوېږي څومره چې هغه مجاهد ته ملاوېږي.

غوره صدقه

"وعن أبي أُمَامَةَ ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: أَفْضَلُ الصَّدَقَاتِ ظِلُّ فُسْطَاطٍ فِي سَبِيلِ اللهِ" د ابو امامة ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: غوره صدقه د خيمې سيوری دی کوم چې د الله ﷻ په لار کې ولګيږي، "وَمَنِيحَةُ خَادِمٍ فِي سَبِيلِ اللهِ" او يا يو مجاهد ته د الله ﷻ په لار کې يو خادم ورکول هم غوره صدقه ده، "أَوْ طَرُوقَةُ فَحْلٍ فِي سَبِيلِ اللهِ" او يا يوه ځوانه اوښه مراد سورلی ورکول هم غوره صدقه ده. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

Maktaba Tul Ishaat. com

تشريح: **ظل فسطاط:** د خيمې سيورې، ددې نه هغه خيمه مراد ده چې د هر سيورې لرې چې ددې لاندې مجاهد کيني او آرام وکړي، **"ومنيحة خادم"** خادم عطيه کول، يعنې په تحفه کې ورکول، ددې نه هغه خادم مراد دی چې د يو مجاهد خدمت وکړي او د هغه سره د جهاد په کارونو کې مرسته وکړي، **"وطروقة فحل"** ځوان اوښ، **"طروق"** طاقتور او مضبوط اوښ ته وايي کوم چې بار پورته کولی شي او **"فحل"** ځوان ته وايي، ددې نه هم هغه کار مراد دی کوم چې يو مجاهد ته پکې راحت او آرام رسيږي چې د مجاهد سره د سورلۍ لپاره اسباب وي، نو هغه به په آسانه نقل مکاني کولی شي

په مال کې د برکت ذريعه

"وعن أنس ﷺ: أن فتىً من أسلم، قال: يا رسول الله، انى أريد الغزو وليس معي ما أتجهز به" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ په خدمت کې د بنو اسلم قبيلې يو ځوان حاضر شو او ورته يې ووېل: يا رسول الله ﷺ زما جهاد ته شوق کيږي، ليکن زما سره دومره څه نشته چې زه پرې جهاد وکړم، **"قال: ائت فلاناً فإنه قد كان تجهز فمرض فأتاه"** نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: فلانکي سړي ته ورشه! هغه د جهاد لپاره تياري کړې وه، ليکن هغه بيمار شو، هغه کس دغه بل کس ته راغلو، **"فقال: إن رسول الله ﷺ يقرئك السلام، ويقول: أعطني الذي تجهزت به"** او ورته يې وفرمايل: رسول الله ﷺ په تاسو باندې سلام ويلی دی او فرمايي چې ماته هغه څه راکړه کوم څه چې تاسو د جهاد لپاره تيار کړي وو، **"قال: يا فلانة، أعطيه الذي كنت تجهزت به، ولا تحبسي عنه شيئاً"** هغه کس خپلې مېرمنې ته اواز وکړو چې اې فلانکۍ: دغه کس ته ټول هغه څه ورکړه کوم څه چې ما د ځان لپاره تيار کړي وو او ددې نه هيڅ شی مه پاتې کوه! **"فوالله لا تحبسي منه شيئاً فيبارك لك فيه"** قسم په الله ﷺ که لږ څه هم دې ترې ايسار کړل، نو الله ﷺ به تا ته په دې کې هيڅ قسم برکت وانه چوي رواه مسلم

تشريح: ددې حديث نه علماء استدلال کوي چې که کوم کس په خپله جهاد نه شي کولی، نو هغه ته پکار ده چې د يو بل مجاهد سره مرسته وکړي، کلاشنکوف، مرمۍ، بوټان او يا د لارې کرايه ورکړي، نو په دې شان سره به هغه ته هم د جهاد ثواب ملاو شي، بل ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې د يو مجاهد سره د جهاد په کارونو کې مرسته کول په مال کې د برکت راتلو يوه ستره ذريعه ده، بل دا چې که يو کس د يو نيک عمل لپاره کوم مال او اسباب ساتلي وي، بيا هغه ته موقع په لاس ورنشي نو چېرته بې په بل نيک کار کې هم استعمالولی شي، په دې کې د ګناه خبره نشته

په دوه کسانو کې يو کس جهاد ته تلل او اجر مشترک

"وعن أبي سعيد الخدري ﷺ: أن رسول الله ﷺ بعث إلى بني لحيان، فقال: لينبعث من كل رجلين أحدهما" د ابو سعيد خدري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د بني لحيان قبيلې ته د دستې ډلګې لېږلو په وخت وفرمايل: د يو کور د دوه سړو نه يو سړی چې هم لاړ شي، نو دا صحيح ده، **"والأجر بينهما"** د دوی دواړو اجر به شريکي وي رواه مسلم

وفي رواية له: لِيَخْرُجْ مِنْ كُلِّ رَجُلَيْنِ رَجُلٌ: او په يو بل روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: بايد چې په دوه کسانو کې يو کس جهاد ته لاړ شي، "ثُمَّ قَالَ لِلْقَاعِدِ: أَيُّكُمْ خَلَفَ الْخَارِجَ فِي أَهْلِهِ وَمَالِهِ بِخَيْرٍ كَانَ لَهُ مِثْلُ نِصْفِ أَجْرِ الْخَارِجِ" بيا نبي کريم ﷺ ناستو کسانو ته وفرمايل: په تاسو کې چې څوک د مجاهد د کوروالا خبرگيري په ښه طريقه وکړي، نو کوم کس چې جهاد ته تللی وي د هغه نيم اجر به ده ته هم ملاويږي.

تشريح: د حديث شريف مطلب واضح دی چې يو کس جهاد ته لاړ شي او بل کس د هغه مجاهد د کوروالا د بچو او زنانو خيال وساتي، نو دواړو ته به يو قسم ثواب ملاويږي، په يو روايت کې "الأجر بينهما" په يو بل روايت کې دي چې: "مثل نصف أجر الخارج" يعني اجر به د دواړو ترمنځ وي، يا به نيم اجر ورته ملاويږي.

سوال: په ظاهره کې دواړه روايتونه مخالف دي، په اولني روايت کې دي چې دواړو ته به پوره پوره اجر ملاويږي، ليکن د بل روايت نه معلوميږي چې د ټول اجر نه نيم نيم دواړو ته ملاويږي؟

جواب: ځينو علماوو په دې دويم حديث کې لفظ د «نصف» زائد گرځولی دی، وايي: کېدی شي چې کوم راوي دا لفظ د ځان له طرفه زياتي کړی وي، دويم جواب دا دی چې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي: که د دواړو مجموعي ثواب په دوه برخو تقسيم شي، نو د هر يو په برخه کې چې کوم اجر راځي، هغومره اجر به د بل کس په برخه کې هم راځي او دا يوه برخه به د بل کس د ټولې برخې برابره وي.

لومړی اسلام بيا جهاد

"وعن البراء رضي الله عنه، قَالَ: أَتَى النَّبِيَّ ﷺ رَجُلٌ مُقَنَّعٌ بِالْحَدِيدِ، فَقَالَ: يَارسولَ اللهِ، أُقَاتِلُ أَوْ أُسْلِمُ؟" د براء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ په خدمت کې داسې کس راغلو چې په اوسپنه کې پټ وو، هغه وويل: يارسول الله ﷺ! ايمان راوړم او که جهاد وکړم؟ "قَالَ: أَسْلِمْ، ثُمَّ قَاتِلْ. فَأَسْلَمَ، ثُمَّ قَاتَلَ فَقُتِلَ" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: اول ايمان راوړه بيا جهاد وکړه؛ هغه کس اول ايمان راوړو، بيا يې جهاد شروع کړو، تردې چې شهيد شو، "فَقَالَ رسولُ اللهِ ﷺ: عَمِلَ قَلِيلاً وَأُجِرَ كَثِيراً" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دې سړي لږ عمل وکړو، ليکن ډېر اجر ورته ملاو شو. متفقٌ عَلَيْهِ، وهذا لفظ البخاري

تشريح: اسلم ثم قاتل: اول اسلام راوړه بيا جهاد وکړه، معلومه شوه چې د اسلام نه پرته يو عمل هم د الله جل جلاله په دربار کې قبول نه دی ترڅو چې اسلام او ايمان نه وي عمل به نه قبليږي، نو ځکه رسول الله ﷺ دې کس ته وويل: لومړی اسلام راوړه! بيا جهاد وکړه، که يو کس اسلام قبول نه کړي، خوشې په خوشې جهاد وکړي، نو که مړ هم شي، دوزخي به وي، ځکه چې ايمان نشته، "عمل قليلاً وأجر كثيراً" لږ عمل يې وکړو او زيات اجر يې يوړو، ډېر ځل داسې کيږي چې د يو انسان کوم عمل اگرچې ډېر معمولي وي، خو الله جل جلاله ته خوښ شي، نو ددې کمزوري عمل په برکت سره يې الله جل جلاله مغفرت نصيب کړي. اللهم ارزقنا شهادةً في سبيلك!

Maktaba Tul Ishaat. com

د دنيا ته د واپس راتلو ارمان

"وعن أنس ﷺ: أَنّ النبيّ ﷺ قَالَ: مَا أَحَدٌ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يُحِبُّ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا وَلَهُ مَا عَلَى الْأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا الشَّهِيدُ" د انس ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: داسې يو كس نشته چې يو ځل جنت ته داخل شي او بيا دى دا خبره خوښوي چې زه دي دنيا ته واپس لاړ شم اګر چې ده ته د دنيا ټول نعمتونه وركول شوي وي، سېوا د شهيد نه، "يَتَمَنَّى أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا، فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ لِمَا يَرَى مِنَ الْكَرَامَةِ" شهيد به دا ارمان كوي چې كاش زه دنيا ته واپس تللى شواى او لس ځلې د الله ﷻ په لار كې شهيد شوى واى او دا ارمان به ځكه كوي چې د شهادت عزت او خوند به يې ليدلى وي

وفي رواية: لِمَا يَرَى مِنْ فَضْلِ الشَّهَادَةِ: او په يو بل روايت كې دي چې ده به د شهادت فضيلت او غوره والى ليدلى وي متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: ما أحد يدخل الجنة يحب أن يرجع إلى الدنيا: څوك چې يو ځل جنت ته لاړ شي نو بيا به هغه دا خبره نه خوښوي چې زه دي واپس دنيا ته لاړ شم، پرته د شهيد نه چې هغه به ارمان كوي چې زه دي واپس دنيا ته لاړ شم او بيا دي د الله ﷻ په لار كې شهيد شم، علماوو ددې حديث دوه مطلبونه بيان كړي دي: يو مطلب يې دا دى چې اې الله! موږ بېرته دنيا ته واپس ولېږه چې يو ځل بيا ستا په لار كې شهيدان شو، دويم مطلب يې دا دى چې اې الله! زموږ روحونه زموږ په بدنونو كې ددې لپاره داخل كړه چې دنيا ته واپس لاړ شو او ستا د انعاماتو او كراماتو شكريه ادا كړو، كوم انعامات چې تا موږ ته راكړي دي او دا شكريه به په دې شان سره ادا كيږي چې موږ ستا په لار كې يو ځل بيا شهيدان شو

د بنده حق

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضى الله عنهما: أَنّ رسولَ الله ﷺ قَالَ: يَغْفِرُ اللهُ لِلشَّهِيدِ كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا الدَّيْنَ" د عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ څخه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: شهيد ته هر څه معاف كيږي، مګر قرض ورته نه معاف كيږي رواه مسلم

وفي رواية له: الْقَتْلُ فِي سَبِيلِ اللهِ يُكَفِّرُ كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا الدَّيْنَ: او په يو بل روايت كې داسې هم شته چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ په لار كې شهادت هر قسم ګناه لرې كوي، سېوا د قرض څخه

تشريح: علامه توربشتي ﷫ او ځينې عالمان فرمايي: لفظ د "الا الدين" نه صرف قرض مراد نه دى، بلكې مراد ترې حقوق العباد دي، د حديث مطلب دا شو چې د شهيد ټول ګناهونه كوم چې د حقوق الله سره تعلق لري معاف كيږي، ليكن كوم حقونه چې بندګانو سره تعلق ساتي هغه نه معاف كيږي، حقوق العباد كه مالي وي او كه ځاني وي، مثلاً: د چا غيبت يې كړى وي يا يې مال ترې اخيستى وي، دا ټول به حقوق العباد كې داخل دي

د قرض نه علاوه ټول ګناهونه معاف كيږي

"وعن أبي قتادة ﷺ: أَنّ رسولَ الله ﷺ قَامَ فِيهِمْ فَذَكَرَ أَنَّ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَالْإِيمَانَ بِاللهِ، أَفْضَلُ الْأَعْمَالِ" د أبو

قتاده ﷺ نه روایت دی هغه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ د الله ﷻ په لار کې د جهاد فضيلت او په الله ﷻ باندې د ايمان راوړو فضيلت او غوره والی بيان کړو، "فَقَامَ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَارَسُولَ اللهِ، أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللهِ، أَتُكَفَّرُ عَنِّي خَطَايَايَ؟" په دې کې يو کس راپاڅېدو او وې فرمايل: يارسول الله ﷺ! ماته خبر راکړه چې که زه د الله ﷻ په لار کې شهيد شم، نو ايا زما ګناهونه به معاف کړی شي؟ "فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ: نَعَمْ، إِنْ قُتِلْتَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَأَنْتَ صَابِرٌ مُحْتَسِبٌ، مُقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ" نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: هو! كه چېرته تاسو د الله ﷻ په لار کې شهيد شوئ او تاسو صبر وکړو، د اجر په اميد يې او مخ په وړاندې تلونکی يې، په شا راتلونکی نه يې: "ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: كَيْفَ قُلْتَ؟ قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللهِ، أَتُكَفَّرُ عَنِّي خَطَايَايَ؟" نبي كريم ﷺ وفرمايل: څنګه چې دې وويل بيا وو ايه؛ هغه کس وويل: يارسول الله ﷺ! كه چېرته زه د الله په لار کې شهيد شم نو زما ګناهونه به معاف شي؟ "فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: نَعَمْ، وَأَنْتَ صَابِرٌ مُحْتَسِبٌ، مُقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ، إِلَّا الدَّيْنَ فَإِنَّ جِبْرِيلَ عليه السلام قَالَ لِي ذٰلِكَ" نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: هو! ستاسو ګناهونه به معاف شي، خو چې تاسو صبر كونكي يئ، د ځان لپاره اجر لټونكي يئ، مخامخ تلونكي يئ، واپس راتلونكي نه يئ، خو قرض نه معاف كيږي، څكه چې اوس اوس جبرئيل عليه السلام راته دا خبره وكړه چې قرض نه معاف كيږي. رواه مسلم

تشريح: أتكفر عني خطاياى: ايا زما ګناهونه به معاف شي؟ شهادت واحده هغه يوه لار ده چې انسان د الله ﷻ په حضور كې د عبديت د جذبې او بندګۍ او كمال قرباني تر ټولو ستر مظهر دی، په كوم باندې چې الله ﷻ ډېر زيات خوشحاليږي او د انعام په توګه د هغه ګناهونه ورته معاف كړي

فإن جبريل عليه السلام قال لي ذالك: جبرئيل عليه السلام اوس اوس راته دا خبره وكړه، علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: قرض نه معاف كيږي، ددې نه مراد حقوق العباد او فرضي اعمال دي، سره له دې چې وس يې وي، ليكن بيا يې هم ادا نه كړي او كه چېرته يو كس د حقوق العباد ادا كولو اراده وي، ليكن وخت ورته ملاو نه شي چې ادا يې كړي، د داسې كس باره كې د الله ﷻ نه اميد دی چې الله ﷻ به يې د خپل ځان له طرفه د فريق مخالف حق ادا كړي، لكه څرنګه چې په يو بل روايت كې ددې ذكر شته.

د شهادت جذبه

"وعن جابر ﷺ، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: أَيْنَ أَنَا يَا رَسُولَ اللهِ إِنْ قُتِلْتُ؟ قَالَ: فِي الْجَنَّةِ" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه يو كس پوښتنه وكړه چې يارسول الله ﷺ! كه چېرته زه د الله ﷻ په لار كې شهيد شم، نو چېرته به يم؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: جنت ته به ځې! "فَأَلْقَى تَمَرَاتٍ كُنَّ فِي يَدِهِ، ثُمَّ قَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ" د هغه كس سره شته خورماوې يې وغورځولې او جهاد يې شروع كړو، تردې چې شهيد شو

رواه مسلم

تشريح: أين أنا يا رسول الله ﷺ؟ يا رسول الله ﷺ! زه به چېرته وم؟ د يو ښه عمل پای او نتيجې متعلق پوښتنه كول مستحب عمل دی، لكه څرنګه چې يې دلته د غه صحابي د شهادت پوښتنه وكړه،

Maktaba Tul Ishaat. com

په جواب کې ورته وويل شو "في الجنة" په جنت کې به يې، مطلب دا چې رسول الله ﷺ ته د وحي په ذريعه دا خبره معلومه شوه چې دا جنتي دی. يا ددې صحابي اخلاص رسول الله ﷺ وليدو، نو دا ارشاد يې وفرمايلو

د بدر په غزا کې د شهادت ارمان

"وعن أنس رضي الله عنه، قَالَ: انْطَلَقَ رسولُ الله ﷺ وَأَصْحَابُهُ حَتَّى سَبَقُوا المُشْرِكِينَ إِلَى بَدْرٍ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو سره د مشرکينو د راتللو نه مخکې بدر ته رسيدلی وو. "وَجَاءَ المُشْرِكُونَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: لَا يُقَدِّمَنَّ أَحَدٌ مِنْكُمْ إِلَى شَيْءٍ حَتَّى أَكُونَ أَنَا دُونَهُ" کله چې مشرکين راورسيدل، رسول الله ﷺ وفرمايل: د مسلمانانو څخه دې يو کس هم مخکې نه ځي. تر څو چې زه ورته حکم ونه کړم. "فَدَنَا المُشْرِكُونَ، فَقَالَ رسولُ الله ﷺ: قُومُوا إِلَى جَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالأَرْضُ" کله چې د مشرکانو صفونه د مسلمانانو صفونو ته نژدې راغلل، رسول الله ﷺ وفرمايل: اې خلکو د ځمکې او اسمان غوندې پلن والي لرونکي جنت ته ودرېږئ. "قَالَ: يَقُولُ عُمَيْرُ بْنُ الحُمَامِ الأَنْصَارِيُّ رضي الله عنه: يَا رَسُولَ اللهِ، جَنَّةٌ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالأَرْضُ؟" انس رضي الله عنه فرمايي چې عمير بن حمام انصاري رضي الله عنه وفرمايل: يارسول الله ﷺ! داسې جنت چې د مينځ فاصله به يې د آسمان او ځمکې د پلن والي په اندازه وي؟ "قَالَ: نَعَمْ قَالَ: بَخٍ بَخٍ؟ فَقَالَ رسولُ الله ﷺ: مَا يَحْمِلُكَ عَلَى قَوْلِكَ بَخٍ بَخٍ؟ قَالَ: لَا وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ إِلَّا رَجَاءَ أَنْ أَكُونَ مِنْ أَهْلِهَا" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: هو! د دوی په مينځ کې پلن والی هم دومره دی، لکه څومره چې د آسمان او ځمکې په مينځ کې دی، عمير رضي الله عنه وفرمايل: واه! واه! نبي کريم ﷺ ترې پوښتنه وکړه: چې واه! واه! دې ولې وويل؟ عمير رضي الله عنه وفرمايل: يارسول الله ﷺ! په الله قسم چې بل مې هيڅ مطلب نشته سيوا له دې چې الله مې جنت ته داخل کړي. "قَالَ: فَإِنَّكَ مِنْ أَهْلِهَا" ﷺ نبي کريم ﷺ وفرمايل: ته ددې جنتيانو څخه يې، د هغه سره شته "فَأَخْرَجَ تَمَرَاتٍ مِنْ قَرَنِهِ، فَجَعَلَ يَأْكُلُ مِنْهُنَّ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ته ددې جنتيانو څخه يې، د هغه سره شته خورماوي يې راواخيستې، د هغې څخه يې خوړل شروع کړه. "ثُمَّ قَالَ: لَئِنْ أَنَا حَيِيتُ حَتَّى آكُلَ تَمَرَاتِي هذِهِ إِنَّهَا لَحَيَاةٌ طَوِيلَةٌ" بيا يې د ځان سره وويل: که چېرته زه دغه خورماوې خورم، نو بيا خو به زما او د جنت ترمينځ ډېره زمانه پاتې شي. "فَرَمَى بِمَا كَانَ مَعَهُ مِنَ التَّمْرِ، ثُمَّ قَاتَلَهُمْ حَتَّى قُتِلَ" عمير رضي الله عنه هغه خورما وغورځولې، جهاد يې شروع کړو، تردې چې شهيد شو. رواه مسلم

القَرَن بفتح القاف والراء: هُوَ جَعْبَةُ النُّشَّاب: (القرن د غشو تيلی ته وايي)

تشريح: قوموا الى جنة عرضها السموات والأرض: هغه جنت ته روان شئ چې پلن والی يې دومره دی لکه د اسمان نه چې تر ځمکې پورې دی. دلته يو سوال پيدا کيږي هغه دا چې ايا حقيقتاً د جنت پلن والی دومره دی لکه د آسمان او ځمکې ترمينځ چې څومره فاصله ده؟ جواب دا دی چې قرآن کريم د انسان عقل او فهم خانته مخې ته کيږدي او د هغې مطابق کلام کوي، انساني عقل د آسمان او ځمکې ترمينځ فاصلې نه زيات بل کوم شی نه پيژني، نو ځکه ددې سره يې تشبيه ورکړه، کنه په حقيقت کې د جنت پلن والی او فراخ والی ددې نه هم زيات وسيع دی. "ما يحملك على قولك: بخ بخ؟" کوم شي تاسو په بخ

بخ الفاظو ويلو مجبوره کړئ؟ رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې ايا دا جمله دې بې اختياره له خولې ووتل او که د استهزاء په توګه دې وويل؟ هغه جواب ورکړو چې په هغه زېرې مې دا جمله وويل چې زه به هم په هغو کسانو کې يم چې تاسو د جنت زيرئ ورکړو، په دې حديث کې د عمير حمام رضي الله عنه د شهادت جذبه او د آخرت غم تذکره ده چې د همدې جذبې په وجه يې د دنيوي خوندونو څخه فارغ کړو.

داويا قاريانو شهادت

"وعنه، قَالَ: جَاءَ نَاسٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ أَنِ ابْعَثْ مَعَنَا رِجَالًا يُعَلِّمُونَا الْقُرْآنَ وَالسُّنَّةَ، فَبَعَثَ إِلَيْهِمْ سَبْعِينَ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ يُقَالُ لَهُمْ: الْقُرَّاءُ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې څه خلك د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شول، دوی وويل يارسول الله ﷺ! زمونږ سره څه کسان ولېږه چې دوی مونږ ته د قرآن کريم او د حديثو تعليم راکړي، نبي کريم ﷺ ورسره د انصارو صحابه وو نه اويا تنه ولېږل، دوی ته به قاريان ويل کېدل، "فِيهِمْ خَالِي حَرَامٌ، يَقْرَؤُونَ الْقُرْآنَ، وَيَتَدَارَسُونَ بِاللَّيْلِ يَتَعَلَّمُونَ" په دې قاريانو کې زما ماما حرام رضي الله عنه هم وو چې د شپې به يې د قرآن کريم تلاوت او تدريس کولو، يو بل ته به يې د قرآن کريم تعليم ښودلو. "وَكَانُوا بِالنَّهَارِ يَجِيئُونَ بِالْمَاءِ، فَيَضَعُونَهُ فِي الْمَسْجِدِ" د ورځې به يې اوبه راوړلې او په جومات کې به يې کېښودلې. "وَيَحْتَطِبُونَ فَيَبِيعُونَهُ، وَيَشْتَرُونَ بِهِ الطَّعَامَ لِأَهْلِ الصُّفَّةِ وَلِلْفُقَرَاءِ" دوی به ځنګل ته تلل، لرګي به يې ماتول او خرڅول به يې، په پيسو به يې اهل الصفة او غريبانانو ته د ډوډۍ او د خوراك انتظام کولو. "فَبَعَثَهُمُ النَّبِيُّ ﷺ، فَعَرَضُوا لَهُمْ فَقَتَلُوهُمْ قَبْلَ أَنْ يَبْلُغُوا الْمَكَانَ" نبي کريم ﷺ دغه خلك ورسره روان کړل، ليکن منزل ته د رسېدو نه مخکې هغه قاريان دښمنانو راګېر کړل او شهيدان يې کړل. "فَقَالُوا: اللَّهُمَّ بَلِّغْ عَنَّا نَبِيَّنَا أَنَّا قَدْ لَقِينَاكَ فَرَضِينَا عَنْكَ وَرَضِيتَ عَنَّا" دوی وويل: يا الله ﷻ! زمونږ دغه حالت زمونږ پېغمبر ته د وحي په ذريعه ورسوې! مونږ ستاسو سره مخامخ شو يا الله ﷻ! مونږ ستا نه راضي يو، ته زمونږ څخه راضي يې. "وَأَتَى رَجُلٌ حَرَامًا خَالَ أَنَسٍ مِنْ خَلْفِهِ، فَطَعَنَهُ بِرُمْحٍ حَتَّى أَنْفَذَهُ، فَقَالَ حَرَامٌ: فُزْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ" د انس رضي الله عنه ماما حرام رضي الله عنه ته يو کس د شا له خوا راغلو او هغه يې په نېزه ووهلو چې پرمخې پرېوتلو او د حرام رضي الله عنه له خولې دا الفاظ ووتل د کعبې په رب مې دې قسم وي چې زه کامياب شوم، "فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: إِنَّ إِخْوَانَكُمْ قَدْ قُتِلُوا وَإِنَّهُمْ قَالُوا: اللَّهُمَّ بَلِّغْ عَنَّا نَبِيَّنَا أَنَّا قَدْ لَقِينَاكَ فَرَضِينَا عَنْكَ وَرَضِيتَ عَنَّا" نبي کريم ﷺ وفرمايل: ستاسو ورونه شهيدان شول او دوی دا خبره وکړه چې يا الله ﷻ: زمونږ حال زمونږ پېغمبر ته ورسوې مونږ ستا سره مخامخ شو، بس مونږ ستا نه راضي يو، تاسو زمونږ نه راضي شئ! متفق عليه، وهذا لفظ مسلم

تشريح: جاء ناس إلى النبي ﷺ: د دې خلکو مشر ابوبراء بن ملاعب الاسنة نومېدو، "خالي حرام" زما ماما هم وو چې د هغه نوم حرام بن ملحان وو، "فعرضوا لهم" چا چې ځان سره بوتلي وو، هغوی بې دښمنان شول، کومو خلکو چې د ځان سره بوتلي وو، هغوی د عصيه سليم او رعل قبائل وو، دې خلکو دغه اويا کسان شهيدان کړل، کوم صحابه کرام چې شهيدان شول، هغوی ټول اصحاب الصفه وو، شپه او ورځ به د رسول الله ﷺ سره ناست وو، د دوی ارشادات به يې اورېدل، هو: د دين علم به

Maktaba Tul Ishaat. com

يې حاصلولو. د دوی د ژوند تېرولو څه خاصه ذريعه نه وه، صرف په الله ﷻ به يې خالص توکل وو. په دې مضمون باندې مولانا عاشق الهي صاحب رحمه الله يوه خاصه رساله هم ليکلې ده چې د هغې نوم اصحاب صفه دی کومه چې د مکتبه دار العلوم نه چاپ ده.

د انس بن نضر رضي الله عنه بهادري او غيرت

"وعنه، قَالَ: غَابَ عَمِّي أَنَسُ بنُ النَّضْرِ رضي الله عنه عن قِتَالِ بَدْرٍ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، غِبْتُ عَنْ أَوَّلِ قِتَالٍ قَاتَلْتَ المُشْرِكِينَ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې زما تره انس بن نضر رضي الله عنه د بدر په غزا کې شريک شوی نه وو، بيا وروسته يې رسول الله ﷺ ته عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ! په اول ځلي جهاد کې نه وم کوم چې تاسو د مشرکانو سره کړی وو، "لَئِنِ اللهُ أَشْهَدَنِي قِتَالَ المُشْرِكِينَ لَيَرَيَنَّ اللهُ مَا أَصْنَعُ" که دا ځل الله ﷻ ماته د مشرکانو سره د جهاد توفيق را نصيب کړو، نو ما به الله ﷻ ووينې چې زه به څه کوم، "فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ انْكَشَفَ المُسْلِمُونَ فَقَالَ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعْتَذِرُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ هَؤُلاءِ يعني: أَصْحَابَهُ، وَأَبْرَأُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ هَؤُلاءِ يعني: المُشْرِكِينَ" کله چې مسلمانانو د احد په غزا کې صفونه جوړ کړل، نو انس بن نضر رضي الله عنه وفرمايل: يا الله ﷻ! زه تاته عذر پېش کوم د هغه څه نه چې دغه مسلمانان يې کوي، يا الله ﷻ! زه تاته بېزاري پېش کوم د هغه څه نه کوم څه چې دغه مشرکان يې کوي، "ثُمَّ تَقَدَّمَ فَاسْتَقْبَلَهُ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ، فَقَالَ: يَا سَعْدَ بْنَ مُعَاذٍ، الجَنَّةَ وَرَبِّ النَّضْرِ، إِنِّي أَجِدُ رِيحَهَا مِنْ دُونِ أُحُدٍ" بيا د نضر په راوړاندې شو، په مخ کې ورته سعد بن معاذ رضي الله عنه راغلو، نضر رضي الله عنه وفرمايل: اې سعده رضي الله عنه! د نضر په رب مې دې قسم وي چې د جنت خوشبويي ماته د احد د غره له طرفه راځي! "فَقَالَ سَعْدٌ: فَمَا اسْتَطَعْتُ يَا رَسُولَ اللهِ مَا صَنَعَ!" سعد رضي الله عنه وفرمايل: يا رسول الله ﷺ! ما هغه څه ونه کړل کوم څه چې نضر رضي الله عنه وکړل! "قَالَ أَنَسٌ: فَوَجَدْنَا بِهِ بِضْعاً وَثَمَانِينَ ضَرْبَةً بِالسَّيْفِ، أَوْ طَعْنَةً بِرُمْحٍ، أَوْ رَمْيَةً بِسَهْمٍ" انس رضي الله عنه وفرمايل: موږ انس بن نضر رضي الله عنه د جنګ په ميدان کې ومونډلو، د هغه په بدن باندې څه د پاسه اتيا وارې د تورو وو او ددې سره سره د نېزو ګزارونه هم پرې وو او د غشو ګزارونه هم پرې موجود وو، "وَوَجَدْنَاهُ قَدْ قُتِلَ وَمَثَّلَ بِهِ المُشْرِكُونَ، فَمَا عَرَفَهُ أَحَدٌ إِلَّا أُخْتُهُ بِبَنَانِهِ" موږ په داسې حالت کې ومونډلو چې مشرکانو هغه مثله کړی وو، (يعنې غوږونه او پوزه يې ترې پرې کړې وو) موږ ونه پېژندلو چې دا څوک دی، خو د هغه خور د ګوتو په بندونو باندې وپېژندلو، "قَالَ أَنَسٌ: كُنَّا نَرَى - أَوْ نَظُنُّ - أَنَّ هَذِهِ الآيَةَ نَزَلَتْ فِيهِ وَفِي أَشْبَاهِهِ: مِنَ المُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ" انس رضي الله عنه فرمايي: موږ ګومان کولو چې دا آيت دده او دده په شان نورو خلکو باره کې نازل شوی دی، (ترجمه) د مؤمنانو څخه ځينې کسان داسې هم شته چې هغوی هغه وعده کومه يې چې د الله ﷻ سره کړې وه پوره يې کړه. [الأحزاب:۲۳] إلى آخرها. متفقٌ عَلَيْهِ. وَقَدْ سبق في باب المجاهدة.

علامه نووي رحمه الله دلته يو ځل بيا راوړو، په دې کې هم د شهادت جذبه او د جهاد شوق بيان شوی دی، ددې واقعې نه دا هم معلومه شوه چې که يو کس د يو نيک عمل اراده وکړي، تو په دې کې هغه په شک کې نه پرېوځي، بلکې کله هم چې الله ﷻ موقع په لاس ورکړي عمل ورباندې کوي

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب المجاهده) کې تېر شوی دی، علامه نووي رحمه الله دلته يو ځل بيا راوړو، په دې کې هم د شهادت جذبه او د جهاد شوق بيان شوی دی، ددې واقعې نه دا هم معلومه شوه چې که يو کس د يو نيک عمل اراده وکړي، تو په دې کې هغه په شک کې نه پرېوځي، بلکې کله هم چې الله ﷻ موقع په لاس ورکړي عمل ورباندې کوي

د نبي کريم ﷺ خوب

"وعن سمرة رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: رأيت الليلة رجلين أتياني، فصعدا بي الشجرة فأدخلاني دارا هي أحسن وأفضل، لم أر قط أحسن منها" د سمره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ما نن شپه کې دوه کسان راغلل د ځان سره يې پورته يوې ونې ته وخېژولم، په دې ونه کې يې يوې ماڼۍ ته داخل کړم، دومره ښکلې ماڼۍ، وه چې داسې ښکلې ماڼۍ ما چرته نه وه ليدلې، "قالا: أما هذه الدار فدار الشهداء" هغوى دواړو ماته وويل: دا کور او ماڼۍ د شهيدانو ماڼۍ ده. رواه البخاري، وهو بعض من حديث طويل فيه أنواع من العلم سيأتي في باب تحريم الكذب إن شاء الله تعالى.

تشريح: رأيت: ما خوب وليدلو، "رجلين" ددې نه مراد جبرئيل عليه السلام او ميکائيل عليه السلام دى کوم چې په انساني شکل او صورت کې راڅرګند شول. علماء فرمايي: ددې حديث نه درې خبرې معلومېږي: (۱) پرښتې خپل اصلي شکل او صورت بدلولى شي، (۲) د انبياء عليهم السلام خوب وحى وي، (۳) د شهيدانو د فضيلت ذکر پکې دى.

حارث بن سراقه په جنت کې دى

"وعن أنس رضي الله عنه: أن أم الربيع بنت البراء وهي أم حارثة بن سراقة، أتت النبي ﷺ، فقالت: يا رسول الله، ألا تحدثني عن حارثة - وكان قتل يوم بدر" د انس رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې ام الربيع بنت البراء رضي الله عنها د ام حارثة بن سراقه رضي الله عنه مور وه يوه ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره شوه، هغې وفرمايل: يارسول الله ﷺ: که تاسو ماته د حارثه حالت بيان کړئ، ځکه چې هغه په بدر کې شهيد شوى دى، "فإن كان في الجنة صبرت، وإن كان غير ذلك اجتهدت عليه في البكاء" که په جنت کې وي، نو صبر به وکړم او که ددې نه غير په کوم بل ځاى کې وي، نو د هغه لپاره به د الله ﷻ نه وغواړم، "فقال: يا أم حارثة إنها جنان في الجنة، وإن ابنك أصاب الفردوس الأعلى" نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې د حارثه مورې! د جنت ډېرې درجې دي او ستا زوى په جنت الفردوس کې دى کوم چې اعلى درجې والا جنت دى رواه البخاري

تشريح: اجتهدت عليه في البكاء: که هغه جنت ته تللى نه وي، نو زه به ښه ډېره وژاړم. علامه خطابي رحمة الله عليه فرمايي: رسول الله ﷺ د ژړا نه منع ونه فرمايل، ددې نه معلومه شوه چې دا حکم د نوحه (وير) نه وړاندې و، په شروع کې نوحه (وير) جائز وو، ليکن بيا وروسته حرام شو.

وان ابنك أصاب الفردوس الأعلى: ستا زوى په جنت کې په اوچتو درجو کې دى. په ټولو کې غوره جنت جنت الفردوس دى، په يو روايت کې دي چې کله تاسو سوال کوئ نو د جنت الفردوس سوال کوئ. بل ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې جهاد الله ﷻ ته زيات خوښ عمل دى، ځکه خو الله ﷻ شهيدانو ته دا دومره ستر مقام ورکړى دى.

Maktaba Tul Ishaat. com

د پرښتو سیوری

"وعن جابر بن عبد الله رضي الله عنهما، قَالَ: جِيءَ بِأَبِي إِلَى النَّبِيِّ ﷺ، قَدْ مُثِّلَ بِهِ" د جابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمایي: زما والد صاحب عبد الله رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کې پیش کړی شو، مشرکانو د هغه مثله کړې وه، "فَوُضِعَ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَذَهَبْتُ أَكْشِفُ عَنْ وَجْهِهِ فَنَهَانِي قَوْمِي" زما پلار د رسول الله ﷺ په وړاندې کېښودل شو، زه ورغلم چې د مخ نه يې پرده لرې کړم، زه خلکو منع کړم. "فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: مَا زَالَتِ الْمَلَائِكَةُ تُظِلُّهُ بِأَجْنِحَتِهَا" نبي کريم ﷺ وفرمایل: پرښتو په ده باندې خپلې وزرې غوړولې دي. متفق عليه

تشريح: قد مثل به: د هغه مثله شوې وه. مثله د بته وايي چې د يو مړي نه غوږونه، پوزه، سترګې وغيره پرې کړی شي. په دې سره د مړي شکل او صورت بدل شي، همدغه عمل ده رو مشرکانو د صحابه وو سره کړی وو، په دې کې يو صحابي عبد الله چې د جابر رضي الله عنه والد صاحب هم دی. اسلام د مثلې څخه منع فرمايلې ده، فرمايلي يې دي چې که کوم کس مړ کول غواړي، نو صرف څټ ترې ووهئ او مثله به نه کوئ، د عبد الله رضي الله عنه شکل او صورت مشرکانو خراب کړی وو، ليکن هغه د الله ﷻ په نزد دومره يو مقرب بنده جوړ شو چې په هغه باندې پرښتو د خپلو وزرو په واسطه سيورې جوړ کړی وو.

د زړه نه شهادت غوښتل

"وعن سهل بن حنيف رضي الله عنه: أَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ: مَنْ سَأَلَ اللهَ تعالى الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ" د سهل بن حنيف رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د الله ﷻ نه په رښتوني زړه د شهادت ارمان وکړي، "بَلَّغَهُ اللهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ، وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ" الله ﷻ به يې د شهيدانو مرتبې ته ورسوي اګرچې هغه په خپله بستره مړ شي. رواه مسلم

تشريح: دا حديث وړاندې په باب الصدق کې ذکر شوی دی.

د شهادت د مرګ تکليف

"وعن أنس رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ طَلَبَ الشَّهَادَةَ صَادِقاً" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د الله ﷻ نه په رښتوني زړه سره شهادت وغواړي، "أُعْطِيَهَا وَلَوْ لَمْ تُصِبْهُ" الله ﷻ به د شهادت مقام ورته نصيب کړي اګرچې شهيد نه شي. رواه مسلم

تشريح: په دې حديث کې د روغ نيت او نيکي ارادې بيان دی، بايد انسان د زړه له کومې د نيک عمل اراده وکړي، که بيا څه عمل هم ونه کړي، اجر به ورته خامخا ملاويږي. "نية المرء خير من عمله" د سړي روغ نيت د نيک عمل نه زيات غوره دی، ځکه چې عمل خو به لړ وي، ليکن روغ نيت ښه ډېر کولی شي، د دې نيت په اندازه به هغه ته اجر ملاويږي، په دې حديث کې د شهادت ارمان کولو ترغيب هم دی، که چېرته په روغ نيت سره د شهادت مرګ د الله ﷻ نه وغوښتل شي، نو که په کټ هم مړ شي مقام او مرتبه به يې د شهيدانو وي

شهيد ته د مرګ تکليف نه وي

"وعن أبي هريرة ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: مَا يَجِدُ الشَّهِيدُ مِنْ مَسِّ القَتْلِ إلَّا كَمَا يَجِدُ أحَدُكُمْ مِنْ مَسِّ القَرْصَةِ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: شهيد ته د قتل دومره درد او تکليف نه محسوسيږي لکه څومره چې په تاسو کې يو کس ته د ميږي د چيچلو نه کوم درد محسوسيږي. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

لغوي تحقيق:

القرصة: د ميږي د چيچلو تکليف/ درد.

تشريح: علماوو ددې حديث دوه مطلبونه بيان کړي دي: يو دا چې شهيد ته د مرګ نه وروسته د الله ﷻ له لورې چې کوم نعمتونه ملاويږي، ددې په مقابله کې ورته د مرګ تکليف داسې معلوميږي لکه يو ميږی چې ورباندې چك ولګوي، دويم مطلب يې دا دی چې شهيد ته د شهادت پرمهال کوم خوند حاصليږي، په دې باندې هغه دومره زيات خوشحاله وي چې د مرګ سختي ورته داسې معلوميږي لکه ميږی چې ورباندې چك ولګوي او بس.

د دښمن سره د جنګ ارمان مه کوئ

"وعن عبد الله بن أبي أوفى رضي الله عنهما: أنَّ رسولَ الله ﷺ في بَعْضِ أيَّامِهِ الَّتي لَقِيَ فِيهَا العَدُوَّ انْتَظَرَ حَتَّى مَالَتِ الشَّمْسُ، ثُمَّ قَامَ في النَّاسِ فَقَالَ" د عبد الله بن أبي اوفی ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله د دښمنانو سره د جنګ کولو د خطرې په وخت کې يوه ورځ خپلو ملګرو ته خطاب وکړو او ورته يې وفرمايل: "أيُّهَا النَّاسُ، لا تَتَمَنَّوا لِقَاءَ العَدُوِّ، وَاسْأَلُوا الله العَافِيَةَ، فَإذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا، وَاعْلَمُوا أنَّ الجَنَّةَ تَحْتَ ظِلالِ السُّيُوفِ" ای خلکو! د دښمن سره د جنګ په خاطر ملاقات مه غواړئ! بلکې د الله د عافيت سوال کوئ! کله چې جنګ درباندې راشي، نو بيا صبر کوئ او په دې خبره ښه ځان پوه کړئ چې جنت د تورو د سيوري لاندې دی، "ثُمَّ قَالَ: اللَّهُمَّ مُنْزِلَ الكِتَابِ، وَمُجْرِيَ السَّحَابِ، وَهَازِمَ الأحْزَابِ، اهْزِمْهُمْ وَانْصُرْنَا عَلَيْهِمْ" بيا نبي کريم ﷺ دعاء وکړه چې اې د کتاب نازلونکي ذاته! وريځې روانوونکي ذاته! دښمن ته ماتې ورکونکې ذاته! دوی ته ماته ورکړه او د دوی په مقابله کې زموږ مرسته وکړه! متفق عليه

تشريح: دا حديث وړاندې په (باب الصبر) کې ذکر شوی دی، دلته يو ځل بيا راوړل شو، په دې کې هم جنت د تورو د سيوري لاندې ښودل شوی دی او بل دا چې د جنګ ارمان کول ښکار نه دي، بلکې ارمان کول يې ګناه ده، خو بيا هم که چېرته جنګ شروع شي، نو منډې وهل هم ګناه ده.

د جنګ پرمهال دعاء کول

"وعن سهل بن سعد ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: ثِنْتَانِ لا تُرَدَّانِ، أوْ قَلَّمَا تُرَدَّانِ" د سهل بن سعد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دوه ځايونه دي چې په دې دعاء سره نه رد کيږي، يا يې داسې وفرمايل: ډېر کم وخت يکې دعاء رد کيږي (دا شك د راوي له طرفه دی)، "الدُّعَاءُ عِنْدَ النِّدَاءِ

Maktaba Tul Ishaat. com

وَعِنْدَ الْبَأْسِ حِيْنَ يُلْحِمُ بَعْضُهُمْ بَعْضاً" يو د آذان په وخت کې دعاء او بله د جنګ په وخت کې دعاء کله چې د يو بل غوښې سره پرې کوي رواه أبوداود بإسناد صحيح.

تشريح: ددې حديث نه معلومه شوه چې انسان ته پکار دي چې د جنګ پرمهال د ظاهري اسبابو نه زيات د الله ﷻ نه د فتحې او مرستې دعاء وغواړي، د جنګ پرمهال د الله ﷻ نه د زياتې مرستې دعاګانې پکار دي

د جهاد پرمهال دعاګانې

"وعن أنس ﷺ، قَالَ: كَانَ رسولُ اللهِ ﷺ إذا غَزَا، قَالَ: اللَّهُمَّ أنْتَ عَضُدِي وَنَصِيري" د انس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به کله د کوم دښمن سره جهاد کولو، نو داسې به يې ويل، اې الله ﷻ! زما د متو طاقت او زما مددګار ته يې! "بِكَ أحُولُ، وَبِكَ أصُولُ، وَبِكَ أُقَاتِلُ" ما ستاسو طرفته رجوع کړې ده او اعتماد مي کړی دی، ستاسو په قوت به حمله کوم، ستاسو په قوت به جنګېږم رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن.

لغوي تحقيق: عضد: د عضد معنی ده : لاس، متې.

تشريح: علماء فرمايي : ددې حديث نه دا خبره معلومه شوه چې په هر وخت کې د خير دعاګانې کول پکار دي، هر وخت الله ﷻ ته متوجه کېدل پکار دي، بيا په خانګړې توګه د جنګ پرمهال خو بيخي الله ﷻ ته زياته توجه پکار ده چې د الله ﷻ مرسته شامل حال شي، لکه څرنګه چې د جنګ پرمهال به د رسول الله ﷺ عادت مبارک وو.

دويرې پرمهال دعاګانې

"وعن أبي موسى ﷺ: أنَّ النبيَّ ﷺ كَانَ إِذَا خَافَ قَوماً، قَالَ: اللَّهُمَّ إنَّا نَجْعَلُكَ في نُحُورِهِمْ" د ابو موسی اشعري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې کله به رسول الله ﷺ د کوم قوم نه د حملې خطره محسوسه کړه، نو داسې دعاء به يې غوښتل چې يا الله ﷻ! موږ د خپلو دښمنانو په مقابله کې تاسو راولو، "وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شُرُورِهِمْ" او اې الله! په تا سره د دوی د شر نه پناه نيسو. رواه أبوداود بإسناد صحيح.

د اسونو په تنديو کې خير دی

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أنَّ رسولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: الخَيلُ مَعْقُودٌ في نَوَاصِيهَا الخَيْرُ إِلَى يَومِ القِيَامَةِ" د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د اسونو په تنديو کې تر قيامته پورې خير او برکت دی. متفقٌ عَلَيهِ

تشريح: د حديث نه معلومه شوه چې په کور کې په دې نيت باندې اس هم ساتل چې جهاد به پرې کوم ښه خبره ده، په اسونو کې په خير تر هغه پورې وي چې تر څو د جهاد په نيت وساتل شي، که چېرته په غلط نيت وساتل شي، نو بيا د خير په ځای شر پکې دی، بيا په انسان کې تکبر او غرور پيدا کېږي

اسونه د جهاد اسباب دي

"وعن عروة البارقي رضي الله عنه: أَنَّ النبيَّ ﷺ قَالَ: الْخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ: الأَجْرُ، وَالْمَغْنَمُ" د عروه بارقي رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: د اسونو په تندو کې تر قيامته پورې خير او برکت پروت دی، يو اجر او ثواب او بل مال غنيمت دی. متفقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

نواصي: نواصي جمع د ناصية ده، ناصية تندي او پيشاني ته وايي

تشريح: د پيشاني نه صرف تندی مراد نه دی، بلکې د هغه ټول ذات مراد دی، يعنې ټول اس ترې مراد دی، الله ﷻ په اسونو کې خير اېښودلی دی، ددې اسونو په واسطه جهاد کېدلی شي، جهاد يو داسې عمل دی چې د دنيا او اخرت خير پکې پروت دی

د راوي عروة البارقي رحمه الله حالات:

اصل نوم يې عروة رحمه الله دی، د پلار نوم يې ابوجهد اسدي دی، د بارق قبيلې سره تعلق ساتي، کوم چې په يمن کې يوه علاقه ده، عمر رضي الله عنه د کوفې قاضي جوړ کړی وو، د دوی شمار په کوفيانو کې راځي، د دوی زيات روايات د کوفيانو سره دي، ابن مديني رحمه الله فرمايي: ځينې خلکو ويلي دي چې عروة او ابوجهد يو کس دی، دا خبره بالکل غلطه ده، ځکه چې عروة رحمه الله د ابو جهد زوی دی، د دوی نه ديارلس/ ۱۳ روايات نقل دي، په يو روايت کې يې د بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله اتفاق دی

د قيامت په ورځ به د اسپو هر شی تلل کيږي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ: مَنِ احْتَبَسَ فَرَساً فِي سَبِيلِ اللهِ، إِيمَاناً بِاللهِ، وَتَصْدِيقاً بِوَعْدِهِ" د أبو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د الله ﷻ د لارې لپاره اس وساتلو، په الله ﷻ يې ايمان وو او د هغه په وعدو يې پوره يقين وو، "فَإنَّ شِبَعَهُ، وَرِيَّهُ وَرَوْثَهُ، وَبَوْلَهُ فِي مِيزَانِهِ يَوْمَ القِيَامَةِ" نو ددې اس دانه، اوبه، خاشه او متيازې به د قيامت په ورځ په تله د ميزان کې تلل کيږي رواه البخاري.

تشريح: إيماناً بالله وتصديقاً: په الله ﷻ باندې يې ايمان راوړی وي، د هغه وعدې رښتونې وګڼي، مطلب دا دی چې کوم کس د الله ﷻ د رضا په خاطر اس وساتي چې په دې به زه جهاد کوم او د الله ﷻ حکم به عملي کوم او د کوم اجر او ثواب وعده چې الله ﷻ کړې ده هغه رښتونې وګڼي، نو الله ﷻ په دې نيت او عمل باندې دومره خوشحاله شي چې ددې اس خوراک، اوبه، تشي او لوبې متيازې هرڅه به د آخرت په تله کې ورته حساب کړي

د يو عمل بدله په اوه سوه / ۷۰۰ ده

"وعن أبي مسعود رضي الله عنه، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبيِّ ﷺ بِنَاقَةٍ مَخْطُومَةٍ فَقَالَ: هذِهِ فِي سَبيلِ اللهِ، فَقَالَ رسولُ الله ﷺ" د

Maktaba Tul Ishaat. com

عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کس د رسول الله ﷺ په خدمت کې د اوښې مهار په لاس کې نيولی راغلو او وې ويل: يارسول الله ﷺ! دا اوښه مې د الله ﷻ په لار کې وقف کړې ده، "لَكَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ سَبْعُ مِئَةِ نَاقَةٍ كُلُّهَا مَخْطُومَةٌ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: تاته به د قيامت په ورځ داسې اوه سوه /۷۰۰ اوښې وي او د هرې يوې اوښې به مهار په غاړه وي. رواه مسلم

تشريح: مخطومة: هغه اسپه چې زين ورته اچول شوی وي، په دې حديث کې د آخرت اجر او ثواب ذکر دی چې انسان ته به په آخرت کې ملاويږي، علماء فرمايي: الله ﷻ د يو نېک عمل اجر او بدله کم نه کم لس درجې او زيات نه زيات سل درجې ورکوي، بلکې ددې نه هم زيات ورکوي، په دې حديث کې هم د اوه سوه/ ۷۰۰ درجو زېرې دی، دا مفهوم د قرآن کريم نه معلومېږي، "مثل الذين ينفقون أموالهم في سبيل الله كمثل حبة انبتت سبع سنابل في كل سنبلة مائة حبة والله يضاعف لمن يشاء والله واسع عليم".

طاقت په غشو ويشتلو کې دی

"وعن أبي حمادٍ - ويقال: أبو سعاد، ويقال: أبو أسدٍ، ويقال: أبو عامرٍ، ويقال: أبو عمرو، ويقال: أبو الأسود، ويقال: أبو عبسٍ - عُقبة بن عامرٍ الجُهَنيّ ﷺ، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ اللهِ ﷺ وَهُوَ علَى المِنْبَرِ، يقول: "وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ" د عقبة بن عامر جهني ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ په منبر باندې ناست وو او ما ترې دا واورېدل چې فرمايل يې: ددې کافرانو په خلاف د طاقت تياری وکړئ! "أَلاَ إنَّ القُوَّةَ الرَّمْيُ، أَلاَ إنَّ القُوَّةَ الرَّمْيُ، أَلاَ إنَّ القُوَّةَ الرَّمْيُ" نبي کريم ﷺ د قوت تفسير په رمي سره وکړو چې هغه غشي ويشتل دي، د قوت نه مراد غشي ويشتل دي، د قوت نه مراد غشي ويشتل دي. رواه مسلم

تشريح: ألا إن القوة الرمي: خبردار، واورئ: طاقت په غشو ويشتلو کې دی، علماء فرمايي: په حديث کې د قرآن کريم د آيت: "وأعدوا لهم ما استطعتم من قوة" تفسير دی، يعنې د قوت نه مراد غشي ويشتل او ددې چل زده کول دي، علامه بيضاوي ﷫ فرمايي: د قوت نه مراد هغه شيان دي چې انسان يې د دښمن په مقابل کې استعمالوي، هغه که هر څه وي، رسول الله ﷺ دا جمله درې ځله استعمال کړه، په دې کې اهميت ته اشاره ده، د رسول الله ﷺ عادت مبارک هم دغه وو چې د کوم شي اهميت به زيات وو، هغه به يې درې ځله بيان کړو.

د رسول الله ﷺ پيش ګويي

"وعنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ اللهِ ﷺ، يقول: سَتُفْتَحُ عَلَيْكُمْ أَرَضُونَ، وَيَكْفِيكُمُ اللهُ" د عقبة جهني ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: ډېر زر به تاسو ته ځمکې فتح کړی شي او الله ﷻ به ستاسو مرسته وکړي، "فَلاَ يَعْجِزُ أحَدُكُمْ أنْ يَلْهُوَ بِأَسْهُمِهِ" ليکن ګورئ تاسو کې دې څوک په غشي او تير اندازۍ کې سستي ونه کړي. رواه مسلم

تشريح: رسول الله ﷺ د فتحو زېرې خپلو صحابه وو ته ورکړی وو چې کټ مټ هر يو په خپل ځای صادق او رښتونی شو، د ملکونو د فتحې زېرې رسول الله ﷺ ورکړی وو چې د عمر ﷺ په دور

خلافت کې فارس او روم فتح شول، "فلا یعجز أحدکم أن یلهو بأسهمه" بس تاسو بیا عاجز مه پاتې کیږئ چې د غشو ویشتلو چل درنه هېر شي، مطلب دا دی چې که ملکونه او هیوادونه الله ﷻ درته فتح هم کړي، نو بیا داسې مه وایئ چې بس که خیر وي فتحې وشوې اوس به کېنو، نه! بیا هم د غشو چل زده کړئ، چل درنه هېر نشي، په دې حدیث کې د غشو ویشتلو ته (یلهو) لوبه وویل شو، دا ځکه چې د هر شي مشق او صورت د لوبې په شکل کې وي او بل دا چې دېته ځکه لوبه وویل شو چې کله یو شی د لوبې په شکل کې راشي، نو طبیعت ورته زیات میلان کوي، خلك یې په آسانه زده کوی شي، په دې حدیث کې د غشو ویشتلو او چل زده کولو ترغیب شوی دی، نن سبا د ډزو چل زده کول واجب دي

څوك چې د غشو (ډز) چل زده کړي بیا یې هېر کړي دا کار حرام دی

"وعنه: أنه قال: قال رسول الله ﷺ: مَنْ عَلِمَ الرَّمْيَ، ثُمَّ تَرَكَهُ، فَلَيْسَ مِنَّا" د عقبه جهني ﷺ نه روایت دی فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم کس چې په تاسو کې غشي ویشتل (ډز) زده کړي او بیا یې پرېږدي (ترې هېر شي) نو داسې کس زموږ څخه نه دی. "أَوْقَدْ عَصَى" او یا یې داسې وفرمایل: داسې کس ګناهکار شو. رواه مسلم

تشریح: ثم ترکه فلیس منا: کوم کس چې د (ډزو) غشو ویشتلو چل هېر کړي هغه زموږ څخه نه دی، ددې مطلب دا دی چې یا خو یې بالکل نه زده کوي، دا کار هم حرام دی، یا دا چې زده خو یې کړي، لیکن بیا یې هېر کړي، نو دا هم لویه ګناه ده، ځکه چې په دې هېرولو کې دا وهم پیدا کیږي چې یا خو یې په دې ډزو کې څه بدي لیدلې ده، یا یې کوم نقصان پکې لیدلی دی، یا د ډزو چل پورې استهزاء/ خندا کوي، نو دا ټول شیان بد دي، ځکه چې د ډزو چل زده کولو وروسته دوباره هېرول په شریعت کې حرام دي

د یو غشي په وجه درې کسان جنت ته ځي

"وعنه ﷺ، قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: إِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ بِالسَّهْمِ الْوَاحِدِ ثَلَاثَةَ نَفَرٍ الْجَنَّةَ" د عقبه جهني ﷺ نه روایت دی هغه فرمایي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمایل یې: الله ﷻ درې کسان د یو غشي په وجه جنت ته داخلوي، "صَانِعَهُ يَحْتَسِبُ فِي صَنْعَتِهِ الْخَيْرَ، وَالرَّامِيَ بِهِ، وَمُنْبِلَهُ" یو هغه کس چې غشی په دې نیت جوړوي چې په دې سره د هغه مقصد خیر وي بل هغه کس دی چې ددې غشي ویشتونکي وي او بل غشي ویشتونکي ته ورکونکی کس دی، "وَارْمُوا وَارْكَبُوا، وَأَنْ تَرْمُوا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ تَرْكَبُوا" او د ویشتلو چل هم زده کړئ او د سورلۍ چل هم زده کړئ، خو چې د ویشتلو چل زده کړئ دا ډېر خوښ دی ماته د سورلۍ چل زده کولو نه. "وَمَنْ تَرَكَ الرَّمْيَ بَعْدَ مَا عَلِمَهُ رَغْبَةً عَنْهُ فَإِنَّهَا نِعْمَةٌ تَرَكَهَا" او کوم کس چې د ویشتلو چل زده کړي بیا یې د بې رغبتۍ له امله هېر کړي، نو دغه کس یو نعمت پرېښودلو. "أَوْ قَالَ: كَفَرَهَا" یا یې داسې وفرمایل: ناشکري یې وکړه. رواه أبوداود

تشریح: په دې حدیث کې د غشي اهمیت بیانیږي، یو غشی دی، لیکن ددې په وجه درې

Maktaba Tul Ishaat. com

کسان جنت ته ځي: (۱) غشي جوړونکی چې غشي په روغ نيت جوړ کړي، (۲) دويم هغه کس چې په دښمن باندې غشي وولي، (۳) دريم هغه کس چې غشي ورته راوړي يا يې نيسي، "ومنبله" علماوو ددې جملې درې معناګانې بيان کړي دي: مثلاً هغه کس چې غشي واپس بيرته ورته راوړي، يا هغه کس چې غشي ويشتونکي ته غشي نيسي، يا هغه کس چې غشي تياروي، "رغبة عنه" د جهاد نه اعراض کونکی وي، دی دغه عمل وکړي او که چېرته د کوم عذر په بنياد يې داسې وکړل، نو بيا د معافي اميد شته

اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ هم غشي ويشتونکی وو

"وعن سَلَمَة بن الأكوع ﷺ، قَالَ: مَرَّ النَّبِيُّ ﷺ على نَفَرٍ يَنْتَضِلُونَ" د سلمه بن اکوع ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ په يو څو کسانو باندې تېرېدلو، هغوی د غشو ويشتلو چلونه زده کول، "فَقَالَ: ارْمُوا بَنِي إسْمعِيلَ فَإنَّ أبَاكُمْ كَانَ رَامِياً" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: اې د اسماعيل عليه السلام بچيانو! غشي ولئ؛ ځکه چې ستاسو پلار (اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ) به هم غشي ويشتل. رواه البخاري.

تشريح: ارموا بني إسماعيل: اې د اسماعيل عليه السلام بچيانو! غشي ولئ؛ عربو ته بنو اسماعيل هم ويل کيږي، ځکه چې عرب د ابراهيم عليه السلام د زوی اسماعيل عليه السلام په سلسله نسب کې دي، ځکه خو ابراهيم عليه السلام د نبي کريم ﷺ په نيکه ګانو کې شمارل کيږي. نبي کريم ﷺ د اسماعيل عليه السلام په نسب کې دی

د غشي ويشتلو ثواب

"وعن عمرو بن عبسة ﷺ، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ يقول: مَنْ رَمَى بِسَهمٍ في سَبيلِ الله فَهُوَ لَهُ عَدْلُ مُحَرَّرَةٍ" د عمرو بن عبسة ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: کوم کس چې د الله تعالی په لار کې غشي وولي، نو دا به ده ته د يو غلام ازادولو په مقابله کې وي رواه أبو داود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: په دې حديث کې په جهاد کې د غشي ويشتلو فضيلت بيان شوی دی، په يو غشي ويشتلو باندې انسان ته د يو ازاد شوي غلام ثواب ملاويږي، (او په نن سبا وخت کې په ډز کولو سره دغه ثواب ملاويږي) نو ځکه بايد انسان زيات کوشش وکړي چې په کثرت سره په جهاد کې شرکت وکړي او هلته به په شوق سره زياتي ډزې وکړي چې د زيات ثواب مستحق وګرځي، په يو بل روايت کې دي چې که يو کس د دښمن په خلاف غشي غورځوي، برابره خبره ده چې دښمن پرې ولګيږي يا نه، په هر صورت کې هغه ته د يو ازاد شوي غلام ثواب ملاويږي

د يو بدله په اووه سوه / ۷۰۰ باندې ده

"وعن أبي يحيى خُرَيْم بن فاتِك ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ أنْفَقَ نَفَقَةً في سَبيلِ الله كُتِبَ لَهُ سَبْعُمِئَةِ ضِعْفٍ" د

أبو يحيى خريم بن فاتك ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د الله ﷻ په لار کې څه هم خرچ کړي، د هغه لپاره به اوه سوه برابره نيکي ليکلی شي. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: د الله ﷻ په لار کې د مال خرچ کولو فضيلت بيانيږي، کوم کس چې د الله ﷻ په لار کې يوه روپۍ خرچ کړي، داسې ته به کم نه کم اوه سوه / ۷۰۰ اجرونه ملاويږي او په قرآن کريم کې ارشاد مبارک دی "والله يضاعف لمن يشاء" او الله ﷻ اجر زياتوي چاته چې وغواړي.

د راوي ابويحيى خريم بن فاتك ﷺ حالات:

اصل نوم يې خريم ﷺ دی، د پلار نوم يې فاتك اسدي دی، کنيت يې ابويحيى دی، په صلح حديبيه کې يې شرکت کړی دی، د شام هيواد سره تعلق لري او ځينو ويلي دي چې د کوفې سره يې تعلق درلود. د دوی نه لس احاديث روايت شوي دي کوم چې په سنن کې شته، په مسلم او بخاري کې ترې يو روايت هم نقل نه دی.

د الله ﷻ په لاره کې روژه نيول

"وعن أبي سعيد ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَا مِنْ عَبْدٍ يَصُومُ يَوْماً فِي سَبِيلِ اللهِ إلاَّ" د أبو سعيد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د الله په لاره کې روژه ونيسي، "بَاعَدَ اللهُ بِذلِكَ اليَوْمِ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ سَبْعِينَ خَرِيفاً" الله ﷻ به يې ددې روژې په برکت سره د جهنم د اور نه د اويا کالو په اندازه لرې کړي. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: دا روايت وړاندې په (باب الصوم) کې ذکر شوی دی، علامه نووي رحمه الله دلته يو ځل بيا راوړو چې په دې کې د روژې ذکر دی، صاحب نزهة المتقين رحمه الله فرمايي: د (في سبيل الله) اطلاق په ټولو طاعاتو باندې کيږي، د جهاد سره يې تخصيص صحيح نه دی.

د اسمان او ځمکې تر منځ د جهنم نه لرې والی

"وعن أبي أُمَامَة ﷺ، عن النَّبيّ ﷺ، قَالَ: مَنْ صَامَ يَوْماً فِي سَبِيلِ اللهِ جَعَلَ اللهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّارِ خَنْدَقاً كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ" د أبو امامة ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د الله ﷻ په لار کې روژه ونيسي، دده او د جهنم د اور په مينځ کې يو خندق فاصله راولي او دا خندق به دومره وي لکه د ځمکې نه تر آسمان پورې چې څومره فاصله ده. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: په دې حديث کې د الله ﷻ په لار کې د روژې نيولو فضيلت بيانيږي که يو کس د الله ﷻ په لار کې روژه ونيسي، نو د جهنم نه به دومره لرې شي لکه څومره چې آسمان د ځمکې څخه لرې دی. په دې حديث کې لفظ د خندق راغلی دی، خندق عمومي طور د لرې والي څخه کنايه وي، مطلب دا چې د روژې په برکت سره به د جهنم نه ډېر زيات لرې شي، د انسان د يوې لپاره يې د لرې والي

Maktaba Tul Ishaat. com

مثال په آسمان او ځمکې سره ورکړو، ځينې محدثين دلته د (صوم) نه مراد روژه نه اخلي، بلکې ددې لغوي معنی مراد اخلي چې هغه بندېدل دي، مطلب دا چې کوم کس د الله ﷻ په لار (جهاد) کې يوه ورځ هم بند شو، نو د جهنم نه به لرې کړی شي.

جهاد نه کول د منافقت علامه ده

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ، وَلَمْ يُحَدِّثْ نَفْسَهُ بِالغَزْوِ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې په داسې حال کې مړ شو چې نه يې جهاد کړی وي او نه يې چېرته په زړه کې د جهاد لپاره شوق او رغبت پيدا شوی وي، "مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنَ النِّفَاقِ" نو داسې کس د منافقت په يو خصلت باندې مړ شو. رواه مسلم

تشريح: من مات ولم يغز ولم يحدث به نفسه الخ: کوم کس چې په داسې حال کې مړ شي چې نه يې جهاد وکړو او نه يې د جهاد کولو فکر وکړو او نه يې په زړه کې کومه وسوسه تېره شوه، نو داسې کس د منافقت په مرګ مړ شو، علامه قرطبي ﷫ فرمايي: ددې حديث نه معلومه شوه چې کوم کس د يو نېك عمل وس نه لري، نو کم نه کم د هغې اراده خو دې وکړي، که دغه عمل يې نه ظاهرا وکړو او نه يې چېرته په زړه کې ارمان وکړو، نو دا د منافقت علامه ده، د کوم قوم سره چې څوك څنګه مشابهت اختياروي هغه د هغوی سره د قيامت په ورځ په ډله کې ولاړ وي، علامه نووي ﷫ فرمايي: که يو کس د يو نېك عمل اراده وکړي، ليکن وخت ملاو نشي چې عمل پکې وکړي او دی په دې حال کې مړ شي، نو په داسې کس باندې د هغه کس په نسبت وبال کم وي کوم چې بغير د نيت مړ شي

د نيت مطابق به اجر ملاوېږي

"وعن جابر ﷺ، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِي غَزَاةٍ فَقَالَ: إِنَّ بِالمَدِينَةِ لَرِجَالاً مَا سِرْتُمْ مَسِيراً، وَلاَ قَطَعْتُمْ وَادِياً إِلاَّ كَانُوا مَعَكُمْ، حَبَسَهُمُ المَرَضُ" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې موږ د رسول الله ﷺ سره په يو جهاد کې وو چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: په مدينه منوره کې چې څه کسان دي باوجود ددې چې هغوی ستاسو سره نه سفر کړی دی او نه يې مسافت قطع کړی دی، ليکن بيا هم هغوی ستاسو سره په اجر کې شريکان دي، دا هغه خلك دي چې بيمارۍ منع کړي دي، که هغوی معذور نه وای، نو ستاسو سره به اوږه په اوږه موجود وای

وفي رواية: حَبَسَهُمُ العُذْرُ. او په يو بل روايت کې دي چې دوی د عذرونو په وجه بند دي

وفي رواية: إِلاَّ شَرَكُوكُمْ فِي الأَجْرِ: او په يو بل روايت کې دي چې دوی ستاسو سره په اجرونو کې شريك دي

رواه البخاري من رواية أنس، ورواه مسلم من رواية جابر واللفظ له.

تشريح: دا روايت وړاندې په (باب الاخلاص) کې ذکر شوی دی، دلته يې بو ځل بيا ذکر کړو، مطلب يې دا دی چې کوم کس جهاد ته د يو عذر په وجه نه شي تللی، هغه ته پکار دي چې کم نه کم نيت خو يې وکړي، د رښتوني نيت په برکت سره به دې ته الله ﷻ د يو مجاهد برابر ثواب ورکوي

اصل جهاد د اعلاء كلمة الله لپاره دى

"وعن أبي موسى الاشعري ﷺ: أَنَّ أَعرابياً أتى النبيَّ ﷺ فَقَالَ: يَارسولَ اللهِ، الرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلمَغنَمِ، وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُذكَرَ، وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُرَى مَكَانُهُ؟" د أبو موسى اشعري ﷺ روايت دى، فرمايي چې يو كوچى كس راغلو او د رسول الله ﷺ نه يې پوښتنه وكړه چې يارسول الله ﷺ كه يو كس ددې لپاره جهاد كوي چې غنيمت ورته حاصل شي او بل ددې لپاره جهاد كوي چې خلك مي وپيژني (يعنې خلكو ته ځان ښيي) او بل ددې لپاره جهاد كوي چې په خلكو كې عزت او مقام جوړ كړي، په دوى كې كوم يو صحيح مجاهد دى؟ "وفي رواية: يُقَاتِلُ شَجَاعَةً، وَيُقَاتِلُ حَمِيَّةً" په يو بل روايت كې دي چې خلكو ته ځان ښيي چې زه دومره تكړه سړى يم او بل كس د حميت (يعنې د خپل قوم غم وكړي) لپاره جهاد كوي، په دوى كې كوم يو صحيح دى؟ "وفي رواية: يُقَاتِلُ غَضَباً، فَمَنْ فِي سبيلِ اللهِ؟" او په يو بل روايت كې دي چې د غوسې لپاره جهاد كوي (يعنې د الله ﷻ رضا نه وي، بلكې په غصه شوى وي) نو په دې ټولو كې كوم كس مجاهد في سبيل الله دى؟ "فقالَ رسولُ اللهِ: مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ العُلْيَا، فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللهِ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: كوم كس چې په دې نيت جهاد وكړي چې د الله تعالى كلمه (دين اسلام) سر لوړى شي، بس دغه كس مجاهد في سبيل الله دى. متفقٌ عَلَيهِ

تشريح: په دې حديث كې اصلاً ددې خبرې ذكر دى چې جهاد د څه لپاره كيږي؟ ځيني خلك ددې لپاره جهاد كوي چې هغوى ته مال غنيمت حاصل شي، ځيني يې ددې لپاره كوي چې شهرت ورته حاصل شي يا يې د خپلې بهادرى او شجاعت لپاره كوي، يا يې د كومې ذاتي غوسې له وجې چې په زړه كې يې وي جهاد كوي، نو داسې كسانو ته هيڅ ثواب په لاس نه ورځي، ثواب صرف هغو كسانو ته ملاويږي چې خالص د ديني جذبې له وجې د الله ﷻ راضي كولو په خاطر او په دنيا كې چې كوم خلك د اسلام په وړاندې خنډ جوړ شوي دي، هغوى ختم شي او دين اسلام غالب شي په دې نيت جهاد كوي، نو د داسې كسانو سره الله ﷻ د اجر او ثواب وعدې كړې دي.

د شهادت اجر

"وعن عبدِاللهِ بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رسولُ اللهِ ﷺ: مَا مِنْ غَازِيَةٍ، أَوْ سَرِيَّةٍ تَغْزُو، فَتَغْنَمُ وَتَسْلَمُ، إِلاَّ كَانُوا قَدْ تَعَجَّلُوا ثُلُثَيْ أُجُورِهِمْ" د عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: داسې غټ لښكر يا وړوكى لښكر چې د جهاد لپاره لاړ شي، بيا بېرته واپس د جنګ نه بغير د غنيمت سره راشي، نو داسې لښكر ته دوه ثلثه اجر وركولى شي، "وَمَا مِنْ غَازِيَةٍ أَوْ سَرِيَّةٍ تُخْفِقُ وَتُصَابُ إِلاَّ تَمَّ لَهُمْ أُجُورُهُمْ" او داسې كوم غټ لښكر يا وړوكى لښكر چې جنګ پكې وشي او دوى زخميان شي او مغلوب هم شي، د هغوى اجر محفوظ دى. هغوى ته به د قيامت په ورځ پوره پوره اجر ملاويږي. رواه مسلم

تشريح: په دې حديث كې ذكر دي چې كوم مجاهدين د كفارو سره جنګيږي، د هغوى درې

Maktaba Tul Ishaat. com

صورتونه دي: (۱) په ټولو کې زيات اجر هغو مجاهدينو ته دی چې شهيدان شي. (۲) دويم هغه مجاهدين چې زخميان شي، ليکن مال غنيمت وغيره څه ورته په لاس ورنشي، (۳) او څينې بې هغه دي چې د جنګ له ميدانه صحيح سلامت د مال غنيمت سره واپس راشي، د داسې مجاهد اجر به د هغو کسانو نه چې شهيدان شو يا زخميان شوي کم به وي. ددې حديث په مفهوم کې يو بل حديث هم شته په هغې کې دي چې د ځينو صحابه کرامو نه دا خبره منقول ده چې فرمايل بې: په مونږ کې ډېرو داسې خلکو په داسې حال کې ددې فاني نړۍ څخه کوچ وکړو چې هغوی د خپلو اجرونو حصه په دنيا کې هيڅ شی وانخيسته، (يعنې د مال غنيمت څخه بغير لاړل او شهيدان شول) ډېر داسې هم وو چې د هغوی ميوې پخې شوې چې هغوی بې اوس خوري

د رسول الله ﷺ د امت تفريح جهاد ده

"وعن أبي أُمَامَةَ ﷺ: أَنَّ رجلاً، قَالَ: يَارسولَ اللهِ، ائْذَنْ لي في السِّيَاحَةِ فقَالَ النبيُّ ﷺ" د أبو امامة ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې يو کس د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، وي ويل: يارسول الله ﷺ ماته اجازت راکړئ چې زه چکرې ووهم، "إِنَّ سِيَاحَةَ أُمَّتِي الجِهَادُ في سَبِيلِ اللهِ ﷺ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: زما د امت چکرې جهاد في سبيل الله دی. (سياحة په عربی ژبه کې سفر يا چکر ته ويل کيږي، په انګليسي ژبه کې ورته (ټوور) ويل کيږي. رواه أبوداود بإسناد جيد.

تشريح: ائذن لي في السياحة: ماته د تفريح اجازت راکړئ، د سياحت او تفريح عمومي معنی په ګرځېدو راګرځېدو سره کيږي، ليکن د سائل مطلب دا وو چې دنيا پرېږدم او چېرته لرې خپل ځان ته يوازې وخت تېر کړم، ښکه ارشاد وشو چې که خوندونه ختمول غواړې، نو ددې لپاره غوره عمل جهاد دی چې په دې کې د انسان خوندونه ختميږي

خلاصه دا چې دلته بې د سياحت نه مراد جهاد اخيستی دی، مطلب دا چې تر ټولو غوره ګرځېدل راګرځېدل د جهاد لپاره دي چې په دې کې په کفارو باندې رعب هم راځي او ذليله کيږي هم او د دين اسلام شان او شوکت هم پکې وي، دا مطلب بې هم دی چې که د يو انسان سياحت او تفريح ته زړه کيږي، نو جهاد ته دې لاړ شي چې په دې کې انسان ته ښکلي ښکلي منظرې، چينې، غرونه، دښتې او ځنګلې، کورونه او کلي په نظر ورځي او بل د دښمن سره جنګ وي

د جهاد نه واپس راتلل هم جهاد دی

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، عن النبيّ ﷺ قَالَ: قَفْلَةٌ كَغَزْوَةٍ" د عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: د جهاد نه واپسي کول هم په جهاد کې شمار دي. رواه أبوداود بإسناد جيد.

القَفْلَةُ: الرُّجُوعُ، وَالمرادُ: الرُّجُوعُ مِنَ الغَزْوِ بَعدَ فَرَاغِهِ، ومعناه: أنه يُثَابُ في رُجُوعِهِ بعد فَرَاغِهِ مِنَ الغَزْوِ. د (القفلة) معنی ده: واپس کېدل، ددې نه مراد دا دی چې سړی د جهاد نه واپس شي او د حديث مطلب دا دی چې ده ته

به بيا هم پوره اجر ورکولی شي. لکه څنګه چې په جهاد کولو سره ورته اجر حاصلیږي.

تشريح: مطلب دا چې کوم مجاهد د جهاد نه فارغ شي او کور ته واپس راروان وي، هغه ته دومره اجر ملاويږي څومره اجر چې جهاد ته په تلو کې ملاويدو. وجه يې دا ده چې دغه مجاهد اګرچې اوس کور ته روان دی، ليکن نيت يې هم دغه دی چې يو ځل بيا ورته موقع په لاس ورغله، نو بيا به هم په جهاد کې شرکت کوم، په دې نيت دغه کس ته ثواب ملاويږي، ځينې محدثين فرمايي: دا حديث رسول الله ﷺ هغه وخت وفرمايلو کله چې د مجاهدينو يوه ډله د دښمن نه په دې وجه واپس شوه چې د دښمن شمار ډېر زيات وو او مجاهدين کم وو، مجاهدينو د خپلو ځانونو سره د کمک لپاره کسان بوتلل، نو ځکه رسول الله ﷺ دغه ارشاد وفرمايلو

د تبوک له غزا څخه په واپسی کې د ماشومانو هرکلی

"وعن السائب بن يزيد رضي الله عنه، قَالَ: لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ ﷺ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ تَلَقَّاهُ النَّاسُ" د سائب بن يزيد رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې کله نبي کريم ﷺ د غزوه تبوک نه واپس کور ته روان شو، نو په لاره کې يې د خلکو سره ملاقات وشو، "فَتَلَقَّيْتُهُ مَعَ الصِّبْيَانِ عَلَى ثَنِيَّةِ الْوَدَاعِ" نو زما هم د رسول الله ﷺ سره په ثنية الوداع کې د يو څو ماشومانو په معيت کې د نبي کريم ﷺ سره ملاقات وشو. رواه أبوداود بإسناد صحيح بهذا اللفظ.

ورواه البخاري قَالَ: ذَهَبْنَا نَتَلَقَّى رَسُولَ اللهِ ﷺ مَعَ الصِّبْيَانِ إِلَى ثَنِيَّةِ الْوَدَاعِ: امام بخاري رحمه الله روايت کړی دی چې په دې کې سائب بن يزيد رضي الله عنه وفرمايل: زه هم د يو څو ماشومانو سره د رسول الله ﷺ سره د ملاقات لپاره ثنية الوداع ته روان شوم

تشريح: ثنية الوداع: د مدينې منورې سره نږدې د يوې غونډۍ نوم دی، تردې ځای به رسول الله ﷺ د مسافرو سره په مخه ښه لپاره تشريف وړلو، د حديث مطلب دا دی چې کله رسول الله ﷺ د تبوک له غزا څخه واپس تشريف راوړو، نو په مدينه منوره کې چې کوم خلک پاتې وو، هغوی د رسول الله ﷺ د هرکلي لپاره د مدينې منورې نه راووتل او ثنية الوداع ځای ته راغلل، علماء ددې نه استدلال کوي چې څوک د سفر نه راشي، نو د هغه هرکلی يکار دی

څوک چې جهاد نه کوي نو د مرګ نه وړاندې به په کوم مصيبت اخته شي

"وعن أبي أُمَامَةَ رضي الله عنه، عن النبيِّ ﷺ، قَالَ: مَنْ لَمْ يَغْزُ، أَوْ يُجَهِّزْ غَازِياً، أَوْ يَخْلُفْ غَازِياً فِي أَهْلِهِ بِخَيْرٍ" د ابو امامة رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې جهاد ونه کړي، کوم مجاهد ته د جهاد لپاره اسباب تيار نه کړي او نه هم د کوم مجاهد د کور والا د خير خير واخلي، "أَصَابَهُ اللهُ بِقَارِعَةٍ قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ" الله جل جلاله به داسې سړی د قيامت نه وړاندې په عذاب کې مبتلا کړي. رواه أبوداود بإسناد صحيح.

تشريح: ددې حديث مطلب محدثين کرام رحمهم الله داسې بيانوي چې څوک نه په خپله په جهاد کې ځي او نه کوم مجاهد ته د جهاد سامان تياروي او کوم مجاهد چې لاړ شي د هغه د کورو الاؤ خبر ګيري

Maktaba Tul Ishaat. com

کوي نو داسې کس ته الله ﷻ په دې دنیا عذاب ورکوي، او د آخرت عذاب ددې نه ور هم زیات دی، معلومه شوه چې که یو طرف انسان د اعلاء کلمة الله لپاره په خپله چمتو او مستعدوي نو د تا پکار دي چې بل هم ځان سره مستعد او تیار کړي، که چېرته له کومې مجبورۍ له امله جهاد کې په خپله لاړ نه شي نو باید چې د کوم مجاهد د کورو الاؤ خبر ګیري خوو کړي

د مشرکانو سره جهاد کول

"وعن أنس ﷺ: أنّ النّبيّ ﷺ، قال: جاهدوا المشركين بأموالكم وأنفسكم وألسنتكم" د انس ﷺ نه روایت دی فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمایل: د مشرکانو سره په مالونو، په خپلو نفسونو او په خپلو ژبو سره جهاد وکړئ! رواه أبوداود بإسناد صحيح.

تشریح: په حدیث کې د جهاد درې قسمونه بیان شوي دي: (۱) جهاد بالمال، (۲) جهاد بالنفس (۳) او جهاد باللسان. مطلب دا چې هر وخت د جهاد لپاره تیار اوسېدل پکار دي. صرف دا نه چې جهاد بالنفس یا بالمال دی، جهاد باللسان هم شته. که چېرته ضرورت پیدا شي نو جهاد بالنفس به کوي او که جهاد بالمال ته ضرورت پیدا شي، نو جهاد بالمال به کوي او که باللسان ته ضرورت پیدا شي، نو په ژبې سره به جهاد کوي، خلاصه دا چې هر څه د الله ﷻ لپاره قربانول پکار دي

جنګ یا سهار وي یا ماښام وي

"وعن أبي عمرو-ويقال: أبو حكيم-النّعمان بن مقرّن ﷺ قال: شهدت رسول الله ﷺ، إذا لم يقاتل من أوّل النّهار أخّر القتال حتّى تزول الشّمس" د ابو عمرو نعمان بن مقرن ﷺ نه روایت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ عادت مبارکه په جهاد کې لیدلی دی چې کله به یې د ورځې په اول وخت کې جهاد کولو، نو بیا به یې لږ وروسته کړو تر دې چې لمر زوال وکړي، "وتهبّ الرّياح، وينزل النّصر" هوا ګانې وچلیږي او د الله ﷻ له طرفه کومک را نازل شي. رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشریح: د حدیث نه معلومه شوه چې په دغه وختونو کې جنګ کول ډېر زیات مناسب دي، په دې دوه وختونو کې د الله ﷻ له لورې مرسته نازلیږي: (۱) سهار وخت کې، (۲) او د لمر د زوال نه وروسته

سهار وختې خو ځکه ښه دی چې په دې وخت کې مجاهد تازه وي، یخه هوا وي او د رسول الله ﷺ د امت لپاره په سهار وختي کې د الله ﷻ برکت اېښی دی

دويم د زوال نه وروسته: په دې وخت کې ځکه جنګ ښه دی چې په دې وخت کې د لمر رڼا تېزه وي، د دښمن هر قسم نقل او حرکت مجاهد لیدلی شي، بل دا چې دا يو جنګي سیاست دی کوم چې رسول الله ﷺ پرې پوهېدو او بس

د راوي ابو عمرو يا ابو الحكيم نعمان بن مقرن رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې نعمان رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې عمرو بن مقرن بن عائد مزني دی، کنيت يې ابو عمرو دی، ځينې وايي: کنيت يې ابو الحکيم دی، مشهور صحابي دی، د څلور سوه کسانو سره يو ځای د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو او مسلمان شو، په بصره کې اوسېدلو، بيا کوفې ته منتقل شو، عمر رضي الله عنه دوی د نهاوند حاکم جوړ کړی وو، په ۲۰ هجري کې د شهادت لوړ مقام ته ورسېدو، د دوی نه شپږ احاديث نقل دي

د دښمن سره د جنګ ارمان مه کوئ!

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسول الله صلی الله علیه وسلم: لَا تَتَمَنَّوا لِقَاءَ العَدُوِّ، وَاسْأَلُوا اللهَ العَافِيَةَ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: اې خلکو! د دښمن سره د جګړې په اړه د ملاقات ارمان مه کوئ او د الله تعالی څخه د عافيت سوال کوئ: "فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا" او کله چې جنګ شروع شي، نو بيا صبر کوئ: متفقٌ عَلَيهِ

تشريح: دا حديث هم په دې باب کې وړاندې ذکر شوی دی، د جنګ ارمان کول پکار نه دي، کله چې جنګ شروع نه وي او نه دا ارمان کوې چې اې الله! جنګ شروع کړې، که چېرته جنګ شروع وي، نو بيا به تېښته نه کوې، ځکه چې د الله جل جلاله مرسته د ټينګېدونکو خلکو سره نه وي.

جنګ د چل نوم دی

"وعنه وعن جابر رضي الله عنهما: أنَّ النبيَّ صلی الله علیه وسلم، قَالَ: الحَرْبُ خَدْعَةٌ" د أبو هريره رضي الله عنه او جابر رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم وفرمايل: جنګ ټول چل او دوکه ده. متفقٌ عَلَيهِ

تشريح: په جنګ کې د حکمت نه کار اخيستل ضروري دي، ځکه چې جنګ د دوکې نوم دی، نن سبا ورته حکمت عملي هم وايي، تر ټولو غوره کمانډر/ قومندان هغه وي چې په جنګ کې داسې حکمت او چالاکي اختيار کړي چې ددې په مټ دښمن ته شکست ورکړي، د جمهورعو لماوو په نزد د کفارو سره په جنګ کې چل او دوکه جائز ده، ليکن په دې کې به هم د دوه خبرو خيال ساتلی شي: (۱) صفا دروغ به نه وايي، (۲) داسې کوم صورت به نه اختياروي چې که مسلمانانو کومه وعده د چا سره کړې وي هغه پکې ماته شي

د حکمت عملي يو څو صورتونه

(۱) اسلامي لښکر د جنګ له ميدان څخه لږ وروسته شي، (۲) جنګ بند کړي چې دښمن دا فکر وکړي چې مسلمانانوتښتېدل بيا ناڅاپي حمله وکړي، ددې لپاره چې په کفارو باندې رعب راشي او شکست وخوري

Maktaba Tul Ishaat. com

باب بيان جماعة من الشهداء في ثواب الآخرة يغسلون ويصلى عليهم بخلاف القتيل في حرب الكفار

د هغه جماعت بيان چې د شهيد مقام ته رسيږي، ليکن غسل به ورکول کيږي او جنازه به هم پرې کيږي په خلاف د جنګي شهيد

د شهيدانو قسمونه

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: الشُّهَدَاءُ خَمْسَةٌ: الْمَطْعُونُ وَالْمَبْطُونُ" د أبو هريره ﷺ روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: شهيدان په پنځه قسمه دي: يو هغه شهيد دی چې په طاعون مرض شهيد شي، بل هغه شهيد دی چې د خيټې د مرض او درد له امله شهيد شي، "وَالْغَرِيقُ وَصَاحِبُ الْهَدْمِ، وَالشَّهِيدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ" بل هغه شهيد دی چې په اوبو کې ډوب شي او بل هغه دی چې د ديوال ورباندې پرېوځي او بل هغه دی چې د الله ﷻ په لار کې شهيد شي. متفقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

المبطون: د خيټې بيمار وي.

تشريح شهيد په دوه قسمه دی: (۱) کامل شهيد، (۲) ناقص يا حکمي شهيد، کامل شهيد هغه دی چې د جنګ په ميدان کې په داسې حالت کې مړ وليدل شي چې د هغه په بدن زخم وي او دی دې زخم نه وروسته کوم داسې دنيوي عمل نه وي کړی چې د هغې نه يې فايده حاصله کړې وي، ده ته به غسل نه شي ورکولی، ليکن د جنازې لمونځ به پرې کولی شي. دا د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله مسلک دی، د امام شافعي رحمه الله په نزد داسې کامل شهيد ته به نه غسل ورکولی شي او نه به پرې جنازه کولی شي

ناقص يا حکمي شهيد: داسې شهيد ته د کامل شهيد درجه او ثواب ملاويږي، ليکن ده ته به د عامو مړو په شان غسل هم ورکولی شي او جنازه به هم پرې کولی شي، په دې حديث کې ناقص يا حکمي شهيد بيان شوی دی، "المطعون" د طاعون په مرض چې وفات شي، "المبطون" د خيټې په بيمارۍ چې وفات شي؛ "صاحب الهدم" په چا چې ديوال راوغورځيږي او لاندې ترې مړ شي، علامه سيوطي رحمه الله تقريباً / ۳۸ حکمي شهيدان شمار کړي دي

د شهيد نور قسمونه

"وعنه قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَا تَعُدُّونَ الشُّهَدَاءَ فِيكُمْ؟ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَنْ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَهُوَ شَهِيدٌ" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ يو ځل د خپلو صحابه وو نه پوښتنه وکړه چې ستاسو په نزد به د شهيدانو شمار څومره وي؟ (يعنې کوم کوم ته شهيد ويل کيږي) صحابه کرامو ورته

وفرمايل: يا رسول اللهﷺ! مونږ خو شهيد هغه ګڼو چې د الله ﷻ په لاره کې شهيد شي او بس "قَالَ: إِنَّ شُهَدَاءَ أُمَّتِي إِذًا لَقَلِيلٌ! قَالُوا: فَمَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ؟" نبي کريم ﷺ وفرمايل: په داسې حالت کې خو به زما د امت شهيدان ډېر کم وي، صحابه کرامو پوښتنه وکړه: يا رسول اللهﷺ! نو بيا شهيدان کوم کوم دي؟ "قَالَ: مَنْ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ مَاتَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَهُوَ شَهِيدٌ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د الله په لاره کې قتل کړی شي هغه شهيد دی او کوم کس چې د الله په لاره کې راوتلی وي او په خپل مرګ مړ شي، هغه هم شهيد دی، "وَمَنْ مَاتَ فِي الطَّاعُونِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ مَاتَ فِي الْبَطْنِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَالْغَرِيقُ شَهِيدٌ" کوم کس چې د طاعون له امله مړ شي هغه هم شهيد دی او کوم کس چې د خېټې د مرض له امله مړ شي هغه هم شهيد دی او کوم کس چې په اوبو کې ډوب شي هغه هم شهيد دی. رواه مسلم

تشريح: إِنَّ شُهَدَاءَ أُمَّتِي إِذًا لَقَلِيلٌ: زما د امت شهيدان خو به بيا کم شي، د حقيقي شهيد نه علاوه نور حکمي شهيدان هم رسول الله ﷺ بيان کړل، د هغوی ذکر څه وړاندې وشو او څه ذکر يې دلته بيانيږي:

د حکمي شهيدانو فهرست:

(۱) د خېټې د بيمارۍ په وجه مړ شي، (۲) په اوبو کې ډوب شي او مړ شي، (۳) په سړي باندې دېوال راپرېوځي، (۴) ذات الجنب يعني په سينه کې دننه پښتو سره نږدې يو زخم پيدا شي او ددې زخم نه مړ شي، (۵) د سل بيماري، دا هغه بيماري ده چې د انسان د پيپړو نه وينه راځي او په خوله ترې ووځي، (۶) په سفر کې چې مړ شي، (۷) د مېرګي په مرض چې مړ شي، (۸) په تبه کې چې مړ شي، (۹) د مال او ځان حفاظت کولو سره چې مړ شي، (۱۰) په ظلم او ناحقه چې مړ شي، (۱۱) د جذام په مرض چې مړ شي، (۱۲) چې شرمخ وغيره ځناور يې وخوري، (۱۳) بادشاه يې په ظلم مړ کړي، (۱۴) مار لړم وغيره چيچلو سره مړ شي، (۱۵) د ديني علم په طلب کې چې مړ شي، برابره خبره ده چې تدريس کوي يا تصنيف کوي، (۱۶) مؤذن چې د الله ﷻ د رضا په خاطر اذان کوي، (۱۷) رښتوني تاجر، (۱۸) څوک چې د خپلو بچيانو لپاره د حلال رزق په طلب کې مړ شي، (۱۹) په سمندر کې د سفر په دوران کې ورته قي راشي، (۲۰) څوک چې هره ورځ (اللهم بارك لي في الموت وفيما بعد الموت) ۲۵ ځله ووايي، (۲۱) څوک چې د څاښت لمانځه اهتمام کوي او په هره مياشت کې درې ورځې روژې نيسي، په سفر کې وي او که په حضر کې وي، په داسې حال کې مړ شي، (۲۲) څوک چې هره شپه سورت يس وايي، (۲۳) څوک چې د سهار په وخت: (أعوذ بالله السميع العليم من الشيطان الرجيم) درې ځله وايي، د سورت حشر اخري درې آيتونه ويونکی چې مړ شي، (۲۴) څوک چې هره ورځ په نبي کريم ﷺ باندې سل ځله درود شريف وايي، (۲۵) په رښتوني زړه د شهادت مرګ غواړي، (۲۶) څوک چې د جمعې په ورځ مړ شي، (۲۸) د سورلۍ نه چې پرېوځي او مړ شي، (۲۹) د کفارو سره د جنګ لپاره په اسلامي سرحداتو اس وتړي، (۳۰) د طاعون په مرض چې مړ شي، (۳۱) په اور وسوځي، (۳۲) کومه ښځه چې د بچو زېږېدو له

Maktaba Tul Ishaat. com

امله مړه شي، يا د نفاس بيمارۍ مودې پوره كېدو نه وړاندې مړه شي، (۳۳) كومه ښځه چې په پيغلتوب كې مړه شي، (۳۴) په طهارت يا پاكيزګۍ كې شپه تېره كړي او مړ شي، (۳۵) د چا ژوند د تشدد نه خالي وي او په نرم مزاجۍ كې ژوند تېر كړي

څوك چې د مال په حفاظت كې مړ شي، شهيد دى

"وعن عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، قال: قال رسول الله ﷺ: مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم كس چې د خپل مال په دفاع كې مړ شي هغه هم شهيد دى. متفقٌ عَلَيهِ

تشريح: ددې حديث مطلب دا دى: څوك چې د خپل مال او اسباب په حفاظت كې مړ شي نو داسې كس د اسلام په رڼا كې شهيد ګڼل كيږي، په دې حديث كې علماوو هغه كس هم شمار كړى دى چې د خپلو بچيانو په حفاظت كې مړ شي، لفظ د (دون ماله) كې علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: په حديث كې لفظ د (دون) استعمال شوى دى، د (دون) اصل معنى ده: (تحت / لاندې) مطلب دا چې د كوم كس نه په زوره مال واخيستل شي، نو اول هغه خپل مال لاندې يا وروسته كړدې بيا جنګ شروع كړي

څوك چې د خپل ځان په حفاظت كې مړ شي شهيد دى

"وعن أبي الأعور سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل، أحد العشرة المشهود لهم بالجنة رضي الله عنه، قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ" د أبو الاعور سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل رضي الله عنه نه روايت دى (دا هغه صحابي دى چې د جنت زيرى وركړى شوى دى) فرمايي چې ما د نبي كريم ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: كوم كس چې د خپل مال په دفاع كې مړ شي هغه هم شهيد دى، "وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دَمِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ" او كوم كس چې د خپلې وينې په دفاع كې مړ شي هغه هم شهيد دى، "وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دِينِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ" او كوم كس چې د خپل دين له خاطره مړ شي، هغه هم شهيد دى، "وَمَنْ قُتِلَ دُونَ أَهْلِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ" او كوم كس چې د خپل خاندان د عزت بچ كولو په مقابله كې مړ شي هغه هم شهيد دى رواه أبوداود والترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل رضي الله عنه هغه صحابي دى چې په عشره مبشره كې شمار دى، عشره مبشره هغه صحابه دي چې په ژوند كې ورته د جنت زيرى اورول شوى وو

عشره مبشره:

(۱) ابوبكر صديق رضي الله عنه، (۲) عمر بن خطاب رضي الله عنه، (۳) عثمان غني رضي الله عنه، (۴) علي رضي الله عنه بن أبي طالب، (۵) طلحه بن عبيد الله رضي الله عنه، (۶) زبير بن عوام رضي الله عنه، (۷) عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه، (۸) سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه، (۹) ابو عبيده بن جراح رضي الله عنه، (۱۰) سعيد بن زيد رضي الله عنه، دوى ته عشره مبشره ځكه ويل كيږي چې دوى ته په يو مجلس كې رسول الله ﷺ د جنت زيرى اورولى وو، كنه نو د دوى نه نور زيات داسې صحابه شته چې رسول الله ﷺ د جنت زيرې اورولى وو

من قتل دون ماله فهو شهيد: د حديث مطلب دا دی چې که يو کس د بل کس په مال يا ځان يا د هغه خاندان باندې لاس واچوي، په زوره يې ترې اخلي، که چېرته د مال ښښتن د ځان دفاع شروع کړي او په مينځ کې هغه کس کوم چې ترې مال يا ځان اخلي مړ شي، نو د حق په ښښتن باندې هيڅ تاوان نشته او که چېرته يې دی مړ کړو، نو دی به شهيد بلل کېږي

د راوي ابوالاعور سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې سعيد رضي الله عنه دی، کنيت يې ابوالاعور دی، د پلار نوم يې زيد دی، د مور نوم يې فاطمه بنت لعجه ده، د حق په لټون کې يې د يو يهودي عالم سره ملاقات وشو، هغه ورته وويل: که ته غواړې چې د خدای په قهر او غضب کې راګېر شې نو زمونږ مذهب حاضر دی، اوس يهودي شه! يهودي بيا ورته وويل: تاسو د دين حنيف اتباع وکړئ! دغه شان يو بل يهودي هم ورته وويل. اخر د خپلې مېرمنې سره يو ځای په اسلام کې داخل شو، د دوی مېرمنه د عمر رضي الله عنه حقيقي خور وه، نوم يې فاطمه رضي الله عنها ده

د بدر غزا نه علاوه يې په ټولو جهادونو کې شرکت کړی دی، سعيد رضي الله عنه د دنيوي رنګ او روغن ډول سنګار نه بې پروا وو، تر ډېره وخته پورې په عقيق ځای (د مدينې منورې اطراف) کې اوسېدو، په اخر وخت کې عثمان رضي الله عنه په عراق کې لږ شان ځمکه د کور لپاره ورکړه، په عشره مبشره کې شمار دی، د جاهليت په زمانه کې به چې چا خپله لور ژوندی ښخول، نو د هغې په بچ کولو کې به يې پوره هڅه کول، چېرته کوم ظالم پلار به د خپلې بې ګناه لور په مرئ باندې چاړه راښکل، نو دوی به يې د کفالت ذمه واري واخيستل، که هغه نجلۍ به ځوانه شوه، پلار ته به يې وويل: که خوښه دې وي، زما سره يې پرېږده، کنه نو د ځان سره يې بوتلې شې.

وفات: په عقيق ځای کې د اويا کالو په عمر کې يې په ۵۱ هجري کې ددې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې، سعد بن وقاص رضي الله عنه غسل ورکړو او عبد الله بن عمر رضي الله عنهما پرې جنازه وکړه، په مدينه منوره کې دفن کړی شو.

مرويات: د دوی نه ۴۸ روايات نقل دي، په دوه حديثونو کې د بخاري او مسلم اتفاق دی، په يو حديث کې بخاري منفرد دی، پاتې نور روايات يې په سنن کې دي.

د غل سره به څه کوې؟

"**وعن أبي هريرة رضي الله عنه قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فَقَالَ: يَارَسُولَ اللهِ، أَرَأَيْتَ إِنْ جَاءَ رَجُلٌ يُرِيدُ أَخْذَ مَالِي؟**" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې يو کس د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او وې ويل: يا رسول الله ﷺ! خبر راکړه چې که يو کس راشي، زما څخه زما مال واخلي، نو زه څه وکړم؟ "**قَالَ: فَلَا تُعْطِهِ مَالَكَ**" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: خپل مال مه ورکوه! "**قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قَاتَلَنِي؟**" هغه کس وويل: که چېرته زما سره جګړه شروع کړي، نو بيا؟ "**قَالَ: قَاتِلْهُ**" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: ته هم ورسره جنګ وکړه!

Maktaba Tul Ishaat. com

"قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلَنِي؟" هغه كس ووېل: كه ما مړ كړي؟ "قَالَ: فَأَنْتَ شَهِيدٌ" نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: ته به شهيد واى، "قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلْتُهُ؟ قَالَ: هُوَ فِي النَّارِ" هغه كس ووېل: كه چېرته يې زه مړ كړم؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: هغه به په جهنم كې وي. رواه مسلم

تشريح: علامه قطب الدين رحمه الله فرمايي: اصلاً په دې حديث كې مسلمانانو ته يو عام حكم دى، هغه دا چې د خپل ځان، مال او عزت دفاع به كوي، د مسلمان دا فطرت نه دى چې څوك دې د هغه په مال، ځان يا عزت باندې ډاكه واچوي او دى دې ورته سيل كوي، نه، بلكې دفاع به كوي، جنګ به ورسره كوي، كه هغه يې مړ كړو، مردار د دنيا څخه لاړو، اګرچې د ايمان په وجه به يو وخت د جهنم نه راوځي، ليكن سزا به خوري او كه ته يې مړ كړې، نو شهيد به شې.

باب فضل العتق

د غلام ازادولو فضيلت

"قَالَ اللهُ تعالى: فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ فَكُّ رَقَبَةٍ" الله فرمايي: نو دوى د كندو نه هم د هغه د تېرېدلو طاقت ونه شو، تاسو ته معلومه ده كندو څه شى دى؟ د يو څټ (غلام) ازادول دي. [البلد: ۱۰-۱۳].

تشريح: العقبة: د غره اوچت ځاى ته هم ويل كيږي او د دوه غرونو ترمينځ درو ته هم ويل كيږي، د دې دواړو شيانو په وجه انسان د دښمن نه په اسانى سره ځان خلاصولى شي، كه د غره د پاسه لاړ شي او كه د درو په منځ كې لاړ شي، مطلب دا دى چې نېک اعمال د عقبة په شان دي چې د دې په وجه هم انسان د دوزخ له عذابه ځان خلاصولى شي يا دا مطلب چې عمومي ضرر په عقبه باندې مزل كول ګران وي، نو د آيت معنى به دا شي چې د نيكى په كارونو كې انسان ته شيطان هم وسوسې غورځوي او نفساني تقاضې هم پكې خنډ جوړ شي، نو انسان په مشقت او تكليف كې پرېوځي.

فك رقبة: د آخرت له عذابه ځان خلاصولو لپاره غلام ازادول هم په نېكو اعمالو كې داخل دي، په يو روايت كې دي چې يو صحابي پوښتنه وكړه چې يا رسول الله ﷺ ماته داسې عمل وښيه چې زه پرې جنت ته داخل شم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: غلام ازادول.

غلام ازادولو سره ځان د جهنم نه ازاد كړه!

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه قَالَ: قَالَ لِي رسول الله ﷺ: مَنْ أَعْتَقَ رَقَبَةً مُسْلِمَةً أَعْتَقَ اللهُ بِكُلِّ عُضْوٍ مِنْهُ عُضْوًا مِنْهُ فِي النَّارِ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې نبي كريم ﷺ ماته وفرمايل: كوم كس چې يو مسلمان غلام ازاد كړي، نو الله ﷻ به د هغه غلام د هر يو جزء په بدله كې د دې كس يو يو اندام او ړد جهنم نه خلاص كړي، "حَتَّى فَرْجَهُ بِفَرْجِهِ" تردې چې د هغه (ازادونكي) عورت به دده (غلام) د عورت په مقابل كې ازادولى شي. متفق عليه

لغوي تحقيق:

اعتق: باب افعال دی، ددې معنی ده: غلام ازادول

تشريح من أعتق رقبة مسلمة: چا چې يو مسلمان غلام ازاد کړو، که يو کس کافر غلام آزاد کړي، نو هغه ته به هم ثواب حاصليږي، ليکن د (مسلمة) قيد ځکه ولګيدو چې په مسلمان غلام ازادولو کې زيات ثواب ده.

بكل عضو منه الخ: د غلام د بدن د هرې برخې په بدله کې به د آزادونکي کس اندامونه د جهنم څخه آزاديږي، دا د الله ﷻ له لورې يو ستر انعام دی چې د هغه يو بنده اګر چې کافر ولې نه وي د يو انسان د قيد نه آزاد کړل شي، نو ددې په بدله کې الله ﷻ دغه انسان د جهنم د قيد نه آزاد کړي، چا چې غلام آزاد کړی وي.

حتى فرجه بفرجه: تردې چې عورت به د عورت په بدله کې آزاد کړل شي، علماء فرمايي: عورت ځکه په ځانګړې توګه ذکر شو چې عمومي طور انسان د عورت په وجه ګناهونه کوي، نو دغه ګناهونه به يې معاف شي، ددې فضيلتونو په وجه به صحابه کرامو اکثره غلامان ازادول، د عبدالرحمن بن عوف ﷺ باره کې دي چې هغه ۳۰ زره غلامام آزاد کړي وو، د عبد الله بن عمر ﷺ باره کې راځي چې هغه زر غلامان آزاد کړي وو، دغه شان نورو صحابه کرامو هم د خپل وس مطابق غلامان ازاد کړي وو.

ګران قيمته غلام ازادول افضل دي

"وعن أبي ذر ﷺ قَالَ: قُلتُ: يَارسول الله، أَيُّ الأَعمَالِ أَفضَلُ؟ قَالَ: الإيمَانُ بِاللهِ، وَالجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ" د أبو ذر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما يوه ورځ رسول الله ﷺ نه وفرمايل: يا رسول الله ﷺ! کوم عمل ډير غوره دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: په الله ﷻ باندې ايمان راوړل او د هغه په لاره کې جهاد کول، "قَالَ: قُلتُ: أَيُّ الرِّقَابِ أَفضَلُ؟ قَالَ: أَنفَسُهَا عِندَ أَهلِهَا، وَأَكثَرُهَا ثَمَنًا" أبو ذر ﷺ فرمايي: ما پوښتنه وکړه چې کوم غلام ازادول ډير غوره دي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: هغه غلام ازادول غوره دي چې په کور والا باندې ډير ګران او عزتمند وي او د کوم کس پيسې چې ډيرې زياتې وي متفقٌ عَلَيهِ

تشريح: أي الأعمال أفضل؟ کوم عمل غوره دی؟ په غوره اعمالو کې دا هم داخل دي چې په الله ﷻ ايمان باندې راوړل شي او د هغه په لار کې جهاد وکړل شي او بيا غلامان ازاد کړل شي، په غلامانو کې زيات ثواب په هغه غلام ملاويږي چې ګران قيمته وي، کوم غلام چې څومره زيات قيمت لري هغه بايد ازاد کړی شي دومره به يې ثواب زيات دی، په قرآن کريم کې هم دې طرفته اشاره ده "لن تنالوا البر حتى تنفقوا مما تحبون" تاسو چې تر څو خان ته خوښ شيان د الله ﷻ په لار کې خرچ نه کړئ، تر هغې اسې درجې ثواب نه شئ موندلی

Maktaba Tul Ishaat. com

باب فضل الإحسان إلى المملوك

د غلامانو سره نيکي کول

"قَالَ اللّٰهُ تعالىٰ: وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً" الله ﷻ فرمايي: د الله ﷻ عبادت وکړئ او د هغه سره شريك مه جوړوئ "وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً وَبِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ" او د مور پلار سره نيکي کوئ، د خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو او نژدې خپلوانو سره ښه کوئ. "وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ" د لرې خپلوانو سره او په څنگ کې ناست ملگري او د مسافرو او غلامانو سره احسان کوئ. [النساء:۳۶]

تشريح: واعبدوا اللّٰه ولا تشركوا به شيئاً: د الله ﷻ عبادت وکړئ او د هغه سره څوك شريك مه جوړوئ: د ټولو نيك اعمالو بنياد همدغه توحيد دی، اصل پرهيزگاري د کامل توحيد په وجه په انسان کې راځي. نو ځکه تر ټولو اول هم دغه بيان کړی شو او ددې نه انکار کول هم په ټولو گناهونو کې ستره گناه ده. "وبالوالدين إحساناً" د مور پلار سره ښه سلوك کوئ: حقيقتاً ټول احسانات د الله ﷻ له لورې دي، ليکن د ظاهري اسبابو په لحاظ په انسان باندې د الله ﷻ نه وروسته د مور پلار احسانات زيات دي، نو ځکه د الله ﷻ د توحيد نه وروسته ددې ذکر کيږي، په احاديثو کې هم د مور پلار سره د ښه سلوك تاکيد شوی دی، مثلاً د الله ﷻ رضا د پلار په رضا کې ده، د الله ﷻ ناراضگي د پلار په ناراضگی کې ده، په يو بل روايت کې دي چې هره گناه الله ﷻ بخښي. ليکن د مور پلار په نافرمان باندې په دنيا کې قسم قسم افتونه او مصيبتونه راځي

وذي القربیٰ: د خپلوانو سره ښه سلوك کوئ: د مور پلار سره د ښه سلوك نه وروسته د خپلوانو سره د ښه سلوك تاکيد راغلی دی، په خپلوانو باندې د صدقې کولو دوه اجره ملاويږي يو د صدقې او بل د صله رحمی په وجه

واليتمیٰ والمساكين: د يتيمانو او مسکينانو سره هم د ښه سلوك امر شوی دی، مطلب دا چې د يتيم او مسکين سره هم د ښه سلوك دومره خيال ساتلو تاکيد شوی دی، لکه څومره چې يو انسان د مور پلار او خپلوانو سره کوي

والجار ذي القربیٰ: نژدې خپلوان، مطلب دا چې په کور يا کلي کې چې کوم گاونډی درسره نژدې وي او نژدې خپلوان دي هم وي، نو د داسې گاونډي سره هم د ښه سلوك امر شوی دی، يا ددې نه هغه گاونډی مراد دی چې نژدې گاونډی هم وي او مسلمان هم وي.

والجار الجنب: کوم گاونډی چې د کور سره دې نژدې وي، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: ددې نه هغه کس مراد دی چې صرف گاونډی وي، ليکن خپلوان بې نه وي يا داسې گاونډی ترې مراد دی چې گاونډی وي، خو مسلمان نه وي

والصاحب بالجنب: په څنګ کې درسره ناست ګاونډی: ددې نه هر هغه کس مراد دی چې په څنګ کې درسره ناست وي، برابره خبره ده چې د سفر پرمهال وي یا په درس کې درسره طالب علم شریك وي یا په بل کوم عام مجلس کې درسره ناست وي

وابن السبیل: مسافر انسان، کوم مسافر انسان چې په مخه درشي یا د مسافرۍ نه کورته راشي، نو ددې سره هم باید ښه سلوك وکړل شي

څه چې ته خورې، په غلام يې هم خوره !

"**وعن المعرور بن سويد، قال: رأيت أبا ذر ﷺ، وعليه حلة وعلى غلامه مثلها**" د معرور بن سوید ﷺ نه روایت دی هغه فرمایي چې أبو ذر ﷺ مو یوه ورځ ولیدو چې هغه څه رنګ څادر په سر کړی وو، هغه شانته څادر د هغه غلام هم په سر کړی وو، "**فسألته عن ذلك، فذكر أنه قد ساب رجلا على عهد رسول الله ﷺ فعيره بأمه**" نو ما پوښتنه ترې وکړه چې داسې څنګه چل دی چې ته څنګه څادر په سر کړې داسې ده هم په سر کړی دی، هغه راته ووېل: ما د رسول الله ﷺ په زمانه کې یو کس ته ښېرې کړې وې، هغه ته مې د هغه مور یاده کړې وه، د مور پېغور مې ورکړی وو، "**فقال النبي ﷺ: إنك امرؤ فيك جاهلية هم إخوانكم وخولكم جعلهم الله تحت أيديكم**" نبي کریم ﷺ راته وفرمایل: ته یو داسې سړی یې چې په تا کې اوس هم د جاهلیت د زمانې عادت شته، دغه غلامان ستاسو ورونه دي دا الله ﷻ ستاسو لپاره ماتحت ګرځولي دي، "**فمن كان أخوه تحت يده، فليطعمه مما يأكل، وليلبسه مما يلبس**" بس کوم کس چې الله ﷻ تاته ماتحت جوړ کړي دي، نو هغه څه پرې خوره کوم څه چې ته په خپله خورې او هغه جامې پرې اغونده کوم رنګ چې ته اغوندې، "**ولا تكلفوهم ما يغلبهم، فإن كلفتموهم فأعينوهم**" او داسې بوج مه پرې اچوئ چې هغوی يې نه شي پوره کولی، که چېرته په داسې کار يې مکلف کړئ، نو بیا ورسره کومك کوئ؛ **متفق عليه**

تشریح: فعيره بأمه: د هغه د مور باره کې يې ورته پېغور ورکړو، د حسب او نسب باره کې فخر کول چې زه د فلانکي نسب او خاندان یم، نورو ته په نسب باندې پېغور ورکول چې ته د فلانکي سپك نسب يې، دا د جاهلیت د زمانې عادت دی، اسلام دا عادتونه ختم کړي دي، اوس معیار او شرافت صرف او صرف په تقوی باندې دی چې په چا کې څومره تقوی وي، هغه به دومره د الله ﷻ په نزد عزتمند وي

فليطعمه مما يأكل وليلبسه مما يلبس: غلام ته هغه جامې وراغوندئ کومې چې خپله اغوندئ: هغه خوراك ورکوئ کوم چې ته خپله خورې، علامه نووي رحمه الله فرمایي: دا حکم د استحباب په توګه دی، د وجوب لپاره نه دی، په مالك باندې د غلام دومره جامه او خوراك واجب ده څومره چې په عام عرف کې مشهور وي

فإن كلفتموهم فأعينوهم: که تاسو دوی ته څه حواله کړئ، نو تاسو خپله هم ورسره څه نا څه مرسته کوئ، یعنې کوم کار چې غلام په آسانۍ نشي کولی، نو باید ته ورسره مرسته وکړې، یا د بل په ذریعه

Maktaba Tul Ishaat. com

د هغه مرسته وکړي، د ځینو اکابرو نه دا خبره نقل ده چې دوی به د خپلو وینځو سره د غنمو اوره کولو په ماشین باندې مرسته کول.

د راوي معرور بن سويد رحمه الله حالات:

اصل نوم يې معرور رحمه الله دی، د پلار نوم يې سويد دی، د اسد قبيلې سره تعلق لري، ابو اميه يې کنيت دی، په مشرانو تابعينو کې شمار دی، دوی د عمر رضي الله عنه څخه، د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه او د صحابه کرامو د يو لوی جماعت څخه احاديث نقل کړي دي، اکثره اسماء الرجال والا دوی ثقه ښودلی دی.

وفات: د دوی وفات په ۱۲۰ هجري کې شوی دی.

مرويات: د دوی روايات په صحاح سته کې موجود دي.

خادم هم په ډوډۍ کې شريک کول پکار دي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم قَالَ: إِذَا أَتَى أَحَدَكُمْ خَادِمُهُ بِطَعَامِهِ، فَإِنْ لَمْ يُجْلِسْهُ مَعَهُ فَلْيُنَاوِلْهُ لُقْمَةً أَوْ لُقْمَتَيْنِ أَوْ أُكْلَةً أَوْ أُكْلَتَيْنِ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې تاسو ته ستاسو خادم ډوډۍ راوړي، نو هغه هم د ځان سره په دسترخوان باندې کېنوئ او که چېرته هغه تاسو د ځان سره نه پرېږدئ، نو هغه ته هم د دغه طعام نه دوه څلور مړۍ ورکړئ، "فَإِنَّهُ وَلِيَ عِلَاجَهُ" ځکه چې په دې ډوډۍ پخولو او تيارولو کې د هغه محنت هم شامل دی. رواه البخاري

الْأُكْلَةُ بضم الهمزة: وَهِيَ اللُّقْمَةُ: الاکلة معنی: مړۍ ده.

تشريح: علماء فرمايي: مستحب دا ده چې خوراک پوخ شي، نو ورته کښېني، په دغه وخت کې غلام/ خادم هم د ځان سره کښېنوه، دا نه چې کله خپله موړ شي نو بيا پاتې شوی خوراک هغه ته ورکړي، د دين اسلام څومره ښکلې تعليمات دي، په اسلام کې عدل دی، انصاف دی او مساوات دی، کوم خوراک چې خادم درته تيار کړي، نو دا نه چې بس خپله يې وخوري، بل دې تا ته سترګې غړوي، بلکې د ځان سره يې کښېنوه، په دې سره انسان کې عاجزي راځي او بل دا چې په خوراک کې چې څومره زيات خلک شريک شي، الله جل جلاله هغومره په خوراک کې برکت اچوي.

باب فضل المملوك الذي يؤدي حق الله وحق مواليه

د هغو غلامانو بيان چې د الله جل جلاله حق هم ادا کوي او د خپل بادار حق هم ادا کوي

"عن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا نَصَحَ لِسَيِّدِهِ، وَأَحْسَنَ عِبَادَةَ اللَّهِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کوم غلام چې د خپل بادار حق خيال ساتي او د الله جل جلاله عبادت هم په ښکلې طريقه سره کوي، "فَلَهُ أَجْرُهُ مَرَّتَيْنِ" نو داسې غلام ته به دوه اجره ملاوېږي. متفق عليه

تشريح: فله أجره مرتين: ده ته به الله ﷻ ډبل (دوه برابره) ثواب ورکوي، يو څوك د خپل بادار/ مشر خدمت کوي او بل د الله ﷻ د عبادت کوي. ددې حديث نه معلومه شوه چې د خپل مشر خدمت هم ثواب دی، د خپل مشر خدمت په حقيقت کې د الله ﷻ عبادت دی، ځکه چې عبادت د الله ﷻ حکم منلو ته وايي، د مشر خدمت حکم الله ﷻ ورکړی دی، لکه څرنګه چې د مور - پلار په خدمت کې ثواب دی، ځکه چې د دوی د خدمت حکم هم الله ﷻ ورکړی دی، نو دا کس د الله ﷻ حکم پوره کوي

غلام ته دوه اجره ملاويږي

"وعن أبي هريرة ﷺ قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: لِلْعَبْدِ الْمَمْلُوكِ الْمُصْلِحِ أَجْرَانِ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه غلام چې د الله ﷻ حق خيال ساتي او د خپل مشر او بادار د حق خيال هم ساتي، نو داسې غلام ته دوه اجره دي "وَالَّذِي نَفْسُ أَبِي هُرَيْرَةَ بِيَدِهِ لَوْلَا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ وَالْحَجُّ، وَبِرُّ أُمِّي، لَأَحْبَبْتُ أَنْ أَمُوتَ وَأَنَا مَمْلُوكٌ" قسم په هغه ذات چې د ابو هريره ﷺ روح د هغه په قبضه کې ده، که چېرته جهاد نه وای او نه حج وای او د مور پلار سره نيکي وي، نو ما به دا خبره خوښول چې په داسې حالت کې مړ شم چې زه دې غلام وم. متفقٌ عَلَيه

تشريح: للعبد المملوك المصلح أجران: کوم غلام چې د خپل مشر خدمت کوي او د الله ﷻ عبادت کوي، نو داسې غلام ته دوه اجره ملاويږي، انسان چې غلام شي نو هغه نه په خپله مرضۍ جهاد کولی شي، نه په خپله مرضۍ حج ته تللی شي، تر څو چې مشر ورته اجازه نه وي ورکړې. دغه شان د خپل مور پلار خدمت هم نه شي کولی، تر څو چې د مشر اجازه ورته نه وي. نو دغه شان غلام چې د خپل مشر خبره هم مني او د خپل الله ﷻ عبادت هم کوي، نو داسې غلام ته دوه اجره ملاويږي. ابوهريره ﷺ فرمايي زه هم ددې دوه برابره اجر حريص يم، ليکن که چېرته په دې غلامۍ کې د حج، جهاد او د مور پلار خدمت کولو مسئله په مينځ کې خنډ نه وای، ځکه چې دغه اعمال د غلامۍ په حالت کې بې اجازې د مشر نه نه شي کولی.

د غلام فضيلت

"عن أبي موسى الأشعري ﷺ قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: الْمَمْلُوكُ الَّذِي يُحْسِنُ عِبَادَةَ رَبِّهِ، وَيُؤَدِّي إِلَى سَيِّدِهِ الَّذِي عَلَيْهِ مِنَ الْحَقِّ" د ابو موسى اشعري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه غلام چې د الله ﷻ عبادت په ښکلي طريقه کوي او د خپل مشر د حق خيال هم ساتي کوم چې په هغه باندې دی، "وَالنَّصِيحَةَ، وَالطَّاعَةَ، لَهُ أَجْرَانِ" خير خواهي يې لټوي او د هغه خبره مني، نو داسې غلام ته دوه اجره دي رواه البخاري

تشريح يحسن عبادة ربه: د خپل رب عبادت په ښکلې طريقه کوي او د خپل مشر حق هم ادا کوي، علماء ليکي غلام ته د خپل مشر خبره منل واجب دي، په دې شرط چې د الله ﷻ نافرماني پکې نه وي، که چېرته د الله ﷻ يا د رسول الله ﷺ نافرماني پکې وي، نو بيا د خپل مشر خبره منل حرام دي

Maktaba Tul Ishaat. com

درې کسانو ته دوه برابره اجر ملاوېږي

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسولُ اللهِ ﷺ: ثَلَاثَةٌ لَهُمْ أَجْرَانِ: رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الكِتَابِ آمَنَ بِنَبِيِّهِ، وَآمَنَ بِمُحَمَّدٍ" د ابو موسى اشعري رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: درې کسان دي چې دوه اجره به ورته ملاوېږي: يو هغه اهل کتاب چې په خپل پېغمبر عليه السلام يې هم ايمان راوړى وي او بيا په محمد ﷺ باندې هم ايمان راوړي، "وَالعَبْدُ المَمْلُوكُ إِذَا أَدَّى حَقَّ اللهِ، وَحَقَّ مَوَالِيهِ" او بل هغه غلام چې د الله جل جلاله حق هم ادا کوي (يعنې په ښکلې طريقې د الله جل جلاله عبادت هم کوي) او د خپل مشر بادار حق هم ادا کوي، "وَرَجُلٌ كَانَتْ لَهُ أَمَةٌ فَأَدَّبَهَا فَأَحْسَنَ تَأْدِيبَهَا، وَعَلَّمَهَا فَأَحْسَنَ تَعْلِيمَهَا، ثُمَّ أَعْتَقَهَا فَتَزَوَّجَهَا؛ فَلَهُ أَجْرَانِ" بل هغه کس دى چې وينځه وي، هغې ته ښکلي اخلاق وښيي او ښکلې تعليم ورباندې وکړي او بيا يې آزاده کړي او په نکاح کې يې واخلي، نو داسې کس ته دوه اجره دي. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: په دې حديث کې درې ډوله خلکو ته د دوه برابره اجر ملاوېدو وعده شوې ده: (۱) يو هغه يهودي يا نصراني چې د خپل نبي اطاعت وکړي بيا وروسته دين اسلام قبول کړي، د رسول الله ﷺ اطاعت شروع کړي، د دوه پېغمبرانو عليهم السلام د اطاعت له امله به الله جل جلاله ده ته دوه برابره اجر ورکوي، هم دغه د قرآن کريم په سورت حديد کې هم ذکر دي

(۲) دويم هغه غلام چې د خپل مشر خبره د شريعت په حدودو کې مني، په دې کې تکاليف او کړاوونه زغمي او د الله جل جلاله بندګي او عبادت هم کوي، په دې تکاليفو او مصيبتونو باندې صبر کوي، نو داسې غلام ته هم د دوه برابره اجر ثواب وعده ده

(۳) دريم هغه وينځه چې مشر يې په ښکلې طريقه تربيه وکړي، علم ورباندې زده کړي، بيا يې د ازادېدو وروسته خان ته واده کړي، يعنې ددې وينځې مهر هم ادا کړي او د آزادو ښځو په شان حقونه ورکړي، نو داسې کس ته به هم دوه برابره اجرونه ملاوېږي

باب فضل العبادة في الهرج وَهُوَ الاختلاط والفتن ونحوها

د فتنو او جنګونو پر مهال د الله جل جلاله عبادت کول

"عن مَعْقِلِ بن يسار رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رسولُ اللهِ ﷺ: العِبَادَةُ فِي الهَرْجِ كَهِجْرَةٍ إلَيَّ" د معقل بن يسار رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: د فتنو او جګړو په وخت کې عبادت کول داسې اجر او ثواب لري لکه زما طرفته چې يې هجرت کړى وي. رواه مسلم

تشريح: العبادة في الهرج كهجرة إلي: د فتنې او فساد په دوره کې عبادت کول داسې دي لکه زما طرفته چې هجرت کوي، د حديث مطلب دا دى چې کله هر طرف ته فتنې فتنې شي او ځاى په ځاى فساد جوړ شي، نو په داسې وخت کې يو انسان ته د معمول مطابق د خپل رب په عبادت کې مصروف اوسېدل دومره مشکل دي لکه څومره چې په شروع کې مکه پرېښودل د خپلو پلارانو، نيکه ګانو او

ښار نه لرې تلل ګران کار وو، ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې د فتنې او فساد په وخت کې د بدی نه ځان ساتلو واحده لار بس همدغه ده چې انسان د رسول الله ﷺ په سنتو باندې منګولې ولګوي، لکه څرنګه چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې عبادت کول مشکل وو، ليکن کومو صحابه وو چې هجرت وکړو، هغوی ته مشکل پاتې نه شو، الله ﷻ هغوی ته هر څه آسان کړل.

باب فضل السماحة في البيع والشراء والأخذ والعطاء وحسن القضاء والتقاضي وإرجاح المكيال والميزان والنهي عن التطفيف وفضل إنظار الموسر المُعْسِرَ والوضع عَنْهُ

په اخيستلو او خرڅولو کې نرمي کول

"قَالَ اللهُ تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ" تاسو چې د نيکۍ کوم کار کوئ په هغې باندې الله ﷻ خبردار دی. [البقرة:۲۱۵]

تشريح: د آيت مطلب همدغه دی چې که يو انسان نېک عمل په دې نيت کوي چې الله ﷻ زما څخه راضي شي او خالص لله في الله نيت يې کړی وي، نو الله ﷻ هم پرې خبردار دی، الله ﷻ به يې اجر ورکوي او که يو کس نيک عمل په دې نيت کوي چې خلك راته ښه انسان ووايي، خالص لله في الله نيت يې نه وي، نو په ځای ددې چې الله ﷻ به اجر ورکړي، برعکس الله ﷻ به يې په عذاب کې مبتلا کړي.

په انصاف سره ناپ تول کول

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي: "وَيَا قَوْمِ أَوْفُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ" اې زما قومه! پيمانه او تول پوره په انصاف سره ورکوئ او د خلکو نه د هغوی شيان مه کموئ. [هود:۸۵]

تشريح: که شريعت يو طرف د حقوق الله تاکيد کړی دی، نو بل طرف يې د حقوق العباد ادا کولو تاکيد هم فرمايلی دی، په دې ايت کې يو اهم حقوق العباد ته اشاره ده. هغه دا چې ناپ تول کې پوره والی کول پکار دی، په دې کې د شريعت حکم دا دی چې بايد ناپ تول پوره پوره ادا کړی شي او په دې کې دې هيڅ قسم کمی زياتی نه کيږي. د قرآن کريم او د رسول الله ﷺ د احاديثو په رڼا کې په ناپ تول کې کمی کول واضحه خبره ده چې حرام عمل دی، علماء فرمايي: دا حکم صرف په ناپ تول کې نه دی بلکې هر هغه شی مراد دی چې د خلکو حقونه پکې پيمانه کيږي، ددې ټولو حکم همدغه دی. دا بيا برابره خبره ده چې که د ناپ تول سره تعلق ساتي يا د عدد او شمار سره تعلق ساتي، (يا لکه نن سبا چې په موټرو کې سي اين جي، پټرول، ډيزل، په ټايرونو کې هوا اچول، ګيس ډبه ډکول، د ترازو خيال ساتل وغيره شو) په دې ټولو کې د شريعت حکم دا دی چې دا شيان دې پوره پوره ادا کړل

Maktaba Tul Ishaat. com

شي، په دې کې دې کمی زياتی ونه کړل شي، په يو روايت کې دي چې کوم قوم په ناپ تول کې کمی کوي په هغوی باندې الله ﷻ قحط سالي راولي.

په هر شي کې کمی کول حرام دي*

"وقال تعالى" الله فرمايي: "وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ" هلاکت دي وي په ناپ تول کې کمي کوونکو لپاره، کوم چې د خلکو څخه څه اخلي، نو پوره يې ترې اخلي، "وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ أَلَا يَظُنُّ أُولَٰئِكَ أَنَّهُم مَّبْعُوثُونَ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ" او کله چې خلکو ته څه پيمانه کوي او يا يې ورته وزن کوي، نو کمی پکې کوي، دوی ولې ددې خبرې يقين نه ساتي چې دوی به دوباره بيا راوژوندي کولی شي، د هغې لويې ورځې لپاره، "يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ" په کومه ورځ چې به خلك د رب العالمين ذات په وړاندې دريږي. [المطففين:۱-۶].

تشريح: ددې آيت شان نزول دا دی: علامه قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله فرمايي: کله چې رسول الله ﷺ مديني منورې ته ورسېدو، نو د مديني منورې خلکو عادت دا وو چې کله به يې بل ته سودا ورکول، نو کمی به يې پکې کولو او کله چې به يې د بل نه سودا اخيستل، نو زياتی به يې کولو، کله چې دغه سورت نازل شو، نو دوی په ناپ تول کې د کمي کولو نه دومره په سختی سره منع شول چې تر اوسه د مديني منورې خلك په ناپ تول کې د انصاف کولو باره کې شهرت لري.

په ناپ تول کې کمی نه کولو نه مراد دا دی چې هر چا ته پوره پوره حق ادا کړل شي، مثلاً: ملازم چې څومره وخت د خدمت معاهده کړې وي، نو په دې کې کمی کول هم پکې داخل دی او سستي کول هم ناجائز ده.

په يو روايت کې دي چې يو ځل عمر رضي الله عنه يو کس وليدلو چې د لمانځه په رکوع او سجده کې يې تيزي کول، په صحيح توګه يې نه ادا کول، نو عمر رضي الله عنه ورته وفرمايل: "لقد طففت" يعنې تا د الله ﷻ په حق کې تطفيف (کمی) وکړو، په ښه شان سره دې لمونځ ادا نه کړو، امام مالك رحمه الله فرمايي: "لكل شئ وفاءٌ وتطفيفٌ" په هر شي کې پوره کول او کمول شته، تردې چې په لمانځه او اودسه وغيره کې به هم پوره والی کولی شي، په حقوق الله او حقوق العباد کې هم.

حق دار ته د خبرو کولو حق حاصل دی

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ ﷺ يَتَقَاضَاهُ فَأَغْلَظَ لَهُ، فَهَمَّ بِهِ أَصْحَابُهُ" د أبو هريره رضي الله عنه نه روايت دی رسول الله ﷺ ته يو کس راغلو، د رسول الله ﷺ نه يې د خپل قرض مطالبه کول، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ته يو کس راغلو، صحابه وو اراده وکړه چې دغه کس يو څو سوکه ووهي، "فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: دَعُوهُ، فَإِنَّ لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالًا" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دېې پرېږدئ! ځکه چې صاحب حق چې د چا حق وي هغه ته د خبرو کولو اجازه شته، "ثُمَّ قَالَ: أَعْطُوهُ سِنًّا مِثْلَ سِنِّهِ" نبي کريم ﷺ بيا وفرمايل: هغه ته د هغې اونښې په شان څومره عمر والا چې هغه وه ورکړئ! "قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، لَا نَجِدُ إِلَّا أَمْثَلَ مِنْ سِنِّهِ" صحابه کرامو رضي الله عنهم

وفرمایل: یارسول الله ﷺ! زمونږ سره دده د اوښي نه زيات عمر والا اوښه شته کم عمر والا اوښه نشته. "قَالَ: أَعْطُوهُ، فَإِنَّ خَيْرَكُمْ أَحْسَنُكُمْ قَضَاءً" نبي کريم ﷺ وفرمایل: هم هغه اوښه ورکړئ کومه چې د زيات عمر والا ده. ځکه چې په تاسو کې غوره خلك هغه دي چې قرض په ښکلي طريقه ادا کوي. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: أن رجلاً أتى النبي ﷺ: يو کس د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، دا کس زيد بن شعبه کناني وو، کوم چې بيا وروسته مسلمان شو.

فأغلظ له: هغه ډېره سخته رويه اختيار کړه کومه چې رسول الله ﷺ وزغمل، زغم او برداشت سختي په ځان تېرول يو پيغبري اخلاق دي کوم چې په رسول الله ﷺ کې په اعلى پيمانه موجود وو.

لصاحب الحق مقالاً: حق دار ته د خبرو کولو اختيار شته، علماء فرمايي: د حق نه مراد قرض دی، يعنې که د چا په ذمه قرض وي او دی پکې تاخير وکړي، نو د چا چې ورباندې قرض دی، هغه ته اختيار شته چې په سختی سره د خپل حق مطالبه وکړي او د ناراضگی اظهار هم پکې وکړي، دا دده حق دی تردې چې که بيخي قرض نه ادا کوي، نو قرضدار حاکم ته هم بوتلی شي او عدالت کې ورباندې مقدمه هم درج کولی شي.

فإن خيركم أحسنكم قضاءً: په تاسو کې غوره کس هغه دی چې په قرض ادا کولو کې غوره وي، ددې نه معلومه شوه چې که مقروض د قرض ادا کولو پرمهال د قرض نه څه برخه زياته ورکوي، نو دا مستحب طريقه ده، خو دا هغه وخت کله چې د صاحب مال (قرض غوښتونکي) له طرفه پکې د زياتي مال مطالبه نه وي شوې، که د زياتي مال مطالبه پکې شوې وي، نو بيا دا حرام دی، ځکه چې دا په سود کې داخل دی.

خپل حق په نرمی سره د حاصلولو فضيلت

"وعن جابر ﷺ: أَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ: رَحِمَ اللَّهُ رَجُلاً سَمْحاً إِذَا بَاعَ، وَإِذَا اشْتَرَى، وَإِذَا اقْتَضَى" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ دې په هغه سړي باندې رحم وکړي چې په اخيستلو، خرڅولو او په قرض ورکولو کې نرمي کوي او د سهولت خيال ساتي. رواه البخاري

تشريح: رحم الله رجلاً سمحًا إذا باع، وإذا اشترى: الله ﷻ دې په هغه کس رحم وکړي چې د خرڅولو او اخيستلو پرمهال نرمي کوي، ددې دوه مطلبه دي: يو دا چې کله څه خرڅوي، نو بايد داسې رويه اختيار کړي چې ګاهك اخيستونکي ته پکې نقصان نه وي او نه دا چې کله څه اخلي، نو همدا چې خرڅونکي ته پکې نقصان نه وي، دويم مطلب يې دا دی چې کله څه اخلي، نو د اصل قيمت نه لږ زيات ورکړي او د خرڅولو پرمهال ګاهك اخيستونکي ته لږ زياته برخه ورکړي.

د قيامت په ورځ د خلاصون ذريعه

"وعن أبي قتادة ﷺ قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ اللهِ ﷺ يقول: مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُنْجِيَهُ اللَّهُ مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ" د أبو قتادة ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل ... که کس چې په تاسو کې دا

Maktaba Tul Ishaat. com

خبره خوښوي چې الله ﷻ يې د قيامت له سختيو څخه وساتي، "فَلْيُنَفِّسْ عَنْ مُعْسِرٍ أَوْيَضَعْ عَنْهُ" نو بايد چې د تنګ لاسي (غريب سړي) سره نرمي وكړي او يا ورته قرض معاف كړي رواه مسلم

لغوي تحقيق:

كرب: تكليف، پريشاني

تشريح: فلينفس عن معسر: تنګ لاسي سړي ته دې مهلت وركړي، د قرض په ادا كولو كې دې تاخير وكړي، ځيني علماء وايي: د تنګ لاسي او غريب سړي تكليف دې لرې كړي، يعني د خپل خان له طرف دې دومره څه وركړي چې هغه پرې خپل قرض پوره كړي، ددې په بدله كې به الله ﷻ دې د قيامت په ورځ د تكليف نه بچ كړي

د غريب انسان سره د نرمۍ فضيلت

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رسولَ اللهِ ﷺ قَالَ: كَانَ رَجُلٌ يُدَايِنُ النَّاسَ، وكَانَ يقولُ لِفَتَاهُ: إِذَا أَتَيْتَ مُعْسِراً فَتَجَاوَزْ عَنْهُ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو كس به خلكو ته قرضونه وركول، خپل بچي ته به يې ويل: بچيه! كه چيرته كوم تنګ لاس او قرض دارې سړی درته راشي، نو د هغه سره اساني كوه، "لَعَلَّ اللهَ أَنْ يَتَجَاوَزَ عَنَّا" كېدی شي الله ﷻ زموږ سره اساني وكړي، "فَلَقِيَ اللهَ فَتَجَاوَزَ عَنْهُ" دغه كس د الله ﷻ سره مخامخ شو، نو الله ﷻ هم ورسره اساني وكړه متفق عليه

تشريح: فتجاوزعنه: د غريب او تنګ لاسي سړي سره ګزاره كوئ: علماء فرمايي: په هر ځای كې د فرض اعمالو اجر او ثواب د نفلي اعمالو څخه زيات وي، ليكن درې ځايونه داسې دي چې هلته د سنتو او نفلو ثواب د فرضو څخه زيات اجر لري: (۱) يو دا چې تنګ لاسي او غريب سړي معاف كول، دا يو مستحب عمل دی، هغه ته مهلت وركول فرض دي، دلته بې د مستحب ثواب (بالكل معاف كول د فرضو څخه زيات اجر لري.

(۲) په سلام اچولو كې شروع كول سنت دي او ددې جواب وركول فرض دي، دلته بې هم د سنتو ثواب د فرضو څخه زيات ښودلی دی.

(۳) د وخت نه وړاندې اودس كول مستحب دي او كله چې وخت داخل شي، نو بيا لمانځه ته اودس فرض دي، دلته بې هم د مستحبو اجر او ثواب د فرضو نه زيات ښودلی دی.

د تنګ لاسي سره نرمي كول

"وعن أبي مسعود البدري ﷺ قَالَ: قَالَ رسول اللهِ ﷺ: حُوسِبَ رَجُلٌ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، فَلَمْ يُوجَدْ لَهُ مِنَ الْخَيْرِ شَيْءٌ" د ابو مسعود بدري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو نه مخكې د يو سړي سره حساب وكړ شو، د هغه سره هيڅ نيک عمل نه وو، "إِلاَّ أَنَّهُ كَانَ يُخَالِطُ النَّاسَ وكَانَ مُوسِراً، وكَانَ يَأْمُرُ غِلْمَانَهُ أَنْ يَتَجَاوَزُوا عَنِ الْمُعْسِرِ" ليكن دومره خبره وه چې هغه به د خلكو سره اخستل خرڅول كول، مالداره

سړي ووا و خپلو بچيانو ته به يې ويل: بچو! د تنګ لاسي او غريب سړي سره سختي مه کوئ "قَالَ اللهُ ﷻ: نَحْنُ أَحَقُّ بِذٰلِكَ مِنْهُ، تَجَاوَزُوا عَنْهُ" الله ﷻ وويل: زه ډېر لائق او حقدار يم دده نه په دې کار سره، نو الله ﷻ هم ورسره اساني وکړه او معاف يې کړو. رواه مسلم

تشريح: رجلاً ممن کان قبلکم: ستاسو نه وړاندې په خلکو کې يو کس وو، ددې سړي مغفرت او بخښنه الله ﷻ صرف په دې وجه وکړه چې هغه به د خلکو سره ژوند کولو او په چا به يې چې قرض پاتې شو، نو نرمي به يې ورسره کول، په سختۍ به يې ترې مطالبه نه کول، ددې نه معلومه شوه چې کوم کس د ځان لپاره د الله ﷻ نه د عفو او بخښنې معامله غواړي، نو بايد چې هغه هم د خلکو سره نرمه معامله وکړي.

دا واقعه اګرچې په وړاندې امتونو کې تېره شوې وه، ليکن د هغه مثالي کردار په وجه رسول الله ﷺ د هغه عمل خوښ کړو او بيا يې خپل امت ته ددې عمل ترغيب ورکړو چې دا عمل الله ﷻ ته ډېر خوښ دی، د قيامت په ورځ به هم ددې عمل په وجه د انسان بخښنه کېږي.

الله ﷻ ډېر زيات معافي والا ذات دی

"وعن حذيفة ﷺ قَالَ: أُتِيَ اللهُ تعالى بِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِهِ آتَاهُ اللهُ مَالاً، فَقَالَ لَهُ: مَاذَا عَمِلْتَ فِي الدُّنْيَا؟ قَالَ: وَلاَ يَكْتُمُونَ اللهَ حَدِيثاً" د حذيفه ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: الله ﷻ ته د خپلو بندګانو څخه يو بنده راوستل شو کوم ته چې الله ﷻ ډېر زيات مال او دولت ورکړی وو. الله ﷻ ورته وفرمايل: په دنيا کې دې څه عمل وکړو؟ او حال دا چې د الله ﷻ نه خو څه پټ نه دي. "قَالَ: يَارَبِّ آتَيْتَنِي مَالَكَ، فَكُنْتُ أُبَايِعُ النَّاسَ" هغه کس وويل: اې الله ﷻ! تا ماته ډېر زيات مال راکړی وو، د خلکو سره به مې اخيستل خرڅول کول. "وَكَانَ مِنْ خُلُقِي الْجَوَازُ، فَكُنْتُ أَتَيَسَّرُ عَلَى الْمُوسِرِ، وَأُنْظِرُ الْمُعْسِرَ" زما عادت دا وو چې د خلکو سره به مې نرمي کول، د تنګ لاسي سړي سره به مې نرمي کول او غريب سړي ته به مې مهلت ورکولو. "فَقَالَ اللهُ تعالى: أَنَا أَحَقُّ بِذَا مِنْكَ تَجَاوَزُوا عَنْ عَبْدِي" الله ﷻ وويل: زه ډېر لائق او حقدار يم ددې نه په دې کار سره، زما بنده پرېږدئ او دده سره هم نرمي وکړئ! "فَقَالَ عُقْبَةُ بْنُ عَامِرٍ، وَأَبُو مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيُّ رضي الله عنهما: هٰكَذَا سَمِعْنَاهُ مِنْ فِي رَسُولِ اللهِ ﷺ" عقبة بن عامر ﷺ او ابو مسعود انصاري ﷺ وفرمايل: دغه رنګ موږ د رسول الله ﷺ د خولې مبارکې نه دا حديث اورېدلی دی. رواه مسلم

تشرح: ځوک چې په دې دنيا کې کوم شکل عمل کوي الله ﷻ به په هغې دنيا کې هم ورسره دغه شان عمل وکړي، په دې حديث کې ذکر شو چې يو مالدار سړي به د غريبانو سره نرمي کول، الله ﷻ هم ورسره نرمي وکړه، "قال عقبة بن عامر وابو مسعود الانصاري ﷺ هکذا سمعناه" عقبه بن عامر ﷺ او ابو مسعود انصاري ﷺ فرمايي: موږ دواړو دا حديث د رسول الله ﷺ نه اورېدلی دی، علامه ابن علان رحمه الله فرمايي: دا روايت صرف د ابو مسعود ﷺ څخه مروي دی، د علامه نووي رحمه الله دا خبره چې دا روايت د عقبه بن عامر ﷺ نه هم مروي دی، همدغه خبره په مسلم شريف کې هم ده، علامه نووي

Maktaba Tul Ishaat. com

رحمه الله دا روايت هم هغه شان رانقل کړی دی، ليکن حقيقت دا دی چې دا روايت د عقبه بن عامر رضي الله عنه نه روايت نه دی، دا ځکه چې په حقيقت کې د ابو مسعود رضي الله عنه نوم عقبه بن عامر دی، دلته يې يو راوي خالد احمر رحمه الله ته دا وهم وشو چې هغه د عقبه بن عمرو نه عقبه بن عامر جوړ کړو او بيا يې ابومسعود رضي الله عنه او عقبه بن عامر ځان ځانته کسان تصور کړل او حال دا چې دا دوه کسان نه دي، بلکې دواړه د يو کس دوه نومونه دي.

د عرش سيوری

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: مَنْ أَنْظَرَ مُعْسِراً، أَوْوَضَعَ لَهُ" د أبو هريره رضي الله عنه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کوم کس چې د تنګ لاسي او غريب سړي سره نرمي وکړي او يا ورته قرض معاف کړي، "أَظَلَّهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تَحْتَ ظِلِّ عَرْشِهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ" الله جل جلاله به يې د قيامت په ورځ د خپل د عرش تر سيوري لاندې راولي، په داسې ورځ باندې په کومه ورځ چې به بل سيوری نه وي، سوا د دې سيوري څخه. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: په دې حديث کې د تنګ لاس سړي سره د نرمی فضيلت بيان شوی دی، د قيامت په ورځ به لمر يو څو نيزې رانښکته وي او هر سړی به په خپلو خولو کې ډوب وي، د الله جل جلاله د عرش سيوري نه علاوه بل کوم سيوری به نه وي، په داسې ورځ به الله جل جلاله دغه کس د خپل سيوري لاندې راولي، نن سبا معامله برعکس ده، مالداره سړي ته خو موږ انتظار کوو، هغوی ته مهلت ورکوو، ليکن غريب سړي ته يو ساعت هم نه ګورو، بس سمدستي ورپورې نخلو، شابه زر راکړه! شابه زر راکړه! بيا وايو چې دا سړی قرض نه پرې کوي، حال دا دی چې دغه فضيلت به هغه چاته ملاويږي څوک چې غريب سړي ته مهلت ورکړي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم لږ زيات قيمت ورکړو

"وعن جابر رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم اشْتَرَى مِنْهُ بَعِيراً، فَوَزَنَ لَهُ فَأَرْجَحَ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم زما څخه يو اوښ واخيستلو، (په دوه اوقيو او يو درهم يا دوه درهمونو باندې واخيستلو) د هغه قيمت وزن کړی شو، (نو په تول کې پيسې کمې راغلې په دې سره نبي کريم صلى الله عليه وسلم تول درون کړو (زياتې روپۍ يې راته راکړې). متفق عليه.

تشريح: په دې حديث کې د دې خبرې تعليم ورکول کيږي چې کله څوک څه خرڅوي نو بايد چې ترازو درونه کړي او اخيستونکي ته هم تعليم دی چې څه اخلي نو لږ شان پيسې زياتې ورکړي، په دې طريقه به د يو بل سره مينه زياته شي، په دې حديث کې هم ذکر شو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم کله اوښ واخيستو، نو د خپل مقرره قيمت نه يې لږ زياتې پيسې ورکړې، په يو بل روايت کې دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو قيراط نه زيات ورکړل، ځينې محدثين فرمايي: په دې حديث کې يوې واقعې ته اشاره ده هغه دا چې په يو سفر باندې د جابر رضي الله عنه اوښ مزل نه کولو، رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه اوښ ته چيغه کړه، (کله چې

څاروی تېزولی شي، نو هغه ته لږ شان ديکه ورکول شي او آواز ورپسې کيږي) نو هغه اوښ تېز شو، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: دا اوښ په ما باندې خرڅ کړه، هغه خرڅ کړو، ليکن تر مدينې منورې پورې جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د سورلۍ کولو اجازت واخيستو، رسول الله ﷺ اجازت ورکړو. کله چې مدينې منورې ته راورسېدل، نو جابر ﷺ اوښ حواله کول وغوښتل، رسول الله ﷺ هغه قيمت هم ورکړو او د هغې نه يې لږ زيات هم ورکړو او هغه اوښ يې ورته هم واپس کړو.

رسول الله ﷺ پای جامه (پرتوګ) واخيستلو

"وعن أبي صفوان سُوَيْدِ بن قيس ﷺ قَالَ: جَلَبْتُ أَنَا وَمَخْرَمَةُ الْعَبْدِيُّ بَزًّا مِنْ هَجَرَ، فَجَاءَنَا النَّبِيُّ ﷺ، فَسَاوَمَنَا بِسَرَاوِيلَ" د

ابو صفوان بن سويد بن قيس ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې ما او مخرمه العبد په هجر کې تان (جوړه) واخيستله، نبي کريم ﷺ تشريف راوړو او يوه پايجامه (لنګ) يې واخيستلو. "وَعِنْدِي وَزَّانٌ يَزِنُ بِالأَجْرِ، فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ لِلْوَزَّانِ: زِنْ وَأَرْجِحْ" په دې وخت کې زما سره يو کس وو، هغه به وزن کولو، نبي کريم ﷺ هغه کس ته وويل: تول لږ ښکته کوه (رواه أبو داود، والترمذي وقال: حديث حسن صحيح.

تشريح: من هجر: هجر د بحرين سره نزدې د يو ځای نوم دی. "فساومنا بسراويل" د يوې پايجامې (پرتوګ) سودا يې زما سره شروع کړه، ددې نه معلومه شوه چې د يو شي سودا د اول نه کول پکار دي، بيا وروسته انسان ته پکې د چون او چرا او افسوس موقع نه وي، په دې سره جګړې او فساد هم ختميږي، که چېرته د اول نه يو شي واخلي، ليکن سودا يې ونه وي کړې، (مطلب نرخ دې معلوم نه کړو او تا راواخيستلو) نو بيا وروسته د فساد او جګړې امکان شته، په يو بل روايت کې دي چې هغه پرتوګ رسول الله ﷺ په څلور درهمه اخيستی وو، د جمهورو محققينو په نزد پرتوګ اخيستل د رسول الله ﷺ نه خو ثابت دي، ليکن استعمالول يې په کوم صحيح سند سره ثابت نه دي، په دې حديث کې د رسول الله ﷺ کمال تواضع او عاجزی ته اشاره ده چې خپله ځي او سودا اخلي.

زن وأرجح: وزن کوه او تله درنوه (ددې نه معلومه شوه چې اخيستونکي ته پکار دي چې لږ د قيمت نه زيات ورکړي چې په دې سره به د يو بل په زړونو کې مينه او محبت زيات شي او په دې سره به په معاشره باندې ښه اثرات پرېوځي.

د راوي صفوان بن سويد بن قيس ﷺ حالات:

اصل نوم سويد ﷺ ده، د پلار نوم يې قيس ده، کنيت ابن صفوان ده، په آخري وخت کې کوفې ته منتقل شو. لدوی ﷺ نه څلور روايات نقل دي.

Maktaba Tul Ishaat. com

كتابُ العِلم

دعلم بيان

باب فضل العلم تعلماً وتعليماً لله

دعلم درس او تدريس فضيلت

"قَالَ اللّٰهُ تعالىٰ" الله ﷻ فرمايي: "وَقُلْ رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا" په دعاء کې وايه چې اې الله ﷻ! زما په علم کې اضافه وکړې! [طه:۱۱۴]

تشريح: کله چې به عبد الله بن مسعود ﷺ دغه آيت لوستلو، نو داسې دعاء به يې کول "اللهم زدني علماً وإيماناً ويقيناً" اې الله ﷻ! زما په علم، ايمان او يقين کې اضافه وکړې، الله ﷻ د بو شي د زياتوالي حکم نه دی کړی، سېوا د علم نه چې ددې د زياتوالي حکم يې کړی دی، په ځينو رواياتو کې دي چې رسول الله ﷺ به داسې دعاء کول "اللهم انفعني بما علمتني، وعلمني ما ينفعني وزدني علماً والحمد لله على كل حال" په يو بل روايت کې د : "واعوذ بالله من حال النار" الفاظ هم نقل شوي دي، په علم کې ترقي کولو لپاره شريعت د دعاء امر کړی دی، ځکه چې د علم پرته د انسانيت تکميل نه کيږي، په همدې سره انسان خپل حقيقي مالک پېژندلی شي، شعر:

چو شمع از پے علم باید گداخت :::: کہ بے علم نتواں خدا را شناخت

عالم او جاهل برابر نه دي

"وقال تعالىٰ" الله ﷻ فرمايي: "قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ" اې پېغمبره! ته ورته ووايه چې ايا کوم خلک چې پوهيږي او هغه خلک چې نه پوهيږي، دوی برابر دي؟ نه! [الزمر:۹]

تشريح: دلته يې سوال انکاري وکړو چې دا دواړه طبقې برابر نه دي، کوم چې حقيقي عالمان دي دا هغه دي چې د الله ﷻ جلالي او جمالي صفات مني، د هغه له عذابه ويريږي، د هغه د رحمت طمع ساتي، بل هغه خلک دي چې نه د الله ﷻ جلالي او جمالي صفات مني او نه د الله ﷻ نه ويريږي او نه د هغه د رحمت طمع ساتي، نو پوښتنه کيږي چې ايا دا دواړه قسمه خلک برابر دي؟ جواب به خامخا په نفي سره وي، ځينې علماء فرمايي: دا جمله بطور تاکيد ده، خو بطور تنبيه هم ده، يعني لکه څرنګه چې عالم او جاهل برابر نه دي، دغه شان نافرمان او فرمانبردار خلک هم برابر نه دي، د تفسير قرطبي رحمه الله مصنف فرمايي: په دې آيت کې هغه عالمان مراد دي چې علم يې حاصل کړی وي او بيا يې عمل پرې کړی وي، ليکن هغه ملايان چې علم يې کړی وي، ليکن عمل يې پرې نه وي کړی، نو هغه د جاهل په شان دي، بلکې د جاهل نه هم زيات بدتر دي، په ځينو رواياتو کې دي چې د "الذين يعلمون" نه مراد عمار بن ياسر ﷺ دي او د "الذين لايعلمون" نه مراد ابو حذيفه مخزومي دی

د علماوو درجې او فضيلت

" وقَالَ تعالَى" الله ﷻ فرمايي : "يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ" الله ﷻ د هغو کسانو درجې اوچتوي کومو چې ايمان راوړی دی او کومو ته چې علم ورکړل شوی دی، د هغوی لپاره درجې دي [المجادلة:۱۱]

په دې آيت کې د عالمانو نه مراد هغه علماء دي چې عالم باعمل وي، يعنې الله ﷻ به د هغو علماوو درجې اوچتوي کوم چې باعمله وي، دا ځکه چې يو خو يې د علم په وجه درجې اوچتيږي، بل دا چې خلکو ته يې د دين لار وښودل او هغوی پرې عمل وکړو، نو تر څو چې دوی په دې سمه لار او په دين روان وي، تر هغه پورې به دې عالم ته هم اجر ملاويږي.

حسن بصري رحمه الله فرمايي : عبد الله بن مسعود رضي الله عنه به دا آيت ويلو او فرمايل به يې : اې خلکو! ددې آيت په مطلب ځان پوه کړئ، دا علم طرفته رغبت ورکوي، الله ﷻ فرمايي : هغه مسلمان چې عالم وي د ناواقف او جاهل مؤمن نه يې درجې زياتي دي، دا ځکه چې علم د ټولو عبادتونو بنياد دی، پاتې نور ټول عبادات فروعات دي، په قرآن کريم کې دې طرفته څو ځله اشاره شوې ده.

علماء د الله ﷻ نه ويريږي

"وقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي : "إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ" بې شکه د الله ﷻ څخه هغه خلك ويريږي او خوف کوي چې عالمان دي [فاطر:۲۸].

ددې آيت باره کې مجاهد رحمه الله او شعبي رحمه الله فرمايي : "العالم من خاف الله" عالم هغه چاته وايي چې د الله ﷻ نه ويريږي، ربيع بن انس رحمه الله به فرمايل "من لم يخش الله فليس بعالم" څوك چې د الله ﷻ نه، نه ويريږي، هغه عالم نه دی، دغه شان شيخ شهاب الدين سهروردي رحمه الله فرمايي: په کوم کس کې چې خشيت الهي نه وي هغه له سره عالم نه دی.

حسن بصري رحمه الله مشهور تابعي دی، ددې آيت په تفسير کې فرمايي: عالم هغه دی چې په خلوت او جلوت دواړو حالاتو کې د الله ﷻ نه ويريږي، د کوم شي ترغيب چې الله ﷻ ورکړی وي هغه دده مرغوب شی وي او د کوم شی نه چې الله ﷻ منع فرمايلې وي هغه ده ته په ټولو شيانو کې مبغوض وي، د هغه نه نفرت کوي، د قرآن کريم په ګڼ شمير ايتونو کې د علم فضيلت بيان شوی دی، مونږ يې دلته يو څو ايتونه ذکر کوو:

كقوله تعالى: شهد الله انه لا اله الا هو والملائكة واولوا العلم قائماً بالقسط.

قال الله تعالى: قل كفى بالله شهيداً بيني وبينكم ومن عنده علم الكتاب.

قال الله تعالى: قال الذي عنده علم من الكتاب انا اتيك به.

قال الله تعالى: وقال الذين اوتوا العلم ويلكم ثواب الله خير لمن آمن وعمل صالحاً.

قال الله تعالى: وتلك الامثال نضربها للناس وما يعقلها الا العالمون.

قال الله تعالى: ولو ردوا الى الرسول والى أولى الأمر منهم لعلمه الذين يستنبطونه منهم الخ.

Maktaba Tul Ishaat. com

قال الله تعالى: يبنى آدم قد انزلنا عليكم لباساً يوارى سوآتكم.
قال الله تعالى: ولقد جئناهم بكتاب فصلنه على علم.
قال الله تعالى: بل هو آيت بينات فى صدور الذين اوتوا العلم.
قال الله تعالى: خلق الانسان علمه البيان.

تر ټولو غوره انسان

"وعن معاوية ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: مَنْ يُرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِى الدِّيْنِ" د معاويه ﷺ نه روايت دی
هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د کوم کس سره چې الله ﷻ د خير اراده وکړي، هغه ته الله
ﷻ په دين کې پوهه ورنصيب کړي. متفقٌ عَلَيْهِ

تشريح: ددې حديث مطابق مضمون په يو بل روايت کې هم شته، په شرح السنة کې سفيان
ثوري رحمه الله دا قول نقل کړی دی چې: د طالب علم نه افضل او غوره انسان بل نشته
په يو بل روايت کې دي چې: کله الله ﷻ د کوم انسان سره د خير اراده وکړي، نو په ده
کې درې صفات پيدا کړي: (۱) د دين پوهه، (۲) د دنيا څخه بيزاري، (۳) او په خپلو عيبونو
باندې نظر ساتل.
د حديث مطلب دا دی چې د کوم انسان سره الله ﷻ د خير اراده وکړي، نو هغه ته د دين په
مسئلو کې ژور نظر او عميق فهم ورنصيب کړي، مثلاً يو حديث وي، ددې حديث په فهم کې مختلف
ذهنونو والا اشخاص مخې ته راځي، ځينې بې صرف ددې په ظاهري مطلب پوهيږي، عميق فهم او
ذکاوت ورسره نه وي، ځينې ددې حديث په مسئلو کې ژور نظر ساتي چې هغوی ترې په سلګونو
نورې مسئلې راوباسي، غرض دا چې چا ته تفقه في الدين حاصله شي، هغه نېک مرغه انسان دی.
سوال: ددې حديث نه دا معلومه شوه چې خير او ښېګڼه صرف په (تفقه في الدين) کې منحصره
ده، يعنې فقهاء کرام د ښېګڼې خلک دي، حال دا چې د خير کارونه خو د فقهاوو نه علاوه نور خلک
هم کوي؟
جواب: اولنی جواب دا دی چې په (خيراً) کې تنوين د تعظيم لپاره دی، مطلب دا چې الله ﷻ
ډېره زياته ښېګڼه چې د چا سره کول غواړي، هغوی ته تفقه في الدين ورنصيب کړي.
دويم جواب: دا دی چې په (خيراً) کې تنوين د تنکير لپاره دی، ليکن دلته بې کلام (تنزيل
الناقص بمنزلة المعدوم) د قبيلې څخه دی، مطلب دا چې په غير فقهاء کې هم الله ﷻ د خير او
ښېګڼې ماده ايښې ده، ليکن هغوی د فقهاوو په مقابله کې دومره ناقص دي چې هغوی بيخي د سره
په نشت باندې حساب دي

دوه شيان قابل د پسخېدو دي

"وعن ابن مسعود ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: لَاحَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَتَيْنِ" د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: حسد نه دی جائز، مګر په دوه کسانو باندې "رَجُلٌ آتَاهُ اللهُ مَالاً فَسَلَّطَهُ على هَلَكَتِهِ فِي الحَقِّ" يو هغه کس چې الله ﷻ ورته مال او دولت ورکړی وي، دغه کس خپل مال په حق لارو کې مصرف کوي، "وَرَجُلٌ آتَاهُ اللهُ الحِكْمَةَ، فَهُوَ يَقْضِي بِهَا وَيُعَلِّمُهَا" دويم هغه کس چې الله ﷻ علم او حکمت ورکړی وي، نو دغه کس د خپل علم مطابق خلکو ته فيصلې کوي او دغه علم بل چاته ښيي متفقٌ عَلَيْهِ

والمراد بالحسد: الغِبْطَةُ، وَهُوَ أَنْ يَتَمَنَّى مِثْلَه: دلته د حسد نه مراد غبطه ده، هغه دا چې سړی ارمان وکړي چې زه هم دده په شان شم.

تشريح: لاحسد إلا في اثنين: د حديث ظاهري مطلب دا دی چې حسد دوه کسانو ته جائز دی، حال دا چې د نورو روايتونو څخه معلوميږي چې حسد مطلقاً حرام دی، اصلي مسئله دا ده چې دلته يې حسد د غبطې په معنى باندې استعمال کړی دی، حسد دېته وايي چې چاته الله ﷻ يو نعمت ورکړی وي او ستا په زړه کې دا ارمان پيدا شي چې دا نعمت دې خدای ترې واخلي، که الله ﷻ يې ماته راکوي او که نه، غبطه بيا دې ته وايي چې د چا سره يو نعمت وي، نو ته هم ارمان وکړې چې اې الله! ماته يې هم راکړې او دده سره يې هم باقي پاتې کړې، معلومه شوه چې حسد حرام او غبطه جائز ده

دويم جواب دا دی چې حسد په خپله حقيقي معنى کې مستعمل دی، ليکن دا کلام برسبيل فرض او تقدير دی، مطلب دا چې که حسد جائز وای، نو په دې دوه شيانو به حسد جائز وو.

يا دا مطلب دی چې لکه څرنګه علامه طيبي رحمه الله او علامه تورپشتي رحمه الله فرمايي: دلته د حسد نه مراد شدت حرص او حسن طلب دی، لکه څرنګه چې دا شی هم مفضي الحسد جوړيږي، نو ځکه يې دلته په حسد سره ترې تعبير وکړو، يا ځينو نورو علماوو دا فرمايلي دي چې که کوم ديني مصلحت پکې وي، نو بيا حسد جائز دی، لکه څرنګه چې د کذب په باره کې راغلي دي

مالا فسلطه: په مالاً کې تنوين دی، مطلب دا چې که لږ مال وي او که زيات وي، په هر حال کې يې خرچ کول پکار دي، د حق قيد لګېدو مطلب دا چې د حق په کارونو کې خپل مال خرچ کول پکار دي، اکثر وخت ليدل کيږي چې کوم مالداره خلک وي، دوی يې د ګناهونو او فسق و فجور په کارونو کې خرچ کوي

آتاه الله الحكمة: د حکمت نه مراد علم دی يا قرآن دی، ځکه چې د ابن عمر رضي الله عنه په روايت کې د "رجل اتاه الله القرآن" الفاظ هم شته، دواړه چې سره جمع کړل شي، نو ددې نه د قرآن کريم فهم مراد کيږي، مطلب دا چې که د خپل ځان باره کې شي او که د بل باره کې وي، خو فيصله د قرآن مطابق کوي

Maktaba Tul Ishaat. com

د علم نه فایده اخیستونکي خلکو قسمونه

"وعن أبي موسى ﷺ، قَالَ: قَالَ النبيُّ ﷺ: مَثَلُ مَا بَعَثَنِي اللّٰهُ بِهِ مِنَ الْهُدَى وَالْعِلْمِ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَصَابَ أَرْضاً" د ابو موسى اشعري ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: د هغه علم او هدايت مثال په كوم سره چې الله ﷻ زه رالېږلى يم، هغه داسې دى لكه په ځمكه باندې چې باران وشي، "فَكَانَتْ مِنْهَا طَائِفَةٌ طَيِّبَةٌ قَبِلَتِ الْمَاءَ فَأَنْبَتَتِ الْكَلَأَ، وَالْعُشْبَ الْكَثِيرَ" په دې ځمكه كې ځيني داسې ځايونه وي چې ښكلي او ښايسته وي، اوبه ځانته لاندې جذب كړي چې ددې په ذريعه ګياه او ونې بوټي شنه او زرغون شي. "وَكَانَ مِنْهَا أَجَادِبُ أَمْسَكَتِ الْمَاءَ، فَنَفَعَ اللّٰهُ بِهَا النَّاسَ، فَشَرِبُوا مِنْهَا وَسَقَوْا وَزَرَعُوا" او په دې ځمكه كې ځيني داسې ځايونه وي چې د ډنډونو په شكل وي، په دې كې اوبه دريږي، ډنډ ترې جوړ شي، نو په دې سره خلكو ته الله ﷻ فايده ورسوي، خلک يې هم ترې څښي، خپلو څارويو ته يې هم وركوي او فصلونه هم ورباندې اوبه كوي. "وَأَصَابَ طَائِفَةً مِنْهَا أُخْرَى إِنَّمَا هِيَ قِيعَانٌ لَا تُمْسِكُ مَاءً وَلَا تُنْبِتُ كَلَأً" او په دې ځمكه كې ځيني ځايونه داسې وي چې بالكل دښته او بيابان وي، نه پكې اوبه دريږي چې ډنډ ترې جوړ شي او خلک ترې فايده واخلي او نه پكې څه شنه زرغونه كيږي. "فَذَلِكَ مَثَلُ مَنْ فَقُهَ فِي دِينِ اللّٰهِ، وَنَفَعَهُ مَا بَعَثَنِي اللّٰهُ بِهِ، فَعَلِمَ وَعَلَّمَ" نو دا د هغې مثال دى چې چاته الله ﷻ په دين كې پوهه ورنصيب كړي او ده ته الله ﷻ په هغه هدايت سره فايده ورسوي په كوم سره چې زه الله ﷻ رالېږلى يم، خپله هم زده كړي او نورو ته يې هم وښيي، "وَمَثَلُ مَنْ لَمْ يَرْفَعْ بِذَلِكَ رَأْساً، وَلَمْ يَقْبَلْ هُدَى اللّٰهِ الَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ" او مثال د هغه چا دى چې دغه هدايت ته بالكل غاړه نه ږدي او نه هغه هدايت قبول كړي په كوم هدايت سره چې زه الله ﷻ رالېږلى يم. متفق عليه

تشريح: د وحى مثال رسول الله ﷺ د باران سره تشبيه كړى دى، كله چې په كومه ځمكه باران وشي، نو ځمكه په درې ډوله شي دغه شان چې علم او هدايت راشي، نو خلک هم په دوه ډوله شي

اول قسم: باران چې په صفا او پاكه ځمكه وشي، نو ځمكې ته هم فايده ورسيږي چې ددې نه سبزيانې راشنې شي، بل دا چې ددې سبزيو نه نورو خلكو ته هم فايده ورسيږي، دغه شان د هدايت راتلو وروسته ځينو خلكو علم حاصل كړو او عمل يې هم پرې وكړو، نورو ته يې هم ورسولو، نو دغه كس د علم نه خپله هم فايده واخيسته او نورو ته يې هم فايده ورسول، ددې مثال: ائمه اربعه

دويم قسم: په ځيني ځمكه باران وشي چې خپله ترې فايده حاصله نه كړي، يعنې واښه او سبزيانې وغيره پكې ونه شي، ليكن دومره سخته وي چې په هغې كې اوبه دريږي، ډنډونه پكې جوړ شي چې نورو خلكو ته يې فايده ورسيږي، نو د هدايت راتلو وروسته يې علم حاصل كړو، ليكن خپله يې پرې عمل ونه كړو ليكن نورو ته يې ورسولو، نو دا كس په خپله د علم نه منتفع نه شو، ليكن نورو خلكو دده نه فايده واخيسته

دريم قسم: د ځمكې هغه برخه چې باران پرې وشي، نو هغه داسې ځمكه وي چې نه پرې اوبه دريږي چې ډنډونه پكې جوړ شي، نه پكې سبزيانې او واښه وغيره كيږي چې خپله ترې منتفع شي، نو

دغه شان د هدايت راتلو نه وروسته د ځينو خلکو حالت داسې وي چې په يو غوږ يې واوري او په بل يې وباسي، نه خپله د هدايت نه فايده اخلي او نه نور خلك د د پنه فايده اخلي

هدايت د سرو اوښانو څخه غوره دی

"وعن سهل بن سعد ﷺ: أن رسول الله ﷺ، قَالَ لِعَلِيٍّ ﷺ: فَوَاللهِ لأَنْ يَهْدِيَ اللهُ بِكَ رَجُلاً وَاحِداً" د سهل بن سعد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ علي ﷺ ته وفرمايل: قسم په الله ﷻ چې که ستا په ذريعه الله ﷻ چېرته يو کس ته هدايت نصيب کړي، "خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ يَكُونَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ" دا به ستا لپاره د سرو اوښانو نه ډېر زيات غوره وي. متفقٌ عَلَيْه

تشريح: دا خبره علي ﷺ ته رسول الله ﷺ هغه وخت وکړه کله چې علي ﷺ د خيبر په طرف جهاد ته روان ؤ، هغه دا چې د جنگ نه وړاندې دوی ته د دين اسلام دعوت ورکړه، که په دې کافرانو کې يو کس هم مسلمان شو، نو دا به ستا لپاره د سرو اوښانو نه زيات غوره وي، د چاسره چې سره اوښان وي هغه به په هغې زمانه کې ډېر زيات مالداره تصور کېدو، د قيامت په ورځ به زيات مالداره هغه کس وي چې د چا په لاس يو کافر مسلمان شوی وي، د سرو اوښانو ذکر يې ځکه وکړو چې په هغه زمانه کې سره اوښان ډېر زيات گران قيمت وو، ليکن که حقيقت ته نظر وکړل شي، نو ددې فاني دنيا سره اوښان چې هر څومره ښه شي، خو بيا هم د آخرت ابدي ژوند په بدله کې هيڅ نه دي

لنډه خبره رسول

"وعن عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ، قَالَ: بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً" د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما له لورې خلکو ته هدايت ورسوئ اگرچې يو آيت ولې نه وي، "وَحَدِّثُوا عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَلَا حَرَجَ" او د بني اسرائيلو نه بيانوئ او په دې کې گناه نشته، "وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّداً فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ" خو کوم کس چې په ما پورې قصدا دروغ وتړي، نو داسې کس قصدا خانته په جهنم کې کنده تيار وي. رواه البخاري

تشريح: ولو آية: لفظ د (آية) خبر دی د (کان) محذوف لپاره، لفظ د (کان) او د هغه اسم محذوف دی، تقديري عبارت داسې دی: "ولو کان المبلغ آية" د آيت نه مراد يا د قرآن کريم آيت دی او يا ترې (الکلام المفيد) يعنې د فايدې خبره مراد ده، په دې صورت کې به د دين هره خبره د حديث په مفهوم کې داخله شي، د آيت تخصيص د اهميت په اعتبار سره شوی دی، علماء فرمايي: کله کله يوه وړه او مختصره خبره د انسان د هدايت ذريعه جوړه شي

سوال: د حديث نه معلومه شوه چې صرف د قرآن کريم تبليغ کول جائز دي د حديثو جائز نه دي؟

جواب: د قرآن کريم د تبليغ حکم پکې شوی دی، ليکن د حديثو د تبليغ نفي پکې نشته، بل جواب دا دی چې د آيت نه لغوي آيت مراد دی، يعنې علامه او دليل، دا قرآن کريم، حديث نبوي او فقه

Maktaba Tul Ishaat. com

ټولو ته شامل دی، دريم جواب دا دی چې د (ولوآية) نه مراد مفيده او ښکلې خبره مراد ده، يعني عام مفهوم ترې مراد دی، نو په دې کې حديث خپله داخل شو.

حدثوا عن بني اسرائيل ولاحرج: د بني اسرائيلو خبرې نقل کوئ، په دې کې هيڅ ګناه نشته

سوال: عمر ﷛ يو ځل تورات کتلو، کله چې رسول الله ﷺ وليدو چې دی تورات ګوري نو ډېر سخت خپه شو، حال دا چې دلته د اسرائيليات نقل کولو حکم خپله رسول الله ﷺ ورکوي؟

جواب: په حديث کې د اسرائيليات نقل کولو نه مراد قصص، نصائح وغيره د عبرت په توګه دي، د کوم شي نه بې چې عمر ﷛ منع کړو، هغه احکامات دي چې اوس منسوخ شوي دي، ددې نقل کول حرام دي، خلاصه دا شوه چې اسرائيلي احکامات نقل کول منع دي، عبرت او کيسې د عبرت په توګه نقل کول جائز دي.

من كذب علي متعمدا: کوم خلک چې په رسول الله ﷺ پورې د ځانه حديثونه ترې، داسې کسان د خدای ځخه نه ويرېږي، کنه د (ويل) جهنم کنده د دوی لپاره تياره ده، اوس په دې کې اختلاف دی چې ايا وضع الحديث (د ځانه حديثونه جوړول) کفر دی او که نه؟ ابو محمد جويني ﷫ فرمايي: له ځانه حديث جوړول صفا کفر دی، ليکن د جمهورو علماوو او امام الحرمين ﷫ رايه دا ده: که څوک وضع الحديث حلال ګڼي، نو کافر دی او که حرام يې ګڼي، بيا هم له ځانه حديثونه جوړوي، نو فاسق او سخت ګناهګار دی، ځينو جاهلو صوفيانو د ترغيب او ترهيب لپاره موضوعي احاديث جائز ګڼلي دي، ليکن جمهور علماء په دوی باندې په سختۍ سره رد کوي.

د طالبانو لپاره زېرې

"وعن أبي هريرة ﷛: أن رسول الله ﷺ، قال: وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقاً يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْماً" د ابو هريره ﷛ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې په يوه داسې لار روان شي په کومه لار چې علم حاصلېږي، "سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ طَرِيقاً إِلَى الْجَنَّةِ" الله ﷻ به ده ته د جنت لاره آسانه کړي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

سلك: سلك يسلك سلكا وسلوكا: ددې معنی ده: اتباع کول، په يوه لاره تلل

تشريح: په دې حديث کې د دين طالبانو ته يو خوندور زېری دی، کوم طالب چې خپل، پردې، کور، کلی او خواږه ياران پرېږدي او د دين د زده کړې لپاره ځ ېرته سفر کوي، نو ده ته ددې رياضت او تکليف او سختۍ په وجه الله ﷻ د جنت لار اسانه کوي

يا دا مطلب چې کوم طالب د دين په حصول کې کوم تکليفونه او ګړاوونه وزغمل، نو الله ﷻ به ددې په بدله کې ورته په علم باندې د عمل کولو توفيق ورنصيب کړي، کله چې هغه په خپل علم باندې عمل وکړي، نو الله ﷻ ورته د جنت لارې آسانه کوي، يا دا چې صرف علم يې زده کړو، نو ددې علم د زده کړې په وجه به يې الله ﷻ جنت ته داخل کړي

د ښه كار لارښود ته كول

"وعنه أيضاً رضي الله عنه: أنّ رسول الله ﷺ قَالَ: مَنْ دَعَا إِلَى هُدىً كَانَ لَهُ مِنَ الأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې كوم سړى بل سړي ته د هدايت لار ښيي، نو ده ته به دومره اجر ملاويږي څومره خلک چې د هدايت په لاره باندې روان وي، "لاَيَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيئاً" او د دې خلكو د عمل نامې به څه هم كم نه شي رواه مسلم

تشريح: په يو بل روايت كې دي چې معاذ بن انس جهني رضي الله عنه د رسول الله ﷺ دا حديث نقل كړى دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل كوم كس چې نورو ته د دين علم ورښي، د دې برابر ثواب به هغه ته هم ملاويږي، تر څو چې يو كس هم دده په ښودل شوي علم باندې عمل كوي.

دا د الله ﷻ يو ځانګړى انعام دى چې څوک بل چاته علم ښيي او هغه پرې عمل كوي، نو ده ته يې برابر ثواب حاصليږي، په يو بل روايت كې دي چې: "من دل على خير فله مثل أجر فاعله" كوم كس چې بل چاته د يو نېک عمل لار ښيي، نو دغه ښوونكي ته به پوره پوره ثواب ملاويږي، تر څو چې په هغې عمل كيږي.

د دې حديث نه دا معلومه شوه چې چا بل چاته دعوت وركړو او هغه پرې عمل كوي، نو ده ته يې هم برابر ثواب ملاويږي، ليكن په يو بل روايت كې دي چې څوک بل چاته د نېک عمل كولو هدايت وركوي او د بدو اعمالو څخه يې منع كوي، نو دا عمل دده لپاره صدقه ده. د دې نه معلومه شوه چې څوک بل چاته د نېک عمل لاره ښيي او د بديو څخه يې منع كوي، نو خالص په دې تبليغ باندې به هم ورته اجر ملاويږي، كه هغه پرې عمل كوي او كه نه. انسان ته پكار دي چې بل ته برابر نصيحت كوي كه هغه پرې عمل كوي او كه نه.

يو څو رواني / جاري صدقې

"وعنه قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: إِذَا مَاتَ ابْنُ آدَمَ انْقَطَعَ عَمَلُهُ إِلاَّ مِنْ ثَلاَثٍ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې انسان مړ شي، د هغه عملنامه بنده شي، ليكن درې قسمه شيان دي چې د دې اجر به د مرګ وروسته هم وركول كيږي: "صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ" يوه صدقه جاريه ده چې د دې اجر به د مرګ نه وروسته هم ورته ملاويږي، "أَوْعِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ" يا هغه علم دى چې خپور كړى يې وي او خلک ترې فايده اخلي، "أَوْوَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُولَهُ" او يا هغه نېک عمله بچي دي چې د مرګ وروسته د پلار پسې دعاګانې كوي رواه مسلم

تشريح: ډېرې اعمال داسې دي چې تر څو يې په خپله كوي، نو د هغې اجر ورته ملاويږي، مثلاً روژه، لمونځ او اودس وغيره، ليكن ډېرې اعمال داسې دي چې د هغې ثواب خو په دنيا كې پرېږده چې د مرګ وروسته هم ملاويږي، دې ته صدقه جاريه وايي. په حديث كې درې قسمه جاري صدقې ذكر شوي دي

Maktaba Tul Ishaat. com

سوال: په دې حدیث کې درې جاري صدقې بیان شوي دي، په یو بل روایت کې اوه، ۷ ذکر دي؟

جواب: دلته بې حصر مقصود نه دی، په دې حدیث کې یو څو ذکر شوي دي، په بل حدیث کې نورې ذکر شوي دي.

(۱): کوم کس چې په خپل ژوند کې یو داسې شی وقف کړي چې تر څو هغه شی موجود وي، نو د هغې برابر ثواب به ده ته هم ملاویږي، لکه د کوهي ویستل شو، بیا یې د الله ﷻ لپاره وقف کړي، یا تالاب جوړ کړي بیا یې د الله تعالی په نوم وقف کړي یا د قرآن کریم نسخې وقف کړي.

(۲) علم نافع دی، یعنې کوم کس چې خپله علم زده کړي او نورو ته یې هم وښيي، نو تر څو چې دا سلسله چلیږي، تر هغې به ده ته ددې ثواب ملاویږي، اګر چې هغه به مړ پروت وي.

(۳) نېک اولاد چې ده ته دده د مرګ وروسته دعاګانې کوي.

د نیا ملعونه ده، لیکن یو څوشیان ملعون نه دي

"وعنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يقول: الدُّنْيَا مَلْعُونَةٌ، مَلْعُونٌ مَا فِيهَا" د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دی هغه فرمایي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمایل یې: توله دنیا ملعونه ده او کوم څه چې په دې کې دي هغه ټول ملعون دي، "إِلاَّ ذِكْرَ اللهِ تعالى، وَمَا وَالاَهُ" لیکن د الله ﷻ ذکر او کوم څه چې ددې سره تعلق ساتي، "وَعَالِماً، أَوْ مُتَعَلِّماً" عالم او یا متعلم (طالب علم) دا ټول ددې نه خارج دي. رواه الترمذی، وقَالَ: حديث حسن.

قوله: وَمَا وَالاَهُ: أيْ طَاعة الله: د (ما والاه) مطلب دا دی چې د الله ﷻ طاعت او تابعداري کوي.

لغوي تحقیق:

الدنیا: دنی یدنی دنوا: ددې معنی ده: مرداره او خراب شی.

تشریح: په ګڼ شمیر احادیثو کې د دنیا مذمت بیان شوی دی، مثلاً: په یو حدیث کې دي چې د دنیا څخه ځان وساتئ؛ ځکه چې دا د هاروت او ماروت نه هم زیاته جادوګره ده، په یو بل روایت کې دي چې د دنیا مینه او محبت د هرې بدۍ جرړه ده، یو ځل رسول الله ﷺ د یوې داسې مردارې چیلۍ په خوا کې تېر شو چې د هغې غوږونه سترګې وغیره پرې شوي وو، سخت بد بوی ترې روان ؤ، رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک شته چې زما څخه دا چیلۍ په یو درهم واخلي؟ صحابه کرامو عرض وکړو چې یارسول الله ﷺ! دا خو څوک مفته هم نه اخلي، رسول الله ﷺ بیا وفرمایل: په الله ﷻ قسم! چې د دنیا قدر او قیمت د الله ﷻ په نزد ددې چیلۍ برابر هم نه دی.

إلا ذکر الله: ددې دنیا په شیانو کې یو څو شیان ترې مستثنی دي: اول یکې د الله ﷻ ذکر دی، ملا علي قاري رحمه الله فرمایي: د الله ﷻ ذکر یا حقیقتا مراد دی یعنې په ژبه د الله ﷻ ذکر کول یا مجازا مراد دی، یعنې د الله ﷻ د احکاماتو تعمیل کول.

دويم شی: وما والاه: ددې دوه معناګانې دي: هر هغه شی چې د الله ﷻ د ذکر سره يې نږدې کوي، يا يې خپله د الله ﷻ سره نږدې کړي

دريم شی: عالم يعنې مدرس او متعلم يعنې طالب علم، دا يې جدا ذکر کړل، وجه يې خصوصيت او اهتمام دی.

د عالم او متعلم فضيلت:

د عالم او متعلم فضيلت په ډېرو احاديثو کې ذکر دی، مثلاً په يو روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د عالم فضيلت په عابد باندې داسې دی لکه زما فضيلت چې په تاسو کې په يو ادنی امتي باندې دی.

د عمر رضي الله عنه مقوله ده چې قائم الليل او صائم النهار په زرګونو عابدانو مرګ د هغه عالم په مقابله کې هيڅ دی چې حلال او حرام پېژني او هوښيار انسان وي.

د طالب د فضيلت باره کې قتاده رحمه الله فرمايي: د علم داسې باب چې په هغې کې انسان د خپل ځان او نفس اصلاح زده کړي، نو دا د يو کال د عبادت ځخه غوره دي، حسن بصري رحمه الله فرمايي: د علم يو باب زده کول او په دې باندې عمل کول د دنيا او مافيها نه غوره دي.

په باب کې ذکر شوی حديث محدثينو د جوامع الکلم ځخه شمار کړی دی.

د طالبانو مرتبه

"وعن أنس رضي الله عنه قال: قال رسولُ الله ﷺ: مَنْ خَرَجَ فِي طَلَبِ العِلْمِ فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَرْجِعَ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د علم حاصلولو په طلب پسې ووځي، هغه کس د الله ﷻ په لار کې دی تر څو چې خپل کور ته نه وي راغلی. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې کوم طالب ټول خوندونه پرېږدي، مور پلار، ورونه او خويندې، کور - کلی پرېږدي او د دين د علم په حصول کې بوخت شي، بيا برابره خبره ده چې فرض عين علم پسې وتلی وي يا فرض کفايه پسې وتلی وي، په دواړو صورتونو کې دې طالب ته د مجاهد في سبيل الله برابر ثواب ملاوېږي، دا ځکه چې يو مجاهد في سبيل الله خالص په دې نيت د کفارو مقابله کوي چې يا خو به د الله ﷻ قانون د الله ﷻ په ځمکه کې نافذ شي او يا به د خپل سر ځخه تېرېږم، بعينه همدغه جذبه د يو طالب په زړه کې هم وي چې زه به د دين علم زده کوم چې کورته واپس راشم، نو خلک به د شيطان په لاره نه پرېږدم او د دوی اصلاح به کوم چې شيطان پرې ذليله شي، بله وجه يې دا ده چې کله دی د کور نه وتلو، نو په داسې حال کې وو چې د نبوت علم ورسره نه وو او کله چې کورته واپس راځي، نو د نبوت د علم تاج يې په سر دی.

Maktaba Tul Ishaat. com

د عالم فضيلت په عابد باندې

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه، عن رسول الله ﷺ، قال: لَنْ يَشْبَعَ مُؤْمِنٌ مِنْ خَيْرٍ حَتَّى يَكُونَ مُنْتَهَاهُ الْجَنَّةَ" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل مسلمان سړى ځان په نېکيو باندې تر هغه پورې نه مړوي تردې چې اخري ځاى يې جنت نه وي. رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: دلته د عالم نه هغه عالم مراد دى چې صرف د دين فرض په ځاى راوړي او باقي نور ټول وخت خلكو ته د دين په ورزده كولو كې تېروي، د عالم فضيلت په عابد څكه زيات دى چې عابد عبادت كوي، نو د عبادت فايده يې صرف هغه ته رسيږي، نورو ته يې هيڅ فايده نه وي او عالم چې علم زده كړي، نو د علم فايده يې نورو ته هم رسيږي. "إن الله وملئكته وأهل السموات والأرض" په اسمان او ځمكه كې ټول مخلوق د دين عالم لپاره دعاګانې كوي

سوال: د اسمان او ځمكې په مخلوق كې خو ميږې او ماهيان هم داخل دي، نو دا دواړه يې ځان خانته ولې ذكر كړل؟

جواب: په دې كې د عالم دين انتهايي فضيلت ته اشاره ده.

مؤمن سړى په ديني علم نه مړيږي

"وعن أبي أمامة رضي الله عنه: أنَّ رسول الله ﷺ قال: فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِي عَلَى أَدْنَاكُمْ" د ابو امامة رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د عالم سړي فضيلت په عابد باندې داسې دى، لكه زما فضيلت چې په تاسو عامو مسلمانانو باندې دى، "ثُمَّ قَالَ رسول الله ﷺ: إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ وَأَهْلَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ حَتَّى النَّمْلَةَ فِي جُحْرِهَا وَحَتَّى الْحُوتَ" بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل: الله ﷻ او د هغه پرښتې او د اسمان مخلوق او د ځمكې مخلوق تردې چې ميږې په خپلو سوريانو كې او ماهيان، "لَيُصَلُّونَ عَلَى مُعَلِّمِي النَّاسِ الْخَيْرَ" د رحمت دعاګانې هغه كس ته كوي چې خلكو ته د خير ښيګڼې خبرې او تعليم وركوي رواه الترمذي، وقال: حديث حسن.

تشريح: د دين علم په اصل كې الهي نور دى، په انسان كې چې څومره ړڼا راځي، دومره د هغه زړه روښانه كيږي، بيا هغه نور هم ارمان كوي چې په دې ړڼا كې مې الله ﷻ اضافه وكړي، بيا چې كومه دعا ده چې: "رب زدني علماً" اې الله ﷻ! زما په علم كې اضافه وكړې، دده په حق كې قبوله شي، څكه چې د علم هيڅ حد نشته، د هر عالم دپاسه بل عالم وي، "وفوق كل ذي علم عليم" علماء فرمايي: د علم ميدان دومره فراخه دى چې كه د انسان عمر يو لك كاله شي او دى يوه لمحه نه ضايع كوي، ټول وخت د علم په حصول كې مشغول شي، نو بيا به هم د علم انتهاء ته ونه رسيږي

دده زړه او ذهن د دين د علم نه، نه مړيږي، څومره علم چې زده كوي، هغومره دده حرص زياتيږي، تردې چې ده ته مرګ راشي، دى به وايي: ما خو هيڅ نه وو زده كړي، لكه په يو روايت كې چې

دي: موسی علیه‌السلام د خضر علیه‌السلام سره وو چې د سمندر په غاړه ناست وو، یو مارغه راغلو او په سمندر کې یې مښوکه دننه کړه، خضر علیه‌السلام موسی علیه‌السلام ته وویل: زما او ستا علم د الله ﷻ د علم په مقابله کې دومره هم نه دی، لکه څومره چې ددې مارغه په مښوکه پورې چې د اوبو څومره څاڅکي ونښتو

یادونه: په دې حدیث کې دې خبرې ته یوه باریکه اشاره ده چې انسان ته پکار دي چې په علم او عمل باندې تر مرګه پورې مداومت اختیار کړي.

د دین طالب علم ته ټول مخلوق دعاګانې کوي

"وعن أبي الدرداء رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رسول الله ﷺ يقول: مَنْ سَلَكَ طَرِيقاً يَبْتَغِي فِيهِ عِلْماً سَهَّلَ اللهُ لَهُ طَرِيقاً إلَى الجَنَّةِ" د أبو الدرداء رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمایي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمایل یې: کوم کس چې په داسې لار روان شي په کومه چې علم حاصلیږي، نو الله ﷻ به ده ته د جنت لاره اسانه کړي، "وَإنَّ المَلاَئِكَةَ لَتَضَعُ أجْنِحَتَهَا لِطَالِبِ العِلْمِ رِضاً بِمَا يَصْنَعُ" او پرښتې خپلې وزرې احتراماً طالب علم ته غوړوي، کوم مقصد ته چې دی روان دی، "وَإنَّ العَالِمَ لَيَسْتَغْفِرُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الأرْضِ حَتَّى الحِيتَانُ فِي المَاءِ" او عالم ته بخښنه غواړي کوم مخلوق چې په آسمانونو کې دی او کوم مخلوق چې په ځمکه کې دی، تردې چې په اوبو کې ماهیان هم ورته د مغفرت دعاګانې کوي، "وَفَضْلُ العَالِمِ عَلَى العَابِدِ كَفَضْلِ القَمَرِ عَلَى سَائِرِ الكَوَاكِبِ" د عالم فضیلت په عابد باندې داسې دی لکه د سپوږمۍ فضیلت چې په ستورو باندې دی، "وَإنَّ العُلَمَاءَ وَرَثَةُ الأنْبِيَاءِ، وَإنَّ الأنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَاراً وَلاَ دِرْهَماً" او علماء کرام د انبیاوو علیهم‌السلام وارثان دي او پېغمبرانو په میراث کې نه دینار پرېښودلي دي او نه درهم، "وَإنَّمَا وَرَّثُوا العِلْمَ، فَمَنْ أخَذَهُ أخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ" بس کوم کس چې علم په میراث کې واخیستو، هغه کس پوره پوره او ښکلې حصه واخیسته. رواه أبو داود والترمذي

تشریح: إن الملائکة لتضع أجنحتها: پرښتې خپلې وزرې غوړوي، محدثینو ددې عبارت څلور مطلبونه بیان کړي دي: (۱) حقیقي معنی ترې مراد ده یعنې واقعاً پرښتې خپلې وزرې د طالب علم لپاره غوړوي، (۲) دا کنایه ده ددې نه چې پرښتې د الوتو څخه بندې پاتې شي او د علم په مجلس کې حاضرې شي، (۳) دا کنایه ده د تواضع نه، لکه څرنګه چې په قرآن کریم کې راځي: "واخفض لهما جناح الذل" (۴) دا کنایه ده د سلام کولو څخه.

فضل العالم علی العابد: په دې حدیث کې د عالم فضیلت په عابد باندې ډېر په عجیبه انداز سره بیان شوی دی، د عالم فضیلت په عابد باندې داسې دی لکه څرنګه چې د میاشتې فضیلت په ستورو وي، دا ځکه چې د عالم فایده متعدي وي، نور خلك ددې څخه فایده اخلي، ددې برعکس د عابد فایده صرف د هغه تر ذات پورې محدود وي، لکه څرنګه چې د څوارلسمې شپې سپوږمۍ رڼا چې ددې فایده نورو خلکو ته هم رسیږي، نو د عالم نه نور خلك فایده اخلي.

یادونه: ددې حدیث نه علماوو دا مسئله راویستې ده چې کوم خلك علماوو ته تکلیف رسوي یا بد رد ورته وایي، نو هغه ګمراه او فاسق دی، ځکه چې علماء د انبیاوو علیهم‌السلام وارثان دي

Maktaba Tul Ishaat. com

د نبي کريم ﷺ ځانګړې دعا

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: نَضَّرَ اللهُ امْرَأً سَمِعَ مِنَّا شَيْئاً، فَبَلَّغَهُ كَمَا سَمِعَهُ" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: الله ﷺ دې هغه کس تروتازه وساتي کوم کس چې زموږ نه څه خبره (حديث) واوري بيا يې هم په هغه شان سره بل ته ورسوي، څنګه يې چې اورېدلې وي، "فَرُبَّ مُبَلَّغٍ أَوْعَى مِنْ سَامِعٍ" ډېر ځله چې چاته حديث ورسول شي، هغه يې ډېر زيات حفاظت کونکی او رعايت کونکی وي د هغه چا نه چا چې اورېدلی وي. "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن صحيح" يعنې کله کله طالب علم د استاد نه زيات د حديث رعايت کونکی، عمل کونکی او حفاظت کونکی وي.

لغوي تحقيق:

نضر: باب نصر ينصر، سمع يسمع او کرم يکرم درې واړو نه راځي، ددې معنی ده: تر او تازه، ښکلی او ښايسته.

تشريح: په دې حديث کې د رسول الله ﷺ احاديثو يادولو او بيا نورو ته د رسولو ترغيب دی، "نضر الله" د ماضي صيغه ده، ددې دوه معناګانې راځي: (۱) ماضي په خپله معنی کې ده، يعنې د اخبار لپاره ده، نو حديث يادولو او بيا نورو ته رسولو باره کې په دې حديث کې د تروتازګی او د خوشحالی خبر ورکول شوی دی، دا خبره اګرچې د مستقبل باره کې ده، ليکن د يقيني کېدو په وجه په ماضي سره ترې تعبير شوی دی، (۲) صيغه د ماضي ده، ليکن د دعاء په معنی کې ده، نبي کريم ﷺ د داسې کس لپاره د تروتازګی او خوشحالی دعا فرمايي.

أهل الحديث طويلة أعمارهم ...... ووجوههم بدعاء النبي منضرة

ترجمه: د محدثينو عمرونه زيات وي، د دوی مخونه د رسول الله ﷺ د دعاء په برکت تروتازه دي.

تشريح: أوعی: د اسم تفضيل صيغه ده، معنی يې ده: محفوظ ساتل، محدثين فرمايي: ددې دوه صورتونه دي: يو زيات حفاظت کوونکی، دويم ډېر زيات پوهېدونکی، په دې بنياد که بل ته خبره ورسوي، نو ممکنه ده چې په هغه کې دويمه خبره موجوده وي يا يوه خبره موجوده وي، بهر حال بل ته تبليغ کول د فايدې څخه خالي نه وي، د عدم تبليغ له وجې علم محدود پاتې کيږي، نورو ته يې چې ورسوي، نو علم به بلا محدود طريقې سره خپور شي.

په نورو الفاظو د نبوت د علم خادمان دوه قسمه دي:

(۱) حاملين حديث او (۲) فقهاء.

حاملين حديث: دوی الفاظ يادوي او نورو ته يې رسوي، دا هم د دين ډېر ستر خدمت کوي، دوی هم په دعاء کې شمار دي، ليکن فقهاء چې صرف الفاظ نه يادوي بلکې د نبوي علم په سمندر کې غوټې وهي او ددې سمندر څخه قيمتي جواهرات راوباسي او امت ته يې وړاندې کوي، د مخکې حديث نه دا هم معلومه شوه چې کوم خلك د حديثو الفاظ ياد کړي، هغوی ته دا ضروري نه ده چې دوی د حديثو فهم هم ولري، دوی ته پکار ده چې د کوم فقيه تابعداري وکړي، کله چې داسې کس ته د فقيه تابعداري ضروري ده، نو بيا عوام الناس خو به د فقيه تابعداري بدرجه اولی کوي.

په کتمان علم باندې زورنه / وعيد

"وعن أبي هريرة ﷺ قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ سُئِلَ عن عِلمٍ فكتمه" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د کوم سړي نه چې د يوې مسئلې پوښتنه وشوه او هغه مسئله دې سړي پټه کړه، "أُلْجِمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِلِجَامٍ مِنْ نَارٍ" د قيامت په ورځ به ده ته د جهنم د اور قيزې په خوله کې ورته واچول شي. رواه أبوداود والترمذی، وقال: حديث حسن.

تشريح: ددې حديث نه په ظاهره کې معلومېږي چې کله هم څوك درنه پوښتنه وکړي، نو د هغې دې سمدستي جواب ورکړل شي، شاه ولي الله رحمه الله فرمايي: سائل ته په جواب ورکولو کې دومره وخت انتظار کول چې هغه اول خپله مسئله بيان کړي دا په کتمان علم کې نه راځي، شيخ الهند رحمه الله فرمايي: ددې حديث نه دا مسئله مستنبط شوه چې سمدستي د پوښتنې جواب ضروري نه دی.

يو څو ځايونه دي چې په هغې کې انسان د کتمان علم په ګناه کې نه راځي

(۱) خپله په مسئله کې شکمن دی، ددې په وجه که مسئله يې بيان نه کړه، نو نه ګناهګارېږي، (۲) پوښتنه کونکی يې صادق نه وي، هسې چل ول کوي يا د عالم علميت ګوري يا کوم بل غير ضروري مقصد يې وي، که په دې صورت کې مسئله بيان نه کړي، ګناهګار به نه وي، (۳) کوم کس چې پوښتنه کوي، هغه په مسئله ښه پوه وي، ليکن بيا هم پوښتنه کوي، (۴) هغه ځای کې بل عالم وي چې د هغه پوښتنه وشي، نو په دې صورتونو کې که مسئله پټه کړه او جواب يې ورنه کړو، نو ګناهګار به نه وي.

د دنيوي کټې لپاره علم حاصلول

"وعنه، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: مَنْ تَعَلَّمَ عِلْماً مِمَّا يُبْتَغَى بِهِ وَجْهُ اللهِ ﷻ لاَ يَتَعَلَّمُهُ إِلاَّ لِيُصِيبَ بِهِ عَرَضاً مِنَ الدُّنْيَا" د أبو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس داسې علم په کوم سره

Maktaba Tul Ishaat. com

چې د الله ﷻ رضاء حاصليږي، داسې علم ددې لپاره حاصل کړي چې په دې سره ورته دنيا حاصله شي، (يعنې په علم سره دنيا حاصلوي)، "لَمْ يَجِدْ عَرْفَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يعني: رِيحَهَا" په داسې کس باندې د جنت بوی هم حرام دی، (دلته د عرف نه مراد هوا ده.) رواه أبوداود بإسناد صحيح.

تشريح: ددې حديث مضمون په ګڼ شمېر رواياتو کې بيان شوی دی، علامه ابن عبدالبر رحمه الله نقل کړي دي چې د عراق ځينې خلك د ابوذر غفاري رضي الله عنه په خدمت کې حاضر شول او د حديث اورېدو غوښتنه يې وکړه، ابوذر رضي الله عنه ورته وفرمايل: تاسو پوهېږئ چې دا حديثونه خالص د الله ﷻ د رضا په خاطر خلك زده کوي، که ځينې خلك يې د دنيا لپاره زده کوي، نو دوی به د جنت خوشبو هم محسوس نه کړي، علماء فرمايي: دا مسئله صرف د ديني علومو باره کې ده، که دنيوي علوم د دنيوي ګټې لپاره استعمال شي، پروا نه لري.

لم يجد عرف الجنة: دا کنايه ده ددې نه چې جنت ته به نه داخليږي، ليکن د همېش لپاره به په جهنم کې نه وي، حافظ توريشتي رحمه الله فرمايي: د نصوصو نه دا مسئله اخذ ده چې مسلمانان به يوه نه يوه ورځ خامخا جنت ته ځي، دا خاتمه مسئله ده چې الله ﷻ يې بې سزا بخښي يا سزا ورکوي او د سزا ګاللو وروسته جنت ته ځي.

د جنت خوشبو به نه مومي: ددې مطلب دا دی چې په شروع کې به د جنت د خوشبو نه محروم وي، خو وروسته به ورته ملاو شي، يا دا چې جنت ته به لاړ شي، ليکن خوشبو به ورته پکې نه وي، اولنی قول راجح دی، بل ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې علم حاصلولو سره په جنت کې خوشبو ګانې زياتيږي او الله ﷻ ورسره پريشاني حل کوي، بل ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې که يو کس خالص د الله ﷻ د رضا په خاطر علم حاصل کړي، بيا هغه ته دنيا حاصله شي په دې کې هيڅ حرج نشته.

جاهل مفتي

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضى الله عنهما، قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ الله ﷺ يقول: إنَّ اللهَ لاَ يَقْبِضُ العِلْمَ انْتِزَاعاً يَنْتَزِعُهُ مِنَ النَّاسِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: الله ﷻ علم داسې نه ختموي چې يو دم يې د خلکو د سينو ځخه وباسي، "وَلكِنْ يَقْبِضُ العِلْمَ بِقَبْضِ العُلَمَاءِ" ليکن علم به د علماوو په مرګ سره ختم کړي شي، "حَتَّى إِذَا لَمْ يُبْقِ عَالِماً، اتَّخَذَ النَّاسُ رُؤُوساً جُهَّالاً" بس کله چې د ځمکې په مخ يو عالم هم پاتې نه شي، نو خلك به جاهلان مشران کړي، "فَسُئِلُوا فَأَفْتَوا بِغَيْرِ عِلْمٍ، فَضَلُّوا وَأَضَلُّوا" نو خلك به د دوی ځخه پوښتنې شروع کړي نو دا جاهلان به ورته د علم نه بغير فتوې شروع کړي، ځانونه به هم ګمراه کړي او نور خلك به هم د ځان سره ګمراه کړي. متفقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

إنتــزاعاً: راويستل.

تشريح: دغه شان د عمر ﷺ په روايت کې هم شته، فرمايي چې علم به داسې نه ختميږي چې د خلکو د سينو نه يې په زوره راوباسي، بلکې علماء به فناء شي، عبد الله بن ثابت ﷺ فرمايي: علماء به په ختمېدو شي او د دوی د مرګونو سره به حق هم په ختمېدو شي، تردې چې جاهلان به پاتې شي، خلك به مجبوره شي چې په جاهل باندې خپلې فيصلې وکړي، د جاهلانو اقتداء به شروع کړي چې دوی به هم ګمراه شي او نور به هم د ځان سره ګمراه کړي.

دغه شان د عبد الله بن مسعود ﷺ ارشاد دی، فرمايي چې د علم ختمېدو نه وړاندې وړاندې زده کړئ د علم ختېمدل د علماوو په ختمېدو پورې منحصر دي، داسې به ولې کېږي؟ وجه يې دا ده چې د عالمانو په زړونو کې به د دنيا طمع او لالچ پيدا شي، د دوی سره به د خپل علم قدر نه وي، نو بيا به نورو ته د دوی څخه څه فايده ورسيږي، بله وجه يې دا ده چې د علم او عالمانو قدر به ختم شي، دريمه وجه يې دا ده چې په حديث کې هم ورته اشاره شوې ده، اهل حق علماء به ختم شي بيا به د دوی په ځايونو دنيادار خلك کښيني، کوم چې خپله هم ګمراه وي او نور خلك به هم د ځانونو سره ګمراه کړي.

تمت بالخير